خصوصیات

- معرب متن
- په متن باندې اعراب
- د باب نمبر
- د حدیث نمبر
- ترجمه او تشریح
- حل لغات
- د راوی حالات
- د حدیث تخریج
- تحقیق د مذاهب اربعه
- متن مع السند بالاستیعاب

# الورد الشذی

پښتو شرح د

# جامع الترمذی

شیخ الاسلام فقیه العصر
محمد حسن جان المدنی شهید رحمه الله

حدیث ۱ تا ۳۰۵

جمع و ترتیب
ابو هلال عبد الخالق

مکتبه رحمانیه




# Maktaba Tul Ishaat



تمام فنون کے کتب ہمارے ویب سائٹ اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید نئے کتب شامل کر رہے ہیں نئے شامل شدہ کتب لیے روزانہ ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو باقاعدگی سے چیک کیا کریں۔

## اپنی کتاب کو ہمارے ویب سائٹ پر شائع کرنے کے لیے رابطہ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| آڈیو دروس | مناظرے | تمام فنون |

Contact Us: maktaba.tul.ishaatofficial.com

وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى اِنْ هُوَ اِلَّا وَحْيٌ يُّوْحٰى

# الــورد الشــذي

پښتو شرح د

# جــامع الــترمذي

## جلد ثالث

حديث ـ ٨٠٩ ـ تر ـ ١٣٢١ ـ

جمع وترتيب: خادم العلماء المفتقر الي الله ابوهلال: **عبدالخالق بن خان محمد**
خريج الجامعة امداد العلوم الاسلامية پشاور/ وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات)

**ازافادات**

شيخ الاسلام فقيه العصر محمد حسن جان (المدني) شهيد (رحمه الله)

**ناشــر:** مكتبه رحمانيه پشاور

اسم الكتاب: **الورد الشذي** بشرح الجامع للترمذي

**جلد** **ثالث**

حديث_٨٠٩_ تر_ ١٣٢١_

تاليف: ابوهلال **"عبدالخالق"** خَرِيْجُ الْجَامِعَة اِمْدَادُ الْعُلُوْمِ الْاِسْلَامِيَّةَ پِشَاوَر_
وفاضل وفاق المدارس العالمية (ايم اى اسلاميات) رابطه نمبر: ٠٣٣٣٩١٢١١٩٦

**اهتمام طباعت:** الحاج شاه زاده صاحب

سال اشاعت: **٢٠٢١**

**تعداد:** ١٠٠٠

**مصحح:** مولانا عبد الوافي بن عبد الباقي رودات حصارك مزينه . فاضل جامعه امداد العلوم پشاور

**ناشر:** مكتبه رحمانيه محله جنكي نزد قصه خواني (پشاور)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# فهرس الابواب والمحتويات

سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ، وَسَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ، وَالْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ.

*****************

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

# كتاب الحج عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

## د حج احكام

حج دهجرت په شپږم كال په حديبيه مقام كي فرض شوي وو الله تعالى فرمائيلي دي "واتموا الحج والعمرة لله"

د حج لغوى معنى څه معظم او لوئي څيز ته اراده كول دى، اودشريعت په اصطلاح كي د مخصوص ځائي مخصوص فعل سره په خاص وخت كښ اراده كول دى.

## ١_ بَاب مَا جَاءَ فِي حُرْمَةِ مَكَّةَ

### دمكي د حرمت او عزت بيان

بكه او مكه دواړه هم معني الفاظ دي اهل عرب كله كله باء په ميم سره بدلوي لكه نميط او نبيط لازم او لازب ، راتب او راتم ، بعضي علماؤ وئيلي دي مكه دټول ښار نوم دي او بكه صرف دكعبي نوم دي يا د طواف دمقام نوم دي بكه په معني دګنړي دي اودحج په ورځو كي په مكه كي هم ګڼړه ګونړه وي نوځكه ورته بكه وئيلي شي.

٨٠٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ الْعَدَوِيِّ، أَنَّهُ قَالَ لِعَمْرِو بْنِ سَعِيدٍ وَهُوَ يَبْعَثُ الْبُعُوثَ إِلَى مَكَّةَ: ائْذَنْ لِي أَيُّهَا الأَمِيرُ أُحَدِّثْكَ قَوْلاً قَامَ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَ مِنْ يَوْمِ الْفَتْحِ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ وَوَعَاهُ قَلْبِي وَأَبْصَرَتْهُ عَيْنَايَ حِينَ تَكَلَّمَ بِهِ أَنَّهُ حَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، ثُمَّ قَالَ: "إِنَّ مَكَّةَ حَرَّمَهَا اللَّهُ وَلَمْ يُحَرِّمْهَا النَّاسُ، وَلاَ يَحِلُّ لاِمْرِئٍ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ أَنْ يَسْفِكَ فِيهَا دَمًا أَوْ يَعْضِدَ بِهَا شَجَرَةً. فَإِنْ أَحَدٌ تَرَخَّصَ بِقِتَالِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيهَا، فَقُولُوا لَهُ: إِنَّ اللَّهَ أَذِنَ لِرَسُولِهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَأْذَنْ لَكَ. وَإِنَّمَا أَذِنَ لِي فِيهِ سَاعَةً مِنَ النَّهَارِ، وَقَدْ عَادَتْ حُرْمَتُهَا الْيَوْمَ كَحُرْمَتِهَا بِالأَمْسِ وَلْيُبَلِّغِ الشَّاهِدُ الْغَائِبَ". فَقِيلَ لأَبِي شُرَيْحٍ: مَا قَالَ لَكَ عَمْرٌو؟ قَالَ: أَنَا أَعْلَمُ مِنْكَ بِذَلِكَ يَا أَبَا شُرَيْحٍ إِنَّ الْحَرَمَ لاَ يُعِيذُ عَاصِيًا وَلاَ فَارًّا بِدَمٍ وَلاَ فَارًّا بِخَرْبَةٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيُرْوَى وَلاَ فَارًّا بِخِزْيَةٍ. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي شُرَيْحٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَأَبُو شُرَيْحٍ الْخُزَاعِيُّ اسْمُهُ خُوَيْلِدُ بْنُ عَمْرٍو وَهُوَ الْعَدَوِيُّ وَهُوَ الْكَعْبِيُّ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ:

وَلَا فَارًّا بِخَرْبَةٍ يَعْنِي الْجِنَايَةَ. يَقُولُ: مَنْ جَنَى جِنَايَةً أَوْ أَصَابَ دَمًا ثُمَّ لَجَأَ إِلَى الْحَرَمِ، فَإِنَّهُ يُقَامُ عَلَيْهِ الْحَدُّ.[1]

**ترجمه** دابوشريح عدوي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي كله چي عمرو بن سعيد مكي ته دعبدالله بن زبير سره دجنگ كولو دپاره لښكر ليږلو نو ما ورته اووئيل اي امير ماته اجازت راكړه چي يوه داسي خبره درته بيان كړم كومه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دفتح مكه په دويمه ورځ بيان كړي زما غوږونو دا اوريدلي دي او زما زړه ياد ساتلي دي او زما سترګو ليدلي وو چي فرمائيل يي كله چي هغه دا حديث بيان كړو نو دالله تعالي حمد او ثناء يي بيان كړه او بيا يي اوفرمائيل په مكه كي جنګ او جدال كول الله تعالي حرام كړي دي (خو افسوس دادي چه) خلقو حرام نكړل لهذا دهيچا دپاره څوك چي په الله او په ورځ داخرت ايمان لري دا جائز نه دي چي هغه په مكه كي خون خرابه اوكړي او يا ددي كومه ونه پري كړي او كه څوك په دي كي درسول الله صلي الله عليه وسلم دقتال كولو نه استدلال كوي او دقتال دپاره جواز پيدا كوي نو هغوئ ته اووائي الله تعالي خو خپل رسول ته ددي كار اجازت وركړي وو مګر تاسو ته يي نه دي دركړي چنانچه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ماته هم دورځي څه وخت دپاره اجازت راكړي شوي وو خو نن ددي حرمت واپس خپل ځاي ته راغي لكه چي پرون څنګه قائم وو او چي كوم خلق موجود دي هغوئ دي دا خبره هغه چاته اورسوي څوك چي دلته موجود نه وي، دابوشريح نه تپوس اوكړي شونو دي باره كي عمرو بن سعيد هغه ته اووئيل تا دوئ ته څه اووئيل هغه اووئيل ده ماته دا اووئيل، اي ابو شريح ماته دا خبره ستا نه زياته ښه معلومه ده چي حرم دمكي كوم نافرماني كونكي ته پناه نه وركوي او نه كوم قاتل ته پناه وركوي او نه كوم غل تختيدونكي ته پناه وركوي.

امام ترمذي وائي دابوشريح حديث حسن صحيح دي، او دابوشريح خزاعي نوم خويلد بن عمرو دي او عدوي او كعبي هم دي، او په دي باب كي دابوهريره، ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايت مروي دي، او د "ولافارا بخربة" په خاي باندي "ولافارا بخزية" سره هم مروي دي او په "ولافارا بخربة" كي خربة په معني دګناه او جرم دي يعني څوك كوم جرم اوكړي او يا قتل اوكړي او بيا په حرم كي پناه واخلي په هغه باندي به حد جاري كيږي.

---

[1] ـ صحيح البخارى في العلم ٣٧ (١٠٣) . وجزاء الصيد ٨ (١٨٣٢) . والمغازي ٥١ (٣٢٩٥) . صحيح مسلم في الحج ٨٢ (١٣٥٤) . سنن النسائي في الحج ١١١ (٢٨٧٩) . (تحفة الأشراف : ١٢٠٥٧) . مسند احمد (٣ في ٣١) . ويأتي عند المؤلف في الديات (برقم : ١٤٠٦) . و مسند احمد (٦ في ٣٨٥)

**تشريح** : د مکي په فضائلو کي متعدد احاديث وارد دي چي علماؤ ورباندي مستقل کتابونه ليکلي دي تفسير **مظهري** په ايت کريمه ان اول بيت وضع للناس ، ال عمران کي شاندار تحقيق کړی دی چي په لاندينو کرښو کي يي ستاسو دپاره نقل کوو:

عبدالله بن زبير رضي الله عنه فرمائيلي دي مکه دلويو لويو جابرانو څټونه ماتوي لکه چي يي داصحاب فيل والا څټونه مات کړي وو مکي ته مکه ځکه وئيلي شي چي مك په معني دقلت داوبو دي اوپه مکه کي به اوبه کمي وي

**داوليت دبيت الله نه څه مراد دي** په دي باره کي دعلماؤ اقوال مختلف دي

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما مجاهد ، قتاده او سدي وئيلي دي چي دزمکي او اسمان دپيدائش په ورځ داوبو سطح دټولونه اول دکعبي په مقام باندي ښکاره شوه په ابتداء کي دا سپين زګ وو (کوم چي منجمد شوي وو) دزمکي دپيدائش نه دوه زره کاله مخکي ددي تخليق شوي وو بيا هم ددي دلاندي زمکه اوغوړولي شوه

علي بن الحسين رضي الله عنهما فرمائيلي دي چي الله تعالي دعرش لاندي يو کور جوړ کړو چي نوم يي بيت المعمور دي اوداسمان فرشتو ته يي ددينه دطواف کولو حکم اوکړو اوبيا يي په زمکه باندي اوسيدونکو فرشتو ته حکم اوکړو چي دبيت المعمور پشان په زمکه کي هم يو کور جوړ کړئ فرشتو دحکم مطابق دکعبي تعمير اوکړو او صراح نوم يي ورباندي کيخودو بيا الله تعالي زمکي والاته حکم اوکړو لکه څنګه چي اسمان والاد بيت المعمور نه طواف کوي دا رنګي تاسو هم ددي کور طواف اوکړئ

په بعضي روايتونو کي راغلي دي چي دادم عليه السلام دپيدائش نه دوه زره کاله مخکي فرشتو دکعبي عمارت جوړ کړي وو اوددي حج به يي کولو کله چي ادم عليه السلام حج اوکړو نو فرشتو اوونيل ستا حج مبرور دي مونږ ستا نه دوه زره کاله مخکي ددي حج کړي دي

په يو روايت کي عبدالله بن عباس رضي الله عنهما ته ددي قول نسبت شوي دي چي ادم عليه السلام دټولو نه مخکي په زمکه دکعبي عمارت جوړ کړي وو او دا روايت ازرقي په تاريخ مکه کي نقل کړي دي

په صحيحينو کي دابو ذر رضي الله عنه نه روايت مروي دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله په زمکه کي دټولو نه مخکي کوم يو مسجد جوړ کړي شوي دي رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل مسجد حرام ما بيا عرض اوکړو په دي پسي بيا کوم يو نو ويي فرمائيل مسجد اقصي ما بيا عرض اوکړو په دواړو کي څومره زمانه فصل وو ويي فرمائيل څلويښت کاله نوکله چي هر چرته په تا باندي دمونځ وخت راشي اداء يي کړه په دي کي فضيلت دي

په يو روايت كي راغلي دي چي د كعبي عمارت دټولو نه اول ادم عليه السلام جوړ كړي وو او دطوفان نوح په وخت كي دا عمارت پورته كړي شوي وو.

بعضو وئيلي دي چي په طوفان نوح كي وران شوي وو ابراهيم عليه السلام دوباره ددي تعمير اوكړو بيا وران شو نو قبيله جرهم دوباره جوړ كړو اودهغوئ نه پس بيا عمالقه اباد كړو او په دوئ پسي پس چي كله وران شو نو قريشو ددي تعمير اوكړو.

دابن جرير او ابن ابي حاتم او بيهقي بيان دي چي دطوفان په زمانه كي دكعبي عمارت پورته كړي شوي وو بيا ابراهيم عليه السلام ددي دجوړولو اراده اوكړه نو الله تعالي ورته ددي خاي وراوښودلو ددي صورت داسي وو چي الله تعالي د حجوج په نوم هوا راوليږله دغي هوا دكعبي گيرچاپيره خاوري او گردونه والوزول نود كعبي بنيادونه ښكاره شول اوابراهيم عليه السلام په زوړ بنياد باندي ابادي جوړه كړه ، حجوج يو څاروي وي چي دوه لاسونه يي وي دمرغو پشان اوشكل يي دمار پشان وي.

بعضي خلقو وئيلي دي دكعبي اوليت دزماني په لحاظ سره مراد نه دي بلكي دفضيلت په اعتبارسره مراد دي يعني كعبه افضل ترين عمارت دي ددي قول نسبت علي كرم الله وجهه ته شوي دي ضحاك وئيلي دي كعبه دټولو نه مخكني كور دي كوم ته چي بركت وركړي شوي دي.

امام ابو يوسف فرمائيلي دي چاچي په مسجد حرام كي ددوه ركعتاته مونځ كولو نذرمنلي وي اوپه بل خاي كي يي اداكړي نوكافي به نه وي څكه چي دانس بن مالك په روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پخپل كوركي دتنه يو مونځ كول دبو مونځ سره برابر دي اودمحلي په مسجد كي يومونځ كول دپنځه ويشتو مونځونوسره برابردي اوپه جامع مسجد كي مونځ كول دپنځه سوه مونځونوسره برابردي اوپه مسجد اقصي كي مونځ كول دزرو مونځونوسره برابردي او زما په مسجد كي مونځ كول دپنځوس زره مونځونوسره برابردي اوپه مسجد حرام كي يومونځ كول دسل زره مونځونوسره برابردي (ابن ماجه).

په طحاوي كي دعطاء بن زبير په روايت سره منقول دي چي رسول الله صلي اله عليه وسلم فرمائيلي دي زماپه دي مسجد كي يومونځ كول دمسجد حرام نه علاوه دنورو مسجدونونه زرچنده زيات دي اوپه مسجدحرام كي يومونځ كول زماپه مسجد كي دسلومونځونونه بهتردي.

عبدالله بن زبير رضي الله عنه دعمر بن خطاب په روايت سره هم دا حديث نقل كړي دي مگر غير مرفوع دي اودجابر بن عبدالله په روايت سره داحديث مرفوع هم مروي دي.

ابن جوزي په روايت دجابر رضي الله عنه سره په دي الفاظو مرفوع روايت ذکرکړي دي چي په مسجد حرام کي يو مونځ دسلو مونځونو نه افضل دي.
ليکن دامام ابو حنيفه او امام محمد رحمهما الله قول دادي چي دمونځونو دا ترتيبي فضيلت صرف دفرض مونځونو متعلق دي په نوافلوکي دا فضيلت نشته خکه چي دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دفرضو نه علاوه دسړي دپاره ټول مونځونه پخپل کورکي کول افضل دي (بخاري اومسلم)
ابن جوزي رحمة الله عليه په فضائل مکه کي دعبدالله بن عدي بن الحمرا روايت ليکلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمکي په بازار کي په حروره مقام کي موجود وو اوفرمائيل يي چي په الله تعالي قسم ته په ټولو زمکو کي بهتره يي اودالله په نزد محبوبه يي که چري زه ستانه نه وي ويستلي شوي نوزه به وتلي نه ووم ، دا حديث ابن جوزي دابو هريره رضي الله عنه نه هم مرفوعا بيان کړي دي.
فِيْهِ اٰيٰتٌ بَيِّنٰتٌ ... پدي کي (دصداقت اوحقانيت) واضح دلائل په کثرت سره موجود دي ، مثلا مرغۍ وربانديي دپاسه نشي الوتلي ، ښکاري ځناوردحرم نه بهر پخپل ښکار باندي حمله کوي ليکن که چري ښکارحرم ته وتښتي نو درنده دننه نشي ورتلي هم بهر حصار پاتي شي.
په کعبه کي دننه په کثرت سره واضح دلائل دي يعني مقام ابراهيم وغيره وغيره، مقام ابراهيم هغه کاڼي دي په کوم چي ابراهيم عليه السلام دکعبي دديوال وهلو دپاره اودريدو اوپدي باندي يي دخپو نشانات جوړشوي وو اوپه لاسونو کي دسوليدو په وجه باندي په مزه مزه وران شول ، پس په کاڼي باندي دقدمونو نشانات جوړيدل، اوپه کاڼي کي دګيټو پوري خپه ننوتل ، اوپه کاڼي کي دومره ژوره کنده جوړيدل اود انبياؤ په اثارو کي ددي اثرددومره اوږدي زماني پوري باقي پاتي کيدل اوددشمنانو دکثرت باوجود تردومره زماني پوري محفوظ پاتي کيدل ، پدي امورو کي هر يودکعبي دقبلي کيدو واضح دليل دي ، هم پدي وجه باندي بعضي اهل علمومقام ابراهيم په ايات باندي عطف کړي دي ، اودبعض علماؤ په نزد مقام ابراهيم ټول حرم دي.
څوک چي حرم ته ورداخل شي هغه دقتل کيدو اولوټ کيدو نه بي خوفه کيږي، يعني دايات بينات نه يوه نشاني داهم ده چي حرم ته داخليدونکي مامون کيږي ، داسلام نه مخکي به اهل عرب په قتل اوغارت کي مشغول وو ليکن څوک چي به حرم ته داخل شو په هغه باندي به چا څه قسم تعارض نه کولو.
امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائيلي دي څوک چي حرم ته داخل شي هغه په امن کيږي، اوقتل کول يي جائز ندي، پس که چري چا دحرم نه بهرکوم موجب قصاص ياموجب حد جرم کړي وي اوحرم ته راشي اوپناه واخلي نوپه حرم کي به دننه ورنه قصاص نشي اخستلي اونه به

ورباندي حد جاري كولي شي، البته خوراك څښاك ورباندي بندولي شي اوخريدوفروخت دي ورسره هم پريخودلي شي تردي چي دحرم په پريخودلو باندي مجبوره شي اوبهر را اوځي، اوبهر ورته سزا وركړي شي.

ابن عباس رضي الله عنهما ته هم ددي قول نسبت شوي دي ، امام شافعي رحمة الله عليه فرمائيلي دي دحرم نه بهر جرم كونكي چي په حرم كي پناه واخلي قصاص به ورنه اخستلي شي ليكن كه چري څوك په حرم كي دننه جرم وكړي نوپه اتفاق دعلماؤ سره به ورته په حرم كي دننه سزا وركولي شي لكه چي الله تعالي فرمائيلي دي: وَلَا تُقَاتِلُوهُمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ حَتَّى يُقَاتِلُوكُمْ فِيهِ.

## دابوشريح خويلد بن عمرو رضي الله عنه مناقب

دده په نوم كي اختلاف دى بعضو خويلد خودلى دى او بعضو عمرو كنيه يي ابوشريح ده او په همدي مشهور شوى دى دفتح مكي نه مخكي مسلمان شوى وو او په فتح مكه كي شريك وو (طبقات ابن سعد)

په سخاوت كي ډير مشهور وو اعلان يي كړي وو چي كه هرڅوك زما كور ته راځي نو غوړي بي تكلفه بي اجازته خوړلي شي ، تقريبا شل روايات وررنه منقول دي چي دوه پكي متفق عليه دي.

****************

## ٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

### دحج او دعمري دثواب بيان

٨١٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الْفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ وَالذَّهَبِ وَالْفِضَّةِ، وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلَّا الْجَنَّةُ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عُمَرَ، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ حُبْشِيٍّ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ عَبْدُ اللهِ ابْنِ مَسْعُودٍ. [1]

---

[1] ـ سنن النسائي في الحج ٦ (٢٦٣٢) . (تحفة الأشراف : ٩٢٧٣) . مسند احمد (١ في ٣٨٧)

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حج او عمره يو دبل نه پس اداء کوئ ځکه چي دا دواړه نيستئ او ګناهونو لره داسي ختمونکي دي لکه چي بټئ داوسپني نه خيري ختموي او دسرو او دسپينو زرو خيري خوري او دحج مبرور بدله صرف جنت دي.

**تشريح** : دامت په دي خبره باندي اجماع ده چي حج داسلام په ارکانوکي يو رکن دي او فرض عين دي دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي داسلام دعمارت بنياد په پنځه امورو باندي ايخودلي شوي دي دلااله الاالله او محمدرسول الله اقرار کول ، مونځ اداکول، زکوة ورکول، درمضان دمياشتي روژي نيول او حج کول (بخاري او مسلم) دحج دفرضيت متعلق احاديث په کثرت سره وارد دي.

عمر رضي الله عنه فرمائيلي دي که چري خلق حج پريږدي نوزه به ورسره جهاد کوم لکه څنګه چي مونږه دمونځ او زکوة دپريخودو په وجه ورسره جهاد کوو

ارشاد نبوي دي: فرمائی "حجوا فإن الحج يغسل الذنوب كما يغسل الماء الدرن" يعنی حج کوئ. ځکه چی حج داسې ګناهونه وينځی څنګه چی اوبه خيرې لرې کوی.اود رسول پاک صلي الله عليه وسلم ارشاد دې "من مات ولم يحج فليمت إن شاء يهوديا أو نصرانيا" کوم کس چی (د قدرت) باوجود بغير د حج کولو نه مړ شو نو يهودی دې مړشی.يا نصرانی دې مړشی.(۳) او اجماع خو ښکاره ده چی د رسول پاك صلي الله عليه وسلم د زمانې نه واخله تر نن ورځ پورې ټول مسلمانان د حج په فرضيت باندې متفق دی.

بذل المجحود کې د حج د فرضيت دتاريخ متعلق متعدد اقوال مذکور دی.(۱) نهمه هجری (۲) پنځمه هجری(۳) شپږمه هجری (۴) هجرت نه وړاندې ملا علی قاری په شرح د نقايه کښې ليکلی دی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم د حج فريضه په لسمه هجرئ کې ادا کړې وه.کوم چی د حجة الوداع په نوم باندې يادولې شی.او ابوبکر صديق (رضي الله عنه) په نهم هجری کې حج کړې وو.اوحج هم په دغه کال فرض شوې وو.او اتمه هجرئ کې د مکې د فتح په موقع باندې عتاب بن اسيد د خلقو په حج کې امير وو.رسول پاك صلي الله عليه وسلم د مکې د فتحې نه پس هم دی امير مقرر کړی وو.

****************

٨١١_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ مَنْصُورٍ. عَنْ أَبِي حَازِمٍ. عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَجَّ فَلَمْ يَرْفُثْ وَلَمْ يَفْسُقْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ

ذَنْبِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حَازِمٍ كُوفِيٌّ وَهُوَ الأَشْجَعِيُّ وَاسْمُهُ سَلْمَانُ مَوْلَى عَزَّةَ الأَشْجَعِيَّةِ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي حج اوکړو او دبي حيايئ او جهالت کومه خبره يي اونکړه او نه يي دګناه کوم کار اوکړو نو دحج په برکت به دده مخکني ګناهونه اوبخښلي شي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : زجاج وئيلي دي چي رفث هرهغه څيز ته وئيلي شي کوم چي سړي ته دښځي نه مطلوب وي ، بعضو وئيلي دي چي رفث فحش اوبدوخبروته وئيلي شي زه وايم چي فحش او سپك الفاظ استعمالول خوهميشه حرام دي داحرام سره ئي هيڅ خصوصيت نشته.

ابن عمر رضي الله عنه فرمائي فسوق هر هغه څيز ته وئيلي شي دکومو نه چي محرم منع شوي دي مطلب دا شو چي دمحرماتو داحرام ارتکاب مه کوئ ، او داسي څيزونه بالاتفاق شپږ دي

(۱) اول رفث يعني جماع او دواعي ددي.

(۲) دوچي ښکار قتل کول او دهغي طرف ته اشاره کول او په څه شان سره بل چاته ښودل الله تعالي فرمائيلي دي لاتقتلوا الصيد وانتم حرم يعني داحرام په حالت کي ښکاره مه قتل کوئ اوهمدارنګي په بل مقام کي يي فرمائيلي دي وحرم عليكم صيد البر مادمتم حرم په تاسو دوچي ښکار حرام شوي دي ترڅو چي تاسو په احرام کي يي.

(۳) دويښتو او دنوکانو کټ کول او الله تعالي فرمائيلي دي ولا تحلقوا رؤسكم حتي يبلغ الهدي محله ، يعني سرونه مه خروئ ترڅو چي قرباي خپل مقام ته نه وي رسيدلي او وژل دهغه سپږو کومي چي دخيري نه پيدا کيږي دويښتو خريلو په حکم کي دي.

(۴) په بدن يا په کپړو باندي عطر لګول رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي داسي لباس مه استعمالوئ په کوم چي زعفران ياورس لګيدلي.

ددي حديث روايت ابن عمر رضي الله عنهما کړي دي اوپه بخاري او مسلم کي دي داځلور شيان خو په سړو او ښځو دواړو باندي حرام دي اوس نور دوه څيزونه دي چي هغه صرف په سړو باندي حرام دي اول ګنډلي شوي جامي او موزي اغوستل ليکن که چري دچاسره پيزار نه وي نوهغه ته دموزو اغوستلو اودچاسره چي لنګ نه وي هغه ته دپرتوګ اغوستو اجازت شته ، دويم سر سرتور ساتل دي.

---

[1] ـ صحيح البخاري في الحج ۴ (۱۵۲۱) . والمحصر ۹ (۱۸۱۹) . و۱۰ (۱۸۲۰) . صحيح مسلم في الحج ۷۹ (۱۳۵۰) . سنن النسائي في الحج ۴ (۲۶۲۸) . سنن ابن ماجه في الحج ۳ (۲۸۸۹) . (تحفة الأشراف : ۱۳۴۳۱) . مسند احمد (۲ في ۲۱۰ ، ۲۸۳ ، ۴۹۴)

او دمخ پټول دامام ابوجنيفيه اودامام مالك په نزد باندي دا حکم ښځو او سړو دواړو ته شامل دي.
او امام شافعي او احمد فرمائي چي صرف ښځوته شامل دي ځکه چي ابن عمر رضي الله عنهما فرمائيلي دي چي دسړي احرام په سر کي دي اودښځي احرام په مخ کي ددي حديث روايت دار قطني او بيهقي کړي دي او بعضو دا حديث مرفوع کړي دي ليکن صحيح نه ده.
عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمائيلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په حالت داحرام کي سر پټولو ددي حديث روايت دار قطني کړي دي او وئيلي يي دي چي ددي موقوف کيدل صحيح دي چنانچه په مؤطا کي دي فراقصة بن عمير حلفي، عثمان رضي الله عنه لره په ختلو کي اوليدلو چي په حالت داحرام کي خپل سر پټ کړي وو.
زمونږ دپاره دليل حديث دابن عباس رضي الله عنهما دي چي يو محرم لره خپلي سورلئ اوغورځولو (نو کله چي خلقو دتکفين په وخت کي دده سر پټولو) نو رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دده سر او مخ مه پټوئ ځکه چي دي به دقيامت په ورځ ددي تلبيي وئيلوسره راپورته کيږي يو اوم څيز بل دي چي په حالت داحرام کي دهغه په حرمت کي اختلاف دي اوهغه عقد دنکاح دي.
امام مالك شافعي او احمد فرمائي چي دمحرم دپاره جائز نه دي چي هغه خپله يا دبل چا دنکاح عقد اوکړي يابل چالره دنکاح وکيل کړي شي او که چا اوکړل نو منعقد به نه وي ددوئ دپاره دليل دا حديث دي چي عثمان بن عفان رضي الله عنه فرمائيلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي محرم دي نه خپله نکاح کوي اونه دبل چا اونه دي کوژدن کوي (مسلم او ابو داود).
او امام ابو حنيفه فرمائي چي دمحرم دپاره نکاح کول جائزدي اومنعقد به هم وي ځکه چي ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دميمونه رضي الله عنهاسره دنکاح عقد کړي وو او هغه محرم وو او خلوت يي ورسره دحلاليدو نه پس کړي وو او ميمونه رضي الله عنها په سرف مقام کي وفات شوي وه (بخاري او مسلم).
جمهورو اهل علمو ددينه دا جواب کړي دي چي په دي نکاح کي پخپله اختلاف دي چنانچه مسلم ديزيد بن اصم نه روايت نقل کړي دي فرمائي چي ماته پخپله ميمونه بنت الحارث رضي الله عنها بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما سره نکاح کړي وه او هغه په دغه وخت کي حلال وو ، اويزيد فرمائي چي ميمونه زما اودابن عباس ترور ده ، جمهور وائي چي پخپله دميموني بيان زيات معتبر دي ځکه چي هغه دخپل حال نه په نسبت دابن عباس نه زياته خبرداره وه.

وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ (اونه جګړي کول په حج کي) دجاهليت ددور دخلقو دا عادت وو چي عرفات په مختلفو مقاماتو به اودريدل او هر يو مقام به يي هغه ګنړلو کوم چي دابراهيم عليه السلام داودريدو ځاي وو او په دي باندي به يي ديو بل سره جګړي کولي نوپه دي بنا باندي بعضو به په عرفات کي قيام کولو او بعضو په مزدلفه کي بعضو به په ذي قعد کي حج کولو او بعضو په ذي الحجه کي اوهر يو به دا وئيل دا زه چي کومه طريقه کوم هم دا ټيک ده نو په دي باره کي الله تعالي اوفرمائيل ولاجدال يعني لکه څنګه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم کړي وي په دي باندي مداومت وکړئ او په دي کي اختلاف مه کوئ مجاهد فرمائيلي دي چي د ولاجدال معني داده چي اوس په دي کي څه شك او نزاع نشته چي حج په ذي الحجه کي دي . نوپه دي سره الله تعالي نسيء لره باطل کړو رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي واورئ زمانه په ګرځيدو سره واپس خپل هيئت ته راغلي ده پشان داسمانونو اودزمکي (از مظهري)

*****************

## ٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِ الْحَجِّ

### دحج دپريخودلو دمذمت بيان

٨١٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى الْقُطَعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا هِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ مَوْلَى رَبِيعَةَ بْنِ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ الْبَاهِلِيِّ، حَدَّثَنَا أَبُو إِسْحَاق الْهَمْدَانِيُّ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً تُبَلِّغُهُ إِلَى بَيْتِ اللَّهِ وَلَمْ يَحُجَّ فَلَا عَلَيْهِ أَنْ يَمُوتَ يَهُودِيًّا أَوْ نَصْرَانِيًّا، وَذَلِكَ أَنَّ اللَّهَ يَقُولُ فِي كِتَابِهِ: وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا سورة آل عمران آية ٩٧". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَفِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ، وَهِلَالُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ مَجْهُولٌ، وَالْحَارِثُ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ.[1]

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دسفر دخرچي او دسورلئ مالك وي چي ده لره بيت الله ته رسولي شي او دي حج اونکړي نو په دي کي هيڅ فرق نشته چي دي يهوديت ته داوړيدو نه پس مړ شي او يا عيسايت ته داوړيدو نه پس مړ شي او دا ځکه چي الله تعالي پخپل کتاب کي فرمائيلي دي دالله تعالي دپاره دبيت الله حج کول په خلقو باندي فرض کړي شوي دي خو دا په هغه چا دي څوك چي حج ته درسيدو طاقت لري.

---

[1] ـ تفرد بذكره المؤلف رحمه الله.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي او په دي سند محدثينو كلام كړي دي ، او هلال بن عبدالله مجهول راوي دي او حارث به ده لره په باب حديث كي ضعيف ګڼړلو.

**تشريح** : دائمه اربعه مسلك دادی كه دحج فرض كيدو نه پس څوك حج ونكړي او مړ شي نو كافر به نه وي ترڅو چي يي دحج دفرضيت نه انكار نه وي كړی خو ګنهګار به ضرور وي. يا دا جمله په طور دتهديد ده چي حج دفرض كيدو باوجود ددي نه كونكی دكافرانو پشان عمل كوي علماء وائي په دي جمله كي دهغه كسانو دپاره سخت وعيد دی څوك چي دطاقت باوجود حج نه كوي ځكه چي هغوئ پخپل دي عمل سره دكافرانوسره ځان مشابه كوي

****************

## ٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي إِيجَابِ الْحَجِّ بِالزَّادِ وَالرَّاحِلَةِ

### دخرچي او سورلئ دموجود كيدو وخت كي دحج دوجوب بيان

٨١٣ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ يَزِيدَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبَّادِ بْنِ جَعْفَرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا يُوجِبُ الْحَجَّ؟ قَالَ: " الزَّادُ وَالرَّاحِلَةُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا مَلَكَ زَادًا وَرَاحِلَةً وَجَبَ عَلَيْهِ الْحَجُّ، وَإِبْرَاهِيمُ هُوَ ابْنُ يَزِيدَ الْخُوزِيُّ الْمَكِّيُّ، وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي چي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي خاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله كوم كوم څيزونه حج لره واجبوي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دسفر خرچي او سورلي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او ابراهيم ، ابن يزيد خوزي مكي دي او په ده باندي دحافظي په اعتبار سره بعضي اهل علمو كلام كړي دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي يو بنده كله دسفر دخرچي او دسورلئ مالك شي نو حج په هغه باندي فرض كيږي

****************

## ٥ـ بَاب مَا جَاءَ كَمْ فُرِضَ الْحَجُّ

### څو پيري حج كول فرض دي

---

[1] ـ ابن ماجه في الصيام ٦ (٢٨٩٦) ، وفي التفسير (برقم : ٢٩٩٨) (تحفة الأشراف : ٨٢٣)

٨١٤_ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا مَنْصُورُ بْنُ وَرْدَانَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، قَالَ: " لَمَّا نَزَلَتْ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلا (آل عمران: ٩٧) قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفِي كُلِّ عَامٍ ؟ فَسَكَتَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ أَفِي كُلِّ عَامٍ، قَالَ: "لَا، وَلَوْ قُلْتُ: نَعَمْ، لَوَجَبَتْ" فَأَنْزَلَ اللَّهُ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لا تَسْأَلُوا عَنْ أَشْيَاءَ إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ (المائدة:١٠١) . قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَاسْمُ أَبِي الْبَخْتَرِيِّ سَعِيدُ بْنُ أَبِي عِمْرَانَ وَهُوَ سَعِيدُ بْنُ فَيْرُوزَ. ([1])

**ترجمه** : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي كله چي دا حكم نازل شو ''دالله دپاره په خلقو دكعبي حج كول فرض دي خو چي څوك ديته درسيدو طاقت لري'' نو خلقو تپوس اوكړو اي دالله رسوله ايا حج هر كال فرض دي رسول الله خاموش پاتي شو خلقو دوباره بيا تپوس اوكړو اي دالله رسوله ايا هر كال؟ رسول الله اوفرمائيل نه او كه ما هر كال وئيلي وي نو هر كال به حج فرض شوي وي او بيا الله تعالي دا حكم نازل كړو اي ايمان والا دداسي څيز باره كي تپوس مه كوئ چي هغه كه چري ستاسو په وړاندي ظاهر كړي شي نو تاسو به پريشانه كړي.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث په دي سند حسن غريب دي ، او دابو البختري نوم سعيد بن ابي عمران دي او همداسعيد بن فيروز دي ، او په دي باب كي دابن عباس او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

## د حج په ټول عمر كې يوځل فرضيت

په ژوند كي صرف يو ځل حج فرض دي هركال فرض نه دي او ددې دليل دا حديث دي په صحيح مسلم كي دى:

"عن أبي هريرة (رضي الله عنه) قال خطبنا رسول الله صلي الله عليه وسلم فقال يا أيها الناس قد فرض عليكم الحج فحجوا فقال رجل أكل عام يا رسول الله صلي الله عليه وسلم فسكت حتى قالها ثلاثاً فقال رسول الله صلي الله عليه وسلم لو قلت نعم لوجبت ولما استطعتم ثم قال ذروني ما تركتم فإنما هلك من كان قبلكم بكثرة سوالهم وخلافهم على أنبيائهم فإذا أمرتكم بشئ فأتوا منه مااستطعتم وإذا نهيتكم عن شئ فدعوه"

[1] ـ سنن ابن ماجه في الصيام ٢ (٢٨٨٤) . ويأتي عند المؤلف في تفسير المائدة (٣٠٥٥)

ابوهريره(رضي الله عنه) فرمائی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته خطبه وئيله نو ويې فرمائيل،اې خلقو په تاسو حج فرض دي نو حج کوئ،يوکس اووئيل،اې د الله پيغمبره آيا هرکال؟ رسول پاك صلي الله عليه وسلم چپ شو،هغه دا تپوس درې ځله اوکړلو نو رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل،که ما وئيلی وو چی آو نو فرض شوې به وو،خوتاسوبه ني طاقت نشو لرلې،بيا نبی صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل،تاسوما پرېږدئ،ترڅو چی زه تاسو پرېږدمه ځکه چی هلاك شوی دی هغه څوك چی وړاندې ستاسو نه وود زياتو سوالونو او خپلو پيغمبرانو سره د اختلاف په وجه نو کله چی زه تاسو ته د يو څيزحکم درکړم،نود خپل طاقت مطابق په هغې عمل کوئ،او کله چی تاسو د څه څيز نه منع کړم نو هغه پرېږدئ.

ددې حديث په الفاظو "لوقلت نعم لوجبت ولما استطعتم"کي په دې دلالت کوی چی په حج کښې تکرار نشته،فرضی حج په ټول ژوند کي يو ځل دي بار بار فرض نه دې دويم دليل دادی چی د حج د فرضيت سبب بيت الله دي هم دا وجه ده چی د حج نسبت بيت الله ته کيږی،او حج بيت الله وئيلی شي،او اضافت د سببيت نښه ده نو معلومه شوه چی د حج سبب بيت الله دي او بيت الله يو دي ګنړيدې نشی،بلکي هم يو به پاتې وی،او دا معلومه ده چی سبب که مکرر نه وی نو مسبب هم نه مکرر کيږی،ددې وجې وئيلې شوی دی چی حج په ژوند کي صرف يوځل فرض دي.

*****************

## ٦ــ بَابُ مَا جَاءَ كَمْ حَجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

### نبي كريم صلي الله عليه وسلم څومره حجونه كړي دي

٨١٥ــ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّ ثَلَاثَ حِجَجٍ، حَجَّتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يُهَاجِرَ، وَحَجَّةً بَعْدَ مَا هَاجَرَ وَمَعَهَا عُمْرَةٌ، فَسَاقَ ثَلَاثَةً وَسِتِّينَ بَدَنَةً، وَجَاءَ عَلِيٌّ مِنَ الْيَمَنِ بِبَقِيَّتِهَا فِيهَا جَمَلٌ لِأَبِي جَهْلٍ فِي أَنْفِهِ بُرَةٌ مِنْ فِضَّةٍ فَنَحَرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "وَأَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ كُلِّ بَدَنَةٍ بِبَضْعَةٍ فَطُبِخَتْ وَشَرِبَ مِنْ مَرَقِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ سُفْيَانَ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زَيْدِ بْنِ حُبَابٍ، وَرَأَيْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ فِي كُتُبِهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا فَلَمْ يَعْرِفْهُ مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ جَعْفَرٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،

وَرَأَيْتُهُ لَمْ يَعُدَّ هَذَا الْحَدِيثَ مَحْفُوظًا، وَقَالَ: إِنَّمَا يُرْوَى عَنِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ مُجَاهِدٍ مُرْسَلًا. ([1])

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دري حجونه كړي وو دوه دهجرت نه مخكي او يو حج دهجرت نه پس او ددي حج سره يي عمره هم كړي وه او دري شپيته اوښان يي دخان سره دقربانۍ دپاره بوتلي وو او ددينه علاوه نور اوښان ديمن نه علي رضي الله عنه راوستل او په دوئ كي يو اوښ دابوجهل وو او دهغه اوښ په پوزه كي دسپينو زرو يوه كړۍ وه رسول الله صلي الله عليه وسلم دغه اوښ نحر كړو او بيايي دهر اوښ نه ديوي تكړي دپخولو حكم اوكړو چنانچه غوښه پخه كړي شوه او رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي غوښي شوروا اوڅكله.

امام ترمذي وائي دا حديث دسفيان په روايت غريب دي دا مونږ ته صرف دزيد بن حباب په سند رارسيدلي دي ماته عبدالله بن عبدالرحمن دارمي په كتابونو كي كتلي دي چي هغه پخپلو كتابونو كي دا حديث دعبدالله بن ابي زياد په واسطه نقل كړي دي ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه ددي روايت په سلسله كي تپوس اوكړو نو هغه ته په روايت دثوري عن جعفر عن ابيه عن جابر عن النبي صلي الله عليه وسلم معلوم نه وو او ما اوكتل چي هغه دا حديث په محفوظ روايتونو كي اونه شميرل او وئيل يي دا دثوري نه نقل شوي دي او ثوري دابواسحاق نه او ابواسحاق دمجاهد نه مرسل نقل كړي دي.

**تشريح : په دي باره كي اختلاف دي چي رسول تمام څومره حجونه كړي وو**

(۱) ابن الاثير (رحمه الله) فرمائي چي د هجرت نه وړاندې نبی صلي الله عليه وسلم به هر كال حج كولو.

(۲) جابربن عبدالله(رضي الله عنه) فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم صرف درې حجونه كړي دي،دوه د هجرت نه وړاندې او يو د هجرت نه پس په لسمه هجرئ كي حجة الوداع.

(۳) اوابن عباس رضی الله عنهما فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د هجرت نه وړاندې درې حجونه كړيوو.

(۴) ابن الجوزی (رحمه الله) فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ډير حجونه كړي وو ،د هغي شمار مونږ ته معلوم نه دي .

---

[1] ـ ابن ماجه في الحج ۸۴ (۳۰۷۶) (تحفة الأشراف : ۲۶۰۶)

دي ، آدم (۱) د هندوستان نه پیدل څلويښت حجونه کړي دی،جبرئيل (۱) آدم (۱) ته اووئيل،ستا نه اوه زره کاله وړاندې به فرشتې د بيت الله طواف ته راتلې.

****************

٨١٦_حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، حَدَّثَنَا قَتَادَةُ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ: كَمْ حَجَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ: " حَجَّةً وَاحِدَةً وَاعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ، عُمْرَةٌ فِي ذِي الْقَعْدَةِ وَعُمْرَةُ الْحُدَيْبِيَةِ وَعُمْرَةٌ مَعَ حَجَّتِهِ وَعُمْرَةُ الْجِعِرَّانَةِ إِذْ قَسَمَ غَنِيمَةَ حُنَيْنٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَحَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ هُوَ أَبُو حَبِيبٍ الْبَصْرِيُّ هُوَ جَلِيلٌ ثِقَةٌ، وَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ.[1]

**ترجمه** : دقتاده بيان دي فرمائي چي دانس بن مالك رضي الله عنه نه مي تپوس اوکړو چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم څومره حجونه کړي وو؟ نو ويي فرمائيل صرف يو حج يي کړي وو او څلور عمري، يوه عمره يي په ذي قعده مياشت کي کړي وه او يوه عمره دحديبيه وه، او يوه عمره يي دحج سره کړي وه، او يوه عمره يي هغه وخت په جعرانه کي کړي وه کله چي هغوی دغزوه حنين دغنيمت دمالونو تقسيم کولو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دحبان بن هلال اسم کنيه ابو حبيب بصري دي هغه يو جليل القدر او ثقه محدث دي يحیٰ بن سعيد القطان دده توثيق کړي دي.

**دقتاده بن ملحان رضي الله عنه حالات:**

نوم قتاده دپلار نوم ملحان په اخر کي په بصره کي اوسيدو علامه ابن اسير وائي چي ده درسول الله صلي الله عليه وسلم نه صرف دوه احاديث نقل کړي دي.

****************

## ٧_ بَاب مَا جَاءَ كَمِ اعْتَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

**رسول الله صلي الله عليه وسلم څومره عمري کړي وي**

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَطَّارُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ: عُمْرَةَ الْحُدَيْبِيَةِ، وَعُمْرَةَ الثَّانِيَةِ مِنْ قَابِلٍ، وَعُمْرَةَ الْقَضَاءِ فِي ذِي الْقَعْدَةِ، وَعُمْرَةَ الثَّالِثَةِ مِنَ الْجِعِرَّانَةِ، وَالرَّابِعَةِ الَّتِي مَعَ حَجَّتِهِ ".

---

[1] _ صحيح البخاري في العمرة ٣ (١٧٧٨). صحيح مسلم في الحج ٣٥ (١٢٥٣). سنن ابي داود في المناسک ٨٠ (١٩٩٣) (تحفة الأشراف: ١٣٩٣). مسند احمد (٣ في ٢٥٦). سنن الدارمي في المناسک ٣ (١٨٢٨)

قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.(1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم څلور عمري کړي وي يوه عمره دحديبيه وه او بله عمره په راتلونکي کال يعني په ذي قعده کي دقضاء عمره وه، دريمه عمره دجعرانه وه او څلورمه عمره هغه وه چي دحج سره يي کړي وه.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن غريب دي او په دي باب کي دانس، عبدالله بن عمر، او عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

****************

وَرَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " اعْتَمَرَ أَرْبَعَ عُمَرٍ " وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ: حَدَّثَنَا بِذَلِكَ سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ.(2)

**ترجمه** : دعکرمه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم څلور عمري کړي دي او عکرمه پخپل روايت کي دابن عباس ذکر نه دي کړي.

****************

## ٨ــ بَاب مَا جَاءَ مِنْ أَيِّ مَوْضِعٍ أَحْرَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

### نبي کريم صلي الله عليه وسلم دکوم ځاي نه احرام تړلي وو

٨١٧ــ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: " لَمَّا أَرَادَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَجَّ أَذَّنَ فِي النَّاسِ فَاجْتَمَعُوا، فَلَمَّا أَتَى

---

1 ــ ابی داود في المناسک ٨٠ (١٩٩٣) . سنن ابن ماجه في المناسک ٥٠ (٣٠٠٣) (تحفة الأشراف : ٦١٦٨) . مسند احمد (١ في ٢٣٦)

2 ــ ابی داود في المناسک ٨٠ (١٩٩٣) . ابن ماجه في المناسک ٥٠ (٣٠٠٣) (تحفة الأشراف : ٦١٦٨) . مسند احمد (١ في ٢٣٦)

الْبَيْدَاءَ أَحْرَمَ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَالْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه :** دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي هر كله چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دحج اراده اوكړه نو په خلقو كي يي اعلان اوكړو چنانچه خلق راجمع شول او څه وخت چي دځپل خاي نه روان شول او بيداء مقام ته ورسيدل نو احرام يي اوتړلو

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر، انس، مسور بن مخرمه رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

*****************

٨١٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ مُوسَى بْنِ عُقْبَةَ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: الْبَيْدَاءُ الَّتِي يَكْذِبُونَ فِيهَا عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " وَاللَّهِ مَا أَهَلَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا مِنْ عِنْدِ الْمَسْجِدِ مِنْ عِنْدِ الشَّجَرَةِ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

**ترجمه :** دعبدالله بن عمر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دكوم بيداء په باره كي چي خلق په رسول الله صلي الله عليه وسلم پوري دروغ تړي (چي دهغه خاي نه يي احرام تړلي وو) په الله قسم رسول الله صلي الله عليه وسلم د ذي الحليفه دمسجد سره وني ته نزدي دتلبيه چغه اووهله.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٩_ بَاب مَا جَاءَ مَتَى أَحْرَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

### رسول الله صلي الله عليه وسلم كله احرام تړلي وو

٨١٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ السَّلَامِ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " أَهَلَّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٦١٢)

[2] _ البخاري في الحج ٢ (١٥١٥) ، و٢٠ (١٥٤١) ، والجهاد ٥٣ (٢٨٦٥) ، صحيح مسلم في الحج (١١٨٦) ، سنن ابي داود في المناسك ٢١ (١٧٧١) ، سنن النسائي في الحج ٥٦ (٢٧٥٨) ، (تحفة الأشراف : ٧٠٢٠) ، موطا امام مالک في الحج ٩ (٣٠) ، مسند احمد (٢ في ١٠، ٦٦، ١٥٤)

غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُ أَحَدًا رَوَاهُ غَيْرَ عَبْدِ السَّلَامِ بْنِ حَرْبٍ، وَهُوَ الَّذِي يَسْتَحِبُّهُ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنْ يُحْرِمَ الرَّجُلُ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ نه پس احرام اوتړلو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، او مونږ ته دعبدالسلام بن حرب نه علاوه بل څوك نه دي معلوم چي دا حديث يي نقل كړي وي، او كوم څيز چي اهل علم مستحب ګڼړي هغه همدا دي چي احرام به دمونځ نه پس تړلي شي.

****************

## ١٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِفْرَادِ الْحَجِّ

### دحج افراد بيان

٨٢٠_ حَدَّثَنَا أَبُو مُصْعَبٍ قِرَاءَةً، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفْرَدَ الْحَجَّ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. (حديث مرفوع) وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفْرَدَ الْحَجَّ". وَأَفْرَدَ أَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ بِهَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَالَ الثَّوْرِيُّ: إِنْ أَفْرَدْتَ الْحَجَّ فَحَسَنٌ وَإِنْ قَرَنْتَ فَحَسَنٌ وَإِنْ تَمَتَّعْتَ فَحَسَنٌ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ مِثْلَهُ، وَقَالَ: أَحَبُّ إِلَيْنَا الْإِفْرَادُ ثُمَّ التَّمَتُّعُ ثُمَّ الْقِرَانُ. (2)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم حج افراد اوكړو.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دجابر او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او دبعضي اهل علمو هم په همدي باندي عمل دي دابن

---

1 _ النسائي في الحج ٥٢ (٢٧٥٥) (تحفة الأشراف : ٥٥٠٢)

2 _ مسلم في الحج ١٧ (١٢١١) . سنن ابي داود في المناسك ٢٣ (١٧٧٧) . سنن النسائي في الحج ٣٨ (٢٧١٦) . سنن ابن ماجه في المناسك ٣٧ (٢٩٦٤) . (تحفة الأشراف : ١٧٥١٧) . موطا امام مالك في الحج ١١ (٣٧) . سنن الدارمي في المناسك ١٦ (١٨٥٣)

عمر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم حج افراد كړي وو او ابوبكر او عمر او عثمان رضي الله عنه هم حج افراد اوكړو، ثوري وائي كه څوك حج افراد اوكړي نو هم بهتر دي او كه حج قران اوكړي نو دا هم بهتر دي او كه څوك حج تمتع اوكړي نو دا هم بهتر دي، امام شافعي هم دده هم خيال دي او دده سره په دي كي متفق دي، امام شافعي وائي زما خو په ټولو كي حج افراد زيات خوښ دي او بيا مي تمتع او قران خوښ دي.

* * * * * * * * * * * * * * * * *

## ١١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْجَمْعِ بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

### په يو ځاي دحج او دعمري كولو بيان

٨٢١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " لَبَّيْكَ بِعُمْرَةٍ وَحَجَّةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عُمَرَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَاخْتَارُوهُ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ. ([1])

**ترجمه**: دانس رضي لله عنه بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه "لبيك بعمرة وحجة" دفرمائيلو په حال كي اوريدلي دي.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعمر او عمران بن حصين رضي الله عنهما نه هم روايات مروي دي او بعضي اهل علمو هم دي طرف ته ميلان كړي دي او اهل كوفه هم دا قول اختيار كړي دي.

* * * * * * * * * * * * * * * * *

## ١٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّمَتُّعِ

### دحج تمتع بيان

---

[1] ـ (تحفة الأشراف: ٦١١) وقد أخرجه صحيح البخاري في المغازي ٦١ (٤٣٥٣) . وصحيح مسلم في الحج ٢٧ (١٢٣٢)

٨٢٢_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُاللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: تَمَتَّعَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ وَعُمَرُ وَعُثْمَانُ وَأَوَّلُ مَنْ نَهَى عَنْهَا مُعَاوِيَةُ. قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم حج تمتع اوکړو او ابوبکر او عمر او عثمان رضي الله عنهم هم حج تمتع اوکړو او دټولو نه مخکي چاچي دا بند کړي دي معاويه رضي الله عنه نه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : داهل علمو په دي کي اختلاف دی چي د تمتع قرباني د شکر ادا کولو دپاره ده اوکه دم د جبيري دی؟

داحنافو په نزد دتمتع دنعمت دشکر اداکولو دپاره چي څنګه هديه ميسر وي واجب ده او ادني درجه ددي چيلۍ ده دا تفسير دامام ابوحنيفه او دامام احمد دمذهب موافق دي. ځکه چي ددوۍ په نزد باندي دا دشکر دم دي نو ځکه ددي پخپله خوړل هم جائز دي.

امام شافعي فرمائي چي دا دم جبري دي نو لهذا ددي پخپله خوړل جائز نه دي.

ددي دخوړلو دجواز دليل په ډيرو احاديثو کي وارد دي من جمله دهغۍ نه دا دي چي دجابر رضي الله عنه نه مروي دي چي بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دهر اوښ دغوښي نه يوه يوه تيکه اوخوړله او شوروا يي هم وڅکله ، وجه داستدلال دا ده چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم قارن وو او کله چي يي دهر اوښ دغوښي نه ديوي يوي تکي دخوړلو حکم اوفرمائيلو نو بيا يي ددينه خوراك اوکړو نودقارن دهديي نه خوړل درسول کريم صلي الله عليه وسلم دعمل نه ثابت شول بلکي ددي استحباب ثابت شو اوکه داسي نه وي نودهر اوښ دغوښي نه به يي ديوي يوي تکي دخوړلو حکم نه کولو.

علامه ابن جوزي وئيلي دي چي دجواز دويم دليل دعبدالرحمن بن ابي حاتم روايت دي علي رضي الله عنه فرمائي چي ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم دخوراك دمقدار نه دعلاوه غوښي دصدقه کولو حکم اوکړو دا نور هم زيات صريح دليل دي چي ددي خوړل جائز دي .

اودامام شافعي په نزد باندي چي کومه واجب هديه ده دهغي پخپله خوړل حرام دي اودهغوۍ دليل دادي چي دناجيه خزاعي سره د رسول الله صلي الله عليه وسلم اوښان وو هغه رسول کريم صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو چي اي دالله رسوله که چري کوم اوښ هلاکيږي نو څه

---

1 _ سنن ابي داود في المناسک ۲۴ (۱۷۹۵) . وسنن ابن ماجه في الحج ۱۴ (۲۹۱۷) . و۳۸ (۲۹۶۸) . (تحفة الأشراف : ۵۷۳۵) . و مسند احمد (۳ في ۹۹) . وسنن الدارمي في المناسک ۷۸ (۱۹۶۳) .

اوکړم رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل نحر یي کړه او دده خپې دده په وینې رنګ کړه او دخلقو خوراك ته يي پریږده.

ددي حدیث روایت امام مالك احمد ترمذي او ابن ماجه کړي دي او ترمذي وئیلي دي چې دا حدیث صحیح دي ، دواقدي په روایت کي دومره اضافه ده چي دا یي هم اوفرمائیل چي ته او ستا کوم ملګري دي ددینه نه خوري ، او همدارنګي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روایت دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم شپاړس اوښان دیوکس سره اولیږل اوهغه یي امیر مقرر کړو او ویي فرمائیل چي ددینه به پخپله او ستاکوم ملګري نه خوري ددي حدیث روایت مسلم کړي دي او دذویب نه هم ددي مضمون مطابق حدیث مروي دي.

بعضي علماء وايي ددي احادیثو دقران او تمتع سره څه تعلق دي څکه چي دا احادیث په قصه دحجة الوداع کي نه دي وارد بلکي په قصه دحدیبیه کي وارد دي او رسول الله صلي الله علیه وسلم دهجرت نه پس دحج الوداع نه علاوه بل کوم حج نه دي کړي نو بیا دا هدیي کومي چي په دي احادیثو کي مذکور دي دتمتع هدیي څرنګه کیدي شي؟ بلکي یقینا دا هدیي نفلي دي او مونږ پخپله قائل یو په نفل هدیه چرته په لاره کي هلاکیږي او ذبح کړي شي نو ددینه پخپله خوړل جائز نه دي .

**مسئله**: دامام ابوحنیفه او شافعي او احمد رحمهم الله په نزد هدیه دتمتع دلسم تاریخ نه مخکي ذبح کول جائز نه دي بلکي پس درمي نه ذبح کول پکار دي.

بعضي اهل علمو وئیلي دي چي مخکي هم جائز دي لیکن زمونږ دپاره دلیل دادي چي حفصه رضي الله عنها درسول الله صلي الله علیه وسلم نه تپوس اوکړو چي اي دالله رسوله ته زمونږ سره ولي حلال نه شوي رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل هدیه مي لیږلي ده اوسرمي پټ کړي دي نو اوس به زه دهدیي دذبح کولو پوري حلال نه یم.

احناف او جمهور علماء وايي په یوم النحراو ایام تشریق کي روژه نیول حرام دي اوهمدا وجه ده چي پدي ورځو کي په روژو نیولو سره واجب نه ادا کیږي ، په صحیحینو کي دعمربن الخطاب رضي الله عنه نه مروي دي چي ددوه ورځو دروژو نه رسول الله صلي الله علیه وسلم منع فرمائیلي ده یوه خو هغه ورځ ده په کومه چي فرض روژي ختم شي یعني دواړه اختر ورځ او دویمه هغه ورځ ده په کومه کي چي دخپلي قربانۍ غوښي خورۍ، (بخاري ومسلم)

دابوسعید خدري او ابو هریره رضي الله عنهما نه هم ددي حدیث مطابق احادیث مروي دي چي پدي ورځو کي دروژو نیولو نه رسول الله صلي الله علیه وسلم منع فرمائیلي ده (ابوداود او ابن منذر ددي حدیث روایت کړي دي اوحاکم او ابن خزیمه ئي تصحیح کړي ده)

اوهمدارنګي مسلم دکعب بن مالك رضي الله عنه نه مرفوعا روایت نقل کړي دي چي داد خوراك اوڅښاك ورځي دي ، اویه مسلم کي دنبیشه هزلي نه هم ددي حدیث مطابق روایت

مروي دي اوپه نسائي كي په صحيح سند سره دبشربن سحيم نه هم ددي حديث مطابق روايت مروي دي، اواصحاب سنن اوحاكم او ابن حبان په صحيح سند سره دعقبه بن عامر رضي الله عنه روايت بيان كړي دي ، اوابن عبد البر دابن عمر رضي الله عنهما نه روايت نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي:چي ايام تشريق دخوراك څښاك اود مونځ ورځي دي ، پدي كي دي څوك روژي نه نيسي.

امام مالك اوشافعي او احمد رحمهم الله فرمائي كه چري متمتع په هديه قادر نه وي اود يوم نحر نه لړ مخكي ئي روژي هم ونه نيولي نودده دپاره په ايام تشريق كي روژي نيول جائز دي اوخاص په يوم نحر كي اجماعا جائز ندي، ابن عمر اوعائشه رضي الله عنهم فرمائي چي په ايام تشريق كي دي روژي ونه نيولي شي ليكن كه چري چا هديه ونه موندله اوهغه ئي نيسي نو اجازت ورته شته (بخاري)

اوبخاري دابن عمر رضي الله عنهما نه بل روايت هم نقل كړي دي چي ديوم عرفي پوري روژي نيول دهغه كس دپاره دي څوك چي تمتع وكړي اوهديه ورته ملاو نشي او روژي ديوم عرفي پوري ونه نيسي نوبيائي په ايام منى كي نيول پكار دي.

مونږ وايو: زمونږ مقابلينو د ضعيف رواياتو نه استدلال كړي دى او استدلال يي هم اجتهادي كوم مرفوع روايت ورسره نشته.

****************

٨٢٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ نَوْفَلٍ، أَنَّهُ سَمِعَ سَعْدَ بْنَ أَبِي وَقَّاصٍ، وَالضَّحَّاكَ بْنَ قَيْسٍ وَهُمَا "يَذْكُرَانِ التَّمَتُّعَ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَقَالَ الضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ: لَا يَصْنَعُ ذَلِكَ إِلَّا مَنْ جَهِلَ أَمْرَ اللهِ، فَقَالَ سَعْدٌ: بِئْسَ مَا قُلْتَ يَا ابْنَ أَخِي، فَقَالَ الضَّحَّاكُ بْنُ قَيْسٍ: فَإِنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ قَدْ نَهَى عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ سَعْدٌ: قَدْ صَنَعَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَنَعْنَاهَا مَعَهُ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : دمحمد بن عبدالله بن حارث بن نوفل نه مروي دي چي هغه دسعد بن ابي وقاص او ضحاك بن قيس رضي الله عنهما نه اوريدلي دي چي دواړو دحج سره دعمري يوځاي كولو ذكر كولو ضحاك بن قيس اووئيل عمر بن الخطاب رضي الله عنه ددينه منع فرمائيلي ده سعد اووئيل تمتع خو رسول الله صلي الله عليه وسلم كړي دي او ورسره مونږ هم كړي دي.

1 ـ النسائي في الحج ٥٠ (٢٧٣٥) . (تحفة الأشراف : ٣٩٢٨) . موطا امام مالک في الحج ١٩ (٦٠) . سنن الدارمي في الحج ١٨ (١٨٥٥)

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي

*****************

٨٢٤_ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنِي يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، أَنَّ سَالِمَ بْنَ عَبْدِ اللهِ حَدَّثَهُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَجُلًا مِنْ أَهْلِ الشَّامِ وَهُوَ يَسْأَلُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ، عَنِ التَّمَتُّعِ بِالْعُمْرَةِ إِلَى الْحَجِّ، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: هِيَ حَلَالٌ، فَقَالَ الشَّامِيُّ: إِنَّ أَبَاكَ قَدْ نَهَى عَنْهَا، فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ: أَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ أَبِي نَهَى عَنْهَا وَصَنَعَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَأَمْرَ أَبِي نَتَّبِعُ أَمْ أَمْرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: الرَّجُلُ بَلْ أَمْرَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَقَدْ صَنَعَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

**ترجمه** : ابن شهاب زهري وائي سالم بن عبدالله اووئيل چي ما په شام کي ديو کس نه اوريدلي وو چي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه يي دتمتع په باره کي تپوس اوکړو نو عبدالله بن عمر اووئيل دا جائز دي نو شام والا کس اووئيل ستا پلار خو دا بنده کړي ده عبدالله بن عمر اووئيل لږ خو راته اوويه که زما پلار يو څيز منع کړي او رسول الله صلي الله عليه وسلم کړي وي نو زما دپلار دحکم پيروي به ضروري وي او که درسول الله دحکم؟ نو هغه اووئيل درسول الله دحکم پيروي ضروري ده ابن عمر اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي کړي دي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن دي او په دي باب کي علي، عثمان . جابر . سعد . اسماء بنت ابي بکر او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي، او په صحابه کرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو کي يو جماعت دا قول اختيار کړي دي چي په حج کي عمري شاملولو سره تمتع کول درست دي، او تمتع ديته وائي چي يو کس دحج په مياشتو کي دعمري په ذريعه داخل شي او عمري کولو نه پس حصار شي تردي چي حج هم اوکړي نو داسي کس متمتع دي او چي کومه قرباني ورته ملاويږي دهغي کول ورباندي لازم دي او که قرباني ورته نه ملاويږي نو په حج کي به دري روژي نيسي او چي کور ته واپس راشي نو اوه روژي به نوري نيسي ، دمتمتع دپاره مستحب دي چي کله دي په حج کي دري روژي نيسي نو دحج په ابتدائي لسو ورځو دذي الحجي کي دي روژي اونيسي او دده اخري ورځ به دعرفي ورځ وي په صحابه کرامو کي دبعضي اهل علمو چي ابن عمر پکي هم شامل دي دا قول دي که چري دي په لسو ورځو کي روژي اونه نيسي نو په ايام تشريق کي دي بيا اونيسي، همدا دامام مالک.

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٨٦٢)

شافعي، احمد، او اسحاق رحمهم الله قول دي، بعضي علماء وائي په ايام تشريق كي به روژې نه نيسي او دا قول داهل كوفه دي، امام ترمذي وائي محدثين عمري لره په حج كي شاملول او تمتع كول خوښوي او همدا د امام شافعي او احمد او اسحاق قول هم دي.

**دسالم بن عبدالله بن عمر حالات:**

دا دعبدالله بن عمر خوي دی په دي دټولو اتفاق دي چي دی دعمر رضي الله عنه په ټول اولاد كي دهغه سره زيات مشابه وو او دعبدالله په اولاد كي هم دهغه سره زيات مشابه دي (ابن سعد).

علامه ذهبي وائي سالم فقيه او حجت وو او دمخصوص علماؤ دجملي نه وو دهغه ذات علم او عمل دواړو لره جمع كونكی وو امام نووي ليكلي دي دسالم په امامت او زهد او تقوي باندي د تمام امت اتفاق دی.

په علم حديث كي ډير مشهور وو دعلم حديث علم يې دابوهريره ، ابو ايوب انصاري او عائشه رضي الله عنها نه حاصل كړی وو او په همدي وجه ابن سعد ليكلي دي چي سالم دكثيرالحديث او عالي مرتبي خلقو دجملي نه وو سالم دمديني په فقهاء سبع كي وو اعلام الموقعين.

امام مالك دده په باره كي ليكلي دي چي په سلف صالحينو كي په زهد او تقوي كي دده سره مشابه هيڅوك نه وو (تذكرة الحفاظ).

يو څو صفات په ده كي زيات سرګند وو اول ډير احتياط كول. دويم دبادشاهانو چاپلوسي نه كول، او دمسلمان دوينو عزت كول.

وفات: دهجرت په ۱۰۶ كال په مدينه كي وفات شو هشام بن عبدالملك ورباندي جنازه اوكړه (تهذيب التهذيب).

*****************

## ۱۳_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّلْبِيَةِ

**دتلبيه بيان**

۸۲۵_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ تَلْبِيَةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَتْ: " لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ، لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ، لَا شَرِيكَ لَكَ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ،

وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَإِنْ زَادَ فِي التَّلْبِيَةِ شَيْئًا مِنْ تَعْظِيمِ اللَّهِ فَلَا بَأْسَ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، وَأَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يَقْتَصِرَ عَلَى تَلْبِيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَإِنَّمَا قُلْنَا: لَا بَأْسَ بِزِيَادَةِ تَعْظِيمِ اللَّهِ فِيهَا، لِمَا جَاءَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَهُوَ حَفِظَ التَّلْبِيَةَ عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ زَادَ ابْنُ عُمَرَ فِي تَلْبِيَتِهِ مِنْ قِبَلِهِ لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ وَالْعَمَلُ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم تلبيه دا وه: "لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ. لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ. إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ. لَا شَرِيكَ لَكَ" يعني حاضر يم اي الله زه حاضريم اي الله زه حاضر يم. حاضر يم ستا هيڅ قسم شريك نشته زه حاضر يم او ټول تعريفونه او نعمتونه صرف ستا دي او لويي هم تا سره ښايي ستا هيڅوك شريك نشته.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي د ابن مسعود، جابر، عائشه، ابن عباس، او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي، په صحابه کرامو کي دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري ، شافعي، احمد، او اسحاق رحمهم الله قول هم دي، امام شافعي وائي که چري څوك دالله دتعظيم دخه کلماتو اضافه اوکړي نو څه باك نشته انشاء الله ليکن زما په نزد بهتره خبره داده چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په تلبيه باندي اکتفاء اوکړي شي امام شافعي وائي مونږ چي دکلماتو داضافي کومه خبره کړي ده چي په دي کي څه حرج نشته ددي دليل دابن عمر رضي الله عنهما روايت دي چي هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تلبيه ياده کړه او بيا يي په دي کي دخپل طرف نه ددي کلماتو "لبيك والرغباء اليك والعمل" اضافه اوکړه يعني ستا طرف ته رغب دي او عمل هم خاص ستاد پاره دي.

## دتلبيه په الفاظو کې د کمې او زيادت بيان

(۱) د احنافو فقهاؤ په نزد د تلبيه په منقول الفاظو کي به کمې نشي کولی ځکه چی دا الفاظ د ټولو راويانو په اتفاق سره نقل شوی دی نوځکه په دې کي کمې کول مناسب نه دی، خو که څه کلمات ئې زياتی کړل نو روا دی.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۷۵۹۲) وأخرجه صحيح البخاري في الحج ۲٦ (۱۵۴۹) . واللباس ٦۹ (۵۹۵۱) . صحيح مسلم في الحج ۳ (۱۱۸۴) . سنن ابي داود في الحج ۲۷ (۱۸۱۲) . سنن النسائي في الحج ۵۴ (۲۷۴۸) . سنن ابن ماجه في المناسك ۱۵ (۲۹۱۸) . موطا امام مالک في الحج ۹ (۲۸) . مسند احمد (۲ في ۳، ۲۸، ۳۴، ۴۱، ۴۳، ۴۷، ۴۸، ۵۳، ۷٦، ۷۷، ۷۹، ۱۳۱) . سنن الدارمي في المناسك ۱۳ (۱۸۴۹) .

(۲) ليکن په دې کې د امام شافعي (رحمه الله) اختلاف دي په هغه روايت کي کوم چې ربيع (رحمه الله) د هغوی نه نقل کړې دې چې د تلبيه په الفاظو کي زيادت کول روا نه دي دليل دادي چې امام شافعي (رحمه الله) تلبيه په اذان او تشهد باندې قياس کوی، يعنی لکه څنګه چې د اذان اوتشهد په کلماتو کي کمې زياتې اوبدلون روا نه دي نودغه شان د تلبيه په الفاظو کي هم کمې زياتې روا نه دي اوعلت مشترکه په دې دواړوکي دادی چې لکه څنګه اذان او تشهد په مخصوص کلماتو کي مرتب دي دغه شان د تلبيه کلمات په خاص ترتيب سره مرتب دی.

زمونږ دليل دادی چې جليل القدر صحابه کرامو (رضي الله عنهم) لکه عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمراوابوهريره (رضي الله عنهم) د تلبيه په الفاظو باندې زيادت کړې دي دابن عمر رضی الله عنهما په حديث کي ددې الفاظو زيادت منقول دې:

"لبيك وسعديك والخير بيديك والرغباء إليك"

دابن مسعود (رضي الله عنه) په حديث کي دا الفاظ زياتی دی "لبيك عدد التراب" او د ابوهريره (رضي الله عنه) په حديث کي د "إله الحق لبيك" الفاظ راغلی دی، بهرحال د تلبيه په ذکرشوو الفاظو باندې زيادت منقول دي دويم دليل دادې چې د تلبيه مقصود د الله تعالی ثناء اودخپلی بندګۍ اظهار دي نوپه کلماتو کي زيادت ددې مقصود نه مانع نه دي بلکي په دې مقصد کي يوقسم زيادت دې.

*****************

۸۲٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ أَهَلَّ فَانْطَلَقَ يُهِلُّ، فَيَقُولُ: "لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ، إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ" قَالَ: وَكَانَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، يَقُولُ: هَذِهِ تَلْبِيَةُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكَانَ يَزِيدُ مِنْ عِنْدِهِ فِي أَثَرِ تَلْبِيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالْخَيْرُ فِي يَدَيْكَ، لَبَّيْكَ وَالرَّغْبَاءُ إِلَيْكَ، وَالْعَمَلُ" قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دنافع نه مروي دي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما تلبيه په تيز اواز اوونيله او دتلبيي ونيلو سره روان شو او داسي يي وئيل : لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ لَبَّيْكَ. إِنَّ الْحَمْدَ وَالنِّعْمَةَ لَكَ وَالْمُلْكَ لَا شَرِيكَ لَكَ حاضر يم ستا په خدمت کي ، او حاضر يم ستا په خدمت کي او

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۸۳۱۴)

خوشحاله یم ستا په تابعدارئ او هر قسم کامیابي ستا په دوارو لاسونو کي ده او ستا طرف ته رغبت دي او عمل هم خاص ستا دپاره دي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ١٤ـ باب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّلْبِيَةِ وَالنَّحْرِ

### دتلبیه او دقربانئ دفضیلت بیان

٨٢٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ. ح وحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا ابْنُ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ أَيُّ الْحَجِّ أَفْضَلُ؟ قَالَ: "الْعَجُّ وَالثَّجُّ".(1)

**ترجمه** : دابوبکر صديق رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه سوال اوکړي شو چي په حج کي کوم يو عمل ډير افضل دي؟ ورته يي اوفرمائيل په کوم کي چي په کثرت سره تلبيه وئيلي شوي وي او ښي ويني بهيولي شوي وي.

**تشريح** : **د مسنون تلبيه الفاظ دادي:**

"لبيك اللهم لبيك لبيك لا شريك لك لبيك إن الحمد والنعمة لك والملك لا شريك لك"

په "إن الحمد" کي په الف باندي کسره ده فتحه نه ده ځکه چي د کسره په صورت کي به دا جمله مستقله شي،د ما قبل سره به ئې څه تعلق نه وي،اود فتحه په صورت کي به دا د اولنئ کلمي صفت شي.

صاحب دهدايه وائي چي تلبيه د ابراهيم د نداء د قبوليت جواب دي مشهوره واقعه ده چي کله ابراهيم عليه السلام د خانه کعبه د جوړولو نه فارغ شو نوالله تعالى ورته حکم اوکړو چي دحج اعلان اوکړه، ابراهيم عليه السلام عرض اوکړلو،اې زما معبوده زما آواز به څنګه (ټولوخلقوته) اورسي،الله تعالى ورته اوفرمائيل،ته آواز اوکړه،آواز رسول زما کار دي ابراهيم عليه السلام عرض اوکړلو،اې ربه زه څه آواز اوکړم،الله تعالى اوفرمائيل،دا اووايه "ياأيها الناس کتب عليکم الحج فحجوا البيت العتيق"

اې خلقو په تاسو باندي حج د بيت الله فرض شو،حج اوکړئ د کور پخواني. د ابراهيم عليه السلام د خولى نه دا الفاظ وتل وو چي دا آواز زمکي او آسمان په مينځ کي چي څومره

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الحج ١٦ (٢٩٢٤) . (تحفة الأشراف : ٦١٠٨) . سنن الدارمي في المناسك ٨ (١٨٣٨)

انسانان وو،تبولو ته اورسيدلو،تردې چې دپلارانو په شاګانو او د مياندو په رحمونو کي چې څوك وو. هغوى ته دا آواز اورسيدلو،چا يوځل جواب ورکړلو،چا دوه ځله اوچا ددې نه زيات نو چا چې څو ځله جواب ورکړې وى،هغه ته به انشاءالله دهغه هومره حج کولو سعادت ملاويږى.

د قرآن پاك په دې آيت کي هم دا واقعه ذکر ده:

وَإِذْ بَوَّأْنَا لِإِبْرَاهِيمَ مَكَانَ الْبَيْتِ أَنْ لَا تُشْرِكْ بِي شَيْئًا وَطَهِّرْ بَيْتِيَ لِلطَّائِفِينَ وَالْقَائِمِينَ وَالرُّكَّعِ السُّجُودِ (٢٦) وَأَذِّنْ فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ۔ (٢٧)

اوکله چې مونږ برابرکړلو،ابراهيم ته ځائې د ددې کور چې مه شريکوه ما سره هيڅ څيز اوپاك کړه کور زما دپاره د طواف کونکو،اوقيام کونکواورکوع او سجده کونکو،اواعلان اوکړه په خلقو کي د حج چې راځى ستا طرف ته پيدل اوپه هرکمزورى مانده اوښه د لرې لارو نه.

*****************

٨٢٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُلَبِّي إِلَّا لَبَّى مَنْ عَنْ يَمِينِهِ. أَوْ عَنْ شِمَالِهِ مِنْ حَجَرٍ أَوْ شَجَرٍ أَوْ مَدَرٍ، حَتَّى تَنْقَطِعَ الْأَرْضُ مِنْ هَاهُنَا وَهَاهُنَا". حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُحَمَّدٍ الزَّعْفَرَانِيُّ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ أَبُو عَمْرٍو الْبَصْرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبِيدَةُ بْنُ حُمَيْدٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ حَدِيثِ إِسْمَاعِيل بْنِ عَيَّاشٍ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي بَكْرٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، وَقَدْ رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، عَنْ أَبِيهِ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَرَوَى أَبُو نُعَيْمٍ الطَّحَّانُ ضِرَارُ بْنُ صُرَدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَخْطَأَ فِيهِ ضِرَارٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: سَمِعْت أَحْمَدَ بْنَ الْحَسَنِ يَقُولُ: قَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: مَنْ قَالَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنِ ابْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَرْبُوعٍ، عَنْ أَبِيهِ، فَقَدْ أَخْطَأَ، قَالَ: وَسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: وَذَكَرْتُ لَهُ حَدِيثَ ضِرَارِ بْنِ صُرَدٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ، فَقَالَ: هُوَ خَطَأٌ، فَقُلْتُ: قَدْ رَوَاهُ غَيْرُهُ

عَنِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ أَيْضًا مِثْلَ رِوَايَتِهِ. فَقَالَ: لَا شَيْءَ إِنَّمَا رَوَوْهُ عَنِ ابْنِ أَبِي فُدَيْكٍ. وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَرَأَيْتُهُ يُضَعِّفُ ضِرَارَ بْنَ صُرَدٍ. وَالْعَجُّ: هُوَ رَفْعُ الصَّوْتِ بِالتَّلْبِيَةِ، وَالثَّجُّ: هُوَ نَحْرُ الْبُدْنِ. ([1])

**ترجمه** : دسهل بن سعد رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو مسلمان چي تلبيه وائي نو دده ښي او ګس طرف ته موجود کاڼړي او ونې او لوټي هم تلبيه وائي تردي پوري چي دزمکې د دواړو سرونو داخره پوري چي څومره اشياء دي ټول تلبيه وائي.

امام ترمذي وائي دابوبکر حديث غريب دي او مونږ ته صرف د ابن ابي فديك په سند باندي معلوم دي، او هغه دضحاك بن عثمان نه نقل کړي دي، محمد بن منکدر دعبدالرحمن بن يربوع نه دا اوريدلي دي البته محمد بن منکدر په سند د سعيد بن عبدالرحمن بن يربوع عن ابيه عبدالرحمن بن يربوع نقل کړي دي او ددي حديث نه علاوه نور څيزونه نقل کړي دي، او ابو نعيم طحان ضرار بن صرد دا حديث په سند د ابن ابي فديك عن الضحاك بن عثمان عن محمد بن المنکدر عن سعيد بن عبدالرحمن بن يربوع عن ابيه عن ابي بکر عن النبي صلي الله عليه وسلم نقل کړي دي او په دي کي دضرار نه غلطي شوي ده، احمد بن حنبل وائي چاچي په دي حديث کي داسي اووئيل عن محمد بن المنکدر عن ابن عبدالرحمن بن يربوع عن ابيه نو ده غلطي اوکړله، ما محمد بن اسماعيل بخاري ته دضرار بن صرد حديث بيان کړو کوم چي هغه دابن ابي فديك نه نقل کړي وو نو هغه اووئيل دا غلط دي ما ورته اووئيل دا خو نورو خلقو هم دهغوئ پشان دابن فديك نه نقل کړي دي ، بخاري اووئيل دا هيڅ نه دي خلقو د ابن ابي فديك نه نقل کړي دي او په دي کي يي دسعيد بن عبدالرحمن واسطه نه ده ذکر کړي نو ما امام بخاري اوليدو چي دضرار بن صرد تضعيف يي کولو. په دي باب کي دابن عمر. او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي "عج" په تلبيه کي اواز تيزولو ته وئيلي شي او "سج" د اوښانو قربانئ ته وئيلي شي.

**دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه حالات:**

نوم سهل کنيه ابو العباس ، ابو مالك، ابو يحيي. دهجرت نبوي نه پنځه کاله مخکي پيدا شوي وه پلار ورنه حزن نوم ايخودلي وو ليکن رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي نوم بدل کړو او سهل نوم يي ورباندي کيخودو ، دده پلارغزوه بدر ته دتلو اراده کړي وه ليکن دتلو نه مخکي وفات شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دتمامو مجاهدينو پشان دده دپاره هم

---

[1] ــ سنن ابن ماجه في الحج ١٦ (٢٩٢٤) . (تحفة الأشراف : ٦١٠٨٠) . سنن الدارمي في المناسک ٨ (١٨٣٨)

حصه مقرره کړه سهل داکابر صحابه کرامو دوفات کيدو نه پس دخلقو مرجع اوګرځيدو دلري لري علاقو خلق به دده د درس حلقي ته راتلل سهل يو ځل دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دپاره دمديني دمشهور کوهي بير بضاعه نه دڅکلو دپاره اوبه هم راويستلي وي (مسند احمد).

وفات: دهجرت په ۹۱کي دشپږ نوي کالو په عمر کي وفات شو او دده دمروياتو شمير ۱۸۸دی چي ۲۸متفق عليه دي.

*****************

## ۱۵ــ بَابُ مَا جَاءَ فِي رَفْعِ الصَّوْتِ بِالتَّلْبِيَةِ

### په تلبيه داواز اوچتولو بيان

ښځي به تلبيه په ټيټ اواز وائي او دټيټ وئيلو نه مراد په زړه کي وئيل نه دي بلکي حروف به اداء کوي تردي چي ددي لوستل ددي غوږونه واوري او په تيز اواز دتلبيه وئيلو مطلب چغي وهل نه دي.

۸۲۹ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ ابْنُ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَتَانِي جِبْرِيلُ فَأَمَرَنِي أَنْ آمُرَ أَصْحَابِي أَنْ يَرْفَعُوا أَصْوَاتَهُمْ بِالْإِهْلَالِ وَالتَّلْبِيَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ خَلَّادٍ، عَنْ أَبِيهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَا يَصِحُّ، وَالصَّحِيحُ هُوَ عَنْ خَلَّادِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ أَبِيهِ: وَهُوَ خَلَّادُ بْنُ السَّائِبِ بْنِ خَلَّادِ بْنِ سُوَيْدٍ الْأَنْصَارِيُّ.[1]

**ترجمه**: دسائب بن خلاد رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ماته جبرائيل راغي اوماته يي حکم اوکړو چي زه مسلمانانو ته حکم اوکړم چي تلبيه په تيز اواز اووائي او خپل اوازونه ورباندي اوچت کړي.

---

[1] ــ ابي داود في الحج ۲۷ (۱۸۱۴) . سنن النسائي في الحج ۵۵ (۲۷۵۴) . سنن ابن ماجه في المناسک ۱۶ (۲۹۲۲) . (تحفة الأشراف: ۳۷۸۸) . موطا امام مالک في الحج ۱۰ (۳۴) . مسند احمد (۴ في ۵۵ .۵۶) . سنن الدارمي في الحج ۱۴ (۱۸۵۰)

امام ترمذي وائي دخلاد بن سائب حديث كوم چي هغه دخپل پلار نه نقل كوي حسن صحيح دي، او بعضي راويانو دا حديث په سند دخلاد بن سائب عن زيد بن خالد عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي ليكن دا سند صحيح نه دي صحيح هغه روايت دي كوم چي خلاد بن سائب دخپل پلار نه نقل كړي دي او دي خلاد بن سائب بن خلاد بن سويد انصاري دي. او په دي باب كي زيد بن خالد، ابوهريره، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

**تشريح** : د احنافو فقهاؤ په نزدپه تلبيه كي آواز اوچتول مسنون دی.اگرچی په دعا اوذكر كي افضله اخفاء ده.وجه دا ده چی د قرآن پاك د آيت: ادعوا ربكم تضرعاً وخفية. تقاضا هم دا ده چی د دعا اوذكرونو په موقع باندې اخفاء اوكړې شی،خوچی په كوم ځائي كي اعلان مقصود وی نوهلته به اخفاء مستحب نه وی،بلكي آواز اوچتول به مستحب وی لكه اذان اوخطبه شوه،پاتې شوه تلبيه نودا هم د دين داعلان كولو دپاره مشروع شوې ده نوځكه په تلبيه باندې آواز اوچتول هم مستحب اومسنون دی.

(۲) دويم دليل دادی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی:

"أفضل الحج العج والثج" عج وائی په اوچت آواز سره تلبيه وئيل او ثج وائی وينې تويولو ته،يعنی بهترين حج هغه دې چی هغې كي تلبيه په اوچت آواز وی،اود هدی وغيره قربانی په كي اوكړې شی،اووينه توئې كړې شی.

****************

## ١٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الاِغْتِسَالِ عِنْدَ الإِحْرَامِ

### داحرام تړلو وخت كي دغسل كولو بيان

٨٣٠ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يَعْقُوبَ الْمَدَنِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي الزِّنَادِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَجَرَّدَ لِإِهْلَالِهِ وَاغْتَسَلَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَقَدِ اسْتَحَبَّ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ الِاغْتِسَالَ عِنْدَ الْإِحْرَامِ. وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ.[1]

**ترجمه** : دزيد بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي اوليدو چي داحرام تړلو دپاره يي جامي اوويستلي او غسل يي اوكړو.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف وانظر: سنن الدارمي في المناسك ٦ (١٨٣٥) (تحفة الأشراف: ٣٧١٠)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، او په اهل علمو کي يو جماعت داحرام تړلو په وخت کي دغسل کولو په مستحب کيدو قول کړي دي او همدا دامام شافعي قول هم دي

**تشريح** : مسئله داده چي په محرم باندې دجنابت غسل واجبيږي، اود ده مکې معظمې ته د داخليدو دپاره غسل کول مستحب دي ځکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د احرام دپاره غسل کړې وو ،اود محرم دپاره حمام ته د ګرمو اوبود استعمال دپاره داخليدل روا دی ځکه چي عمر(رضي الله عنه) د دې باوجود چي محرم وو ،غسل کړې وو .(اشرف الهدايه . عنايه شرح هدايه)

هر کله چي امام ترمذي د حج د اقسام ثلاثه د اجمالي بيان نه فارغ شو نو د تفصيل نه مخکي يي د حج د لوازمو بيان شروع کړو چي احرام تړل دي او د احرام نه مخکي غسل کول دي، لهذا مونږ هم په لاندينو کرښو کي پدې سلسله بعضي نور لوازم د حج ذکروو کوم چي د شرائطو د قبيلي نه دي.

د حج او عمري د لوازمو متعلق په اهل علمو کي په يو څو خبرو کي اختلاف دی.

(۱) اول : د لاري امن

(۲) دويم: جسماني صحت

(۳) دريم: د سترګو نظر

(۴) په ښځي حج هله واجب کيږي چي مکي ته دري منزله فاصله او شرعي محرم ورسره وي

(۵) د استطاعت مسئله

## د لاري امن :

(۱) د لاري امن متعلق د جمهورو اهل علمو قول دي چي دحج دپاره دلاري امن لازمي دي اوپه لاره کي خوراکي شيان ميسر او دستياب کيدل هم لازمي دي په لاره کي دخطري په صورت کي حج فرض نه دي که لاره چرته سمندري وي اوپه سلامتئ سره سمندري سفر طئ کيدي شي نوحج کول به واجب وي صرف دسمندرپه مينځ کي کيدل د وجوب حج دپاره مانع نه دي.

(۲) ليکن دامام شافعي يو قول ددې په خلاف دي .

## جسماني صحت:

(۱): دامام ابو حنيفه اومالك رحمهم الله په نزد باندي جسماني صحت هم شرط دي په معذورو او ضعيفو خلقو باندي حج واجب نه دي برابره خبره ده چي هغوئ مال خرچ کړي او بل چالره خپل قائم مقام کړي نو ليږلي يي شي ځکه چي دوئ پخپله اهل استطاعت نه دي او حج يو بدني عبادت دي اومقصود په بدني عبادتونوسره خپل نفس ستړي کول دي اوپه خپل ځاي باندي دنائب په ليږلوسره ددي عبادت اصل مقصد نه حاصليږي.

په فتاوي قاضي خان کي دامام ابو حنيفه رحمة الله عليه مذهب دا منقول دي که چري سمندر حائل وي نو لاره د غير مامون په حکم کي ده يعني حج به فرض نه وي ، جيحون ، سيحون ، دجله، فرات سيندونه دي سمندرونه نه دي.

(۲) دامام شافعي او احمد رحمهم الله په نزد باندي بدني صحت شرط نه دي نوځکه ددوئ په نزد باندي معذور او ګوډ او کمزوري اهل استطاعت دي يعني ده ته مالي استطاعت حاصل دي.

**دسترګو نظر:**

(۱) امام ابو حنيفه رحمة الله عليه په نزد باندي دوجوب حج دپاره دسترګو نظرشرط دي په نابينا باندي حج واجب نه دي برابره خبره ده چي رهبر ورسره موجود وي اوکه نه ځکه چي دي پخپله اهل استطاعت نه دي اودبل چا په مدد سره استطاعت لره اعتبار نه وي.

دامام ابو يوسف او امام محمد او جمهورو په نزد باندي په نابينا باندي حج فرض دي په دي شرط چي رهبرورسره موجود وي ليکن په وجوب دجمعي کي اختلاف دي.

**په ښځي حج هله واجب کيږي چي مکي ته دري منزله فاصله او شرعي محرم ورسره وي:**

(۱) دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد په ښځه باندي حج هله واجب کيږي کله چي ورسره خپل خاوند يا بل محرم وي او مکي ته په رسيدو کي دري منزله فاصله وي

(۲) دامام احمد په نزد باندي دمسافي کموالي اوزياتوالي لره اعتبارنشته په هر صورت کي بغير دمحرم نه په ښځه باندي حج نه فرض کيږي نو ځکه که چري محرم موجودنه وي يا ورسره محرم نه ځي يا ورنه دومره اجرت غواړي چي ښځه دهغي په ادا کولو قادره نه وي نوحج وربانډي شرعا واجب نه دي ځکه چي دښځي دپاره بغير دخاوند او دمحرم نه په شرعي اعتبارسره سفر کول ممنوع دي او کوم څيز چي شريعت منع کړي دي هغه دغير موجود په حکم کي دي ګويا کي بغير دمحرم نه ښځه صاحب استطاعت نه ده.

دامام صاحب دقول دليل حديث دابن عمر رضي الله عنهما دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ښځه دي بغير دمحرم نه دري منزله سفر نه کوي (بخاري ومسلم) دمسلم په روايت کي راغلي دي چي کومه ښځه په الله تعالي اوپه ورځ داخرت ايمان لري هغه دي بغير دمحرم نه ددري شپو په مقدار سفر نه کوي په بل روايت کي ددري شپو نه زيات مقدار ذکر شوي دي ، ددري شپو والا روايت دابوهريره رضي الله عنه نه هم مروي دي کوم چي مسلم اوطحاوي نقل کړي دي ، ددري شپو نه زائد لفظ په طحاوي کي دابو هريره رضي الله عنه په روايت سره مروي دي.

دعمرو بن شعيب دنيكه په روايت سره طحاوي ددري ورځو لفظ نقل كړي دي . دابوسعيد خدري رضي الله عنه په روايت كي ددري ورځو يا ددينه زياته فاصله مسلم اوطحاوي نقل كړي ده ، دمسلم په روايت كي ددري شپو نه زائد الفاظ مروي دي.
امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه فرمائيلي دي ددري شپو يا ددري شپو نه اضافي شرط محض اتفاقي دي (تعين دمودي مقصود ندي)
دامام احمد ددي قول دليل چي ښځه بغير دمحرم نه ددري ورځو نه كم سفر هم نشي كولي حديث دابوهريره رضي الله عنه دي كوم چي په صحيحينو كي مذكور دي اوپدي كي ديو شوا روز دمسافي صراحت دي ، دمسلم په يو روايت كي ديوي ورځي مسافه ذكر ده ، اوپه بل روايت كي ديوي شپي دمزل په مقدار مسافه ذكر شوي ده اود ابوسعيد خدري رضي الله عنه په روايت كي دمسلم دذكر پشان ددوه ورځو مسافه مذكور ده اودطحاوي دروايت پشان ددوه ورځو فاصله ذكر ده.
ابوداود اوطحاوي دابوهريره رضي الله عنه نه روايت نقل كړي دي چي ښځه دي دخاوند اودمحرم دملګرتيا نه بغير يومنزل سفر نه كوي ، دا حديث ابن حبان پخپل صحيح كي نقل كړي دي اوحاكم دشيخينو دشرط مطابق ګرځولي دي . اوطبراني په المعجم كي ددري ورځو صراحت نقل كړي دي ، ددي مختلفو رواياتونه معلوميږي چي ديوي ورځي يا دوه ورځو يا دري ورځو شرط صرف تمثيلي دي (عدد معين مراد ندي) قليل ترين تعداد مراد دي . اويوه ورځ خو كم ترين ابتدائي عدد وي ، اوبريد اكثر يومنزل وي ، ددوو نه كثرت شروع كيږي . او دري دجمع اولنۍ مرتبه وي ، په بعضي احاديثو كي بغير دشرط نه ممانعت وارد دي ، دابن عباس رضي الله عنهما په روايت كي مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي بغير دمحرم نه دي ښځه سفر نه كوي اودښځي خواته دي څوك اجنبي سړي نه ور داخليږي ترڅوچي ددي سره خپل محرم نه وي ، يوكس عرض وكړو چي اي دالله رسوله زه فلاني جهاد ته تلل غواړم اوزما ښځه حج كول غواړي . رسول كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددي سره لاړشه (بخاري ومسلم) ددي سلسلي احاديث دابوسعيد خدري او ابو هريره رضي الله عنهما نه هم مروي دي.
امام شافعي وائي چي دمعتمدو ښځو سره يوه ښځه حج ته تلي شي . اودامام شافعي په يوبل قول كي ذكرشوي دي چي يوه ښځه بغير دمعتمدو ښځونه هم حج ته تلي شي.
امام مالك فرمائيلي دي كه چري په لاره كي خطره نه وي نودښځو جماعت بغيردسړي نه حج ته تلي شي ددي دواړو امامانو دقول په خلاف زمونږ دپاره دليل هغه حديث دي كوم چي مونږ ذكركړي دي.

**داستطاعت مسئله**

(۱) د جمور فقهاء او محدثينو په نزد په حج کي استطاعت شرط دي. داستطاعت نه مراد دسفر هغه استطاعت دي دکوم په موجودګئ کي چي حج ته په تلوکي څه خرابي پيدانه شي هم په دي وجه باندي جمهورو په نزد سفر دنورو لوازمو دفراهمئ نه علاوه دلاري خرچي اوسورلئ ميسر کيدل داستطاعت دپاره ضروري دي اوداهم ضروري ده چي مقروض به نه وي اوښځي اوبچوته يي دواپس راتلو پوري خرچي ورکړي وي ځکه چي کوم مالدار داصلي ضروریاتو په فراهم کولو کي مشغول وي هغه دغريب پشان دي نوځکه دده په مال کي زکوة واجب نه دي دچاسره چي دلاري خرچي يا سورلئ نه وي هغه عموما دسفر دپاره استطاعت نه لري او په شريعت کي هرقسم تنګي دفع کړي شوي ده (يعني شريعت هيڅ قسم تنګي نه ده کړي).
(۲) د داود ظاهري په نزد باندي دوجوب حج دپاره نه دلاري خرچه ضروري ده اونه سورلئ.
(۳) امام مالك فرمائيلي دي که چري څوك دخلقو نه دغوښتلوسره عادت وي ياپه لاره کي کتبه کولي شي نودهغه دپاره دلاري دخرچي ورلوشرط ضروري نه دي اوکه چري پيدل مزل کولي شي نو بيا دده دپاره دسورلئ شرط ضروري نه دي.

دجمهوروددپاره دليل حديث دانس رضي الله عنه دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم د "من استطاع اليه سبيلا" په تفسير کي فرمائيلي وو چي دسبيل نه مراد دلاري خرچه او سورلئ ده .
دا حديث دارقطني او بيهقي او حاكم دانس رضي الله عنه نه بيان کړي دي او حاكم دشيخينودشرط مطابق ګڼړلي دي اوهمدارنګي حاكم دحماد بن سلمه روايت هم نقل کړي دي اودمسلم دشرط مطابق يي ګرځولي دي اوسعيد بن منصور پخپل سنن کي مختلف مراسيل دحسن بصري په روايت سره بيان کړي دي.
فتاوي قاضي خان وئيلي دي چي د بعضي علماؤ قول دي که چري کوم تاجر چي ګذاره يي په تجارت روانه وي ددومره مال مالك جوړ شي چي دتګ راتګ او دلاري خرچي اودسورلئ دپاره پوره کيږي اودواپس راتلوپوري دده داهل عيال دپاره کافي وي اوبيا دواپس راتلو نه پس ورسره دومره مال باقي پاتي شي چي تجارتورباندي کولي شي نوپه داسي کس به حج فرض وي اوکه داسي نه وي نوفرض به نه وي که چري څوك جيداد والاخپل جيداد خرچ کړي او دلاري خرچي اوسورلئ اودبچو خرچي فراهم کړي او بيا هم ورسره دومره جيداد باقي پاتي شي چي دهغي په امدن سره دده ګذاره کيږي نو په داسي کس به حج فرض وي اوکه داسي نه وي نوفرض به نه وي ، همدارنګي که کوم زميندار دلاري خرچي او سورلئ اودبچو خرچي فراهم کړي نودهغه به هم دغه صورت حال وي کوم چي دنورو دي. (مظهري ، عنايه علي الهدايه . و عيني علي الهدايه)

**دزيد بن ثابت رضي الله عنه حالات:**

نوم زيد كنيه ابوسعيد ، ابوخارجه ، ابوعبدالرحمان لقب مقري ، فرضي، كاتب الوحي ، حبرالامت.

په خزرج قبيله كي دبنو نجار سره تعلق لري او دشپږو كالو عمر كي يي پلار وفات شوى وو او ديولسو كالو په عمر كي دمصعب بن عمير په لاس مسلمان شوى وو كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغلى نو دى داولسو سورتونو حافظ وو دده عمر په ديارلسو كالو كي روان وو چي دبدرغزوه راغله دده دا خواهش وو چي دى هم پكي شركت اوكړي مگر دعمر دكموالي په وجه واپس كړى شو او په غزوه خندق كي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوخاي وو.

په جنگ يمامه كي هم شريك شوى وو او په دي جنگ كي په يو غشي هم لگيدلى وو ليكن جسم ته يي څه نقصان نه وو رسيدلى ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دوحي دليكلو كار دډيرو صحابه كرامو نه اخستلى وو په دوئ كي زيد بن ثابت رضي الله عنه هم شامل وو.

زيد يو عقلمند او انتهائي زكي انسان وو دهجرت په پنځم كال رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته دخلقو خطونه راځي چي په عبراني ژبه كي دي په يهوديانو مي اعتبار نشته نو په دي وجه زيد صرف په پنځلسو ورځو كي عبراني او سرياني ژبي زده كړي (مسند احمد).

زيد دفقه امام وو گويا كي زيد دخلفاء راشده او معاويه رضي الله عنه په زمانه كي مفتي اعظم وو (اعلام الموقعين).

دهجرت په ۴۵كال د ۵۵يا ۵۲كالو په عمر كي وفات شو دده دوفات كيدو په مناسبت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل نن دعلم يوه خزانه ختمه شوه دده دمروياتو شمير ۹۲دى پنځه په دي كي متفق عليه دي.

*****************

## ١٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي مَوَاقِيتِ الإِحْرَامِ لأَهْلِ الآفَاقِ

### دافاقي خلقو دپاره داحرام ترلو دميقاتو نو بيان

٨٣١ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَجُلًا، قَالَ: مِنْ أَيْنَ نُهِلُّ يَا رَسُولَ اللهِ؟ قَالَ: "يُهِلُّ أَهْلُ الْمَدِينَةِ مِنْ ذِي الْحُلَيْفَةِ، وَأَهْلُ الشَّامِ مِنَ الْجُحْفَةِ، وَأَهْلُ نَجْدٍ مِنْ قَرْنٍ". قَالَ: وَيَقُولُونَ: وَأَهْلُ الْيَمَنِ مِنْ يَلَمْلَمَ. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ

ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهمانه روايت دي فرمائي چي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله مونږ به احرام دكوم خاي نه ترو؟ ورته يي اوفرمائيل اهل مدينه دي دذوالحليفه نه احرام تړي او اهل شام دي دجحفي نه او اهل نجد دي دقرن نه دبعضي راويانو قول دي چي اهل يمن دي ديلملم نه احرام تړي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عباس، دجابر بن عبدالله او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي.

**د ميقات تعريف او ځايونه**

مواقيت جمع د ميقات ده،اوميقات د مقرر وخت دپاره راځي،خو دلته مجازاً د ځائي دپاره استعمال شوې دي اوس دلته د مواقيت نه هغه ځايونه مراد دي،د كومو نه چي بغير داحرام نه تيريدل روا نه دي،او مواقيت پنځه دي.

(۱) د مدينې د خلقو ميقات ذوالحليفه دي حليفه د حلفة تصغير دي دلته وړاندې يوه وونه وه،او اوس پكې مسجد جوړ شوې دي دا د مدينې منورې نه شپږ ميله لرې دي

(۲) د عراقيانو دپاره ذات عرق ميقات دي دا د مكې مكرمې نه په دوه څلويښت ميله كي پروت دي عمر(رضي الله عنه) د كوفې او بصره د فتح كولو نه پس هم دا ځائې ميقات مقرر كړې وو.

(۳) د شاميانو ميقات جحفه ده،هم دا د مصريانو ميقات دي ددې ځائې نه مكه ۸۲ ميله لرې ده،او مدينه منوره درې منزله او ،بحر قلزم، شپږ ميله لرې دې.

(۴) د نجديانو ميقات،قرن، دي.

(۵) د يمنيانو ميقات يلملم دي دا د مكې نه د جنوب په طرف ديرش ميله لرې دي.

---

[1] ـ (تحفة الأشراف: ۷۵۹۳) وانظر: مسند احمد (۲ في ۴۸، ۶۵) وأخرجه صحيح البخاري في العلم ۵۲ (۱۳۳)، والحج ۴ (۱۵۲۲)، و۸ (۱۵۲۵)، و۱۰ (۱۵۲۷)، والاعتصام ۱۵ (۷۳۴۴)، صحيح مسلم في الحج ۲ (۱۱۸۲)، سنن ابي داود في المناسك ۹ (۱۷۳۷)، سنن النسائي في المناسك ۱۷ (۲۶۵۲)، سنن ابن ماجه في المناسك ۱۳ (۲۹۱۴)، موطا امام مالك في الحج ۸ (۲۲)، مسند احمد (۲ في ۵۵)، سنن الدارمي في المناسك ۵ (۱۸۳۱).

(۶) د ذات عرق نه سوا د باقی څلورومیقاتونو ثبوت په صحیحینوکي دي اوذات عرق ثبوت په مسلم او ابوداودكي دي (۱) په صحيحينو كي د ابن عباس رضى الله عنهما حديث دي چی "أن رسول الله صلي الله عليه وسلم وقت لأهل المدينة ذالحليفة ولأهل الشام الجحفة ولأهل نجد قرن المنازل ولأهل اليمن يلملم هن لهن ولمن أتى عليهن من غير أهلهن من أراد الحج والعمرة ومن كان دون ذالك فمن حيث شاء حتى أهل مكة من مكة"

يعنى رسول الله صلي الله عليه وسلم ميقات مقرر کړی دی.د مديني د خلقو دپاره ذوالحليفه اود شاميانو دپاره جحفه اود نجديانو دپاره قرن منازل اود يمنيانو دپاره يلملم دا د دوی دپاره دی اود هغه چا دپاره چی په دوی باندې راځی علاوه د دوی نه څوك چی اراده د حج او د عمرې لري،اود دوی نه علاوه چی نو د کوم ځائې نه چی ئې خوښه وی.تردې چی د مکي دخلقو دپاره مکه ده چی ددې نه دې احرام تړی.

صاحب د هدايه وائی چی ددې میقاتونود مقرر کولو فائده دا ده چی چی ددې میقاتونو نه د احرام تاخير منع دي دا مطلب نه دې چی ددې میقاتونو نه وړاندې احرام نشی تړلې ځکه چی د میقات نه وړاندې احرام تړل په اتفاق سره روا دې.( عنايه، فتح القدير).

****************

۸۳۲ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " وَقَّتَ لِأَهْلِ الْمَشْرِقِ الْعَقِيقَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَلِيٍّ هُوَ أَبُو جَعْفَرٍ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ بْنِ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داهل مشرق دپاره میقات عقيق مقرر کړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، محمد بن علي ، ابو جعفر ، محمد بن علي بن حسين بن علي بن ابي طالب دي.

****************

## ۱۸ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَا لَا يَجُوزُ لِلْمُحْرِمِ لُبْسُهُ

### دمحرم دپاره دکومو څيزو نو اغوستل جائز نه دي

---

[1] ـ : سنن ابی داود في الحج ۹ (۱۷۴۰) . (تحفة الأشراف : ۶۴۴۲)

٨٣٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ قَالَ: قَامَ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ مَاذَا تَأْمُرُنَا أَنْ نَلْبَسَ مِنَ الثِّيَابِ فِي الْحَرَمِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تَلْبَسُوا الْقُمُصَ وَلَا السَّرَاوِيلَاتِ وَلَا الْبَرَانِسَ وَلَا الْعَمَائِمَ وَلَا الْخِفَافَ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ أَحَدٌ لَيْسَتْ لَهُ نَعْلَانِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ وَلْيَقْطَعْهُمَا مَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ، وَلَا تَلْبَسُوا شَيْئًا مِنَ الثِّيَابِ مَسَّهُ الزَّعْفَرَانُ وَلَا الْوَرْسُ، وَلَا تَنْتَقِبُ الْمَرْأَةُ الْحَرَامُ، وَلَا تَلْبَسِ الْقُفَّازَيْنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. ([1])

**ترجمه** دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرماني چي يو كس اودريدو او عرض يي وكړو اي دالله رسوله ته مونږ ته په احرام كي دكومو كومو جامو په اغوستلو حكم كوي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل : قميص به نه اغوندئ او نه به پرتوګ اغوندئ او نه به پټكي پسروئ او نه به موزي پخپو كوئ مګر دا چي دچا سره عام ساده پيزار نه وي نو بيا دچمړي پيزار اغوستل جائز دي او دا دي دګيټو نه لاندي كټ كړي او نه به داسي كوم څيز اغوندي په كوم چي زعفران يا ورس لګيدلي وي او محرمه ښځه به نقاب نه استعمالوي او نه به دستاني اغوندي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په همدي داهل علمو عمل دي.

## په حالت د احرام كې دګنډلو جامو استعمالولو ممانعت

مسئله دا ده چې د محرم دپاره ګنډلې شوې جامه اغوستل روا نه ده.مثلاً قميص. لنګ. پتكې، ټوپۍ اوموزه وغيره،البته دا چې محرم سره پنړې نه وى نوده دپاره دداسې موزو اچول روا دى چې د هغې د كعبينو نه لاندې حصه كټ شوې وى.

اودكعب نه مراد ګيټئ نه ده، بلكې د قدم د مينځ هډوكى مراد دي دليل ددي دادې:

"عن ابن عمر رضى الله عنهما قال رجل يا رسول الله صلي الله عليه وسلم ماتأمرنا أن نلبس من الثياب في الإحرام قال (صلي الله عليه وسلم) لاتلبسوا القمص ولاالسراويلات ولاالعمائم ولا البرانس ولا

---

[1] _ صحيح البخارى في جزاء الصيد ١٣ (١٨٣٨) . سنن ابى داود في المناسک ٣٢ (١٨٢٥) . سنن النسائى في الحج ٢٨ (٢٦٧٧) . (تحفة الأشراف : ٨٢٧٥) . مسند احمد (٢ في ١١٩) وأخرجه صحيح البخارى في العلم ٥٣ (١٣٣) . والصلاة ٩ (٣٩٦) . والحج ٢١ (١٥٤٣) . وجزاء الصيد ١٥ (١٨٤٢) . واللباس ٨ (٥٧٩٣) . و ١٣ (٥٨٠٣) . و ١٣ (٥٨٠٥) . و ١٥ (٥٨٠٦) . و ٣٣ (٥٨٤-٥٨٤) و ٣-٣ (٥٨٥٢) . سنن ابن ماجه في المناسک ١٩ (٢٩٢٩) . موطأ امام مالک في الحج ٣ (٨) . مسند احمد (٢ في ٣، ٨، ٢٩، ٣٢، ٣٣، ٤١، ٥٤، ٥٦، ٥٩، ٦٥، ٧٧) . سنن الدارمى في الحج ٩ (١٨٣٩)

الحفاف إلا أن يكون أحد ليس له نعلان فليلبس الخفين وليقطع الخفين أسفل من الكعبين ولا تلبسوا شيأ مسه زعفران ولا ورس"

يعنى ابن عمر رضى الله عنهما وائى چى يو سړى عرض اوکړو،اې دالله پيغمبره! تاسومونږ ته څه حکم کوئ چى مونږ ئې اغوندو د جامو نه چى مونږ په احرام کې يو نورسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو مه اغوندئ قميصونه اونه پرتوګونه اونه پټکى اونه شړئ اونه موزې مګردا چى وى يوکس چى نه وى د ده سره دوه پڼړى نو وادې چوى موزې اوکټ دې کړى موزې لاندې د کعبينو نه ،اوتاسو مه اچوئ هغه څيز چى رسيدلى وى ورته زعفران اونه ګل ورس،(دا يو قسم ګياه ده چى د رنګ کولو په کار راځى) د دې حديث نه معلومه شوه چى د محرم دپاره د هغه جامو اچول ممنوع دى.

د کعب دوه تفسيرونه دى:

(۱) ګيټه يعنى د قدم دواړوطرفونو ته راوچت شوى هډوکى.

(۲) دقدم په مينځ کي دتسمې تړلو ځائې چرته چى دګوتو هډوکى راجمع کيږى،هشام دامام محمد (رحمه الله) نه هم دا روايت کړى دى نودلته د کعب دويم تفسير مراد دى.

****************

## ١٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي لُبْسِ السَّرَاوِيلِ وَالْخُفَّيْنِ لِلْمُحْرِمِ إِذَا لَمْ يَجِدِ الإِزَارَ وَالنَّعْلَيْنِ

### که دمحرم سره لنګ او پيزار نه وي نو پرتوګ او موزي اغوستلي شي

٨٣٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " الْمُحْرِمُ إِذَا لَمْ يَجِدِ الإِزَارَ فَلْيَلْبَسِ السَّرَاوِيلَ، وَإِذَا لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ الْخُفَّيْنِ ". حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرٍو نَحْوَهُ. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: إِذَا لَمْ يَجِدِ الْمُحْرِمُ الإِزَارَ لَبِسَ السَّرَاوِيلَ، وَإِذَا لَمْ يَجِدِ النَّعْلَيْنِ لَبِسَ الْخُفَّيْنِ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ عَلَى حَدِيثِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا لَمْ يَجِدْ نَعْلَيْنِ فَلْيَلْبَسِ

الْخُفَّيْنِ، وَلْيَقْطَعْهُمَا أَسْفَلَ مِنَ الْكَعْبَيْنِ" وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكٌ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي كله چي دمحرم سره لنگ نه وي نو ... دي واغوندي اوچي كله ورسره پيزارنه وي نو موزي دي واغوندي

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر. او جابررضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي و دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي دوئ وائي كله چي محرم لنگ بيانه مومي نو پرتوگ دي واغوندي او چي كله ورسره پيزارنه وي نو دڅرمني موزي دي واغوندي او دا دامام احمد قول هم دي، بعضي علماؤ دابن عمر ددي حديث په بنياد كوم چي هغه درسول الله نه نقل كړي دي چي كله چا سره پيزارنه وي نو دڅرمني موزي دي واغوندي او دا دي دګيټو نه لاندي كټ كړي په دي باندي قول كړي دي اوسفيان ثوري، شافعي رحمهم الله، او امام مالك هم ددي قائل دي.

****************

## ٢٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي الَّذِي يُحْرِمُ وَعَلَيْهِ قَمِيصٌ أَوْ جُبَّةٌ

### بيان دهغه چا چي داحرام په حالت كي يي جبه او قميص اغوستلي وي

٨٣٥_حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ، قَالَ: "رَأَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْرَابِيًّا قَدْ أَحْرَمَ وَعَلَيْهِ جُبَّةٌ، فَأَمَرَهُ أَنْ يَنْزِعَهَا". ([2])

**ترجمه** : د صفوان بن يعلي بن اميه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم يواعرابي اوليدو چي داحرام په حالت كي يي قميص اغوستلي وو نو حكم يي ورته اوكړو چي دا اوباسي.

****************

---

[1] _ البخاري في جزاء الصيد ١٥ (١٨٤١) ، و١٦ (١٨٤٢) ، واللباس ١٤ (٥٨٠٣) ، و٣٧ (٥٨٥٣) ، صحيح مسلم في الحج ٨١ (١١٧) . سنن النسائي في الحج ٣٢ (٢٦٧٢، ٢٦٧٣) ، و٣٧ (٢٦٨٠) ، والزينة ٩٨ (٥٣٢٧) ، سنن ابن ماجه في المناسك ٢٠ (٢٩٣١) . مسند احمد (١/ ٢١٥، ٢٢١، ٢٢٨، ٢٤٩، ٢٧٤، ٣٣٧) (تحفة الأشراف : ٥٣٧٥)

[2] _ سنن ابي داود في الحج ٣١ (١٨٢٠) ، (٣ في ٢٢٣) ، وانظر الحديث الآتي (تحفة الأشراف : ١١٨٣٣)

٨٣٦_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. وَهَذَا أَصَحُّ وَفِي الْحَدِيثِ قِصَّةٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَاهُ قَتَادَةُ، وَالْحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ يَعْلَى بْنِ أُمَيَّةَ. وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، وَابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ صَفْوَانَ بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيه، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

**ترجمه** : ديعلي رضي الله عنه نه هم دسابقه روايت هم معني حديث مروي دي ليکن دا روايت زيات صحيح دي او په دي حديث کي يوه قصه ده.

امام ترمذي وائي دا رنګي دا روايت قتاده، حجاج بن ارطاة، او بعضي نورو راويانو دعطاء نه او عطاء ديعلي بن اميه نه نقل کړي دي ليکن صحيح روايت هغه دي کوم چي عمرو بن دينار او ابن جريج دعطاء نه او عطاء د صفوان بن يعلي نه او صفوان دخپل پلار نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي.

****************

## ٢١_ بَاب مَا يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ مِنَ الدَّوَابِّ

### محرم کوم کوم ځناور وژلي شي

٨٣٧_حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَمْسُ فَوَاسِقَ يُقْتَلْنَ فِي الْحَرَمِ، الْفَأْرَةُ وَالْعَقْرَبُ وَالْغُرَابُ وَالْحُدَيَّا وَالْكَلْبُ الْعَقُورُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

---

[1] _ البخاری في الحج ١٧ (١٥٣٦)، والعمرة ١٠ (١٧٨٩)، وجزاء الصيد ١٩ (١٨٤٧)، والمغازي ٥٦ (٤٣٢٩)، وفضائل القرآن ٢ (٤٩٨٥)، صحيح مسلم في الحج ١ (١١٨٠)، سنن ابی داود في الحج ٣١ (١٨١٩)، سنن النسائی في الحج ٢٩ (٢٦٦٩)، و ٤٣ (٢٧٠٩، ٢٧١١)، (تحفة الأشراف: ١١٨٣٦)، مسند احمد (٤ في ٢٢٣)

[2] _ البخاری في بدء الخلق ١٦ (٣٣١٣)، صحيح مسلم في الحج ٩ (١١٩٨)، سنن النسائی في الحج ١١٨ (٢٨٩٣)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٣٩) وأخرجه صحيح البخاری في جزاء الصيد ٧ (١٨٢٩)، سنن النسائی في الحج ٨٣ (٢٨٣٢)، و ١١٣ (٢٨٨٣)، و ١١٣ (٢٨٨٥)، و ١١٦ (٢٨٩٠)، و ١١٧ (٢٨٩١)، سنن ابن ماجه في الحج ٩١ (٣٠٨٧) مسند احمد (٦ في ٨٤، ٩٧، ١٢٢، ٢٠٣، ٢٥٩، ٢٦١)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي پنځه ضرري ځناور داسي دي دكومو چي په حرم كي يا د احرام په حالت كي وژل جائز دي يو مږه ، لړم، كارغه، ټپوس، اوچيچونكي سپي امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي په دي باب كي دابن مسعود، ابن عمر، ابوهريره، ابوسعيد، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايت مروي دي.

**تشريح:** كه محرم كارغه يا ټپوس يا شرمخ يا مار يا لړم يا مگه يا چيچونكي سپې مړكړل نوبه ده به څه جزاء واجب نه وى، ددي خبري دليل د نبيﷺ قول دې چى هغوى د پنځوضرورى ځناورو په زمين حل اوحرم دواړو كي د قتلولواجازت وركړې دي (ټپوس، مار، لړم مگه چيچونكې سپې)، دويم حديث دادى چى مگه، كارغه، ټپوس،لړم،مار اوچيچونكې سپې محرم قتلولې شي.

دلته يواشكال دي چى نبيﷺ محرم د ځناورو د قتلولو نه منع كړې دې ،خو د دي پنځو د قتلولو اجازت ئې وركړې دي اوپه بل حديث كي ئې شپږ شمارلى دى شپږم په دوي كي شرمخ دى.

په حديث كي د قارغه نه هغه قارغه مراد دې چى كله پليتى خورى اوكله دانې خورى،چونكه هغه په خوراك كي د نجاست نه شروع كوى،نودې هم د نجاست خور ځناور پشان شو،اوپاتې شو هغه قارغه كوم چى تور اوسپين وى،اود هغې آواز د"عقعق "سره وى،په حديث كي د هغې استثناء نشته،ځكه چى هغې ته قارغه نه وائى،نودهغې په قتل كولوبه جزاء واجبيږى،اودا عقعق د نجاست نه شروع هم نه كوى،بلكي دانه خورى،اوهم دې ته په خپل خوراك كي ترجيح وركوى،

دامام ابوحنيفه(رحمه الله) نه يوروايت دادى چى د كوم سپى په قتل چى جزاء نه واجبيږى،په هغې كي چيچونكې اوناچيچونكې اوكورنې اوځنگلى ټول سپى برابر دى،ځكه چى معتبر جنس دي اوپه جنس كي كلب اوحقيقت كلب ټول برابردى،اودغه شان كورنۍ اوځنگلى ټولې مگې برابردى،اوسمساره اوكډبوړې په دې پنځوكي نه دى،دكوموچى نبيﷺ استثناء كړې ده،ځكه چى دواړه ځناور په ضرر رسولوكي وړاندې والې نه كوى.

## د ماتونكى ځناورد قتل د جزاء حكم

(۱) دجمهورو احنافو په نزد كه چري ماتونكى ځناورپه محرم باندې حمله اوكړله ،اوده قتل كړو،نوبه ده به جزاء نه وى.

(۲) اوامام زفر وائى چى په ده باندې جزاء واجب ده،دامام زفر دليل قياس دي كه اوښ په انسان باندې حمله اوكړله،اوده هغه اوښ قتل كړلو،نوبه ده باندې د هغې قيمت واجب دي

اګرچې دا د ضرر لرې کولو د وجې هغه قتل کړې وي،نو دغه شان دلته د ماتونکې ځناورد قتل په صورت کې هم جزاء واجب وي.

دجمهورو دليل د عمر(رضي الله عنه) اثردي هغوی په يوماتونکې ځناور باندې حمله اوکړه،اوهغه ئې قتل کړو،نويوه چيلۍ ئې د هدي په طور اوليږله،اودا ئې اوفرمائيل چې مونږ په هغه باندې حمله کړې وه،ځکه مونږ چيلۍ اوليږله.

دويم دليل دادی چې محرم ځناورته د تعرض کولونه منع شوې دي اوددې نه نۀ دې منع شوې،که په ده حمله اوکړي،نودې به خپله دفاع نه کوي،هم دا وجه ده چې په فواسق کې د ضرر وهم وو،نود هغوی د ضرر لرې کولوپه وجه دهغوی دقتل اجازت ورکړې شوې دي اوپه دې صورت کې چې چې ماتونکې ځناور حمله اوکړي،نوتکليف رسيدل يقيني دی، نودلته خوبه په درجه اولی سره د هغې د لرې کولواجازت وی،اوچونکه د درنده د ضرر لرې کولواجازت د شارع د طرفه دي نوځکه به د ماتونکې ځناور د قتل په صورت کې جزاء واجب نه وي، په خلاف د حمله کونکې اوښ.يعنې که اوښ په چا باندې حمله اوکړله ، او ده هغه اوښ قتل کړلو،نوپه ده به د هغې قيمت واجب وي،ځکه چې په دې صورت کې د مالك د طرفه ده ته د قتل کولواجازت نه دې ملاؤ شوې،اوهرکله چې د مالك د طرفه د قتل کولواجازت نشته،نودهغه حق به هم نشی ساقط کيدې.

## دحشرات الارض د قتل حکم

که چرې محرم ماشې،ميګې ورګه ياکتيمل مړ کړل،نوپه محرم باندې څه واجب نه دی،ځکه چې دا ښکاری ځناور نه دی،ځکه چې ښکاری ځناورهغه وی چې د بنيادم نه ويريږی .او دا ځناور بنيادم ته رغبت کوی،او نه دا ځناور د بنيادم د بدن نه پيدا کيږی،زيات نه زيات دا وئيلې شی، چې داځناور ضرری دی،اوکه د ځناور ځنګلی وی،نوچونکه دا ښکاری شو،ځکه چې د انسان نه ويريږی، اودښکاری په وژلو جزاء واجب کيږی.اوکه د بنيادم د بدن نه پيدا کيږی،نود انسان د بدن نه خيرې وغيره پاکوی،ددې وجې ددې په قتل جزاء واجبيږی،خوچې کله دواړه خبرې نه وی،نوجزاء نه واجبيږی.

صاحب د هدايه وائی چې د ميګی نه تور يا زيړ ميګې مراد دي کوم چې انسان ته ضرر رسوی،ددې قتل کول روا دی،اوپه قتل ئې جزاء هم واجب نه ده،اوهغه ميګی چې چاته تکليف نه رسوی،دهغې قتلول روا نه دی،خوکه قتل کړې شو،نوجزاء هم واجب نه ده،ځکه چې نه خودا د ښکار په حکم کې دي اونه د بنيادم د بدن نه پيدا کيږی.(عنايه شرح هدايه).

*****************

٨٣٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي نُعْمٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " يَقْتُلُ الْمُحْرِمُ: السَّبُعَ الْعَادِيَ وَالْكَلْبَ الْعَقُورَ وَالْفَأْرَةَ وَالْعَقْرَبَ وَالْحِدَأَةَ وَالْغُرَابَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: الْمُحْرِمُ يَقْتُلُ السَّبُعَ الْعَادِيَ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: كُلُّ سَبُعٍ عَدَا عَلَى النَّاسِ أَوْ عَلَى دَوَابِّهِمْ فَلِلْمُحْرِمِ قَتْلُهُ. [1]

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي محرم سركشه درنده او چيچونكي سپي او مږه او لړم او تپوس او كارغه وژلي شي دسفيان ثوري او امام شافعي هم دا قول دي بلكي امام شافعي دا هم وائي محرم هر هغه ځناور وژلي شي كوم چي خلقو ته يا خاروو ته ضرر رسوي.

*****************

## ٢٢٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْحِجَامَةِ لِلْمُحْرِمِ

### دمحرم دپاره دښكر لګولو بيان

٨٣٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، وَعَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " احْتَجَمَ وَهُوَ مُحْرِمٌ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ ابْنِ بُحَيْنَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْحِجَامَةِ لِلْمُحْرِمِ، قَالُوا: لَا يَحْلِقُ شَعْرًا، وقَالَ مَالِكٌ: لَا يَحْتَجِمُ الْمُحْرِمُ إِلَّا مِنْ ضَرُورَةٍ، وقَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَالشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ أَنْ يَحْتَجِمَ الْمُحْرِمُ وَلَا يَنْزِعُ شَعْرًا. [2]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال كي ښكر اولګولو چي احرام يي تړلي وو.

---

[1] ـ ابی داود في الحج ٣٠ (١٨٤٨) . سنن ابن ماجه في المناسک ٩١ (٣٠٨٩) . (تحفة الأشراف : ٤١٣٣) . مسند احمد

[2] ـ البخاری في جزاء الصيد ١١ (١٨٣٥) . والصوم ٣٢ (١٩٣٨) . والطب ١٢ (٥٦٩٥) . و١٥ (٥٧٠٠) . صحيح مسلم في الحج ١١ (١٢٠٣) . سنن ابی داود في المناسک ٣٦ (١٨٣٥) . سنن النسائی في الحج ٩٢ (٢٨٤٨) . مسند احمد (١ في ٢٢١. ٢٩٢. ٣٧٢) . (تحفة الأشراف : ٥٧٣٦. ٥٩٣٩) . وأخرجه سنن ابن ماجه في المناسک ٨٧ (٣٠٨١) . مسند احمد (١ في ٢١٥. ٢٢٢. ٢٣٦. ٢٤٨. ٢٤٩. ٢٨٣. ٢٨٦. ٣١٥. ٣٤٦. ٣٥١. ٣٧٢) . سنن الدارمی في الحج ٢٠ (١٨٦٠)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي د انس، عبدالله بن بحينه، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، داهل علمو يو جماعت محرم ته دښکر لګولو اجازت ورکړي دي دوئ وائي چي ويخته به نه کموئ امام مالك وائي محرم ښکر نشي لګولي مګر دضرورت په وخت کي، سفيان ثوري او امام شافعي وائي دمحرم په ښکر لګولو کي هيڅ حرج نشته ليکن ويخته خريلي نشي

****************

## ٢٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ تَزْوِيجِ الْمُحْرِمِ

### په حالت داحرام کي د نکاح کولو دحرمت بيان

٨٤٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل ابْنُ عُلَيَّةَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ، قَالَ: أَرَادَ ابْنُ مَعْمَرٍ أَنْ يُنْكِحَ ابْنَهُ، فَبَعَثَنِي إِلَى أَبَانَ بْنِ عُثْمَانَ وَهُوَ أَمِيرُ الْمَوْسِمِ بِمَكَّةَ، فَأَتَيْتُهُ، فَقُلْتُ: إِنَّ أَخَاكَ يُرِيدُ أَنْ يُنْكِحَ ابْنَهُ فَأَحَبَّ أَنْ يُشْهِدَكَ ذَلِكَ، قَالَ: لَا أُرَاهُ إِلَّا أَعْرَابِيًّا جَافِيًا، إِنَّ الْمُحْرِمَ لَا يَنْكِحُ وَلَا يُنْكِحُ أَوْ كَمَا قَالَ: ثُمَّ حَدَّثَ عَنْ عُثْمَانَ مِثْلَهُ يَرْفَعُهُ، وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي رَافِعٍ، وَمَيْمُونَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُثْمَانَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَابْنُ عُمَرَ، وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ فُقَهَاءِ التَّابِعِينَ، وَبِهِ يَقُولُ مَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق لَا يَرَوْنَ أَنْ يَتَزَوَّجَ الْمُحْرِمُ، قَالُوا: فَإِنْ نَكَحَ فَنِكَاحُهُ بَاطِلٌ. [1]

**ترجمه** : دنبيه بن وهب بيان دي فرمائي چي معمرو دخپل ځوي واده کول غوښتل او زه يي ابان بن عثمان ته اوليږلم او هغه په مکه کي دحج امير وو زه ابان ته ورغلم او تپوس مي ورنه اوکړو چي ستا ورور دخپل ځوي واده کول غواړي او دا اراده لري چي تا په دي باندي ګواه کړي ابان اووئيل ماته خو دي يو ناپوهه باندچي ښکاري محرم نه پخپله نکاح کولي شي او نه دبل چا نکاح تړلي شي "اوكما قال" او بيا يي دعثمان رضي الله عنه نه روايت دنقل کولو په حال کي بيان کړو او ددي حديث هم معني روايت يي بيان کړو او مرفوع يي بيان کړو.

---

[1] ـ مسلم في النكاح ٥ (١٤٠٩) . سنن ابي داود في الحج ٣٩ (١٨٤١) . سنن النسائي في الحج ٩١ (٢٨٤٥) . والنكاح ٣٨ (٣٢٧٥) . سنن ابن ماجه في النكاح ٤٥ (١٩٦٦) . (تحفة الأشراف : ٩٧٧٦) . موطا امام مالک في الحج ٢٢ (٧٠) . مسند احمد (١ في ٥٧ . ٦٤ . ٦٩ . ٧٣) . سنن الدارمي في المناسک ٢١ (١٨٦٤)

امام ترمذي وائي دعثمان رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابورافع او ميمونه رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي، دبعضي صحابه كرامو چي عمر او علي بن ابي طالب او عبدالله بن عمر پكي هم شامل دي په دي باندي عمل دي او همدا دبعضي تابعينو او فقهاؤ قول هم دي امام مالك او شافعي او احمد او اسحاق رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي ددوئ په نزد دمحرم دپاره نكاح جائز نه ده دوئ وائي كه محرم نكاح اوكړه نو نكاح به يي باطل وي.

**تشريح: د احرام په حالت كښ د نكاح د حرمت مسئله**

**په دې كښ د فقهاؤ درې مذاهب دي:**

(۱) د امام ابو حنيفه په نزد احرام والا ښځه وى اوكه چرې سړې خو د احرام په حالت كې نكاح كول جائز دى.

(۲) امام شافعى (رحمه الله) ورته ناجائز وائى.

(۳) امام مالك او امام احمد (رحمهما الله) هم ددې د حرمت قائل دى.

دغه شان دنكاح د ولايت مسئله هم ده مثلا كه محرم د يوكس ولى جوړشى. او نكاح اوكړى نو زمونږ په نزد جائز دى، اود امام شافعى (رحمه الله) په نزد ناجائز دى،

**د امام شافعى (رحمه الله) دليل** د نبى كريمﷺ فرمان "لاينكح المحرم ولا ينكح" دې. په دې حديث كي ړومبې .ينكح.د حاء په فتح سره دې، (د ضرب نه) او دويم د حاء په ضمه سره دې، (د انكاح نه)د ړومبى معنى ده پخپله نكاح كول، د دويم معنى ده د بل نكاح كول. لكه چي .طعم.خوراك خوړل.او .اطعام، په بل خوراك خوړل نو اوس به د حديث مطلب دا وى. نبى كريم ﷺ اوفرمائيل، چي .محرم به نه خپله نكاح كوى، او نه به ولى جوړيږى چي د بل نكاح اوكړى.د مسلم او ابوداؤد په روايت كي د .ولا يخطب. اضافه ده. يعنى د احرام په حالت كي به كويژدن هم نه كوى.

امام احمد بن حنبل (رحمه الله) په خپل مسند كي روايت كړې دې، "ولا يخطب بمكة" يعنى په مكه كي به كويژدن نه كوى، ددې حديث نه ثابتيږى چي د احرام په حالت كي خپله نكاح كول.يا د بل نكاح كول د واړه ممنوع دى،

**زمونږ دليل** دادې. ابن عباس‌رضي الله عنه روايت كړې دې چي نبى كريم ﷺ د ميمونه (رضي الله عنها) سره د محرم كيدلو په حالت كي نكاح اوكړه. او امام بخارى (رحمه الله) اضافه كړې ده. "وبنى بها وهو حلال وماتت بسرف" يعنى نبى كريم ﷺ د ميمونه سره نكاح اوكړه، حالانكه نبى كريم ﷺ محرم وو، او ددې سره ئې زفاف اوكړو، (د خپلې بى بى سره د واده شپه تيرول) حالانكه نبى كريم ﷺ حلال وو، اود ميمونه (رضي الله عنها) انتقال په مقام سرف كي اوشو،

بعض حضرات د لطیفه په طورباندې بیان کړی دی چې د میمونه (رضي الله عنها) واده هم په مقام سرف کې اوشو، شب زفاف ئې هم په مقام سرف کې تیرکړو، اود میمونه (رضي الله عنها) انتقال هم په مقام سرف کې اوشو، ددې حدیث نه معلومیږی چې نبی کریم ﷺ دمیمونه (رضي الله عنها) سره د احرام په حالت کې نکاح اوکړه،

د امام شافعی (رحمه الله) د نقل کړې حدیث جواب دادې چې په دې حدیث کې د نکاح لغوی معنی (وطی) مراد ده، اوس به مطلب دا وی چې د احرام په حالت کې وطی کول ممنوع دی، عقد نکاح ممنوع نه دې، په دې صورت کې به د حدیث ترجمه دا وی چې محرم به نه وطی کوی، او نه به محرمه ته په وطی باندې قدرت ورکوی،

دویم جواب دادې چې په حدیث کې نهی تنزیهی مراد ده، تحریمی مراد نه ده، اوس به مطلب دا وی چې د احرام په حالت کې خپله نکاح کول، یا د بل نکاح کول مناسب نه دی، که اوکړې شی نو منعقد به وی، زمونږ د مذهب تائید په قیاس سره هم کیږی، ځکه چې نکاح د نورو عقدونو د بیع وشراء وغیره په شان ده، لکه څنګه چې په بیع وغیره کې ایجاب اوقبول کیږی، دغه شان په نکاح کې هم د ایجاب اوقبول تلفظ کیږی نود احرام په حالت کې چې لکه څنګه نور عقدونه جائز دی، دغه شان به نکاح هم جائز وی،

د انصاف خبره دا ده چې د امام شافعی (رحمه الله) مذهب قوی دې، ځکه چې د امام شافعی (رحمه الله) پیش کړې حدیث قولی دې، اود احنافو پیش کړې حدیث فعلی دې، اود حدیثونو د تعارض په وخت حدیث قولی مقدم وی، په حدیث فعلی باندې ددې نه علاوه د نبی کریم ﷺ میمونه (رضي الله عنها) سره د احرام په حالت کې نکاح کول مختلف فیه دی، لکه چې پخپله میمونه بنت الحارث (رضي الله عنها) فرمائی چې ماسره رسول الله ﷺ نکاح اوکړه، او مونږ دواړه حلال وو، مسلم، ابوداؤد، ترمذی، او ابن ماجه دا حدیث روایت کړې دې(فتح القدیر لابن الهمام)

****************

٨٤١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ، قَالَ: "تَزَوَّجَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ حَلَالٌ، وَبَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ، وَكُنْتُ أَنَا الرَّسُولَ فِيمَا بَيْنَهُمَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا أَسْنَدَهُ غَيْرَ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ مَطَرٍ الْوَرَّاقِ، عَنْ رَبِيعَةَ، وَرَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ رَبِيعَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ، وَهُوَ حَلَالٌ" رَوَاهُ مَالِكٌ مُرْسَلًا. قَالَ: وَرَوَاهُ أَيْضًا سُلَيْمَانُ بْنُ بِلَالٍ، عَنْ رَبِيعَةَ مُرْسَلًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرُوِيَ عَنْ

يَزِيدَ بْنِ الأَصَمِّ، عَنْ مَيْمُونَةَ، قَالَتْ: " تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ حَلَالٌ ". وَيَزِيدُ بْنُ الأَصَمِّ هُوَ ابْنُ أُخْتِ مَيْمُونَةَ. ([1])

**ترجمه** : دابورافع رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دميمونه رضي الله عنها سره نكاح اوكړه او هغه حلال وو اوبيا چي كله دخلوت وخت كي ورغلو نو هم حلال وو او ما به ددوئ په مينځ كي پيغام اوړلو او راوړلو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي ، او مونږ ته دحماد بن زيد نه علاوه داسي څوك معلوم نه دي چاچي دا روايت دمطر وراق په واسطه دربيعه نه مسنداً نقل كړي وي، او مالك بن انس دربيعه نه او ربيعه دسليمان بن يسار نه روايت نقل كړي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دميموني سره نكاح اوكړه او هغه حلال وو دا روايت مالك مرسل نقل كړي دي اوسليمان بن هلال هم دا روايت دربيعه نه مرسل نقل كړي دي ، يزيد بن اصم دام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها نه روايت نقل كوي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما سره واده اوكړو او هغه حلال وو يعني احرام يي نه وو تړلي ، يزيد بن اصم دميموني دخور خوي دي.

**دابو رافع اسلم رضي الله عنه حالات:**

نوم اسلم كنيه ابو رافع ، دده دپاره دا شرف كافي دى چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په غلامانو كي شميرلى شوى دى ابو رافع اول دعبدالله بن عباس غلام وو هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په هديه كي وركړو او بيا رسول الله دعباس دمسلمانيدو په خوشحالئ كي ازاد كړو (ابن سعد).

دغزوه بدر نه پس يي هجرت اوكړو او مديني ته راغى او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يي اوسيدل اختيار كړل.

دبدر نه علاوه په تمامو غزواتو كي شريك شوى دى دعلي رضي الله عنه سره يوي سريه ته هم تلى وو علي رضي الله عنه ورته پخپله غير موجودګئ كي دسريه نګراني هم سپارلي ده.

رسول الله اګر چي ابو رافع ازاد كړى وو ليكن ددي باوجود يي درسول الله په غلامئ كي وخت تيرولو او درسول الله خدمت كول يي نه دي پريخودلي رسول الله به ورسره هم ډير محبت كولو.

دعلي رضي الله عنه دخلافت په ابتداء كي وفات شو ، ٦٨ روايات ورنه مروي دي چي دري په دي كي متفق عليه دي.

*****************

[1] ـ تفرد به المؤلف. وانظر سنن الدارمي في المناسك ٢١ (١٨٦٦) (تحفة الأشراف : ١٢٠١٧) . ومسند احمد (٦ في ٣٩٢٣٩٣)

## ٢٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

### په حالت داحرام کي د نكاح كولو دجواز بيان

٨٤٢ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَأَهْلُ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دميموني سره نكاح اوكړه او هغه محرم وو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعائشه رضي الله عنها نه هم حديث مروي دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي، سفيان ثوري او اهل كوفه هم په دي باندي قول كړي دي.

*****************

٨٤٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ". (2)

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دميموني سره نكاح اوكړه او هغه محرم وو.

*****************

٨٤٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَطَّارُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، قَال: سَمِعْتُ أَبَا الشَّعْثَاءِ يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ مُحْرِمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الشَّعْثَاءِ اسْمُهُ جَابِرُ بْنُ زَيْدٍ، وَاخْتَلَفُوا فِي تَزْوِيجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَيْمُونَةَ، لِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَزَوَّجَهَا فِي طَرِيقِ مَكَّةَ. فَقَالَ بَعْضُهُمْ:

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٣٠)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٢٣٠)

تَزَوَّجَهَا حَلَالًا وَظَهَرَ أَمْرُ تَزْوِيجِهَا، وَهُوَ مُحْرِمٌ، ثُمَّ بَنَى بِهَا وَهُوَ حَلَالٌ بِسَرِفَ فِي طَرِيقِ مَكَّةَ، وَمَاتَتْ مَيْمُونَةُ بِسَرِفَ حَيْثُ بَنَى بِهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَدُفِنَتْ بِسَرِفَ. (1)

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دميموني سره نكاح اوكړه او هغه محرم وو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دميمونه سره دنكاح كولو په باره كي دعلماؤ اختلاف دي ځكه چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دميموني سره مكي ته دتلو په لاره كي واده كړي وو او دبعضي اهل علمو قول دي چي كله يي هغي سره واده اوكړو نو رسول الله حلال وو البته دواده خبره هغه وخت ظاهره شوه چي رسول الله احرام تړلي وو او رسول الله دمكي په لاره كي په سرف مقام كي خلوت ته ورغلو نو دغه وخت هم حلال وو او ميمونه رضي الله عنها دوفات واقعه هم په سرف كي اوشوه چرته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغي سره خلوت كړي وو په هم هغه سرف مقام كي دفن كړي شو.

**دابوالشعثاء حالات:**

نوم سليم دپلار نوم اسود كنيه ابو الشعثاء ، جليل القدر تابعي دي، دثقاتو راويانو دجملي نه دي. اكثر علم يي دابو هريره رضي الله عنه نه نقل كړي دي.

*****************

٨٤٥ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا فَزَارَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الأَصَمِّ، عَنْ مَيْمُونَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَهَا وَهُوَ حَلَالٌ، وَبَنَى بِهَا حَلَالًا، وَمَاتَتْ بِسَرِفَ، وَدَفَنَّاهَا فِي الظُّلَّةِ الَّتِي بَنَى بِهَا فِيهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ الأَصَمِّ مُرْسَلًا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "تَزَوَّجَ مَيْمُونَةَ وَهُوَ حَلَالٌ". (2)

**ترجمه** : دام المؤمنين ميمونه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه واده كړم او هغه حلال وو او چي خلوت يي كولو نه هم حلال وو، راوي وائي چي په هم هغه سرف مقام كي مو دفن كړو چرته چي دي سره خلوت شوي وو

[1] ـ حديث رقم: ٨٤٢ (تحفة الأشراف: ٥٣٤٦)

[2] ـ مسلم في النكاح ٥ (١٤١١) . سنن ابي داود في الحج ٣٩ (١٨٤٣) . سنن ابن ماجه في النكاح ٤٥ (١٩٦٤) . (تحفة الأشراف: ١٨٠٨٢) . مسند احمد (٣٣٣، ٣٣٥) . دي ٢١ (١٨٦٥)

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي، نورو راويانو دا حديث ديزيد بن عاصم نه مرسل نقل کړي دي چي رسول الله دميموني سره واده اوکړو او حلال وو.

******************

## ٢٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي أَكْلِ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ

### دمحرم دپاره دښکار دغوښي خوړلو بيان

٨٤٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَبِي عَمْرٍو، عَنِ الْمُطَّلِبِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "صَيْدُ الْبَرِّ لَكُمْ حَلَالٌ وَأَنْتُمْ حُرُمٌ مَا لَمْ تَصِيدُوهُ أَوْ يُصَدْ لَكُمْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، وَطَلْحَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ مُفَسَّرٌ. وَالْمُطَّلِبُ لَا نَعْرِفُ لَهُ سَمَاعًا مِنْ جَابِرٍ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بِأَكْلِ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ بَأْسًا إِذَا لَمْ يَصْطَدْهُ أَوْ لَمْ يُصْطَدْ مِنْ أَجْلِهِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: هَذَا أَحْسَنُ حَدِيثٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ وَأَقْيَسُ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. [1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوچي ښکار ستاسو دپاره په حالت داحرام کي حلال دي خو هله چي تاسو پخپله ښکار کړي نه وي او نه دا ستاسو دپاره ښکار کړي شوي وي.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دابو قتاده او طلحه رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي، اودجابر روايت مفسر دي، او مونږ ته دجابر نه دمطلب سماع معلومه نه ده، او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي هغوئ دمحرم دپاره په ښکار خوړلو کي څه حرج نه ګڼړي چي څو پوري يي پخپله ښکار کړي نه وي او نه ددوئ دپاره ښکار کړي شوي دي، امام شافعي وائي دا روايت په دي باب کي په مروي روايتونو کي دټولو نه قوي دي او دقياس درجات موافق حديث دي او هغوئ همدا اختيار کړي دي او دامام احمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم دا قول دي.

******************

٨٤٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي النَّضْرِ، عَنْ نَافِعٍ مَوْلَى أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، أَنَّهُ كَانَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَتَّى إِذَا كَانَ بِبَعْضِ طَرِيقِ مَكَّةَ تَخَلَّفَ مَعَ أَصْحَابٍ لَهُ مُحْرِمِينَ وَهُوَ غَيْرُ مُحْرِمٍ، فَرَأَى حِمَارًا وَحْشِيًّا فَاسْتَوَى عَلَى فَرَسِهِ، فَسَأَلَ أَصْحَابَهُ أَنْ يُنَاوِلُوهُ

---

[1] ـ ابي داود في الحج ٤١ (١٨٥١). سنن النسائي في الحج ٨١ (٢٨٣٠). (تحفة الأشراف: ٣٠٩٨). مسند احمد (٣ ف/٣٦٢)

سَوْطَهُ فَأَبَوْا. فَسَأَلَهُمْ رُمْحَهُ فَأَبَوْا عَلَيْهِ فَأَخَذَهُ. ثُمَّ شَدَّ عَلَى الْحِمَارِ فَقَتَلَهُ. فَأَكَلَ مِنْهُ بَعْضُ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَى بَعْضُهُمْ. فَأَدْرَكُوا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَسَأَلُوهُ عَنْ ذَلِكَ. فَقَالَ: "إِنَّمَا هِيَ طُعْمَةٌ أَطْعَمَكُمُوهَا اللَّهُ".[1]

**ترجمه** : دابوقتاده بيان دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره وم تردي پوري چي كله يي دمكي څه لاره اووهله نو هغوئ دخپلو بعضو محرم ملګرو سره روستو پاتي شول او ابو قتاده هم پخپله غير محرم وو او په دي دوران كي هغوئ يوه شنه غوا اوليده نو ابو قتاده پخپل اس سور شو او ملګرو ته يي اووئيل چي زما داس وهلو كوړه ماته راكړئ نو هغوئ ورته ددي دوركولو نه انكار اوكړو، بيا يي ورنه خپله نيزه اوغوښتله نو خلقو ورته ددي دپورته كولو او وركولو نه هم انكار اوكړو نو ابو قتاده دا پخپله پورته كړل او په ښكار پسي وريسي شو تردي چي ښكار يي اوكړو بعضي صحابه كرامو ددي ښكار نه خوراك اوكړو او بعضو اونه خوړله او بيا دوئ په نبي كريم صلي الله عليه وسلم پسي خان اورسولو او په دي باره كي يي ورنه تپوس اوكړو رسول الله اوفرمائيل دا خو يوه غذاء ده كومه چي الله تعالي ستاسو نصيب كړه.

### دابوقتاده حارث بن ربعي رضي الله عنه حالات:

نوم ابوقتاده لقب فارس رسول الله صلي الله عليه وسلم په خزرج قبيله كي يي دسلمه خاندان سره تعلق وو.

دهجرت نه لس كاله مخكي په مدينه كي پيدا شوى وو او دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو كي شركت كړى وو علي رضي الله عنه ده لره دمكي امير مقرر كړى وو قتاده ډير زيات متواضع وو او د درس حلقه يي په همدي وجه وسيع وه په حديبيه كي چي كله درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مكي ته تلو نو په لاره كي يي ددوستانو او ملګرو سره ټوقي او خندا كوله (مسند احمد).

په غزوه حنين كي چي دلويو لويو جانبازانو قدمونه اوخويدل نو پدغه وخت كي دابوقتاده ښپي مضبوطي وي دحديث په بيانولو كي يي ډير احتياط كولو چي كله يي درسول الله صلي

---

[1] ـ البخارى في جزاء الصيد ٣ (١٨٢٣) . والجهاد ٨٨ (٢٩١٣) . والذبائح ١٠ (٥٤٩٠) . و١١ (٥٤٩٢) . صحيح مسلم في الحج ٨ (١١٩٦) . سنن ابى داود في الحج ٤١ (١٨٥٢) . سنن النسائى في الحج ٧٨ (٢٨١٨) . (تحفة الأشراف : ١٢١٣١) . موطا امام مالک في الحج ٢٤ (٧٦) . مسند احمد (٥ في ٣٠١) وأخرجه صحيح البخارى في جزاء الصيد ٢ (١٨٢١) . و٣ (١٨٢٢) . و٥ (١٨٢٣) . والهبة ٣ (٢٥٧٠) . والجهاد ٤٦ (٢٨٥٤) . والأطعمة ١٩ (٥٤٠٦ . ٥٤٠٧) . سنن ابن ماجه في المناسک ٩٣ (٣٠٩٣) . مسند احمد (٥ في ٣٠٧) . سنن الدارمى في المناسک ٢٢ (١٨٦٧)

الله عليه وسلم نه من كذب علي متعمدا والا روايت واوريدو نو نور زيات احتياط يي هم شروع كړو (مسند احمد).

وفات: دده په وفات كي اختلاف دى بعضو ۴۹هجري كوفه ليكلي ده ليكن داكثرو په نزد دپنځوس او شپيتوو په مينځ كي دده وفات شوى دى.

دده دمروياتو شمير ۱۷۰دى چي يولس په بخاري او مسلم كي متفق عليه دي دولس په بخاري كي دي او اته په مسلم كي دي.

*****************

۸۴۸_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ فِي حِمَارِ الْوَحْشِ مِثْلَ حَدِيثِ أَبِي النَّضْرِ غير ان في حديث زيد بن اسلم ان رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "هَلْ مَعَكُمْ مِنْ لَحْمِهِ شَيْءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه**: په دي سند باندي هم دابوقتاده نه دشني غوا په باره كي دابونضر دروايت پشان روايت مروي دي البته دزيد بن اسلم په دي حديث كي دومره اضافه ده چي رسول الله صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل ايا تاسو سره ددغه غوا په غوښه كي څه باقي پاتي شته؟

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ۲۶_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ لَحْمِ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ

### دمحرم دپاره دښكار دغوښي دحرمت بيان

۸۴۹_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ أَخْبَرَهُ، أَنَّ الصَّعْبَ بْنَ جَثَّامَةَ أَخْبَرَهُ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ بِالْأَبْوَاءِ أَوْ بِوَدَّانَ، فَأَهْدَى لَهُ حِمَارًا وَحْشِيًّا، فَرَدَّهُ عَلَيْهِ، فَلَمَّا رَأَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا فِي وَجْهِهِ مِنَ الْكَرَاهِيَةِ، فَقَالَ: "إِنَّهُ لَيْسَ بِنَا رَدٌّ عَلَيْكَ وَلَكِنَّا حُرُمٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ

---

[1] _ البخارى في جزاء الصيد ۲ (۱۸۲۳). والجهاد ۸۸ (۲۹۱۴). والذباح ۱۰ (۵۴۹۰). و۱۱ (۵۴۹۲). مسلم في الحج ۸ (۱۱۹۶). ابي داود في الحج ۴۱ (۱۸۵۲). سنن النسائى في الحج ۷۸ (۲۸۱۸). (تحفة الأشراف: ۱۲۱۳۱). موطا امام مالک في الحج ۲۴ (۷۶). مسند احمد (۵ في ۳۰۱) وأخرجه صحيح البخارى في جزاء الصيد ۲ (۱۸۲۱). و۳ (۱۸۲۲). و۵ (۱۸۲۴). والهبة ۳ (۲۵۷۰). والجهاد ۴۶ (۲۸۵۴). والأطعمة ۱۹ (۵۴۰۶. ۵۴۰۷). سنن ابن ماجه في المناسک ۹۳ (۳۰۹۳). مسند احمد (۵ / ۳۰۷). سنن الدارمى في المناسک ۲۲ (۱۸۶۷)

صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ وَكَرِهُوا أَكْلَ الصَّيْدِ لِلْمُحْرِمِ، وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنَّمَا وَجْهُ هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَنَا إِنَّمَا رَدَّهُ عَلَيْهِ، لَمَّا ظَنَّ أَنَّهُ صِيدَ مِنْ أَجْلِهِ وَتَرَكَهُ عَلَى التَّنَزُّهِ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُ أَصْحَابِ الزُّهْرِيِّ، عَنِ الزُّهْرِيِّ هَذَا الْحَدِيثَ، وَقَالَ: أَهْدَى لَهُ لَحْمَ حِمَارٍ وَحْشٍ، وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ. ([1])

**ترجمه** : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي صعب بن جثامه راته اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم په ابواء يا ودان مقام كي ددوئ په خوا كي تير شو نو هغوئ ورته يوه شنه غوا په هديه كي وركړه نو رسول الله دا واپس كړه نو دهغوئ په تندو كي دخفګان اثار ښكاره شو كله چي رسول الله دا منظر اوكتلو نو ويي فرمائيل مونږ يي تاسو ته واپس كوو نه ليكن مونږ په احرام كي يو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي يو جماعت په دي باندي قول كول اختيار كړي دي او هغوئ دمحرم دپاره دښكار دغوښي خوړل مكروه ګڼړلي دي ، امام شافعي وائي زمونږ په نزد دا حديث مؤل دي په دي كي توجيه داده چي رسول الله غوښه صرف په دي وجه واپس كړه چي دا ګمان يي اوكړو چي ګويا كي دا زمونږ دپاره ښكار كړي شوي ده نو دا يي تنزيها پريخوده، دزهري بعضي شاګردانو دا حديث دزهري نه نقل كړي دي او په دي كي د ''اهدي له حمارا وحشي'' په ځاي باندي ''اهدي له لحم حمار وحش'' الفاظ منقول دي ليكن دا روايت غير محفوظ دي، په دي باب كي دعلي او زيد بن ارقم رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي.

## دحلال د ذبح شوي ښكارد محرم دپاره خوراک

(۱) احناف فقهاء وايي كه غيرمحرم كس ښكار اوكړو،اوهغه ئې ذبح كړلو،اوبيا ئې په محرم باندې اوخوړلو،نوپه محرم باندې څه ضمان نه واجبيږي،خوپه دې شرط چې نه ورته محرم دلالت كړې وي،اونه ئې ورته حكم كړې وي.

ددي قول دليل دادي چې يوځل صحابه كرامو دهغه ښكارپه باره كي بحث شروع شو،كوم چې د محرم دپاره شوې وي،په دې كي د صحابه كرامو (رضي الله عنهم) آوازونه اوچت

[1] ـ البخاری في جزاء الصيد ٦ (١٨٢٥) ، والهبة ٦ (٢٥٧٣) ، و١٧ (٢٥٩٦) . صحيح مسلم في الحج ٨ (١١٩٣) . سنن النسائى في الحج ٧٩ (٢٨٢١، ٢٨٢٢، ٢٨٢٥، ٢٨٢٦) . سنن ابن ماجه في المناسک ٩٢ (٣٠٩٠) . (تحفة الأشراف : ٤٩٤٠) . موطا امام مالک في الحج ٢٢ (٨٣) . مسند احمد (٤/ في ٣٧، ٣٨، ٧١، ٧٣) . سنن الدارمى في المناسک

شول،نبی په خپله حجره مبارکه کي په خوب اوده وو،نو بیدار شو،اوبهرته راووتلو،تپوس ئې اوکړو چی تاسوپه څه کي بحث کوئ، صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ورته ټوله واقعه بیان کړه،نونبیﷺ اوفرمائیل "لابأس به" یعنی دې په خوراك کي څه باك نشته.

(۲) اوامام مالك (رحمه الله)فرمائی،که غیرمحرم په دې اراده ښکار اوکړو چی دا به په محرم باندې خورم،اومحرم د هغې نه خوراك اوکړلو،نوپه دې صورت کي په محرم باندې دخوړلې شوې غوښې ضمان واجب دي برابره ده که محرم ورته د ښکارحکم کړې وی اوکه نه،

دامام مالك (رحمه الله)دلیل هغه حدیث دې چی په هغې کي فرمائی،په محرم باندې د هغه ښکار په غوښه کي څه باك نشته چی نه یي ښکارکړې وی،اونه دده دپاره ښکارشوې وی،ګورئ ددې حدیث نه معلومه شوه چی کوم ښکارد محرم دپاره شوې وی،دده دپاره د هغې خوراك هم روا نه دي

امام مالك (رحمه الله)چی کوم حدیث په استدلال کي پیش کړي دي په هغې کي "لام" د تملیك دپاره دي نوپه دې صورت کي د هغې مطلب دا شو چی د محرم دپاره دداسې ښکاریه غوښه خوړلو کي څه باك نشته چی نه ده په خپله ښکارکړې وی،اونه دده دپاره ښکارشوې وی،اولامړ شوې نه وی چی محرم دهغې مالك جوړ کړې شی،یعنی که غیرمحرم ښکار اوکړو ،اوژوندې هغه ښکارد محرم ملکیت اوګرځوی،نوپه دې صورت کي چونکه د ښکارساه دده په ملکیت کي وتلې ده،نوده دپاره د هغې خوراك روا نه دي البته که ده ته غوښه ورکړی،نوپه ده دهغې د غوښې د قیمت څه ضمان نشته، یا ددې حدیث مطلب دادی چی ښکارد محرم په حکم سره نه وی شوې،که د محرم په حکم سره شوې وی،نوبیا هم د محرم دپاره دهغې خوراك روا نه دي ددې دواړو تاویلونو نه پس دغه حدیث د امام مالك (رحمه الله)مستدل نشی پاتې کیدي

**دصعب بن جثامه رضي الله عنه حالات:**

نوم صعب دپلار نوم جثامه بن یزید بن قیس بن عبدالله چي دلیثي قبیلي سره تعلق لري او په ابواء مقام کي چي په حجاز کي واقع دی قیام کولو همداوجه ده چي اکثر داهل حجاز نه روایت کوي او دصدیق اکبر رضي الله عنه په دور خلافت کي وفات شوی دی.

مرویات: ۱۲احادیث ورنه منقول دي چي دوه په دي کي متفق علیه دي.

*****************

## ۲۷_ باب مَا جَاءَ فِي صَيْدِ الْبَحْرِ لِلْمُحْرِمِ

**دمحرم دپاره دسمندر دښکار بیان**

٨٥٠_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَزِّمِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ، فَاسْتَقْبَلَنَا رِجْلٌ مِنْ جَرَادٍ، فَجَعَلْنَا نَضْرِبُهُ بِسِيَاطِنَا وَعِصِيِّنَا، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُوهُ فَإِنَّهُ مِنْ صَيْدِ الْبَحْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ أَبِي الْمُهَزِّمِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبُو الْمُهَزِّمِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ سُفْيَانَ، وَقَدْ تَكَلَّمَ فِيهِ شُعْبَةُ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ لِلْمُحْرِمِ أَنْ يَصِيدَ الْجَرَادَ وَيَأْكُلَهُ، وَرَأَى بَعْضُهُمْ عَلَيْهِ صَدَقَةً إِذَا اصْطَادَهُ وَأَكَلَهُ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ به درسول الله صلي الله عليه وسلم سره حج يا عمري ته تلو او كله كله به زمونږ مخي ته دملخ يوه خپه راغله نو مونږ به دا په كوړو او په همساګانو اووهله رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا اوخورئ ځكه چي دا دسمندر ښكار دي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي ځكه چي دا صرف دابو المهزم په سند مسند دي كوم چي هغه دابوهريره نه نقل كړي دي، او دابو المهزم نوم يزيد بن سفيان دي او شعبه په يزيد بن سفيان باندي كلام كړي دي، داهل علمو يو جماعت محرم ته دملخ دښكار كولو او ددي دخوړلو اجازت وركړي دي او دبعضي علماؤ قول دي كه محرم دي لره ښكار كړي او دا اوخوري نو فديه وركول ورباندي لازم كيږي.

******************

## ٢٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الضَّبُعِ يُصِيبُهَا الْمُحْرِمُ

### محرم كه خادمي ښكار كړي نو څه حكم دي

٨٥١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي عَمَّارٍ، قَالَ: قُلْتُ لِجَابِرٍ: الضَّبُعُ أَصَيْدٌ هِيَ؟ قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: قُلْتُ آكُلُهَا، قَالَ: نَعَمْ، قَالَ: قُلْتُ: أَقَالَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: وَرَوَى جَرِيرُ بْنُ حَازِمٍ هَذَا

---

[1] _ سنن ابي داود في الحج ٣٢ (١٨٥٤) . سنن ابن ماجه في الصيد ٢٩ (٣٢٢٢) . (تحفة الأشراف : ١٣٨٢٢) . مسند احمد (٢ في ٣٠٦، ٣٦٤)

الْحَدِيثَ، فَقَالَ: عَنْ جَابِرٍ، عَنْ عُمَرَ، وَحَدِيثُ ابْنِ جُرَيْجٍ أَصَحُّ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْمُحْرِمِ إِذَا أَصَابَ ضَبُعًا، أَنَّ عَلَيْهِ الْجَزَاءَ. [1]

**ترجمه** : دابن ابي عماربيان دي فرمائي چي ما دجابر رضي الله عنه نه تپوس اوکړو ايا زغلول په ښکار کي داخل دي ؟ هغوئ اوونيل هو، ما ورنه تپوس اوکړو ايا زه يي خوړلي شم هغوئ اوفرمائيل هو، ما اوونيل ايا دا رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي؟ هغوئ اوونيل هو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، علي بن مديني وائي چي ديحي بن سعيد بيان دي چي دا حديث جرير بن حزم هم نقل کړي دي ليکن هغوئ دجابر نه او جابر دعمر رضي الله عنه نه نقل کړي دي مګر دابن جريج حديث زيات صحيح دي همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي چي محرم که ښکار اوزغلوي او يا ښکار اوکړي او يا يي اوخوري نو په ده باندي فديه لازمه ده.

*****************

## ٢٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الِاغْتِسَالِ لِدُخُولِ مَكَّةَ

### مکي ته د داخليدو دپاره دغسل کولو بيان

٨٥٢ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ صَالِحٍ الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "اغْتَسَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِدُخُولِهِ مَكَّةَ بِفَخٍّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى نَافِعٌ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّهُ كَانَ يَغْتَسِلُ لِدُخُولِ مَكَّةَ، وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ يُسْتَحَبُّ الِاغْتِسَالُ لِدُخُولِ مَكَّةَ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ، ضَعَّفَهُ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ وَغَيْرُهُمَا، وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ. [2]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم مکي ته د داخليدو دپاره په فتح مقام کي غسل اوکړو.

---

[1] ـ ابي داود في الأطعمة ٣٢ (٣٨٠١) . سنن النسائي في الحج ٨٩ (٢٨٣٩) . والصيد ٢٨ (٤٣٢٨) . سنن ابن ماجه في المناسك ٩٠ (٣٠٨٥) . والصيد ١٥ (٣٢٣٦) . (تحفة الأشراف : ٢٣٨١) . مسند احمد (٣ في ٢٩٧، ٣١٨، ٣٢٢) . سنن الدارمي في المناسك ٩٠ (١٩٨٤)

[2] ـ تفرد المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٦٣٢)

امام ترمذي وائي دا حديث غير محفوظ دي صحيح روايت هغه دي كوم چي نافع دابن عمر نه نقل كړي دي چي رسول الله مكې ته د داخليدو دپاره غسل كولو او همدا دامام شافعي قول دي چي مكي ته د داخليدو دپاره غسل كول مستحب دي، عبدالرحمن بن زيد بن اسلم په حديث كي ضعيف ګڼرلي شي ، احمد بن حنبل ، علي بن مديني وغيره دده تضعيف كړي دي او دا حديث مونږ ته صرف دده په سند مرفوع رارسيدلي دي

******************

## ٣٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي دُخُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ مِنْ أَعْلَاهَا وَخُرُوجِهِ مِنْ أَسْفَلِهَا

### دنبي كريم صلي الله عليه وسلم مكي ته دپاسه طرف نه دداخليدو او دلاندي طرف نه د وتلو بيان

٨٥٣_ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "لَمَّا جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى مَكَّةَ، دَخَلَ مِنْ أَعْلَاهَا وَخَرَجَ مِنْ أَسْفَلِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي كله به رسول الله صلي الله عليه وسلم مكي ته تلو نو دپورتني طرف نه به داخليدو او د ښكته طرف نه به وتلو
امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي.

******************

## ٣١_ بَاب مَا جَاءَ فِي دُخُولِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ نَهَارًا

### دورځي په وخت كي درسول الله مكي ته د داخليدو بيان

---

[1] _ البخاري في الحج ٤١ (١٥٧٦) . صحيح مسلم في الحج ٣٧ (١٢٥٨) . سنن ابي داود في الحج (١٨٦٩) (تحفة الأشراف : ١٦٩٢٣) وأخرجه صحيح البخاري في المغازي ٤٩ (٤٢٩٠) . سنن ابي داود في الحج ٤٥ (١٨٦٨)

٨٥٤ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا الْعُمَرِيُّ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "دَخَلَ مَكَّةَ نَهَارًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

**ترجمه** : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم به مكي ته دورځي په وخت کي داخليدو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

******************

## ٣٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ

**دکعبي دليدو وخت کي دلاسو نو پورته کولو دکراهت بيان**

٨٥٥ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي قَزَعَةَ الْبَاهِلِيِّ، عَنِ الْمُهَاجِرِ الْمَكِّيِّ، قَالَ: سُئِلَ جَابِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ: أَيَرْفَعُ الرَّجُلُ يَدَيْهِ إِذَا رَأَى الْبَيْتَ؟ فَقَالَ: "حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنَّا نَفْعَلُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: رَفْعُ الْيَدَيْنِ عِنْدَ رُؤْيَةِ الْبَيْتِ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي قَزَعَةَ، وَأَبُو قَزَعَةَ اسْمُهُ سُوَيْدُ بْنُ حُجَيْرٍ. ([2])

**ترجمه** : دمهاجر مکي بيان دي دجابر بن عبدالله نه تپوس اوکړي شو چي کله يو کس کعبه اويني نو ايا خپل دواړه لاسونه به پورته کوي؟ جابر په جواب کي اووئيل مونږ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره حج کړي دي نو ايا مونږ داسي کړي دي؟

امام ترمذي وائي بيت الله ته کتلو وخت کي دلاسونو پورته کولو حديث مونږ ته دشعبه په سند رارسيدلي دي او شعبه دابوقزعه نه روايت کوي او دقزعه نوم سويد بن حجير دي.

******************

## ٣٣ـ بَاب مَا جَاءَ كَيْفَ الطَّوَافُ

**دطواف کيفيت بيان**

٨٥٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "لَمَّا قَدِمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَكَّةَ، دَخَلَ الْمَسْجِدَ،

---

[1] ـ ابن ماجه في المناسک ٢٦ (٢٩٤١) (تحفة الأشراف : ٤٤٢٣)

[2] ـ ابي داود في الحج ٤٦ (١٨٧٠) . سنن النسائي في الحج ١٢٢ (٢٨٩٨) . سنن الدارمي في المناسک ٧٥ (١٩٦١) (تحفة الأشراف : ٣١١٦)

فَاسْتَلَمَ الْحَجَرَ. ثُمَّ مَضَى عَلَى يَمِينِهِ، فَرَمَلَ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا. ثُمَّ أَتَى الْمَقَامَ. فَقَالَ: "وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى سورة البقرة آية ١٢٥". فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَالْمَقَامُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْبَيْتِ. ثُمَّ أَتَى الْحَجَرَ بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ فَاسْتَلَمَهُ. ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّفَا أَظُنُّهُ. قَالَ: "إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ١٥٨". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. ([1])

**ترجمه**: دجابر رضي الله عنه بيان دي كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مكي ته راغي نو مسجدالحرام ته داخل شو او حجر اسود يي ښكل كړو بيا ښي طرف ته روان شو اودري چكرونو كي يي رمل اوكړو او په څلورو چكرونو كي په عام رفتار لاړو او بيا مقام ابراهيم ته ورغلو او ويي فرمائيل "مقام ابراهيم لره دمونځ كولو ځاي اوګرځوه" چنانچه دوه ركعاته مونځ يي اوكړو او مقام ابراهيم دده او دبيت الله په مينځ كي وو بيا د دوه ركعاتو كولو نه پس حجر اسود ته راغي او استلام يي اوكړو او بيا صفا ته روان شو زما خيال دي چي هلته يي دا ايت كريمه اولوستلو "ان الصفا والمرئة من شعائرالله" يعني صفا او مروه دالله تعالي ددين دنشاناتو نه دي.

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي، او داهل علمو په همدي باندي عمل دي.

**تشريح: مكې ته د داخليدو نه پس اول كوم كار كوي**

فرمائي چي محرم چې څنګه مكې ته داخل شي نو د ټولو نه اول به مسجد ته داخليږي ځكه چې رسول الله صلي الله عليه وسلم كله مكې ته داخل شو نود ټولو نه اول مسجد ته داخل شو، په صحيحينو كي د عائشه رضى الله عنها دا حديث داسې دي:

"إن أول شئ بدأ به رسول الله صلي الله عليه وسلم حين قدم مكة أن توضأ ثم طاف بالبيت" يعنى مكې مكرمې ته چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو نود ټولونه په اولنو كارونو كي دا وو چې اودس ئې اوكړلو، اود بيت الله نه ئې طواف اوكړلو.

---

[1] ـ مسلم في الحج ١٩ (١٢١٨). سنن ابي داود في الحج ٥٧ (١٩٠٥). والحروف ١ (٣٩٦٩). سنن النسائي في الحج ١٣٩ (٢٩٤٢). ١٤٣ (٢٩٤٣، ٢٩٤٥)، و ١٤٣ (٢٩٤٦)، و ١٤٣ (٢٩٤٧). سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠٠٨). والمناسك ٢٩ (٢٩٥١)، و ٨٣ (٣٠٤٣). (تحفة الأشراف: ٢٥٩٣ و ٢٥٩٥ و ٢٥٩٦). مسند احمد (٣ في ٣٢٠). سنن الدارمي في المناسك ١١ (١٨٣٦). وانظر ما يأتي برقم: ٨٥٧ و ٨٦٣ و ٢٩٦٧)

دویم دلیل دادی چی د سفرمقصود د بیت الله زیارت کول دی،اوبیت الله په مسجد کي دي نود تولو نه اول دې مسجد ته داخل شی،اوبیا د مسجد حرام په دروازو کي د باب السلام نه داخلیدل مستحب دی ځکه چی رسول پاك صلي الله علیه وسلم هم په دې دروازه مسجد حرام ته داخل شوې وو،اودا دعا ئې غوښتله:

"اللهم أنت ربي وأنا عبدك جئت لأودي فرضك وأطلب رحمتك وألتمس رضاك متبعاً لأمرك راضياً بقضائك أسلك مسئلة المضطرين المشفقين من عذابك أن تستقبلني اليوم بعفوك وتحفظني برحمتك وتجاوز عني بمغفرتك وتعينني على أداء فرائضك اللهم افتح لي أبواب رحمتك وأدخلني فيها وأعذني من الشيطان الرجيم"

یعني اې الله ته زما رب اوزه ستا بنده یم،زه ستا د فرض ادا کولودپاره حاضرشوې یم،ستا د رحمت غوښتونکې یم،ستا دحکم تابعداری کوم،او ستا د رضا طلبګار یم،زه ستا په فیصله په سرسترګوراضی یم،زه ستا نه دهغه کسانو پشان سوال کوم چی محتاج وی اوستاد عذاب نه ویریږی چی ته نن ما سره د معافۍ سلوك اوکړې،اوپه خپل رحمت زما حفاظت اوکړې،اوته په خپل مغفرت ما ته معافی اوکړې،اودخپلو فرائضو په ادا کولوکي زما مدد اوکړې،اې الله زما دپاره دخپل رحمت دروازې پرانزې،اوما ورته داخل کړه،اود شیطان رټلی شوی نه زما حفاظت اوکړې.

## د بیت الله د لیدو په وخت کې مسنون عمل

مسئله دا ده چی کله ئې په بیت الله نظراولګی نو الله أکبر دې اووائی،اوپه زړه کي دې ددې مقدس مقام عظمت حاضر کړی،اود توحید د تجدید دپاره دې "لاإله إلا الله" اووائی،او چې هغه وخت څه مناسب وی نوهغه دعا دې اوکړی ځکه چی د بیت الله د لیدو په وخت کي دعا مستجابه اومقبوله وی.

امام شافعی (رحمه الله) د سعید بن جبیر نه اوهغوی د ابن جریج نه دا دعا نقل کړې ده:

"أن النبي صلي الله عليه وسلم كان إذا رأى البيت رفع يديه وقال اللهم زد هذا البيت تشريفاً وتكريماً ومهابة وزد من شرفه وكرمه ممن حجه أوإعتمر تشريفاً وتكريماً وبراً"

(۲) اودعطاء (رحمه الله) نه نقل دی چی رسول الله صلي الله علیه وسلم به بیت الله ته اوکتل نودا به ئې فرمائیل:

"أعوذبرب البيت من الكفر والفقر وضيق الصدر وعذاب القبر"

بهرحال په تکبیر اوتهلیل باندې د عبدالله رضی الله عنه عمل مستدل دې چی هغوی به کله هم د بیت الله زیارت کولو نو"بسم الله والله أكبر"به ئې وئیل،

امام محمد (رحمه الله) په اصل (مبسوط)کي دمشاهدحج دپاره څه دعا نه ده مقرر کړې ځکه چې تعين ددعا دزړه نرم والې زائله کوي. (اشرف الهدايه)

****************

## ٣٤_ باب مَا جَاءَ فِي الرَّمَلِ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ

### دحجر اسود نه دحجر اسود پوري درمل کولو بيان

٨٥٧_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " رَمَلَ مِنَ الْحَجَرِ إِلَى الْحَجَرِ ثَلَاثًا وَمَشَى أَرْبَعًا ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: إِذَا تَرَكَ الرَّمَلَ عَمْدًا فَقَدْ أَسَاءَ وَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ، وَإِذَا لَمْ يَرْمُلْ فِي الْأَشْوَاطِ الثَّلَاثَةِ لَمْ يَرْمُلْ فِيمَا بَقِيَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَيْسَ عَلَى أَهْلِ مَكَّةَ رَمَلٌ وَلَا عَلَى مَنْ أَحْرَمَ مِنْهَا. ([1])

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دحجر اسود نه دحجر اسود پوري په دري چكرونو كي رمل اوكړو او په څلورو چكرونو كي په عام رفتار لاړو. امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، اوپه دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي، امام شافعي وائي كله چي څوك قصداعمدا رمل پريږدي نو غلطي يي اوكړه ليكن كومه جرمانه وربادي نه واجب كيږي او چاچي په ابتدائي دريو چكرونو كي رمل اونكړو نو په باقي چكرونو كي به هم رمل نه كوي، دبعضي اهل علمو قول دي داهل مكه دپاره رمل نشته او نه په هغه چا رمل شته چاچي دمكي نه احرام تړلي وي.

****************

## ٣٥_ باب مَا جَاءَ فِي اسْتِلَامِ الْحَجَرِ وَالرُّكْنِ الْيَمَانِي دُونَ مَا سِوَاهُمَا

[1] _ مسلم في الحج ١٩ (١٢١٨) . سنن ابی داود في الحج ٥٧ (١٩٠٥) . والحروف ١ (٣٩٦٩) . النسائي في الحج ١٣٩ (٢٩٢٢) . ١٦٣ (٢٩٦٣، ٢٩٦٥) . و١٦٣ (٢٩٦٦) . و١٦٢ (٢٩٦٧) . ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠٠٨) . والمناسک ٢٩ (٢٩٥١) . و٨٣ (٣٠٦٣) . (تحفة الأشراف : ٢٥٩٣ و٢٥٩٥ و٢٥٩٦) . مسند احمد (٣ في ٣٢٠) . سنن الدارمي في المناسک ١١ (١٨٣٦) . وانظر ما يأتي برقم : ٨٥٦ و٨٦٢ و٢٩٦٧)

**دبيت الله د نورو كوټونو د پريښودو په حال كې صرف دحجراسود او ركن يماني داستلام بيان**

۸۵۸ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، وَمَعْمَرٌ، عَنِ ابْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: كُنْتُ مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَمُعَاوِيَةُ لَا يَمُرُّ بِرُكْنٍ إِلَّا اسْتَلَمَهُ، فَقَالَ لَهُ ابْنُ عَبَّاسٍ: "إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَكُنْ يَسْتَلِمُ إِلَّا الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ، وَالرُّكْنَ الْيَمَانِيَ" فَقَالَ مُعَاوِيَةُ: لَيْسَ شَيْءٌ مِنَ الْبَيْتِ مَهْجُورًا. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنْ لَا يَسْتَلِمَ إِلَّا الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ، وَالرُّكْنَ الْيَمَانِيَ.[1]

**ترجمه**: دابو الطفيل بيان دي فرمائي چي زه دعبدالله بن عباس سره وم معاويه رضي الله عنه چي به دكوم ركن سره تيريدلو استلام به يي كولو نو ابن عباس ورته اووئيل نبي كريم صلي الله عليه وسلم دحجر اسود او ركن يماني نه علاوه استلام نه دي كړي معاويه رضي الله عنه اووئيل دبيت الله هيڅ يو ځيز دپريښودو لائق نه دي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعمر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او په همدي باندي داكثرو اهل علمو عمل هم دي چي دحجر اسود او ركن يماني نه علاوه دبل مقام استلام كول پكار نه دي.

**دابو الطفيل رضي الله عنه حالات**

دټولو نه اخري صحابي ابو الطفيل بن عامر بن واثله رضي الله عنه وو او دده وفات درسول الله دفرمان نه پوره سل كاله پس شوى وو.

*****************

۳۶ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ مُضْطَبِعًا

**داحرام څادر دچپ طرف ترخ نه لاندي او بيا ددي څادر دواړه كوټونه په اوږو باندي داچولو په حال كي درسول الله دطواف كولو بيان**

۸۵۹ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنِ ابْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "طَافَ بِالْبَيْتِ مُضْطَبِعًا وَعَلَيْهِ بُرْدٌ". قَالَ أَبُو

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۵۷۸۰)

عِيسَى: هَذَا حَدِيثُ الثَّوْرِيِّ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَلَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِهِ، وَهُوَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَبْدُ الْحَمِيدِ هُوَ ابْنُ جُبَيْرَةَ بْنِ شَيْبَةَ، عَنِ ابْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ وَهُوَ يَعْلَى بْنُ أُمَيَّةَ. (1)

**ترجمه** : ديعلي بن اميه رضي الله عنه بيان دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم د اضطباع په حالت کي دبيت الله طواف اوکړو او په جسم مبارك يي يو څادر پروت وو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او همدا دثوري حديث دي کوم چي هغه دابن جريرج نه نقل کړي دي او دا موږ ته صرف دابن جريرج په سند معلوم دي، عبدالحميد دجبيره بن شيبه ځوي دي چاچي دابن يعلي نه او ابن يعلي دخپل پلار نه روايت نقل کړي دي او ديعلي نه مراد يعلي بن اميه رضي الله عنه دي.

*****************

## ٣٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَقْبِيلِ الْحَجَرِ

### دحجر داسود دښکلولو بيان

٨٦٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَابِسِ بْنِ رَبِيعَةَ، قَالَ: رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ يُقَبِّلُ الْحَجَرَ، وَيَقُولُ: "إِنِّي أُقَبِّلُكَ وَأَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ، وَلَوْلَا أَنِّي رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقَبِّلُكَ لَمْ أُقَبِّلْكَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي بَكْرٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه** : عابس بن ربيعه وائي چي ما عمر فاروق رضي الله عنه حجراسود لره ښکلونکی اوليدو او دا مي تري واوريدل چي وئيل يي: ماته پته ده چي ته صرف يوکاڼړی يی نه څه فائده ورکولی شي نه نقصان که چري ما رسول الله صلي الله عليه وسلم تالره ښکلونکی نه وی ليدلی نو مابه ته نه ويی ښکل کړی.

امام ترمذي وائي دعمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابو بکر او دابن عمر رضي

---

[1] _ ابی داود في الحج ٥٠ (١٨٨٣) . سنن ابن ماجه في المناسک ٣٠ (٢٩٥٤) . (تحفة الأشراف : ١١٨٣٩) . مسند احمد (٤ في ٢٢٢) . سنن الدارمی في المناسک ٢٨ (١٨٨٥)

[2] _ البخاری في الحج ٥٠ (١٥٩٧) . و٥٧ (١٦٠٥) . (١٦١٠) . صحيح مسلم في الحج ٤١ (١٢٧٠) . سنن ابی داود في المناسک ٤٧ (١٨٧٣) . سنن النسائي في الحج ١٤٧ (٢٩٤٠) . سنن ابن ماجه في المناسک ٢٧ (٢٩٤٣) . (تحفة الأشراف : ١٠٤٧٣) . مسند احمد (١ في ٢٦، ٤٦) وأخرجه موطا امام مالک في الحج ٣٦ (١١٥) . مسند احمد (١ في ٢١، ٣٤، ٣٥، ٣٩، ٥١، ٥٣، ٥٤) . سنن الدارمی في المناسک ٤٢ (١٩٠٦)

الله عنهما نه هم احاديث مروي دي.

**لغات**: يقبّل: قبّل يقبل تقبيلا د باب تفعيل نه په معني دمسه كولو، اوچا لره دښكلولو په معني دي.

تنفع: نفع ينفع نفعا دفتح نه په معني دفائدي وركولو دي.

تضر: ضر ضرا دنصر نه په معني دنقصان رسول او تكليف وركولو دي.

**تشريح** : "اعلم انك حجر ماتنفع ولاتضر" يعني عمر فاروق رضي الله عنه حجر اسود مخاطب كړو او ويې وئيل ته خو يو كانړى يې چي نه فائده وركولى شي او نه نقصان دفع كولى شي په يوبل روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اني لاعلم انك حجر لاتنفع ولاتضر ولولا امرني ربي ان اقبلك ما أقبلتك. يعني ته خو يو كانړى يې چي دنفعي او نقصان اختيار نه لري خو كه ماته زما رب ستا دښكلولو حكم نه وى كړى نو مابه ته نه وي ښكل كړى، غرض دا چي همدا خبره عمر فاروق رضي الله عنه اوكړه او دا يې په هغه وخت كي اوكړه كله چي يو څو نوي بانډچيان مسلمانان موجود وو دا ددي دپاره چي هغوئ دا ګمان اونكړي چي په دي كانړي كي كوم اثر شته بلكي ددي ښكلول صرف داتباع رسول په بنياد دي يعني چي رسول الله ښكل كړى وو او زه يې هم دهغه په اتباع كي ښكلوم.

ددينه دا معلومه شوه چي په اتباع رسول كي حكمت تلاش كول نه دي پكاري كله كله ددي حكمت ته ذهن رسيدى شي او په بعضي وخت كي ورته ذهن رسائي نشي كولى بهر حال اصل مقصود اتباع رسول دى ليكن علماؤ ليكلي دي چي دحجر اسود نه علاوه دبل كانړي ښكلول جائز نه دي.

## د عابس بن ربيعه رضي الله عنه حالات:

عابس تابعي دى او حافظ ابن حجرپه كبار تابعينو كي شميرلى دى (كذا في التقريب) چي دنخع قبيلي سره يې تعلق وو څكه ورته نخعي وئيلى شي او كوفي دى علماؤ په ثقاتو كي شميرلى دى (التقريب).

****************

٨٦١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ عَرَبِيٍّ، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ ابْنَ عُمَرَ " عَنِ اسْتِلَامِ الْحَجَرِ، فَقَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ " . فَقَالَ الرَّجُلُ: أَرَأَيْتَ إِنْ غُلِبْتُ عَلَيْهِ، أَرَأَيْتَ إِنْ زُوحِمْتُ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: اجْعَلْ أَرَأَيْتَ بِالْيَمَنِ، رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَلِمُهُ وَيُقَبِّلُهُ. قَالَ: وَهَذَا هُوَ الزُّبَيْرُ بْنُ عَرَبِيٍّ، رَوَى عَنْهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، وَالزُّبَيْرُ بْنُ عَدِيٍّ

كُوفِيٌّ يُكْنَى أَبَا سَلَمَةَ، سَمِعَ مِنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، رَوَى عَنْهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ تَقْبِيلَ الْحَجَرِ، فَإِنْ لَمْ يُمْكِنْهُ وَلَمْ يَصِلْ إِلَيْهِ اسْتَلَمَهُ بِيَدِهِ وَقَبَّلَ يَدَهُ، وَإِنْ لَمْ يَصِلْ إِلَيْهِ اسْتَقْبَلَهُ إِذَا حَاذَى بِهِ وَكَبَّرَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ.[1]

**ترجمه**: دزبير بن عربي نه روايت دي يو كس دابن عمر رضي الله عنهما نه دحجر اسود دښكلولو باره كي تپوس اوكړو نو هغوئ په جواب كي اووئيل ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم لره ددي په مسه كولو او ښكلولو باندي ليدلي وو هغه اووئيل دا راته اووايه كه چري زه حجر اسود ته په رسيدو كي مغلوب شم او په رش كي ګير شم نو مالره څه كول پكار دي؟ ابن عمر په جواب كي اووئيل دا اګر مګر دي په يمن كي پريږده مانبي كريم صلي الله عليه وسلم لره ددي په ښكلولو او مسح كولو ليدلي دي.

دا هغه زبير بن عربي دي دچانه چي حماد بن زيد نقل دروايت كړي دي دي دكوفي اوسيدونكي دي او كنيه يي ابوسلمه ده دانس بن مالك او نورو صحابه كرامو نه يي نقل دروايت كړي دي او ددوئ نه سفيان ثوري او بعضو نورو اهل علمو نقل دروايت كړي دي، امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي او دهغوئ نه دا په بل سند باندي هم مروي دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي هغوئ دحجر اسود ښكلول مستحب ګڼړي او كه ښكلول يي ممكن نه وي او يو كس هلته رسيدلي نشي نو دا دي په خپل لاس باندي مسح كړي او دا دي خپل لاس ښكل كړي او كه چري دي لاس مسح كولو ته هم نشي رسيدي نو كله چي ديته مخامخ كيږي دي طرف ته دي خپل ځان متوجه كړي او الله اكبر دي اووائي دا دامام شافعي قول دي.

*****************

## ٣٨_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّهُ يَبْدَأُ بِالصَّفَا قَبْلَ الْمَرْوَةِ

### سعي به اول دصفا نه شروع كوي مخكي دمروه نه

٨٦٢_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "حِينَ قَدِمَ مَكَّةَ طَافَ بِالْبَيْتِ سَبْعًا وَأَتَى الْمَقَامَ فَقَرَأَ: "وَاتَّخِذُوا

[1] _ البخاري في الحج ٦٠ (١٦١١) ، سنن النسائي في الحج ١٥٥ (٢٩٤٩) . (تحفة الأشراف : ٧٤١٩) . مسند احمد (٢ في ١٥٢)

مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى (البقرة:١٢٥) " فَصَلَّى خَلْفَ الْمَقَامِ، ثُمَّ أَتَى الْحَجَرَ فَاسْتَلَمَهُ، ثُمَّ قَالَ: " نَبْدَأُ بِمَا بَدَأَ اللَّهُ بِهِ "، فَبَدَأَ بِالصَّفَا وَقَرَأَ: " إِنَّ الصَّفَا وَالْمَرْوَةَ مِنْ شَعَائِرِ اللَّهِ سورة البقرة آية ١٥٨ ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُ يَبْدَأُ بِالصَّفَا قَبْلَ الْمَرْوَةِ، فَإِنْ بَدَأَ بِالْمَرْوَةِ قَبْلَ الصَّفَا لَمْ يُجْزِهِ وَبَدَأَ بِالصَّفَا، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِيمَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ، وَلَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ حَتَّى رَجَعَ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِنْ لَمْ يَطُفْ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ حَتَّى خَرَجَ مِنْ مَكَّةَ، فَإِنْ ذَكَرَ وَهُوَ قَرِيبٌ مِنْهَا رَجَعَ فَطَافَ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ، وَإِنْ لَمْ يَذْكُرْ حَتَّى أَتَى بِلَادَهُ أَجْزَأَهُ وَعَلَيْهِ دَمٌ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنْ تَرَكَ الطَّوَافَ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ حَتَّى رَجَعَ إِلَى بِلَادِهِ فَإِنَّهُ لَا يُجْزِيهِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، قَالَ: الطَّوَافُ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ وَاجِبٌ لَا يَجُوزُ الْحَجُّ إِلَّا بِهِ. ([1])

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم چي كله مكي ته راغلو نو دبيت الله نه يي اوه چكرونه اولگول او دا ايت يي اولوستلو ''واتخذوا من مقام ابراهيم مصلي'' يعني مقام ابراهيم لره يي دمونځ ځاي اوګرځولو يعني دي كي مونځونه كول پكار دي (البقره ١٢٥) بيا يي دمقام ابراهيم نه شاته مونځ اوكړو او بيا حجر اسود ته راغي او ددي استلام يي اوكړو او بيا يي اوفرمائيل مونږ به سعي دهغه ځه نه شروع كوو دكوم نه چي الله تعالي شروع كوي او كه چا دصفا په ځاي دمروه نه سعي شروع كړه نو دا سعي به مقبول نه وي او دوباره به بيا دصفا نه سعي شروع كوي په اهل علمو كي په دي باره كي اختلاف دي چي چا دبيت الله طواف اوكړو او دصفا او مروه مينځ كي يي سعي پريخوده ترډي چي واپس كور ته لاړو بعضي اهل علم وائي چاچي صفا مروه مينځ كي سعي اونكړه ترډي چي دمكي نه بهر اووتلو او بيا ورته راياد شو او مكي ته نژدي وي نو واپس دي راشي او په صفا مروه كي دي سعي اوكړي او كه ده ته ترډي پوري راياد نشول چي خپل ملك ته واپس اورسيدو نو دا به دده دطرفه كافي وي ليكن دم به ورباندي لازم وي او همدا د سفيان ثوري قول دي بعضي علماء وائي كه چا دصفا مروه مينځ كي سعي پريخوده ترډي چي خپل ملك ته ورسيدو نو دا به دده

[1] ـ مسلم في الحج ١٩ (١٢١٨)، سنن ابي داود في الحج ٥٧ (١٩٠٥)، والحروف ١ (٣٩٦٩)، سنن النسائي في الحج ١٣٩ (٢٩٣٢)، ١٦٣ (٢٩٦٣، ٢٩٦٥)، و١٦٣ (٢٩٦٦)، و١٤٣ (٢٩٧٧)، سنن ابن ماجه في الإقامة ٥٦ (١٠٠٨)، والمناسک ٢٩ (٢٩٥١)، و٨٣ (٣٠٧٣)، (تحفة الأشراف: ٢٥٩٣ و٢٥٩٥ و٢٥٩٦)، مسند احمد (٣ في ٣٢٠)، سنن الدارمي في المناسک ١١ (١٨٣٦)، وانظر ما يأتي برقم: ٨٥٧ و٨٦٢ و٢٩٦٧)

دپاره کافي نه وي دا دامام شافعي قول دي شافعي وائي دصفا مروه مينځ کي سعي واجب ده ددينه بغير حج درست نه دي.

**تشريح: دسعي دابتداء طريقه**

کله چې د طواف قدوم نه فارغ شي نواول به د صفا مروه په مينځ کي سعي اوکړي او صفا ته به اوخيژي،اوبيت الله ته به مخ کړي،اوتکبير او،لااله الاالله، به اووائي،اوپه رسول پاک صلي الله عليه وسلم به درود اووائي،او لاس دې اوچت کړي،دخپل حاجت دپاره دې د الله تعالى نه دعا اوغواړي.

فقهاء وائي چې په صفاغونډئ به دومره خيجي چې بيت الله دده نظر ته مخامخ راشي. حکه چې په صفا باندې د ختلونه مقصود د بيت الله استقبال دي اودا مقصود به هم په دې صورت کي حاصليږي.

صفاطرف ته د تللو دپاره حاجې ته اختيار دې چې دکومې دروازې نه غواړي،اودې خي،او نبی کريم صلي الله عليه وسلم د باب بنی مخزوم نه وتلې وو.

باب بنی مخزوم ته باب صفا هم وائی،ددې دروازې نه د نبی کريم صلي الله عليه وسلم وتل په دې وجه وو چې دا دروازه د صفا غونډئ ته ډيره نزدې ده نو ددې دروازې نه به وتل مستحب وی، سنت به نه وی لکه چې امام شافعی (رحمه الله) د باب صفا نه وتلو ته سنت وائی.(عنايه، فتح القدير).

****************

## ٣٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي السَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

### صفا مروه مينځ کي دسعي کولو بيان

٨٦٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "إِنَّمَا سَعَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا. وَالْمَرْوَةِ لِيُرِيَ الْمُشْرِكِينَ قُوَّتَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي يَسْتَحِبُّهُ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنْ يَسْعَى بَيْنَ الصَّفَا. وَالْمَرْوَةِ، فَإِنْ لَمْ يَسْعَ وَمَشَى بَيْنَ الصَّفَا. وَالْمَرْوَةِ رَأَوْهُ جَائِزًا.[1]

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٧٤١). مسند احمد (١/ ٢٥٥)

**ترجمه** : عبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبيت الله طواف اوکړو او صفا او مروه مينځ کي يي سعي اوکړه تردي چي مشرکانو ته خپل قوت ښکاره کړي شي

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعائشه، ابن عمر، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او اهل علم هم ديته مستحب وائي چي صفا مروه مينځ کي سعي کول ضروري دي او که څوك سعي اونکړي بلکي صفا مروه مينځ کي په عام رفتار لاړ شي نو علماء دا جائز ګڼړي.

**تشريح**: د صفا نه دې مروه طرف ته راکوز شی،اوډير په آرام دې روان وی،بيا چی کله بطن وادی ته اورسی نود ميلين اخضرين سره دې منډه اووهی،بيا دې په آرام سره روان وی،تردې چی مروه ته اورسی،اوپه هغې دې اوخيژی،اوهغه شان اعمال دې اوکړی،څنګه چی ئې په صفا کړی وو، ځکه چی منقول دی چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم د صفا نه راکوز شو،او په آرام سره مروه طرف ته روان وو،اوپه بطن وادی کي ئې منډه اووهله چی بيا کله د بطن وادی نه تير شو نومروه ته اوختلو،اود دې دوارو په مينځ کي ئې اوه چکرې اولګولې.

دصفا نه مروه ته تلل يو شوط دې اوامام طحاوی (رحمه الله) وائی چی د صفا نه مروه ته تلل اوبيا واپس مروه ته راتلل دواړه يو شوط دې خو اصح قول هغه دې کوم چی صاحب د هدايه ذکرکړې دې ځکه چی د رسول پاك صلي الله عليه وسلم دحج د ناقلينو ټولو راويانو په دې باندې اتفاق دې چی رسول الله صلي الله عليه وسلم د صفا اومروه په مينځ کي اوه چکرې لګولي وې،اود امام طحاوی (رحمه الله) د بيان مطابق د اوه په ځائې څوارلس اشواط جوړيږی.(طحاوي،ابن همام)

****************

٨٦٤ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ جُمْهَانَ، قَالَ: رَأَيْتُ ابْنَ عُمَرَ يَمْشِي فِي السَّعْيِ، فَقُلْتُ لَهُ: " أَتَمْشِي فِي السَّعْيِ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ، قَالَ: لَئِنْ سَعَيْتُ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْعَى، وَلَئِنْ مَشَيْتُ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْشِي وَأَنَا شَيْخٌ كَبِيرٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ نَحْوَهُ. [1]

---

[1] ـ ابي داود في الحج ٥٦ (١٩٠٣) . سنن النسائي في الحج ١٧٣ (٢٩٧٩) . سنن ابن ماجه في المناسك ٤٣ (٢٩٨٨) . (تحفة الأشراف: ٧٣٧٩) . مسند احمد (٢ف/٥٣)

**ترجمه** : دکثیر بن جهمان بیان دي فرمائي چي ماعمر رضي الله عنه لره په سعي کي په عام رفتار کولو ليدلي وو ما ورته اووئيل ايا تاسو صفا مروه په سعي کي په عام رفتار سره ځئ (يعني منډه نه وهئ) نو هغوئ په جواب کي اووئيل که چري زه منډه اووهم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم مي په منډو کولو هم ليدلي دي او که دمنډي کولو نه بغير په عام رفتار خم نو په دي حالت کي مي هم رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي دي او زه خو اوس ډير بوډا يم.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، دسعيد بن جبير په واسطه دابن عمر رضي الله عنهما نه هم ددي يو هم معني روايت مروي دي.

****************

## ٤٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الطَّوَافِ رَاكِبًا

### په سورلئ دسوريدو په حالت کي طواف کولو بيان

٨٦٥ـ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الصَّوَّافُ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "طَافَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى رَاحِلَتِهِ فَإِذَا انْتَهَى إِلَى الرُّكْنِ أَشَارَ إِلَيْهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَأَبِي الطُّفَيْلِ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يَطُوفَ الرَّجُلُ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ رَاكِبًا إِلَّا مِنْ عُذْرٍ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم پخپله سورلئ دسوريدو په حالت کي طواف اوکړو او کله چي به حجراسود ته رارسيدو اشاره به يي ورته کوله.
امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دجابر، ابوالطفيل او ام سلمه رضي الله عنها نه هم احاديث وارد دي، داهل علمو يو جماعت دبيت الله طواف او په صفا او مروه کي سعي کول د سوريدو په حالت کي مکروه ګنړلي دي مګر دا چي څوک معذور وي نوباك نشته امام شافعي هم په دي باندي قول کړي دي.

**تشريح** : مذاهب دفقهاؤ:

---

[1] ـ البخاري في الحج ٦١ (١٦١٢) ، و ٦٢ (١٦١٣) ، و ٧٤ (١٦٣٢) . والطلاق ٢٢ (٥٢٩٣) . سنن النسائي في الحج ١٦٠ (٢٩٥٨) . (تحفة الأشراف : ٦٠٥٠)

داامام ابو حنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد طواف زيارت پيدل كول ضروري دي او كه دعذر نه بغير څوك دسوريدو په حالت كي طواف زيارت اوكړي نو دم به وربانديواجب وي.
مګر نن سبا دسوريدو په حالت كي دطواف كولو دري شكلونه دي اول دادي چي دحرم نه بهر بعضي خلق اوسيږي چي په څاروي باندي خلق سوروي او طواف وربانديكوي او هغوئ دا كار په مزدورئ كوي. دويم شكل دادي چي بعضي خلق په ويل چير طواف اوكړي. دريم څوك په شا باندي دطواف دپاره ګرځول كيږي. دا دري واړه شكلونه دسورلئ دي دعذرنه بغير داسي كول د امام ابوحنيفه او مالك رحمهما الله په نزد دم واجبوي.
او داامام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نزد طواف زيارت پيدل كول سنت دي كه څوك دعذر نه بغير هم دسوريدو په حالت كي طواف كوي نو جائز دي.
امام شافعي او احمد رحمهما الله وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته هم څه عذر نه وو او بيا يي په سورلئ باندي طواف كړي دي دوئ ددينه دا استدلال كوي چي بغير دعذر نه هم جائز دي.

****************

## ٤١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الطَّوَافِ

### دطواف دفضائلو بيان

٨٦٦ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ يَمَانٍ، عَنْ شَرِيكٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ طَافَ بِالْبَيْتِ خَمْسِينَ مَرَّةً، خَرَجَ مِنْ ذُنُوبِهِ كَيَوْمِ وَلَدَتْهُ أُمُّهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، سَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: إِنَّمَا يُرْوَى هَذَا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَوْلَهُ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي پنځوس خله دكعبي طواف اوكړو نو دي به دخپلو ګناهونو نه داسي پاك شي لكه د اول ځل دمور نه دپيدائش په وخت كي دي څنګه پاك وو.
امام ترمذي وائي په دي باب كي د انس . او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دابن عباس حديث غريب دي ما داامام بخاري نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو نو ويي وئيل دا خو دابن عباس نه دهغه دقول روايت نقل كړي شوي دي (يعني موقوف).

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٥٢١)

**تشريح** : د طواف اقسام:

**طواف په دري قسمه وي:**

اول: فرض طواف اوداد حج او عمري رکن او ضرري جزء دي .

دويم: واجب طواف دي دا طواف قدوم او د رجوع دي (داولني زيارت په وخت کي او دواپسئ په وخت کي طواف کول).

دريم: ددي دواړو نه علاوه هر طواف نفل دي دکوم دپاره چي هيڅ وخت مقرر نه دي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي دعبد مناف اولاده په تاسو کي چي څوك دچا دامورو اختيار مند وي (يعني دحکومت کوم رکن وي يا په حکومت کي داخل وي) نو دشپي دي په هر وخت کي خلق دبيت الله دطواف نه نه منع کوي.

(رواه الشافعي واصحاب السنن وابن حبان والدارقطني والحاکم عن جبير بن مطعم وصححه).

دا حديث ترمذي په بل سند سره دجابر رضي الله عنه نه بيان کړي دي مګر دا روايت معلول دي دارقطني دابن عباس په روايت سره هم بيان کړي دي او ابو نعيم په تاريخ اصبهان کي او خطيب په تلخيص کي په يو سندسره چي ابن عباس ته يي رسولي دي مګر دا سلسله دسند هم مجروح ده ، ابن عدي په حواله دسعيد بن راشد دعطاء نه دابو هريره بيان نقل کړي دي .

**مسئله** : دعروه بن زبير بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم حج کړي دي او دحج تفصيل يي ماته ام المومنين عائشه رضي الله عنها بيان کړي دي چي مکي ته درسيدو نه پس يي دهر څه نه مخکي اودس اوکړو او بيايي طواف اوکړو اوپدغه وخت کي يي کومه عمره نه وه کړي. بياچي ابوبکر حج اوکړو نو دهر څه نه مخکي يي دکعبي طواف اوکړو او پدغه وخت کي هم عمره کول نه وو عمره يي ددينه پس کړي وه او بيا عثمان رضي الله عنه همداسي اوکړل (متفق عليه).

دابن عمر رضي الله عنه بيان دي رسول الله چي مکي ته راغي دټولو نه مخکي يي چي د حج يا عمري کوم طواف کړي وو په هغه طواف کي يي اولني دري چکرونه په تيزئ سره کړي وو او باقي څلور چکرونه يي په درميانه رفتار سره کړي وو او بيايي دوه سجدي اوکړي او بيا يي دصفا مروه په مينځ کي سعي اوکړه (متفق عليه).

امام مالك دعروه بن زبير دروايت نه پدي خبره استدلال کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يواځي حج کړي وو خکه چي پدي حديث کي راغلي دي چي بيا يي عمره نه وه کړي او دطواف قدوم وجود دمذکوره دواړه حديثونو نه ثابت دي خکه چي په دواړه حديثونو کي داسي دي چي دهر څه نه مخکي رسول الله طواف اوکړو او دا روايت هم صحيح دي چي رسول

الله فرمائيلي دي دخپلو مناسکو دادا کولو طريقي زما نه زده کړئ او هم ددي حکم په وجه طواف قدوم واجب شوي دي ددينه علاوه دا خبره هم ده چي په اتفاق دعلماؤ سره دقدوم نه پس دصفا مروه په مينځ کي سعي کول جائز دي او په صفا مروه کي سعي کول په اجماع سره واجب دي او په سعي کولو سره طواف کول هم لازميږي دطواف نه پس سعي کول پکار وي نو پدي وجه طواف هم واجب کيدل پکار دي ځکه چي هيڅ يو واجب دنفلو تابع نه وي همدا وجه ده چي دمکي داوسيدونکو دپاره دطواف زيارت نه مخکي دصفا مروه په مينځ کي سعي جائز نه ده ځکه چي داهل مکه دپاره قدوم نشته او دطواف نه پس په طور دنفل سعي جائز نه ده

دمحدثينو پدي کي اختلاف دي چي مکي ته يي د داخليدو نه پس صرف يو طواف کړي وو (يعني طواف قدوم) او که دوه طوافونه يي کړي وو يو طواف قدوم او دويم دعمري طواف .

(١) دجمهورو فقهاؤ او محدثينو قول دادي چي يو طواف يي کړي وو.

(٢) دامام ابو حنيفه قول دي چي دوه طوافونه يي کړي وو.

دجمهورو دقول تائيد دبخاري په بيان کړي حديث سره کيږي کوم چي دابن عباس نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مکي ته راغي او طواف يي اوکړو او په صفا مروه کي يي سعي اوکړه او بيا دطواف کولو دپاره کعبي ته ورنزدي شوي هم نه دي تردي چي دعرفي نه واپس شوي دي .

په بخاري او مسلم کي دابن عمر رضي الله عنه نه دحج واقعه نقل شوي ده ، په کوم کال چي حجاج په عبدالله بن زبير دحملي دپاره لښکر راوستلي وواوګيره يي وربانديي اچولي وه په دغه کال ابن عمر رضي الله عنهما دحج اراده کړي وه ، عرض اوکړي شو چي خلق دجنګ او جدال په حالت کي دي او مونږ ته خطره ده چي هغوئ به تا دحج نه منع کړي ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل ""لقد کان لکم في رسول الله اسوة حسنة" که چرې زه منع کړي شوم نو زه به هغه عمل کوم کوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم کړي وو او زه تاسو لره ګواه کوم چي ما پخپل ځان عمره واجب کړي ده او بيا روان شو کله چي بيداء مقام ته ورسيدو نو ويي فرمائيل دحج او عمري يو حالت دي او زه تاسو ګواه کوم چي مادعمري سره په ځان حج هم واجب کړي دي او بيا يي په قديد کي يوه قرباني هم واخستله او دځان سره يي بوتله او ديوم النحر نه مخکي يي نه قرباني اوکړه او نه يي احرام پرانيستلو او نه يي سر اوخريلو او نه يي ويخته کم کړل او نه يي دکوم داسي کار ارتکاب اوکړو چي په حالت د احرام کي ممنوع وي کله چي داختر ورځ شوه نو قرباني يي اوکړه او سر يي اوخريلو او ګمان يي اوکړو چي په اولني طواف سره زما حج هم ادا شو او عمره هم ابن عمر رضي الله عنهما اوفرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم هم داسي کړي وو .

په بل روايت کي راغلي دي ابن عمر رضي الله عنهما به فرمائيل چاچي حج او عمره شريك كړل او په يو خاي يي ادا كړل دهغه دپاره صرف يو طواف كافي دي (اوترڅو چي يي دواړه ادا كړي نه وي احرام دي نه پرانيخي) او چي دواړه ادا كړي نو ورسره دي احرام هم پرانيخي.
دمسلم په روايت کي دي چي كله كعبي ته ورسيدو نواوه چكرونه يي اووهل او په صفا مروه كي يي اوه چكرونه اووهل او ددينه زيات څه يي اونكړل او دا گمان يي اوكړو چي بس همدا كافي دي.
احنافود علي رضي الله عنه دعمل نه استدلال كړي دي چي هغه حج او عمره په يو خاي ادا كړل او ددواړو دپاره يي جدا جدا دوه طوافونه اوكړل او جدا جدا ي ددواړو دپاره دوه خله سعي اوكړله او ويي فرمائيل مارسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي كولو ليدلي دي (رواه الدارقطني والنسائي بطرق).
امام محمد په كتاب الاثار كي دابو حنيفه رحمة الله عليه نه موقوف روايت نقل كړي دي چي علي رضي الله عنه فرمائيلي دي كله چي دحج او عمري دپاره په يو خاي احرام اوتړئ نو ددواړو دپاره دوه طوافونه اوكړئ او په صفا مروه كي ددواړو دپاره دوه خله سعي اوكړئ.
طحاوي پخپل سند سره روايت بيان كړي دي چي علي او ابن مسعود رضي الله عنهما به فرمائيل قِران كونكي دي دكعبي دوه طوافونه اوكړئ او په صفا مروه كي دي دوه خله سعي اوكړي.
دحافظ ابن كثير قول دي دعلي او ابن مسعود رضي الله عنهما نه مرفوعا ددي حديث دروايت تمام سندونه ضعيف دي مگر موقوفاً كوم چي طحاوي په مختلفو سندونو سره دعلي او ابن مسعود رضي الله عنهما قول گرځولي دي هغه په مجموعي لحاظ سره دقبول قابل دي او په هغي كي څه ضعف نشته.
زه وايم دا حديث اگر كه صحيح هم ثابت شي بيا هم ددينه دا خبره نه ثابتيږي چي كله رسول الله مكي ته ورسيدو نو مني ته دتلو نه مخكي هغه دكعبي دوه طوافونه اوكړل يو طواف قدوم دحج دپاره او دويم دعمري دپاره بلكي دحديث مطلب صرف دادي چي درسول الله دعمري دپاره دكعبي طواف اوكړو او ددي دپاره يي سعي اوكړله او دا عمره يي مني ته دتلو نه مخكي كړي وه او بيايي دقربانئ په ورځ دحج دپاره طواف او سعي اوكړه ، همدا مطلب د عمران بن حصين دحديث دي چي رسول الله دوه طوافونه او دوه خله سعي كړي وه (رواه الدارقطني).
په كوم قوي ياضعيف روايت كي دا نشته چي دعمري دطواف نه پس رسول الله طواف قدوم كړي وي صرف په مسند ابي حنيفه كي د ضبي بن معبد په روايت سره داسي راغلي دي دضبي بيان دي چي زه دجزيري نه دحج قِران دپاره روان شوم او د سليمان بن ربيعه اوزيد بن صوحان په خوا كي تير شوم زه چي ورسره يو خاي شوم نو هغوئ داسي وئيل لبيك بحجة وعمرة دوئ

دوارو چي زما لبيك واوريدو نو په دوئ كي يو كس اووئيل دا كس داوښ نه هم زيات بي لاري دي او دويم كس هم ددي پشان خبره اوكړه ليكن زه مسلسل مصروف وم او حج مي ادا كولو خو بيا زه اميرالمؤمنين عمر بن الخطاب ته لاړم، راوي ددينه مخكي ورته تفصيل بيان كړي دي دكوم په اخر كي چي داسي دي چي اميرالمؤمنين دده نه تپوس اوكړو چي بيا تا څه اوكړل ما عرض اوكړو ما برابر خپل لبيك جاري اوساتلو او بيامي دعمري دپاره طواف اوكړو او سعي مي اوكړه او بيا مي دوباره داسي اوكړل دخپل حج دپاره او بيا زه داحرام په حالت كي پاتي شوم او هلته مي هغه اعمال اوكړل كوم چي نور حاجيان كوي تردي چي اخري نسك يعني ركن هم پوره شو، امير المؤمنين ووئيل تادرسول الله په سنت عمل كړي دي ، مسند ابو حنيفه قابل داعتماد نه دي ددي دمؤلف او دامام ابو حنيفه په مينځ كي ډير مجهول او غير معروف راويان دي دده احاديث دبخاري دمروياتو په مقابل كي چي دابن عباس نه نقل شوي دي پيش كيدي نشي په كومو كي چي دا صراحت دي چي دعرفي نه دواپسئ پوري رسول الله بيا كعبي ته نه دي ورنږدي شوي.

اوكله چي دا خبره منلي شوي ده چي رسول الله قران كړي وو او علاوه دعمري دطواف نه يي دحج طواف قدوم نه وو كړي نو معلومه شوه چي طواف قدوم نه ركن دي نه ركن دحج دي او نه په مستقل طور واجب دي بلكي دتحية المسجد دمونځ پشان سنت دي كوم چي دنورو واجباتو يا سنتو په ضمن كي دا سنت پوره كيږي كله چي رسول الله مكي ته ورسيدو او دعمري دپاره يي طواف اوكړو نو دطواف قدوم په ځاي دا طواف كافي شو.

مسئله : نفلي طواف دنفلي مونځ پشان په نذر سره واجب كيږي او په پورتني ايت كي دطواف نه دحج طواف زيات دعلماؤ په اتفاق سره مراد دي طواف زيارت داركانو دحج نه دي او يو ضروري ركن دي او پدي باندي د علماؤ اجماع ده باقي هيڅ يو طواف دحج ركن نه دي.

**مسئله** : طواف صدر هم په اتفاق دامت سره دحج ركن نه دي امام ابو حنيفه ، امام احمد، او صاحبينو په نزد واجب دي او ديو روايت مطابق دامام شافعي هم دا قول دي ، امام ابو حنيفه دي لره دحج دواجباتو نه شماري او امام محمد يي مستقل واجب ګڼړي ، كه څوك طواف وداع اوكړي او بيا په څه وجه په مكه كي پاتي شي او بيا دڅه وخت نه پس واپس شي نو دمكي دپريخودو په وخت كي به دده دپاره دامام ابو حنيفه په نزد طواف وداع كول ضروري نه دي ليكن دامام محمد قول دي چي دوباره به طواف رخصت كوي، مسافر چي كله دمكي نه واپس كيږي نو په هغه باندي طواف وداع كول لازم دي.

دامام مالك په نزد طواف صدر سنت دي او ديو روايت مطابق دامام شافعي هم دا قول دي، طواف صدر دزنانه دبيمارئ ياپه طاقت كي دكوم بل ركاوټ پيدا كيدو په وجه ساقط كيږي.

دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي خلق به دحج نه پس په هره طريقه واپس كيدل رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ترڅو چي مو دبيت الله ملاقات نه وي كړي ترهغې به دمكي نه نه وځئ (رواه احمد)

د دارقطني درروايت الفاظ دادي چي خلق به دمنئ نه اووتل او پخپله مخه به لاړل رسول الله ورته حكم اوكړو چي دهر يو كس اخري ملاقات دبيت الله سره كيدل پكار دي او بيمارو ښځو ته يي هم اجازت وركړي وو ، دمسلم روايت پدي الفاظو دي په تاسو كي دي هيڅوك نه وځي ترڅو چي دده اخري ملاقات دبيت الله سره نه وي شوي ، دمتفق عليه روايت الفاظ دادي رسول الله خلقو ته حكم اوكړو چي دوئ دي په اخر كي دبيت الله زيارت كوي مگر دبيمارو ښځو دپاره يي په حكم كي تخفيف اوكړو .

دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي څوك چي دكعبي حج كوي دهغه اخري عمل دبيت الله طواف كول پكار دي او بيماري ښځي ددينه استثني دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته اجازت وركړي دي (رواه الترمذي وقال حديث حسن صحيح).

دعبدالله بن اوس بيان دي چي پخپله مي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل يي هر څوك چي ددي كور حج يا عمره كوي نو دده اخري ملاقات ددي كور سره كيدل پكار دي (رواه الترمذي).

امام ابو حنيفه ددي اخري حديث نه دطواف صدر دوجوب دپاره استدلال كړي دي او واجب يي گرځولي دي ځكه چي پدي حديث كي من حج البيت او اعتمر، راغلي دي .

زه وايم پدي حديث كي او اعتمر لفظ هم راغلي دي نو بيا خو طواف صدر په عمره كي هم واجب كيدل پكار دي ليكن ددي هيڅوك قائل نه دي .

دامام احمد قول دي لا ينفروا احد لفظ عام دي نو پدي وجه دطواف صدر واجب كيدل ضروري دي، دامام ابو حنيفه دمسلك په بنا مطلق په مقيد محمول كيدل ددينه نه لاز ميږي ځكه چي تقيد په سبب باندي وارد دي لكه چي په حديث مبارك كي دي دي لره ادا كړئ دهر ازاد او غلام دطرف نه په بل حديث كي دي چي دي لره ادا كړئ دهر مسلمان او ازاد او غلام دطرف نه په دويم حديث كي دمسلمان لفظ مذكور دي او په اولني كي نشته نولا محال مطلق به په مقيد حمل كيږي ليكن دطواف صدر په حديث كي داسي نه ده بلكي قيد په سبب باندي وارد دي دمكي نه مطلق وتل موجب دطواف دي او دحج نه پس دمكي نه وتل هم موجب دطواف دي او په دواړو كي هيڅ تعارض نشته .

****************

٨٦٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، قَالَ: كَانُوا يَعُدُّونَ عَبْدَ اللهِ بْنَ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ أَفْضَلَ مِنْ أَبِيهِ، وَلِعَبْدِ اللهِ أَخٌ يُقَالُ لَهُ: عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ أَيْضًا. (1)

**ترجمه** : ايوب سختياني واي خلقو به عبدالله بن سعيد بن جبير دهغه دپلارنه افضل ګڼړلو او دعبدالله يو ورور دي چي نوم يي عبدالملك بن سعيد بن جبير دي هغوئ هم دده نه نقل درروايت کړي دي.

**تشريح** : دکعبي دطواف څه شرطونه او څه ارکان دي څه واجبات او څه سنت دي او څه اداب او مستحبات دي چي تفصيل يي مندرجه ذيل دي .

(١) **دطواف شرائط**: دطواف دپاره نيت شرط دي بلکي دهر مستقل عبادت دپاره نيت شرط دي او په شرعي نصوصو سره هم دا مسئله ثابته ده او په همدي دامت اجماع ده .

**د طواف دپاره د نيت شرطيت**

دطواف زيارت دپاره دمطلق طواف نيت کافي دي ، دفرض طواف نيت ضروري نه دي .

سوال: دوقوف عرفي پشان طواف زيارت هم دحج يو ضروري رکن دي او په عرفات کي د ودريدو نيت ضروري نه دي البته په اودو يادبيهوشئ په حالت کي که په عرفات کي قيام اوشي يا په مختلفو غرونو اودريدل اوشي په کوم کي چي دعرفي غرونه هم وي او وقوف کونکي ته معلومه نه وي چي دا دعرفات غر دي نو دحج رکن ادا کيږي ، عروه بن مضرس عرض اوکړو اي دالله رسوله زه دبني طئ دغرونو نه راغلي يم ما خپله اوښه ستړي کړي ده او پخپله مي هم ډير تکليف برداشت کړي دي اوستړي شوي يم ، په الله تعالي قسم ماهيڅ يو غر داسي نه دي پريخودلي چي په هغي مي دوقوف دپاره قيام نه وي کړي ايا زما حج به ادا شي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچي زمونږ سره دا مونځ يعني دسحر دجمعي په عرفات کي بيامونډو او ددينه مخکي دشپي يادورځي عرفات ته رسيدلي وي دهغه حج پوره شو «رواه ابو داود »

نو که دطواف زيارت دپاره نيت شرط وي نو بغير دتعين دفرضو دمطلق طواف نيت کافي کيدو څه معني ده دفرضو دتعين نيت خو دهر هغه فريضي داداکولو دپاره شرط دي دکومي دپاره چي وخت ظرف وي او معيار نه وي لکه مونځ .

جواب : ددي مقام تحقيق دادي چي کله يي داحرام په شکل کي دحج نيت کړي وي نو پدي طريقي سره دحج دارکانو نيت کيږي نو اوس که چري ده دويم نيت دمناسکو په خلاف نه وي

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٣٥٢)

کړي نو سابقه نیت به یي معتبر ګڼرلي کیږي او دا نیت به یي دهر رکن د ادا کولو په وخت کي معتبر ګڼرلي کیږي دهر رکن دپاره دنیت تجدید شرط نه دي لکه چي دمونځ دپاره ابتدائي نیت کافي وي اودهر رکن د ادا کولو دپاره جدید نیت ته ضرورت نه وي مګر که کوم رکن دمستقل عبادت حیثیت لري لکه طواف او دطواف دوه رکعاتونه شول نو دداسي رکن د ادا کولو دپاره جدید نیت ته ضرورت دي او ددي رکن دشروع کولو په وخت کي مطلق نیت کافي دي مونځ وي اوکه طواف هر یو ددوئ نه دوه دوه حیثیتونه لري یو دمستقل عبادت کیدو او دویم دعبادت دجزء کیدو داولني حیثیت په اعتبار سره درکن دشروع کولوپه وخت کي ددي رکن د ادا کولو نیت لازمي دي او ددویم صورت په اعتبار سابقه ابتدائي نیت کافي دي کوم چي ده داحرام په وخت کي کړي دي مونږ دواړه صورتونه ملحوظ کړي دي دمستقل عبادت په حیثیت کي مستقل نیت او دعبادت دجزء کیدو په صورت کي ابتدائي سابقه نیت پس دشروع کولو په وخت کي مطلق نیت کافي دي ځکه چي دا عبادت دي او دعبادت دپاره مطلق نیت کافي وي او دطواف زیارت دتعین نیت ضروري نه دي ځکه چي طواف زیارت دعبادت جزء دي او هر یو عمل چي بذات خود عبادت نه وي بلکي دعبادت دجزء کیدو په وجه دي لره عبادت ګرځولي شوي وي لکه په عرفي کي قیام کولو او دصفا مروه په مینځ کي سعي کولو دپاره نیت ته ضرورت نشته بلکي داحرام ابتدائي نیت کافي دي .

قاضي ثناء الله پاني پتي دلته د مسئلي په عنوان بعضي ضروري مسائل بیان کړي دي چي د مقام دتقاضا او خاص مناسبت په وجه یي مونږ نقل کوو:

**مسئله** : که یو کس بل کس لره پخپله شا بار کړي وو اوپه همدي حالت کي یي طواف اوکړو نو دا به دیو څو صورتونو نه خالي نه وي او احکام به یي هم مختلف وي .

(۱) داچي حامل محرم نه وي او محمول محرم وي او حامل دمحمول دطواف نیت کړي وي او محمول هم دخپل طواف نیت کړي وي نو پدي شان سره دمحمول طواف ادا کیږي.

(۲) حامل محرم وي اومحمول محرم نه وي اوحامل دخپل طواف نیت کړي وي نو دده طواف په اتفاق داهل علمو صحیح دي.

(۳) داچي حامل او محمول دواړه محرمان وي حامل دمحمول دطواف نیت کړي وي نو صرف دمحمول طواف به کیږي او که دخپل طواف نیت یي کړي وي نو دده طواف به کیږي او که ددواړو دطواف نیت یي کړي وي نود امام شافعي په نزد صرف دحامل طواف کیږي اود امام ابوحنیفه په نزد که محرم حامل که خپل نیت کړي وي یایي ورسره دمحمول نیت هم کړي وي او محمول هم ورسره دخپل طواف نیت ورکړي نو ددواړو طواف کیږي ځکه چي ددواړو نیتونه پخپل خپل ځاي درست دي او څه تعارض پکي نشته .

**مسئله**: دطواف په شرائطو کي دحدث اکبر او اصغر نه هم پاك کيدل ضروري دي او دبدن اولباس او ځاي پاك والي هم لازم دي او دجهمورو په نزد ستردعورت هم لازم دي، دعائشه رضي الله عنها روايت مخکي تير شو چي مکي ته په داخليدو سره به رسول الله صلي الله عليه وسلم اول اودس اوکړو او بيا به يي طواف ادا کړو او دا به يي هم فرمائيل چي زمانه دحج طريقي زدکړئ.

دعائشه رضي الله عنها بيان دي زه دبيمارئ په حالت کي مکي ته راغلم رسول الله راته اوفرمائيل حاجيان چي څه کوي هغه ته هم کوه البته ترڅوچي پاکه شوي نه يي دکعبي طواف به نه کوي (متفق عليه).

دمسلم په روايت کي دپاکوالي په ځاي غسل لفظ راغلي دي ، دام المؤمنين بيان دي چي دمکي نه دروانيدو په ورځ صفيه رضي الله عنها بيماره شوه ..پدي حديث کي دي چي رسول الله اوفرمائيل چي ايا دي دقربانئ په ورځ طواف کړي دي ؟ عرض اوکړي شو هو نو ويي فرمائيل چي اوس روان شئ (څه باك نشته) متفق عليه.

دابو هريره رضي الله عنه بيان دي دحجة الوداع نه مخکي چي په کوم حج کي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبکر رضي الله عنه لره دحج د امارت دپاره راليږلي وو ددغه حج په موقعه دقربانئ په ورځ ابوبکر زه په خلقو کي ددي اعلان دپاره اوليږلم چي ددي کال نه پس به هيڅ يو مشرك حج ته نه راځي او نه به څوك په بربنډه طواف کوي (ددي حديث نه ستردعورت ضروري کيدل ثابتيږي) الله تعالي فرمائيلي دي "طهرا بيتي للطائفين" ددي عبارت نه دمکان دپاکوالي ضروري کيدل معلوميږي او دلباس اودجسم دتطهير حکم ددينه دلالتا په طريقه اولي معلوميږي خصوصا دحدث اکبر او اصغر نه دطهارت حکم خو په درجه اولي ددينه مستفاد دي ځکه چي دنجاست حقيقي نه دحدث مرتبه زياته اهمه ده په بعضي صورتونو کي دنجاست سره مونځ هم کيږي او بي اودسه مونځ ناجائز دي .

دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي الله تعالي خپل رسول ته حکم کړي دي چي "طهر بيتي للطائفين والعاکفين والرکع السجود" ددي ايت ذکر يي دصلات نه مخکي کړي دي ، ارشاد نبوي دي چي طواف دمونځ پشان دي خو صرف دومره خبره ده چي په طواف کي خبري کول جائز ګرځولي شوي دي او په مونځ کي دخبرو نه ممانعت راغلي دي او هر څوك که په طواف کي خبري کوي نو نيکي خبري دي کوي (رواه الحاکم في المستدرك وصححه والطبراني والبيهقي).

ترمذي، حاكم، دارقطني، ابن خزيمه ، ابن حبان او بيهقي دا حديث پدي الفاظو بيـان كړي دي چي دبيت الله طواف مونځ دي صرف دومره خبره ده چي پدي كي الله تعـالي خبري كول مباح كړي دي دا روايت ابن سكن صحيح ګڼلي دي.

دامام ابو حنيفه په نزد دنجاست حقيقيه نه طهارت سنت دي او دنجاست حكميه نه واجب دي او ستر دعورت هم واجب دي ددي په ترك كولو سره ګناه لازميږي ، كه چري په برښنډ حالت يادجنابت په حالت كي څوك فرض طواف اوكړي نو ديوي بدني قرباني كول به ورباندي لازم وي او كه بغير اودسه يې فرض طواف كړي وي نو يوه قرباني به كوي اګر كه دهر شي وي، همدارنګي غير فرضي طواف هم كه دجنابت يادبربنډوالي په حالت كي څوك اوكړي نو څه قرباني دي اوكړي (وړه وي اوكه لويه وي) او كه غير فرض طواف يې بي اودسه اوكړو نو نيم صاع غنم دي كوم مسكين ته په طور دكفاري وركړي.

دامام ابو حنيفه په نزد په مذكوره اشياؤ كي هيڅ يو څيز دطواف دپاره شرط نه دي ځكه چي په قران كي دمطلق طواف حكم راغلي دي او په كتاب الله دزيادت كولو معني حكم دكتـاب لره منسوخ كول دي او په اخبار احادو دكتاب حكم منسوخ كول دامام صاحب په نزد جائز نه دي پدي وجه مونږ هيڅ يو شرط لره لازمي فرض نشو ګرځولي مګر په احاديثو عمل كول لازم دي نو پدي وجه مذكوره امور په بعضي صورتونو كي واجب دي .

**مسئله**: دطواف زيارت يو ضروري شرط وخت هم دي چي دمقرر شوي وخت نه مخكي نه ادا كيږي او دوخت نه پس يې قضا راوړل په اجماع سره ضروري دي ، كه چري پخپله دخپلي كوتاهۍ په وجه طواف زيارت دمقرر وخت نه پس ادا كړي نو دامام ابو حنيفه په نزد پده قرباني كول واجب دي او دجمهورو مسلك ددي په خلاف دي او كه چري دكوم عذر په وجه مؤخر كولو ته ضرورت پيښ شو لكه دزنانوو بيماري يا دجابر طاقت دطرفه بندش وغيره نو بيا قرباني واجب نه ده .

دامام صاحب په نزد دطواف زيارت وخت دقربانۍ په ورځ دفجر صادق نه شروع كيږي اودجمهورو په نزد داختر دشپي دنيمي تيريدو نه پس شروع كيږي ، ځكه چي دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله زه دشپي نحر كولو ته ليږلي وم او مادسحر نه مخكي دجمرې رمي اوكړه او بيا مي طواف زيارت اوكړو (رواه الدارقطني).

ددي حديث سند ضعيف دي دسند په سلسله كي يې ضحاك بن عثمان راوي دي او قطان ده لره نرم ګرځولي دي او ددينه علاوه دا حديث دابن عباس درروايت خلاف هم دي په كوم كي چي راغلي وو چي رسول الله پخپلو متعلقينو كي كمزورو لره مخكي اوليږل او دا يې فرمائيلي وو چي دنمر ختو نه مخكي به رمي دجمراتو نه كوئ (رواه الترمذي وصححه).

ابو داود ، نسائي، طحاوي، او ابن حبان دحسن غربي په سند سره دا روايت بيان کړي دي او دا سلسله دروايت دحسن درجي ده ، ترمذي او طحاوي هم ددي تخريج کړي دي، ابوداود ، نسائي ، طحاوي، او ابن حبان په مختلفو سندونو نقل کړي دي او دبعضو سندونو تائيد يې په بعضو سره کيږي چي پدي طريقه د قوت درجي ته رسيږي پدي حديث کي د "فرمت الجمرة" نه پس ثم مضت فافاضت" راغلي دي يعني دنمر ختو نه مخکي يي جمره اوويشتله او ددينه پس يي طواف اوکړو ، پدي کي ددي خبري هيڅ ثبوت نشته چي طواف يي هم دنمر ختو نه مخکي کړي وو .

دطواف زيارت اخري وخت دايام تشريق د دويمي ورځي دغروب شمس پوري دي ، دا دامام ابو حنيفه قول دي ، په بعضي روايتونو کي راغلي دي چي انتهائي وخت يي ديوم النحر دغروب پوري دي ، دسورة براءت ايت "واذان من الله ورسوله يوم حج الاكبر" په تفسير کي مونږ ددي بيان کړي دي چي دجمهورو په نزد دطواف زيارت وخت صرف يوم النحر دي ددي مضمون مطابق دابن عمر رضي الله عنه مرفوع حديث ابو داود او حاکم بيان کړي دي اودعلي رضي الله عنه نه هم دا قول په يو روايت کي راغلي دي ، ابن جريج دمجاهد قول نقل کړي دي چي يوم الحج الأكبر نه دمني تمام ايام مراد دي دادسفيان ثوري قول هم دي دسفيان ثوري دا هم فرمائيلي دي چي يوم په معني دوخت او مودي راځي لکه يوم صفين ، يوم الجمل، يوم بعاث پدي تمامو الفاظو کي ديوم نه مراد پوره موده ده .

**مسئله:** دطواف يو شرط دامام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نزد ترتيب هم دي او دا قول دامام محمد هم دي ليکن دامام ابو ح: فه په نزد ترتيب شرط نه دي داکثرو احنافو په نزد سنت دي چي ترک کول يي مکروه دي ، صحيح خبره داده چي دامام صاحب په نزد ترتيب واجب دي دکوم په ترک کولو سره چي قرباني واجب کيږي ، رسول الله صلي الله عليه وسلم هميشه پدي ترتيب عمل کړي دي او دا يي هم فرمائيلي دي چي زما نه د خپلو حجونو طريقي زدکړئ ، پس که چري ترتيب شرط يا فرض کړي شي نو په کتاب الله به زيادت لازم شي ، دترتيب صورت دادي چي دحجر اسود خواته په رسيدو سره خپل مخ ورمخامخ کړي او طواف دي شروع کړي پدي شان سره چي تمام حجر اسود دده نه ښيئ طرف ته وي او بيت الله ورنه چپ طرف ته وي او ددي برعکس کول جائز نه وي .

**مسئله:** علماؤ پدي خبره اتفاق دي چي په مسجد کي دننه دمسجد ګيرچاپيره دي طواف نه کوي، همدا طريقه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په تواتر سره رارسيدلي ده او که چري څوک دمسجد نه ګير چاپير طواف اوکړي نو دا به دبيت الله طواف نشي ګڼړلي کيدي دمسجد

طواف به گنړلي كيږي دعرف او محاوري همدا شهادت دي پس په مسجد كي دننه طواف كول پكار دي. (مظهري)

## د طواف چكرونه

په طواف كي اوه چكرونه ضروري ركن دي دا عمل په هره زمانه كي شهرت لري او په مشهورو روايتونو كي پدي باندي صراحت هم شوي دي چي دچكرونو تعداد دمونځ دركعاتونو دتعداد پشان دي او دا شبهه دي څوك اونكړي چي واليطوافوا دامر صيغه ده او امر دمعمول به تكرار نه غواړي (يعني طواف يو ځل پوره دي) خبره داده چي مفهوم دامر نه دتكرار دفعل مقتضي وي او نه دنفي دتكرار او په متواتر نقل سره ثابته ده نو ځكه چكرونه اوه دايت دمفهوم نه نشي مخالف كيدي.

**مسئله:** دنورو اهل علمو په نزد د اوو نه په كمو چكرونو سره طواف نه پوره كيږي ، په طواف كي دچكرونو تعداد داسي دي لكه په مونځ كي چي دركعتونو تعداد دي ، پس كه چري دماسپخين يا ماښگر وغيره په مونځ كي يو ركعات هم كم اوشي نو مونځ نه پوره كيږي.

**مسئله:** حطيم دكعبي حصه ده پكار ده چي په طواف كي داخل كړي شي ، دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي درسول پاك صلي الله عليه وسلم نه مي تپوس اوكړو چي ايا دا ديوال دبيت الله حصه ده؟ نو ويي فرمائيل هو نو مابيا عرض اوكړو چي خلقو په بيت الله كي ولي شامل كړي نه دي نو ويي فرمائيل ستا دقوم سره دخرچي كمي وو (نوځكه دا حصه بهر پاتي شوي وه) ما عرض اوكړو چي دبيت الله دروازه يي ولي ايخودلي ده ويي فرمائيل داسي يي ځكه كړي دي چي چالره غواړي نو داخليدو ته به يي پريږدي او دچا په حق كي چي نه غواړي هغه لره به نه پريږدي (يعني په زبردستئ سره به څوك دننه نشي ورتلي) متفق عليه.

ترمذي او نسائي دعائشه رضي الله عنها بيان نقل كړي دي ما به په كعبه كي مونځ كول خوښول خو رسول الله زما لاس اونيولو او په حطيم كي يي داخله كړم او راته يي اوفرمائيل دلته مونځ كوه دا هم دكعبي يوه حصه ده ، دابو داود روايت هم ددي هم معني دي.

محققينو ليكلي دي چي حطيم خاص دكعبي حصه ده او اوږدوالي يي دشپږو گزو نه زيات دي، مسلم دعائشه رضي الله عنها په روايت سره ليكلي دي ارشاد نبوي دي كه چري ستادقوم دشرك زمانه ډيره نژدي تيره شوي نه وي نو ما به كعبه نړولي وه اودزمكي سره به مي برابر كړي وه او ددي دروازي به مي مشرق او مغرب طرف ته ايخودلي وي او دحجر اسود شپږ گزه زمكه به مي واپس پدي كي داخل كړي وه، دمسلم په روايت كي تقريبا اوه گزه راغلي دي، بخاري پخپل سند سره دجديد بن حازم نه هم دا روايت نقل كړي دي.

دیزید بن رومان بیان دي فرمائي زه موجود وم کله چي عبدالله بن زبیر بیت الله وران کړو او دوباره یي تعمیر کړو او حجر اسود یي دننه داخل کړو ما په اساس ابراهیم کي داوښ د کوپ په مقدار کاڼړي لیدلي دي ، دجریر بیان دي ما اندازه اولګوله تقریبا شپږ ګزه دحجر اسود زمکه وه .

دمجاهد قول دي چي ابن زبیر دحجر دطرفه شپږ ګزه زمکه په بیت الله کي شامل کړي وه.

**مسئله**: که چا په طواف کي حطیم بهر پریخودو نو دامام ابو حنیفه په نزد دده طواف ادا شو البته یوه قرباني به پیش کوي ځکه چي حطیم دبیت الله جزء کیدل په اخبار احاد سره ثابت دي «نو یدي وجه حطیم لره په طواف کي دننه کول واجب دي او دواجب دپریخودو تلافي قرباني کول دي ، حطیم لره دبیت الله جزء ګرځول په قطعي طور سره نشي کیدي ورنه په کتاب الله به دخبر واحد سره زیادت لازم شي او دا ناجائز دي.

دجمهورو په نزد به په حطیم کي طواف کول کافي نه وي ځکه چي په خبر واحد سره دهغوئ په نزد په کتاب الله زیادت جائز دي .

**مسئله**: داهل علمو په اتفاق سره دعذر په وجه طواف زیارت کول په سورلئ جائز دي او که عذر نه وي نو پیدل کول دامام ابو حنیفه په نزد واجب دي چاچي بغیر دعذر نه په سورلئ طواف اوکړو نو ترڅو چي په مکه کي وي دوباره طواف کول ورباندي ضروري دي او که دوباره طواف یي اونکړو نو قرباني کول ورباندي واجب دي .

دنورو اهل علمو په نزد پیاده طواف کول سنت دي واجب نه دي ، دابن عباس رضي الله عنهما بیان دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم داوښ په شا دسوریدو په حالت کي طواف اوکړو کله چي به رکن ته ورنږدي شو نو کوم څیز چي به یي په لاس کي وو په هغي به یي رکن ته اشاره کوله او الله اکبر به یي وئیل «متفق علیه».

دجابر رضي الله عنه بیان دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم داوښ په شا په صفا مروه کي چکر اولګولو او غرض یي دا وو چي خلق مي اوویني اوزه په خلقو کي واضحه ښکاره شم او دمسائلو تپوسونه رانه اوکړي «رواه مسلم».

دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم په حجة الوداع کي په اوښ سور شو اود کعبي طواف یي اوکړو او په هر چکر کي به یي رکن ښکلولو او دا خبره یي خوښه نه وه چي خلق د رکن نه په ډډه تیر شي .

احناف وائي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم داسي دبیمارئ په وجه کړي وو دابن عباس بیان دي رسول الله چي کله مکي ته راغلو نو دڅه بیمارئ شکایت یي لرلو نو یدي وجه یي

داوښ په شا طواف اوکړو او کله چي به رکن ته ورنژدي کېدو نو پخپله چوکه به يي رکن مسح کولو دطواف نه چي فارغ شو نو اوښ يي کېنولو او دوه رکعاته مونځ يي اوکړو «رواه ابو داود».
دجمهورو دطرفه احنافو ته دا جواب ورکړي شوي دي چي صرف دا احتمال چي رسول الله پدغه وخت کي څه بيمار وو د دعوي دثبوت دپاره کافي نه دي ، پاتي شو دابو داود روايت نو هغه خو ضعيف دي او په سند کي يي يزيد بن هارون راوي دي کوم چي قوي نه دي دده نه نقل کړي حديث قابل داستدلال نه وي ، امام شافعي دخپلي لاعلمئ اظهار کړي دي او وئيلي يي دي زه نه پوهيږم چي پدي حج کي رسول الله ته څه تکليف وو او که نه وو .
نفلي طواف دسورلئ په حالت کي دجمهورو په نزد بغير دکراهت نه جائز دي ليکن دامام ابو حنيفه دضابطي مطابق مکروه دي دجمهورو دليل دبخاري هغه روايت دي کوم چي په سورة الفتح کي مونږ بيان کړي دي چي رسول الله کله مکه فتح کړه نو طواف قدوم يي پداسي حالت کي اوکړو چي په اوښه سور وو .
**مسئله**: بغير دوقفي نه مسلسل طواف کول دعلماؤ په اجماع سره شرط (فرض) نه دي سنت دي سعيد بن منصور روايت بيان کړي دي چي ابن عمر رضي الله عنهما دکعبي طواف کولو چي پدغه وخت کي دمونځ اقامت اوشو نو هغه دجماعت سره په مونځ کي شريك شو او دمونځ کولو نه پس يي دطواف باقي حصه پوره کړه ، عبدالرزاق او عبدالرحمان بن ابوبکر په روايت کي هم دا واقعه مذکور ده ، دسعيد بن منصور بيان دي عطاء به وئيل که چري يو سړي دطواف څه حصه کړي وي او بيا کومه جنازه راوړي شي نو بيا به طواف نيمګړي پريږدي او په جنازه کي به شرکت کوي او دمونځ دپوره کولو نه پس به بيا خپل باقي طواف پوره کوي .
دنافع قول دي دطواف په وخت کي اوږد قيام کول بدعت دي دحسن قول دي که چري څوك په طواف کي مشغول شي او دمونځ دپاره اقامت اوشي او دي په مينځ کي طواف پريږدي او په مونځ کي شريك شي نو دمونځ نه پس به دي نوي طواف دسره شروع کوي .
**مسئله**: فرض طواف په مينځ کي منقطع کول اګر که دفرضو اقامت شوي وي مکروه دي ، دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي چي هغي طواف صدر اوکړو او پدغه وخت کي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسحر مونځ کولو .
**مسئله**: که چري دفرض مونځ اقامت اوشي او يا دکومي جنازي دفوت کېدو خطره وي نو نفلي طواف دي قطع کړي دنفلي عبادت دپاره طواف منقطع کول جائز نه دي .
په وترو کي دشرکت دپاره طواف منقطع کول بهتر دي ، دعبدالرحمن بن ابي بکر اثر ددي تائيد کوي.

**مسئله** دهر اوه چکرونو نه پس دوه رکعاته مونځ کول دامام ابو حنيفه په نزد واجب دي او دامام مالك هم دا قول په يو روايت كي راغلي دي او دامام شافعي هم دا قول دي ، كه چري دطواف نه پس څوك دوه رکعتونه ترك كړي نو قرباني كول به واجب وي ، ددي مسئلي دتمامو شاخونو وضاحت د سورة البقرة د ايت كريمه "وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى" د تفسير په ضمن كي موندِ كړي دي.(از قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله)

****************

## ٤٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَبَعْدَ الصُّبْحِ لِمَنْ يَطُوفُ

### دطواف نه پس دمازيګر او دسحر دمونځ نه پس د دوه رکعاتونو کولو بيان

٨٦٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ، وَعَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَابَاهَ، عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ، وَصَلَّى أَيَّةَ سَاعَةٍ شَاءَ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ". وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي ذَرٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جُبَيْرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بَابَاهَ أَيْضًا، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَبَعْدَ الصُّبْحِ بِمَكَّةَ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ وَالطَّوَافِ بَعْدَ الْعَصْرِ وَبَعْدَ الصُّبْحِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا. وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا طَافَ بَعْدَ الْعَصْرِ لَمْ يُصَلِّ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ، وَكَذَلِكَ إِنْ طَافَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ أَيْضًا لَمْ يُصَلِّ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ عُمَرَ أَنَّهُ طَافَ بَعْدَ صَلَاةِ الصُّبْحِ فَلَمْ يُصَلِّ، وَخَرَجَ مِنْ مَكَّةَ حَتَّى نَزَلَ بِذِي طُوًى فَصَلَّى بَعْدَ مَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. [1]

**ترجمه** : دجبير بن مطعم رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي بني عبد مناف! دشپي او ورځي په هره حصه كي په دي كور كي طواف كول او مونځ كول مه بندوئ.

امام ترمذي وائي د جبير بن مطعم رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او عبدالله بن ابي نجيح هم دا حديث د عبدالله بن" باباه" نه نقل كړي دي، په دي باب كي دابن عباس او ابو ذر

[1] ـ ابي داود في الحج ٥٣ (١٨٩٣) . سنن النسائي في المواقيت ٤١ (٥٨٦) . والحج ١٣٧ (٢٩٢٧) . سنن ابن ماجه في الاقامة ١٤٩ (١٢٥٦) . (تحفة الأشراف : ٣١٨٧) . مسند احمد (٤/ ٨٠، ٨١، ٨٣) . سنن الدارمي في المناسك ٧٩ (١٩٦٧)

رضي الله عنه نه هم احاديث معلوميږي، په مکه کي دمازيګر نه پس او دسحر نه پس دمونځ کولو په سلسله کي په اهل علمو کي اختلاف دي دبعضو قول دي دسحر او مازيګر دمونځ نه پس په دوه رکعاته نفلو کولو او طواف کولو کي څه حرج نشته دا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول دي او هغوئ درسول الله دحديث نه استدلال کړي دي، او دبعضو قول دي که څوك دمازيګر دمونځ نه پس طواف اوکړي نو دنمر پريوتو پوري به مونځ نه کوي دا رنګي که څوك دسحر دمونځ نه پس طواف اوکړي نو دنمر ختلو پوري به مونځ نه کوي ددوئ ددي دليل دعمر رضي الله عنه حديث دي چي هغوئ دسحر دمونځ نه پس طواف وکړو او مونځ يي نه کولو بيا دمکي نه اووتلو تردي پوري چي ذي طواي مقام ته اورسيدل نو د نمر ختلو نه پس يي هلته مونځ اوکړو دا دسفيان ثوري او مالك بن انس قول دي.

**تشريح** : مسئله حاجي چي د طواف نه فارغ شي نود مقام ابراهيم يا چي په مسجدحرام کي ورته په کوم ځائي کي آسانه وی،دوه رکعته دې کوی،دا مونځ زمونږ په نزدواجب دي.

اود امام شافعي (رحمه الله) په نزد سنت دي دامام شافعي (رحمه الله) دليل دادې چی ددې مونځ په وجوب باندې چونکه څه دليل نشته ځکه دا واجب نه دي

اوزمونږ دليل دا دې چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی

"وليصل الطائف لكل أسبوع ركعتين"

مونځ دې کوی طواف کونکې د هراوه چکرونو دپاره دوه رکعته،په حديث کي د "ليصل" د امر صيغه ده،او امردپاره د وجوب وی، اوپه يو بل حديث کي دی چی کله رسول پاك صلي الله عليه وسلم مقام ابراهيم ته اورسيدلو نودا آيت ئې تلاوت کړلو:

وَاتَّخِذُوا مِنْ مَقَامِ إِبْرَاهِيمَ مُصَلًّى ،اوبيا ئې دوه رکعته اوکړل،په دې آيت کي هم "اتخذ" د امرصيغه ده،دکوم نه چی وجوب ثابتيږی، خوکه څوك دا سوال اوکړی چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم په کوم وخت کي باندې چی ته مونځ تعليم ورکولو نو هغه وئيلی وو."هل علی غيرهن" رسول پاك صلي الله عليه وسلم په جواب کي فرمائيلی وو."لاإلا أن تطوع" ددې حديث نه معلومه شوه چی د پنځو مونځونو نه سوا بل مونځ واجب او فرض نه دي.

**جواب دادی** چی حديث د باندې چی متروك الظاهر دي ځکه چی په دې باندې د ټولو اتفاق دې چی مونځ د جنازې او مونځ د اخترونو واجب دی،(د اخترونو د مونځ په باره کي د اتفاق دعوی محل نظر دي ځکه ددې په وجوب کي د امامانو اختلاف دې) حالانکه په دې حديث کي ددې مونځونو بيان نشته.

**دويم جواب دادی** چی ممکن ده،حديث د باندېچی ددې نه وړاندې وی.

**دجبير بن مطعم رضي الله عنه مختصر حالات:**

نوم: جبير كنيه ابو محمد او دپلار نوم يي معلم قريشي وو ، دصحيح قول مطابق جبير دصلح حديبيه او فتح مكي په درمياني زمانه كي مسلمان شوي وو (الاصابه)

په غزوه حنين كي شريك شو اوپه واپسئ كي درسول الله سره يو ځاي وو (مسند احمد: ۴ج/۸۴)

جبير دعلم الانساب لوي عالم او تجربه كار وو چي د ابوبكر صديق رضي الله عنه نه يي دا علم حاصل كړي وو ، عمر فاروق رضي الله عنه چي به كله تحقيقاتو كولو ته مجبور شو نودده دعلم نه به يي استفاده كوله ، جبير اګرچي دقوم سردار هم وو ليكن دتكبر دشائبي نه بلكل پاك وو ، دقريشو په حكيم ترينو خلقو كي شميرلي شو ،اوپه ۵۷ هجري كي په مدينه طيبه كي وفات شو (اسد الغابه)

دجبير دمروياتو شمير شپيتو ته رسيګي چي بعضي پكي متفق عليه او بعضي صرف دبخاري نقل كړده دي.

*****************

## ٤٣ـ بَاب مَا جَاءَ مَا يُقْرَأُ فِي رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ

**دطواف په دوه ركعاتونو كي كوم كوم سورتونه لوستل پكار دي**

٨٦٩ـ أَخْبَرَنَا أَبُو مُصْعَبٍ الْمَدَنِيُّ قِرَاءَةً، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عِمْرَانَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " قَرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ: بِسُورَتَيِ الْإِخْلَاصِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ".[1]

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دطواف په دوه ركعاتونو كي داخلاص دوه سورتونه يعني قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد اولوستلو .

******************

٨٧٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ " يَسْتَحِبُّ أَنْ يَقْرَأَ فِي رَكْعَتَيِ الطَّوَافِ بِ: قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عِمْرَانَ، وَحَدِيثُ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ فِي هَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٦١٣)

جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ عِمْرَانَ ضَعِيفٌ فِي الْحَدِيثِ. [1]

**ترجمه** : دمحمد (بن علي الباقر) نه روايت دي چي هغه به دطواف په دوه رکعاتونو کي قل يا ايهالكافرون او قل هو الله احد لوستل مستحب ګڼرل.

امام ترمذي وائي سفيان والا جعفر بن محمد عن ابيه روايت دعبدالعزيز بن عمران دحديث نه زيات صحيح دي، او دجعفر بن محمد روايت کوم چي هغه دخپل پلار نه نقل کړي دي دا دمحمد دروايت نه زيات صحيح دي کوم چي هغه دخپل پلار نه او هغه دجابر نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کوي، او عبدالعزيز بن عمران دمحدثينو په نزد ضعيف دي.

**مستحباب او اداب دطواف**

کله چي يي په کعبه نظر پريوځي نو الله اکبر او لااله الاالله دي ولولي او دعا دي وکړي. دطبراني په روايت کي دي چي دکعبي دليدو په وخت کي دعا غوښتل مستحب دي که چري څوك حجر اسود ته ورسيږي نو په دواړو شونډو دي دي لره ښکل کړي خو پدي شرط چي ده ته پکي څه تکليف نه وي ، دبخاري بيان دي چي ابن عمررضي الله عنهما به حجر اسود ښکلولو دامام شافعي نه په يو مرفوع روايت کي مروي دي چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم به د ډير وخته پوري په حجر اسود خپلي شونډي ايخودلي وي دابن ماجه په روايت کي دي چي ډيره شيبه يي په حجر اسود کي شونډي ايخودلي وي ، دحاکم روايت دي چي رسول الله حجر اسود ښکل کړو او سجده يي ورباندي هم اوکړه که چري څوك په ښکلولو او دلاس په لګولو قادر نه وي نو په بل کوم څيز دي دي لره مسح کړي ، مخکي حديث تير شوي دي چي رسول الله په اوښ سور شو او طواف يي اوکړو او پخپله چوکه يي حجر اسود مسح کړو که چري دومره هم ممکن نه وي نو حجر اسود ته دي مخامخ کړي او اودريدل دي اوکړي.

دسعيد ب مسيب نه روايت دي چي عمر فاروق رضي الله عنه ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم حديث بيان کړو چي ته قوي يي دحجر اسود سره ډير مه اودريږه او کمزورو ته تکليف مه ورکوه که چري ځاي خالي وي نو ښکل يي کړه او که نه وي نو ځان ورته مخامخ کړه او لااله الاالله اووايه (رواه احمد).

**مسئله**: رکن يماني ته چي ورسيږي نو دي لره به مسح کړي دجمهورو اهل علمو همدا قول دي، دامام ابو حنيفه په نزد رکن يماني مسح کول مستحب دي سنت نه دي ، په صحيحينو

---

[1] ـ مسلم في انظر ما قبله (تحفة الأشراف : ١٩٣٢٢)

كي دابن عمررضي الله عنهما قول مروي دي فرمانيل يي ما اوليدل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دي دواړو لره يعني حجر اسود او رکن يماني لره ښکلولو .
دارقطني مرفوع روايت ذکر کړي دي چي رسول الله رکن يماني ښکلولو او پدي يي خپل مخ مبارك ايخودلي وو ، ابن ماجه دابو هريره رضي الله عنه نه مرفوع روايت نقل کړي دي درکن يماني سره اويا فرشتي ولاړي دي او هلته داسي وائي "اللهم انى أسئلك العفو والعافية في الدنيا والاخرة ربّنا اتنا في الدّنيا حسنة وفي الاخرة حسنة وقنا عذاب النّار قالوا أمين"

**مسئله:** دطواف قدوم نه مخکي دري چکرونه په تيز رفتارئ سره وهل پکار دي دڅادر يو پلو دترخ لاندي په سينه باندي اچول او دلاندي طرف نه دبل طرف دلاندي څادر په بله اوږه دپاسه اچول پکار دي چکر به دحجر اسود نه شروع کوي او په حجر اسود به يي ختموي او دا سنت طريقه ده په صحيح روايت کي راغلي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحجر اسود نه دحجر اسود پوري په تيز رفتارئ سره دري چکرونه اووهل او باقي څلور چکرونه يي په عام رفتار سره اووهل او کله چي به حجر اسود اورکن يماني ته اورسيدل نو هغه عمل به يي اوکړو کوم چي به يي په ړومبي چکر کي کړي وو او اخري طواف به يي دحجر اسود په ښکلولو يا مسه کولو ختم کړو او تکبير او تهليل به يي وئيل ، دجابر رضي الله عنه په روايت کي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مونځ کي مقام ابراهيم لره دخپل څان او کعبي په مينځ کي کړي دي او دوه رکعاته مونځ يي کړي دي په کومو کي چي يي " قُلْ يا أَيُّهَا الكافِرُونَ، او ،إخلاص" لوستلي وو او بيا حجر اسود ښکلولو ته واپس ورغلي وو.

*****************

## ٤٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الطَّوَافِ عُرْيَانًا

### په بربنډه دطواف کولو دحرمت بيان

٨٧١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أُثَيْعٍ، قَالَ: سَأَلْتُ عَلِيًّا بِأَيِّ شَيْءٍ بُعِثْتَ، قَالَ: " بِأَرْبَعٍ: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ إِلَّا نَفْسٌ مُسْلِمَةٌ، وَلَا يَطُوفُ بِالْبَيْتِ عُرْيَانٌ، وَلَا يَجْتَمِعُ الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشْرِكُونَ بَعْدَ عَامِهِمْ هَذَا، وَمَنْ كَانَ بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ، فَعَهْدُهُ إِلَى مُدَّتِهِ، وَمَنْ لَا مُدَّةَ لَهُ فَأَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. وأعاده في تفسير التوبة (٣٠٩٢) (تحفة الأشراف : ١٠١٠١)

**ترجمه** : دزيد بن اثيع بيان دي چي دعلي رضي الله عنه نه مي تپوس اوكړو ته په كومو كومو خبرو دحكم كولو دپاره دلته راليږلي شوي يي؟ هغه اووئيل په څلورو خبرو دحكم كولو دپاره راليږلي شوي يم او جنت ته به صرف هغه انسان داخليږي چي مسلمان وي او دبيت الله طواف دي څوك په بربنډ حالت كي نه كوي او نه دي مسلمانان او مشركان ددي كال نه پس جمع كيږي او دچاچي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره كومه معاهده وي نو دهغه دپاره به دهغه عهد دخپلي نيتي پوري وي او دچا سره چي درسول الله كومه وعده نه وي دهغه دپاره نيته څلور مياشتي ده.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن دي او په دي باب كي دابوهريره رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي.

**تشريح**: دامام ابو حنيفه په نزد دنجاست حقيقيه نه طهارت سنت دي او دنجاست حكميه نه واجب دي او ستر دعورت هم واجب دي ددي په ترك كولو سره ګناه لازميږي ، كه چري په بربنډ حالت يادجنابت په حالت كي څوك فرض طواف اوكړي نو ديوي بدني قرباني كول به وربانذي لازم وي او كه بغير اودسه يي فرض طواف كړي وي نو يوه قرباني به كوي اګر كه دهر شي وي، همدارنګي غير فرضي طواف هم كه دجنابت يادبربنډوالي په حالت كي څوك اوكړي نو څه قرباني دي اوكړي (وړه وي اوكه لويه وي) او كه غير فرض طواف يي بي اودسه اوكړو نو نيم صاع غنم دي كوم مسكين ته په طور دكفاري وركړي. الكفايه والعنايه بشرح الهدايه).

قاضي ثناء الله پاني پتي پخپل تفسير كي د ايت كريمه : يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ خُذُواْ زِينَتَكُمۡ عِندَ كُلِّ مَسۡجِدٖ. په تفسير كي ليكلي دي: د كلبي قول دى چي دطواف يادمونځ دپاره په مسجد كي دلباس اهتمام اوكړئ اوپه همدي بنياد ابن همام وئيلي دي چي ددي ايت نزول دبربنډ طواف كولو دحرمت په باره كي شوي دي اعتبار اګر چي عموم دالفاظولره وي اوخصوص دسبب لره نه وي ليكن په سبب كي دټولو نه مخكي براه راست حكم متحقق كيدل ضروري دي ، اګر چي دحكم حصر پدي سبب كي نه وي) ځكه چي دټولو نه مخكي په همدي سبب كي دحكم تحقق مقصود وي اوبيا بالواسطه (دالفاظو دعموم په اعتبار) دنورو صورتونو دپاره هم دغه حكم وي اوزمونږ په نزد په طواف كولو كي ستر دعورت واجب دي مګر دطواف شرط ندي كه چري څوك بربنډ طواف اوكړي نو طواف يي ادا كيږي مګر ګنهګاربه وي.

عربو به دجاهليت په وخت كي په بربنډه طوافونه كول او وئيل به يي په كومو جامو كي چي مونږ دالله تعالي نافرمانياني كړي دي په هغي كي طواف نه كوو ، اوښځوبه هم بربنډ طوافونه كول اوداټول واقعات دايت كريمه:

"يَا بَنِي آدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطَانُ كَمَا أَخْرَجَ أَبَوَيْكُمْ مِنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوْآتِهِمَا إِنَّهُ يَرَاكُمْ هُوَ وَقَبِيلُهُ مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ إِنَّا جَعَلْنَا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ لِلَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ. وَإِذَا فَعَلُوا فَاحِشَةً قَالُوا وَجَدْنَا عَلَيْهَا آبَاءَنَا وَاللَّهُ أَمَرَنَا بِهَا قُلْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَأْمُرُ بِالْفَحْشَاءِ أَتَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ . قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ وَأَقِيمُوا وُجُوهَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ كَمَا بَدَأَكُمْ تَعُودُونَ . فَرِيقًا هَدَى وَفَرِيقًا حَقَّ عَلَيْهِمُ الضَّلَالَةُ إِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّيَاطِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَيَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ مُهْتَدُونَ. يَا بَنِي آدَمَ خُذُوا زِينَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَكُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ . قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِينَةَ اللَّهِ الَّتِي أَخْرَجَ لِعِبَادِهِ وَالطَّيِّبَاتِ مِنَ الرِّزْقِ قُلْ هِيَ لِلَّذِينَ آمَنُوا فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا خَالِصَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَذَلِكَ نُفَصِّلُ الْآيَاتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ . قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ" دنزول اسباب دي.

بلكي دادم عليه السلام قصه هم ددي دتمهيد په طور ذكر كړي شوي ده ددي دپاره چي معلومه شي چي دټولو نه اولني درد كوم چي دشيطان دطرف نه انسان ته اورسيدو هغه دپټو اعضاؤ دبربنډولو په شكل كي وو، ددي تمامو ايتونو نه معلوميږي چي چي دشرمگاهونو دپټولو دپاره دلباس تخليق دالله تعالي يو عظيم الشان نعمت دي او همدا تقوي ده ، بې پردگي اود اعضاء مخصوصه بربنډول عظيم الشان شر او فتنه اوشيطاني اغوا ده په كومه كي چي ابليس ستاسو پلار ادم عليه السلام مبتلا كړي وو او اوس تاسو لره په دي كي مبتلا كوي، دا قوي بي حيايي ده دكومي ارتكاب چي به عربو دپلار نيكه په پيروئ كي كولو او په الله تعالي به يي بهتان تړلو چي دوئ ته يي ددي حكم كړي دي، الله تعالي دبي حيايئ دكارونو حكم نه دي كړي هغه خو يوي ډلي دته هدايت كړي دي اوبله ډله يي گمراه كړي ده ، ددي تمامو ايتونو نه معلوميږي چي داعضاء مخصوصه بي پردي كول بي حيايي ده او مطلقا حرام دي ، اوشريف طبيعتونه دي لره بد اودعيب قابل گڼري او علم دي لره قبيح گڼري ، اوددي بي حيايئ ارتكاب په طواف اونورو عبادتونو كي خو نور هم زيات بد دي او ددي حرمت خو په درجه اولي وارد دي.

اوعربو چي به كومه دعوه كوله چي دطواف په وخت كي جامي اغوستل درست نه دي اوپه حج كي به يي غوښه خوړل او ترسكون څيزونه خوړل حرام گڼړل دا دعوه بالكل غلطه ده الله تعالي ددي په ترديد كي فرمائيلي دي.

"قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ"

يعي عورت بربنډول بي حيايي ده او الله تعالي حرام کړي دي ليکن دعورت بربنډولو باوجود دعورت د ښکاره کولو حرمت اودستر دعورت وجوب دا خبره په کوم ايت کي ندہ راغلي چي اعضاء مخصوصه پټ ساتل دطواف شرط دي (چي ددينه بغير طواف نه کيږي) همدا وجه ده چي امام ابو حنيفه رحمة الله عليه فرمائيلي دي که چري څوك په بربنډه طواف اوکړي نو گنهگار به ضرور وي مگر طواف يي ادا کيږي.

مگر اکثر ائمه دفرض طواف دادا کيدو هم قائل ندي خکه چي دابو هريره ضي الله عنه بيان دي چي دحجة الوداع نه يو کال مخکي چي کله رسول الله صديق اکبر رضي الله عنه حج ته دامير په صفت ليږلي وو نو زه يي هم ديو جماعت سره مقرر کړم او حکم يي راته وکړو چي دقربانئ په ورځ په ټولو خلقو کي اعلان اوکړه چي ددي کال نه پس به هيڅ يو مشرك حج ته نه راځي اونه به څوك په بربنډ حالت کي طواف کوي (متفق عليه)

*****************

۸۷۲ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَنَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ نَحْوَهُ، وَقَالَا: زَيْدُ بْنُ يُثَيْعٍ وَهَذَا أَصَحُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَشُعْبَةُ وَهِمَ فِيهِ، فَقَالَ: زَيْدُ بْنُ أُثَيْلٍ. ([1])

**ترجمه** : مونږ ته سفيان بن عيينه بيان کړي دي او سفيان دابواسحاق سبيعي نه دماقبل حديث هم معني روايت يي بيان کړو البته ابن ابي عمر او نصر بن علي داثيع په ځاي باندي يثيع اووئيل او دا زيات صحيح دي، امام ترمذي وائي شعبه ته په دي کي وهم پيدا شوي دي اوهغه زيد بن اثيل ذکر کړي دي.

*****************

## ۴۵ـ بَاب مَا جَاءَ فِي دُخُولِ الْكَعْبَةِ

### کعبي ته د داخليدو بيان

۸۷۳ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ عَبْدِ الْمَلِكِ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " خَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ عِنْدِي وَهُوَ قَرِيرُ الْعَيْنِ طَيِّبُ النَّفْسِ، فَرَجَعَ إِلَيَّ وَهُوَ حَزِينٌ، فَقُلْتُ لَهُ: فَقَالَ: " إِنِّي دَخَلْتُ الْكَعْبَةَ وَوَدِدْتُ أَنِّي لَمْ أَكُنْ فَعَلْتُ إِنِّي أَخَافُ أَنْ أَكُونَ أَتْعَبْتُ أُمَّتِي مِنْ بَعْدِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

---

[1] ـ تفرد به المؤلف. وأعاده في تفسير التوبة (۳۰۹۲) (تحفة الأشراف : ۱۰۱۰۱)

[2] ـ ابي داود في الحج ۹۵ (۲۰۲۹) . سنن ابن ماجه في المناسک (۷۹) (۳۰۶۳) (تحفة الأشراف : ۱۶۲۳۰)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم چي زما دخوا نه وتلو نو سترګي يي يخي وي او طبيعت يي خوشحاله وو بيا چي واپس راغي نو غمژن او طبيعت يي خراب وو ما ورنه دوجي تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل زه کعبي ته ورننوتلي وم خو دا خواهش مي اوکړو چي کاش ما داسي کړي نه وي چي ما خو دخپل ځان نه پس خپل امت په تکليف کي واچو امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي

*****************

## ٤٦_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ

### په کعبي کي دد ننه دمونځ کولو بيان

٨٧٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ بِلَالٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى فِي جَوْفِ الْكَعْبَةِ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: لَمْ يُصَلِّ وَلَكِنَّهُ كَبَّرَ. قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَعُثْمَانَ بْنِ طَلْحَةَ، وَشَيْبَةَ بْنِ عُثْمَانَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ بِلَالٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بِالصَّلَاةِ فِي الْكَعْبَةِ بَأْسًا، وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: لَا بَأْسَ بِالصَّلَاةِ النَّافِلَةِ فِي الْكَعْبَةِ، وَكَرِهَ أَنْ تُصَلَّى الْمَكْتُوبَةُ فِي الْكَعْبَةِ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ أَنْ تُصَلَّى الْمَكْتُوبَةُ وَالتَّطَوُّعُ فِي الْكَعْبَةِ، لِأَنَّ حُكْمَ النَّافِلَةِ وَالْمَكْتُوبَةِ فِي الطَّهَارَةِ وَالْقِبْلَةِ سَوَاءٌ.[1]

**ترجمه** : دبلال رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په کعبه کي دننه مونځ اوکړو مګر ابن عباس رضي الله عنهما وائي مونځ يي نه دي کړي بلکي صرف تکبير يي وئيلي وو.

امام ترمذي وائي دبلال حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي داسامه بن زيد ، فضل بن عباس، عثمان بن طلحه او شيبه بن عثمان رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داکثرو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي هغوئ په کعبه کي دننه په مونځ کولو کي څه حرج نه وي نو، دانس بن مالك قول دي په کعبه کي دننه په نفلي مونځ کولو کي هيڅ حرج نشته او

---

[1] _ أخرجه البخارى في الصلاة ٣٠ (٣٩٧) ، و٨١ (٣٨٦) ، و٩٦ (٥٠٣) . والتهجد ٢٥ (١١٦٧) . والحج ٥١ (١٥٩٨) . والجهاد ١٢٧ (٢٩٨٨) . والمغازي ٤٩ (٣٢٨٩) ، و٧٧ (٣٣٠٠) . و مسلم في الحج ٦٨ (١٣٢٩) . و ابى داود في الحج ٩٣ (٢٠٢٣) . و النسائى في المساجد ٥ (٦٩١) . والقبلة ٦ (٧٤٨) . والحج ١٢٦ (٢٩٠٨) ، و١٢٧ (٢٩٠٩) . و ابن ماجه في المناسك ٧٩ (٣٠٦٣) . موطأ مالک في الحج ٦٣ (١٩٣) . مسند احمد (٢ في ٣٣، ٥٥، ١١٣، ١٢٠٠، ١٣٨) . و الدارمى في المناسك ٤٣ (١٩٠٨)

فرضي مونځ کول مکروه دي ، امام شافعي وائي په کعبه کي فرضي او نفلي دواړه مونځونه درست دي ځکه چي دنفل او دفرض حکم داودس او قبلي په باره کي يو شان دي.

## د بلال رضي الله عنه حالات

نوم بلال کنيه ابو عبدالله دپلارنوم رباح دمور نوم يي حمامه وو دی يو حبشي غلام وو لېکن په مکه کي پيدا شوی وو بني يمح دده مالکان وو بلال دظاهري صورت په لحاظ سره توررنګی حبشي وو چي داسلام په ابتداء کي مسلمان شوی وو ډير سخت ازمائش ورباندي راغلی وو چي په ګرمو کانړو او بلو سکروټو څملولی شوی وو او ددي باوجود په اسلام باندي کلك وو ابوبکر رضي الله عنه واخستو او ازاد يي کړو کله چي دمکي نه دهجرت کولو حکم راغی نو هجرت يي اوکړو او مديني ته اورسيدو او داسلام ړومبنی مؤذن مقرر شو ځکه چي دده اواز انتهائي تيز او دلکش وو دده په غير موجودګئ کي به ابومحذوره يا ابن ام مکتوم اذان کولو.

په تمامو غزواتو کي شريك شوی‌وو او په فتح مکه کي هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم ملګری وو دوفات نبوي نه پس شام ته منتقل شو او دبهترينې درجي اخلاقو مالك وو عمر رضي الله عنه به فرمائيل ابوبکر سيدنا واعتق سيدنا يعني ابوبکر چي زمونږ سردار دی هغه زمونږ سردار بلال لره ازاد کړی دی دهجرت په شلم کال چي عمر يي تقريبا شپيته کاله وو په دمشق کي وفات شو او دباب صغير خواته دفن کړی شو ۴۴احاديث ورنه منقول دي چي يو په دي کي متفق عليه دی دوه په مسلم کي دي او يو په بخاري کي (اسد الغابه او طبقات ابن سعد کي مزيد تفصيل ذکر شوی دی).

*****************

## ٤٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَسْرِ الْكَعْبَةِ

### (دمرمت دپاره) دکعبي دماتولو او ورانولو بيان

٨٧٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّ ابْنَ الزُّبَيْرِ، قَالَ لَهُ: حَدِّثْنِي بِمَا كَانَتْ تُفْضِي إِلَيْكَ أُمُّ الْمُؤْمِنِينَ يَعْنِي عَائِشَةَ، فَقَالَ: حَدَّثَتْنِي أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهَا: " لَوْلَا أَنَّ قَوْمَكِ حَدِيثُو عَهْدٍ بِالْجَاهِلِيَّةِ

لَهَدَمْتُ الْكَعْبَةَ وَجَعَلْتُ لَهَا بَابَيْنِ ". قَالَ: فَلَمَّا مَلَكَ ابْنُ الزُّبَيْرِ هَدَمَهَا وَجَعَلَ لَهَا بَابَيْنِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** داسود بن یزید نه روایت دي فرمائي چي عبدالله بن زبیر راته اووئیل هغه خبري راته بیان کړه کومي چي به تاته عائشه رضي الله عنها درازداریٔ په طور بیانولي یزید اووئیل هغي راته یو روایت بیان کړو چي رسول الله صلي الله علیه وسلم ماته فرمائیلي وو که چرې ستا دقوم خلق تازه دجاهلیت نه راوتلي نه وي او تازه مسلمانان شوي نه وي نو ما به کعبه غورځولي وه او په دي کي به مي دوه دروازي جوړي کړي وي چنانچه هر کله دابن زبیر اقتدار راغلو نو کعبه یي اوغورځوله او په دي کي یي دوه دروازي جوړي کړي

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي.

**تشریح** : دکعبي تعمیر لس پیري شوي دي.

(۱) اول تعمیر دکعبي دادم علیه السلام دتخلیق نه دوه زره کاله مخکي فرشتو کړي وو.

(۲) په دویم ځل ادم علیه السلام دکعبي تعمیر اوکړو.

(۳) په دریم ځل شیث علیه السلام کعبه جوړه کړه او دا تعمیر دطوفان نوح پوري قائم وو

(۴) ابراهیم علیه السلام کعبه جوړه کړي وه ، ددینه معلومه شوه چي ابراهیم علیه السلام اولني جوړونکي نه دي او په قران کریم هم ددي تائید کیږي په "واذ یرفع ابراهیم القواعد" کي درفع القواعد ذکر دي او دتاسیس ذکر دلته نشته.

(۵) په پنځم ځل کعبه عمالقه قوم جوړه کړي وه.

(۶) په شپږم ځل بنو جرهم قبیلي جوړه کړي وه.

(۷) په اوم ځل قصئ بني کلاب دکعبي تعمیر قائم کړي وو.

(۸) په اتم ځل قریشو کعبه اباده کړه او په دي تعمیر کي حجر اسود نبي کریم صلي الله علیه وسلم پخپل لاس مبارك نصب کړو ددي تعمیر جوړولو پوري دبیت الله دروازي دوه وي یوه مشرقي جانب ته او بله مغربي جانب ته، دتعمیر دپاره خرچه کمه شوه نو په دي وجه یوه دروازه جوړه کړي شوه نو دکعبي حطیم دتعمیر نه اوویستلي شو. دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دا تمنا او خواهش وو دبیت الله دابراهیم تعمیر مطابق اباد کړي شي لیکن دا ارمان یي په ژوندکیٔ کي پوره نشو .

[1] ـ النسائي في الحج ۱۲۵ (۲۹۰۵) (تحفة الأشراف : ۱٦۰۲۰) و البخاري في الحج ۴۲ (۱۵۸۳) . والأنبياء ۱۰ (۳۳٦۸) . وتفسير البقرة ۱۰ (۴۴۸۴) . و مسلم في الحج ٦۹ (۱۳۳۳) . سنن النسائي في الحج ۱۲۵ (۲۹۰۳) . موطأ مالك في الحج ۳۳ (۱۰۳) . مسند احمد (٦ في ۱۱۳، ۱۷۷، ۲۴۷، ۲۵۳، ۲۵۴)

(۹) په نهم ځل عبدالله بن زبير رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه كي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه ارمان مطابق كعبه تعمير كړه.
(۱۰) او په لسم ځل حجاج بن يوسف دمكي دقريشو دمكي مطابق كعبه جوړه كړه، بيا ددينه پس هارون الرشيد بادشاه په يولسم ځل جوړه كړه او دابراهيمي تعمير مطابق دجوړولو اراده يي اوكړه ليكن امام مالك منع كړو چي په دي طريقه به دبيت الله تعمير او ورانول دبادشاهانو يوه لوبه جوړه شي هارون الرشيد دا مسئله قبوله كړه او دتعمير جوړولو اراده يي پريخوده زمونږ ترزماني پوري دحجاج بن يوسف جوړ كړي تعمير راروان دي البته ددي دمرمت كار وخت په وخت ډيري پيري شوي دي.

**د عبدالله بن زبير رضي الله عنهما حالات:**

نوم عبدالله كنيه ابو حبيب ، ابوبكر، او ابو خبيب دپلار نوم يي زبير وو او دمور نوم يي اسماء او لقب يي ذات النطاقين وو چي دهجرت په رومبي كال پيدا شوى دى په مهاجرينو كي دا اولنى ماشوم پيدا شوى وو رسول الله صلي الله عليه وسلم په طور دتبرك كجوره په خوله كي اوچويله او بيا يي دده په خوله كي واچوله.
داوه كالو په عمر كي يي رسول الله صلي الله عليه وسلم سره بيعت كړى دى (مستدرك حاكم).
دټولو نه رومبى هغه جنګ چي عبدالله بن زبير پكي شريك شوى وو غزوه يرموك ده (الاصابه) او چي په دي جنګ كي كومه توره دده لاس ته ورغلي وه نو دمرګه پوري يي دلاس نه كوزه نكړه عبدالله بن زبير ډيرو ژبو ماهر وو او دډيرو غلامانو مالك وو چي مختلفي ژبي به يي وئيلي عبدالله بن زبير به ددوئ ټولو سره ددوئ په مورنئ ژبو كي خبري كولي (تاريخ الخلفاء سيوطي).
وفات، په ۷۲هجري كي په ذي قعده كي عبدالملك بن مروان حجاج بن يوسف دعبدالله بن زبير مقابلي ته اوليږلو او پدغه وخت كي يي په حرم كي پناه اخستلي وه دډيرو ورخو پوري په حرم كي دمحاصري په حال كښي پروت وو او دډيرو مياشتو پوري ورباندي داور او كاڼړوخطرناك بارانونه كيدل خو اخر دا چي ۷۳جمادي الثاني كي وفات شو دمروياتو شمير يي ۳۳دى چي دوه په دي كي متفق عليه دي او شپږ په بخاري كي او دوه په مسلم كي.

*****************

## ٤٨_ بَابِ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ فِي الْحِجْرِ

**په حطيم كي دمونځ كولو بيان**

٨٧٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ أَبِي عَلْقَمَةَ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أُحِبُّ أَنْ أَدْخُلَ الْبَيْتَ فَأُصَلِّيَ فِيهِ، فَأَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِي فَأَدْخَلَنِي الْحِجْرَ. فَقَالَ: "صَلِّي فِي الْحِجْرِ إِنْ أَرَدْتِ دُخُولَ الْبَيْتِ، فَإِنَّمَا هُوَ قِطْعَةٌ مِنَ الْبَيْتِ، وَلَكِنَّ قَوْمَكِ اسْتَقْصَرُوهُ حِينَ بَنَوُا الْكَعْبَةَ، فَأَخْرَجُوهُ مِنَ الْبَيْتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَعَلْقَمَةُ بْنُ أَبِي عَلْقَمَةَ هُوَ عَلْقَمَةُ بْنُ بِلَالٍ. (1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما غوښتل چي بيت الله ته داخله شم او مونځ پکي اوکړم او رسول الله صلي الله عليه وسلم زما لاس اونيولو او زه يي حطيم ته داخل کړم او راته يي اوفرمائيل که چري ته بيت الله ته داخليدل غواړي نو په حطيم کي مونځ اوکړه دا هم دبيت الله يوه حصه ده ليکن ستا دقوم خلقو دکعبي دجوړولو په وخت کي بيت الله وړوکي کړي دي او دا حصه يي ورنه خارج کړي ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.او علقمه بن ابي علقمه خو علقمه بن بلال دي

****************

## ٤٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ وَالرُّكْنِ وَالْمَقَامِ

**دحجر اسود ، رکن يماني ، او مقام ابراهيم دفضيلت بيان**

٨٧٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَزَلَ الْحَجَرُ الْأَسْوَدُ مِنَ الْجَنَّةِ وَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ، فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حجر اسود دجنت نه راليږلي شوي دي او دا د شودو نه زيات سپين وو ليکن دبنيادمانو ګناهونو تور کړو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعبدالله بن عمر او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

---

[1] ـ ابي داود في الحج ٩٣ (٢٠٢٨) . سنن النسائي في الحج ١٢٨ (٢٩١٥) (تحفة الأشراف : ١٧٩٦١) . مسند احمد (٦ في ٩٢)

[2] ـ النسائي في الحج ١٣٥ (٢٩٣٨) (تحفة الأشراف : ٥٥٧١) . مسند احمد (١ في ٣٠٧، ٣٢٩، ٣٧٣)

**تشريح** : حجر اسود او رکن يو شي دي، په حجر اسود رکن نوم خکه ايخودلي شوي دي چي دا دکعبي په يو کوټ کي پروت دي او وجه دتسميه په حديث کي بيان شوي ده او دمقام ابراهيم نه مراد هغه کاڼړي دي په کوم چي به ابراهيم عليه السلام دکعبي جوړولو دکاردپاره اودريدو او بيا به يي کعبه جوړوله.

*******************

۸۷۸ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، عَنْ رَجَاءٍ أَبِي يَحْيَى، قَالَ: سَمِعْتُ مُسَافِعًا الْحَاجِبَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عَمْرٍو، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ الرُّكْنَ، وَالْمَقَامَ يَاقُوتَتَانِ مِنْ يَاقُوتِ الْجَنَّةِ، طَمَسَ اللهُ نُورَهُمَا، وَلَوْ لَمْ يَطْمِسْ نُورَهُمَا لَأَضَاءَتَا مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا يُرْوَى عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو موقوفاً قَوْلُهُ، وَفِيهِ عَنْ أَنَسٍ أَيْضًا، وَهُوَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه مروي دي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي حجر اسود او مقام ابراهيم دواړه دجنت په ياقوتونو کي ياقوت دي الله تعالي ددوئ نور ختم کړو او که الله تعالي ددوئ نور ختم کړي نه وي نو دمشرق نه ترمغربه پوري ټوله دنيا به يي رڼا کړي وه.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي دا دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه موقوفاً دهغه قول نقل کړي شوي دي، او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم يو روايت وارد دي.

*******************

## ۵۰ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْخُرُوجِ إِلَى مِنًى وَالْمُقَامِ بِهَا

### مني ته دتلو او هلته دقيام کولو دفضيلت بيان

۸۷۹ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْأَجْلَحِ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " صَلَّى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف وانظر: مسند احمد (۲ في ۲۱۳، ۲۱۴) (التحفة: ۸۹۳۰)

وَالْمَغْرِبَ وَالْعِشَاءَ وَالْفَجْرَ ثُمَّ غَدَا إِلَى عَرَفَاتٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِسْمَاعِيل بْنُ مُسْلِمٍ قَدْ تَكَلَّمُوا فِيهِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. (1)

*****************

**ترجمه**: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم په مني کي دماسپخين ، مازيگر، ماښام، ماخوستن، او سحر مونځونه راکړل او بيا دسبا کيدو سره عرفات ته روان شو.

امام ترمذي وائي په اسماعيل بن مسلم باندي دهغه دحافظي په اعتبار کلام شوي دي.

*****************

۸۸۰ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الأَجْلَحِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "صَلَّى بِمِنًى الظُّهْرَ وَالْفَجْرَ، ثُمَّ غَدَا إِلَى عَرَفَاتٍ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مِقْسَمٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ: قَالَ يَحْيَى: قَالَ شُعْبَةُ: لَمْ يَسْمَعْ الْحَكَمُ مِنْ مِقْسَمٍ إِلَّا خَمْسَةَ أَشْيَاءَ وَعَدَّهَا، وَلَيْسَ هَذَا الْحَدِيثُ فِيمَا عَدَّ شُعْبَةُ. (2)

**ترجمه**: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم په مني کي دماسپخين ، مازيگر، ماښام، ماخوستن، او سحر مونځونه راکړل او بيا دسبا کيدو سره عرفات ته روان شو

امام ترمذي وائي د مقسم حديث دابن عباس نه مروي دی، د شعبه قول دي مقسم صرف پنځه څيزونه اوريدلي دي، او بيا يي هغه وشميرل نو دا حديث په هغي کي نه وو، په دي باب کي د عبد الله بن زبير او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

## ۵۱ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ

**مني دهغه چا داودريدو ځاي دي څوک چي ديته مخکي رسيدلي وي.**

---

1 ـ ابن ماجه في الحج ۵۱ (۳۰۰۴) (تحفة الأشراف: ۵۸۸۱)

2 ـ ابي داود في الحج ۵۹ (۹۱۱) (تحفة الأشراف: ۶۴۶۵)

٨٨١ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، وَمُحَمَّدُ بْنُ أَبَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ مُهَاجِرٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ أُمِّهِ مُسَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ أَلَا نَبْنِي لَكَ بَيْتًا يُظِلُّكَ بِمِنًى، قَالَ: "لَا مِنًى مُنَاخُ مَنْ سَبَقَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا مونږ ستا دپاره په مني کي يو کور جوړ نکړو چي ستا دپاره يو سوري تيار شي رسول الله اوفرمائيل نه په مني کي دهغه چا دپاره حق دي څوک چي دي ته مخکي ورسيږي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

***************

## ٥٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَقْصِيرِ الصَّلَاةِ بِمِنًى

### په مني کي په مونځ کي دقصر کولو بيان

٨٨٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو الأَحْوَصِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ، قَالَ: "صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى آمَنَ مَا كَانَ النَّاسُ وَأَكْثَرَهُ رَكْعَتَيْنِ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَارِثَةَ بْنِ وَهْبٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ قَالَ: صَلَّيْتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًى رَكْعَتَيْنِ، وَمَعَ أَبِي بَكْرٍ وَمَعَ عُمَرَ وَمَعَ عُثْمَانَ رَكْعَتَيْنِ صَدْرًا مِنْ إِمَارَتِهِ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي تَقْصِيرِ الصَّلَاةِ بِمِنًى لِأَهْلِ مَكَّةَ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ: لَيْسَ لِأَهْلِ مَكَّةَ أَنْ يَقْصُرُوا الصَّلَاةَ بِمِنًى، إِلَّا مَنْ كَانَ بِمِنًى مُسَافِرًا، وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَيَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ القَطَّانِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا بَأْسَ لِأَهْلِ مَكَّةَ أَنْ يَقْصُرُوا الصَّلَاةَ بِمِنًى، وَهُوَ قَوْلُ الأَوْزَاعِيِّ، وَمَالِكٍ، وَسُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ. [2]

---

[1] ـ ابی داود في الحج ٩٠ (٢٠١٩). سنن ابن ماجه في المناسک ٥٢ (٣٠٠٦). سنن الدارمی في المناسک ٨٧ (١٩٨٠). (تحفة الأشراف: ١٧٩٦٣)

[2] ـ البخاری في تقصير الصلاة ٢ (١٠٨٣). والحج ٨٤ (١٦٥٦). صحيح مسلم في المسافرين ٢ (٦٩٦). سنن ابی داود في الحج ٧٧ (١٩٦٥). سنن النسائي في تقصير الصلاة ٣ (١٤٤٦). (تحفة الأشراف: ٣٢٨٤). مسند احمد (٣/٤ في ٣٠٦)

**ترجمه**: دحارثه بن وهب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په مني كي دوه ركعاته مونځ اوكړو او خلق دغه وخت كي دمخكي نه زيات محفوظ او په امن كي وو.

امام ترمذي وائي دحارثه بن وهب حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن مسعود، ابن عمر، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي. او دابن مسعود رضي الله عنه نه هم مروي دي دهغوئ بيان دي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره په مني كي دوه ركعاتونه اوكړل بيا دابوبكر سره او بيا دعمر سره او بيا د عثمان رضي الله عنهم دخلافت په ابتدائي زمانه كي مي هم ددوئ سره دوه دوه ركعاتونه اوكړل په مني كي په مونځ كي دقصر كولو په سلسله كي داهل علمو په مينځ كي اختلاف دي بعضي اهل علم وائي دا كار داهل مكه دپاره جائز نه دي چي دوئ په مني كي په مونځونو كي قصر اوكړي علاوه دداسي كس نه څوك چي په مني كي دمسافر په حيثيت اوسيږي، او دا دابن جريج ، سفيان ثوري، يحي بن سعيد القطان او امام احمد بن حنبل او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي، دبعضي اهل علمو خيال دي په مني كي داهل مكه دپاره په مونځ كي په قصر كولو كي څه حرج نشته دا دامام اوزاعي او امام مالك او سفيان بن عيينه او عبدالرحمن بن مهدي رحمهم الله محدثينو قول دي

**تشريح**: د رمى په شپو كي په منى كي شپې تيرول زمونږ په نزدسنت دى.دويم اود امام شافعى (رحمه الله) په نزدواجب دى، دده ددي قول دليل دادى چى رسول الله صلي الله عليه وسلم د رمى شپې په منى كي تيرې كړې وې،اوكه يوحاجى به په منى كي قيام پريخودلو نو عمر(رضي الله عنه) به هغه ته زورنه وركوله.كه يوحاجى د منى نه علاوه په بل ځائي كي شپه تيره كړه نو زمونږ په نزدپه ده باندې دم وغيره څه نه واجبيږى.البته دامام شافعى (رحمه الله) په نزددم واجبيږى،

زمونږ دليل دادى چى دحاجى دپاره په منى كي شپه تيرول ددې دپاره دى چى ده ته رمى آسانه شى نومعلومه شوه چى په منى كي قيام كول د حج په مناسكو كي نه دى ،اوهركله چى واجب نه دى نوددې په پريخودو سره به جابر يعنى نقصان پوره كونكې وينه نه لازميږى.

**حارثه بن وهب رضي الله عنه حالات:**

نوم حارثه دپلار نوم وهب او دمور نوم ام كلثوم بنت جرول ابن مالك بن المسيب الخزاعيه وو ددينه عموما ابواسحاق السبيعي او معبد بن خالد الجهيني رضي الله عنه نقل دروايت كوي، دمروياتو شمير يي شپږ دى چي څلور په دي كي متفق عليه دي.

****************

## ٥٣_ باب مَا جَاءَ فِي الْوُقُوفِ بِعَرَفَاتٍ وَالدُّعَاءِ بِهَا

### په عرفات کې وقوف کول او دعا غوښتلو بيان

٨٨٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَفْوَانَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ شَيْبَانَ، قَالَ: أَتَانَا ابْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ وَنَحْنُ وُقُوفٌ بِالْمَوْقِفِ مَكَانًا يُبَاعِدُهُ عَمْرٌو، فَقَالَ: إِنِّي رَسُولُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْكُمْ، يَقُولُ: "كُونُوا عَلَى مَشَاعِرِكُمْ، فَإِنَّكُمْ عَلَى إِرْثٍ مِنْ إِرْثِ إِبْرَاهِيمَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ، وَجُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، وَالشَّرِيدِ بْنِ سُوَيْدٍ الثَّقَفِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيِّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، وَابْنُ مِرْبَعٍ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ مِرْبَعٍ الْأَنْصَارِيُّ، وَإِنَّمَا يُعْرَفُ لَهُ هَذَا الْحَدِيثُ الْوَاحِدُ. [1]

**ترجمه** : ديزيد بن شعبان بيان دي فرمائي چي مونږ ته يزيد بن مربع انصاري راغي او مونږ په عرفات کي په داسي ځاي کي ولاړ وو کوم چي عمرو بن عبدالله دامام نه لري ګڼړلو نو يزيد بن مرباع اووئيل زه تاسو ته درسول الله صلي الله عليه وسلم دطرفه راليږلي شوي قاصد يم او تاسو ته دا وايم چي تاسو په مشاعرو اودريږئ ځکه چي تاسو دابراهيم عليه السلام وارثان يئ امام ترمذي وائي ديزيد بن مربع انصاري حديث حسن صحيح دي مونږ ته دا صرف دابن عيينه په سند معلوم دي او ابن عيينه دعمرو بن دينار شاګرد دي دابن مربع نوم يزيد بن مربع انصاري دي او دهغه نه صرف همدا يو حديث مروي دي، په دي باب کي دعلي ، عائشه، جبير بن مطعم، شريد بن ثويد ثقفي رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي

****************

٨٨٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الطُّفَاوِيُّ، حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَتْ قُرَيْشٌ وَمَنْ كَانَ عَلَى دِينِهَا وَهُمُ الْحُمْسُ يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، يَقُولُونَ: نَحْنُ قَطِينُ اللَّهِ، وَكَانَ مَنْ سِوَاهُمْ يَقِفُونَ بِعَرَفَةَ، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ (البقرة: ١٩٩)". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَالَ: وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: أَنَّ أَهْلَ مَكَّةَ كَانُوا لَا يَخْرُجُونَ مِنَ الْحَرَمِ، وَعَرَفَةُ خَارِجٌ مِنَ

---

[1] _ ابي داود في الحج ٦٣ (١٩١٩) . سنن النسائي في الحج ٢٠٢ (٣٠١٤) . سنن ابن ماجه في المناسک ٥٥ (٣٠١١) . (تحفة الأشراف : ١٥٥٢٦) . مسند احمد (٣ في ١٣٧)

الْحَرَمِ. وَأَهْلُ مَكَّةَ كَانُوا يَقِفُونَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، وَيَقُولُونَ: نَحْنُ قَطِينُ اللهِ يَعْنِي سُكَّانَ اللهِ، وَمَنْ سِوَى أَهْلِ مَكَّةَ كَانُوا يَقِفُونَ بِعَرَفَاتٍ. فَأَنْزَلَ اللهُ تَعَالَى: ثُمَّ أَفِيضُوا مِنْ حَيْثُ أَفَاضَ النَّاسُ (البقرة آية ١٩٩). وَالْحُمْسُ هُمْ: أَهْلُ الْحَرَمِ.[1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي قريشو او ددوئ هم مذهبه خلقو او دوئ ته "حمس" وئيلي شي په مزدلفه کي وقوف کولو او وئيل به يي مونږ دالله خادمان يو (عرفات نه پيژنو) او څوك چي ددوئ نه علاوه وو نو هغوئ به په عرفات کي وقوف کولو نو الله تعالي دا ايت کريمه نازل کړو " افيضوا من حيث افاض الناس" يعني هغه ځاي ته لاړ شئ چرته چي خلق ځي (سورة البقره : ١٩٩).

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او ددي حديث معني داده اهل حرم به دحرم نه بهر نه تلل او عرفات دحرم نه بهر دي اهل مکه به صرف په مزدلفه کي وقوف کولو او وئيل به يي مونږ دالله اباد کړي خلق يو، او داهل مکي نه علاوه خلقو به په عرفات کي وقوف کولو نو الله تعالي دا حکم نازل کړو " افيضوا من حيث افاض الناس" يعني هغه ځاي ته لاړ شئ چرته چي خلق ځي (سورة البقره : ١٩٩) او دحمس نه مراد اهل حرم دي .

****************

## ٥٤_ باب مَا جَاءَ أَنَّ عَرَفَةَ كُلَّهَا مَوْقِفٌ

### بيان ددي خبري چي عرفات ټول د اودريدو ځاي دي

٨٨٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَيَّاشِ بْنِ أَبِي رَبِيعَةَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عَلِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: وَقَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِعَرَفَةَ، فَقَالَ: " هَذِهِ عَرَفَةُ وَهَذَا هُوَ الْمَوْقِفُ، وَعَرَفَةُ كُلُّهَا مَوْقِفٌ ". ثُمَّ أَفَاضَ حِينَ غَرَبَتِ الشَّمْسُ، وَأَرْدَفَ أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ وَجَعَلَ يُشِيرُ بِيَدِهِ عَلَى هِينَتِهِ وَالنَّاسُ يَضْرِبُونَ يَمِينًا وَشِمَالًا يَلْتَفِتُ إِلَيْهِمْ، وَيَقُولُ: يَا أَيُّهَا النَّاسُ عَلَيْكُمُ السَّكِينَةَ. ثُمَّ أَتَى جَمْعًا فَصَلَّى بِهِمُ الصَّلَاتَيْنِ جَمِيعًا، فَلَمَّا أَصْبَحَ أَتَى قُزَحَ فَوَقَفَ عَلَيْهِ، وَقَالَ: " هَذَا قُزَحُ، وَهُوَ الْمَوْقِفُ وَجَمْعٌ كُلُّهَا مَوْقِفٌ ". ثُمَّ أَفَاضَ حَتَّى انْتَهَى إِلَى وَادِي مُحَسِّرٍ، فَقَرَعَ نَاقَتَهُ فَخَبَّتْ حَتَّى جَاوَزَ الْوَادِيَ، فَوَقَفَ وَأَرْدَفَ الْفَضْلَ. ثُمَّ أَتَى الْجَمْرَةَ فَرَمَاهَا ثُمَّ أَتَى الْمَنْحَرَ،

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٧٢٣٦)

فَقَالَ: " هَذَا الْمَنْحَرُ وَمِنًى كُلُّهَا مَنْحَرٌ ". وَاسْتَفْتَتْهُ جَارِيَةٌ شَابَّةٌ مِنْ خَثْعَمٍ، فَقَالَتْ: إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ قَدْ أَدْرَكَتْهُ فَرِيضَةُ اللهِ فِي الْحَجِّ، أَفَيُجْزِئُ أَنْ أَحُجَّ عَنْهُ؟ قَالَ: حُجِّي عَنْ أَبِيكِ. قَالَ: وَلَوَى عُنُقَ الْفَضْلِ، فَقَالَ الْعَبَّاسُ: يَا رَسُولَ اللهِ، لِمَ لَوَيْتَ عُنُقَ ابْنِ عَمِّكَ؟ قَالَ: " رَأَيْتُ شَابًّا وَشَابَّةً فَلَمْ آمَنِ الشَّيْطَانَ عَلَيْهِمَا ". ثُمَّ أَتَاهُ رَجُلٌ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي أَفَضْتُ قَبْلَ أَنْ أَحْلِقَ. قَالَ: " احْلِقْ أَوْ قَصِّرْ وَلَا حَرَجَ ". قَالَ: وَجَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي ذَبَحْتُ قَبْلَ أَنْ أَرْمِيَ. قَالَ: " ارْمِ وَلَا حَرَجَ ". قَالَ: ثُمَّ أَتَى الْبَيْتَ فَطَافَ بِهِ، ثُمَّ أَتَى زَمْزَمَ، فَقَالَ: " يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ لَوْلَا أَنْ يَغْلِبَكُمُ النَّاسُ عَنْهُ لَنَزَعْتُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَلِيٍّ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ عَيَّاشٍ. وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الثَّوْرِيِّ مِثْلَ هَذَا. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ رَأَوْا أَنْ يُجْمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِعَرَفَةَ فِي وَقْتِ الظُّهْرِ. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا صَلَّى الرَّجُلُ فِي رَحْلِهِ وَلَمْ يَشْهَدِ الصَّلَاةَ مَعَ الْإِمَامِ إِنْ شَاءَ جَمَعَ هُوَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ مِثْلَ مَا صَنَعَ الْإِمَامُ. قَالَ: وَزَيْدُ بْنُ عَلِيٍّ هُوَ ابْنُ حُسَيْنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنه. ([1])

**ترجمه** : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په عرفات کي قيام اوکړو او ويي فرمائيل دا عرفات دي او همدا د اودريدو ځاي دي او ټول عرفات د اودريدو ځاي دي بيا چي کله نمر ډوب شو نو ددي ځاي نه روان شو اسامه بن زيد يي په ځان پسي شاته سور کړو او پخپل عام رفتار روان شو او په لاس يي اشاره کوله او خلقو ښي طرف او چپ طرف ته خپل اوښان وهل رسول الله به دوی ته دمتوجه کيدو په حال کي وئيل اي خلقو واورئ سکون او وقار اختيار کړئ تردي چي مزدلفي ته راورسيدو او خلقو ته يي د ماښام او ماخوستن دواړه مونځونه په يوځاي ورکړل کله چي سحر شو نو ''قزح'' مقام ته يي تشريف راوړو او فرمائيل يي دا قزح دي او دا هم د اودريدو ځاي دي او مزدلفه ټوله موقف ده بيا روان شو تردي پوري چي محسر مقام ته ورسيدو او خپله اوښه يي اوزغلوله تردي چي ددي ځاي نه تيره شوه بيا يي وقوف اوکړو او فضل بن عباس رضي الله عنه يي په ځان پسي سور کړو بيا جمراتو ته راغي او رمي يي اوکړه او بيا دقربانۍ ځاي ته راغي او ويي فرمائيل دا دقربانۍ ځاي دي او دمني هر يو ځاي منحر دي دي وخت کي دخثعم قبيلي يوي ځواني ښځي دمسئلي تپوس اوکړو او عرض يي اوکړو زما پلار بوډا شوي دي او دالله تعالي فريضه يعني

[1] ــ ابي داود في الحج ٦٣ (١٩٢٢)

حج ورباندي واجب شوي دي نو كه زه دهغه دطرفه حج اوكړم دا به كافي وي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو، ته دي دپلار دطرفه حج اوكړه علي رضي الله عنه فرمائي رسول الله صلي الله عليه وسلم دفضل څټ اوګرځولو دي وخت كي عباس رضي الله عنه سوال اوكړو اي دالله رسوله دخپل دتره دخوي څټ دي ولي اوګرځولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ما دا سوچ اوكړو چي هلك او جيني دواړه ځوانان وي نو ما ددوئ دواړو په سلسله كي دوئ دشيطان نه محفوظ اونه ګڼړل دي وخت كي يو كس راغي او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما دسر خريلو نه مخكي طواف افاضه اوكړو رسول الله اوفرمائيل سر اوخروه او يا يي كم كړه هيڅ حرج نشته بيا يو بل كس راغي او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما خو درمي كولو نه مخكي قرباني كړي ده رسول الله اوفرمائيل رمي اوكړه هيڅ حرج نشته او بيا بيت الله ته راغي او طواف يي اوكړو، بيا دزمزم كوهي ته راغي ا و ويي فرمائيل اي بني عبدالمطلب كه چري دا خطره نه وي چي خلق به په تاسو باندي غالب شي نو ما به هم تاسو سره اوبه راويستلي وي او په خلقو به مي څكولي وي.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او مونږ ته دا روايت صرف دعلي رضي الله عنه په سند معلوم دي يعني دعبدالرحمن بن حارث په سند سره او نورو ډيرو خلقو هم دثوري نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي ، او په دي باب كي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او داهل مكه هم په دي باندي عمل دي ددوئ دا خيال دي په عرفه كي دماسپخين په وخت كي دمازيګر مونځ هم دي سره يوځاي كول پكار دي، او دبعضي اهل علمو خيال دي چي پخپلو خپلو ديرو كي مونځ كول پكار دي او دامام سره شريكيدل نه دي پكار دواړه مونځونه به يو ځاي كوي او قصر به كوي لكه امام چي څنګه قصر كوي.

**تشريح :**

**د وقوف عرفه دوخت مقدار**

په دي باره كي اختلاف دې چې د وقوف عرفات وخت د كله نه شروع كيږي؟

(۱) د احنافو په نزدد عرفې په ورځ د نمر د زوال نه پس شروع كيږي.كه يو حاجي د نمرد زوال نه پس تر د يوم النحر د صبا راختلو پورې په كوم وخت كي هم وقوف اوكړلو.نوده حج ادا شو.

ددي قول دليل دادي چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم د زوال نه پس وقوف كړې وو،ددې حديث نه د وقوف اول وخت معلوم شو.

دويم حديث كي دى چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم فرمائيلى دى، چا چې په شپه كي وقوف د عرفات رالاندې كړو،نوده حج رالاندي كړلو.اوچا چې په شپه كي هم وقوف عرفات لاندي نكړلو،نوده نه حج فوت شو.

په دي حديث کي د وقوف عرفات د آخري وخت بيان دي ددې دواړو حديثونو نه معلومه شوه چې د وقوف عرفات وخت د عرفې په ورځ د زوال نه پس شروع کيږي.اود يوم النحر د صبا راختلو نه وړاندې پورې وي.

(۲)دامام مالك (رحمه الله) قول دادی چې د وقوف عرفات وخت د عرفې په ورځ د صبا راختو نه د نمر راختو نه پس شروع کيږي.

دامام مالك (رحمه الله) دليل دا حديث دي:

"الحج عرفة فمن وقف بعرفة ساعة من ليل أو نهار فقد تم حجه"

يعنی د رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان دي د حج نوم عرفه ده.نوچا چې د ورځې يا د شپې په څه حصه کي د لږ وخت دپاره قيام اوکړو.نودده حج پوره شو.په حديث کي د "نهار" لفظ راغلی دي او "نهار" د نمر راختلو نه شروع کيږي. دامام مالك (رحمه الله) خلاف د رسول پاك صلي الله عليه وسلم عمل حجت دي ځکه چې رسول پاك صلي الله عليه وسلم د زوال نه پس وقوف کړې وو.که د زوال نه وړاندې هم د وقوف وخت وو.نو رسول پاك صلي الله عليه وسلم به خامخا د هغې بيان کړې وو.

مسئله : د احنافو په نزدکه د عرفې په ورځ د نمر د زوال نه پس لږ ساعت دپاره وقوف اوکړي، اوبيا روان شي،نو روا دي.

امام مالك (رحمه الله) فرمائي چې د ورځي اود شپې په څه حصه کي وقوف ضروری دي ګويا د امام مالك (رحمه الله) په نزدد عرفه په ورځ دغروب نه پس روانيدل ضروری دی.

دامام مالك (رحمه الله) دليل دا حديث دي :

"من أدرك عرفة بليل فقد أدرك الحج ومن فاته عرفة بليل فقد فاته الحج"

په دي حديث کي د وقوف عرفات دارومدار په شپه دي ددې وجې امام مالك (رحمه الله) فرمائي چې د شپې په يوه حصه کي وقوف ضروری دي.

د احنافو دليل دادی چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی:

"الحج عرفة فمن وقف بعرفة ساعة من ليل أو نهار فقد تم حجه"

په دي حديث کي کلمه د ،او، د اختيار دپاره ده.يعنی که وقوف په ورځ کي اوکړي اوکه په شپه کي په دواړو صورتونو کي حج پوره کيږي.نومعلومه شوه چې د وقوف دپاره نه ورځ شرط ده. اونه شپه هم دا حديث د امام مالك(رحمه الله) خلاف حجت دي . امام مالك (رحمه الله) چې کوم حديث په استدلال کي پيش کړې دي په هغې کي د "بليل" لفظ زيادت غيرمشهور دي مشهور صرف دومره ده چې "من أدرك عرفة فقد أدرك الحج ومن فاته عرفة فقد فاته الحج" نودا حديث د امام مالك(رحمه الله) مستدل نشي جوړيدي.

*****************

## ٥٥_ باب مَا جَاءَ فِي الإِفَاضَةِ مِنْ عَرَفَاتٍ

### دعرفات نه دواپس كيدوبيان

٨٨٦_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، وَبِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، وَأَبُو نُعَيْمٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَوْضَعَ فِي وَادِي مُحَسِّرٍ وَزَادَ فِيهِ بِشْرٌ، وَأَفَاضَ مِنْ جَمْعٍ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ وَأَمَرَهُمْ بِالسَّكِينَةِ. وَزَادَ فِيهِ أَبُو نُعَيْمٍ وَأَمَرَهُمْ أَنْ يَرْمُوا بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ، وَقَالَ: "لَعَلِّي لَا أَرَاكُمْ بَعْدَ عَامِي هَذَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په محصر مقام کي په تيزئ سره لاړو (دبشر په روايت کي دا اضافه ده چي کله دمزدلفي نه واپس شو په سکون او عام رفتار سره روان وو او خلقو ته يي هم په سکون او اطمينان سره دتلو حکم اوکړو (دابو نعيم په روايت کي دومره اضافه ده چه) دوئ ته يي په داسي ګيټو درمي کولو حکم اوکړو کومي چي به په دوه ګوتو کي نيولي کيدي شوي او خلقو ته يي اوفرمائيل شايد چي ددي کال نه پس به زه تاسو او نه ليدلي شم امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي داسامه بن زيد رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي.

*****************

## ٥٦_ باب مَا جَاءَ فِي الْجَمْعِ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِالْمُزْدَلِفَةِ

### په مزدلفه کي په يو ځاي دماښام او دماخوستن دمونځونو کولو بيان

٨٨٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ "صَلَّى بِجَمْعٍ، فَجَمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ بِإِقَامَةٍ"، وَقَالَ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَعَلَ مِثْلَ هَذَا فِي هَذَا الْمَكَانِ. (٢)

---

1 _ ابي داود في الحج ٦٦ (١٩٣٣) . سنن النسائي في الحج ٢٠٣ (٣٠٢٤) ، و٢١٥ (٣٠٥٥) . سنن ابن ماجه في المناسک ٦١ (٣٠٢٣) . (تحفة الأشراف : ٢٧٤٧ و٢٧٥٠) . مسند احمد (٣ في ٣٠١، ٣٣٢، ٣٦٧، ٣٩١) . ويأتي عند المؤلف رقم : ٨٩٧)

2 _ ابي داود في الحج ٦٥ (١٩٢٩) (تحفة الأشراف : ٧٢٨٥)

**ترجمه** دعبدالله بن مالك بيان دي فرمائي چي ابن عمر رضي الله عنهما په مزدلفه کي مونځ اوکړو او په يو اقامت سره يي دماښام او ماخوستن دواړه مونځونه په يوځاي اداء کړل او بيا يي اوفرمائيل مارسول الله صلي الله عليه وسلم په همدي ځاي کي په همداسي کولو ليدلي وو.

**تشريح: په مزدلفه کي جمع بين الصلاتين کول**

**تشريح:** جمهور احناف وايي چي امام دې په مزدلفه کي د ماښام او ماسخوتن مونځونه په يو اذان او يو اقامت باندې جمع کړي.

دامام زفر (رحمه الله) مذهب دادی چی په يو اذان او دوو اقامتونو به ئې جمع کوی.

امام زفر (رحمه الله) په مزدلفه کي د ماښام او ماسخوتن مونځونه جمع کول په عرفات کي دماسپخين اومازيگردمونځونو په جمع کولو باندې قياس کوی نولکه څنگه چی هلته د دواړو مونځونو دپاره يو اذان اودوه اقامتونه کولی شی،دغه شان به دلته په مزدلفه کي هم دماښام اوماسخوتن د دواړو مونځونودپاره يواذان او دوه اقامتونه کولی شی.

زمونږ دليل د جابر(رضي الله عنه) حديث دې چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم په مزدلفه کي دماښام او ماسخوتن دواړه مونځونه په يواذان او يواقامت سره جمع کړی وو. دويم دليل دادی چی ماسخوتن په خپل وخت کي ادا کيږی نوخلقو ته د وخت د داخليدو د اعلان هډو څه ضرورت نشته،په خلاف د مازيگرد مونځ په عرفه کي ځکه چی هلته خو د مازيگر وخت لا داخل شوې نه وی نوددې وجې خلقو ته د زياتی خبر ورکولو دپاره اقامت کولې شی.

*****************

٨٨٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ. قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ: قَالَ يَحْيَى: وَالصَّوَابُ حَدِيثُ سُفْيَانَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ فِي رِوَايَةِ سُفْيَانَ أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، وَحَدِيثُ سُفْيَانَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، لِأَنَّهُ لَا تُصَلَّى صَلَاةُ الْمَغْرِبِ دُونَ جَمْعٍ، فَإِذَا أَتَى جَمْعًا وَهُوَ الْمُزْدَلِفَةُ جَمَعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ بِإِقَامَةٍ وَاحِدَةٍ وَلَمْ يَتَطَوَّعْ فِيمَا بَيْنَهُمَا، وَهُوَ الَّذِي اخْتَارَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ وَذَهَبَ إِلَيْهِ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، قَالَ سُفْيَانُ: وَإِنْ شَاءَ صَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ تَعَشَّى وَوَضَعَ ثِيَابَهُ، ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعِشَاءَ. فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: يَجْمَعُ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِالْمُزْدَلِفَةِ بِأَذَانٍ وَإِقَامَتَيْنِ، يُؤَذِّنُ لِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ

وَيُقِيمُ وَيُصَلِّي الْمَغْرِبَ، ثُمَّ يُقِيمُ وَيُصَلِّي الْعِشَاءَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى إِسْرَائِيلُ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ عَبْدِ اللهِ، وَخَالِدِ ابْنَيْ مَالِكٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ وَحَدِيثُ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ هُوَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ أَيْضًا، رَوَاهُ سَلَمَةُ بْنُ كُهَيْلٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَأَمَّا أَبُو إِسْحَاق فَرَوَاهُ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، وَخَالِدِ ابني مالك، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. (1)

**ترجمه** : په همدي سند ابن عمر رضي الله عنهما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ددي يو هم معني روايت نقل كړي دي، محمد بن بشار د "حدثنا" په ځاي "قال يحي" وئيلي دي او صحيح دسفيان والا روايت دي امام ترمذي وائي دابن عمر هغه حديث كوم چي سفيان نقل كړي دي داسماعيل بن ابي خالد دروايت نه زيات صحيح دي او دسفيان حديث حسن صحيح دي، اسرائيل دا حديث دابواسحاق سبيعي نه نقل كړي دي او ابو اسحاق سبيعي او ابو اسحاق سبيعي دمالك ددواړو ځامنو عبدالله او خالد نه نقل كړي دي او عبدالله او خالد دابن عمر نه نقل كړي دي، او دسعيد بن جبير هغه حديث كوم چي يي دابن عمر نه نقل كړي دي حسن صحيح دي، او سلمه بن كوهيل دا حديث دسعيد بن جبير نه نقل كړي دي، او ابو اسحاق سبيعي خو دا حديث دمالك ددواړو ځامنو عبدالله او خالد نه نقل كړي دي او دوئ دواړو دابن عمر نه نقل كړي دي او په دي باب كي دعلي، ابو ايوب، عبدالله بن سعيد. او اسامه بن زيد رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي همدا وجه ده چي دماښام مونځ مزدلفي ته دراتلو نه مخكي كول پكار نه دي، كله چي حاجيان جمع شي يعني مزدلفي ته ورسيږي نو دا دواړه مونځونه به په يو اقامت په يوځاي كړي او ددي دواړو په مينځ كي به هيڅ قسم نفل نه كوي دا هغه مسلك دي كوم چي بعضي اهل علمو اختيار كړي دي او دي طرف ته تلي دي او همدا دسفيان ثوري قول هم دي دوئ وائي كه څوك غواړي نو دماښام مونځ دي اوكړي او بيا دي دماښامي خوراك اوكړي او خپلي جامي دي اوباسي او تكبير دي اووائي او دماخوستن مونځ دي اوكړي او بعضي اهل علم وائي ماښام او ماخوستن مونځونه دي په مزدلفه كي په يو اذان او اقامت اوكړي دماښام دپاره دي اذان او تكبير اوكړي او بيا دي دماښام مونځ اوكړي او بيا دي تكبير اووائي او دماخوستن مونځ دي اوكړي او همدا دامام شافعي قول دي.

*****************

1 ـ مسلم في الحج ٤٧ (١٢٨٦) . سنن ابي داود في الحج ٦٥ (١٩٣٠، ١٩٣٢) . سنن النسائي في الصلاة ١٨ (٤٨٢) . و٢٠ (٤٨٣، ٤٨٥) . والمواقيت ٤٩ (٦٠٧) . والأذان ١٩ (٦٥٨) . و٢٠ (٦٥٩) . والحج ٢٠٧ (٣٠٣٣) . (تحفة الأشراف : ٧٠٥٢) . مسند احمد (٢ في ٣، ٦٢، ٧٩، ٨١) . سنن الدارمي في الصلاة ١٨٣ (١٥٥٩)

## ٥٧_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ أَدْرَكَ الإِمَامَ بِجَمْعٍ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ

### چاچي په مزدلفه کي امام اورسولو دهغه حج اوشو

٨٨٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ، أَنَّ نَاسًا مِنْ أَهْلِ نَجْدٍ أَتَوْا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِعَرَفَةَ، فَسَأَلُوهُ فَأَمَرَ مُنَادِيًا فَنَادَى: "الْحَجُّ عَرَفَةُ، مَنْ جَاءَ لَيْلَةَ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ فَقَدْ أَدْرَكَ الْحَجَّ أَيَّامُ مِنًى ثَلَاثَةٌ، فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ، وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ". قَالَ مُحَمَّدٌ: وَزَادَ يَحْيَى: وَأَرْدَفَ رَجُلًا فَنَادَى بِهِ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالرحمن بن يعمر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي دنجد علاقي څه کسان دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شول او رسول الله دغه وخت په عرفه کي وو هغوئ ورنه دحج باره کي سوال اوکړو نو رسول الله اعلان کونکي ته حکم اوکړو هغه دا اعلان اوکړو چي حج په عرفات کي اودريدلو ته وئيلي شي، څوك چي دمزدلفي په شپه دسبا کيدو نه مخکي عرفي ته لاړ شي نو دهغه حج اوشو او دمنى دري ورځي دي چي څوك جلتي اوکړي او په دوو ورځو کي لاړ شي نو په هغه باندي څه ګناه نشته او که څوك دريمي ورځي ته حصار شي نو په ده باندي هم څه ګناه نشته (ديحي په روايت کي دومره اضافه ده) چي رسول الله يو کس په خان پسي شاته کينولو او هغه دا اعلان اوکړو.

*****************

٨٩٠_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. وقَالَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ: وَهَذَا أَجْوَدُ حَدِيثٍ رَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَعْمَرَ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّهُ مَنْ لَمْ يَقِفْ بِعَرَفَاتٍ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ، فَقَدْ فَاتَهُ الْحَجُّ وَلَا يُجْزِئُ عَنْهُ إِنْ جَاءَ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ وَيَجْعَلُهَا عُمْرَةً وَعَلَيْهِ الْحَجُّ مِنْ قَابِلٍ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. قَالَ أَبُو

[1] _ ابي داود في الحج ٦٩ (١٩٣٩) . سنن النسائي في الحج ٢٠٣ (٣٠١٩) . سنن ابن ماجه في المناسك ٥٧ (٣٠١٥) . (تحفة الأشراف: ٩٧٣٥) . مسند احمد (٣ في ٣٠٩، ٣١٠، ٣٣٥) . سنن الدارمي في المناسك ٥٣ (١٩٢٩) . ويأتي في التفسير برقم: ٢٩٧٥

عِيسَى: وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ عَنْ بُكَيْرِ بْنِ عَطَاءٍ نَحْوَ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، قَالَ: وَسَمِعْتُ الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا أَنَّهُ ذَكَرَ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: هَذَا الْحَدِيثُ أُمُّ الْمَنَاسِكِ. (1)

**ترجمه** : دابن ابي عمر نه هم په سند د سفيان ثوري عن بكير بن عطاء عن عبدالرحمن بن يعمر عن النبي صلي الله عليه وسلم نه هم ددي هم معني روايت مروي دي، ابن ابي عمر وائي قال سفيان بن عيينه، او دا دټولو نه ښه حديث دي په هغه احاديثو كي كوم چي سفيان ثوري نقل كړي دي

امام ترمذي وائي شعبه هم دبكير بن عطاء نه د ثوري پشان روايت نقل كړي دي، وكيع چي ددي حديث ذكر اوكړو شعبه اووئيل چي دا حديث دحج په سلسله كي د ام المناسك حيثيت لري، په صحابه كرامو كي داهل علمو عمل دعبدالرحمن بن يعمر په حديث دي چي دطلوع فجر نه مخكي په عرفات كي حصاريدل اونه شول نو حج ورنه فوت شو او كه دطلوع فجر نه پس څوك راشي نو دا به هم كافي نه وي ددي حج نه دي عمره جوړه كړي او په راتلونكي كال دي بيا حج اوكړي دا دسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول دي

*****************

٨٩١ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ أَبِي هِنْدٍ وَإِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ وَزَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ بْنِ مُضَرِّسِ بْنِ أَوْسِ بْنِ حَارِثَةَ بْنِ لَامٍ الطَّائِيِّ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمُزْدَلِفَةِ، حِينَ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ! إِنِّي جِئْتُ مِنْ جَبَلَيْ طَيِّئٍ أَكْلَلْتُ رَاحِلَتِي وَأَتْعَبْتُ نَفْسِي وَاللَّهِ! مَا تَرَكْتُ مِنْ حَبْلٍ إِلَّا وَقَفْتُ عَلَيْهِ. فَهَلْ لِي مِنْ حَجٍّ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ شَهِدَ صَلَاتَنَا هَذِهِ وَوَقَفَ مَعَنَا حَتَّى نَدْفَعَ، وَقَدْ وَقَفَ بِعَرَفَةَ قَبْلَ ذَلِكَ لَيْلًا أَوْ نَهَارًا، فَقَدْ أَتَمَّ حَجَّهُ وَقَضَى تَفَثَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: قَوْلُهُ تَفَثَهُ يَعْنِي نُسُكَهُ. قَوْلُهُ مَا تَرَكْتُ مِنْ حَبْلٍ إِلَّا وَقَفْتُ عَلَيْهِ. إِذَا كَانَ مِنْ رَمْلٍ يُقَالُ لَهُ حَبْلٌ. وَإِذَا كَانَ مِنْ حِجَارَةٍ يُقَالُ لَهُ جَبَلٌ. (2)

---

1 ـ ابي داود في الحج ٦٩ (١٩٤٩). سنن النسائي في الحج ٢٠٣ (٣٠١٩). سنن ابن ماجه في المناسك ٥٧ (٣٠١٥). (تحفة الأشراف: ٩٧٣٥). مسند احمد (٤ في ٣٠٩، ٣١٠، ٣٣٥). سنن الدارمي في المناسك ٥٤ (١٩٢٩). ويأتي في التفسير برقم: ٢٩٧٥

2 ـ ابي داود في الحج ٦٩ (١٩٥٠). سنن النسائي في الحج ٢١١ (٣٠٤٢). سنن ابن ماجه في المناسك ٥٧ (٣٠١٦). (تحفة الأشراف: ٩٩٠٠). مسند احمد (٤ في ٢٦١، ٢٦٢). سنن الدارمي في المناسك ٥٤ (١٩٣٠)

**ترجمه** : دعروه بن مضرس بن اوس بن حارثه بن لام الطائي رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته مزدلفي ته ورغلم كله چي هغه مونځ ته روان شو ما ورته عرض اوكړو اي دالله رسوله زه د طئ قبيلي ددواړو غرونو نه راغلي يم خپله سورلئ او خپل ځان مي ښه ستړي كړي دي په الله قسم ما هيڅ يو داسي غر نه دي پريخودلي چرته چي ما دعرفات په فكر وقوف نه وي كړي نو ايا زما حج اوشو؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هر څوك چي زمونږ په مونځ كي حاضر شو او زمونږ سره يي قيام اوكړو تردي چي مونږ ددي ځاي نه روان شو او هغه ددينه مخكي د ورځي يا دشپي په عرفه كي وقوف كړي وي نو دده حج پوره شو او خيري يي ختم شول.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي "تفثه" معني نسكه دي يعني دمناسك په معني دي او دده قول "ماتركت من حبل الا وقفت عليه" يعني يوه غونډئ مي داسي نه ده پريخودلي چي ما پكي وقوف نه وي كړي دا قول په دي سلسله كي داسي دی. كله چي يوه غونډئ دشګو وي نو هغي ته حبل وئيلي شي او چي دكاڼړو وي نو جبل ورته وئيلي شي.

**تشريح** : دا مسئله اتفاقي ده چي وقوف عرفه چي فوت شي نو حج هم فوت كيږي.

## د وقوف عرفه نه دوه مسنون اعمال

فقهاء وائی چی د وقوف عرفات نه وړاندې غسل كول اوپه دعا كي كوشش كول سنت دی،واجب نه دی،د مستحب وضاحت كوی،صاحب د هدايه وائی چی د وقوف عرفه نه وړاندې غسل كول سنت دي واجب نه دي نوكه په اودس ئې اكتفاء اوكړله،هم روا ده لكه څنګه چی جمعه اخترونو اواحرام تړلو نه وړاندې غسل كول سنت دی،خوكه په اودس ئې اكتفا اوكړله نو روا ده، اوپه دعا كي كوشش كول مستحب دي ځكه چی رسول الله صلي الله عليه وسلم هم په دي مقام كي د خپل امت دپاره په دعا كي ډير كوشش كړې وو،اود قتل ناحق اوظلمونو نه سوا چی كوم حقوق العباد دی نودهغې په باره كي هم ټولې دعاګانې قبولې شوې.

*****************

## ٥٨_ باب مَا جَاءَ فِي تَقْدِيمِ الضَّعَفَةِ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ

**دمزدلفي نه دشپي په وخت كي دكمزورو خلقو او ښځو او ماشومانو درخصتولو بيان**

**٨٩٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "بَعَثَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَقَلٍ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ حَبِيبَةَ،**

وَأَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ. بَعَثَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَقَلٍ، حَدِيثٌ صَحِيحٌ، رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ مُشَاشٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَدَّمَ ضَعَفَةَ أَهْلِهِ مِنْ جَمْعٍ بِلَيْلٍ" وَهَذَا حَدِيثٌ خَطَأٌ أَخْطَأَ فِيهِ مُشَاشٌ وَزَادَ فِيهِ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَرَوَى ابْنُ جُرَيْجٍ وَغَيْرُهُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَمُشَاشٌ بَصْرِيٌّ، رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه دمزدلفي نه دشپي په وخت كي دسامانونو او كمزورو خلقو سره اوليږلم.
امام ترمذي وائي په دي باب كي دعائشه، ام حبيبه ، اسماء بنت ابي بكر او فضل بن عباس رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

*****************

٨٩٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَّمَ ضَعَفَةَ أَهْلِهِ، وَقَالَ: "لَا تَرْمُوا الْجَمْرَةَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَمْ يَرَوْا بَأْسًا أَنْ يَتَقَدَّمَ الضَّعَفَةُ مِنَ الْمُزْدَلِفَةِ بِلَيْلٍ يَصِيرُونَ إِلَى مِنًى، وقَالَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُمْ لَا يَرْمُونَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَرَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي أَنْ يَرْمُوا بِلَيْلٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُمْ لَا يَرْمُونَ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ. (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپل كوز په خلقو كي كمزورو يعني ښځو او ماشومانو لره مخكي اوليږل او دوئ ته يي اوفرمائيل څو پوري چي نمر ختلي نه وي نو رمي دجمار به نه كوئ.

---

1 ـ البخاري في الحج ٩٨ (١٦٧٧) . (تحفة الأشراف : ٥٩٩٧) . مسند احمد (١ في ٢٣٥، ٣٣٣)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٣٤٣) وأخرجه سنن ابي داود في الحج ٦٦ (١٩٤٠) . سنن النسائي في الحج ٢٢٢ (٣٠٦٦) . سنن ابن ماجه في المناسك ٦٢ (٣٠٢٥) . مسند احمد (١ في ٢٣٤، ٣١١)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي ، او دابن عباس دا حديث "بعثني رسول الله صلي الله عليه وسلم في ثقل" صحيح دي او دا دهغه نه په يو څو سندونو مروي دي. شعبه دا حديث دمشاش نه او مشاش دعطاء نه او عطاء دابن عباس نه او ابن عباس دفضل بن عباس نه نقل كړي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم پخپل كور والا كي كمزوري لره مخكي دشپي دمزدلفي نه مني ته اوليږل ، مشاش په دي كي غلطي كړي ده په دي سند كي يي دفضل بن عباس اضافه كړي ده ، ابن جريج او بعضي نورو راويانو دا حديث دعطاء نه او عطاء دابن عباس نه نقل كړي دي او دفضل بن عباس واسطه يي نه ده ذكر كړي مشاش بصري راوي دي او شعبه ورنه روايت كړي دي داهل علمو په همدي حديث عمل دي هغوئ وائي په دي كي هيڅ حرج نشته چي كمزوري خلق دمزدلفي نه دشپي وخت كي مني ته اوليږلي شي اكثرو اهل علمو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دحديث مطابق عمل كړي دي چي څو پوري نمر ختلي نه وي خلق دي رمي نه كوي او بعضي اهل علمو دشپي وخت كي درمي كولو اجازت وركړي دي او عمل د رسول الله په حديث دي چي څو پوري نمر ختلي نه وي هغي پوري رمي كول پكار نه دي او همدا دسفيان ثوري او شافعي قول دي

****************

## ٥٩_ باب مَا جَاءَ فِي رَمْيِ يَوْمِ النَّحْرِ ضُحًى

### دقربانۍ په ورځ دڅاښت په وخت كي درمي كولو بيان

٨٩٤_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي يَوْمَ النَّحْرِ ضُحًى، وَأَمَّا بَعْدَ ذَلِكَ فَبَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا الحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ العِلْمِ، أَنَّهُ لَا يَرْمِي بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ إِلَّا بَعْدَ الزَّوَالِ.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په لسم ذي الحجه د غرمي په وخت كي رمي كول او ددينه پس به يي دزوال نه روستو كوله

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي، داكثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي او هغوئ په لسم ذي الحجه دزوال نه پس رمي كولو ته ترجيح وركوي.

---

[1] _ صحيح مسلم في الحج ٥٣ (١٢٩٩) . سنن ابي داود في الحج ٧٨ (١٩٧١) . سنن النسائي في الحج ٢٢١ (٣٠٦٥) . سنن ابن ماجه في المناسك ٧٥ (٣٠٥٣) . سنن ابي داود في المناسك ٥٨ (١٩٣٤) (تحفة الأشراف : ٢٧٩٥)

**تشريح: درمي كولو طريقه او ددي د ابتداء بيان**

د رمی په باره کي په دولس ځايونو کي کلام دي:

(۱) وخت ئې يوم النحر دي اودرې ورځې ددې نه پس دی

(۲) د ويشتلو ځائي ئې بطن وادی دي.

(۳) د رمی محل ئې درې ځايونه دی، جمره عقبه،مسجد خيف اوجمره وسطی

(۴) دګيټکو شمار دهرې جمرې سره اوه دی اود کانړي مقدار د ګوتې د بند هومره دي

(۶) د رمی مقدارنودا هم په کتاب کي ذکر ده.

(۸) د ويشتونکی صفت دادی چی دي به يا سور وی يا پيدل.

(۹) د ګيټکو غورځيدو ځائي(۱۰) دکوم ځائې نه چی ګيټکی راخلی.

(۱۱) ګيټکی به څنګه وی،هغه دا چی د زمکې د جنس نه به وی.

(۱۲) په اوله ورځ به صرف د جمره عقبه رمی کولې شی.اوپه باقی ورځو کي به د درې واړو جمراتو رمی کولې شی،

فقهاء وايي د رمی شروع به د جمره عقبه نه کيږی نود وادی د ښکته حصی نه به اوه ګيټکی اولی.اودا ګيټکی به د ګوتود بندونو په برابر وی،اود مسواکې ګوتې په ډډه باندې ويشتلې شی،ددي قول دليل دادی چی رسول پاك صلي الله عليه وسلم کله منی ته تشريف يوړلو نوبغير د څه توقف نه ئې جمره عقبه ويشتې وه،او رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی.په تاسوباندې ګيټکی ويشتل لازم دی.په تاسوکي دي بعضې خلق بعضو نورو نه تکليف نه رسوی.

**د ګيټکو ويشتلو طريقه**

د رمی کيفيت دادی چی ګيټکی به د خپل ښی لاس د متې ګوتې په شا باندې کيږدی.اود مسواکې ګوتې په مدد سره به رمی اوکړی.اوپکار ده چی د رمی کونکی اود ګيټکی د پريوتو په ځائې کي کم اوکم پنځه ګزه فاصله وی.

حسن بن زياد (رحمه الله) د امام ابوحنيفه رحمه الله نه هم دا روايت کړې دي ددي قول دليل دادی چی ددې نه کمه فاصله رمی باندې د رمی اطلاق نه کيږی،بلکي د غورځولو اطلاق پرې کيږی، اوکه ده ګيټکی د ويشتلو په ځائې په قصد سره اوغورځولو نوهم روا ده څکه چی ده ګيټکی خپلو قدمونو طرف ته اوغورځول،خود سنت دمخالفت د وجې به ګناهګار وی.اوکه ده ګيټکی کيخودل. نو روا به نه وی څکه چی دا رمی نه ده (بلکي کيخودل دی) (کفايه، عنايه)

*****************

## ٦٠ـ باب مَا جَاءَ أَنَّ الإِفَاضَةَ مِنْ جَمْعٍ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ

## د نمر ختلو نه مخکې دمزدلفې نه دواپسئ بيان

٨٩٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الأَحْمَرُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنِ الحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَفَاضَ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ". قَالَ: وَفِي البَابِ عَنْ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِنَّمَا كَانَ أَهْلُ الجَاهِلِيَّةِ يَنْتَظِرُونَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ ثُمَّ يُفِيضُونَ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دمزدلفي نه دنمر ختلو نه مخکي واپس شو.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي دجاهليت په زمانه کي به خلقو انتظار کولو تردي چي نمر به راوختلو نو بيا به واپس کيدل.

**تشريح:** صاحب د هدايه وائي چي د يوم النحر نمر راوخيژي نو روان به شي امام اوخلق د مزدلفې نه منی ته به لاړ شي.

****************

٨٩٦ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَمِعْتُ عَمْرَو بْنَ مَيْمُونٍ يُحَدِّثُ، يَقُولُ: كُنَّا وُقُوفًا بِجَمْعٍ. فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الخَطَّابِ: "إِنَّ المُشْرِكِينَ كَانُوا لَا يُفِيضُونَ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ، وَكَانُوا يَقُولُونَ أَشْرِقْ ثَبِيرُ، وَإِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَالَفَهُمْ، فَأَفَاضَ عُمَرُ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه** : دعمرو بن ميمون بيان دي فرمائي چي مونږ په مزدلفه کي موجود وو چي عمر بن الخطاب رضي الله عنه اوفرمائيل څو پوري چي به نمر نه وو ختلي مشرکين به هغه وخته پوري دمزدلفي نه نه واپس کيدل او وئيل به يي اي ثبير! ته روښانه شه رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ مخالفت اوکړو چنانچه عمر رضي الله عنه دنمر ختلو نه مخکي واپس شو

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٤٧٣) (صحيح بما بعده)

2 ـ صحيح البخاري في الحج ١٠٠ (١٦٨٤)، ومناقب الأنصار ٢٦ (٣٨٣٨)، سنن ابي داود في الحج ٦٥ (١٩٣٨)، سنن النسائي في الحج ٢١٣ (٣٠٥٠)، سنن ابن ماجه في المناسك ٦١ (٣٠٢٢)، (تحفة الأشراف : ١٠٦١٦)، مسند احمد (١/ في ١٤، ٢٩، ٣٩، ٤٢، ٥٠)، سنن الدارمي في المناسك ٥٥ (١٩٣٢)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٦١_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْجِمَارَ الَّتِي يُرْمَى بِهَا مِثْلُ حَصَى الْخَذْفِ

**دجمراتو درمي دپاره ګيټۍ داسي پکار دي چي دشهادت په ګوته او دي سره نزدي ګوتو باندي نيولي کيدي شي**

په ګوتو کي چي ګيټۍ نيولي کيدي شي دهغي نوم خذف دي

٨٩٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجِمَارَ بِمِثْلِ حَصَى الْخَذْفِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ، عَنْ أُمِّهِ وَهِيَ أُمُّ جُنْدُبٍ الْأَزْدِيَّةُ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَالْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عُثْمَانَ التَّيْمِيِّ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مُعَاذٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي اخْتَارَهُ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنْ تَكُونَ الْجِمَارُ الَّتِي يُرْمَى بِهَا مِثْلَ حَصَى الْخَذْفِ.[1]

**ترجمه**: دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي مارسول الله صلي الله عليه وسلم اوليدو چي په داسي ګيټو يي رمي دجمار کوله کومه چي په دوه ګوتو مينځ کي نيولي کيدي شوه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دسليمان بن عمرو بن احوص (چي دخپلي مور ام جندب ازديه نه روايت کوي) او ابن عباس، عبدالرحمن بن عثمان تيمي، او عبدالرحمن بن معاذ رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او په همدي باندي اهل علمو عمل اختيار کړي دي چي درمي جمار دپاره ګيټۍ داسي پکار دي کومي چي دوه ګوتو مينځ کي نيولي کيدي شي.

*****************

## ٦٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّمْيِ بَعْدَ زَوَالِ الشَّمْسِ

**د نمر دزوال نه پس درمي کولو بيان**

---

[1] _ ابي داود في الحج ٦٦ (١٩٤٤) . سنن النسائي في الحج ٢٠٣ (٣٠٤٢) ، و٢١٥ (٣٠٥٥) . سنن ابن ماجه في المناسك ٦١ (٣٠٢٣) . (تحفة الأشراف : ٢٨٤٧و٢٨٥) . مسند احمد (٣ في ٣٠١ ، ٣٣٢ ، ٣٦٨ ، ٣٩١) . ويأتي عند المؤلف رقم: ٨٩٨)

۸۹۸_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجِمَارَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم به رمي دجمار هغه وَخت كوله كله چي به نمر ډوب شو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**مسئله** : حاجى به د نحر د ورځو په دريمه ورځ يعنى په دولسمه ذوالحجه هم د نمر د زوال نه پس د وړاندې پشان د درې جمراتو رمى اوكړى،اوس كه دده تلوار وى نود رمى نه پس دي هم په دولسمه ذوالحجه باندې مكې ته روان شى،اوكه د ايساريدو اراده ئې وى نود نحر د ورځو په ځلورمه ورځ يعنى په ديارلسمه ورځ دي هم د نمر د زوال نه پس د درې واړو جمراتو رمى اوكړى،اوبيا دي مكې ته روان شى،هم ددې وجې د دولسمى ذوالحجه تلو ته نفراول وائى،اود ديارلسمى ذوالحجه روانيدو ته نفر ثانى وائى. ددي قول دليل دالله تعالى فرمان دې:

وَاذْكُرُوا اللَّهَ فِي أَيَّامٍ مَعْدُودَاتٍ فَمَنْ تَعَجَّلَ فِي يَوْمَيْنِ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ وَمَنْ تَأَخَّرَ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ۔

اوغوره دا ده،يعنى كوم كس چى دولسم تاريخ باندې زر روان شى نوپه ده باندې هم څه گناه نشته،اوځوك چى ديارلسمې ورځې ته ايساريږى نوده باندې هم څه گناه نشته.

خوغوره هم دا ده چى د ديارلسمې ذوالحجه پورې په منى كي ايسارشى ځكه چى رسول الله صلي الله عليه وسلم په منى كي ايسار شوې وو،تردي چى په ځلورمه ورځ يعنى د ذوالحجه په ديارلسمه ورځ ئې د درې واړه جمراتو رمى اوكړله.

**********************

## ٦٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي رَمْيِ الْجِمَارِ رَاكِبًا وَمَاشِيًا

### په سورلئ او پيدل حالت كي درمي كولو بيان

۸۹۹_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، أَخْبَرَنَا الْحَجَّاجُ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "رَمَى الْجَمْرَةَ يَوْمَ النَّحْرِ رَاكِبًا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ جَابِرٍ، وَقُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَأُمِّ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ. قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

1_ سنن ابن ماجه في المناسک ۷۵ (۳۰۵۳) (تحفة الأشراف: ٦٢٦٦)

حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَاخْتَارَ بَعْضُهُمْ أَنْ يَمْشِيَ إِلَى الْجِمَارِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ "يَمْشِي إِلَى الْجِمَارِ" وَوَجْهُ هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَنَا أَنَّهُ رَكِبَ فِي بَعْضِ الْأَيَّامِ لِيُقْتَدَى بِهِ فِي فِعْلِهِ. وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ مُسْتَعْمَلٌ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

**ترجمه**: دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په لسم ذي الحجه په سورلئ رمي دجمار اوكړه.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن دي ، او په دي باب كي دجابر ، قدامه بن عبدالله، سليمان بن عمرو بن احوص رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دبعضي صحابه كرامو هم په دي باندي عمل دي بعضو داقول اختياركړي دي چي حاجي به جمرات پوري پيدل ورځي. دابن عمر رضي الله عنه نه مروي دي او هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت بيانوي چي رسول الله به جمرات پوري پيدل ورتلو. زمونږ په نزد په دي حديث كي توجيه داده چي كله كله به دسورلئ په حالت رمي دجمار دپاره په دي غرض ورتلو چي دده ددي فعل هم پيروي اوكړي شي او په دواړو احاديثو داهل علمو عمل دي.

**تشريح**: **په سورلئ رمی کول**

كه چري يو كس په سورلئ رمي اوكړله نو روا ده ځكه چی د رمی عمل حاصل شو. صاحب د قدوري يوي ضابطی ته اشاره كړې ده،هغه دا چی هره يوه رمی چی دهغې نه پس رمی وی نوپه هغې كي پيدل رمی كول افضل دی،ګنی په سورلئ رمی افضل ده ،ددې قاعدي مطابق په يوم النحر په سورلئ باندې د جمره عقبه رمی كول افضل دی ځكه چی په يوم النحر دجمره عقبه د رمی نه پس بله رمی نشته.اوپه نورو ورځوكي چونكه د جمره اولی او وسطی د رمی نه پس بله رمی شته نوځكه په هغې كي پيدل رمی افضل ده.او د دريمې جمري نه پس چونكه بله رمی نشته نوځكه په دي رمی كي په سورلئ باندې رمی كول افضل دی،ددي دليل دادی چی كه د رمی نه پس رمی وی نوپيدل رمی ځكه افضل ده چی د اولنئ او دويمې رمی نه پس چونكه اودريدل اودعا كول دی نوځكه دي پيدل رمی كوی چی عاجزئ ته زياته نزدي وی،دا افضليت د امام ابويوسف (رحمه الله) نه نقل دي.

****************

1 ـ سنن ابن ماجه في المناسك ٦٦ (٣٠٢٣) (تحفة الأشراف : ٦٤٦٧)

٩٠٠_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى. حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ. عَنْ عُبَيْدِ اللهِ. عَنْ نَافِعٍ. عَنِ ابْنِ عُمَرَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "إِذَا رَمَى الْجِمَارَ مَشَى إِلَيْهَا ذَاهِبًا وَرَاجِعًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ عُبَيْدِ اللهِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وقَالَ بَعْضُهُمْ: يَرْكَبُ يَوْمَ النَّحْرِ وَيَمْشِي فِي الْأَيَّامِ الَّتِي بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَكَأَنَّ مَنْ قَالَ: هَذَا إِنَّمَا أَرَادَ اتِّبَاعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي فِعْلِهِ. لِأَنَّهُ إِنَّمَا رُوِيَ. عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ "رَكِبَ يَوْمَ النَّحْرِ حَيْثُ ذَهَبَ يَرْمِي الْجِمَارَ، وَلَا يَرْمِي يَوْمَ النَّحْرِ إِلَّا جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ".([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي نبي كريم صلي الله عليه وسلم چي به كله رمي دجمار كوله نو جمراتو پوري به پيدل ورتلو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او بعضي راويانو دا دعبيدالله العمري نه نقل كړي دي ليكن هغوئ مرفوع نه دي بيان كړي داكثرواهل علمو عمل هم په دي باندي وو، دبعضي اهل علمو قول دي چي په لسم ذي الحجه په سورلئ سوريدي شي او دلسم نه پس په باقي ورځو كي پيدل تلل پكار دي، ګويا كي چاچي دا قول كړي دي دهغوئ پيش نظر صرف دنبي كريم صلي الله عليه وسلم ددي فعل اتباع كول دي ، ځكه چي درسول الله نه دا هم مروي دي چي هغه په لسم ذي الحجه په سورلئ سور شو كله چي درمي دجمار دپاره ورغلو، او په لسم ذي الحجه صرف دجمره عقبه رمي كول دي.

******************

## ٦٤_ بَابُ مَا جَاءَ كَيْفَ تُرْمَى الْجِمَارُ

### دجمراتو رمي څنګه كول پكار دي

٩٠١_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. حَدَّثَنَا الْمَسْعُودِيُّ، عَنْ جَامِعِ بْنِ شَدَّادٍ أَبِي صَخْرَةَ. عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: لَمَّا أَتَى عَبْدُ اللهِ جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ اسْتَبْطَنَ الْوَادِيَ وَاسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ. وَجَعَلَ يَرْمِي الْجَمْرَةَ عَلَى حَاجِبِهِ الْأَيْمَنِ، ثُمَّ رَمَى بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، ثُمَّ قَالَ: "وَاللهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ. مِنْ هَاهُنَا رَمَى الَّذِي أُنْزِلَتْ عَلَيْهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ". حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنِ الْمَسْعُودِيِّ بِهَذَا الْإِسْنَادِ نَحْوَهُ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وجابر. قَالَ

[1] _ (تحفة الأشراف: ٨٠١١) وأخرجه مسند احمد (٢ ف/١٣٨)

أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ يَخْتَارُونَ أَنْ يَرْمِيَ الرَّجُلُ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي بِسَبْعِ حَصَيَاتٍ، يُكَبِّرُ مَعَ كُلِّ حَصَاةٍ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِنْ لَمْ يُمْكِنْهُ أَنْ يَرْمِيَ مِنْ بَطْنِ الْوَادِي رَمَى مِنْ حَيْثُ قَدَرَ عَلَيْهِ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِي بَطْنِ الْوَادِي.[1]

**ترجمه** : دعبدالرحمن بن يزيد بيان دي فرمائي كله چي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه جمره عقبه ته ورسيدو نو ددي جمري دوقوع محل په مينځ كي اودريدو او قبلي ته مخامخ شو او دخپل مخ دښي طرف په مقابل يي رمي شوع كړه او بيا يي په اوه ګيټو رمي اوكړه او هري ګيټئ سره به يي الله اكبر وئيل او بيا يي اوفرمائيل په هغه الله قسم دچا نه علاوه چي بل معبود نشته هغه كس هم ددي ځاي نه رمي كړي وه په چاچي سورة بقره نازل شوي ده

امام ترمذي وائي دابن مسعود حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دفضل بن عباس، ابن عباس، ابن عمر او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دي دعلماؤ په نزد بهتر همدا صورت دي چي انسان بطن وادي كي اودريږي او په اوه كاڼرو رمي اوكړي او هري ګيټئ ويشتلو سره الله اكبر اووائي او بعضي اهل علمو اجازت وركړي دي چي كه په بطن وادي كي اودريدل ممكن نه وي نو دداسي ځاي نه دي دګيټو ويشتل اوكړي دكوم ځاي نه چي دي په دي باندي قادر وي اګر كه هغه دبطن وادي مينځ نه وي.

## دګيټوويشتلوطريقه

د رمی كيفيت دادی چی ګيټكی به د خپل ښی لاس د متيې ګوتې په شا باندې كيږدی.اود مسواكې ګوتې په مدد سره به رمی اوكړی.اوپكار ده چی د رمی كونكی اود ګيټكی د پريوتو په ځائې كې كم اوكم پنځه ګزه فاصله وی.

حسن بن زياد (رحمه الله) د امام ابوحنيفه رحمه الله نه هم دا روايت كړې دی ددی قول دليل دادی چی ددې نه كمه فاصله رمی باندې د رمی اطلاق نه كيږی.بلكې د غورځولو اطلاق پرې كيږی، اوكه ده ګيټكی د ويشتلو په ځائې په قصد سره اوغورځولو نوهم روا ده خكه چی ده ګيټكی خپلو قدمونو طرف ته اوغورځول.خود سنت دمخالفت د وجې به ګناهګار وی.اوكه ده ګيټكی كيخودل، نو روا به نه وی ځكه چی دا رمی نه ده (بلكې كيخودل دی) (كفايه، عنايه)

---

[1] ـ صحيح البخاري في الحج ١٣٥ (١١٣٧)، و ١٣٨ (١٤٥٠)، صحيح مسلم في الحج ٥٠ (١٢٩٦)، سنن ابي داود في الحج ٧٨ (١٩٧٣)، سنن النسائي في المناسك ٢٢٦ (٣٠٧٣)، سنن ابن ماجه في المناسك ٦٣ (٣٠٣٠) (تحفة الأشراف: ٩٣٨٢)، مسند احمد (١/ في ٤١٥، ٤٢٧، ٤٣٠، ٤٣٢، ٤٣٦، ٤٥٦، ٤٥٨)

******************

٩٠٢_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّمَا جُعِلَ رَمْيُ الْجِمَارِ وَالسَّعْيُ بَيْنَ الصَّفَا، وَالْمَرْوَةِ لِإِقَامَةِ ذِكْرِ اللَّهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دجمراتو رمي او دصفا مروه سعي دالله تعالي دذكر قائمولو دپاره مشروع كړي شوي دي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

******************

## ٦٥_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ طَرْدِ النَّاسِ عِنْدَ رَمْيِ الْجِمَارِ

**او دجمراتو دويشتو وخت كي خلقوته دديكو وركولو او دخلقو دلري كولو دكراهت بيان**

٩٠٣_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ أَيْمَنَ بْنِ نَابِلٍ، عَنْ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْمِي الْجِمَارَ عَلَى نَاقَةٍ لَيْسَ ضَرْبٌ وَلَا طَرْدٌ وَلَا إِلَيْكَ إِلَيْكَ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ حَنْظَلَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ قُدَامَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِنَّمَا يُعْرَفُ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَهُوَ حَدِيثُ أَيْمَنَ بْنِ نَابِلٍ، وَهُوَ ثِقَةٌ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ. ([2])

**ترجمه** : دعبدالله بن قدامه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم په داسي حالت كي اوليدو چي په يو اوښه سور وو او دجمراتو رمي يي كوله چي نه خلقو ته ديكي وركول وو او نه چرته دشړلو او لري شه لري شه اواز وو.

---

[1] ـ سنن ابي داود في الحج ٩١ (١٨٨٨) (تحفة الأشراف: ١٧٥٣٢). مسند احمد (٦ في ٦٣٩). سنن الدارمي في المناسك ٣٦ (١٨٩٥)

[2] ـ سنن النسائي في الحج ٢٢٠ (٣٠٦٣). سنن ابن ماجه في المناسك ٦٦ (٣٠٣٥). سنن الدارمي في المناسك ٦٠ (تحفة الأشراف: ١١٠٧٧)

امام ترمذي وائي دخدامه بن عبدالله حديث حسن صحيح دي او دا حديث په هم دي سند متصل دي دا دايمن بن نابل حديث دي او ايمن دمحدثينو په نزد ثقه دي او په دي باب كي دعبدالله بن حنظله رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

*****************

## ٦٦_ باب مَا جَاءَ فِي الِاشْتِرَاكِ فِي الْبَدَنَةِ وَالْبَقَرَةِ

### په قرباني كي په اوښ يا غوا كي شراكت كولو بيان

٩٠٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَحَرْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْحُدَيْبِيَةِ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَدَنَةَ عَنْ سَبْعَةٍ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ يَرَوْنَ الْجَزُورَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ وَرُوِيَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّ الْبَقَرَةَ عَنْ سَبْعَةٍ، وَالْجَزُورَ عَنْ عَشَرَةٍ". وَهُوَ قَوْلُ إِسْحَاقَ، وَاحْتَجَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ وَجْهٍ وَاحِدٍ. ([1])

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي حديبيه په كال مونږ دنبي اكرم صلي الله عليه وسلم سره اوښ او غوا د اوه كسانو دطرفه قرباني كړه.

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي ، په دي باب كي دابوهريره. عائشه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي. اوپه صحابه كرامو او اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي دوئ وائي چي اوښ داوه كسانو دطرفه او غوا غويي هم د اوه كسانو دطرفه وي او همدا دسفيان ثوري، شافعي، او احمد رحمهم الله قول دي. ابن عباس درسول الله نه روايت نقل كوي چي غوا داوه كسانو دطرفه او اوښ دلس كسانو دطرفه كافي دي او دا داسحاق بن راهويه قول دي او هغوئ همدي حديث نه استدلال كړي دي او دابن عباس حديث مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي.

*****************

[1] ـ صحيح مسلم في الحج ٦٢ (١٣١٨). سنن ابي داود في الضحايا ٧ (٢٨٠٩). سنن ابن ماجه في الأضاحي ٥ (٣١٣٢) (تحفة الأشراف: ٢٩٣٣). موطا امام مالك في الضحايا ٥ (٩). ويأتي عند المؤلف في الأضاحي ٨ (١٥٠٢) وأخرجه (صحيح مسلم في المصدر المذكور). سنن ابي داود في المصدر المذكور سنن النسائي في الضحايا ١٦ (٤٣٩٨)

٩٠٥_ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ، عَنْ عِلْبَاءَ بْنِ أَحْمَرَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ، فَحَضَرَ الأَضْحَى فَاشْتَرَكْنَا فِي الْبَقَرَةِ سَبْعَةً، وَفِي الْجَزُورِ عَشَرَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَهُوَ حَدِيثُ حُسَيْنِ بْنِ وَاقِدٍ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي مونږ په يو سفر کي د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چي دلوي اختر ورځ راغله چنانچه غوا مونږ داوه کسانو دطرفه ذبح کړه او په اوښ کي لس کسان شريك شو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او دا دحسين بن واقف روايت دي

*****************

## ٦٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي إِشْعَارِ الْبُدْنِ

### د اوښانو د اشعار بيان

٩٠٦_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوَائِيِّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَبِي حَسَّانَ الأَعْرَجِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "قَلَّدَ نَعْلَيْنِ، وَأَشْعَرَ الْهَدْيَ فِي الشِّقِّ الأَيْمَنِ بِذِي الْحُلَيْفَةِ، وَأَمَاطَ عَنْهُ الدَّمَ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو حَسَّانَ الأَعْرَجُ اسْمُهُ مُسْلِمٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ يَرَوْنَ الإِشْعَارَ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، قَالَ: سَمِعْت يُوسُفَ بْنَ عِيسَى، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ حِينَ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ، قَالَ: لَا تَنْظُرُوا إِلَى قَوْلِ أَهْلِ الرَّأْيِ فِي هَذَا، فَإِنَّ الإِشْعَارَ سُنَّةٌ وَقَوْلُهُمْ بِدْعَةٌ. قَالَ: وَسَمِعْت أَبَا السَّائِبِ، يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ وَكِيعٍ، فَقَالَ لِرَجُلٍ عِنْدَهُ مِمَّنْ يَنْظُرُ فِي الرَّأْيِ: "أَشْعَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" وَيَقُولُ أَبُو حَنِيفَةَ هُوَ مُثْلَةٌ، قَالَ الرَّجُلُ: فَإِنَّهُ قَدْ رُوِيَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، أَنَّهُ قَالَ: الإِشْعَارُ مُثْلَةٌ، قَالَ: فَرَأَيْتُ وَكِيعًا غَضِبَ غَضَبًا شَدِيدًا، وَقَالَ: أَقُولُ لَكَ: قَالَ

---

[1] _ سنن النسائي في الضحايا ١٥ (٤٣٩٧)، سنن ابن ماجه في الأضاحي ٥ (٣١٣١) (تحفة الأشراف : ٦١٥٨)، مسند احمد (١/ 275)، ويأتي عند المؤلف في الأضاحي ٨ (١٥٠١)

رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَتَقُولُ: قَالَ إِبْرَاهِيمُ: مَا أَحَقَّكَ بِأَنْ تُحْبَسَ، ثُمَّ لَا تَخْرُجَ حَتَّى تَنْزِعَ عَنْ قَوْلِكَ هَذَا. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په ذوالحليفه كي دقربانئ څاروي په غاړه كي د دوه پيزارونو اميل واچولو او دهغه دقب دښي طرف اشعار يي اوكړو او وينه يي ورنه پاكه كړه.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي دابو حسان الاعرج نوم مسلم دي. د صحابه كرامو او اهل علمو په دي باندي عمل دي او دوئ داشعار قائل دي همدا دسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي، ديوسف بن عيسي قول دي ما دوكيع نه اوريدلي دي كله چي هغه دا حديث بيان كړو چي په دي سلسله كي داهل رائي قول ته مه ګوره ځكه چي اشعار سنت دي او ددوئ قول بدعت دي . ما دابوسائب نه اوريدلي دي وئيل يي چي مونږ دوكيع سره موجود وو او هغه پخپل خوا كي يو كس ته اووئيل څوك چي دهغه كسانو دجملي نه وو چي په رائي كي به يي غور او فكر كولو رسول الله صلي الله عليه وسلم اشعار كړي دي او ابوحنيفه وائي چي دا مثله ده دي كس اووئيل دابراهيم نخعي نه مروي دي دهغه هم دا قول دي چي اشعار مثله ده ابو سائب وائي ما وكيع ته اوكتل چي دده په دي خبره ډير سخت پريشانه اوخفه شو او بيا يي اووئيل زه درته وايم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي او ته راته ابراهيم نخعي يادوي وكيع ورته اووئيل ته خو ددي لائق يي چي په جيل خانه كي قيد كړي شي اوبيا دهغه وخته پوري دقيد نه راونه ويستلي شي ترڅو چي دي دخپل قول نه رجوع نه وي كړي.

**تشريح** : اشعاردې ته وائی چی قب ورلـه زخمی کړی،اووينه تـرې راوباسـی ، کـه چرې يو کـس په بدنه کپړه واچوله،يا ئې اشعار اوکړلو.يعنی د هغـه قـب ئـې څيرې کړلو.او وينه ئې ترې راوئيستله،يا ئې چيلئ ته غاړکئ واچوله. نوپه دې صورتونوکي محرم نـه ګرځی.اګرچی د احرام نيت ئـې کـړې وی، ځکـه چی پـه څـاروو بانـدې کپـړه اچـول کلـه د يخنـئ ګرمـئ اومچانونه دحفاظت دپاره وی نودا عمـل دحـج دخصوصياتو نـه نشـو،حالانکه د احرام هغه نيت معتبر دې چی د داسې فعل سره متصل شی چی هغه د حج د خصوصياتو نه وی.

---

[1] ـ صحيح مسلم في الحج ٣٢ (١٢٤٣). سنن ابي داود في الحج ١٥ (١٧٥٢). سنن النسائي في الحج ٦٣ (٢٧٧٥). و٦٧ (٢٧٨٣)، و٧٠ (٢٧٩٣). سنن ابن ماجه في المناسك ٩٦ (٣٠٩٧). (تحفة الأشراف: ٦٤٥٩). مسند احمد (١ في ٢١٦، ٢٢٥، ٢٨٠، ٣٣٩، ٣٤٤، ٣٤٧، ٣٧٢). سنن الدارمي في المناسك ٦٨ (١٩٥٣)

اشعار د امام ابوحنیفه (رحمه الله) په نزدمکروه دي اوکوم څیز چې مکروه وی،نوهغه مناسك حج څنګه کیدې شی،اوچې د مناسکو د حج نه نشو،نوداحرام نیت د مناسك حج سره متصل نشو، او هر کله چې نیت د مناسك حج سره متصل نشو،نومحرم نه ګرځی.

اوصاحبینو په نزد اګرچې اشعار مستحسن (ښه) دي اومکروه نه دي خودا دحج د خصوصیاتو نه نه دي ځکه چې اشعار کله دعلاج دپاره هم کولې شی،نوهرکله چې اشعار د صاحبینو په نزد هم اشعارد حج دخصوصیاتو څخه نشو،نوپه دې سره محرم نه ګرځی. په خلاف د غاړکۍ اچولوچونکه هغه د حج د افعالوسره خاص دي دبل غرض اومقصد دپاره نه کیږی،اوس پاتې شوه دا خبره چې هرکله تقلید دحج احکامو پورې خاص دي نوپکاروه چې چیلۍ ته غاړکۍ اچولوسره محرم ګرځیدلو.حالانکه د چیلۍ په مقلد کولوباندې هم محرم نه ګرځی، ددې جواب دادی چې چیلۍ ته غاړکۍ اچول معتاد نه دی.یعنی دخلقو په عادت کې نشته.

اوسنت هم نه دی،(ځکه چې رسول پاك صلی الله علیه وسلم چیلۍ ته غاړکۍ نه ده اچولې) بلکې تقلید صرف د بدنه یعنی د اوښ اوغوا سره مخصوص دي نوځکه چیلۍ ته غاړکۍ اچولو سره نه محرم کیږی. (احسن الهدایه ، العنایه)

****************

## ٦٨_ باب

### دقربانۍ دخاروي متعلق یوبل باب

٩٠٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَبُو سَعِيدٍ الأَشَجُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "اشْتَرَى هَدْيَهُ مِنْ قُدَيْدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ الْيَمَانِ، وَرُوِيَ عَنْ نَافِعٍ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ "اشْتَرَى هَدْيَهُ مِنْ قُدَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائي چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم دخپلي قربانۍ خاروي په قدید مقام کي اخستلي وو.

امام ترمذي وائي دا حدیث غریب دي او موږ ته دا حدیث صرف دیحي بن یمان په سند معلوم دي او دنافع نه مروي دي چې ابن عمر په قدید کي اخستلي وو او دا زیات صحیح روایت دي.

[1] ـ سنن ابن ماجه في المناسك ٩٩ (٣٠٩٨) (تحفة الأشراف: ٤٨٩٧)

*****************

## ٦٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَقْلِيدِ الْهَدْيِ لِلْمُقِيمِ

### دمقيم دپاره دقربانئ څاروي په غاړه کي د پټي يا اميل اچول

٩٠٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: " فَتَلْتُ قَلَائِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ لَمْ يُحْرِمْ وَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا مِنَ الثِّيَابِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. قَالُوا: إِذَا قَلَّدَ الرَّجُلُ الْهَدْيَ وَهُوَ يُرِيدُ الْحَجَّ، لَمْ يَحْرُمْ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنَ الثِّيَابِ وَالطِّيبِ حَتَّى يُحْرِمَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا قَلَّدَ الرَّجُلُ هَدْيَهُ، فَقَدْ وَجَبَ عَلَيْهِ مَا وَجَبَ عَلَى الْمُحْرِمِ. [1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم دقربانئ څاروي په غاړه کي اميلونه واچول او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم نه احرام اوتړلو او نه يي ګنډلو جامو اغوستل پريخودل.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باندي دبعضي اهل علمو عمل دي دوئ وائي کله چي يو سړي دقربانئ څاروي په غاړه کي اميل واچوي او دحج اراده لري نو هيڅ څيزورباندي دجامو او خوشبويي نه نه حراميږي تر څو چي يي احرام تړلي نه وي، او دبعضي اهل علمو قول دي کله چي چا دقربانئ څاروي په غاړه کي اميل واچولو نو واجب شو په ده باندي هغه احکام کوم چي واجب کيږي په محرم.

**تشريح** : (امام محمد (رحمه الله) په جامع صغيرکښې) وائی چی کوم کس بدنې ته غاړکئ واچوله.که نفلی وی،اوکه نذر وی،اوکه جزاء د ښکار وی،اود په څيزونو کي د بل څه څيز وی،اوروان شی د بدنې سره يخپله چی اراده ئې لرله د حج نو دې محرم شو.د وجې د وينا د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه،چاچی غاړکئ واچوله بدنې ته نو دې محرم شو،اوبله دا چی غاړکئ اچول په معنی د تلبيه وئيلو دی په ښکاره کولو د اجابت کښې،څکه چی نه کوی

---

[1] _ سنن النسائي في الحج ٦٨ (٢٧٨٦) (تحفة الأشراف : ١٧٥١٣) . مسند احمد (٦ في ٨٥) (وأخرجه صحيح البخاري في الحج ١٠٦ (١٦٩٨) . و١٠٧ (١٦٩٩) . و١٠٨ (١٦٩٩) . و١٠٩ (١٧٠٠) . و١١٠ (١٧٠٢، ١٧٠٣) . الوكالة ١٣ (٢٣١٧) . والأضاحي ١٥ (٥٥٦٦) . صحيح مسلم في الحج ٦٣ (١٣٢١) . سنن ابي داود في الحج ١٧ (١٧٥٨) . سنن النسائي في الحج ٦٥ (٢٧٨١-٢٧٧٧) . و٦٦ (٢٧٨٣) . ٦٨ (٢٧٨٥) . سنن ابن ماجه في المناسك ٩٣ (٣٠٩٥) . مسند احمد (٦ في ٣٥، ٣٦، ٧٨، ٩١، ١٠٢، ١٢٧، ١٧٤، ١٨٠، ١٨٥، ١٩٠، ١٩١، ٢٠٠، ٢٠٨، ٢١٣، ٢١٦، ٢٢٥، ٢٣٦، ٢٥٣، ٢٦٢)

دا (کار د غاړکۍ اچولو)مګرهغه څوک چې اراده لري د حج،اويا دعمرې،اواظهار د اجابت کله کيږي په فعل سره لکه څنګه چې کيږي په قول سره،نوګرځي په دې (تقليد) سره محرم. د وجې د اتصال د نيت دداسې فعل سره چې هغه د خصوصياتو د احرام نه دي اوطريقه د غاړکۍ اچولو دا ده چې اوتړي په څټ د بدنې پورې څه حصه د پڼې (ياڅپلۍ) ياد لو تې لاسکې يا پوستکې د ونې.

* * * * * * * * * * * * * * * *

## ٧٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَقْلِيدِ الْغَنَمِ

### دقربانۍ دګډو چيلوپه غاړه کې داميل اچولو بيان

٩٠٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُنْتُ أَفْتِلُ قَلاَئِدَ هَدْيِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُلَّهَا غَنَمًا، ثُمَّ لاَ يُحْرِمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ يَرَوْنَ تَقْلِيدَ الْغَنَمِ. [1]

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چې درسول الله صلي الله عليه وسلم دچيلو ټول اميلونه به ما دخاروو په غاړه کې اچول او بيا به رسول الله صلي الله عليه وسلم احرام نه تړلو (يعني حلال به اوسيدو).

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، دبعضي صحابه کرامو او دوئ نه پس داهل علمو په دې باندې عمل دي او هغوئ دګډو چيلو په غاړه کې داميل اچولو قائل دي

**تشريح** : دامام شافعي او احمد رحمهما الله په نزد داوښانو پشان دګډو چيلو په غاړه کې هم هار اچول سنت دي.

او دامام ابو حنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد هار اچول صرف په اوښانو او غويانو پورې خاص دي او دچيلو ګډو په غاړه کې هار اچول مشروع نه دي.

---

[1] _ سنن النسائي في الحج ٦٨ (٢٧٨٦) (تحفة الأشراف : ١٧٥١٣) . مسند احمد (٦ في ٨٥) (وأخرجه صحيح البخارى في الحج ١٠٦ (١٦٩٨) ، و١٠٧ (١٦٩٩) ، و١٠٨ (١٦٩٩) ، و١٠٩ (١٧٠٠) ، و١١٠ (١٧٠٢، ١٧٠٣) . الوكالة ١٣ (٢٣١٧) . والأضاحي ١٥ (٥٥٦٦) . صحيح مسلم في الحج ٦٣ (١٣٢١) . سنن ابي داود في الحج ١٧ (١٧٥٨) . سنن النسائي في الحج ٦٥ (٢٧٧٤-٢٧٨١) . و٦٦ (٢٧٨٣) . ٦٨ (٢٧٨٥) . سنن ابن ماجه في المناسک ٩٣ (٣٠٩٥) . مسند احمد (٦ في ٣٥، ٣٦، ٧٨، ٩١، ١٠٢، ١٢٧، ١٧٣، ١٨٠، ١٨٥، ١٩٠، ١٩١، ٢٠٠، ٢٠٨، ٢١٣، ٢١٦، ٢٢٥، ٢٣٦، ٢٥٣، ٢٦٢)

كه چري يو كس د قرباني ښاروى ته قلاده واچوله،بدنه نفلى وه،او كه د نذر وه،يا چرته مخكي دښكار كولوپه وجه د جرماني ښاروې وى،يا دم د تمتع وغيره وى،او دا كس د حج په اراده څپلي بدني سره مكي مكرمې ته روان هم وى،نو دې محرم شو،كه په ژبه ئې تلبيه وئيلى وى،او كه ئې نه وى وئيلي، ړومبى دليل د رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمان دي "من قلد بدنةً فقد احرم" دويم دليل دادې چې د ابراهيم عليه السلام د دعاء د قبوليت په جواب وركولوكي هديه روانول،د تلبيه په معنى كي دى،څكه چې د هدې بوتللو عمل هغه كس كوى،څوك چې دحج ياعمري اراده لرى،د قبوليت اظهار لكه څنګه چې په قول يعنى په تلبيه سره كيږى،دغه شان په سوق. يعنى په هدي سره هم كيږى.په دې وجه داكس په هدي روانولو سره محرم كيږى،څكه چې نيت د حج په داسې فعل سره متصل شوې دي كوم فعل چې د احرام د خصوصياتو نه دي صاحب دهدايه فرمائى،د تقليد صورت دادې چې د بدنه په غاړه كي د څپلئ ټكړه يا د لوټي لاسكې يا د ونې پوټ واچوى.

******************

## ٧١ـ بابُ مَا جَاءَ إِذَا عَطِبَ الْهَدْيُ مَا يُصْنَعُ بِهِ

### كله چي دقربانۍ ښاروې په لاره كي مركت ته نزدې شي نو څه كول پكار دي

٩١٠ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْحَاقَ الْهَمْدَانِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ نَاجِيَةَ الْخُزَاعِيِّ صَاحِبِ بُدْنِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ كَيْفَ أَصْنَعُ بِمَا عَطِبَ مِنَ الْبُدْنِ؟ قَالَ: "انْحَرْهَا ثُمَّ اغْمِسْ نَعْلَهَا فِي دَمِهَا، ثُمَّ خَلِّ بَيْنَ النَّاسِ وَبَيْنَهَا فَيَأْكُلُوهَا". وَفِي الْبَابِ عَنْ ذُؤَيْبٍ أَبِي قَبِيصَةَ الْخُزَاعِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ نَاجِيَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا فِي هَدْيِ التَّطَوُّعِ إِذَا عَطِبَ: لَا يَأْكُلُ هُوَ وَلَا أَحَدٌ مِنْ أَهْلِ رُفْقَتِهِ، وَيُخَلَّى بَيْنَهُ وَبَيْنَ النَّاسِ يَأْكُلُونَهُ، وَقَدْ أَجْزَأَ عَنْهُ. وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالُوا: إِنْ أَكَلَ مِنْهُ شَيْئًا غَرِمَ بِقَدْرِ مَا أَكَلَ مِنْهُ. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا أَكَلَ مِنْ هَدْيِ التَّطَوُّعِ شَيْئًا فَقَدْ ضَمِنَ الَّذِي أَكَلَ. [1]

**ترجمه** : درسول الله صلي الله عليه وسلم د اوښانو پالنه كونكي ناجيه خزاعي رضي الله عنه بيان دي ما عرض اوكړو اي دالله رسوله كوم اوښ چي په لاره كي مرګ ته نزدي شي په هغه به

---

[1] ـ سنن ابي داود في الحج ١٩ (١٧٦٢). سنن ابن ماجه في المناسك ١٠١ (٣١٠٦) (تحفة الأشراف: ١١٥٨١). موطا امام مالك في الحج ٤٧ (١٤٨). مسند احمد (٤ في ٣٣). سنن الدارمي في المناسك ٦٦ (١٩٥٠)

څه کوم؟ رسول الله اوفرمائيل نحر (ذبح) يې کړه او بيا د هغه اميل دهغه په وينه ګنده کړه او بيا دا خلقو ته پريږده چې غوښې يې اوخوري.

امام ترمذي وائي دناجيه حديث حسن صحيح دې او په دې باب کې دذويب، ابوقبيصه خزاعي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دې، او داهل علمو په دې باندې عمل دې دوئ وائي کله چې دنفلي قربانۍ څاروي مرګ ته نزدې شي نو پخپله يې نشي خوړلي او نه به يې دده دسفر ملګري خوري بلکې دا به خلقو ته پريږدي چې هغوئ يې اوخوري او همدا دده دپاره کافي ده دا دامام شافعي احمد او اسحاق رحمهم الله قول دې دوئ وائي که چرې ده ورنه پخپله خوراک اوکړو نو چې څومره يې ورنه خوړلي وي دهغې په مقدار تاوان به ورکوي مګر دبعضې اهل علمو قول دې چې کله څوك دخپلې نفلي قربانۍ دڅاروي نه غوښه اوخوري نوچاچې ورنه خوړلي وي هغه ددې ضامن دې.

*****************

## ٧٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي رُكُوبِ الْبَدَنَةِ

### دقربانۍ په اوښ دسوريدو بيان

٩١١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يَسُوقُ بَدَنَةً، فَقَالَ لَهُ: "ارْكَبْهَا" فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّهَا بَدَنَةٌ، قَالَ لَهُ فِي الثَّالِثَةِ أَوْ فِي الرَّابِعَةِ: "ارْكَبْهَا وَيْحَكَ" أَوْ وَيْلَكَ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ فِي رُكُوبِ الْبَدَنَةِ إِذَا احْتَاجَ إِلَى ظَهْرِهَا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا يَرْكَبُ مَا لَمْ يُضْطَرَّ إِلَيْهَا. [1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دې فرمائي چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم يو کس له داوښ دبوتلو په حالت کې اوليدو نو حکم يې ورته اوکړو چې په دې باندې سور لاړ شه هغه عرض اوکړو اې دالله رسوله دا خو دقربانۍ اوښ دې بيا يې ورته په دريم او څلورم ځل اوونيل چې په دې باندې سور لاړ شه ته دې هلاك شې.

---

[1] _ صحيح البخاري في الوصايا ١٢ (٢٧٥٤) (تحفة الأشراف : ١٣٢٨) وأخرجه صحيح البخاري في ١٠٣ (١٦٩٠)، والأدب ٩٥ (٦١٥٩)، صحيح مسلم في الحج ٦٥ (١٣٢٣)، سنن النسائي في الحج ٧٤ (٢٨٠٢)، مسند احمد (٣ في ٩٩، ١٧٠، ١٧٣، ٢٠٢، ٢٣١، ٢٣٤، ٢٧٥، ٢٧٦، ٢٩١)، سنن الدارمي في المناسك.

امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي، ابوهريره، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او همدا د امام احمد او اسحاق بن راهويه قول دي ، بعضي اهل علم وائي ترڅوپوري چي کومه مجبوري راغلي نه وي ترهغي دقرباني په څاروي سوريدل پکار نه دي.

**تشريح** : کوم کس چي بدنه روانه کړې وی،اوحرم ته روان وی،په لارکي ستړې شی.اود تگ طاقت نه لری،نوده ته په بدنه د سوريدو اجازت شته،ځوکه د پيدل تگ طاقت ئې وی،نوسوريږی به پرې نه،ځکه چی بدنه خالص دالله تعالی حق دي نوددې د ذات يا منافع نه فائده اخستل مناسب نه دی. تردې چی خپل محل ته اورسولې شی.اوذبح کړې شی.البته که سورلۍ ته محتاج شو،نو سورلی پرې کولې شی،ځکه چی په حديث کي دی چی يوکس هدی شړله،رسول الله ورته اوفرمائيل، تباه شه (دا خيرې نه دی،دعربومحاوره ده) په دې باندې سورشه،ددې حديث مطلب دادی چی هغه کس د پيدل تلونه عاجز وو.اوسورلۍ ته محتاج وو،ځکه ورته نبیﷺ په هغې د سوريدوحکم اوکړلو.

*****************

## ٧٣ـ بَاب مَا جَاءَ بِأَيِّ جَانِبِ الرَّأْسِ يَبْدَأُ فِي الْحَلْقِ

### دسر ويخته دکوم طرف نه خريل پکار دي

٩١٢ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَمَّا رَمَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجَمْرَةَ نَحَرَ نُسُكَهُ، ثُمَّ نَاوَلَ الْحَالِقَ شِقَّهُ الأَيْمَنَ فَحَلَقَهُ فَأَعْطَاهُ أَبَا طَلْحَةَ، ثُمَّ نَاوَلَهُ شِقَّهُ الأَيْسَرَ فَحَلَقَهُ. فَقَالَ: "اقْسِمْهُ بَيْنَ النَّاسِ". حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي کله چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دجمري رمي اوکړه نو دخپلي قربانۍ اوښ يي ذبح کړو او بيا يي او سر خريلو والاته دخپل سر ښي طرف ورنږدي کړو او هغه ورله سر اوخريل او دا ويخته يي ابوطلحه ته ورکړل بيا يي ورته دخپل سر گس طرف ورمخکي کړو نو دا يي ورله هم اوخريل او بيايي اوفرمائيل دا ويخته په

---

[1] ـ صحيح مسلم في الحج ٥٦ (١٣٠٥) . سنن ابي داود في الحج ٧٩ (١٩٠) (تحفة الأشراف : ١٤٥٦) وأخرجه البخاري الوضوء ٣٣ (١٧١)

خلقو کي تقسیم کړئ دابن ابي عمر په سند دهشام نه ددي هم معني حدیث مروي دي امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي.

*****************

## ٧٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْحَلْقِ وَالتَّقْصِيرِ

### دسر دويختو دخريلو يا کمولو بيان

٩١٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: حَلَقَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَلَقَ طَائِفَةٌ مِنْ أَصْحَابِهِ، وَقَصَّرَ بَعْضُهُمْ " قَالَ ابْنُ عُمَرَ: إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " رَحِمَ اللَّهُ الْمُحَلِّقِينَ مَرَّةً أَوْ مَرَّتَيْنِ " ثُمَّ قَالَ: " وَالْمُقَصِّرِينَ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ أُمِّ الْحُصَيْنِ، وَمَارِبَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي مَرْيَمَ، وَحُبْشِيِّ بْنِ جُنَادَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ يَخْتَارُونَ لِلرَّجُلِ أَنْ يَحْلِقَ رَأْسَهُ، وَإِنْ قَصَّرَ يَرَوْنَ أَنَّ ذَلِكَ يُجْزِئُ عَنْهُ، وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل سر په چا اوخريلو او بعضي خلقو ويخته کم کړل ابن عمر فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ځل يا دوه ځل اوفرمائيل الله تعالي دي په سر خرونکو باندي رحم اوکړي او بيا يي اوفرمائيل په سر کمونکو باندي هم.

**تشريح** : د سرخريل واجب دی،اوکه ديو کس په سرباندي ههو ويخته نه وی نوپه هغه واجب دی چی په خپل سرچانړه راکاږی، د حلق د افضليت دليل د رسول پاك صلي الله عليه وسلم حديث دي په صحيحينوکي راغلی دی چی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلی دی:

"اللهم ارحم المحلقين قالوا والمقصرين يارسول الله قال اللهم ارحم المحلقين قالوا والمقصرين يا رسول الله قال اللهم ارحم المحلقين قالوا و المقصرين يارسول الله قال والمقصرين"

---

[1] _ صحيح البخاری في الحج ١٢٧ (تعليقاً عقب حديث ١٧٢٧). صحيح مسلم في الحج ٥٥ (١٣٠١) (تحفة الأشراف: ٨٢٦٩) وأخرجه صحيح البخاری في الحج ١٢٧ (١٧٢٧). صحيح مسلم في الحج . سنن ابن ماجه في المناسك ٧١ (٣٠٤٣). موطا امام مالک في الحج ٦٠ (١٨٣). مسند احمد (٢ في ٣٤، ١٣٨، ١٥١). سنن الدارمی في المناسک ٦٣ (١٩٣٧)

په حديث كي سر خريونكو دپاره رسول پاك صلي الله عليه وسلم درې ځله د رحمت دعا كړې ده.اود قصر كونكودپاره ئې يوځل درحمت دعا كړې ده. نود رحمت دتكرار دعا د حلق په افضليت باندې ښكاره دليل دي:

(۲) دويم دليل دادی چی مقصود دبدن پاكول دی،اوپه دي مقصود حاصلولو كي حلق اكمل دي د قصر نه،اوپه ويختو كټ كولو كي د دي مقصود په حاصلولوكي كوتاهی ده.يعنی په ويختو كټ كولو كي پوره پاكي نه حاصليږی نودا دغسل او اودس سره مشابه شو،دغه شان حلق د قصر نه افضل دي اود حلاليدو دپاره دسر دڅلورمې حصې كټ كول كافی دی لكه څنګه چی په اودس كي د څلورمې حصې سره مسح كافی ده،البته دټول سر خريل افضل دی ځكه چی په دي كي درسول الله صلي الله عليه وسلم د فعل اقتداء ده،اوتقصيريعنی د ويختو كټ كول دادی چی د خپلې ګوتې په برابر باندې ويخته كټ كړی. (فتح القدير)

د حلق يا قصر نه پس د محرم دپاره هرهغه څيزحلال شو،كوم چی د احرام په وجه ممنوع وو،علاوه د ښځو سره د جماع اود اسبابو دجماع نه

امام مالك (رحمه الله) وائی چی د جماع پشان خوشبولګول هم حلال نه دی. ځكه چی خوشبوئی لګول د اسبابود جماع نه دی لكه څنګه چی ښځې مس كول اود هغې نه بوسه اخستل دواعی دجماع دی.

زمونږ دليل د رسول پاك صلي الله عليه وسلم قول دې چی "حل له كل شئ إلا النساء" يعنی د محرم دپاره (دحلق نه پس) هرڅيزحلال شو،اودا نص د امام مالك (رحمه الله) خلاف حجت دي (ځكه چی قياس د نص په مقابله كي مردود وی)

زمونږ په نزدد شرمګاه نه علاوه د بل ځائې په ذريعه جماع كول هم حلال نه دی.(مثلاً په پتون يا خيته كي په دخول سره انزال وغيره) اګرچی امام شافعی (رحمه الله) دحلت قائل دې

زمونږدليل دادی چی د شرمګاه نه علاوه په بل ځائې كي جماع كول هم د شهوت پوره كول دی نوځكه به دا هم د پوره حلالوالی پورې يعنی د طواف زيارت پورې مؤخركولې شی.

****************

## ٧٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْحَلْقِ لِلنِّسَاءِ

**دښځودپاره دسر خريلو دحرمت بيان**

٩١٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْحَرَشِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ خِلَاسِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا".(1)

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي خبري نه ممانعت فرمائيلي دي چي يوه ښځه خپل سر اوخروي

****************

٩١٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ خِلَاسٍ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ عَلِيٍّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ فِيهِ اضْطِرَابٌ، وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "نَهَى أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا". وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ عَلَى الْمَرْأَةِ حَلْقًا، وَيَرَوْنَ أَنَّ عَلَيْهَا التَّقْصِيرَ. (2)

**ترجمه** : په دي سند سره هم دخلاص نه په سابقه روايت هم معني حديث مروي دي ليكن په دي كي هغوئ دعلي رضي الله عنه واسطه نه ده ذكر كړي.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه په حديث كي اضطراب دي دا حديث دحماد بن سلمه نه دقتاده په سند عن عائشه ان النبي صلي الله عليه وسلم سره مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ښځي دسرونو خريلو نه منع كړي دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي هغوئ دښځو دپاره سر خريل درست نه ګڼري او ددوئ په خيال دښځو دپاره تقصير يعني كمول درست دي.

****************

## ٧٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ حَلَقَ قَبْلَ أَنْ يَذْبَحَ أَوْ نَحَرَ قَبْلَ أَنْ يَرْمِيَ

### دذبح كولو نه مخكي دسر خريلو يا درمي كولو نه مخكي دقربانئ كولو بيان

٩١٦_ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَابْنُ أَبِي عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عِيسَى بْنِ طَلْحَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: حَلَقْتُ قَبْلَ أَنْ أَذْبَحَ، فَقَالَ: "اذْبَحْ وَلَا حَرَجَ". وَسَأَلَهُ آخَرُ، فَقَالَ: نَحَرْتُ قَبْلَ أَنْ

---

[1] ـ سنن النسائي في الزينة ٤ (٥٠٥٢) (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٥)

[2] ـ سنن النسائي في الزينة ٤ (٥٠٥٢) (تحفة الأشراف: ١٠٠٨٥)

أَرْمِيَ، قَالَ: "ارْمِ وَلَا حَرَجَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأُسَامَةَ بْنِ شَرِيكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا قَدَّمَ نُسُكًا قَبْلَ نُسُكٍ فَعَلَيْهِ دَمٌ.[1]

**ترجمه**: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو ما دذبح كولو نه مخكي سر خريلي دي! رسول الله اوفرمائيل اوس ذبح كولي شئ او هيڅ حرج نشته، بيا يو بل كس تپوس اوكړو ما درمي كولو نه مخكي نحر كړي دي؟ورته يي اوفرمائيل اوس رمي كولي شئ هيڅ حرج نشته

امام ترمذي وائي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي. په دي باب كي دجابر، ابن عباس، ابن عمر، اسامه بن شريك رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي. او داكثرو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي او په همدي باندي احمد ،او اسحاق بن راهويه قول كړي دي، بعضي اهل علم وائي كه څوك بعضي نسك لره يعني رمي يا نحر يا حلق وغيره يو دبل نه وړاندي روستو اوكړي نو هغه باندي به دم لاژم وي مگر ددي خبري څه دليل نشته

****************

## ٧٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الطِّيبِ عِنْدَ الإِحْلَالِ قَبْلَ الزِّيَارَةِ

### دطواف زيارت نه مخكي داحرام پرا نيستلو وخت كي دخوشبو لګولو بيان

٩١٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا مَنْصُورٌ يَعْنِي ابْنَ زَاذَانَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "طَيَّبْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ أَنْ يُحْرِمَ، وَيَوْمَ النَّحْرِ قَبْلَ أَنْ يَطُوفَ بِالْبَيْتِ بِطِيبٍ فِيهِ مِسْكٌ". وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. يَرَوْنَ أَنَّ الْمُحْرِمَ إِذَا رَمَى جَمْرَةَ الْعَقَبَةِ يَوْمَ النَّحْرِ وَذَبَحَ وَحَلَقَ أَوْ قَصَّرَ، فَقَدْ حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ حَرُمَ عَلَيْهِ إِلَّا النِّسَاءَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ

---

[1] _ صحيح البخاري في العلم ٢٣ (٨٣)، والحج ١٣١ (١٧٣٦)، والأيمان والنذور ١٥ (٦٦٦٥)، صحيح مسلم في الحج ٥٧ (١٣٠٦)، سنن ابي داود في المناسك ٨٨ (٢٠١٤)، سنن ابن ماجه في المناسك ٧٤ (٣٠٥١) (تحفة الأشراف: ٨٩٠٦)، موطا امام مالك في الحج ٨١ (٢٤٢)، سنن الدارمي في المناسك ٦٥ (١٩٣٨)

عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّهُ قَالَ: " حَلَّ لَهُ كُلُّ شَيْءٍ إِلَّا النِّسَاءَ وَالطِّيبَ ". وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ أَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دي ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم داحرام تړلو نه مخکي په لسم ذي الحجه دبيت الله دطواف كولو نه مخكي خوشبو اولګوله چي مشك پكي شامل وو.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي په صحابه كرامو كي او ددوئ نه پس په اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي چي محرم كله په لسم ذي الحجه دجمره عقبي رمي اوكړي نو ځاروي دي ذبح كړي او سر دي اوخروي او يا دي ويخته كم كړي دي وخت كي به دده دپاره هر څيز حلال شي كوم چي په ده باندي حرام دي مګر علاوه دښځو نه. همدا دامام شافعي، احمد او اسحاق بن راهويه قول دي، دعمر رضي الله عنه نه مروي دي چي دښځواو خوشبو نه علاوه دده دپاره هر څيز حلال شو.

دبعضي صحابه كرامو او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او دي حديث طرف ته يي ميلان اختيار كړي دي او همدا داهل كوفه قول هم دي.

*****************

## ۷۸_ بَاب مَا جَاءَ مَتَى تُقْطَعُ التَّلْبِيَةُ فِي الْحَجِّ

### په حج كي به تلبيه وئيل كله بندولي شي

۹۱۸_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " أَرْدَفَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ جَمْعٍ إِلَى مِنًى، فَلَمْ يَزَلْ يُلَبِّي حَتَّى رَمَى الْجَمْرَةَ ". وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْفَضْلِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ

---

[1] _ صحيح مسلم في الحج ۷ (۱۱۸۹). سنن النسائي في الحج ۴۱ (۲۶۹۳) (تحفة الأشراف : ۱۷۵۲۶) وأخرجه صحيح البخارى في الحج ۱۸ (۱۵۳۹). و ۱۴۳ (۱۷۵۴). واللباس ۷۳ (۵۹۲۳). و۷۹ (۵۹۲۸). و۸۱ (۵۹۳۰). سنن ابي داود في المناسک ۱۱ (۱۷۴۵). سنن النسائي في الحج ۴۱ (۲۶۸۵۲۶۹۳). سنن ابن ماجه في المناسک ۱۱ (۲۹۲۶). و۷۰ (۳۰۴۲). موطا امام مالک في الحج ۷ (۱۷). مسند احمد (۶ في ۹۸، ۱۰۶، ۱۳۰، ۱۶۲، ۱۸۱، ۱۸۶، ۱۹۲، ۲۰۰، ۲۰۷، ۲۰۹، ۲۱۴، ۲۱۶، ۲۲۷، ۲۳۸، ۲۴۴، ۲۴۵، ۲۵۸). سنن الدارمى في المناسک (۱۸۴۴)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الحَاجَّ لَا يَقْطَعُ التَّلْبِيَةَ حَتَّى يَرْمِيَ الجَمْرَةَ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ.[1]

**ترجمه** : دفضل بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه دمزدلفي نه مني پوري خپل رديف جوړ کړم (يعني زه يي شاته ځان پسي سور کړم) او مسلسل يي تلبيه وئيل جاري ساتل تردي چي دجمره عقبي رمي يي اوکړه.

امام ترمذي وائي دفضل بن عباس حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دعلي، ابن مسعود ، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي دصحابه کرامو او ددوئ نه پس داهل علمو په همدي باندي عمل دي چي حاجي به هغه وخته پوري تلبيه نه بندوي ترڅو چي يي جمره عقبه ويشتلي نه وي همدا دامام شافعي او احمد بن حنبل او اسحاق رحمهم الله قول دي.

********************

## ٧٩ـ باب مَا جَاءَ مَتَى تُقْطَعُ التَّلْبِيَةُ فِي الْعُمْرَةِ

### په عمره کي به تلبيه کله بندولي شي

٩١٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ يَرْفَعُ الْحَدِيثَ "أَنَّهُ كَانَ يُمْسِكُ عَنِ التَّلْبِيَةِ فِي الْعُمْرَةِ إِذَا اسْتَلَمَ الْحَجَرَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: لَا يَقْطَعُ الْمُعْتَمِرُ التَّلْبِيَةَ حَتَّى يَسْتَلِمَ الْحَجَرَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا انْتَهَى إِلَى بُيُوتِ مَكَّةَ قَطَعَ التَّلْبِيَةَ، وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَبِهِ يَقُولُ سُفْيَانُ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ.

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه يو مرفوع روايت مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به په عمره کي تلبيه هغه وخت بندوله کله چي به يي دحجر اسود استلام اوکړو.

---

[1] ـ صحيح البخاری في الحج ١٠٢ (١٦٨٥). صحيح مسلم في الحج ٤٥ (١٢٨١). سنن ابی داود في المناسک ٢٨ (١٨١٥). سنن النسائي في الحج ٢١٦ (٣٠٥٧). و٢٢٨ (٣٠٨١). و٢٢٩ (٣٠٨٢). مسند احمد (١/ ٢١٠، ٢١١، ٢١٢، ٢١٣) (تحفة الأشراف: ١١٠٥٠) وأخرجه صحيح البخاری في الحج ٢٢ (١٥٤٣). و٩٣ (١٦٧٠). صحيح مسلم في الحج (المصدر المذكور). سنن ابن ماجه في المناسک ٦٩ (٣٠٢٠). مسند احمد (١في ٢١٤). سنن الدارمي في المناسک ٦٠ (١٩٤٣)

[2] ـ سنن ابی داود في الحج ٢٩ (١٨١٧) (تحفة الأشراف: ٥٩٥٨)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي، او د اكثرو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي دوئ وائي چي عمره كونكي به هغه پوري تلبيه نه بندوي چي څو پوري يي استلام دحجر اسود نه وي كړي ، او دبعضو قول دي چي كله دمكي ابادئ ته ورسيږي نو تلبيه وئيل دي بند كړي ليكن عمل دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په حديث باندي يعني مذكوره حديث او همدا دسفيان ثوري، او شافعي، او احمد بن حنبل او اسحاق قول دي.

*****************

## ٨٠_ باب مَا جَاءَ فِي طَوَافِ الزِّيَارَةِ بِاللَّيْلِ

### دشپي دطواف زيارت كولو بيان

٩٢٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَخَّرَ طَوَافَ الزِّيَارَةِ إِلَى اللَّيْلِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي أَنْ يُؤَخَّرَ طَوَافُ الزِّيَارَةِ إِلَى اللَّيْلِ، وَاسْتَحَبَّ بَعْضُهُمْ أَنْ يَزُورَ يَوْمَ النَّحْرِ، وَوَسَّعَ بَعْضُهُمْ أَنْ يُؤَخَّرَ وَلَوْ إِلَى آخِرِ أَيَّامِ مِنًى. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس او ام المؤمنين عائشه رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم طواف دشپي پوري مؤخر كړو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او بعضي اهل علمو دشپي پوري دطواف زيارت مؤخر كولو اجازت وركړي دي او بعضو په لسم ذي الحجه طواف زيارت كول مستحب ګڼړلي دي ليك دبعضو قول دي چي دمني داخري ورځ پوري په دي كي دتاخير ګنجائش شته.

*****************

## ٨١_ باب مَا جَاءَ فِي نُزُولِ الأَبْطَحِ

### په ابطح مقام كي دقيام كولو بيان

٩٢١_ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ يَنْزِلُونَ الأَبْطَحَ". قَالَ:

---

[1] _ صحيح البخارى في الحج ١٣٠ (تعليقا فى الترجمة) . سنن ابى داود في المناسك ٨٣ (٢٠٠٠) . سنن ابن ماجه في المناسك ٧٧ (٣٠٥٩) . (تحفة الأشراف : ٦٣٥٢ و ١٧٥٩٣) . مسند احمد (١ في ٢٨٨)

وَفِي الْبَابِ عَنْ عَائِشَةَ، وَأَبِي رَافِعٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ الرَّزَّاقِ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. وَقَدِ اسْتَحَبَّ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ نُزُولَ الأَبْطَحِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَرَوْا ذَلِكَ وَاجِبًا إِلَّا مَنْ أَحَبَّ ذَلِكَ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَنُزُولُ الأَبْطَحِ لَيْسَ مِنَ النُّسُكِ فِي شَيْءٍ، إِنَّمَا هُوَ مَنْزِلٌ نَزَلَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابوبكر او عمر او عثمان رضي الله عنهم به په ابطح مقام كي قيام كولو.
امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح غريب دي او مونږ ته صرف دعبدالرزاق په سند معلوم دي، هغه دعبيدالله بن عمرنه روايت كوي، او په دي باب كي د عائشه، ابورافع، او ابن عباس رضي الله عنهم نه احاديث مروي دي، بعضي اهل علمو په ابطح مقام كي قيام كول مستحب گرځولي دي او واجب يي نه دي گرځولي كه دچا خوښه وي نو ابطح كي دي قيام اوكړي او كه دلته قيام نه كوي څه باك نشته ، امام شافعي وائي په ابطح كي قيام كول دحج په مناسكو كي نه دي دا خو بس يو ځاي دي چرته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قيام كړي وو.

****************

٩٢٢_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "لَيْسَ التَّحْصِيبُ بِشَيْءٍ، إِنَّمَا هُوَ مَنْزِلٌ نَزَلَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: التَّحْصِيبُ نُزُولُ الأَبْطَحِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي په محصب مقام كي قيام كول هيڅ شي نه دي دا خو بس يوځاي دي چرته چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قيام كړي وو.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دتحصيب معني په ابطح كي قيام كول دي.

****************

## ٨٢_ باب مَنْ نَزَلَ الأَبْطَحَ

### په ابطح كي دقيام كولو بيان

---

1 _ سنن ابن ماجه في المناسك ٨١ (٣٠٦٩) (تحفة الأشراف: ٨٠٢٥) وأخرجه مسلم في الحج (٥٩ في ١٣١٠)

2 _ البخاري في الحج ١٤٧ (١٧٦٦). صحيح مسلم في الحج ٥٩ (١٣١٢) (تحفة الأشراف: ٥٩٤١)

٩٢٣_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبٌ الْمُعَلِّمُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "إِنَّمَا نَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الأَبْطَحَ لِأَنَّهُ كَانَ أَسْمَحَ لِخُرُوجِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ نَحْوَهُ. (1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ابطح مقام كي قيام اوكړو او دا ځكه چي ددي ځاي نه مديني ته روانيدل ډير اسان وو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دا مونږ ته ابن ابي عمر بيان كړي دي او ابن عمر وائي مونږ ته سفيان بيان كړي دي او سفيان دهشام بن عروه نه دسابقه حديث پشان نقل كړي دي.

*****************

## ٨٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي حَجِّ الصَّبِيِّ

### دماشوم دحج بيان

٩٢٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ طَرِيفٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: رَفَعَتِ امْرَأَةٌ صَبِيًّا لَهَا إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَلِهَذَا حَجٌّ؟ قَالَ: "نَعَمْ، وَلَكِ أَجْرٌ". قَالَ: وَفِي الْبَاب عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (2)

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي يوي ښځي خپل بچي رسول الله صلي الله عليه وسلم طرف ته راپورته كړو او تپوس يي اوكړو اي دالله رسوله ايا په ده باندي هم حج كيږي ورته يي اوفرمائيل هو، ستا دپاره به اجر وي.

امام ترمذي وائي دجابر حديث غريب دي او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

**تشريح** : دعلماؤ په دي خبره اتفاق دی چي ماشوم كه حج اوكړي نو حج يي كيږي او كه داحرام په ممنوعاتو كي دكوم څيز ارتكاب اوكړي نو ددم فديه نه په ماشوم واجب ده او نه دده په ولي

---

1 _ صحيح مسلم في الحج ٥٩ (١٣١١) (تحفة الأشراف : ١٦٨٨٥) . وأخرجه صحيح مسلم في الحج . سنن ابن ماجه في المناسک ٨١ (٣٠٦٧) من غير هذا الوجه۔

2 _ سنن ابن ماجه في المناسک ١١ (٢٩١٠) (تحفة الأشراف : ٣٠٧٦)

که ماشوم خوښيار وي نو دحج ارکان به پخپله ادا کوي او که هوښيار نه وي نو دهغه ولي به يي دهغه د طرف نه ادا کوي او احرام په ابتداء کي به دهغه نه ګنډلي جامي اوباسي او احرام به ورته واغوندي

امام نووي په شرح دمسلم کي دا مسامحه کړي ده چي دامام ابو حنيفه په نزد دماشوم حج درست نه دي دماشومانو حج خو صرف يو مشق دی بهر حال امام ابو حنيفه ته ددي قول نسبت صحيح نه دی.

که ماشوم حج اوکړو نو ثواب به يي دده دولي وي په دي باندي هم دعلماؤ اتفاق دی که چرې دبالغ کيدو نه پس صاحب دنصاب شي نو دی به دوباره حج کوي ليکن د داود ظاهري په نزد دماشوموالي حج هم کافي دی.

وړوکی ماشوم حج له بول جائز دي او ثواب به يي مور او پلار ته ملاوېږي ليکن کله چي دبلوغ نه پس په دي ماشوم حج فرض شي نو دوباره به حج کوي او دماشوموالي په وخت کي حج به يي کافي نشي ګڼړلی کيدی. شرح مسلم للنووي باب صحة حج الصبي واجر من حج به.

****************

٩٢٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا قَزَعَةُ بْنُ سُوَيْدٍ الْبَاهِلِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، يَعْنِي حَدِيثَ مُحَمَّدِ بْنِ طَرِيفٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. [1]

**ترجمه** : په دي سند سره هم دجابر رضي الله عنه نه دسابقه حديث هم معني روايت مروي دي، امام ترمذي وائي دا روايت د محمد بن منکدر نه هم منقول دي او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي مرسل نقل کړي دي، داهل علمو په دي باندي اجماع ده چي يو ماشوم کله دبلوغ نه مخکي حج اوکړي (نو فريضه ورنه نه ساقطيږي) چي کله بالغ شي دده په ذمه به حج باقي وي او دکم عمرئ حج به داسلام عائد کړي فريضي دپاره کافي نه وي، همدا رنګي معامله دغلام هم ده که غلام حج کړي وي او بيا ازاد شي نو د ازادئ په حالت کي به هم په ده باندي حج فرض وي خو چي دلاري طاقت يي وي او دغلامئ په حالت کي کړي حج به يي کافي نه وي، دسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي.

****************

[1] ـ سنن ابن ماجه في المناسک ١١ (٢٩١٠) (تحفة الأشراف : ٣٠٤٦)

٩٢٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ يُوسُفَ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، قَالَ: "حَجَّ بِي أَبِي مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجَّةِ الْوَدَاعِ، وَأَنَا ابْنُ سَبْعِ سِنِينَ".
قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ أَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ أَنَّ الصَّبِيَّ إِذَا حَجَّ قَبْلَ أَنْ يُدْرِكَ فَعَلَيْهِ الْحَجُّ، إِذَا أَدْرَكَ لَا تُجْزِئُ عَنْهُ تِلْكَ الْحَجَّةُ عَنْ حَجَّةِ الإِسْلَامِ، وَكَذَلِكَ الْمَمْلُوكُ إِذَا حَجَّ فِي رِقِّهِ ثُمَّ أُعْتِقَ فَعَلَيْهِ الْحَجُّ إِذَا وَجَدَ إِلَى ذَلِكَ سَبِيلًا، وَلَا يُجْزِئُ عَنْهُ مَا حَجَّ فِي حَالِ رِقِّهِ. وَهُوَ قَوْلُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ.[1]

**ترجمه** : دسائب بن يزيد رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زما پلار زه حجة الوداع ته دخان سره بوتلم او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يي راباندي حج اوكړو او دغه وخت كي زما عمر اوه كاله وو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**لغات** : حجة: جمع يي حجج راځي په معني دكال سره او حجا په معني دقصد كولو سره ، په شريعت كي داماكن مقدسه زيارت كولو ته وئيلي شي.

**تشريح** : سائب بن يزيد رضي الله عنه وائي چي ماباندى زما پلار حج اوكړى د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په حج وداع كي اوزه داوو كالو ماشوم وم.

وړوكى ماشوم حج له بول جائز دي او ثواب به يي مور او پلار ته ملاېږي ليكن كله چي دبلوغ نه پس په دي ماشوم حج فرض شي نو دوباره به حج كوي او دماشوموالي په وخت كي حج به يي كافي نشي گڼرلى كيدى.

دعلماؤ په دي اتفاق دي چي په ماشوم حج فرض نه دي او په دي خبره هم اتفاق دي كه ماشوم حج اوكړي نو صحيح به وي كه ماشوم خوښيار وي نو مناسك به پخپله اداء كوي او كه خوښيار نه وي نو ولي به يي دده دطرفه اداء كوي او دبالغ كيدو نه پس به دوباره مستقل حج كوي.

**دسائب بن يزيد رضي الله عنه حالات:**

نوم سائب دپلار نوم يزيد بن سعيد بن ثمامه كندي دي، امام زهري وائي چي كندي په يمن كي داذ قبيلي يو شاخ دى مگر په بنوكنانه كي شميرلى شي سائب دعمر كندي خوريى دى ، دهجرت په شلم كال پيدا شوى دى ، دده نه عموما زهري او محمد بن يوسف نقل دروايت كوي گڼر شمير روايات ورنه منقول دي او دهجرت په ٨٠ كال وفات شوى دى.

******************

[1] ـ صحيح ألبخاري في جزاء الصيد ٢٥ (١٨٥٨) (تحفة الأشراف : ٣٨٠٢)

## ٨٤_ باب

### دماشوم دحج متعلق يو بل باب

٩٢٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْوَاسِطِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ نُمَيْرٍ، عَنْ أَشْعَثَ بْنِ سَوَّارٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "كُنَّا إِذَا حَجَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكُنَّا نُلَبِّي عَنِ النِّسَاءِ وَنَرْمِي عَنِ الصِّبْيَانِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. وَقَدْ أَجْمَعَ أَهْلُ الْعِلْمِ عَلَى أَنَّ الْمَرْأَةَ لَا يُلَبِّي عَنْهَا غَيْرُهَا بَلْ هِيَ تُلَبِّي عَنْ نَفْسِهَا، وَيُكْرَهُ لَهَا رَفْعُ الصَّوْتِ بِالتَّلْبِيَةِ.[1]

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه بيان دي كله چي مونږ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره حج كولو نو مونږ به دښځو دطرفه تلبيه وئيله او دماشومانو دطرفه به مو رمي كوله.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند معلوم دي داهل علمو په دي خبره اتفاق دي چي دښځي دطرفه به بل څوك تلبيه نه وائي بلكي پخپله به تلبيه وائي البته دښځي دپاره په تيز اواز تلبيه وئيل مكروه دي.

*****************

## ٨٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحَجِّ عَنِ الشَّيْخِ الْكَبِيرِ، وَالْمَيِّتِ.

### سخت بوډا او مړي دطرفه دحج كولو بيان

٩٢٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، أَخْبَرَنِي ابْنُ شِهَابٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي سُلَيْمَانُ بْنُ يَسَارٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ امْرَأَةً مِنْ خَثْعَمٍ، قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبِي أَدْرَكَتْهُ فَرِيضَةُ اللهِ فِي الْحَجِّ، وَهُوَ شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ أَنْ يَسْتَوِيَ عَلَى ظَهْرِ الْبَعِيرِ. قَالَ: "حُجِّي عَنْهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ عَلِيٍّ، وَبُرَيْدَةَ، وَحُصَيْنِ بْنِ عَوْفٍ، وَأَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ، وَسَوْدَةَ بِنْتِ زَمْعَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَيْضًا، عَنْ سِنَانِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ، عَنْ عَمَّتِهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذِهِ

[1] _ سنن ابن ماجه في المناسك ٦٨ (٣٠٢٨) (تحفة الأشراف : ٢٦٦٢)

الرِّوَايَاتِ، فَقَالَ: أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ مَا رَوَى ابْنُ عَبَّاسٍ، عَنِ الْفَضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَيُحْتَمَلُ أَنْ يَكُونَ ابْنُ عَبَّاسٍ سَمِعَهُ مِنَ الْفَضْلِ وَغَيْرِهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ رَوَى هَذَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَرْسَلَهُ وَلَمْ يَذْكُرِ الَّذِي سَمِعَهُ مِنْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ صَحَّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْبَابِ غَيْرُ حَدِيثٍ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَبِهِ يَقُولُ: الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: يَرَوْنَ أَنْ يُحَجَّ عَنِ الْمَيِّتِ، وَقَالَ مَالِكٌ: إِذَا أَوْصَى أَنْ يُحَجَّ عَنْهُ حُجَّ عَنْهُ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُهُمْ أَنْ يُحَجَّ عَنِ الْحَيِّ إِذَا كَانَ كَبِيرًا، أَوْ بِحَالٍ لَا يَقْدِرُ أَنْ يَحُجَّ، وَهُوَ قَوْلُ ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دفضل بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي يوه ښځه په خدمت نبوي كي حاضر شوه او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله زما په پلار باندي حج فرض شوي دي ليكن دومره بوډا دي چي داوښ په شا نشي كيناستلي ما دپاره څه كول پكار دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته دهغه دطرفه حج اوكړه.

امام ترمذي وائي دفضل بن عباس حديث حسن صحيح دي، او دابن عباس نه حسين بن عوف مزني مرفوع روايت نقل كړي دي، دابن عباس نه مروي دي چي سنان بن عبدالله جهني دخپلي ترور نه او دده ترور دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كړي دي او ابن عباس براه راست هم درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وائي ما ددي روايتونو په باره كي دمحمد بن اسماعيل بخاري نه تپوس اوكړو نو هغه اوونيل په دي باب كي صحيح روايت هغه دي كوم چي فضل بن عباس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، امام بخاري وائي ددي خبري احتمال هم شته چي ابن عباس دا حديث دخپل ورور فضل نه او دهغه نه علاوه دبل چانه اوريدلي وي او هغوئ درسول الله نه نقل كړي وي او بيا ابن عباس دا درسول الله نه مرسل نقل كړي وي، او دچا نه چي هغوئ دا اوريدلي دي دهغوئ نوم يي ذكركړي نه وي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باب كي نور احاديث هم مروي دي، په دي باب كي دعلي، حسين بن عوف، ابو رزيم عقيلي ، سوده بنت زمعه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي ، دصحابه كرامو او ددوئ نه پس دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري ، ابن مبارك، شافعي،

---

1 ـ صحيح البخاري في جزاء الصيد ٢٣ (١٨٥٣) . صحيح مسلم في الحج ٧١ (١٣٣٥) . سنن النسائي في آداب القضاة ٩ (٥٣٩١) ، سنن ابن ماجه في المناسك ١٠ (٢٩٠٩) (تحفة الأشراف : ١١٠٤٨)

احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي چي دمړي دطرفه حج کيدي شي، امام مالك وائي دمړي دطرفه به حج هغه وخت کولي شي کله چي هغه دحج کولو وصيت کړي وي او بعضي خلقو دژوندي انسان دطرفه حج کول هغه وخت کي جائز ګرځولي دي کله چي هغه ډير بوډا شوي وي او يا په داسي حالت کي وي چي په حج کولو قادر نه وي نو داسي کسانو دطرفه دحج کولو اجازت شته او دا دامام ابن مبارك او شافعي قول هم دي.

**تشريح** : مسئله داده که په چا حج فرض شي اوپخپله حج نشي کولی او عذر يي داسي وي چي دمرګه پوري ختميدی نشي نو په داسي وخت کي به دده دطرف نه بل سړی حج کولی شي خو په دي شرط چي معذور سړی به دده اخراجات ادا کوي او ده ته به دخپل طرفه حکم هم کوي.

مطلب دادی چي دا کس په بوډاوالي کي مسلمان شوی وو او يا ورسره په بوډاوالي کي دومره مال راغلی وو چي حج وربانديفرض کيدی شي.

علماء وائي دبل چادطرفه حج په هغه وخت کي کيدی شي چي کله دی اخراجات برداشت کولی شي او ددي خبري حکم يي هم کړی وي او يايي دمرګ په وخت کي وصيت کړی وي.

علماء وائي ددي حديث نه حج بدل ثابت شو اود دحج نه بغير نور بدني عبادتونه دبل چا دطرفه جائز ندي.

*****************

## ٨٦_ باب مِنْهُ

### په حج کي دنيابت متعلق يوبل باب

٩٢٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَطَاءٍ. قَالَ: وحَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنَّ أُمِّي مَاتَتْ وَلَمْ تَحُجَّ أَفَأَحُجُّ عَنْهَا؟ قَالَ: "نَعَمْ، حُجِّي عَنْهَا". قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : دبريده رضي الله عنه بيان دي چي يوه ښځه درسول الله په خدمت کي حاضره شوه او عرض يي اوکړو زما مور مړه شوي ده او حج يي نشو کولي ايا زه دهغي دطرفه حج کولي شم؟ رسول الله اوفرمائيل هو، ته دهغي دطرفه حج اوکړه.

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي.

---

1 _ صحيح مسلم في الصيام ٢٧ (١١٤٩) (بزيادة) (تحفة الأشراف: ١٩٨٠)

## دبريده رضي الله عنه حالات:

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله.

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كي حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دی فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان په اسلام كي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كي يي هم شركت كړی دی (اسد الغابه).

او په فتح مكه كي يي هم ملګرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كي شريك پاتي شوی دی (بخاري كتاب المغازي).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشرئ كي اخر لښكر تيار كړو نو په دي كي هم شريك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چي دده په رګ رګ كي دجهاد جذبي توپونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كي ليدله (طبقات ابن سعد).

ديزيد په زمانه كي دهجرت په ۶۳ كال وفات شو چي دمروياتو شمير يي ۱۶۴ دی يو متفق عليه دی او دوه په بخاري كي دي يولس په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

****************

## ۸۷_ بَاب مِنْهُ

### په حج كي د نيابت متعلق يو بل باب

۹۳۰_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ سَالِمٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ أَبِي رَزِينٍ الْعُقَيْلِيِّ، أَنَّهُ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبِي شَيْخٌ كَبِيرٌ لَا يَسْتَطِيعُ الْحَجَّ وَلَا الْعُمْرَةَ وَلَا الظَّعْنَ، قَالَ: " حُجَّ عَنْ أَبِيكَ وَاعْتَمِرْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَإِنَّمَا ذُكِرَتِ الْعُمْرَةُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، أَنْ يَعْتَمِرَ الرَّجُلُ عَنْ غَيْرِهِ. وَأَبُو رَزِينٍ الْعُقَيْلِيُّ اسْمُهُ لَقِيطُ بْنُ عَامِرٍ. ([1])

**ترجمه** : دابورزين عقيلي لقيط بن عامر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله زما پلار ډير

[1] ـ سنن ابي داود في الحج ۲۶ (۱۸۱۰)، سنن النسائي في الحج ۲ (۲۶۲۲)، و ۱۰ (۲۶۳۸)، سنن ابن ماجه في المناسك ۱۰ (۲۹۰۶) (تحفة الأشراف: ۱۱۱۷۴)، مسند احمد (۴/ ۱۰، ۱۲).

بوډا شوي دي او هغه دحج او عمري كولو او په سورلئ دسفر كولو طاقت نه لري (ماته دهغه باره كي څه حكم دي؟) ورته يي اوفرمائيل ته دخپل پلار دطرفه حج او عمره اوكړه.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دعمري ذكر صرف په همدي حديث كي راغلي دي چي يو سړي دبل چا دطرفه نيابتا عمره كولي شي.

****************

## ٨٨_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْعُمْرَةِ أَوَاجِبَةٌ هِيَ أَمْ لاَ

### ايا عمره واجب ده او كنه ده؟

٩٣١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنِ الحَجَّاجِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْعُمْرَةِ أَوَاجِبَةٌ هِيَ؟ قَالَ: "لاَ، وَأَنْ تَعْتَمِرُوا هُوَ أَفْضَلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ قَوْلُ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: الْعُمْرَةُ لَيْسَتْ بِوَاجِبَةٍ. وَكَانَ يُقَالُ: هُمَا حَجَّانِ: الْحَجُّ الأَكْبَرُ يَوْمُ النَّحْرِ، وَالْحَجُّ الأَصْغَرُ الْعُمْرَةُ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: الْعُمْرَةُ سُنَّةٌ، لاَ نَعْلَمُ أَحَدًا رَخَّصَ فِي تَرْكِهَا، وَلَيْسَ فِيهَا شَيْءٌ ثَابِتٌ بِأَنَّهَا تَطَوُّعٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِإِسْنَادٍ، وَهُوَ ضَعِيفٌ لاَ تَقُومُ بِمِثْلِهِ الْحُجَّةُ، وَقَدْ بَلَغَنَا عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ كَانَ يُوجِبُهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: كُلُّهُ كَلاَمُ الشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دعمري باره كي تپوس اوكړي شو چي دا واجب ده او كنه ده؟ ويي فرمائيل نه ليكن عمره كول ډېر بهتر دي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او همدا دبعضي اهل علمو قول دي دوئ وائي چي عمره واجب نه ده او دا هم وئيلي كيږي چي حج دوه قسمه دي يو حج اكبر دي كوم چي په يوم النحر (لسم ذي الحجه) وي او دويم حج اصغر دي كوم ته چي عمره وئيلي شي، امام شافعي وائي دعمري وجوب په سنت ثابت دي مونږ ته داسي څوك نه دي معلوم چاچي ددي دپريخودلو اجازت وركړي وي او دعمري دنفلي كيدو په سلسله كي هيڅ يو شي ثابت نه دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه چي دعمري نفلي كيدل مروي دي هغه روايتونه ضعيف دي او دداسي روايتونو نه استدلال نشي كيدي او مونږ ته دا خبره نه ده رسيدلي چي ابن عباس رضي الله عنه به ددي په وجوب قول كولو او دا ټول كلام دامام شافعي دي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٠١١)

**تشريح** : قاضي ثناء الله د عمري د حكم باره كي مدلل او مفصل بحث كړى دى چي دا واجب ده او كه سنت نو اول يي د قراني ايت تحقيق كړى دى كوم چي د عمري متعلق وارد دى اودمذاهب اربعه تحقيق يي د احاديثو په رڼا كي كړى دى چي په لاندينو كرښو كي يي كتلى شئ، الله تعالي فرمائيلي دي:

وَاَتِمُّوا الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ لِلّٰهِ... (اوپوره كړئ حج او عمري لره دالله تعالي دپاره)

دا ايتددي خبري دليل دي چي حج اوعمره او ددي پوره كول او حج په عمري سره نه منسوخ كول داټول امور واجب دي.

په حج خو اجماع شوي ده چي فرض عين محكم ناقابل نسخ حكم دي اوداسلام په اركانو كي يو ركن دي الله تعالي فرمائيلي دي:

"ولله علي الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا" (اودالله تعالي دپاره فرض دي په خلقو باندي حج كول ددي كور په هغه چا باندي چي طاقت لري درسيدلو)

اورسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي داسلام بنياد په پنځه څيزونو اينبودلي شوي دي اول ګواهي وركول ددي خبري چي دالله تعالي نه علاوه بل څوك حقدار دبندګئ نشته او محمد صلي الله عليه وسلم دهغه رينبتوني پيغمبر دي دويم قائمول دمونځ دريم ادا كول دزكوة ، څلورم حج كول دبيت الله، پنځم روژي نيول دمياشتي درمضان. (بخاري مسلم)

اوددي مضمون مطابق نور هم ډير احاديث وارد دي.

مګر په عمره كي د علماؤ اختلاف دى

دامام احمد په نزد باندي واجب ده

اودامام شافعي نه دوه قولونه منقول دي صحيح تر دادي چي واجب ده

اودامام ابوحنيفه نه په يو قول كي وجوب مروي دي.

او امام مالك وئيلي دي چي عمره سنت ده اودامام ابوحنيفه هم دامذهب مشهور دي

اودامام شافعي نه هم يو قول منقول دي چي سنت ده

څوك چي ددي خبري قائل دي چي عمره سنت ده هغوئ په ايت كريمه كي داسي تاويل كوي چي عمره په شروع كولو سره سرته رسول يي واجب دي اودحج هم دا شان دي.

دامام احمد دمذهب تائيد دعلقمه او ابراهيم نخعي دقراءت واتمو الحج والعمرة لله نه كيږي.

دعلي رضي الله عنه هم دا قرءت منقول دي

اوډيرو احاديثو نه معلوميږي چي عمره واجب ده دعبدالله بن عباس رضي الله عنه نه د عمر بن الخطاب په حوالي سره دتعليم دجبريل په حديث كي روايت كوي چي جبريل عليه السلام عرض اوكړو اي دالله رسوله ماته خبر راكړه چي اسلام څه شي دي رسول كريم صلي الله عليه

وسلم اوفرمائيل ددي خبري ګواهي ورکول چي علاوه دالله تعالي نه بل معبود نشته اومحمد (صلي الله عليه وسلم) دالله ريښتوني رسول دي ، مونځ قائمول او زکوة ورکول او حج او عمره کول او دجنابت نه غسل کول او اودس پوره کول اودرمضان روژي نيول ، دعمري ذکر اګرچي په صحاحو کي نشته ليکن ثقاتو نقل کړي دي اودارقطني ورته صحيح وئيلي دي.

همدارنګي دعمري ذکر ابوبکر جوسعي پخپل کتاب المخرج علي الصحيحين کي کړي دي ځکه مقبول دي.

دعائشه رضي الله عنهانه مروي دي فرمائي چي ما عرض اوکړو اي دالله رسوله ايا په ښځو جهاد فرض دي رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په هغوئ داسي جهاد فرض دي چي قتال پکي نشته اوهغه حج او عمره دي.

ددي حديث روايت ابن ماجه کړي دي ددينه علاوه نور ډير ضعيف احاديث شته چي مونږ يي نه ذکر کوو ، اوداثارو دصحابه کرامو نه هم معلوميږي چي عمره واجب ده من جمله دهغوئ نه روايت دضبي بن معبد دي فرمائي چي عمر رضي الله عنه ته مي عرض اوکړو چي ما د حج او عمري دواړو دفرضي ارادي په صفت سره احرام تړلي دي ، امير المومنين اوفرمائيل تاته درسول الله په طريقه باندي دتلو توفيق درکړي شوي دي.

دابن عمر رضي الله عنهما قول دي يو وس اوطاقت والا داسي څوك نشته چي حج او عمره ورباندي واجب نه وي ددي اثر روايت ابن خزيمه اودار قطني او حاکم کړي دي او سند ددي صحيح دي او بخاري هم تعليقا ذکر کړي دي او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما اثر هم دي کوم چي امام شافعي او بخاري هم تعليقا ذکر کړي دي.

اوڅوك چي ددي خبري قائل دي چي عمره سنت ده ددوئ استدلال ددي احاديثو نه دي

دجابر رضي الله عنه نه روايت دي چي يو اعرابي درسول الله په خدمت کي حاضر شو او عرض يي اوکړو چي اي دالله رسوله دا راته اووايه چي عمره واجب ده او که نه ده رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل واجب نه ده که چري اودي کړه نوستادپاره بهترده ددي حديث روايت ترمذي امام احمد او بيهقي کړي دي، ليکن ددي روايت په راويانو کي حجاج بن ارطات راوي مدلس او متروك دي ابن مهدي، او يحيٰ بن سعيد القطان ، او يحيٰ بن معين، او احمد بن حنبل او ابن مبارك او نسائي دده احاديث ترك کړي دي مګر ذهبي دده په باره کي صدوق لفظ استعمال کړي او ترمذي دي حديث ته حسن صحيح وئيلي دي او بيهقي همداحديث په يو بل سند سره نقل کړي دي چي په هغي کي يحيي بن ايوب دي او دهغه متعلق امام احمد سيء الحفظ وئيلي دي او ابوحاتم په لايحتج به سره ذکر کړی دي او ابن عدي په صدوق سره ياد کړی دي.....

مونږ وایو دجابر رضي الله عنهما نه مرفوعا مروي دي چي حج اوعمره دواړه فرض دي ابن عدي دابن لهيعه په سند سره داحديث نقل كړي دي اوس ددي حديث دتيرشوي حديث سره تعارض راغي ليكن دوروستني په سند كي ابن لهيعه دي اوهغه ضعيف دي ، دابو امامه رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دفرض مونځ دپاره روان شي نوده ته دحج پشان ثواب ملاويږي او څوك چي دنفل مونځ دپاره روان شي نوده ته دعمري پشان ثواب ملاويږي، دي حديث لره طبراني ديحي بن حارث په سند سره نقل كړي دي ، او عبدالله بن قانع دابوهريره رضي الله عنه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حج جهاد دي اوعمره نفل ده ، دا روايت امام شافعي دابوصالح نه مرسلا نقل كړي دي اوهمددي مضمون مطابق حديث طلحه بن عبدالله اوبيهقي دابن عباس رضي الله عنهما نه نقل كړي دي اودارقطني دعبدالله بن قانع متعلق كان يخطئ ليكلي دي اوترقاني ضعيف ګرځولي دي ليكن شيخ تقي الدين په كبارو حفاظو كي شمار كړي دي او ابوصالح حنفي دكوم نوم چي ماهان دي ابن حزم ئي تضعيف كړي دي ليكن ابن همام وئيلي دي چي ده لره ضعيف كول صحيح ندي ابن معين دده توثيق كړي دي اويوجماعت داهل علمو دده احاديث قبول كړي دي اودطلحه دحديث په سند كي عمروبن قيس راوي مجروح دي حافظ ابن حجر وئيلي دي چي سند ئي ضعيف دي پاتي شو دابن عباس رضي الله عنهما حديث نوده په سند كي ډير مجهول راويان دي ، اودعمري په عدم وجوب كي ډير اثار متعارض دي ، ابن همام وئيلي دي كله چي تعارض راغي نوبياخو وجوب په شك سره نه ثابتيږي ، اوصاحب هدايه وئيلي دي چي دتعارض په موجودګئ كي فرضيت نشي ثابتيدي اودصاحب هدايه داقول انتهائي موزون دي ځكه چي دفرضيت مبني به په دليل قطعي وي نوپدي وجه دتعارض په صورت كي احتياطا په وجوب قول كول بهتردي ترڅوچي تكرار دنسخ لازم نشي.

## حج په عمري فسخ كول

دجمهورو اهل علمو مذهب دادي چي حج په عمري سره فسخ كول جائز ندي ددوئ دپاره دليل همدا ايت كريمه واتموا الحج الخ دي.

امام احمد فرمائي چي حج لره په عمري سره فسخ كول جائز دي.

دده دپاره دليل دادي چي په حجة الوداع كي دصحابه كرامو احرام دحج دپاره وو، رسول كريم صلي الله عليه وسلم ټولوته حكم وكړو چي حج فسخ كړئ اودعمري نيت وكړئ اودحج احرام دعمري دپاره اوګرځوئ مګرچاچي قرباني ته قلاده اچولي وي هغه دي فسخ نه كوي، اودلسو نه زيات احاديث صحيح په دي باندي شاهد دي دا د شك زائل كيدو دپاره كافي دي.

من جمله ددي احاديثو نه حديث دابو موسي اشعري رضي الله عنه دي فرماني چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم په يمن كي زما قوم ته اوليږلم كله چي زه دهغوئ نه واپس راغلم نو اومي ليدل چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم په بطحاء مقام كي دي اويي فرمائيل تادڅه شي نيت كړي دي ما عرض اوكړو رسول كريم صلي الله عليه وسلم چي دڅه شي نيت كړي دي دهغي نيت ما هم كړي دي نو بيايي اوفرمائيل ستاسره قرباني شته ؟ ما عرض اوكړو نشته نودرسول كريم صلي الله عليه وسلم په حكم سره مي دبيت الله اودصفا مرواه طواف اوكړو . دطواف په كولو سره حلال شوم او بيا مي دتلبيه په ورځ دحج احرام اوتړلو، بياچي كله دعمر فاروق دور راغي نو هغه اوفرمائيل چي مونږ به دالله تعالي په كتاب عمل كوو الله تعالي داتمام حكم كړي دي لكه چي فرمائيلي يي دي واتموا الحج والعمرة، اودرسول كريم صلي الله عليه وسلم په سنتو عمل كوئ چنانچه هغه دقرباني كولو پوري احرام نه وو پرانستلي

*****************

## ٨٩ـ بَابٌ مِنْهُ

### دحج دوجوب متعلق يوبل باب

٩٣٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي زِيَادٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ عَنْ سُرَاقَةَ بْنِ جُعْشُمٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: أَنْ لَا بَأْسَ بِالْعُمْرَةِ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ، وَهَكَذَا قَالَ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ: أَنَّ أَهْلَ الْجَاهِلِيَّةِ كَانُوا لَا يَعْتَمِرُونَ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ، فَلَمَّا جَاءَ الْإِسْلَامُ رَخَّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: "دَخَلَتِ الْعُمْرَةُ فِي الْحَجِّ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ". يَعْنِي: لَا بَأْسَ بِالْعُمْرَةِ فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ، وَأَشْهُرُ الْحَجِّ شَوَّالٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَعَشْرٌ مِنْ ذِي الْحِجَّةِ، لَا يَنْبَغِي لِلرَّجُلِ أَنْ يُهِلَّ بِالْحَجِّ إِلَّا فِي أَشْهُرِ الْحَجِّ وَأَشْهُرُ الْحُرُمِ رَجَبٌ وَذُو الْقَعْدَةِ وَذُو الْحِجَّةِ وَالْمُحَرَّمُ، هَكَذَا قَالَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ.[1]

[1] ـ (تحفة الأشراف: ٦٣٣٠١) وأخرجه صحيح مسلم في الحج ٣١ (١٢٢١). سنن ابي داود في المناسك ٢٣ (١٧٩٠). سنن النسائي في الحج ٤٤ (١٨١٤). مسند احمد (١ في ٢٣٦، ٢٥٣، ٢٥٩، ٣٤١). سنن الدارمي في المناسك ١٨ (١٨٩٨). من غير هذا

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي عمره په حج كي دقيامت پوري داخل شوي ده

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دسراقه بن جعشم دجابر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، ددي حديث معني داده چي دحج په مياشتو كي په عمري كولو كي څه ممانعت نشته او همدا تشريح امام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم كړي ده چي دجاهليت په وخت كي به خلقو دحج په مياشتو كي عمره نه كوله مګر چي كله اسلام راغي نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اجازت وركړو او وبي فرمائيل عمره په حج كي دقيامت پوري داخل شوي ده يعني دحج په مياشتو كي په عمري كولو كي څه بدوالي نشته او دحج مياشتي شوال، ذي قعده، او ذي الحجي لس ورځي دي دهيڅا دپاره دا مناسب نه دي چي دحج دمياشتو نه علاوه په كومي بلي مياشتي كي دحج احرام اوتړي، او دحرمت والا مياشتي دادي، رجب، ذي قعده، ذي الحجه، او محرم صحابه كرامو او ددينه پس اكثرو اهل علمو په دي باندي قول كړي دي.

*****************

## ٩٠_ بَاب مَا ذُكِرَ فِي فَضْلِ الْعُمْرَةِ

### دعمري دفضيلت بيان

٩٣٣_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْعُمْرَةُ إِلَى الْعُمْرَةِ تُكَفِّرُ مَا بَيْنَهُمَا، وَالْحَجُّ الْمَبْرُورُ لَيْسَ لَهُ جَزَاءٌ إِلَّا الْجَنَّةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديوي عمري نه بلي عمري پوري چي څومره وخت وي او ددي په مينځ كي چي ګناهونه شوي دي دا ګناهونه په عمري كولو معاف كيږي او دمقبول حج بدله صرف جنت دي.

---

الطريق. وأصله عند: صحيح البخارى في تقصير الصلاة ٣ (١٠٨٥)، والحج ٢٢ (١٥٤٥)، و٣٣ (١٥٦٤)، والشركة ١٥ (٢٥٠٥). ومناقب الأنصار ٢٦ (٣٨٣٢)

[1] _ صحيح مسلم في الحج ٧٩ (١٣٤٩). (تحفة الأشراف: ١٢٥٥٦). مسند احمد (٢ في ٢٤٦، ٤٦١) وأخرجه صحيح البخارى في العمرة (١٧٧٣). صحيح مسلم في الحج (المصدر المذكور) سنن النسائي في الحج ٣ (٢٦٢٣)، و٥ (٢٦٣٠). سنن ابن ماجه في المناسك ٣ (٢٨٨٨). موطا امام مالك في الحج ٢١ (٦٥). مسند احمد (٢ في ٤٦٢). سنن الدارمى في المناسك ٧ (١٨٠٢).

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**تشريح**: د عمري په فضائلو کي په کثرت سره احاديث وارد دي امام بخاري هم په دي سلسله کي دا بن عباس رضي الله عنهما نه روايت نقل کړی دی:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: لَمَّا رَجَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حَجَّتِهِ قَالَ لِأُمِّ سِنَانٍ الْأَنْصَارِيَّةِ مَا مَنَعَكِ مِنَ الْحَجِّ قَالَتْ أَبُو فُلَانٍ تَعْنِي زَوْجَهَا كَانَ لَهُ نَاضِحَانِ حَجَّ عَلَى أَحَدِهِمَا وَالْآخَرُ يَسْقِي أَرْضًا لَنَا قَالَ فَإِنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي.

وفي رواية: قَالَتْ نَاضِحَانِ كَانَا لِأَبِي فُلَانٍ زَوْجِهَا حَجَّ هُوَ وَابْنُهُ عَلَى أَحَدِهِمَا وَكَانَ الْآخَرُ يَسْقِي عَلَيْهِ غُلَامُنَا قَالَ فَعُمْرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَقْضِي حَجَّةً أَوْ حَجَّةً مَعِي. بخاري: ۱۷۳۰.

دابن عباس ﷺ نه روايت دي چي هرکله رسول اللهﷺ دحج نه واپس شو نوام سنان انصاريه ته ئی اووئيل چي دحج نه څه شي منع کړي وي نوهغی دخپل خاوند نوم واغستو او وئی وئيل چي دده دابوراورولودپاره دوه اوښان وو په يوباندي هغه پخپله حج ته لاړو اودويم چي وو زمونږه دپټيو داوبو کولو دپاره پاتی وو نورسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي زماسره په رمضان کي عمره کول دحج برابردي اوپه بل روايت کي دي چي دهغه دوه اوښان وو په يوباندي دی اودده ځوي حج له لاړل.

*****************

## ۹۱ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعُمْرَةِ مِنَ التَّنْعِيمِ

### دتنعيم نه دعمري کولو بيان

۹۳٤ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَابْنُ أَبِي عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ أَبِي بَكْرٍ أَنْ يُعْمِرَ عَائِشَةَ مِنَ التَّنْعِيمِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه**: دعبدالرحمن بن ابي بکر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم ماته دا حکم اوکړو چي عائشه تنعيم ته بوځه او عمره ورباندي اوکړه امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**دابو محمد عبدالرحمن بن ابوبکر صديق رضي الله عنه حالات:**

---

1. صحيح البخاري في العمرة ٦ (۱۷۸۴)، والجهاد ۱۲۳ (۲۹۸۵)، صحيح مسلم في الحج ۱۷ (۱۲۱۲)، سنن ابن ماجه في المناسك ۳۸ (۲۹۹۹)، (تحفة الأشراف: ۹۶۸۷)

نوم عبدالرحمان كنيه ابو عبدالله دا دابوبكر صديق رضي الله عنه خوي دی دمور نوم يي ام رمان دی دعائشه رضي الله عنها حقيقي ورور دی دصلح حديبيه په موقعه مسلمان شوی دی او بيا ددينه پس يي په مدينه کي دابوبکر رضي الله عنه سره اوسيدل کړي دي په تيراندازئ کي ماهروو دصلح حديبيه نه پس په تمامو جنګونو کي دمسلمانانو سره شريك شوی دی او په جنګ يمامه کي يي دبهادرئ کمال خودلی دی. دقلعه يمامه ديوال په يو ځاي کي سوری شو مسلمانانو په دي کي ننوتل غوښتل ليکن ددشمنانو يو سردار محکم بن طفيل هلته موجود وو نو عبدالرحمان په غشي اوويشلو او بياددينه پس مسلمانان هلته داخل شول دوفات قصه يي داسي ده چي په اخري عمر کي مکي ته تلی وو او دښار نه تقريبا لس ميله لري په حبشي مقام کي په يو کور کي اوسيدو دهجرت په ۵۳کال يو ځل اوده وو او همداسي اوده پاتي شو پاځيدو ته جوړ نشو کله چي عائشه رضي الله عنها حج ته لاړه نو دده دقبر سره اودريده او دا اشعار يي اووئيل

وكنا عندما في جذيمة حقبة — من الدهر حتي قيل لن يتصدعا

فلما تفرقنا كاني ومالكا — اطول اجتماعا لم نبت ليلة معا

دمروياتو تعداد يي اته دی چي دري په دي کي متفق عليه دي

*****************

## ٩٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْعُمْرَةِ مِنَ الْجِعْرَانَةِ

**دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دجعرانه مقام دعمري بيان**

٩٣٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ مُزَاحِمِ بْنِ أَبِي مُزَاحِمٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ مُحَرِّشٍ الْكَعْبِيِّ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنَ الْجِعِرَّانَةِ لَيْلًا مُعْتَمِرًا، فَدَخَلَ مَكَّةَ لَيْلًا فَقَضَى عُمْرَتَهُ، ثُمَّ خَرَجَ مِنْ لَيْلَتِهِ فَأَصْبَحَ بِالْجِعِرَّانَةِ كَبَائِتٍ، فَلَمَّا زَالَتِ الشَّمْسُ مِنَ الْغَدِ خَرَجَ مِنْ بَطْنِ سَرِفَ حَتَّى جَاءَ مَعَ الطَّرِيقِ، طَرِيقِ جَمْعٍ بِبَطْنِ سَرِفَ، فَمِنْ أَجْلِ ذَلِكَ خَفِيَتْ عُمْرَتُهُ عَلَى النَّاسِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِمُحَرِّشٍ الْكَعْبِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَيُقَالُ: جَاءَ مَعَ الطَّرِيقِ مَوْصُولٌ. ([1])

---

[1] _ سنن ابي داود في الحج ٨١ (١٩٩٦) . سنن النسائي في الحج ١٠٣ (٢٨٦٦، ٢٨٦٤) . (تحفة الأشراف : ١١٢٢٠) . مسند احمد (٣/٤٢٦) . سنن الدارمي في المناسك ٣١ (١٩٠٣)

**ترجمه** : دمحرش کعبي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دجعراني نه دشپې دعمري په نيت روان شو او په شپه کي مکي ته داخل شو او خپله عمره يي پوره کړه او په همدي شپه دمکي نه اووتلو او واپس يي په جعرانه کي صبا کړو ګويا کي هم دلته يي شپه تيره کړه کله چي په دويمه شپه نمر زائل شو نو رسول الله دسرف مقام نه روان شو تردي چي په هغه لاره لاړو کومه لاره چي سرف والالاري سره يوځاي شوي وي او په همدي وجه ډيرو خلقو نه درسول الله صلي الله عليه وسلم عمره مخفي پاتي شوه، امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او موږ ته ددي حديث نه علاوه دمحرش کعبي کوم بل حديث معلوم نه دي چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل کړي وي او وئيلي کيږي "جاء مع الطريق" واله حصه موصول ده.

****************

## ٩٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي عُمْرَةِ رَجَبٍ

### په رجب کي دعمري کولو بيان

٩٣٦_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَيَّاشٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ عُرْوَةَ، قَالَ: سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ فِي أَيِّ شَهْرٍ اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ فَقَالَ: "فِي رَجَبٍ"، فَقَالَتْ عَائِشَةُ: "مَا اعْتَمَرَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَّا وَهُوَ مَعَهُ تَعْنِي ابْنَ عُمَرَ، وَمَا اعْتَمَرَ فِي شَهْرِ رَجَبٍ قَطُّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، سَمِعْتُ مُحَمَّدًا، يَقُولُ: حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ.[1]

**ترجمه** : دعروه بيان دي چي دابن عمر رضي الله عنهما نه تپوس اوکړي شو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په کومه مياشت کي عمره کړي وه نو هغوئ اووئيل په رجب کي دي وخت کي عائشه رضي الله عنه اووئيل رسول الله صلي الله عليه وسلم چي هره يوه عمره کړي ده په هره يوه کي ورسره ابن عمر يوځاي وو او رسول الله درجب په مياشت کي هيڅ کله عمره نه ده کړي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي ما د محمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي د عروه نه د حبيب بن ابي ثابت سماع ثابت نه ده.

****************

---

[1] ــ سنن ابن ماجه في المناسک ٣٧ (٢٩٩٨)، (تحفة الأشراف : ١٤٣٤٣)، وراجع ما عند صحيح البخاري في العمرة ٣ (١٧٧٦)، صحيح مسلم في الحج ٣٥ (١٢٥٥، ١٢٩)

٩٣٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ أَرْبَعًا إِحْدَاهُنَّ فِي رَجَبٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ځلور عمري کړي دي چي يوه په هغوئ کي په رجب کي وه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

****************

## ٩٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي عُمْرَةِ ذِي الْقَعْدَةِ

### په ذي قعده کي دعمري کولو بيان

٩٣٨_ حَدَّثَنَا الْعَبَّاسُ بْنُ مُحَمَّدٍ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ هُوَ: السَّلُولِيُّ الْكُوفِيُّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْبَرَاءِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْتَمَرَ فِي ذِي الْقَعْدَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِي الْبَاب: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. ([2])

**ترجمه** : دبراء بن عازب رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ذي القعده کي عمره کړي وه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث مروي دي.

****************

## ٩٥_ بَاب مَا جَاءَ فِي عُمْرَةِ رَمَضَانَ

### په رمضان کي دعمري کولو فضيلت

٩٣٩_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ أُمِّ مَعْقِلٍ، عَنْ أُمِّ مَعْقِلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "عُمْرَةٌ

---

[1] _ تفرد به (بهذا السياق) المؤلف. وراجع ما عند: صحيح البخاري في العمرة ٣ (١٧٧٥). صحيح مسلم في الحج ١٣٥ (١٢٥٥، ٢٢٠). (تحفة الأشراف: ٧٣٨٣)

[2] _ صحيح البخاري في جزاء الصيد ١٧ (١٨٤٤). والصلح ٦ (٢٦٩٩). والمغازي ٤٣ (٤٢٥١). (تحفة الأشراف: ١٨٠٣) وأخرجه صحيح البخاري في العمرة ٣ (١٧٨١)

فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً ". وَفِي الْبَابِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَوَهْبِ بْنِ خَنْبَشٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيُقَالُ: هَرِمُ بْنُ خَنْبَشٍ، قَالَ بَيَانٌ، وَجَابِرٌ: عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ وَهْبِ بْنِ خَنْبَشٍ، وقَالَ دَاوُدُ الأَوْدِيُّ: عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ هَرِمِ بْنِ خَنْبَشٍ، وَوَهْبٌ أَصَحُّ. وَحَدِيثُ أُمِّ مَعْقِلٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: قَدْ ثَبَتَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَنَّ عُمْرَةً فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً"، قَالَ إِسْحَاق: مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ مِثْلُ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ قَرَأَ قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ فَقَدْ قَرَأَ ثُلُثَ الْقُرْآنِ".[1]

**ترجمه** : دام معقل رضي الله عنها بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو په رمضان كي عمره كول دحج سره برابر دي.

امام ترمذي وائي دام معقل حديث په دي سند حسن غريب دي او دوهب په ځاي عمرو بن خنبش هم وئيلي كيږي بيان او جابر داسي وائي "عن الشعبي عن وهب بن خنبش" داود اودي وائي "عن الشعبي عن هرم بن خنبش" ليكن صحيح وهب بن خنبش دي، په دي باب كي ابن عباس، جابر، ابوهريره، انس، او وهب بن خنبش رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي امام احمد او اسحاق بن راهويه وائي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه ثابت دي چي درمضان عمره په ثواب كي دحج سره برابر ده، اسحاق بن راهويه مزيد وائي چي ددي حديث مفهوم هم دهغه حديث دمفهوم پشان دي كوم چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي څوك "قل هو الله احد اووائي نو هغه دريمه حصه دقران اولوستله.

****************

## ٩٦ـ باب مَا جَاءَ فِي الَّذِي يُهِلُّ بِالْحَجِّ فَيُكْسَرُ أَوْ يَعْرُجُ

### څوك چي تلبيه وائي او كوم اندام يي مات شي او يا كوډ شي نو څه به كوي

٩٤٠ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا حَجَّاجٌ الصَّوَّافُ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْحَجَّاجُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ كُسِرَ أَوْ عَرِجَ فَقَدْ حَلَّ وَعَلَيْهِ حَجَّةٌ أُخْرَى"، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، فَقَالَا: صَدَقَ. حَدَّثَنَا إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْأَنْصَارِيُّ، عَنِ الْحَجَّاجِ مِثْلَهُ، قَالَ: وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، هَكَذَا

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في المناسك ٣٥ (٢٩٩٣) (تحفة الأشراف : ١٨٣٦٠)

رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ عَنِ الحَجَّاجِ الصَّوَّافِ نَحْوَ هَذَا الحَدِيثِ، وَرَوَى مَعْمَرٌ، وَمُعَاوِيَةُ بْنُ سَلَّامٍ هَذَا الحَدِيثَ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَافِعٍ، عَنِ الحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الحَدِيثَ. وَحَجَّاجٌ الصَّوَّافُ لَمْ يَذْكُرْ فِي حَدِيثِهِ عَبْدَ اللهِ بْنَ رَافِعٍ، وَحَجَّاجٌ ثِقَةٌ حَافِظٌ عِنْدَ أَهْلِ الحَدِيثِ، وسَمِعْت مُحَمَّدًا يَقُولُ: رِوَايَةُ مَعْمَرٍ وَمُعَاوِيَةَ بْنِ سَلَّامٍ أَصَحُّ. حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ رَافِعٍ، عَنِ الحَجَّاجِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. (1)

**ترجمه**: دحجاج بن عمرو رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو دچاچي کوم اندام مات شي يا په خپه ګوډ شي نو دده دپاره احرام پرانيستل جائز دي او په ده باندي به دويم حج لازم وي ما ددي ذکر ابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهما سره اوکړو نو هغوئ اووئيل چي حجاج رښتيا وئيلي دي، داسحاق بن منصور سند هم دحجاج رضي الله عنه نه ددي په مثل دي البته په دي کي "عن الحجاج بن عمرو قال قال رسول الله صلي الله عليه وسلم" په ځاي باندي سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم الفاظ دي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي دارنګي نورو ډيرو خلقو هم دا حديث دحجاج بن الصواف نه نقل کړي دي ، معمرو او معاويه بن سلام هم دا حديث په سند د يحی بن ابي کثير عن عکرمه عن عبدالله بن رافع عن الحجاج بن عمرو عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي او حجاج پخپل روايت کي دعبدالله بن رافع ذکر نه دي کړي او حجاج الصواف دمحدثينو په نزد ثقه دي او حافظ دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي دمعمرو او معاويه بن سلام روايت دتولو نه زيات صحيح دي، او عبدالرزاق په سند د معمرو عن يحی بن ابي کثير عن عکرمه عن عبدالله بن نافع عن الحجاج بن عمرو عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي.

****************

## ۹۷_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الِاشْتِرَاطِ فِي الحَجِّ

**په حج کي دشرط لګولو بيان**

[1] _ سنن ابي داود في الحج ۴۴ (۱۸۶۲) . سنن النسائي في الحج ۱۰۲ (۲۸۶۳) . سنن ابن ماجه في المناسک ۸۵ (۳۰۷۷) . (تحفة الأشراف : ۳۲۹۳) . مسند احمد (۳ في ۴۵۰)

٩٤١_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَوَّامٍ، عَنْ هِلَالِ بْنِ خَبَّابٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ ضُبَاعَةَ بِنْتَ الزُّبَيْرِ أَتَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُرِيدُ الْحَجَّ أَفَأَشْتَرِطُ ؟ قَالَ: "نَعَمْ"، قَالَتْ: كَيْفَ أَقُولُ ؟ قَالَ: "قُولِي: لَبَّيْكَ اللَّهُمَّ لَبَّيْكَ لَبَّيْكَ. مَحِلِّي مِنَ الْأَرْضِ حَيْثُ تَحْبِسُنِي". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَرَوْنَ الِاشْتِرَاطَ فِي الْحَجِّ، وَيَقُولُونَ: إِنِ اشْتَرَطَ فَعَرَضَ لَهُ مَرَضٌ أَوْ عُذْرٌ، فَلَهُ أَنْ يَحِلَّ وَيَخْرُجَ مِنْ إِحْرَامِهِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَلَمْ يَرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الِاشْتِرَاطَ فِي الْحَجِّ، وَقَالُوا: إِنِ اشْتَرَطَ فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَخْرُجَ مِنْ إِحْرَامِهِ، وَيَرَوْنَهُ كَمَنْ لَمْ يَشْتَرِطْ. ([1])

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي ضباعه بنت زبير نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راغله او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما دحج اراده كړي وه نو ايا زه شرط لګولي شم (ددي خبري شرط كه چري عذر پيښ شي نو احرام به پرانيزم) نو رسول الله اوفرمائيل هو، ضباعه اووئيل څنګه به وايم رسول الله اوفرمائيل لبيك اللهم لبيك لبيك محلي من الارض حيث تحبسني ، يعني اي الله حاضريم حاضريم او زما داحرام پرانيستلو ځاي هغه دي چرته چي ته ما حصاره كړي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دجابر، اسماء بنت ابي بكر او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او په همدي دبعضي اهل علمو عمل دي او هغوئ په حج كي دشرط لګولو دجواز قائل دي دوئ وائي كه چا شرط مقرر كړو او بيا ورته څه عذر پيښ شو نو دده دپاره حلاليدل جائز دي او داحرام نه وتلي شي، همدا د امام شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي، بعضي اهل علم په حج كي دشرط لګولو قائل نه دي دوئ وائي كه چا شرط مقرر هم كړو خو داحرام نه دوتلو حق نه لري او دوئ دا كس دهغه چا پشان ګڼري چاچي شرط نه وي مقرر كړي.

**تشريح** : پدي كي د اهل علمو اختلاف دی چي اشتراط في الحج معتبر دي او كنه؟

داشتراط في الحج مطلب دادی چي د احرام ترلو وخت كي شرط ولګولی شي چي په هر مقام كي ركاوټ راشي په هم هغه مقام كي به حلاليږم په دي كي د اهل علمو دوه مذاهب دي.

---

[1] ــ سنن ابی داود في الحج ٢٢ (١٧٧٦). سنن النسائي في الحج ٦٠ (٢٧٦٧). سنن الدارمی في المناسک ١٥ (١٨٥٢). (تحفة الأشراف: ٦٢٣٢) وأخرجه: سنن النسائي في الحج ٥٩ (٢٧٦٦). و٦٠ (٢٧٦٨). سنن ابن ماجه في المناسک ٢٢ (٢٩٣٨). مسند احمد (ا في ٣٥٢٧)

د امام ابو حنيفه په نزد اشتراط في الحج معتبر نه دی.
د ائمه ثلاثه په نزد اشتراط في الحج معتبر دی دجانبينو دلائل په مطولاتو دفقه کي مذکور دي هلته يي کتلی شی.

*****************

## ٩٨_ بَابٌ مِنْهُ

### په حج کي دشرط لګولو متعلق يو باب

٩٤٢_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنِي مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ كَانَ يُنْكِرُ الِاشْتِرَاطَ فِي الْحَجِّ، وَيَقُولُ: "أَلَيْسَ حَسْبُكُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه**: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي هغه به په حج کي دشرط لګولو نه انکار کولو او وئيل به يي ايا ستاسو دپاره دنبي کريم صلي الله عليه وسلم طريقه کافي نه ده؟

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٩٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَرْأَةِ تَحِيضُ بَعْدَ الْإِفَاضَةِ

### دطواف افاضه نه پس دښځي دحيض راتلو بيان دي

٩٤٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: ذُكِرَتْ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ صَفِيَّةَ بِنْتَ حُيَيٍّ حَاضَتْ فِي أَيَّامِ مِنًى، فَقَالَ: "أَحَابِسَتُنَا هِيَ؟" قَالُوا: إِنَّهَا قَدْ أَفَاضَتْ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَلَا إِذًا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ

---

[1] _ صحيح البخاري في المحصر ٢ (١٨١٠). سنن النسائي في الحج ٦١ (٢٧٧٠) (تحفة الأشراف: ٦٩٣٤). مسند احمد (٢ في ٣٣)

عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا طَافَتْ طَوَافَ الزِّيَارَةِ ثُمَّ حَاضَتْ فَإِنَّهَا تَنْفِرُ وَلَيْسَ عَلَيْهَا شَيْءٌ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. ([1])

**ترجمه** دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ذکر کړل چي صفيه بنت حيئ دمني په ورځو کي حائضه شوي ده رسول الله تپوس اوکړو ايا دا مونږ لره دمکي نه دوتلو نه حصارونکي ده؟ خلقو عرض اوکړو طواف يي کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا خو هيڅ حرج نشته .

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عمر، ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي اوداهل علمو په همدي باندي عمل دي چي کومي ښځي طواف زيارت کړي وي او بيا يي بيماري راشي نو تلي شي او په طواف وداع پريخودلو سره په دي باندي هيڅ قسم جرمانه نه لازميږي، دا دامام ثوري، شافعي، احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي.

**تشريح** : د احنافو مذهب دادی که چري يوه ښځه د وقوف عرفات او طواف زيارت نه پس حائضه شی،نو دادی د مکې نه روانه شی،اود طواف صدر په پريخودو په دې باندې څه واجب نه دی،ځکه چی رسول الله صلي الله عليه وسلم ښځو ته د طواف صدر پريخودو اجازت ورکړې وو. هدايه)

****************

٩٤٤ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " مَنْ حَجَّ الْبَيْتَ فَلْيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ إِلَّا الْحُيَّضَ، وَرَخَّصَ لَهُنَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. ([2])

---

[1] ـ مسلم في الحج ٦٧ (١٢١١ في ٣٨٢) (تحفة الأشراف: ١٧٥١٢) والبخاری في الحيض ٢٧ (٣٢٨)، والحج ١٢٩ (١٧٣٣)، و١٣٥ (١٧٥٧)، و١٥١ (١٧٧١)، و مسلم في الحج (المصدر المذكور رقم: ٣٨٢)، ابی داود في الحج ٨٥ (٢٠٠٣)، و النسائي في الحيض ٢٣ (٣٩١)، و ابن ماجه في المناسک ٨٣ (٣٠٧٢)، موطا امام مالک في الحج ٧٥ (٢٦٦)، مسند احمد (٦ في ٣٨، ٣٩، ٨٢، ٩٩، ١٢٢، ١٦٣، ١٧٥، ١٩٣، ٢٠٢، ٢٠٧، ٢١٣، ٢٢٣، ٢٣١، ٢٥٣)، سنن الدارمی في المناسک ٧٣ (١٩٥٨)

[2] ـ أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٨٠٨١)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائيل يي چاچي دبيت الله حج اوکړو نو دده دپاره اخري کار دبيت الله طواف (وداع) کيدل پکار دي مګر دبيمارو ښځو نه علاوه ځکه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دوئ ته اجازت ورکړي دي

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او د اهل علمو په همدي باندي عمل دي.

******************

## ١٠٠_ باب مَا جَاءَ مَا تَقْضِي الْحَائِضُ مِنَ الْمَنَاسِكِ

### حائضي ښځي دحج کوم کوم مناسک اداء کولی شي

٩٤٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكٌ، عَنْ جَابِرٍ وَهُوَ: ابْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " حِضْتُ فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْضِيَ الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا إِلَّا الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: الْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْحَائِضَ تَقْضِي الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا مَا خَلَا الطَّوَافَ بِالْبَيْتِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ عَائِشَةَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ أَيْضًا.[1]

**ترجمه** : د ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي زما حيض راغلو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم راته حکم وکړو چي نور ټول مناسك ادا کړم مګر د کعبي طواف به نشم کولی.

امام ترمذي وايي چي د اهل علمو په همدي حديث عمل دی دوئ وايي چي حائضه د طواف نه علاوه نور تمام مناسك دحج اداکولی شي او ددي سند نه علاوه دا حديث د عائشي نه په نورو سندونو هم مروي دی.

**تشريح** : که چري يوه ښځه د احرام په وخت کي حائضه شی،نو دادی داحرام دپاره غسل اوکړی،اود حج ټول افعال دې اوکړی،سوا د طواف نه چی کله پاکه شی ،نوبيا دې طواف اوکړی، ددې دليل د عائشې رضی الله عنها حديث دي ځکه چی دا په مقام سرف کي حائضه شوه چی رسول الله صلي الله عليه وسلم تشريف راوړلو،نودا ناسته وه،ژړل ئې،نبیﷺ ترې په خپله تپوس اوکړلو،ولې ژاړې ،حيض راغلې څه؟ عائشې رضی الله عنها

---

[1] _ البخاري في الحيض ٧ (٣٠٥) . والحج ٣٣ (١٥٠٦) . و٨١ (١٦٥٠) . والعمرة ٩ (١٧٨٨) . والأضاحي ٣ (٥٥٤٨) . و١٠ (٥٥٥٩) . و مسلم في الحج ١٧ (١٢١١) . و ابی داود في المناسک ٢٣ (١٧٨٢) . و النسائي في الطهارة ١٨٣ (٢٩١) . والحيض ١ (٣٤٩) . والجهاد ٥ (٢٧٤٣) . و ابن ماجه في المناسک ٣٦ (٢٩٦٣) . سنن الدارمی في المناسک ٦٢ (١٩٣٥)

ورته عرض اوکړلو،هم دا خبره ده، نو نبیﷺ ورته اوفرمائیل،دا خوداسې څیز دې چې د آدم په ټولو لونړو باندې دا بیماری راغې ،نو حاجیان چې کوم افعال کوی،هغه کوه،خود بیت الله طواف مکوه. ترڅو چې پاکه شوې نه ئې.

دویم دلیل دادی چې دحائضې دپاره مسجد ته داخلیدل منع دی،اوطواف په مسجد حرام کې کیږی، نوځکه به طواف نه کوی،اووقوف عرفات چونکه په عام میدان کښې وی،نود ښځې دپاره په دې مقام کې وقوف څه قباحت نه لری،دغه شان چې د حج کوم نورافعال دی،دهغې او د حیض په مینځ کې څه منافات نشته، نوحائضه به هغه ټول افعال کوی.

که چرې څوك اعتراض اوکړی چې حائضې ته غسل څه فائده نه ورکوی،نوبیا دې ته دغسل حکم ولې کولې شی،

ددې جواب دادی چې د احرام په وخت کې غسل د احرام یا دمانځه دپاره نه وی،بلکې د نظافت حاصلولو دپاره وی،اویقینی خبره ده چې په دې غسل سره نظافت حاصلیږی، اوکه چرې یوه ښځه د وقوف عرفات او طواف زیارت نه پس حائضه شی،نو دادی د مکې نه روانه شی،اود طواف صدر په پریخودو په دې باندې څه واجب نه دی،ځکه چې رسول الله صلي الله علیه وسلم ښځو ته د طواف صدر پریخودو اجازت ورکړې وو.

*****************

حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا مَرْوَانُ بْنُ شُجَاعٍ الْجَزَرِيُّ، عَنْ خُصَيْفٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، وَمُجَاهِدٍ، وَعَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَفَعَ الْحَدِيثَ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَنَّ النُّفَسَاءَ وَالْحَائِضَ تَغْتَسِلُ وَتُحْرِمُ وَتَقْضِي الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا غَيْرَ أَنْ لَا تَطُوفَ بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما نه یو مرفوع روایت مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي نفاس او حیض والا ښځې به غسل کوي او احرام به تړي او تمام مناسك به اداء کوي مګر دکعبې طواف به نه کوي چې څو پوري پاکې شوي نه وي.

امام ترمذي وائي دا حدیث په دې سند حسن غریب دې.

*****************

## ١٠١_ بَاب مَا جَاءَ مَنْ حَجَّ أَوِ اعْتَمَرَ فَلْيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ

**دحج او عمري کونکي اخري کار دبیت الله طواف کیدل پکار دي**

---

[1] ـ سنن ابي داود في المناسک ١٠(١٧٤٣) ، (تحفة الأشراف : ٥٨٩٣ و٦٠٩٤ و٦٣٩٢)

٩٤٦_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُحَارِبِيُّ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ الْمُغِيرَةِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْبَيْلَمَانِيِّ، عَنْ عَمْرِو بْنِ أَوْسٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: " مَنْ حَجَّ هَذَا الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلْيَكُنْ آخِرُ عَهْدِهِ بِالْبَيْتِ ". فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: خَرَرْتَ مِنْ يَدَيْكَ، سَمِعْتَ هَذَا مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ تُخْبِرْنَا بِهِ، قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَوْسٍ حَدِيثٌ غَرِيبٌ وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ مِثْلَ هَذَا وَقَدْ خُولِفَ الْحَجَّاجُ فِي بَعْضِ هَذَا الْإِسْنَادِ. [1]

**ترجمه** : دحارث بن عبدالله بن اوس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چاچي ددي كور (بيت الله) حج يا عمره اوكره نو پكار داده چي دده اخري كار دبيت الله طواف وي عمر رضي الله عنه ورته اووئيل ته دي نسكور په زمكه راپريوځي يعني هلاك دي شي تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا خبره اوريدلي ده او مونږ ته دي نه ده بيان كړي.

امام ترمذي وائي دحارث بن عبدالله بن اوس حديث غريب دي، دا رنګي نورو راويانو هم دا روايت دحجاج بن ارطات نه ددي هم معني نقل كړي ده او ددي سند دبعضي حصي په سلسله كي دحجاج سره اختلاف شوي دي، او په دي باب كي د ابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي.

********************

## ١٠٢_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْقَارِنَ يَطُوفُ طَوَافًا وَاحِدًا

### دقارن حاجي دپاره ديو طواف كولو بيان

٩٤٧_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَنَ الْحَجَّ وَالْعُمْرَةَ فَطَافَ لَهُمَا طَوَافًا وَاحِدًا ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَغَيْرِهِمْ، قَالُوا: الْقَارِنُ يَطُوفُ طَوَافًا وَاحِدًا، وَهُوَ

---

[1] ـ (تحفة الأشراف: ٣٢٢٨) وانظر مسند احمد (٣ في ٣١٦٣١٤)

قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: يَطُوفُ طَوَافَيْنِ وَيَسْعَى سَعْيَيْنِ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم حج او عمره يو کړل او په يوځاي يي اوکړل او ددوئ دپاره يي يو طواف اوکړو.

امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن دي او په دي باب کي ابن عمر او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي دصحابه کرامو او ددوئ نه پس داهل علمو په همدي باندي عمل دي دوئ وائي چي حج قِران والا به يو طواف کوي همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول دي او دبعضي صحابه کرامو او اهل علمو قول دي چي حج قِران والا به د دوه طوافونه او دوه سعي کوي او دا د سفيان ثوري او اهل کوفه قول دي.

**تشريح** : د جمهور احنافو اهل علمو او محققينو رحهم الله په نزدقران افضل دې اود امام شافعی(رحمه الله) په نزدافراد افضل دي په دې باندې مبنی دې چی قارن به د حج اوعمرې دپاره دوه طوافونه او دوه سعی کوی،اودامام شافعی(رحمه الله) په نزدبه د دواړو دپاره يو طواف اويوه سعی کوی،يعنی په طواف او سعی کي به تداخل وی،نود دواړو په جمع کولو کي د امام شافعی(رحمه الله) د مذهب مطابق افعالو کي نقص راځی،په نسبت سره دې ته چی دهريودپاره جدا جدا طواف اوسعی اوشی، د دې وجې د امام شافعی(رحمه الله) په نزدحج افراد افضل دي.(الهدايه)

*****************

٩٤٨ـ حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ أَسْلَمَ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ أَحْرَمَ بِالْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ أَجْزَأَهُ طَوَافٌ وَاحِدٌ وَسَعْيٌ وَاحِدٌ عَنْهُمَا حَتَّى يَحِلَّ مِنْهُمَا جَمِيعًا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، تَفَرَّدَ بِهِ: الدَّرَاوَرْدِيُّ عَلَى ذَلِكَ اللَّفْظِ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، وَلَمْ يَرْفَعُوهُ، وَهُوَ أَصَحُّ. (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دحج او عمري دواړو دپاره احرام اوتړلو نو دده دپاره يو طواف او يوه سعي کافي ده تردي پوري چي دي د دواړو احرام پرانيزي.

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٦٨٤)

2 ـ سنن ابن ماجه في المناسك ٣٩ (٢٩٧٥)، (تحفة الأشراف: ٨٠٢٩)

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح غريب دي او په دي الفاظو ددي روايت په نقل کولو کي عبدالعزيز دراوردي منفرد دي او دا په نورو سندونو باندي هم دعبيدالله بن عمر العمري نه مروي دي ليکن هغوئ مرفوع نه دي بيان کړي او همدا زيات صحيح دي.

****************

## ١٠٣_ بَاب مَا جَاءَ أَنْ يَمْكُثَ الْمُهَاجِرُ بِمَكَّةَ بَعْدَ الصَّدَرِ ثَلَاثًا

### دمنی نه دواپسئ نه پس دمهاجرینو دپاره په مکه کي د دريو ورځو دتيرولو اجازت

٩٤٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ حُمَيْدٍ، سَمِعَ السَّائِبَ بْنَ يَزِيدَ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ الْحَضْرَمِيِّ يَعْنِي مَرْفُوعًا، قَالَ: "يَمْكُثُ الْمُهَاجِرُ بَعْدَ قَضَاءِ نُسُكِهِ بِمَكَّةَ ثَلَاثًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ بِهَذَا الْإِسْنَادِ مَرْفُوعًا.(1)

**ترجمه** : دعلاء بن الحضرمي نه مرفوع روايت مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مهاجر دحج دمناسکو اداء کولو نه پس په مکه کي دري ورځي پاتي کيدي شي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او په دي سند مرفوعا مروي دي.

****************

## ١٠٤_ بَاب مَا جَاءَ مَا يَقُولُ عِنْدَ الْقُفُولِ مِنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ

### دحج او عمري نه دواپسئ په وخت کي کومي کومي دعاګاني وئيل پکار دي

٩٥٠_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَفَلَ مِنْ غَزْوَةٍ أَوْ حَجٍّ أَوْ عُمْرَةٍ فَعَلَا، فَدْفَدًا مِنَ الْأَرْضِ، أَوْ شَرَفًا كَبَّرَ ثَلَاثًا، ثُمَّ قَالَ: "لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَائِحُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ، صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ

---

(1) _ البخاری في مناقب الأنصار ٤٧ (٣٩٣٣). صحيح مسلم في الحج ٨١ (١٣٥٢). سنن ابی داود في المناسک ٩٢ (٢٠٢٢). سنن النسائي في تقصير الصلاة ٤ (١٤٥٥). سنن ابن ماجه في الإقامة ٧٦ (١٠٧٣). (تحفة الأشراف: ١١٠٠٨). مسند احمد (٥ في ٥٢). سنن الدارمی في الصلاة ١٨٠ (١٤٣٧)

الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ". وَفِي الْبَابِ: عَنِ الْبَرَاءِ، وَأَنَسٍ، وجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي كله چي به نبي كريم صلي الله عليه وسلم دكومي غزوي يا حج يا عمري نه واپس كيدو او په كوم لوړ ځاي به ختلو نو دري پيري به يي الله اكبر اووئيل او بيا به يي دا دعا وئيله:

" لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَائِحُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ. صَدَقَ اللَّهُ وَعْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَهَزَمَ الْأَحْزَابَ وَحْدَهُ"

يعني دالله نه علاوه بل معبود برحق نشته او هغه يواځي دي هيڅ شريك نه لري بادشاهي خاص دهغه دپاره ده او تمام تعريفونه هم خاص دهغه دپاره دي او هغه په هر څيز قادر دي، مونږ واپس كيدونكي يو، رجوع كونكي يو، او عبادت كونكي يو، سير او سياحت كونكي يو، او دخپل رب تعريف كونكي يو، الله تعالي خپله وعده رښتيني كړه او دخپل بنده مدد يي اوكړو او يواځي يي ټولو فوجونو ته شكست وركړو.

**تشريح** : دحديث ظاهري مفهوم خو دادی كه څوك دا كلمات په سحر كي اولولي نوماښام پوري به دشيطان نه محفوظ وي او سل نيكي به ورله هم اوليكلی شي او سل ګناهونه به يي هم معاف شي او دلسوغلامانو دازاديدو ثواب به ورته هم ملاؤ شي او كه ماښام كي اولولي نو ددي ذكر په حديث كي نشته ليكن محدثين وائي چي په ماښام كي لوستونكي دپاره به هم دا ثوابونه ملاويږي.

سوال: دماښام ذكر ولي په دي حديث كي نه دی شوی؟

اول جواب: كيدی شي چي رسول الله به كړی وي ليكن راوي به داختصار په وجه حذف كړی وي (او يا به ورنه هيرشوی وي مترجم).

دويم جواب: رسول الله دسحر ذكر كړی دی او دماښام ذكر ورنه پخپله معلوميږي نو په حديث كي ددي بيانولوته ضرورت پاتي نشو.

امام نووي په شرح مسلم كي ليكلي دي دا انعامات په سل عدد پوره كولو باندي دی ، برابره خبره ده چي انسان يي په يو مجلس كي سل پيري اولولي او كه په مختلفو مجلسونو كي په هر صورت كي به ورته انشاء الله پورتنی ذكر شوی ثواب ملاويږي ليكن بهتر به دا وي چي په يو

---

[1] ـ مسلم في الحج ٧٦ (١٣٤٢) ، (تحفة الأشراف : ٧٥٣٩) وأخرجه صحيح البخاري في العمرة ١٢ (١٧٩٧) ، والجهاد ١٣٣ (٢٩٩٥) ، والمغازي ٢٩ (٤١١٦) ، والدعوات ٥٢ (٦٣٨٥) ، و مسلم في الحج ٧٦ . سنن ابي داود في الجهاد ١٧٠ (٢٧٧٠) ، مسند احمد (٢ في ٥، ١٥، ٢١، ٣٨، ٦٣، ١٠٥)

مجلس كي اولولي او دورخي په ابتداء كي يي اولولي همدارنګي دا انعامات په سل پيري لوستلو وارد شوي دي ليكن كه څوك دا څومره زيات اولولي نو دومره زيات ثواب به ورته ملاويږي.

خلاصه داده چي كله كوم انسان په لوړ ځاي خيژي نو الله اكبر به وائي او چي كله كوزيږي نو سبحان الله به وائي او په واپسئ كي ورسره دا دعا وئيل هم مسنون دي.

*****************

## ١٠٥_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْمُحْرِمِ يَمُوتُ فِي إِحْرَامِهِ

### په احرام كي دمحرم دمړكيدو بيان

٩٥١_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَرَأَى رَجُلًا قَدْ سَقَطَ مِنْ بَعِيرِهِ فَوُقِصَ فَمَاتَ وَهُوَ مُحْرِمٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اغْسِلُوهُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَكَفِّنُوهُ فِي ثَوْبَيْهِ، وَلَا تُخَمِّرُوا رَأْسَهُ، فَإِنَّهُ يُبْعَثُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يُهِلُّ أَوْ يُلَبِّي". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا مَاتَ الْمُحْرِمُ انْقَطَعَ إِحْرَامُهُ وَيُصْنَعُ بِهِ كَمَا يُصْنَعُ بِغَيْرِ الْمُحْرِمِ.[1]

**ترجمه**: دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي خلق په يو سفر كي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره موجود وو نو رسول الله اوكتل يو كس دخپل اوښ نه راپريوتو او څټ يي مات شو او مړ شو او احرام يي تړلي وو رسول الله اوفرمائيل ده ته دبيرو دپاڼړو په اوبو غسل وركړئ او په همدي داحرام په دوه جامو كي ورته كفن وركړئ او سر يي مه پټوئ ځكه چي دقيامت په ورځ به دي دتلبي وئيلو په حال كي راپورته كيږي.

---

[1] _ البخاری في الجنائز ٢١ (١٢٦٨) . وجزاء الصيد ٢٠ (١٨٣٩) . و مسلم في الحج ١٤ (١٢٠٦) . و ابی داود في الجنائز ٨٣ (٣٢٢٨) . و النسائی في الجنائز (١٩٠٥) . والحج ٤٧ (٢٨١٥) . و١٠١ (١٨٦١) . و ابن ماجه في المناسك ٨٩ (٣٠٨٣) . (تحفة الأشراف : ٥٥٨٣) . مسند احمد (١ في ٣٤٦) و البخاری في الجنائز ١٩ (١٢٦٥) . و٢٠ (١٢٦٦) . و٢١ (١٢٦٧) . وجزاء الصيد ١٣ (١٨٣٩) . و٢١ (١٨٥١) . و مسلم في الحج (المصدر المذكور) . و النسائی في الحج ٤٧ (٢٨١٣) . و٩٧ (٢٨٥٦) . و٩٨ (٢٨٥٧) . و٩٩ (٢٨٥٨، ٢٨٥٩) . و١٠٠ (٢٨٦٠) . مسند احمد (١ في ٢١٥، ٢٦٦، ٢٨٦) . سنن الدارمی في المناسک ٣٥ (١٨٩٣)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي، او همدا دسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول دي، بعضي اهل علم وائي كله چي يو محرم مړ كيږي دهغه احرام ختم كيږي او دده سره به هم هغه څه كولي شي كوم چي دغير محرم سره كيږي.

*****************

## ١٠٦_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُحْرِمِ يَشْتَكِي عَيْنَهُ فَيَضْمِدُهَا بِالصَّبِرِ

**دستركي دخوږيدو ړخت كي دي محرم صبر دوائي په ستركه كي واچوي**

٩٥٢_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ مُوسَى، عَنْ نُبَيْهِ بْنِ وَهْبٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ مَعْمَرٍ اشْتَكَى عَيْنَيْهُ وَهُوَ مُحْرِمٌ، فَسَأَلَ أَبَانَ بْنَ عُثْمَانَ، فَقَالَ: اضْمِدْهُمَا بِالصَّبِرِ فَإِنِّي سَمِعْتُ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ يَذْكُرُهَا، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " اضْمِدْهُمَا بِالصَّبِرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بَأْسًا أَنْ يَتَدَاوَى الْمُحْرِمُ بِدَوَاءٍ مَا لَمْ يَكُنْ فِيهِ طِيبٌ. (1)

**ترجمه** : نبيه بن وهب وائي چي د عمر بن عبدالله بن معمر ستركي خوږي شوي او احرام يي تړلي وو دابان بن عثمان نه يي دمسئلي تپوس اوكړو نو هغوئ ورته اووئيل صبر ورباندي راكاږه ځكه چي ما دعثمان رضي الله عنه نه ددي ذكر اوريدلي وو چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي روايت كولو رسول الله فرمائيلي وو په دي باندي صبر راكاږه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي هغوئ دمحرم دپاره دداسي دوائي استعمال دعلاج دپاره اجازت وركوي په كومه كي چي خوشبو نه وي.

*****************

## ١٠٧_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُحْرِمِ يَحْلِقُ رَأْسَهُ فِي إِحْرَامِهِ مَا عَلَيْهِ

**محرم كه په حالت داحرام كي سر اوخروي نو په ده باندي به څه جرما نه لازميږي**

---

1 _ صحيح مسلم في الحج ١٢ (١٢٠٣)، سنن ابي داود في المناسك ٣٧ (١٨٣٨)، سنن النسائي في المناسك ٣٥ (٢٧١٣)، (تحفة الأشراف: ٩٧٧٤)، مسند احمد (١/ ٦٠، ٦٥، ٦٨، ٦٩)، سنن الدارمي في المناسك ٨٣ (١٩٣٦)

٩٥٣_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ أَيُّوبَ، وَابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، وحميد الأعرج، وعبد الكريم، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ بِهِ وَهُوَ بِالْحُدَيْبِيَةِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ مَكَّةَ، وَهُوَ مُحْرِمٌ، وَهُوَ يُوقِدُ تَحْتَ قِدْرٍ، وَالْقَمْلُ يَتَهَافَتُ عَلَى وَجْهِهِ، فَقَالَ: " أَتُؤْذِيكَ هَوَامُّكَ هَذِهِ ". فَقَالَ: نَعَمْ، فَقَالَ: " احْلِقْ وَأَطْعِمْ فَرَقًا بَيْنَ سِتَّةِ مَسَاكِينَ، وَالْفَرَقُ ثَلَاثَةُ آصُعٍ أَوْ صُمْ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ أَوِ انْسُكْ نَسِيكَةً ". قَالَ ابْنُ أَبِي نَجِيحٍ: " أَوِ اذْبَحْ شَاةً ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْمُحْرِمَ إِذَا حَلَقَ رَأْسَهُ أَوْ لَبِسَ مِنَ الثِّيَابِ مَا، لَا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَلْبَسَ فِي إِحْرَامِهِ أَوْ تَطَيَّبَ، فَعَلَيْهِ الْكَفَّارَةُ، بِمِثْلِ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

**ترجمه** : دكعب بن عجره رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم مكي ته دداخليدونه مخكي ددوئ په خوا كي تير شو او دوئ په حديبيه كي وو چي احرام يي تړلي وو او ديوي كټوئ لاندي يي اور بلولو او سپږي يي په مخ راپريوتلي رسول الله ورنه تپوس اوكړو ايا دا سپږي تاته تكليف نه دركوي هغه اووئيل ولي نه، ورته يي اوفرمائيل سر اوخروه او شپږو مسكينانو ته يو فرق خوراك وركړه او يا دري ورځي روژي اونيسه او يا ديو څاروي قرباني اوكړه او دابن ابي نجيح په روايت كي دي چي يا يوه چيلۍ ذبح كړه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي چي محرم كه سر اوخروي يا داسي جامي واغوندي دكومو چي احرام كي اغوستل درست نه وي يا خوشبو اولګوي نو په ده باندي به هغه كفاره وي كومه چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي ده.

### دابومحمد كعب ابن عجره رضي الله عنه حالات:

نوم كعب كنيه ابو محمد په يوه غزوه كي يي لاس كټ شوى وو او دسر ويخته يي ګنړ وو

---

[1] _ البخاري في المحصر (١٨١٣)، و٦ (١٨١٥)، و٧ (١٨١٦)، و٨ (١٨١٧). والمغازي ٣٥ (٤١٥٩، ٤١٩٠). وتفسير البقرة ٣٢ (٤٥١٧). والمرضى ١٦ (٥٦٦٥). والطب ١٦ (٥٧٠٣). والكفارات ١ (٦٨٠٨). صحيح مسلم في الحج ١٠ (١٢٠١). سنن ابي داود في المناسك ٤٣ (١٨٥٦). سنن النسائي في المناسك ٩٦ (٢٨٥٣). (تحفة الأشراف: ١١١١٣). موطأ امام مالك في الحج ٧٨ (٢٣٨). مسند احمد (٤ في ٢٤٢، ٢٤٣) وأخرجه صحيح مسلم في الحج ١٠. سنن ابن ماجه في المناسك ٨٦ (٣٠٧٩). مسند احمد (٤ في ٢٤٢، ٢٤٣)

(طبقات ابن سعد).
دهجرت نه پس مسلمان شوی وو او دمسلمانيدو نه پس يي په تمامو غزواتو کي شرکت کړی دی په غزوه حديبيه کي هم درسول الله صلي سره موجود وو دويختو دګنړوالي په وجه يي په سر کي دومره ډيري سپږي شوي وي چي په مخ به يي راروانی وي نو رسول الله ورته دويختو کټ کولو مشوره ورکړه نو بيا يي ددينه پس کټ کړل دده په سيرت کي دحق حمايت او حب رسول سر فهرست دي دکعب رضي الله عنه په اخلاقو کي دا دوه څيزونه ډير روښانه دي چي يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شو چي درسول الله رنګ دلوږي په وجه تغير شوی وو نو دی فورا پوهه شو او ديهودي اوښ يي اوبه کولو ده به اوښ ته يوه بوکه اوبه په يوه کجوره اچولي کله چي يو څو کجوري ورسره جمع شوي نو هغه يي درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضري کړي (الاصابه).
دهجرت په ۵۱ کال کي کله چي دده عمر ۷۵ کلونه وو په مدينه کي وفات شو او درروايتونو تعداد يي ۴۷ دی.

***************

## ۱۰۸_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ لِلرِّعَاءِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمًا وَيَدَعُوا يَوْمًا

### دشپونکو دپاره يوه ورځ پريخودلو او يوه ورځ رمي کولو درخصت بيان

۹۵٤_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "أَرْخَصَ لِلرِّعَاءِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمًا وَيَدَعُوا يَوْمًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَى ابْنُ عُيَيْنَةَ، وَرَوَى مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، وَرِوَايَةُ مَالِكٍ أَصَحُّ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ لِلرِّعَاءِ أَنْ يَرْمُوا يَوْمًا وَيَدَعُوا يَوْمًا، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ.[1]

**ترجمه**: دعدي رضي الله عنه نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم شپونکو ته رخصت ورکړي دي چي يوه ورځ رمي کوئ او يوه ورځ يي پريږدئ.
امام ترمذي وائي دا رنګي دابن عيينه نه هم يو روايت مروي دي، او مالك بن انس په سند د عبدالله بن ابي بکر بن محمد ابن عمرو بن حزم عن ابيه عن ابي البداح بن عدي عن ابيه ان

---

[1] _ ابي داود في الحج ٧٨ (١٩٧٥). سنن النسائي في الحج ٢٢٥ (٣٠٧١). سنن ابن ماجه في المناسک ٦٧ (٣٠٣٦). (تحفة الأشراف: ٥٠٣٠). مسند احمد (٥ في ٤٥٠). سنن الدارمي في المناسک ٥٨ (١٩٣٨)

النبي صلي الله عليه وسلم، او دمالك روايت زيات صحيح دي، داهل علمو دجماعت شپونكوته رخصت وركړي دي چي يوه ورځ دي رمي كوي او يوه ورځ دي پريږدي.

**دعدي بن حاتم رضي الله عنه حالات:**

نوم عدي كنيه ابو طريق او دپلار نوم يي حاتم طايي وو چي دعدي په قبيله طئ يي حكمرانئ كوله داسلام دظهور په وخت كي عدي حكمران وو كله چي داسلام دائره وسيع كيدل شروع شول نو دى پريشان شو او داسلامي سيلاب دمخنيوي توان يي نه لرلو بل طرف ته دحكمرانئ په وجه داسلام په وړاندي يي سر ټيټول هم نه غوښتل خو بهر حال اسلامي فوجونه طئ قبيلي طرف ته روان شول نو عدي په دغه وخت كي خپل تمام خاندان شام ته بوتلو (سيرت ابن هشام).

اتفاق دا وو چي صرف يوه رشته داره ورنه پاتي شوي وه او هغه گرفتاره شوي وه، دي زنانه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته عرض اوكړو چي زما دخاوند راخلاصونكى هيڅوك نشته په مابانـدي احسان اوكړه او الله تعالي به په تا باندي احسان اوكړي رسول الله تپوس اوكړو خلاصونكى څوك دى هغي اووئيل عدي رسول الله اوفرمائيل ايا هغه څوك يادوي څوك چي دالله او درسول نه تختيدلى دى همدا مكالمه په دويمه ورځ بيا هم اوشوه او بيايي دعلي رضي الله عنه د درخواست په بنا ازاد كړو او ډير اعزاز سره يي رخصت كړو نو په دي وجه عدي متاثر شو او درسول الله په خدمت كي حاضر شو دراتلو نه پس رسول الله په يوه گدئ كينولو او پخپله په زمكه كيناستو او بيا ددينه پس عدي مسلمان شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دوباره دخپلي قبيلي بنو طئ امير مقرر كړو (سيرت ابن هشام).

درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات نه پس چي كله خلق مرتد شول او دزكات وركولو نه يي انكار اوكړو نو دعدي قبيلي په كوشش سره زكات ادا كولو (استيعاب).

عدي به هميشه په اودس كي اوسيدلو او هيڅ كله ورته داقامت په وخت كي اودس ته ضرورت نه دى پيښ شوى (الاصابه).

وفات، دوفات په وخت كي په كوفه كي موجود وو او هم دلته دهجرت په ٦٧ كال وفات شو دمروياتو شمير يي ٦٦ دى چي شپږ متفق عليه دي دري صرف په بخاري كي دي او دوه په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

*****************

٩٥٥_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، حَدَّثَنِي عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي الْبَدَّاحِ بْنِ عَاصِمِ بْنِ عَدِيٍّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَخَّصَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرِعَاءِ الْإِبِلِ فِي الْبَيْتُوتَةِ، أَنْ يَرْمُوا يَوْمَ النَّحْرِ، ثُمَّ يَجْمَعُوا رَمْيَ يَوْمَيْنِ بَعْدَ يَوْمِ النَّحْرِ، فَيَرْمُونَهُ فِي أَحَدِهِمَا". قَالَ مَالِكٌ: ظَنَنْتُ أَنَّهُ قَالَ: "فِي الْأَوَّلِ مِنْهُمَا، ثُمَّ يَرْمُونَ يَوْمَ

النَّفْرِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ. [1]

**ترجمه** : دعاصم بن عدي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داوښانو شپونكو ته په منىٰ كي دشپې تيرولو رخصت وركړي دي چي دوئ دي په لسم ذي الحجه دجمره عقبي رمي اوكړي او بيا دي دلسم ذي الحجي نه پس ورځو رمي جمع كړي او تول دي په يوځاي اوكړي (مالك وائي زماګمان دي چي راوي داسي اووائيل) په اوله ورځ دي رمي اوكړي او بيا دي دتلو په ورځ رمي اوكړي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او ابن عيينه چي دعبدالله بن ابي بكر نه كوم روايت نقل كړي دي هغه زيات صحيح دي.

**تشريح** : په دي مسئله كي اختلاف دي چي په رمي كي تاخير كول جائز دي او كنه؟ په دي كي دفقهاء او محدثينو دوه مذاهب دي.

(۱) دامام ابوحنيفه په نزد په رمي كي تاخير كول جائز نه دي او كه څوك تاخير اوكړي جزاء به ورباندي واجب شي.

(۲) دائمه ثلاثه په نزد شپونكو ته دا اجازت دي چي يوه ورځ رمي اوكړي او يوه ورځ يي اونكړي او ددوئ په نزد په شپونكو باندي هيڅ جزاء او فديه نه واجب كيږي او دوئ په دي سلسله كي دحديث الباب نه استدلال كړي دي چي رسول الله شپونكو ته درمي مؤخر كولو او جمع كولو اجازت وركړي دي.

جواب: په مذكوره حديث كي دجمعي نه مراد جمع او تاخير صوري دي حقيقي نه دي مراد.

*****************

## ۱۰۹_ باب

### دماقبل باب متعلق يوبل باب

۹۵۶_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ بْنِ عَبْدِ الْوَارِثِ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا سُلَيْمُ بْنُ حَيَّانَ، قَالَ: سَمِعْتُ مَرْوَانَ الْأَصْفَرَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ " عَلِيًّا قَدِمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْيَمَنِ، فَقَالَ: " بِمَ أَهْلَلْتَ ؟ " قَالَ: أَهْلَلْتُ بِمَا أَهَلَّ بِهِ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1] _ ابي داود في الحج ۷۸ (۱۹۷۵) ، سنن النسائي في الحج ۲۲۵ (۳۰۷۱) ، سنن ابن ماجه في المناسك ٦٧ (۳۰۳٦) ، (تحفة الأشراف : ۵۰۳۰) ، مسند احمد (۵ في ۴۵۰) ، سنن الدارمي في المناسك ۵۸ (۱۹۳۸)

وَسَلَّمَ. قَالَ: "لَوْلَا أَنَّ مَعِي هَدْيًا لَأَحْلَلْتُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي علي رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ديمن نه راغي رسول الله ورنه تپوس اوکړو تاځنګه تلبيه وئيلي ده او کوم احرام دي تړلي دي علي رضي الله عنه اووئيل ما هغه تلبيه وئيلي ده کومه چي رسول الله وئيلي ده او احرام نه هم عمري تړلي شي رسول الله اوفرمائيل که چري ماخان سره دقربانۍ ځاروي نه وي راوستي نو احرام به مو پرانيستلي وي

امام ترمذي وائي دا حديث ددي سند په اعتبار حسن صحيح غريب دي

****************

## ١١٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي يَوْمِ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ

### دحج اکبر دورځې بيان

٩٥٧_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ عَبْدِ الصَّمَدِ بْنِ عَبْدِ الْوَارِثِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنْ يَوْمِ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ، فَقَالَ: "يَوْمُ النَّحْرِ".[2]

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوکړو چي حج اکبر کومه يوه ورځ ده نو راته يي اوفرمائيل "يوم النحر" يعني دقربانۍ ورځ.

****************

٩٥٨_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: "يَوْمُ الْحَجِّ الْأَكْبَرِ يَوْمُ النَّحْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْأَوَّلِ، وَرِوَايَةُ ابْنِ عُيَيْنَةَ مَوْقُوفًا، أَصَحُّ مِنْ رِوَايَةِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ مَرْفُوعًا، هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ

---

[1] _ صحيح البخاری في الحج ٣٢ (١٥٥٨)، صحيح مسلم في الحج ٣٢ (١٢٥٠)، (تحفة الأشراف: ١٥٨٥)، مسند احمد (٣ في ١٨٥)

[2] _ تفرد به المؤلف وأخرجه في تفسير التوبة أيضاً (٣٠٨٨) (تحفة الأشراف: ١٠٠٣٩)

الْحُفَّاظِ عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، قَالَ: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُرَّةَ، عَنِ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ مَوْقُوفًا. (1)

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه بيان دي چي دحج اكبر ورځ لسم ذي الحجه ده.

امام ترمذي وائي ابن ابي عمر راوي دا حديث مرفوع نه دي بيان كړي او اولني حديث زيات صحيح دي، او دابن عيينه موقوف روايت دمحمد بن اسحاق دمرفوع روايت نه زيات صحيح دي، دا رنګي ډيرو حافظانو داحديث په سند د. ابي اسحاق عن علي. موقوفاً نقل كړي دي،او شعبه هم دابواسحاق سبيعي نه نقل كړي دي او دهغوئ سند داسي دي عن عبدالله بن مرة عن الحارث عن علي موقوفا.

****************

## ١١١_ بَاب مَا جَاءَ فِي اسْتِلَامِ الرُّكْنَيْنِ

### دحجر اسود او ركن يماني داستلام بيان

٩٥٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنِ ابْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ كَانَ يُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُهُ. فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ إِنَّكَ تُزَاحِمُ عَلَى الرُّكْنَيْنِ زِحَامًا مَا رَأَيْتُ أَحَدًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُزَاحِمُ عَلَيْهِ. فَقَالَ: إِنْ أَفْعَلْ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. يَقُولُ: "إِنَّ مَسْحَهُمَا كَفَّارَةٌ لِلْخَطَايَا"، وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "مَنْ طَافَ بِهَذَا الْبَيْتِ أُسْبُوعًا فَأَحْصَاهُ، كَانَ كَعِتْقِ رَقَبَةٍ"، وَسَمِعْتُهُ يَقُولُ: "لَا يَضَعُ قَدَمًا وَلَا يَرْفَعُ أُخْرَى إِلَّا حَطَّ اللهُ عَنْهُ خَطِيئَةً، وَكَتَبَ لَهُ بِهَا حَسَنَةً". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنِ ابْنِ عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. (2)

**ترجمه** : دعبيد بن عمير بيان دي فرمائي چي ابن عمر رضي الله عنهما په حجر اسود او ركن يماني په استلام داسي جلتي اوكړله چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په صحابه كرامو كي بل څوك په داسي كولو نه دي ليدلي ما ورنه تپوس اوكړو اي ابو عبدالرحمن ته په ركنينو كي دومره جلتي ولي كوي ما خو په صحابه كرامو كي هيڅوك داسي نه دي ليدلي؟ هغوئ

---

1 _ تفرد به المؤلف وأخرجه في تفسير التوبة أيضا (٣٠٨٨) (تحفة الأشراف : ١٠٠٣٩)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٧٣١٤)

اووئيل كه چري زه داسي كوم نو دا څكه كوم چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چي په ركنينو لاس راښكل دګناهونو كفاره ده او ما ورنه اوريدلي دي چاچي ددي كور (كعبه) اوه پيري طواف اوكړو او ويې شميرلو نو دا داسي ده لكه چي يوغلام يې ازاد كړي وي او ما ورنه اوريدلي دي داسي كس چي څومره قدمونه اخلي او قدم پورته كوي الله تعالي ورته دهر قدم په بدل كي يوه غلطي معاف كوي او يوه نيكي ورله ليكي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او حماد بن زيد دا حديث په سند دعطاء بن السائب عن ابن عبيد بن عمير عن ابن عمر، سره نقل كړي دي او په دي كي هغوئ دابن عبيد دپلار دواسطي ذكر نه دي كړي.

شيخينو هم د حجر اسود د فضيلت په سلسله كي د عابس بن ربيعه نه يو متفق عليه روايت نقل كړى دى:

عابس بن رَبيعة ، قَالَ : رَأَيْتُ عُمَرَ بن الخطاب ﷺ يُقَبِّلُ الحَجَرَ - يَعْنِي : الأَسْوَدَ - وَيَقُولُ : إِنِّي أَعْلَمُ أَنَّكَ حَجَرٌ مَا تَنْفَعُ وَلاَ تَضُرُّ ، وَلَولا أَنِّي رَأَيْتُ رسولَ الله ﷺ يُقَبِّلُكَ مَا قَبَّلْتُكَ. مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

عابس بن ربيعه وائي چي ما عمر فاروق رضي الله عنه حجراسود لره ښكلونكى اوليدو او دا مي تري واوريدل ماته پته ده چي ته صرف يوكاڼړى يې نه څه فائده وركولى شي نه نقصان كه چري ما رسول الله صلي الله عليه وسلم تالره ښكلونكى نه وى ليدلى نو مابه ته نه ويى ښكل كړى (بخاري ومسلم).

"اعلم انك حجر ماتنفع ولاتضر" يعني عمر فاروق رضي الله عنه حجر اسود مخاطب كړو او ويى وئيل ته خو يو كاڼړى يې چي نه فائده وركولى شي او نه نقصان دفع كولى شي په يوبل روايت كي راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اني لاعلم انك حجر لاتنفع ولاتضر ولولا امرني ربي ان اقبلك ماقبلتك، يعني ته خو يو كاڼړى يې چي دنفعي او نقصان اختيار نه لري خو كه ماته زما رب ستا دښكلولو حكم نه وى كړى نو مابه ته نه وي ښكل كړى، غرض دا چي همدا خبره عمر فاروق رضي الله عنه اوكړه او دا يې په هغه وخت كي اوكړه كله چي يو څو نوي باندچيان مسلمانان موجود وو دا ددي دپاره چي هغوئ دا ګمان اونكړي چي په دي كاڼړي كي كوم اثر شته بلكي ددي ښكلول صرف داتباع رسول په بنياد دي يعني چي رسول الله ښكل كړى وو او زه يې هم دهغه په اتباع كي ښكلوم.

ددينه دا معلومه شوه چي په اتباع رسول كي حكمت تلاش كول نه دي پكاري كله كله ددي حكمت ته ذهن رسيدى شي او په بعضي وخت كي ورته ذهن رسائي نشي كولى بهر حال اصل مقصود اتباع رسول ده ليكن علماؤ ليكلي دي چي دحجر اسود نه علاوه دبل كاڼړي ښكلول جائز نه دي.

*******************

## ١١٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْكَلَامِ فِي الطَّوَافِ

### دطواف كولو په وخت دخبرو كولو بيان

٩٦٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الطَّوَافُ حَوْلَ الْبَيْتِ مِثْلُ الصَّلَاةِ إِلَّا أَنَّكُمْ تَتَكَلَّمُونَ فِيهِ، فَمَنْ تَكَلَّمَ فِيهِ، فَلَا يَتَكَلَّمَنَّ إِلَّا بِخَيْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، وَغَيْرُهُ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَوْقُوفًا، وَلَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ، أَنْ لَا يَتَكَلَّمَ الرَّجُلُ فِي الطَّوَافِ إِلَّا لِحَاجَةٍ، أَوْ يَذْكُرُ اللَّهَ تَعَالَى، أَوْ مِنَ الْعِلْمِ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دبيت الله نه چاپيره طواف كول دمونځ پشان دي البته فرق پكي دومره دي چي په طواف كي تاسو خبري كولي شئ (او په مونځ كي يي نشئ كولي) نو كه څوك په طواف كي خبري كوي نو دنيكئ خبري دي كوي.

امام ترمذي وائي دا حديث ابن طاوس وغيره دابن عباس نه موقوفاً نقل كړي دي او مونږ ته صرف دعطاء بن سائب په سند مرفوع رارسيدلي دي، او په همدي داهل علمو عمل دي دوئ دا خبره مستحب ګنړي چي په طواف كي بغير دضرورته خبري كول پكار نه دي او كه څوك خبري كوي نو دنيكئ خبري دي كوي.

*******************

## ١١٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْحَجَرِ الْأَسْوَدِ

### دحجر اسود بيان

٩٦١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ جَرِيرٍ، عَنِ ابْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَجَرِ: "وَاللَّهِ لَيَبْعَثَنَّهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ لَهُ عَيْنَانِ يُبْصِرُ بِهِمَا، وَلِسَانٌ يَنْطِقُ بِهِ يَشْهَدُ عَلَى مَنِ اسْتَلَمَهُ بِحَقٍّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([2])

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٤٣٢)

[2] ـ سنن ابن ماجه في المناسك ٢٧ (٢٩٤٤) . (تحفة الأشراف: ٥٥٣٦) . سنن الدارمي في المناسك ٢٦ (١٨٨١)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحجر اسود متعلق فرمائيلي دي په الله قسم دابه دقيامت په ورځ په داسي حال كي راپورته كړي شي چي ددي به دوه سترگي وي چي ليدل به ورباندي كوي او يوه به يي ژبه وي چي وئيل به ورباندي كوي او دا به دهغه چا دايمان گواهي وركوي چاچي په حقه ددي استلام كړي وي (يعني دايمان او اجر په نيت).
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي.

*****************

## ١١٤_ باب

### دحجر اسودمتعلق يو بل باب

٩٦٢_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَدَّهِنُ بِالزَّيْتِ وَهُوَ مُحْرِمٌ غَيْرِ الْمُقَتَّتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: الْمُقَتَّتُ الْمُطَيَّبُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَقَدْ تَكَلَّمَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، فِي فَرْقَدٍ السَّبَخِيِّ، وَرَوَى عَنْهُ النَّاسُ. [1]
**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مرويٌ دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم داحرام په حالت كي دزيتون تيل لگول او دا داسي تيل وو چي خوشبويي نه لرله.
امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي مونږ ته صرف دفرقد سنجي په سند رارسيدلي دي او فرقد دسعيد بن زبير نه نقل كړي دي او يحيٰ بن سعيد په فرقد سنجي باندي كلام كړي دي او دفرقد نه خلقو نقل كړي دي او مقتت په معني دخوشبودار دي.

*****************

## ١١٥_ باب

### دحج متعلق يو بل باب

٩٦٣_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا خَلَّادُ بْنُ يَزِيدَ الْجُعْفِيُّ، حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، "أَنَّهَا كَانَتْ تَحْمِلُ مِنْ مَاءِ زَمْزَمَ، وَتُخْبِرُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ

---

[1] - سنن ابن ماجه في المناسک ٨٨ (٣٠٨٣). (تحفة الأشراف: ٧٠٦٠)

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَحْمِلُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ.[1]

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي هغي به مديني ته دځان سره دزمزم اوبه اوړلي او فرمائيل به يي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم د زمزم اوبه دځان سره اوړلي. امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي او مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي.

*****************

## ١١٦_ باب

### دحج متعلق يوبل باب

٩٦٤_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ الْوَزِيرِ الْوَاسِطِيُّ المعنى واحد، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الْأَزْرَقُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ حَدِّثْنِي بِشَيْءٍ عَقَلْتَهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْنَ صَلَّى الظُّهْرَ يَوْمَ التَّرْوِيَةِ؟ قَالَ: "بِمِنًى". قَالَ: قُلْتُ: فَأَيْنَ صَلَّى الْعَصْرَ يَوْمَ النَّفْرِ؟ قَالَ: "بِالْأَبْطَحِ". ثُمَّ قَالَ: "افْعَلْ كَمَا يَفْعَلُ أُمَرَاؤُكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، يُسْتَغْرَبُ مِنْ حَدِيثِ إِسْحَاقَ بْنِ يُوسُفَ الْأَزْرَقِ، عَنِ الثَّوْرِيِّ.[2]

**ترجمه** : دعبدالعزيز بن رفيع بيان دي چي ما انس بن مالك رضي الله عنه ته اووئيل كومه داسي خبره راته بيان كړه كومه چي تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ياده كړي وي او دا راته اووايه چي په اتمه ذي الحجه دي دماسپخين مونځ چرته كړي وو؟ انس اووئيل په مني كي مي كړي وو ما ورنه بيا تپوس اوكړو درخصتيدو په ورځ دي دمازيګر مونځ چرته كړي وو راته يي اووئيل په ابطح مقام كي ليكن ته داسي كوه څنګه چي ستاسو اميران او حاكمان كوي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داسحاق بن يوسف الازرق په سند سره غريب ګڼړلي شوي دي كوم چي هغه دثوري نه نقل كړي دي.

*****************

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٩٠٥)

2 _ صحيح البخاری في الحج ٨٣ (١٦٥٣)، و١٣٦ (١٧٨٣)، صحيح مسلم في الحج ٥٨ (١٣٠٩)، سنن ابی داود في المناسک ٥٩ (١٩١٢)، سنن النسائی في الحج ١٩٠ (٣٠٠٠)، (تحفة الأشراف: ٩٨٨)، سنن الدارمی في المناسک ٣٦ (١٩١٣)

# كتاب الجنائز عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

## ١_ بَاب مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ الْمَرِيضِ

### دجنازي احكام او مسائل

جنائز.د جنازي جمع ده.جنازه د جيم په فتح سره د مړي دپاره راځي، او په کسري سره هغه تختي دپاره راځي چې په هغې مړی ايخودلی شي، دماقبل سره يي تعلق دادي چې مرګ چونکه آخري عارض دې.

وجوهات دجنازي دمونځ دمشروعيت :دعقل تقاضا ده.چې کله يوانسان د ډيرو خلقو ډله د يولوی حاکم مخی له بوځی.اودده دپاره سفارش اوکړی.اودده دمعافئ درخواست اوکړی.اودده دپاره په زارئ او منت درخواست اوکړی.نو آخر دده قصورمعاف کيږی.هم دا د جنازی د مونځ راز دې

د جنازی مونځ په دی وجه مقرر شوې دې.چې د مومنانو يوه ډله د مړی سفارش کي شرکت اوکړی.نودا د الله تعالی د رحمت نازليدو دپاره ډير لوی اثر لری.نبی کريمﷺ فرمائی:

"ما من مسلم يموت فيقوم على جنازته أربعون رجلاً لا يشركون بالله شيئاً إلا شفعهم الله فيه"

يعنی هيڅ يوسړې داسی نه مری.چی دده په جنازه څلويښت سړی راجمع وی.چی دوی د الله تعالی سره څوك نه شريکوی.نوددی مړی په حق کي ددوی سفارش قبلوی.

د جنازي مونځ فرض کفايه دي ددي وجه داده چي بعضی فرائض داسی قسم مقررشوی دی.چی دا ديو مقام بعضی کسان اداکړی.نود ټولوطرفه ادا کيږی.وجه ئې دا ده.که ټول دا په جمع باندې اوکړی . نو معاشی انتظام به تباه اوبرباد شی.ددوی د نفع ټول تدبيرونه به معطل شی.نود داسی کارونو دپاره يو سړې کافی دې.د بيمارانو بيمار پرسی اود جنازی مونځ هم په دی طريقه مشروع شوی دی.چی د بيمارانو اومړو ضائع کيدل هم نه وی.اوبعضی خلق که دا پوره کړی.نو مقصد به هم حاصل شی.

*****************

٩٦٥_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ. عَنِ الأَعْمَشِ. عَنْ إِبْرَاهِيمَ. عَنِ الأَسْوَدِ. عَنْ عَائِشَةَ. قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ شَوْكَةٌ فَمَا فَوْقَهَا. إِلَّا رَفَعَهُ اللَّهُ بِهَا دَرَجَةً. وَحَطَّ عَنْهُ بِهَا خَطِيئَةً". قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ. وَأَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ الْجَرَّاحِ.

وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَسَدِ بْنِ كُرْزٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَزْهَرَ، وَأَبِي مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه دمومن په خپه كي ازغي هم لاړ شي يا ورته ددينه زيات تكليف اورسيږي نو الله تعالي په دي باندي دده درجي لوړوي او په دي باندي دده ګناهونه محوه كوي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دسعد بن ابي وقاص او ابوعبيده بن الجراح او ابوهريره او ابوامامه او ابوسعيد خدري او انس او عبدالله بن عمرو او اسيد بن كرز او جابر بن عبدالله او عبدالرحمن بن ازهر او ابو موسي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : په خپه كي دازغي تلو په وجه سړي ته كومه پريشاني اورسيږي نو دهغي په بدل كي هم دده ګناهونه معاف كيږي.

ددينه معلومه شوه چي كله هم كوم انسان ته څه قسم راحت يا تكليف اورسيږي نو دهغه ذهن فورا الله تعالي ته ورځي چي دا دهغه دطرفه دى او صبر دي اوكړي او كه صبر اونكړي او دصبر په ځاي جزع فزع او دتقدير نه شكايت شروع كړي نو يو خودده دپاره دنياوي تكليف شو ليكن ددي سره سره به دده دپاره په اخرت كي دثواب نه محروميدل هم وي بلكي ددينه علاوه به دى ګنهګار هم وي.

شيخينو د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه يو مرفوع روايت نقل كړى دى.

عن ابنِ مسعودٍ ﷺ، قَالَ: دخلتُ عَلَى النَّبِيِّ ﷺ.....((أَجَلْ، ذلِكَ كَذلِكَ، مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُصيبُهُ أذىً، شَوْكَةٌ فَمَا فَوقَهَا إلاَّ كَفَّرَ اللهُ بهَا سَيِّئَاتِهِ، وَحُطَّتْ عَنْهُ ذُنُوبُهُ كَمَا تَحُطُّ الشَّجَرَةُ وَرَقَهَا)) مُتَّفَقٌ عَلَيهِ.

دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اؤ خبره هم دغسى ده هر يو مسلمان ته چي څه تكليف اورسي دا غزي دماتيدو برابر يا ددينه زيات دهغې بدل كي ورته الله تعالي غلطي معاف كوي او ګناهونه تري داسي څنډلى شي لكه دونو نه چي پاڼي غورځيږي.

په يو بل روايت كي راغلي دي الحمي شهادة (اي الموت فيها) همدا رنګي داسد بن كرز رضي الله عنه نه روايت دى فرمائي چه

---

[1] _ صحيح مسلم في البر والصلة ١٣ (٢٥٧٢). (تحفة الأشراف: ١٩٩٥٣). موطأ امام مالک في العين ٣ (٦). مسند احمد (٦ في ٣٩، ٣٢، ١٦٠، ١٧٣، ١٧٥، ١٨٥، ٢٠٢، ٢١٥، ٢١٥، ٢٥٥، ٢٥٧، ٢٧٨، ٢٧٩) وأخرجه صحيح البخاري في المرضى ١ (٥٦٣٠)

"الحمى تحط الخطايا كما تحط الشجرة ورقها اي تسقط".

****************

٩٦٦_ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ شَيْءٍ يُصِيبُ الْمُؤْمِنَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا حَزَنٍ وَلَا وَصَبٍ حَتَّى الْهَمُّ يَهُمُّهُ إِلَّا يُكَفِّرُ اللَّهُ بِهِ عَنْهُ سَيِّئَاتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ فِي هَذَا الْبَابِ، قَالَ: وَسَمِعْتُ الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ: لَمْ يُسْمَعْ فِي الْهَمِّ أَنَّهُ يَكُونُ كَفَّارَةً إِلَّا فِي هَذَا الْحَدِيثِ، قَالَ: وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

**ترجمه** : دابو سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه مومن ته هر قسم ستړيا، غم، او بيماري تر دي چي فكر مند كيدل هم ورته لاحق شي نو الله تعالي ددي په بدل كي دده گناهونه ختموي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن دي، او بعضي خلقو دا حديث په سند دعطاء بن يسار عن ابوهريره رضي الله عنه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، وكيع وائي ددي حديث نه علاوه په هيڅ يو حديث كي ما "هم" لفظ نه دي اوريدلي چي كني دا هم دګناهونو كفاره جوړيږي.

****************

## ٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي عِيَادَةِ الْمَرِيضِ

### دمريض دعيادت بيان

٩٦٧_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، حَدَّثَنَا خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ الرَّحَبِيِّ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي مُوسَى، وَالْبَرَاءِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ثَوْبَانَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى أَبُو غِفَارٍ، وَعَاصِمٌ الْأَحْوَلُ هَذَا

---

[1] _ صحيح البخاري في المرضى ١ (٥٦٤١، ٥٦٤٢)، صحيح مسلم في البر والصلة ١٤ (٢٥٧٣)، (تحفة الأشراف : ٤١٦٥)، مسند احمد (٣ في ٢، ٢٤، ٣٨)

الْحَدِيثَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الأَشْعَثِ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: مَنْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ أَبِي الأَشْعَثِ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ فَهُوَ أَصَحُّ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَأَحَادِيثُ أَبِي قِلَابَةَ إِنَّمَا هِيَ عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ. إِلَّا هَذَا الْحَدِيثَ فَهُوَ عِنْدِي عَنْ أَبِي الأَشْعَثِ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ.[1]

**ترجمه** : دثوبان رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يو مسلمان چي كله دخپل مسلمان ورور بيمار پرسي كوي نو دي به هميشه دجنت په باغونو كي ګرځيږي.

امام ترمذي وائي دثوبان حديث حسن صحيح دي، او ابوغفار او عاصم احول داحديث په سند د ابي قلابة عن ابي الاشعث عن ابي اسماء عن ثوبان عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او دا زيات صحيح روايت دي، امام بخاري وائي دابو قلابه حديثونه خاص دابو الاسماء نه مروي دي علاوه ددي حديث نه او دا زما په نزد په سند دابوالاشعث عن ابي اسماء مروي دي، او په دي باب كي دعلي، ابوموسي، براء، ابوهريره، انس، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**تشريح** : په دي حديث كي دمريض دعيادت فضيلت بيان شوى دى او هغه داچي مريض دمرض په مشقت كي مبتلا وي او دخدمت اوعلاج محتاج وي كله چي دوستان اورشته دار دده بيمار پرسي اوكړي نو دده زړه خوشحاليږي په دي وجه په دي باندي اجر وركولى شي. بلكي پدي خوشحالئ كي دهغه نه خپل مرض هم هير شي او شريعت مطهره عيادت كونكي هم محروم ندي پريخودلي بلكي فرمايلي يي دي چي ته څو پوري دمريض په خواكي يي نو د الله رحمتونه به درباندي نازليږي.

د بخاري په روايت كي مذكور دي چي رسول الله ديهودي هلك عيادت ته ورغلي وو:
دانس رضي الله عنه نه روايت دى چي يو يهودي هلك به د رسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كولو هغه ناجوړه شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس ته ورغلو دهغه سره سرته كيناستو ورته يى اوفرمائيل مسلمان شه هغه پلار ته وكتل چي ورسره ولاړو پلار ورته اووئيل دابوالقاسم (يعني د رسول الله صلي الله عليه وسلم) خبره ومنه، نو هغه مسلمان شو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي بهر ته اووتلو نو اويى فرمائيل ټول تعريفونه دهغه الله دى چي دى يى داور نه بچ كړو.

---

[1] ـ صحيح مسلم في البر والصلة ١٣ (٢٥٦٨) . (تحفة الأشراف : ٢١٠٥) . مسند احمد (٥ في ٢٧٧ . ٢٨١ . ٢٨١ . ٢٨٣ . ٢٨٣)

أخرجه : البخاري كتاب الجنائز باب اذا اسلم الصبي فمات هل يصلي عليه واحمد وابوداود وابن حبان والبيهقي . والترمذي.

**لغات** : انقذه من النار . نقذ نقذا . معني نجات ورکول.

ددي روايت نه فقهاء استدلال کوي چي ديهودي او غير مسلم په عيادت کي څه حرج نشته ليکن دمجوسيانو په عيادت کي اختلاف دی او همدارنګي دفاسق او فاجر په عيادت کي اختلاف دی مګر راجح داده چي جائز دي همدارنګي امام ابو حنيفه وائي چي ددي روايت په بنياد دنابالغه اسلام معتبر دي.

**ديهودي هلک نوم**

غلام يهودي يخدم: ددي يهودي هلك نوم محدثينو عبد القدوس ليکلي دي ددينه دا استدلال هم کيدی شي چي دکافر نه خدمت اخستل جائز دي.

فعقد عند راسه يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم دده سر ته نزدي کيناستو ددينه معلوميږي چي دعيادت په وخت کي دمريض دسر سره کيناستل مستحب دي، فاسلم يعني هغه هلك مسلمان شو په يو بل روايت کي داسي راځي فقال اشهد ان لااله الله وان محمدالرسول الله يعني دشهادت کلمه يي اووئيله.

الحمدلله الذي انقذه من نار تمام تعريفونه هغه ذات لره دي چاچي دا ماشوم دجهنم داور نه بچ کړو په يو بل روايت کي راځي الحمدلله الذي انقذه من نار جهنم او په يو بل روايت کي داسي دي الحمدلله الذي انقذه بي من نار.

د ابو عبدالله عثمان بن ابي العاص رضي الله عنه نه روايت دی چي هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته د درد شکايت وکړو چي بدن کي يي وو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل په هغه ځايی لاس کيده په کوم ځايی چي درد دی او دری ځله بسم الله اووايه او بيا اوه ځله اووايه (اعوذ بعزة الله وقدرته من شرمااجد واحاذر) دالله دعظيم قدرت او عزت په واسطه ددي درد نه خلاصی غواړم دکوم نه چي زه په تکليف يم.

مسلم كتاب السلام باب استحباب رقية المريض ومالك وابوداود والترمذي وابن ماجه وابن حبان.

وجعا: وجع يوجع وجعا دمريض دردمند کيدل، الوجع: مرض او تکليف، جمع يي وجاع او اوجاع راځي.

علماء وائي مستحب دادي چي په کوم ځاي درد وي هلته لاس راښکلی شي او بيا ورباندي دم واچولی شي او که صرف په دم اکتفا اوکړی شي او لاس رانه ښکلی شي نو هم صحيح ده پورتنئ دعا ډيره مجربه دعا ده ددي روايت نه دا هم معلومه شوه چي يو سړی پخپله هم پخپل ځان دم اچولی شي صرف بل چالره د دم دپاره تلل ضروري نه دي.

## دثوبان رضي الله عنه حالات:

نوم ثوبان كنيه ابو عبدالله چي په يمن كي دمشهور خاندان حمير سره يي تعلق وو ثوبان يو غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كه خوښه دي وي خپل خاندان ته لاړ شه او كه زمونږ سره دي اوسيدل خوښ وي نو اوسيږه ته به داهل بيتو نه شميرلی شي نو په دي بنا ثوبان په اهل بيتو كي شميرلو ته پخپل خاندان ترجيح وركړه.

هميشه به يي درسول الله صلي الله عليه وسلم خدمت كولو او د رسول الله دفرمان سره به يي دخان نه زيات محبت كولو يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هيڅ كله به چاته لاس نه خوروي نو ددينه پس كه به دده نه داس چابك هم اوغورځيدو نو پخپله به وريسي كوځيدو او اوچتولو به يي خو دچانه به يي سوال نه كولو (مسند احمد).

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دخدمت كولو په وجه يي پخپله بهترينه استفاده اوكړه په همدي وجه ابن عبدالبر ليكلي دي چي ثوبان دهغه دري كسانو نه دی چاچي احاديث محفوظ كړي دي او ددي اشاعت يي هم كړی دی (استيعاب) دمرورياتو شمير يي ۱۲۷ دی.(روضة الصالحين).

*****************

۹۶۸ـ حَدَّثَنَا ابْنُ وَزِيرٍ الْوَاسِطِيُّ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ وَزَادَ فِيهِ، قِيلَ: " مَا خُرْفَةُ الْجَنَّةِ، قَالَ: جَنَاهَا ". حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ خَالِدٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ. قَالَ أَبُو عِيسَى ۱۲: وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ.[1]

**ترجمه** : په دي سند سره هم دثوبان رضي الله عنه نه مروي دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كوي البته په دي كي دومره اضافه ده عرض اوكړي شو چي دجنت خرفه څه وي؟ نو ويي فرمائيل دجنت ميوي شوكول، او په يو بل سند سره دابوايوب نه او هغه دابوقلابه نه او ابو قلابه دابواسماء نه او ابو اسماء دثوبان نه او ثوبان دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او دخالد الخزاء دروايت پشان روايت يي بيان كړي دي په دي روايت كي احمد بن عبده دابو الاشعث واسطه نه ده ذكر كړي، امام ترمذي وائي بعضي راويانو داحديث دحماد بن زيد نه نقل كړي دي ليكن مرفوع يي نه دي بيان كړي.

[1] ـ صحيح مسلم في البر والصلة ۱۳ (۲۵۶۸). (تحفة الأشراف: ۲۱۰۵). مسند احمد (۵ في ۲۷۴، ۲۸۱، ۲۸۱، ۲۸۳، ۲۸۳، ۲۸۴)

*****************

٩٦٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ ثُوَيْرٍ هُوَ: ابْنُ أَبِي فَاخِتَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: أَخَذَ عَلِيٌّ بِيَدِي، قَالَ: انْطَلِقْ بِنَا إِلَى الْحَسَنِ نَعُودُهُ، فَوَجَدْنَا عِنْدَهُ أَبَا مُوسَى، فَقَالَ عَلِيٌّ رضي الله عنه: أَعَائِدًا جِئْتَ يَا أَبَا مُوسَى أَمْ زَائِرًا، فَقَالَ: لَا بَلْ عَائِدًا. فَقَالَ عَلِيٌّ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَعُودُ مُسْلِمًا غُدْوَةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُمْسِيَ، وَإِنْ عَادَهُ عَشِيَّةً إِلَّا صَلَّى عَلَيْهِ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ حَتَّى يُصْبِحَ، وَكَانَ لَهُ خَرِيفٌ فِي الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَلِيٍّ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، مِنْهُمْ مَنْ وَقَفَهُ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَأَبُو فَاخِتَةَ: اسْمُهُ سَعِيدُ بْنُ عِلَاقَةَ. [1]

**ترجمه** : دابو فاخته سعيد بن علاقه بيان دي چي علي رضي الله عنه زما لاس اونيولو او وبي فرمائيل زمونږ سره حسن ته لاړ شه مونږ دهغه عيادت كوو نو مونږ دهغه سره ابو موسي اوموندلو علي رضي الله عنه اووئيل اي ابو موسي ايا ته دعيادت دپاره راغلي يې؟ او كه دملاقات دپاره؟ نو هغوئ اووئيل بلكي دعيادت دپاره راغلي يم دي وخت كي علي رضي الله عنه اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي فرمائيل يې هر يو مسلمان چي دبل دمسلمان دسحر په وخت كي عيادت اوكړي نو ترماښام پوري اويا زره فرشتي دهغه دپاره مغفرت غواړي او څوك چي په ماښام كي عيادت اوكړي نو دسحر پوري اويا زره فرشتي دده دپاره استغفار غواړي او دداسي كس دپاره به په جنت كي يو باغ وي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي، دعلي رضي الله عنه داحديث په نورو سندونو هم مروي دي چي په بعضو كي موقوفاً مروي دي او په بعضو كي مرفوعا.

**تشريح** : په دي حديث كي دمريض دعيادت فضيلت بيان شوى دى او هغه داچي مريض دمرض په مشقت كي مبتلا وي او دخدمت اوعلاج محتاج وي كله چي دوستان اورشته دار دده بيمار پرسي اوكړي نو دده زړه خوشحاليږي په دي وجه په دي باندي اجر وركولى شي.

*****************

## ٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ التَّمَنِّي. لِلْمَوْتِ

**دمرګ دتمنا او ارمان كولو دمما نعت بيان**

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٠١٠٨)

٩٧٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى خَبَّابٍ وَقَدِ اكْتَوَى فِي بَطْنِهِ. فَقَالَ: مَا أَعْلَمُ أَحَدًا لَقِيَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْبَلَاءِ مَا لَقِيتُ لَقَدْ كُنْتُ وَمَا أَجِدُ دِرْهَمًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِي نَاحِيَةٍ مِنْ بَيْتِي أَرْبَعُونَ أَلْفًا، وَلَوْلَا أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَانَا أَوْ نَهَى أَنْ نَتَمَنَّى الْمَوْتَ "لَتَمَنَّيْتُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ خَبَّابٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

**ترجمه** : د حارثه بن مضرب بيان دي فرمائي چي زه خباب بن ارت رضي الله عنه ته ورغلم او دهغه په خيټه داور د داغونو نشانات وو هغه اووئيل ماته پته نشته چي په صحابه کرامو کي دومره مصيبت په چا راغلي وي څومره چي په ماراغلي دي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په زمانه کي به زما سره يو درهم هم نه وو مګر په دي وخت کي زما دکور په يوګوټ کي څلويښت زره دراهم پراته دي که چري رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ دمرګ دتمنا کولو نه منع کړي نه وي نو ما به ضرور دمرګ تمنا کړي وي.

امام ترمذي وائي دخباب بن ارت رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دانس، ابوهريره، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي دي.

*****************

٩٧١_ وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَتَمَنَّيَنَّ أَحَدُكُمُ الْمَوْتَ لِضُرٍّ نَزَلَ بِهِ وَلْيَقُلْ: اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِذَلِكَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

---

[1] _ سنن ابن ماجه في الزهد ١٣ (٤١٦٣). (تحفة الأشراف: ٣٥١١). مسند احمد (٥ في ١٠٩، ١١٠، ١١١). والمؤلف فى القيامة ٣٠ (٢٤٨٣) وأخرجه صحيح البخارى في المرضى ١٩ (٥٦٧٢). والدعوات ٣٠ (٦٣٤٩). والرقاق ٧ (٦٤٣٠). والتمنى ٦ (٧٢٣٤). صحيح مسلم في الذكر ٣ (٢٦٨١). سنن النسائي في الجنائز ٢ (١٨٢٣). مسند احمد (٥ في ١٠٩، ١١١، ١١٢)

[2] _ صحيح البخارى في الدعوات ٣٠ (٦٣٥١). صحيح مسلم في الذكر ٣ (٢٦٨٠). سنن النسائي في الجنائز ١ (١٨٢٢). (تحفة الأشراف: ٩٩١) وأخرجه صحيح البخارى في المرضى ١٩ (٥٦٧١). صحيح مسلم في الذكر (المصدر المذكور).

**ترجمه** د انس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي دي هيڅوك دمصيبت په وجه چي په ده نازل شوي وي دمرګ تمنا نه كوي بلكي داسي دي وائي:

اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي " اي الله ما هغه پوري ژوندي اوساته څو پوري چي زندګي زما دپاره بهتر وي او مرګ راته راكړي هغه وخت كي كله چي مرګ زما دپاره بهتر وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

**لغات**: احييني: حيي حياة دسمع نه په معني د ژوندي پاتي كيدو دي او احياء ژوندي كولو ته وايي او په ادغام سره هم راخي اومصدر يي حياة دي په معني دشرمنده كيدو او شرمنده كولو.

توفني: توفي توفيا په معني دپوره كولو اومودي پوره كولو سره دي توفي پـه معنـي دمـرګ وركولـو دي، پس الله تعالي متوفي او بنده متوَفّیٰ دي وفات په معني دمرګ او جمع يي وفيات راخي.

**تشريح**: "لايتمنين احدكم الموت" دمرګ تمني كول په دي وجه منع دي چي دمستقبل علم دهيچا سره نشته چي په راتلونكي وخت كي به څه كيږي او دده په حق كي مرګ بهتر دی او كه ژوند، دويمه خبره داده چي دمرګ تمنا كول په دي وجه منع دي چي دمصيبت په وخت كي دمرګ په تمنا كولو سره بي صبري مونډلی شي او حال دادی چي په شريعت كي په مصيبت دصبر كولو حكم شوی دی او كه څوك دمرګ دعا هم كوي نو په پورتني حديث كي چي كومه دعا راغلي ده هغه دي اوغواړي يعني ای پروردګاره كه زما دپاره مرګ بهتر وي نو مرګ راكړي او كه ژوندي پاتي كيدل بهتر وي نو زندګي مي اوږده كړي.

****************

## ٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّعَوُّذِ لِلْمَرِيضِ

### په مريض باندي ددم اچولو بيان

٩٧٢_ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ هِلَالٍ الْبَصْرِيُّ الصَّوَّافُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، "أَنَّ جِبْرِيلَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا مُحَمَّدُ

---

سنن ابي داود في الجنائز ١٣ (٣١٠٨). سنن النسائي في الجنائز (١٨٢١). سنن ابن ماجه في الزهد ٣١ (٤٢٦٥). مسند احمد (١ في ١٠٣، ١٦٣، ١٧١، ١٩٥، ٢٠٨، ٢٤٧)

اشْتَكَيْتَ. قَالَ: نَعَمْ. قَالَ: بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ. مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ وَعَيْنٍ حَاسِدٍ. بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ وَاللَّهُ يَشْفِيكَ ".(1)

**ترجمه** دابو سعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي جبرائيل نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته راغلو او تپوس يي اوكړو اي محمد ايا ته بيمار يې؟ ويې فرمائيل هو. جبرائيل عليه السلام اووئيل.

بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ. مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ وَعَيْنٍ حَاسِدٍ. بِاسْمِ اللَّهِ أَرْقِيكَ وَاللَّهُ يَشْفِيكَ "

*****************

٩٧٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ. قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا وَثَابِتٌ الْبُنَانِيُّ عَلَى أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. فَقَالَ ثَابِتٌ: يَا أَبَا حَمْزَةَ اشْتَكَيْتُ ؟ فَقَالَ أَنَسٌ: أَفَلَا أَرْقِيكَ بِرُقْيَةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ؟ قَالَ: بَلَى. قَالَ: " اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ، اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ. شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَسَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ. فَقُلْتُ لَهُ: رِوَايَةُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ أَصَحُّ، أَوْ حَدِيثُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَنَسٍ. قَالَ: كِلَاهُمَا صَحِيحٌ. وَرَوَى عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَبِي نَضْرَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسٍ. (2)

**ترجمه** دعبدالعزيز بن سهيل بيان دي فرمائي چي زه او ثابت بناني دواړه انس بن مالك رضي الله عنه ته ورغلو ثابت اووئيل اي ابو حمزه زه بيمار شوي يم. انس رضي الله عنه اووئيل ايا تا باندي درسول الله صلي الله عليه وسلم دم وانه چوم؟ هغه اووئيل ولي نه نو انس رضي الله عنه اوفرمائيل

" اللَّهُمَّ رَبَّ النَّاسِ مُذْهِبَ الْبَاسِ. اشْفِ أَنْتَ الشَّافِي لَا شَافِيَ إِلَّا أَنْتَ. شِفَاءً لَا يُغَادِرُ سَقَمًا "

---

1 ـ صحيح مسلم في السلام ١٦ (٢١٨٦). سنن ابن ماجه في الطب ٣٦ (٣٥٢٣). (تحفة الأشراف: ٤٣٦٣). مسند احمد (٣ في ٢٨، ٥٦)

2 ـ صحيح البخاري في الطب ٣٨ (٥٧٤٢). سنن ابي داود في الطب ١٩ (٣٨٩٠). (تحفة الأشراف: ١٠٣٤). مسند احمد (٣ في ١٥١)

يعني اي الله دمخلوقاتو ربه اوډ دمصيبتونو ختمونكيه شفا راكړي او خاص ته شفا وركولو والا يي او ستا نه علاوه بل څوك شفا وركونكي نشته او داسي شفا راكړي چي هيڅ قسم بيماري مي باقي پاتي نشي.

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حديث حسن صحيح دي، ما دابوذرعه نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړو چي دعبدالعزيز بن صهيب روايت په سند د ابي نضرة عن ابي سعيد الخدري زيات صحيح دي او كه دعبدالعزيز روايت دانس نه؟ هغه اووئيل دواړه صحيح دي، عبدالصمد بن عبدالوارث په سند د عبدالوارث عن ابيه عن عبدالعزيز بن صهيب عن ابي. نضره عن ابي سعيد سره نقل كړي دي او عبدالعزيز بن صهيب دانس نه هم نقل كړي دي، او په دي باب كي دانس او عائشه رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي.

****************

## ٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْحَثِّ عَلَى الْوَصِيَّةِ

### دوصيت داهميت بيان

٩٧٤_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ وَلَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو مسلمان چي دوه شپي په داسي حال كي تيري شي چي دده سره دوصيت كولو لائق كوم څيز موجود وي نو په ده باندي لازم دي چي دده سره ددي ليكلي وصيت پروت وي.

امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن ابي اوفي رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

---

[1] _ صحيح مسلم في الوصايا ١ (١٦٢٧)، سنن ابن ماجه في الوصايا ٢ (٢٦٩٩)، (تحفة الأشراف: ٤٩٢٢) مسند احمد (٢ في ٥٦، ٨٠)، (ويأتي عند المؤلف في الوصايا ٣ (٢١١٨)، وأخرجه صحيح البخاري في الوصايا ١ (٢٧٣٨)، صحيح مسلم في الوصايا، سنن النسائي في الوصايا ١ (٣٦٤٥، ٣٦٤٦، ٣٦٤٨)، موطا امام مالك في الوصايا ١ (١)، مسند احمد (٢ في ٣، ١٠، ٣٤، ٥٠، ١١٣)، سنن الدارمي في الوصايا ١ (٣٢٣٩)

**تشريح** : وَقَالَ تَعَالَى : ﴿ وَالْعَصْرِ إِنَّ الإِنْسَانَ لَفِي خُسْرٍ إِلاَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴾ [العصر : ٢١]

[قسم دي په زمانه چي جنس انسان په تاوان كي دي مگر هغه كسان چي مومنان دي او نيك عملونه كوي او وصيت كوي په حق [او تلقين يي كړي دي يوبل ته دصبر كولو]

دحسن بصري په نزد دعصر نه مراد دزوال نه دنمر پريوتو پوري وخت مراد دى او دقتاده په نزد دورځي اخري حصه مراد ده او دمقاتل په نزد دمازيگر مونځ مراد دى او دعامومفسرينو په نزد زمانه مراد ده.

ان الانسان لفي خسر ، دخسر معني اصل گټه ضايع كيدل دي كه انسان خپله زندگي داخرت په اعمالو كي خرچ نكړي نو دده اصل سرمايه عمر دى هغه به ضايع شي ددي تاوان نه دبچ كيدو صرف يوه لار ده چي په انسان كي دي څلور صفات وي اول ايمان، دويم اعمال صالحه كول، دريم او نورو ته هم په دي باندي وصيت كول ، څلورم په هر تكليف دصبر تاكيد كول

تواصي بالحق، تواصي دوصيت نه ماخوذ دى وصيت ديته وئيلى شي چي څوك چاته په مؤكد او موسر انداز كي نصيحت اوكړي همدا وجه ده چي مړ كيدونكى دمرگ په وخت كي څه وائي هغي ته هم وصيت وئيلى شي دمخكنو دوه اجزاؤ تعلق دخپل ذات سره دى او داخري دوه اجزاؤ تعلق دعامو مسلمانانو دهدايت سره دى.

تواصي بالصبر، دصبر معني خپل نفس منع كول دي نو دتمامو اعمالو صالحه پخپله هم پابندي كول او دگناهونو نه بچ كيدل هم په دي كي شامل دي.

*****************

## ٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْوَصِيَّةِ بِالثُّلُثِ وَالرُّبُعِ

### په دريمه يا څلورمه حصه دمال كي دوصيت كولو بيان

٩٧٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا جَرِيرٌ. عَنْ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ. عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ السُّلَمِيِّ. عَنْ سَعْدِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: عَادَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا مَرِيضٌ. فَقَالَ: "أَوْصَيْتَ". قُلْتُ: نَعَمْ. قَالَ: "بِكَمْ". قُلْتُ: بِمَالِي كُلِّهِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ. قَالَ: "فَمَا تَرَكْتَ لِوَلَدِكَ ؟" قُلْتُ: هُمْ أَغْنِيَاءُ بِخَيْرٍ. قَالَ: "أَوْصِ بِالْعُشْرِ". فَمَا زِلْتُ أُنَاقِصُهُ حَتَّى قَالَ: "أَوْصِ بِالثُّلُثِ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ". قَالَ أَبُو عَبْدِ الرَّحْمَنِ: وَنَحْنُ نَسْتَحِبُّ أَنْ يَنْقُصَ مِنَ الثُّلُثِ لِقَوْلِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالثُّلُثُ كَثِيرٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَعْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ: "وَالثُّلُثُ كَبِيرٌ". وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ

الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ أَنْ يُوصِيَ الرَّجُلُ بِأَكْثَرَ مِنَ الثُّلُثِ. وَيَسْتَحِبُّونَ أَنْ يَنْقُصَ مِنَ الثُّلُثِ. قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: كَانُوا يَسْتَحِبُّونَ فِي الْوَصِيَّةِ الْخُمُسَ دُونَ الرُّبُعِ. وَالرُّبُعَ دُونَ الثُّلُثِ. وَمَنْ أَوْصَى بِالثُّلُثِ فَلَمْ يَتْرُكْ شَيْئًا وَلَا يَجُوزُ لَهُ إِلَّا الثُّلُثُ. [1]

**ترجمه** : دسعد بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما عيادت اوكړو او زه بيمار وم نو تپوس يي رانه اوكړو ايا وصيت دي كړي دي، ما عرض اوكړو هو كړي مي دي راته يي اوفرمائيل په څومره كي دي وصيت كړي دي ما اووئيل دالله په لار كي مي دخپل ټول مال باره كي وصيت كړي دي نو تپوس يي اوكړو خپل اولاد ته دي څه پريخودلي دي؟ما عرض اوكړو هغوئ دمال نه بي پرواه دي راته يي اوفرمائيل دلسمي حصي وصيت اوكړه، ما به مسلسل ورباندي دا زياتوله تردي چي ويي فرمائيل د دريمي حصي وصيت اوكړه او دريمه حصه هم زياته ده، ابو عبدالرحمن نسائي وائي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم ددي فرمان په وجه "چي ثلث هم زيات دي دا مستحب ګڼړو چي دثلث نه په كم كي دي وصيت اوكړي شي.

امام ترمذي وائي دسعد رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او دسعد دا حديث په نورو سندونو هم مروي دي او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم حديث مروي دي. او دابن عباس نه د "والثلث كثير" په ځاي باندي "والثلث كبير" يعني ثلث هم لوي مقدار دي مروي دي، او داهل علمو په همدي باندي عمل دي هغوئ دا خبره صحيح ګڼړي چي يو كس پخپل مال كي دثلث نه زيات وصيت اوكړي او دا مستحب ګڼړي چي دثلث نه په كم وصيت اوكړي. دسفيان ثوري قول دي علماء دڅلورمي حصي په مقابل كي پنځمه حصه او د دريمي په مقابل كي څلورمه حصه مستحب ګڼړي او وئيل به يي چي ما دثلث وصيت اوكړو او هغه هيڅ پرينخودو مګر دده دپاره دثلث نه دزيات وصيت كول جائز ګڼړي.

**تشريح** : "فالثلث يا رسول الله قال الثلث كثير" يعني اى دالله رسوله دمال د دريمي حصي

---

[1] ـ سنن النسائي في الوصايا ٣ (٣٦٦١) . (تحفة الأشراف : ٣٨٩٨) وأخرجه صحيح البخارى في الجنائز ٣٦ (١٢٩٥) . والوصايا ٢ (٢٧٤٢) . ومناقب الأنصار ٤٩ (٣٩٣٦) . والمغازي ٧٧ (٤٣٩٥) . والنفقات ١ (٥٣٥٤) . المرضى ١٣ (٥٦٥٩) . والدعوات ٤٣ (٦٣٧٣) . والفرائض ٦ (٦٧٣٣) . صحيح مسلم في الوصايا ٢ (١٦٢٨) . سنن ابي داود في الوصايا ٢ (٢٨٦٤) . سنن النسائي في الوصايا ٣ (٣٦٥٦، ٣٦٦٠، ٣٦٦١، ٣٦٦٢، ٣٦٦٥) . سنن ابن ماجه في الوصايا ٥ (٢٧٠٨) . موطا امام مالك في الوصايا ٢ (٤) . مسند احمد (١ في ١٦٨، ١٧٣، ١٧٦، ١٧٩) . سنن الدارمى في الوصايا ٧ (٣٢٣٨، ٣٢٣٩) والمؤلف في الوصايا ١ (٢١١٦)

وصیت به اوکړم ورته یي اوفرمائیل هو، د دریمي حصي وصیت کولی شي، ددي حدیث نه علماؤ استدلال کړی دی چي دمرګ په وخت کي یوسړی پخپل مال کي د دریمي حصي نه اضافي وصیت نشي کولی علماؤ لیکلي دي که چري دا مریض چي د دریمي حصي نه یي دزیات وصیت کړی وي او په دي مرض کي مړ شي نو په دي صورت کي به دوارثانو حق تلفي کړي وي اوکه ژوندی پاتي شو نو بیابه دي خالي لاس پاتي شي او په قران کریم کي ددینه منع راغلي ده لکه چي الله تعالی فرمائیلي دي:

"ولا تبسطها كل البسط فتقعد ملوما محسورا" یعني لاسونه به بالکل نه پراخوي هسي نه چي قابل دملامتیا او محتاج پاتي شي.

*****************

## ٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِي تَلْقِينِ الْمَرِيضِ عِنْدَ الْمَوْتِ وَالدُّعَاءِ لَهُ عِنْدَهُ

**دزنکدن په وخت کي مریض ته دلااله الا الله تلقین کول او دده په حق کي ددعا غوښتلو بیان**

٩٧٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ غَزِيَّةَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عُمَارَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَقِّنُوا مَوْتَاكُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَعَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَسُعْدَى الْمُرِّيَّةِ وَهِيَ: امْرَأَةُ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه**: دابوسعیدخدري رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي تاسو خپل مړه کیدونکو مریضانو ته کوم چي بالکل مرګ ته نژدي شوي وي دلااله الاالله تلقین کوئ.

امام ترمذي وائي دابوسعید خدري حدیث حسن غریب صحیح دي او په دي باب کي د ابوهریره، ام سلمه، عائشه، جابر، سعدي مریه رضي الله عنهم نه هم احادیث مروي دي او سعدي مریه دطلحه بن عبیدالله ښځه ده.

**لغات**: لقّنوا: لقّن یلقّن تلقینا معني بالمشافه پوهول.

**تشریح**: په دي روایت کي دمړو نه مراد قریب الموت کسان دي چي دمرګ علامات ورباندي ظاهر

---

[1] ـ صحیح مسلم في الجنائز ١ (٩١٦)، سنن ابي داود في الجنائز ٢٠ (٣١١٧)، سنن النسائي في الجنائز ٢٠ (٣١١٧)، سنن النسائي في الجنائز ٤ (١٨٢٧)، سنن ابن ماجه في الجنائز ٣ (١٤٤٥)، (تحفة الأشراف: ٤٤٠٣)، مسند احمد (٣ في ٣)

شوي دي، دمرګ يوه علامه داده چي دمريض خپي سستي شي او كه څوك يي ودروي نو اودريدى نشي يا دا چي دپوزي هډوكى يي كوږ شي او خيته يي كيني دتلقين نه مطلب دادى چي دمړكيدونكي سره به كيني او لااله الاالله به وائي ددي دپاره چي هغه يي واوري علماء وائي په دي وخت كي هغه ته داسي وئيل نه دي پكار چي ته هم اووايه كيدى شي چي دمرض دسختوالي په وجه دهغه دخولي نه دانكار لفظ اوځي

## پدي کي يوغلط رسم

مولانا اشرف علي وايي دتلقين مطلب دادي چي د مړي سره كيني او لااله الاالله وايي تردي چي هغه يي واوري او ويي وايي او ساه پكي نه اخلي مسلسل يي وايي دا سراسر دجهالت كار دي الله دي مونږ ورنه بچ كړي

علامات ذ مرګ دا دي.

(۱) چي د قريب المرګ دواړه قدمونه سستيږي.

(۲) اودريدى نه شي.

(۳) پوزه ككيږي.

(۴) اود اګو(خصتينو) څرمن ئي اوږده شي.

دمحتضر په ايخودو كښ دوه اقوال دي:

(۱)چي دى په ښى اړخ قبلې طرف ته څملولى شى.ځكه چي د مړى په قبر كي د ايخودو هم دا كيفيت مسنون دې.نوپه دى قياس كولو سره به قريب المرګ هم په دى كيفيت څملولى شى.ځكه چي دا كس قبر ته نزدى رسيدلى دې.

(۲) صاحب دهدايه رحمه الله وائى.چي زمونږ په علاقو ماوراء النهر وغيره كي په ستونى ستق څملول غوره ګڼړ لى شى.ځكه چي دا كيفيت د روح وتلو دپاره ډير آسان دې.

په دى صورت كي دمړى د سر لاندې تكيه وغيره څه اوچت څيز ايخودل پكار دى.چي دده مخ قبلې طرف ته وى . آسمان طرف ته نه وى.خو په دى كيفيت كي هيڅ نص نشته.صرف اټكلى خبره ده.نوځكه دى ته هيڅ اعتبار نشته .

دويم عمل دادې.چي قريب الموت ته د شهادتينو تلقين اوكړى.يعنى ده سره كينى.اوپه اوچت آواز "أشهد أن لا اله إلا الله و أشهد أن محمد رسول الله"

اووائى.قريب الموت ته ددى كلمى وئيلو حكم نه كوى.ځكه چي په ده ډيرد سختئ وخت وى.نعوذ بالله كه ده انكار اوكړو .نو خاتمه به ئې په كفر شى.

*****************

٩٧٧ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا حَضَرْتُمُ الْمَرِيضَ أَوِ الْمَيِّتَ فَقُولُوا خَيْرًا، فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ ". قَالَتْ: فَلَمَّا مَاتَ أَبُو سَلَمَةَ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ أَبَا سَلَمَةَ مَاتَ، قَالَ: " فَقُولِي: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَلَهُ، وَأَعْقِبْنِي مِنْهُ عُقْبَى حَسَنَةً ". قَالَتْ: فَقُلْتُ: فَأَعْقَبَنِي اللَّهُ مِنْهُ مَنْ هُوَ خَيْرٌ مِنْهُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: شَقِيقٌ هُوَ: ابْنُ سَلَمَةَ أَبُو وَائِلٍ الأَسَدِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ سَلَمَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَانَ يُسْتَحَبُّ أَنْ يُلَقَّنَ الْمَرِيضُ عِنْدَ الْمَوْتِ، قَوْلَ: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا قَالَ ذَلِكَ مَرَّةً فَمَا لَمْ يَتَكَلَّمْ بَعْدَ ذَلِكَ، فَلَا يَنْبَغِي أَنْ يُلَقَّنَ وَلَا يُكْثَرَ عَلَيْهِ فِي هَذَا، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ أَنَّهُ لَمَّا حَضَرَتْهُ الْوَفَاةُ، جَعَلَ رَجُلٌ يُلَقِّنُهُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَكْثَرَ عَلَيْهِ، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللَّهِ: إِذَا قُلْتُ مَرَّةً فَأَنَا عَلَى ذَلِكَ مَا لَمْ أَتَكَلَّمْ بِكَلَامٍ، وَإِنَّمَا مَعْنَى قَوْلِ عَبْدِ اللَّهِ: إِنَّمَا أَرَادَ مَا رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ آخِرُ قَوْلِهِ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ دَخَلَ الْجَنَّةَ. ([1])

**ترجمه** : دام المؤمنين ام سلمه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي تاسو يو مريض يا يو مړي ته ورشئ نو دنيکئ خبري کوئ دا ځکه تاسو چي څه وائي په هغي باندي فرشتي امين وائي، کله چي ابوسلمه وفات شو نو زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوم او عرض مي اوکړو اي دالله رسوله ابوسلمه خو وفات شوه رسول الله اوفرمائيل ته دا دعا وايه "اللهم اغفرلي وله واعقبني منه عقبي حسنة" يعني اي الله ماته او هغه ته مغفرت اوکړي او ماته دده بدله راکړي دام سلمه بيان دي کله چي ما دا دعا اولوستله نو الله تعالي ماته داسي هستي راکړه کوم چي دابوسلمه نه بهتروو يعني رسول الله صلي الله عليه وسلم.

امام ترمذي وائي دام سلمه حديث حسن صحيح دي، دا به مستحب ګڼرلي کيدل چي مريض ته دمرګ په وخت کي دلااله الاالله تلقين اوکړي شي،دبعضي اهل علمو قول دي کله چي مړي دي لره يو ځل اووائي او ددينه پس يي اونه وائي نو مناسب نه ده چي دهغه په وړاندي بار بار دا

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٣ (٩١٩)، سنن ابي داود في الجنائز ١٩ (٣١١٥)، سنن النسائي في الجنائز ٧ (١٨٢٦)، سنن ابن ماجه في الجنائز ٣ (١٤٤٧)، (تحفة الأشراف: ١٨١٦٢)، مسند احمد (٦ في ٢٩١، ٣٠٦) وأخرجه سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٥ (١٥٩٨)، موطا امام مالک في الجنائز ١٣ (٤٢)

كلمه تكرار كړي شي . دابن مبارك نه په دي باره كي مروي دي كله چي دهغه دمرګ وخت راغي نو يو كس ورته د لااله الاالله تلقين شروع كړو او بار بار يي كولو عبدالله بن مبارك ورته اووئيل كله چي دي يو ځل اووئيل نو زه اوس په همدي باندي قائم يم چي څو پوري مي نوري خبري نه وي كړي دعبدالله ددي قول مطلب دادي ددينه دهغه دا مطلب وو كوم چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي دچا اخري خبره "لااله الاالله " وي نو هغه به جنت ته داخليږي

**تشريح** : كله چي دام سلمه خاوند ابو سلمه وفات شو نورسول الله صلي الله عليه وسلم ام سلمه ته ددي دعا وئيلو تلقين اوكړو "اللهم اغفرلي وله واعقبني منه عقبي حسنة" يعني اى الله ماته دده نه بهتر بدل راكړي معلومه شوه چي دمړي وارثانو لره پكار دي چي هغوئ دي دده كمي دكولو دپاره دعا اوغواړي دام سلمه بيان دى فرمائي چي ما به سوچ كولو چي لا دابو سلمه نه زيات ښه خاوند به ماته څنګ ملاؤ شي ليكن كله چي مي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره نكاح اوكړه نو ماته هله ددي دعا اثر معلوم شو.

دام سلمه رضي الله عنها حالات دحديث ۸۲ په ضمن كي تير شوي دي.

كله چي كوم بنده ته كوم مصيبت اورسيږي نو ذكر شوي دعا دي اولولي يعني څه چي زمونږ سره دي سره زمونږه ټول دالله ملكيت دى او هم هغه پيداكړي يو او هم هغه ته به واپس ورځو اګر چي ددي څيز نسبت مونږ ته كيږي ليكن په حقيقت كي دالله ملكيت دى پس دچا په زړه كي چي دا خبره وي او په هر مصيبت كي مبتلا شي نو دى به دالله لمن پري نږدي او هر مصيبت به ورته اسان شي.

****************

## ۸_ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّشْدِيدِ عِنْدَ الْمَوْتِ

### دمرګ په وخت كي دسختئ بيان

۹۷۸_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ الْهَادِ، عَنْ مُوسَى بْنِ سَرْجِسَ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: رَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ بِالْمَوْتِ وَعِنْدَهُ قَدَحٌ فِيهِ

مَاءٌ، وَهُوَ يُدْخِلُ يَدَهُ فِي الْقَدَحِ ثُمَّ يَمْسَحُ وَجْهَهُ بِالْمَاءِ، ثُمَّ يَقُولُ: "اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ، وسَكَرَاتِ الْمَوْتِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. (1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها. بيان دي ما رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات كيدو وخت كي ليدلي وو او دهغه سره يوه پياله وه چي اوبه پكي پرتي وي هغه به پيالي ته خپل لاس دننه كولو او په مخ به يي راښكلو او دا دعا به يي وئيله "اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى غَمَرَاتِ الْمَوْتِ، وسَكَرَاتِ الْمَوْتِ" يعني اي الله دمرگ په سختئ او تكليفونو كي زما مدد اوكړي، امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي.

**لغات** : اعقبني : اعقاب چالره جانشين مقررول ، يا خه بدله وركول ، العقوبة: العقبني كار بدله يا دهرڅيز اخر، اخرت

**تشريح** : په اخري ورځو كي رسول الله صلي الله عليه وسلم په سخته تبه كي مبتلا وو ددي تبي دحرارت كمولو دپاره به رسول الله باربار خپل لاس په اوبو لمدولو او پخپل مخ به يي راښكلو او ورسره به يي دا دعا غوښتله چي اى الله دمرگ سختي راباندي اسانه كړي.

دپورتني حديث نه معلومه شوه چي انسان ته په اخري وخت كي پكار دي چي دالله تعالي دمدد طلب اوكړي.

## ديوسوال جواب

سوال: رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي دوفات كيدو په وخت كي دومره تكليف ولي وو

جواب: دسكرات الموت په وخت كي په رسول الله دا كيفيت ځكه طاري شوى وو چي دامت خلق ددي په سبب دخپل مرگ په باره كي زيات پريشان نشي مطلب دادى چي كله خلقو ته معلومه شوه چي په سكرات الموت كي درسول الله دا كيفيت وو نو باقي خلق خو به پخپله دمرگ په پريشانئ باندي صبر كوي او چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم پريشاني واوري نو دوئ ته به خپله پريشاني اسانه ښكاره شي.

*****************

1 ـ صحيح مسلم في الجنائز ٣ (٩١٩) . سنن ابي داود في الجنائز ١٩ (٣١١٥) . سنن النسائي في الجنائز ٧ (١٨٣٦) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٣ (١٤٤٧) . (تحفة الأشراف : ١٨١٦٢) . مسند احمد (٦ في ٢٩١، ٣٠٦) وأخرجه سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٥ (١٥٩٨) . موطا امام مالک في الجنائز ١٤ (٤٢)

٩٧٩_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ الصَّبَّاحِ الْبَزَّارُ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا مُبَشِّرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْحَلَبِيُّ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْعَلَاءِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: مَا أَغْبِطُ أَحَدًا بِهَوْنِ مَوْتٍ بَعْدَ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ شِدَّةِ مَوْتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: سَأَلْتُ أَبَا زُرْعَةَ عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ. وَقُلْتُ لَهُ: مَنْ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْعَلَاءِ؟ فَقَالَ: هُوَ الْعَلَاءُ بْنُ اللَّجْلَاجِ. وَإِنَّمَا عَرَفَهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (١)

**ترجمه**: دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي درسول الله صلي الله عليه وسلم دمرگ کوم شدت چي ما ليدلي دي دهغي نه پس ما په اسانئ سره دچا دروح په وتلو غبطه نه کولو.

امام ترمذي وائي ما دابوذرعه نه ددي حديث باره کي تپوس اوکړو چي عبدالرحمن بن علاء څوک دي هغوئ اووئيل علاء بن اللجلاج دي او ماته دا حديث په همدي سند معلوم دي

*****************

٩٨٠_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ الْحَسَنِ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُسْلِمُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ: حَدَّثَنَا حُسَامُ بْنُ الْمِصَكِّ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو مَعْشَرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "إِنَّ نَفْسَ الْمُؤْمِنِ تَخْرُجُ رَشْحًا، وَلَا أُحِبُّ مَوْتًا كَمَوْتِ الْحِمَارِ". قِيلَ: وَمَا مَوْتُ الْحِمَارِ؟ قَالَ: "مَوْتُ الْفَجْأَةِ". (٢)

**ترجمه**: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي دمؤمن روح په مزه مزه لږ لږ وځي لکه چي دچا دجسم نه خوله ځنګه اوځي او ماته دخر پشان مرګ خوښ نه دي، عرض اوکړي شو دخر مرګ څنګه وي وبي فرمائيل ناڅاپي وي.

*****************

## ٩_ باب

### دسابقه باب متعلق يوبل باب

[1] _ : سنن ابن ماجه في الجنائز ٦٣ (١٦٢٣). (تحفة الأشراف: ١٦٥٥٦)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٣)

٩٨١_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ، حَدَّثَنَا مُبَشِّرُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الْحَلَبِيُّ، عَنْ تَمَّامِ بْنِ نَجِيحٍ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ حَافِظَيْنِ رَفَعَا إِلَى اللَّهِ مَا حَفِظَا مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ فَيَجِدُ اللَّهُ فِي أَوَّلِ الصَّحِيفَةِ وَفِي آخِرِ الصَّحِيفَةِ خَيْرًا إِلَّا قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: أُشْهِدُكُمْ أَنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِعَبْدِي مَا بَيْنَ طَرَفَيِ الصَّحِيفَةِ".[1]

**ترجمه**: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر كله چي داعمالو دوه ليكونكي فرشتي د ورځي او دشپي دڅا كوم عمل ليكي نو الله تعالي ته يې وړي، نو بيامومي الله تعالي په اول ددي صحيفه كي او په اخر ددي صحيفه كي خير لره نو الله تعالي اووائي زه تاسو ګواه كوم چي ما خپل بنده ته مغفرت اوكړو په مينځ دهغه څه كي چي په دواړو طرفونو ددي صحيفه كي دي.

****************

## ١٠_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْمُؤْمِنَ يَمُوتُ بِعَرَقِ الْجَبِينِ

## دمرګ په وخت كي دمومن په تندي باندي خوله راځي

٩٨٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنِ الْمُثَنَّى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُؤْمِنُ يَمُوتُ بِعَرَقِ الْجَبِينِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا نَعْرِفُ لِقَتَادَةَ سَمَاعًا مِنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ.[2]

**ترجمه**: دعبدالله بن بريده رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مومن دتندي دخولي سره وفات كيږي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او په دي باب كي دابن مسعود رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي دبعضي اهل علمو قول دي چي مونږ ته دقتاده نه دعبدالله بن بريده دسماع باره كي علم نشته.

****************

[1] _ تفرد به المؤلف (التحفه: ٥٢٣)

[2] _ سنن النسائي في الجنائز ٥ (١٨٢٩) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٥ (١٤٥٢) . مسند أحمد (٥ في ٣٥٠، ٣٥٧، ٣٦٠) . (تحفة الأشراف: ١٩٩٢)

## ١١_ باب

### دمومن دمرګ متعلق يو بل باب

٩٨٣_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ الْكُوفِيُّ، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْبَزَّازُ الْبَغْدَادِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا سَيَّارٌ هُوَ: ابْنُ حَاتِمٍ، حَدَّثَنَا جَعْفَرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ عَلَى شَابٍّ وَهُوَ فِي الْمَوْتِ، فَقَالَ: "كَيْفَ تَجِدُكَ"، قَالَ: وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَنِّي أَرْجُو اللَّهَ، وَإِنِّي أَخَافُ ذُنُوبِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ فِي مِثْلِ هَذَا الْمَوْطِنِ إِلَّا أَعْطَاهُ اللَّهُ مَا يَرْجُو وَآمَنَهُ مِمَّا يَخَافُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. ([1])

**ترجمه**: دانس رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم يو نوجوان ته ورغلو او هغه دمرګ په سختئ كي راګير وو ورته يي اوفرمائيل دخان باره كي څنګه محسوسوي؟ هغه عرض اوكړو په الله مي دي قسم وي اي دالله رسوله زه دالله نه اميد هم لرم او دخپلو ګناهونو نه ويريږم هم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا دواړه څيزونه ددي وخت پشان وخت كي چي دكوم بنده په زړه كي جمع شي نو الله تعالي ورته هغه څيز وركوي دكوم چي ورنه دي اميد لري او دهغه څيز نه يي محفوظ ساتي دكوم نه چي دي ويريږي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي، او بعضي راويانو داحديث دثابت نه او ثابت دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مرسل نقل كړي دي.

****************

## ١٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ النَّعْيِ

### دمرګ دخبر وركول دكراهت بيان

٩٨٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حُمَيْدٍ الرَّازِيُّ، حَدَّثَنَا حَكَّامُ بْنُ سَلْمٍ، وَهَارُونُ بْنُ الْمُغِيرَةِ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِيَّاكُمْ وَالنَّعْيَ فَإِنَّ النَّعْيَ مِنْ عَمَلِ الْجَاهِلِيَّةِ". قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: وَالنَّعْيُ أَذَانٌ بِالْمَيِّتِ. وَفِي الْبَابِ، عَنْ حُذَيْفَةَ. ([2])

---

[1] _ سنن النسائي في عمل اليوم والليلة ٣٠٨ (١٠٦٣)، سنن ابن ماجه في الزهد ٣١ (٤٢٦١) (تحفة الأشراف: ٢٦٢)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٤٦١)

**ترجمه** دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دنعي (دمرگ خبر وركولو) نه منع شئ خكه چي دا دجاهليت كار دي عبدالله بن مسعود وائي دنعي مطلب دمړي دمرگ اعلان كول دي.
امام ترمذي وائي په دي باب كي دحذيفه رضي الله عنه نه هم روايث مروي دي.

****************

٩٨٥ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْوَلِيدِ الْعَدَنِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ وَالنَّعْيُ أَذَانٌ بِالْمَيِّتِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، وَأَبُو حَمْزَةَ هُوَ: مَيْمُونٌ الْأَعْوَرُ وَلَيْسَ هُوَ بِالْقَوِيِّ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، قَالَ ١٢ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ النَّعْيَ، وَالنَّعْيُ عِنْدَهُمْ أَنْ يُنَادَى فِي النَّاسِ أَنَّ فُلَانًا مَاتَ لِيَشْهَدُوا جَنَازَتَهُ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا بَأْسَ أَنْ يُعْلِمَ أَهْلَ قَرَابَتِهِ وَإِخْوَانَهُ، وَرُوِيَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ، أَنَّهُ قَالَ: لَا بَأْسَ بِأَنْ يُعْلِمَ الرَّجُلُ قَرَابَتَهُ.[1]

**ترجمه** په دي سند سره هم دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه دسابقه روايت هم معني حديث مروي دي او راوي مرفوع نه دي ذكر كړي او په دي روايت كي ددي خبري ذكر هم نشته چي نعي دمرگ داعلان كولو نوم دي.
امام ترمذي واي دعبدالله بن مسعود حديث حسن غريب دي او دا دعنبسه دحديث نه كوم چي هغه دابوحمره نه نقل كړي دي زيات صحيح دي، او دابو حمزه نه مراد ميمون اعور دي او ميمون دمحدثينو په نزد قوي نه دي، بعضي اهل علمو نعي مكروه گرخولي ده او ددوئ په نزد نعي ديته وائي چي په خلقو كي اعلان اوكړي شي چي فلاني مړ شو ترڈي چي دده په جنازه كي شريك شي، دبعضي اهل علمو قول دي په دي كي هيڅ حرج نشته چي دده رشته دارو او دده رونړو ته دده دمرگ خبر وركړي شي، ابراهيم نخعي وائي په دي كي هيڅ حرج نشته چي يو سړي ته دده درشته دار دمرگ خبر وركړي شي.

****************

٩٨٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْقُدُّوسِ بْنُ بَكْرِ بْنِ خُنَيْسٍ، حَدَّثَنَا حَبِيبُ بْنُ سُلَيْمٍ الْعَبْسِيُّ، عَنْ بِلَالِ بْنِ يَحْيَى الْعَبْسِيِّ، عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ، قَالَ: إِذَا مِتُّ فَلَا تُؤْذِنُوا بِي إِنِّي أَخَافُ

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٦١)

أَنْ يَكُونَ نَعْيًا ، فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " يَنْهَى عَنِ النَّعْيِ ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** دحذيفه بن اليمان رضي الله عنه نه روايت دي فرمائيل به يي كله چي زه مړ كيږم زما دمرګ اعلان به نه كوئ ، ځكه چي ما سره ويره ده چي چرته دا خبره نعي نه وي ځكه چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دنعي ممانعت اوريدلي دي امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

**دراوي حذيفه بن يمان رضي الله عنه حالات:**

نوم حذيفه كنيه ابو عبدالله صاحب السر لقب دقبيله بني عطفان سره يي تعلق وو دده پلار حذيفه په جاهليت كي څوك قتل كړى دى نو په دي وجه ددشمنئ نه دبچ كيدو دپاره په مدينه كي اوسيدو حذيفه دمديني نه مكي ته لاړو داسلام قبلولو دپاره، دغزوه بدر نه علاوه تمامو غزواتو كي شريك پاتي شوى دى او عهد نبوي يي په مدينه كي تير كړى دى او بيا ددينه پس عراق، كوفه، نصيبين او مدائن ته منتقل شوى دى او په نصيبين كي يي شاګردي هم كړي ده (اسد الغابه).

عمر فاروق رضي الله عنه دعراق فتح كيدو نه پس په دجله كي حذيفه رضي الله عنه امير مقرر كړو (كتاب الخراج لامام ابو يوسف او بيا دمدائن والي مقرر كړى شو.

حذيفه رضي الله عنه دفقه او حديث لوي عالم وو او دمنافقانو په پيژندو كي يي خصوصي مهارت وو په همدي وجه ورته درسول الله صلي الله عليه وسلم رازدار وئيلى شي دى پخپله وائي ددي وخت نه دقيامته پوري راتلونكي تولي فتني پيژنم، ليكن ددينه دي څوك دا معلومه نكړي چي زما نه علاوه بل چاته نه دي معلومي وجه داده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په دي باره كي مونږ تولو ته په يو مجلس كي خبر راكړى دى خو اوس په هغوئ كي زما نه علاوه بل هيڅوك ژوندى نشته.

دزهد او تقوي يي دا حالت وو چي دامارت باوجود يي په معاشرت كي څه تعير نه وو راغلى دتواضع په وجه به يي دخورلئ كار دخر نه اخستلو او په ډير لږ قوت لايموت رزق به يي ګذاره كوله او ددينه زيات به يي دخان سره نه ساتلو عمر رضي الله عنه ورته څه مال هم اوليږلو ليكن هغه يي پهخلقو تقسيم كړو.

وفات: دهجرت په ۳۶كال عثمان رضي الله عنه دوفات نه څلويښت ورځي پس وفات شو چي په اخري عمر كي په ډيره ژړا كي مصروف وو خلقو ورنه دوجي تپوس اوكړو نو په جواب كي يي

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ۱۳ (۱۴۷۶) (تحفة الأشراف : ۳۳۰۳)

اووئیل ددنیا دپریښودو غم راسره نشته مرګ خو يو دوست دی لیکن په دي خفه يم چي زما انجام او حشر به څه وي کله چي يي اخري ساه واخستله نو ویی فرمائیل ستا ملاقات دي زما سره ماته مبارك شي څکه چي زما درسره انتهائي زياته مينه ده (مسند احمد).
دحذيفه رضي الله عنه دسلو نه زيات روايات منقول دي چي دولس متفق عليه دي او اته صرف په بخاري كي دي او اولس په مسلم كي دي (تهذيب الكمال).

******************

## ١٣ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الصَّبْرَ فِي الصَّدْمَةِ الأُولَى

### صبر هغه وي كوم چي داولنئ صدمي په وخت كي وي

٩٨٧ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ سَعْدِ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الصَّبْرُ فِي الصَّدْمَةِ الأُولَى ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

**ترجمه**: دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اصل صبر هغه وي كوم چي داولنئ صدمي په وخت كي وي.
امام ترمذي وائي داحديث ددي سند په اعتبار غريب دي.

**تشريح**: داولنئ صدمي نه مراد دمصيبت ابتدائي زمانه ده يعني څه وخت كي چي مصيبت شروع شي هغه وخت كي صبر كول اصل صبر دي څكه چي دزماني په تيريدو سره پخپله بنده دصبر سره عادت شي.

******************

٩٨٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ ثَابِتٍ الْبُنَانِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الصَّبْرُ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الأُولَى ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٥ (١٥٩٦) (تحفة الأشراف: ٨٤٨)

[2] ـ صحيح البخاري في الجنائز ٧ (١٢٥٢)، و٣١ (١٢٨٣)، و٤٢ (١٣٠٢)، والأحكام ١١ (٧١٥٤)، صحيح مسلم في الجنائز ٨ (٩٢٦)، سنن ابي داود في الجنائز ٢٧ (٣١٢٤)، سنن النسائي في الجنائز ٢٢ (١٨٧٠)، (تحفة الأشراف: ٤٣٩)، مسند احمد (٣ في ١٣٠، ١٤٣، ٢١٧)

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اصل صبر هغه وي كوم چي داولني صدمي په وخت كي وي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

*****************

## ١٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي تَقْبِيلِ الْمَيِّتِ

### دمړي دښكلولو بيان

٩٨٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبَّلَ عُثْمَانَ بْنَ مَظْعُونٍ وَهُوَ مَيِّتٌ وَهُوَ يَبْكِي " أَوْ قَالَ: " عَيْنَاهُ تَذْرِفَانِ ". وَفِي الْبَاب: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، قَالُوا: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ قَبَّلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مَيِّتٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم عثمان بن مظعون ښكل كړو او هغه وفات شوي وو، رسول الله صلي الله عليه وسلم ژړل (او كه راوي داسي اووئيل) دواړه سترګي يي په اوښكو لمدي وي.
امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي ابن عباس، جابر، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي هغوئ وائي چي ابوبكر رضي الله عنه رسول الله صلي الله عليه وسلم ښكل كړو او هغه وفات شوي وو.

**لغات** : بكي يبكي بكاء ژړل او صفت يي باك راځي جمع يي بكاة ده اومونث باكية او جمع يي باكيات راځي ، المبكي معني دژړا ځاي جمع يي مباكي راځي.

**تشريح** : دمذكوره روايت نه معلوميږي چي دمړي ښكلول جائز دي لكه چي دبخاري په روايت كي هم دابوبكر رضي الله عنه باره كي مروي دي چي هغوئ رسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات كيدو نه پس ښكل كړو.
ددي روايت نه معلومه شوه چي دغم او پريشانئ په وخت كي بي اختياره اوخكي بهيدل اود زړه غمژن كيدل ناجائز ندي، ليكن دغم په وخت كيي داسي خبري ظاهرول كومي چي شريعت

[1] ـ سنن ابي داود في الجنائز ٤٠ (٣١٦٣) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٧ (١٤٥٦) . (تحفة الأشراف : ١٧٤٥٩) . مسند احمد (٦ في ٤٣ . ٥٥)

منع کړي دي ناجائز دي.

او همدارنګې عیادت کول هم سنت نبوي دی او دیو مسلمان په بل مسلمان باندې په حقونو کې یو حق دا هم دی چې کله هغه بیمار شي نو عیادت ته دي ورشي د رسول الله صلی الله علیه وسلم د عیادت د پاره تلل د هغه د تواضع او کمال علامه ده.

**************

## ١٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي غُسْلِ الْمَيِّتِ

## مړي ته د غسل ورکولو بیان

٩٩٠_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. أَخْبَرَنَا خَالِدٌ. وَمَنْصُورٌ. وَهِشَامٌ. فَأَمَّا خَالِدٌ. وهشام. فقالا: عَنْ مُحَمَّدٍ، وَحَفْصَةَ، وَقَالَ: مَنْصُورٌ: عَنْ مُحَمَّدٍ، عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ. قَالَتْ: تُوُفِّيَتْ إِحْدَى بَنَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: "اغْسِلْنَهَا وِتْرًا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ إِنْ رَأَيْتُنَّ، وَاغْسِلْنَهَا بِمَاءٍ وَسِدْرٍ وَاجْعَلْنَ فِي الْآخِرَةِ كَافُورًا. أَوْ شَيْئًا مِنْ كَافُورٍ. فَإِذَا فَرَغْتُنَّ فَآذِنَّنِي". فَلَمَّا فَرَغْنَا آذَنَّاهُ، فَأَلْقَى إِلَيْنَا حِقْوَهُ، فَقَالَ: "أَشْعِرْنَهَا بِهِ". قَالَ هُشَيْمٌ: وَفِي حَدِيثِ غَيْرِ هَؤُلَاءِ وَلَا أَدْرِي وَلَعَلَّ هِشَامًا مِنْهُمْ. قَالَتْ: وَضَفَرْنَا شَعْرَهَا ثَلَاثَةَ قُرُونٍ. قَالَ هُشَيْمٌ: أَظُنُّهُ قَالَ: فَأَلْقَيْنَاهُ خَلْفَهَا. قَالَ هُشَيْمٌ: فَحَدَّثَنَا خَالِدٌ مِنْ بَيْنِ الْقَوْمِ. عَنْ حَفْصَةَ. وَمُحَمَّدٍ. عَنْ أُمِّ عَطِيَّةَ. قَالَتْ: وَقَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَابْدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الْوُضُوءِ" وَفِي الْبَابِ: عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُمِّ عَطِيَّةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَقَدْ رُوِيَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ. أَنَّهُ قَالَ: غُسْلُ الْمَيِّتِ كَالْغُسْلِ مِنَ الْجَنَابَةِ. وَقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: لَيْسَ لِغُسْلِ الْمَيِّتِ عِنْدَنَا حَدٌّ مُؤَقَّتٌ وَلَيْسَ لِذَلِكَ صِفَةٌ مَعْلُومَةٌ وَلَكِنْ يُطَهَّرُ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنَّمَا قَالَ مَالِكٌ قَوْلًا مُجْمَلًا: يُغَسَّلُ وَيُنْقَى. وَإِذَا أُنْقِيَ الْمَيِّتُ بِمَاءٍ قَرَاحٍ أَوْ مَاءٍ غَيْرِهِ. أَجْزَأَ ذَلِكَ مِنْ غُسْلِهِ. وَلَكِنْ أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُغْسَلَ ثَلَاثًا فَصَاعِدًا لَا يُقْصَرُ عَنْ ثَلَاثٍ. لِمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا. وَإِنْ أَنْقَوْا فِي أَقَلَّ مِنْ ثَلَاثِ مَرَّاتٍ أَجْزَأَ". وَلَا نَرَى أَنَّ قَوْلَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا هُوَ عَلَى مَعْنَى الْإِنْقَاءِ ثَلَاثًا أَوْ خَمْسًا وَلَمْ يُؤَقِّتْ. وَكَذَلِكَ قَالَ: الْفُقَهَاءُ وَهُمْ

أَعْلَمُ بِمَعَانِي الْحَدِيثِ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ: وَتَكُونُ الْغَسَلَاتُ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ، وَيَكُونُ فِي الْآخِرَةِ شَيْءٌ مِنْ كَافُورٍ. (1)

**ترجمه** : دام عطيه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم كومه لور وفات شوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديته طاق غسل وركړئ يعني دري پيري يا پنځه پيري يا ددينه زيات څومره چي ضروري وي او د بيرو دپاڼړو په اوبو كي غسل وركړئ او په اخر كي ورباندي كافور واچوئ او كه داسي يي اوفرمائيل لږ شان كافور داوبو سره ګډ كړئ او كله چي دغسل نه فارغ شي نو ماته خبر راكړئ ام عطيه وائي كله چي مونږ دغسل وركولو نه فارغ شو نو رسول الله ته مو خبر وركړو نو هغوئ خپل لنګ مونږ ته راوغورځولو او ويي فرمائيل په دي كي ددي بدن راونغاړئ، هيشم وائي د نورو راويانو په روايتونو كي ماته معلومه نه ده شايد چي هشام به هم ددوئ دجملي نه وي ام عطيه وائي چي مونږ دهغي دويختو نه دري كمځئ جوړي كړي، هيشم وائي زما خيال دي ددي راويانو په روايتونو كي دا خبره هم ده چي بيا مونږ ددي كمځئ شاته اوغورځوله هيشم وائي خالد مونږ ته دخلقو په وړاندي بيان كړل چي دحفصه او محمد نه يي روايت كولو او هغوئ ام عطيه نه روايت نقل كولو چي ام عطيه وئيل مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اول دښي طرف نه شروع اوكړئ او داودس دانداممونو نه غسل وركول شروع كړئ.

امام ترمذي وائي دام عطيه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دام سليم رضي الله عنها نه هم روايت وارد د او داهل علمو په همدي باندي عمل دي، ابراهيم نخعي وائي مړي ته غسل وركول دجنابت دغسل پشان دي، مالك بن انس وائي زمونږ په نزد دمړي دغسل دپاره هيڅ حد مقرر نه دي او نه ددي دپاره كوم خاص طريقه مسنون ده پس صرف دمړي پاكول ضروري دي،امام شافعي وائي دامام مالك دا قول چي "غسل دي ورته وركړي شي او پاك دي كړي شي" مجمل دي، كله چي مړي دبيرو دپاڼړو په اوبو پاك كړي شي نو پس

---

1 ـ صحيح البخاري في الوضوء ٣١ (١٦٧) ، والجنائز ١٠ (١٢٥٥) ، و١١ (١٢٥٦) . صحيح مسلم في الجنائز ١٢ (٩٣٩) . سنن ابي داود في الجنائز ٣٣ (٣١٤٣، ٣١٤٥) . سنن النسائي في الجنائز ٣١ (١٨٨٥) ، و٣٢ (١٨٨٦) . (تحفة الأشراف : ١٨١٠٢، و١٨١٠٩، و١٨١١١، و١٨١٢٣، ١٨١٣٥) وأخرجه صحيح البخاري في الجنائز ٨ (١٢٥٣) ، و٩ (١٢٥٤) ، و١٣ (١٢٥٧) ، و١٣ (١٢٥٨) ، و١٣ (١٢٦٠) . و١٥ (١٢٦١) ، و١٦ (١٢٦٢) ، و١٧ (١٢٦٣) . صحيح مسلم في الجنائز (المصدر المذكور) . سنن ابي داود في الجنائز ٣٣ (٣١٤٢، ٣١٤٦، ٣١٤٧) . سنن النسائي في الجنائز ٣٣ (٣١٤٢، ٣١٤٣، ٣١٤٦، ٣١٤٧) . سنن النسائي في الجنائز ٢٨ (١٨٨٢) ، و٣٠ (١٨٨٣) . و٣٣ (١٨٨٧) ، و٣٤ (١٨٨٨، ١٨٨٩، ١٨٩٠) ، و٣٥ (١٨٩١، ١٨٩٢) ، و٣٦ (١٨٩٣، ١٨٩٥) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٨ (١٤٥٨) . موطأ امام مالک في الجنائز ١ (٢) . مسند احمد (٦ في ٤٠٧)

هم دومره كافي دي ، البته زما په نزد مستحب دادي چي د دري پيرو نه ورته زيات غسل ورکړي شي او ددريو نه کم ورنکړي شي ځکه چي ارشاد نبوي دي دري ياپنځه ځل ورته غسل ورکړئ او که چري خلق مړي د دري پيرو غسل ورکولو نه په کمو کي پاك کړي نو دا به هم کافي وي، مونږ دا نه ګڼړو چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دري يا پنځه پيري غسل ورکولو حکم کول متعين حد دي بلکي دا حکم صرف دپاکولو دپاره دي او رسول الله کوم حد نه دي مقرر کړي دارنګي نورو فقهاؤ هم وئيلي دي او هغوئ دحديث په مفهوم ښه پوهيدونکي دي، امام احمد اواسحاق بن راهويه وائي هر ځل به غسل دبيرو دپاڼړو په اوبو ورکوي البته په اخري ځل به په اوبو کي کافور شاملوي.

**تشريح**: مړي ته د غسل ورکولو طريقه دا ده:

د صاحب د عنايه د بيان مطابق زمونږ بعضي اصحابو وئيلي دي.چي تخته دي د قبلې په طرف په اُوږدوالي کيخودي شي.يعني تخته په اوږدوالي شرقاً او غرباً کيخودي شي.لکه څنګه چي د مرض په حالت کي په ملاسته په اشاره د مونځ کولو په صورت کي مريض شرقاً او غرباً څملي.يعني خپي د قبلې په طرف او سرد مشرق په طرف وي.

اوبعضي فقهاء وائي.چي تخته دي په پلنوالي کيخودي شي.لکه څنګه چي مړی په قبر کي ايخودي شي.علامه شمس الائمه سرخسي رحمه الله وئيلي دي.چي څنګه ممکن وي.کيخودي به شي.دمړي په تخته د څملولو د کيفيت په باره کي هيڅ روايت منقول نه دې.البته عرف دادې.چي مړی په څټ نيغ څملولی شي.

دمړي په تخته څملولو نه پس به دده په عو..ت کپړه اچولی شي.ځکه چي ستر د عورت فرض دې.نو ددې فرض اداکولودپاره به دده په عورت کپړه واچوی .وجه ددې داده.چي سړې څنګه په ژوند کي محترم وي.دغه شان د مرګ نه پس هم محترم وي.نو دده د محترميت تقاضا ده.چي دده عورت ښکاره نکړې شي.

صاحب د هدايه رحمه الله وائي.چي د آسانتيا دپاره عورت غليظه يعني د قُبل او دُبر ستر کافي دې.د نوم نه د کونډو پورې ستر ضروری نه دې.هم دا ظاهرالروايه دې.

**دمړي دمضمضي اواستنشاق متعلق دوه اقوال دي اول:**

(۱) احناف فقهاء وايي چي بغيردخولي وينځلونه اوپه پوزه کي اوبه اچولونه، مړي له اودس کول پکاردی.اودس خوځکه کول پکار دی.چي اودس دغسل سنت دې.اوخوله وينځل اوپه پوزه کي اوبه اچول ځکه ترک کړې شوی دی.چي د مړي په خوله اوپوزه کي اوبه اچول اوبيا ئې تری راويستل متعذر دی.

(۲) امام شافعي رحمه الله فرمائي.چي د مړي په خوله او پوزه کي هم اوبه اچولی شي. د ژوند په حالت باندې يې قياس کوی.

بیا دی غسل ورکونکی خپل خان مړی ته اډانه کړی.او کینوی دې.اوپه نرمیٔ دی د مړی خیټه اومګی.دا مګل په دی وجه دی.که د مړی په خیټه کي څه څیز وی.هغه اوځی.چی روسته کفن خراب نه کړی.په دی سلسله کي اصل دا روایت دې.

"إن علياً (رضي الله عنه) لما غسل رسول الله ﷺ مسح بطنه بيده رفيقاً طلب منه ما يطلب من الميت فلم ير شَيْئاً فقال طبت حياً وميتاً"

یعنی علی (رضي الله عنه) چی کله رسول الله ﷺ ته غسل ورکولو.نوپه خپل لاس ئې رُو رُو ددوی خیټه اومګله .اومقصود هغه څیز طلب کول وو.چی د مړی نه طلب کولی شی.یعنی د علی (رضي الله عنه) منشاء دا وه.چی کیدی شي دنبی کریم ﷺ دخیټی نه څه څیزاوځی.خوڅه هم اونه وتل.نو علی (رضي الله عنه) اوفرمائیل .تاسو په ژوند او مرګ دواړوکي پاك ئې.

دخیټی مګولو نه پس که دمړی د ګیډی نه څه څیز راؤوتلو.نو دا دی اووینځی.او د غسل ورکولو د اعاده کولو ضرورت نشته.اوداودس کولوهم څه ضرورت نشته.ځکه چی د مړی غسل مونږ په نص پیژندلی دې. نبی کریم ﷺ فرمائیلی دی.چی د مسلمان په مسلمان شپږ حقونه دی.په دی کي یود مړی غسل دې.بهرحال د مړی غسل چی واجب دې.په یوځل دغسل ورکولوسره حاصل شوي دې.اوس دوباره دغسل ورکولو ضرورت نه دی پاتې.دغسل نه د فراغت نه پس د مړی بدن په پاکې کپړې سره اوچول پکار دی.چی کفن لوند نه شی. (عنایه وغیره)

**دام عطیه رضي الله عنها دزندګئ مختصرحالات**

نوم نسیبه دپلار نوم حارث دهجرت نه مخکي مسلمانه شوي وه او کله چي رسول الله مديني ته راغی نو دانصاري ښځو نه يي بيعت واخستلو او په دوئ کي دا هم شامله وه ام عطيه درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په جنګونو کي هم شريکه شوي وه چي خوراك به يي تيارولو او دسامانونو حفاظت به يي کولو او دزخميانو دمرهم پټئ کاربه يي کولو (مسلم).

دهجرت په اتم کال چي درسول الله صلي الله عليه وسلم زينب لور وفات شوه نو ام عطيه ديو څو ښځو په ملګرتيا کي هغي ته غسل ورکړل ددي يو ځويی هم وو چي په کومه غزوه کي شريك شوی وو او دبيماريدو نه پس بصري ته تلی وو په دي وخت کي ام عطيه په مدينه کي وه څنګه چي خبره شوه نوسم دست بصري ته روانه شوه ليکن ددي درسيدو نه دوه ورځي مخکي هغه وفات شوی وو په دريمه ورځ يي خوشبو راوغوښتله او استعمال يي کړه او وئيل يي چي دخاوند نه علاوه دهيچا په مرګ د دري ورځو نه زيات ماتم کول جائز نه دي (بخاري).

*****************

١٦_باب فِي مَا جَاءَ فِي الْمِسْكِ لِلْمَيِّتِ

## په مري باندي دمشکو او خوشبو اچولو بیان

۹۹۱ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ. حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، وَشَبَابَةُ. قَالَا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ. عَنْ خُلَيْدِ بْنِ جَعْفَرٍ، سَمِعَ أَبَا نَضْرَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَطْيَبُ الطِّيبِ الْمِسْكُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** دابوسعیذ خدري رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دټولو نه بهتره خوشبو مشك دي.
امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي.

*****************

۹۹۲ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ. حَدَّثَنَا أَبِي. عَنْ شُعْبَةَ. عَنْ خُلَيْدِ بْنِ جَعْفَرٍ. عَنْ أَبِي نَضْرَةَ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الْمِسْكِ. فَقَالَ: " هُوَ أَطْيَبُ طِيبِكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ. وَإِسْحَاقَ. وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ الْمِسْكَ لِلْمَيِّتِ. قَالَ: وَقَدْ رَوَاهُ الْمُسْتَمِرُّ بْنُ الرَّيَّانِ أَيْضًا. عَنْ أَبِي نَضْرَةَ. عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ عَلِيٌّ: قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: الْمُسْتَمِرُّ بْنُ الرَّيَّانِ ثِقَةٌ. قَالَ يَحْيَى: خُلَيْدُ بْنُ جَعْفَرٍ ثِقَةٌ. (2)

**ترجمه** : دابوسعید خدري رضي الله عنه نه مروي دي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم نه دمشك په باره کي تپوس اوکړي شو نو ویې فرمائیل دا ستاسو په خوشبویانو کي دټولو نه بهتره خوشبو ده.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي او دا حدث مستمر بن ریان په سند د ابي نضره عن ابي سعید عن النبي صلي الله علیه وسلم سره نقل کړي دي، او یحیٰ بن سعید وائي مستمر بن ریان ثقه دي او دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي او همدا دامام احمد بن

---

1 ــ صحيح مسلم في الألفاظ من الأدب ٥ (٢٢٥٢) . سنن النسائي في الجنائز ٤٢ (١٩٠٦) . والزينة ٣ (٥١٢٣) . و٧٤ (٥٢١٦). (تحفة الأشراف : ٤٣١١) وأخرجه صحيح مسلم . سنن ابي داود في الجنائز ٣٧ (٣١٥٨) . سنن النسائي في الجنائز ٤٢ (١٩٠٧) . مسند احمد (٣ في ٣٦، ٤٠، ٤٦، ٦٢)

2 ــ صحيح مسلم في الألفاظ من الأدب ٥ (٢٢٥٢) . سنن النسائي في الجنائز ٤٢ (١٩٠٦) . والزينة ٣ (٥١٢٣) . و٧٤ (٥٢١٦). (تحفة الأشراف : ٤٣١١) وأخرجه صحيح مسلم . سنن ابي داود في الجنائز ٣٧ (٣١٥٨) . سنن النسائي في الجنائز ٤٢ (١٩٠٧) . مسند احمد (٣ في ٣٦، ٤٠، ٤٦، ٦٢)

حنبل او اسحاق بن راهويه قول هم دي، او بعضي اهل علمو دمړي دپاره دمشکو داستعمال په کراهت قول کړي دي.

****************

## ۱۷ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْغُسْلِ مِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ

### مړي ته د غسل ورکولو په وجه دغسل کولو بيان

۹۹۳ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ الْمُخْتَارِ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مِنْ غُسْلِهِ الْغُسْلُ، وَمِنْ حَمْلِهِ الْوُضُوءُ يَعْنِي الْمَيِّتَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَوْقُوفًا، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الَّذِي يُغَسِّلُ الْمَيِّتَ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: إِذَا غَسَّلَ مَيِّتًا فَعَلَيْهِ الْغُسْلُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: عَلَيْهِ الْوُضُوءُ. وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: أَسْتَحِبُّ الْغُسْلَ مِنْ غُسْلِ الْمَيِّتِ وَلَا أَرَى ذَلِكَ وَاجِبًا، وَهَكَذَا قَالَ الشَّافِعِيُّ، وقَالَ أَحْمَدُ: مَنْ غَسَّلَ مَيِّتًا أَرْجُو أَنْ لَا يَجِبَ عَلَيْهِ الْغُسْلُ، وَأَمَّا الْوُضُوءُ فَأَقَلُّ مَا قِيلَ فِيهِ، وقَالَ إِسْحَاق: لَا بُدَّ مِنَ الْوُضُوءِ، قَالَ: وَقَدْ رُوِيَ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: لَا يَغْتَسِلُ وَلَا يَتَوَضَّأُ مَنْ غَسَّلَ الْمَيِّتَ.(1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مړي ته په غسل ورکولو غسل کول پکار دي او ددي په پورته کولو اودس کول پکار دي

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او دابوهريره رضي الله عنه نه دا روايت موقوفاً هم مروي دي، په دي باب کي دعلي او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي، داهل علمو دهغه کس باره کي اختلاف دي څوك چي مړي ته غسل ورکړي په صحابه کرامو او ددوئ نه پس دبعضي اهل علمو دا خيال دي کله چي څوك مړي ته غسل ورکړي په ده باندي غسل کول دي او دبعضي اهل علمو خيال دي چي اودس به کوي مالك بن انس وائي مړي ته په غسل ورکولو سره غسل ورکول زما په نزد مستحب دي او زه يي واجب نه ګنړم دا رنګي دامام شافعي قول هم دي، امام احمد بن حنبل وائي چاچي مړي ته غسل ورکړو زما اميد دي چي په ده باندي به غسل کول واجب نه وي پاتي شوه د اودس خبره نو دا دټولو نه کمه خبره ده کومه چي په دي سلسله کي ونيلي شوي ده ، اسحاق بن راهويه وائي اودس کول

---

1 سنن ابن ماجه في الجنائز ۸ (۱۴۶۳) (تحفة الأشراف : ۱۴۲۶)

ضروري دي، او دعبدالله بن مبارك نه مروي دي چي فرمائيل يي چاچي مړي ته غسل ورکړو په هغه باندي نه غسل کول شته اونه اودس کول.

**تشريح:** مړي ته چي څوك غسل ورکوي دهغه دپاره دا هدايت دی چي دی که دمړي هر بد حالت اويني نو دي لره دي پټ کړي او خلقو ته دي ددي دبيانولو نه ډډه اوکړي ددي دپاره چي مړی دذلت او رسوائي نه بچ شي هر کله چي دمرګ نه پس دچا عيب بيانول جائزنه دي نوپه ژوندګئ کي څنګه جائز کيدی شي ليکن که په مړي کي کومه ښه خبره اومونډلی شي نو ددي په بيانولو کي څه حرج نشته.

ابو رافع اسلم رضي الله عنه راوي دی فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي مړي ته غسل ورکونکی که څړی دمړي څه ناخوښه خبره يا عيب پټ کړي نو الله تعالي به څلويښت ځله دهغه مغفرت اوکړي، حاکم دا روايت کړی دی او وئيلي يی دي چي دمسلم دشرط مطابق دا روايت صحيح دی . (مسلم)

****************

## ١٨ـ بَاب مَا يُسْتَحَبُّ مِنَ الأَكْفَانِ

### کوم رنګ والاکفن ورکول مستحب دي

٩٩٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْبَسُوا مِنْ ثِيَابِكُمُ الْبَيَاضَ، فَإِنَّهَا مِنْ خَيْرِ ثِيَابِكُمْ وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوْتَاكُمْ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ سَمُرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ الَّذِي يَسْتَحِبُّهُ أَهْلُ الْعِلْمِ. وَقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: أَحَبُّ إِلَيَّ أَنْ يُكَفَّنَ فِي ثِيَابِهِ الَّتِي كَانَ يُصَلِّي فِيهَا، وَقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: أَحَبُّ الثِّيَابِ إِلَيْنَا أَنْ يُكَفَّنَ فِيهَا الْبَيَاضُ وَيُسْتَحَبُّ حُسْنُ الْكَفَنِ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو سپيني جامي اغوندئ ځکه چي دا ستاسو په ملبوساتو کي بهترين لباس دي او په همدي کي خپلو مړو ته کفن هم ورکوئ.

---

[1] ـ سنن ابي داود في اللباس ١٦ (٤٠٦١). سنن ابن ماجه في الجنائز ١٢ (١٤٧٢) (تحفة الأشراف : ٥٥٣٤). مسند احمد (اي ٣٥٥)

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دسمره، ابن عمر او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او اهل علم دا عمل مستحب گنړي ابن مبارک وائي زما په نزد مستحب داده چي مړي ته کفن په هغه جامو کي ورکړي شي په کومو کي چي هغه مونځ کولو، امام احمد او اسحاق بن راهويه وائي دکفن ورکولو دپاره زما په نزد په ټولو کپړو کي بهتر رنګ سپين دي او مړي ته ښه کفن ورکول مستحب دي.

**تشريح** : په کفن ورکولو کي سپينه کپړه او نوي کپړه ورکول ضروري نه دي هره يوه کپړه درسته ده خو چي پاکه وي په هغي کي کفن ورکول جائز دي او په دي کي قاعده کليه داده کومي جامي چي په زندګئ کي اغوستل جائز وي په هغي کي کفن ورکول هم جائز دي او کومه جامه چي په ژوند کي اغوستل مکروه دي په هغي کي کفن ورکول هم مکروه دي او کومه جامه اغوستل چي حرام دي په هغي کي کفن ورکول هم حرام دي مثلا ښځي ته په ريشمي جامه کي کفن ورکول جائز دي او د سړو دپاره حرام دي ابن مبارک وائي په کومو جامو کي چي به خلقو مونځ کولو او په هغي کي يي عبادتونه کړي وي په هم هغي کي ورته کفن ورکول مستحب دي.

***************

## ۱۹_ بَاب مِنْهُ

### مړي ته د کفن ورکولو متعلق يو بل باب

۹۹۵_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ يُونُسَ، حَدَّثَنَا عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي قَتَادَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا وَلِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُحْسِنْ كَفَنَهُ". وَفِيهِ عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: قَالَ سَلَّامُ بْنُ أَبِي مُطِيعٍ فِي قَوْلِهِ: "وَلْيُحْسِنْ أَحَدُكُمْ كَفَنَ أَخِيهِ". قَالَ: هُوَ الصَّفَاءُ وَلَيْسَ بِالْمُرْتَفِعِ.[1]

**ترجمه** : دابوقتاده رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي کله چي په تاسو کي څوک دخپل ورور دکفن په سلسله کي کي ذمه وار جوړ شي(يعني دکفن معامله ورته وسپارلي شي)، نو ښه کفن دي ورته ورکړي امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي، ابن مبارک دارشاد نبوي "واليحسن احدکم کفن اخيه" په باره کي وائي چي ددينه مراد دجامو پاکوالي او سپين والي دي او قيمتي جامه ورنه مراد نه ده.

---

[1] _ سنن ابن ماجه في الجنائز ۱۲ (۱۴۷۴) (تحفة الأشراف : ۱۲۱۲۵)

**تشريح** : په يو بل روايت كي راغلي دي الله تعالي جنت سپين جوړ كړى دى او سپين رنګ يي خوښ دى ، دملا علي قاري قول دى چي سپين لباس دتواضع اوعاجزئ نښه ده او سپين فطري رنګ دى په قران كريم كي ورته هم اشاره ده "فطرة الله التي فطر الناس عليها" مساجد ، محافل او ملاقاتونو پـه سلسله كـي دسپينو جامو اغوستل مستحب دي او همدارنګي داخترونو او جمعي په ورځ سپيني جامي اغوستل هم ښه خبره ده، اوددي په خلاف نور رنګونو استعمال هم ثابت دى، جديد تحقيق وائي چي سپين لباس دموسمي تغيراتو مقابله هم كوي په سختي ګرمئ كي سپين لباس ګرم نه وي او په سختي يخنئ كي يخ نه وي او همدارنګي په سپين لباس والابانـدي كينسر مرض هم حملـه نـشي كـولى اوهمدارنګي الرجي او هائي بلډپريشر والامريضانو دپاره هم دا مشوره ده ، دهوميوپيهتيك داصولو مطابق سپين لباس ددماغو او زړه اوجلد محافظ وي.

**ابوقتاده حارث بن ربعي رضي الله عنه حالات**

نوم ابوقتاده لقب فارس رسول الله صلي الله عليه وسلم په خزرج قبيله كي يي دسلمه خاندان سره تعلق وو.

دهجرت نه لس كاله مخكي په مدينه كي پيدا شوى وو او دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو كي شركت كړى وو علي رضي الله عنه ده لره دمكي امير مقرر كړى وو قتاده ډير زيات متواضع وو او د درس حلقه يي په همدي وجه وسيع وه په حديبيه كي چي كله درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مكي ته تلو نو په لاره كي يي ددوستانو او ملګرو سره ټوقي او خندا كوله (مسند احمد).

په غزوه حنين كي چي دلويو لويو جانبازانو قدمونه اوخويدل نو پدغه وخت كي دابوقتاده ښپي مضبوطي وي دحديث په بيانولو كي يي ډير احتياط كولو چي كله يي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه من كذب علي متعمدا والا روايت واوريدو نو نور زيات احتياط يي هم شروع كړو (مسند احمد).

وفات: دده په وفات كي اختلاف دى بعضو ۴۹هجري كوفه ليكلي ده ليكن داكثرو په نزد دپنځوس او شپيتوو په مينځ كي دده وفات شوى دى.

دده دمروياتو شمير ۱۷۰ دى چي يولس په بخاري او مسلم كي متفق عليه دي دولس په بخاري كي دي او اته په مسلم كي دي.

*****************

## ۲۰ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَفَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

**دنبي كريم صلي الله عليه وسلم دكفن بيان**

۹۹٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كُفِّنَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ يَمَانِيَةٍ، لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عِمَامَةٌ". قَالَ: فَذَكَرُوا لِعَائِشَةَ قَوْلَهُمْ: فِي ثَوْبَيْنِ وَبُرْدِ حِبَرَةٍ، فَقَالَتْ: قَدْ أُتِيَ بِالْبُرْدِ وَلَكِنَّهُمْ رَدُّوهُ وَلَمْ يُكَفِّنُوهُ فِيهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په دري سپينو يمني کپړو کي کفن ورکړي شو چي نه پکي قميص وو او نه عمامه خلقو عائشه رضي الله عنها ته اووئيل چي ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم ته په دوه جامو او يو کرخو والا يمني څادر کي کفن ورکړي شوي وو؟ ام المؤمنين اووئيل هو يو څادر راوړلي شوي وو ليکن خلقو واپس کړي وو او په هغي کي ورته کفن ورنکړي شو، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : کفن په دری قسمه دي.(۱) کفن مسنون (۲) کفن کفايه (۳) کفن ضرورت دی.

## کفن مسنون

کفن مسنون د سړو په حق کي دری کپړې دی.(۱) ازار، يعنی لنګ خود سرنه پښو پورې مراد دي.(۲) کرته د څټ نه قدم پورې بغيرد نستونړو او د کالر نه(۳) څادر د سر نه پښو پورې چی د پورته نه تړ لی شی.

## کفن کفايي

کفن کفايه د سړی په حق کي دوه جامی دی.يولنګ دويم څادر دي.

## کفن ضرورت

د کفن ضرورت څه حد نشته هرڅومره چي ملاو شي مګر دا هغه وخت کي کله چي پوره کفن نه ملاويږي.

****************

[1] _ صحيح مسلم في الجنائز ۱۳ (۹۴۱). سنن ابي داود في الجنائز ۳۴ (۳۱۵۲). سنن النسائي في الجنائز ۳۹ (۹۰۰). سنن ابن ماجه في الجنائز ۱۱ (۱۴۶۹). (تحفة الأشراف: ۱٦۷۸٦) وأخرجه صحيح البخاري في الجنائز ۱۸ (۱۲٦۳). و۲۳ (۱۲۷۱). و۲۴ (۱۲۷۳). و۹۴ (۱۳۸۷). صحيح مسلم في الجنائز (المصدر المذكور). الجنائز (۳۱۵۱). سنن النسائي في الجنائز ۳۹ (۱۸۹۸ و۱۸۹۹). موطا امام مالک في الجنائز ۲ (۵). مسند احمد (٦ في ۴۰، ۹۳، ۱۱۸، ۱۳۲، ۱٦۵، ۲۳۱)

٩٩٧ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَفَّنَ حَمْزَةَ بْنَ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ فِي نَمِرَةٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ فِي كَفَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِوَايَاتٌ مُخْتَلِفَةٌ، وَحَدِيثُ عَائِشَةَ أَصَحُّ الأَحَادِيثِ الَّتِي رُوِيَتْ فِي كَفَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ عَائِشَةَ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: يُكَفَّنُ الرَّجُلُ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ إِنْ شِئْتَ فِي قَمِيصٍ وَلِفَافَتَيْنِ، وَإِنْ شِئْتَ فِي ثَلَاثِ لَفَائِفَ، وَيُجْزِي ثَوْبٌ وَاحِدٌ إِنْ لَمْ يَجِدُوا ثَوْبَيْنِ، وَالثَّوْبَانِ يُجْزِيَانِ، وَالثَّلَاثَةُ لِمَنْ وَجَدَهَا أَحَبُّ إِلَيْهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. قَالُوا: تُكَفَّنُ الْمَرْأَةُ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم حمزه بن عبدالمطلب ته صرف په يوه کپړه کي کفن ورکړي دي.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي ، او درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دکفن باره کي مختلف احاديث مروي دي او په دي تمامو احاديثو کي دعائشه حديث زيات صحيح دي، او په دي باب کي دعلي، ابن عباس، عبدالله بن مغفل او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، په صحابه کرامو اهل علمو کي داکثرو په حديث دعائشه باندي عمل دي، سفيان ثوري وائي سړي ته دي په دري جامو کي کفن ورکړي شي پکار ده چي يو قميص او دوه لفافي وي او که دري لفافي وي او که دوه کپړي نه وي نو يوه هم کافي ده او دوه هم کافي کيږي او چا سره چي دري وي نو دهغه دپاره هم دا دري مستحب دي دامام شافعي او احمد او اسحاق هم دا قول دي دوئ وائي ښځي ته به په پنځه کپړو کي کفن ورکولي شي.

*****************

## ٢١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الطَّعَامِ يُصْنَعُ لِأَهْلِ الْمَيِّتِ

### دمړي کور والا دپاره دخوراک دا نتظام کولو بيان

٩٩٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ جَعْفَرِ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ، قَالَ: لَمَّا جَاءَ نَعْيُ جَعْفَرٍ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢٣٦٩)

" اصْنَعُوا لِأَهْلِ جَعْفَرٍ طَعَامًا فَإِنَّهُ قَدْ جَاءَهُمْ مَا يَشْغَلُهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ كَانَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّ أَنْ يُوَجَّهَ إِلَى أَهْلِ الْمَيِّتِ شَيْءٌ لِشُغْلِهِمْ بِالْمُصِيبَةِ. وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَجَعْفَرُ بْنُ خَالِدٍ: هُوَ ابْنُ سَارَةَ وَهُوَ ثِقَةٌ. رَوَى عَنْهُ ابْنُ جُرَيْجٍ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن جعفر رضي الله عنهما بيان دي كله چي دجعفر طيار دمرګ خبر راغي نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دجعفر دكور دخلقو دپاره دخوراك انتظام اوكړئ خكه چي دوئ باندي نن داسي مصيبت راغلي دي په كوم كي چي هغوئ مشغول دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، او بعضي اهل علم دمړي كور ته په مصيبت كي دانختلو په وجه څه ليږل مستحب ګڼړي او دا دامام شافعي قول هم دي، دجعفر بن خالد پلار دخالد ساره څوي دي او ثقه دي دده نه ابن جريج نقل دروايت كړي دي.

**دعبدالله بن جعفر رضي الله عنهما حالات:**

نوم عبدالله كنيه ابن جعفر درسول الله سلي الله عليه وسلم دتره څوي دى او دجعفر طيار څوي دى كله چي دده پلار جعفر حبشي ته هجرت اوكړو نو عبدالله دهجرت په دوران كي په حبشه كي پيدا شو او كله چي په اوم هجري كي جعفر مديني ته راغى نو عبدالله داوه كالو وو او په دغه وخت كي ورسره رسول الله صلي الله عليه وسلم بيعت هم اوكړو.

بيا څه موده پس جعفر رضي الله عنه په غزوه موته كي شهيد شو نو په دي وجه به رسول الله صلي الله عليه وسلم دعبدالله سره دير محبت كول دي يو خل نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي عبدالله دصورت سيرت په لحاظ سره زما سره مشابه دي علامه عبدالبر وائي چي عبدالله بن جعفر يو كريم النفس انسان وو خوش طبيعته او عفيف اوربښتونى انسان دى كله چي ابن ملجم علي رضي الله عنه شهيد كړو نو دده په قصاص كي عبدالله بن جعفر رضي الله عنه دده خپي لاسونه كټ كړل او بدل يي ورنه واخستو.

دهجرت په ۸۰كال په مدينه كي وفات شوى دى اود مديني والي ابان بن عثمان ورته كفن وركړى دى او دجنازي كولو نه پس يي په جنة البقيع كي دفن كړو دده په جنازه كي ډيره ګڼړه وه (اسد الغابه).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو دعبدالله بن جعفر عمر لس كاله وو ليكن دماشوموالي په زمانه كي يي هم يو څو احاديث يادكړي وو چي دوه په دي كي متفق علييه دي

*****************

[1] ـ سنن ابى داود في الجنائز ۳۰ (۳۱۳۲) . سنن ابن ماجه في الجنائز ۵۹ (۱۶۱۰) (تحفة الأشراف : ۵۲۱۷)

## ٢٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ ضَرْبِ الْخُدُودِ، وَشَقِّ الْجُيُوبِ عِنْدَ الْمُصِيبَةِ

### دمصيبت په وخت کي دمخ وهلو او دګريوان شلولو دمما نعت بيان

٩٩٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سُفْيَانَ، قَالَ: حَدَّثَنِي زُبَيْدٌ الأَيَامِيُّ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ مِنَّا مَنْ شَقَّ الْجُيُوبَ وَضَرَبَ الْخُدُودَ وَدَعَا بِدَعْوَةِ الْجَاهِلِيَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي مړي پسي ژړا کي مخ سر وهي ګريوان څيري کوي اودجاهليت دزمانې په شان ستائيني کوي هغه زمونږ نه نه دی.

**لغات** : الخدود دخد جمع ده په معني درخسار، شق: معني شلول ، شق يشق شقا معني شلول، الجيوب جمع دجيب ده په معني دګريبان.

**تشريح** : "ليس منا من ضرب الخدود" يعني هغه څوك زمونږ نه ندی څوك چي مخ وهي ددي مطلب علماؤ دا بيان کړی دی چي ډير داسي کارونه کوم چي دجاهليت دزماني سره تعلق لري يا شريعت بنه نه دي ګنړلي دهغي نه په حديث کي په ليس منا سره تعبير شوی دی ددي دا مطلب نه دی چي ددي کار کونکی داسلام نه خارج دی بلکي په طور دمبالغي او زجر داسي ونيلی شوي دي، لکه چي پلار څوي ته اووايي چي ته زما څوي نه يي او زه ستا پلار نه يم.
ودعا بدعوي الجاهلية: او بلنه اوکړي پشان دبلني دجاهليت مطلب دادی چي مړي به جاهلانو په جاهليت په وخت کي رابلل مثلا ای زمو دبچو يتيم کونکيه او ای دبنځو کونډونکيه وغيره دا سخته کبيره ګناه ده ځکه چي په دي کي دالله په فيصلي دراضي کيدو په ځاي دناراضتيا اظهار دی.

*****************

## ٢٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ النَّوْحِ

---

1 _ صحيح البخاری في الجنائز ٣٥ (١٢٩٤) . والمناقب ٨ (٣٥١٩) . سنن النسائي في الجنائز ١٩ (١٨٦٣) . و٢١ (١٨٦٥) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٢ (١٥٨٤) (تحفة الأشراف : ٩٥٥٩) . مسند احمد (١ في ٣٨٦، ٤٣٢) وأخرجه صحيح البخاری في الجنائز ٣٨ (١٢٩٧) . و٣٩ (١٢٩٨) . والمناقب ٨ (٣٥١٩) . صحيح مسلم في الإيمان ٤٣ (١٠٣) . سنن النسائي في الجنائز ١٧ (١٨٦١) . مسند احمد (١ في ٤٦٥)

## په مړي باندي د وير کولو بيان

١٠٠٠ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا قُرَّانُ بْنُ تَمَّامٍ، وَمَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، وَيَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدٍ الطَّائِيِّ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ الأَسَدِيِّ، قَالَ: مَاتَ رَجُلٌ مِنَ الأَنْصَارِ يُقَالُ لَهُ: قَرَظَةُ بْنُ كَعْبٍ، فَنِيحَ عَلَيْهِ فَجَاءَ الْمُغِيرَةُ بْنُ شُعْبَةَ فَصَعِدَ الْمِنْبَرَ فَحَمِدَ اللَّهَ وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَقَالَ: مَا بَالُ النَّوْحِ فِي الإِسْلاَمِ أَمَا إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ نِيحَ عَلَيْهِ عُذِّبَ بِمَا نِيحَ عَلَيْهِ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَأَبِي مُوسَى، وَقَيْسِ بْنِ عَاصِمٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَجُنَادَةَ بْنِ مَالِكٍ، وَأَنَسٍ، وَأُمِّ عَطِيَّةَ، وَسَمُرَةَ، وَأَبِي مَالِكٍ الأَشْعَرِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ الْمُغِيرَةِ حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : د علي بن ربيعه اسدي نه روايت دی فرمائي چي په انصارو کي د قرظه بن کعب په نوم يو کس مړ شو او وير ورباندي و شو نو مغيره بن شعبه رضي الله عنه راغلو او په منبر کيناستو او وئيل يي چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مى اوريدلي دي هغوئ فرمائيل کوم مړي باندی چي وير اوشو دقيامت په ورځ به ددی وير په وجه عذاب ورکولی شي.

امام ترمذي وايي په دي باب کي د عمر ، علي، ابو موسي ، قيس بن عاصم، ابو هريره ، جناده بن ماك، انس، ام عطيه، سمره، او ابو موسي اشعري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، او حديث دمغيره غريب حسن صحيح دی.

**لغات**: نيح : ماضي مجهوله ده د ناح ينوح نوحا نه معني نياحت او نوحه کول يعني په مړي وير کول دي، القيامة يعني قائميدونکي ورځ.

**تشريح** : ددي حديث نه معلوميږي چي په مړي باندي نوحه کول او دهغه ښه صفتونه بيانول اوژړا کول او مخ وهل او جامي شلول په سر خاوري شيندل دا ټول داسي کارونه دي کوم چي په بي صبرئ باندي دلالت کوي او دا ټول حرام دي دچا په مرګ باندي بغير چغو وهل ژړل بد نه دي او داوښکو بهيدل هم بد نه دي دا يوه فطري خبره ده، دا خو يو ناممکن کار دی چي دسړي په دوستانو او رشته دارو کي دي څوك مړ شي او دده زړه ورباندي خوږ نه شي او نه يي دسترګو نه اوښکي رواني شي داسي کول هم په شريعت کي منع نه دي ليکن ممنوع هغه دي کوم چي داعتدال دحد نه خارج وي.

---

[1] ــ صحيح البخاري في الجنائز ٣٣ (١٢٩١) ، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٣٣) . (تحفة الأشراف : ١١٥٢٠) . مسند احمد (٣ في ٢٤٥ . ٢٥٢)

## دعلي بن ربيعه حالات:

نوم علي د پلار نوم ربيعه دکوفي اوسيدونکي وو دلويو تابعينو دجملي نه دي او په نقل دروايت کي ثقه دي.

******************

١٠٠١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، وَالْمَسْعُودِيُّ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ أَبِي الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْبَعٌ فِي أُمَّتِي مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَنْ يَدَعَهُنَّ النَّاسُ: النِّيَاحَةُ، وَالطَّعْنُ فِي الْأَحْسَابِ، وَالْعَدْوَى أَجْرَبَ بَعِيرٌ فَأَجْرَبَ مِائَةَ بَعِيرٍ مَنْ أَجْرَبَ الْبَعِيرَ الْأَوَّلَ، وَالْأَنْوَاءُ مُطِرْنَا بِنَوْءِ كَذَا وَكَذَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. ([1])

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي زما په امت کي څلور کارونه دجاهليت دي او خلق يي هيڅ کله نه پريږدي يو په مړي وير کول دي او بل په نسبونو بد وئيل دي، او ديوه نه بل ته دبيمارۍ دلګيدو عقيده لرل مثلا داسي وئيل يو اوښ پمن شو او دهغه نه سل نور اوښان پمن شول نو ته ووايه اولني چا پمن کړي دي. او دستورو دتاثير عقيده لرل مثلا دفلاني ستوري په وجه په مونږ باندي باران اوشو.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي.

**تشريح** : په نسبونو طعن کول او په مړي نياحت (وير) کول که څوک حلال ګڼړي او کوي نو کافر کيږي او که څوک يي دبشري کمزورۍ په وجه وکړي نو کافر کيږي خو نه ليکن ګنهګاريږي به ضرور.

"الطعن في الاحساب" ددي مطلب دادی چي يو کس ته په طور دحقارت او توبيخ داسي اووئيلی شي چي ستا پلار خو فلانی کار کولو او ستا مور خو داسي داسي ده يا چاته دا پيغور ورکړی‌شي چي ته خو د دوبي، لوهار، موچي وغيره اولاد يي.
"النياحة" دنياحت نه مراد دادی چي خپل ځان وهي او جامي او ګريوان شلوي او واويلاء کوي علامه نووي وائي چي ددي کار دممنوع کيدو ډير وجوهات دی او نوحه دجاهليت دزماني رسم او يو کفري عمل دی او په دي وجه ناجائز دی.

******************

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٨٨٤)

## ٢٤_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

## په مړي دژړا کولو دکراهت بيان

١٠٠٢_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ صَالِحِ بْنِ كَيْسَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ". وَفِي الْبَابِ: عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ الْبُكَاءَ عَلَى الْمَيِّتِ، قَالُوا: الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ، وَذَهَبُوا إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ. وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: أَرْجُو إِنْ كَانَ يَنْهَاهُمْ فِي حَيَاتِهِ أَنْ لَا يَكُونَ عَلَيْهِ مِنْ ذَلِكَ شَيْءٌ. [1]

**ترجمه** دعمر بن الخطاب رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مړي ته دده دکور والاپه ده باندي ژړلو په سبب عذاب ورکولي شي

امام ترمذي وائي دعمر فاروق حديث صحيح دي، او په دي باب کي دابن عمر او عمران بن حصين رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي ، داهل علمو يو جماعت په مړي باندي ژړل مکروه تحريمي گنړلي دي دوئ وائي چي مړي ته په ده باندي دژړلو په وجه عذاب ورکولي شي او دوئ همدي حديث ته ذهاب کړي دي، ابن سبارك وائي زما اميد دي که چري دي مړي په زندگئ کي خلق ددي کار نه منع کول نو اوس به ده ته په دي باندي عذاب نشي ملاويدلي.

*****************

١٠٠٣_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمَّارٍ، حَدَّثَنِي أَسِيدُ بْنُ أَبِي أَسِيدٍ، أَنَّ مُوسَى بْنَ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ أَخْبَرَهُ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَا مِنْ مَيِّتٍ يَمُوتُ فَيَقُومُ بَاكِيهِ فَيَقُولُ: وَا جَبَلَاهْ وَا سَيِّدَاهْ أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ إِلَّا وُكِّلَ بِهِ مَلَكَانِ يَلْهَزَانِهِ أَهَكَذَا كُنْتَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [2]

---

[1] _ سنن النسائي في الجنائز ١٣ (١٨٥١) (تحفة الأشراف: ١٠٥٢٤) وأخرجه صحيح البخاري في الجنائز ٣٢ (١٢٨٧)، و٣٣ (١٢٩٠، ١٢٩١)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٢٧)، سنن النسائي في الجنائز ١٣ (١٨٤٩)، و١٥ (١٨٥٣)، سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٤ (١٥٩٣)، (تحفة الأشراف: ٩٠٣١)، مسند احمد (١في ٢٦، ٣٦، ٤٧، ٥٠، ٥١، ٥٤)، مسند احمد (٦ في ٢٨١)

[2] _ سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٤ (١٥٩٤) (تحفة الأشراف: ٩٠٣١)

**ترجمه** : دابوموسي اشعري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر څوك چي مړ شي او بيا هغه ته ژړا كونكي راشي او وائي هاي زما سرداره هاي زما غره يا ددي پشان نور الفاظ وائي نو دي دوه فرشتو ته حواله كولي شي او هغوئ ورته ديكي وركوي او دا ورته وائي ايا ته همداسي وي؟ امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي

*****************

## ٢٥_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي الْبُكَاءِ عَلَى الْمَيِّتِ

### په مړي باندي دژړا كولو درخصت بيان

١٠٠٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ عَبَّادٍ الْمُهَلَّبِيُّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَيِّتُ يُعَذَّبُ بِبُكَاءِ أَهْلِهِ عَلَيْهِ". فَقَالَتْ عَائِشَةُ: يَرْحَمُهُ اللَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلَكِنَّهُ وَهِمَ. إِنَّمَا قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ مَاتَ يَهُودِيًّا: "إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ وَإِنَّ أَهْلَهُ لَيَبْكُونَ عَلَيْهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَرَظَةَ بْنِ كَعْبٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ عَائِشَةَ، وَقَدْ ذَهَبَ أَهْلُ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا وَتَأَوَّلُوا هَذِهِ الآيَةَ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى (الأنعام آية)، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي مړي ته په ده باندي دده دكور والا ژړا په سبب عذاب وركولي شي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها به فرمائيل الله تعالي دي په ابن عمر رحم اوكړي هغه دروغ نه دي ونيلي مګر وهم ورته شوي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم خو دا خبره دهغه يهودي باره كي كړي وه څوك چي مړ شوي وو او مړي ته عذاب وركولي كيږي او دده كور والا په ده باندي ژړا كاني كوي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي دا حديث په نورو سندونو هم دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي، په دي باب كي دابن عباس دقرظه بن كعب، ابوهريره، ابن مسعود او اسامه بن زيد رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او بعضي اهل

---

[1] _ (تحفة الأشراف: ٨٥٦٣ و ١٦٨٣) وأخرجه صحيح البخاري في المغازي ٨ (٣٩٧٨)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٢٨، ٩٢٩)، سنن ابي داود في الجنائز ٢٩ (٣١٢٩)، سنن النسائي في الجنائز ١٥ (١٨٥٦)، مسند احمد (٢ في ٣٨)، و (٦ في ٣٩، ٥٧، ٩٥، ٢٠٩)

علمو همدي قول ته ذهاب كړي دي او دوئ دايت كريمه "ولا تزر وازرة وزر اخري" همدامطلب بيان كړي دي او همدا دامام شافعي قول هم دي

*****************

١٠٠٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ أَبِي لَيْلَى، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: أَخَذَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِيَدِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، فَانْطَلَقَ بِهِ إِلَى ابْنِهِ إِبْرَاهِيمَ فَوَجَدَهُ يَجُودُ بِنَفْسِهِ، فَأَخَذَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَهُ فِي حِجْرِهِ فَبَكَى، فَقَالَ لَهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ: أَتَبْكِي، أَوَلَمْ تَكُنْ نَهَيْتَ عَنِ الْبُكَاءِ، قَالَ: "لَا، وَلَكِنْ نَهَيْتُ عَنْ صَوْتَيْنِ أَحْمَقَيْنِ فَاجِرَيْنِ: صَوْتٍ عِنْدَ مُصِيبَةٍ، خَمْشِ وُجُوهٍ، وَشَقِّ جُيُوبٍ، وَرَنَّةِ شَيْطَانٍ". وَفِي الْحَدِيثِ كَلَامٌ أَكْثَرُ مِنْ هَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. [1]

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم عبدالرحمن بن عوف دلاس نه اونيولو او خپل ځوي ابراهيم ته يي بوتللو نو ويي ليدل چي ابراهيم اخري وخت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ابراهيم خپله غيږ كي راواخستلو او ويي ژړل عبدالرحمن بن عوف اووئيل ايا تاسو هم ژاړئ؟ او ايا تاسو په مړي دژړلو نه منع نه وه فرمائيلي؟ رسول الله اوفرمائيل نه ما خو دهغه دوه كم عقلو او فاجراوازونو نه منع فرمائيله يو خو دمصيبت په وخت كي اوازويستلو نه او بل دمخ زخمي كولو نه او دګريبان شلولو نه او دشيطان دنغمي ونيلو نه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي.

*****************

١٠٠٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، قَالَ: وحَدَّثَنَا، إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَمْرَةَ أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ، أَنَّهَا سَمِعَتْ عَائِشَةَ، وَذُكِرَ لَهَا أَنَّ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: "إِنَّ الْمَيِّتَ لَيُعَذَّبُ بِبُكَاءِ الْحَيِّ عَلَيْهِ". فَقَالَتْ عَائِشَةُ: غَفَرَ اللَّهُ لِأَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَمَا إِنَّهُ لَمْ يَكْذِبْ وَلَكِنَّهُ نَسِيَ أَوْ أَخْطَأَ، إِنَّمَا مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٢٨٣)

وَسَلَّمَ عَلَى يَهُودِيَّةٍ يُبْكَى عَلَيْهَا. فَقَالَ: "إِنَّهُمْ لَيَبْكُونَ عَلَيْهَا وَإِنَّهَا لَتُعَذَّبُ فِي قَبْرِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ ٧٤. (1)

**ترجمه** : دعمره رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چي ما دام المؤمنين عائشه نه اوريدلي دي چي دهغي په وراندي داذکر کړي شول ابن عمر رضي الله عنهما دا وائي چي مړي ته په هغه باندي دخلقو دژړلو په وجه عذاب ورکولي شي ام المؤمنين اوفرمائيل الله دي ابو عبدالرحمن ته مغفرت اوکړي هغه دروغ نه دي وئيلي بلکي دهغه نه هير شوي دي خبره صرف دومره وه چي ديوي يهوديه ښځي په خوا کي درسول الله تيريدل اوشول چي خلقو وربانديي ژړا کوله رسول الله اوفرمائيل دوئ په دي پسي ژاړي او ديته په قبر کي عذاب ورکولي شي.

*****************

## ٢٦ــ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ أَمَامَ الْجَنَازَةِ

### دجنازي نه دمخکي تلو بيان

١٠٠٧ــ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَإِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: "رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ". (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوابوبکر اوعمر او ټولو لره دجنازي نه مخکي په تلوباندي ليدلي دي.

*****************

---

1 ــ صحيح البخارى في الجنائز ٣٢ (١٢٨٩)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٣٢)، سنن النسائى في الجنائز ٧ (١٨٥) (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٨) وأخرجه صحيح البخارى في المغازي ٨ (٣٩٧٨)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٣١)، سنن ابى داود في الجنائز ٢٩ (٣١٢٩)، سنن النسائى في الجنائز ١٥ (١٨٥٦، ١٨٥٨، ١٨٥٩)، مسند احمد (٢ في ٣٨)، و (٦ في ٣٩، ٥٧، ٩٥، ٢٠٩)

2 ــ صحيح البخارى في الجنائز ٣٢ (١٢٨٩)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٣٢)، سنن النسائى في الجنائز ٧ (١٨٥) (تحفة الأشراف: ١٧٩٣٨) وأخرجه صحيح البخارى في المغازي ٨ (٣٩٧٨)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٣١)، سنن ابى داود في الجنائز ٢٩ (٣١٢٩)، سنن النسائى في الجنائز ١٥ (١٨٥٦، ١٨٥٨، ١٨٥٩)، مسند احمد (٢ في ٣٨)، و (٦ في ٣٩، ٥٧، ٩٥، ٢٠٩)

١٠٠٨ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ مَنْصُورٍ، وَزِيَادٍ، وَسُفْيَانَ، كلهم يذكر وَبَكْرٍ الكُوفِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَهُ مِنَ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ وَعُمَرَ يَمْشُونَ أَمَامَ الجَنَازَةِ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي ما نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوابوبكر اوعمر او ټولو لره دجنازي نه مخكي په تلوباندي ليدلي دي.

*****************

١٠٠٩ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: "كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ يَمْشُونَ أَمَامَ الجَنَازَةِ". قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَأَخْبَرَنِي سَالِمٌ، أَنَّ أَبَاهُ كَانَ يَمْشِي أَمَامَ الجَنَازَةِ. قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ أَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ هَكَذَا رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، وَزِيَادُ بْنُ سَعْدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ نَحْوَ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، وَرَوَى مَعْمَرٌ، وَيُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، وَمَالِكٌ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الحُفَّاظِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ "يَمْشِي أَمَامَ الجَنَازَةِ". وَأَهْلُ الحَدِيثِ كُلُّهُمْ يَرَوْنَ أَنَّ الحَدِيثَ المُرْسَلَ فِي ذَلِكَ أَصَحُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وسَمِعْت يَحْيَى بْنَ مُوسَى، يَقُولُ: قَالَ عَبْدُ الرَّزَّاقِ: قَالَ ابْنُ المُبَارَكِ: حَدِيثُ الزُّهْرِيِّ فِي هَذَا مُرْسَلٌ أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. قَالَ ابْنُ المُبَارَكِ: وَأَرَى ابْنَ جُرَيْجٍ أَخَذَهُ عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ زِيَادٍ وَهُوَ: ابْنُ سَعْدٍ، وَمَنْصُورٍ، وَبَكْرٍ، وَسُفْيَانَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، وَإِنَّمَا هُوَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، رَوَى عَنْهُ هَمَّامٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي المَشْيِ أَمَامَ الجَنَازَةِ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: أَنَّ المَشْيَ أَمَامَهَا أَفْضَلُ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، قَالَ: وَحَدِيثُ أَنَسٍ فِي هَذَا البَابِ غَيْرُ مَحْفُوظٍ. ([2])

---

[1] ـ صحيح البخارى في الجنائز ٣٢ (١٢٨٩)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٢٢)، سنن النسائي في الجنائز ٧ (١٨٥) (تحفة الأشراف: ١٦٩٣٨) وأخرجه صحيح البخارى في المغازي ٨ (٣٩٢٨)، صحيح مسلم في الجنائز ٩ (٩٢١)، سنن ابي داود في الجنائز ٢٩ (٣١٣٩)، سنن النسائي في الجنائز ١٥ (١٨٥٦، ١٨٥٨، ١٨٥٩)، مسند احمد (٢ في ٣٨)، و (٦ في ٣٩، ٥٦، ٩٥، ٢٠٩)

[2] ـ موطا امام مالک في الجنائز ٢ (٨)، انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ١٩٣٩٣)

**ترجمه** : دابن شهاب زهري قول دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ابوبكر او عمر رضي الله عنهما به دجنازي نه مخكي مخكي تلل زهري دا هم وائي چي ماته سالم بن عبدالله خبر راكړي دي چي دده پلار عبدالله بن عمر به دجنازي نه مخكي تلو.

امام ترمذي وائي دا حديث دعبدالله بن عمر دحديث پشان دي دي لره ابن جريج اوزياد بن سعد او بعضي نورو راويانو دزهري نه دابن عيينه دحديث پشان روايت نقل كړي دي. او زهري دسالم بن عبدالله نه او هغه دخپل پلار ابن عمر نه روايت نقل كړي دي، معمرو ديونس بن يزيد نه اوپه حافظانو كي دنورو راويانو نه هم زهري روايت نقل كړي دي چي رسول الله به دجنازي نه وړاندي تلو زهري وائي ماته سالم بن عبدالله خبر راكړي دي چي دده پلار ابن عمر به دجنازي نه مخكي تلو، دتمامو محدثينو رائي ده چي مرسل حديث په دي باب كي زيات صحيح دي، ابن مبارك وائي په دي سلسله كي دزهري حديث مرسل دي او دابن عيينه حديث زيات صحيح دي، ابن مبارك وائي زما خيال دي چي ابن جريج دا حديث دابن عيينه نه حاصل كړي دي، همام بن يحيىٰ داحديث دزياد بن سعد نه اوهغه دمنصور نه اومنصور دبكر اوسفيان نه او دوئ دزهري نه نقل كړي دي زهري دسالم بن عبدالله نه او سالم دخپل پلار ابن عمر نه او دسفيان نه مراد سفيان بن عيينه دي دچا نه چي مونږ روايت نقل كړي دي، او په دي باب كي دانس رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي او دانس حديث په دي باب كي غيرمحفوظ دي، دجنازي نه په مخكي تلو كي داهل علمو اختلاف دي دبعضي صحابه كرامو ددوئ نه پس داهل علمو داخيال دي چي دجنازي نه مخكي تلل افضل دي، امام شافعي او احمد بن حنبل رحمهما الله ددي قائل دي.

*****************

١٠١٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ يَزِيدَ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسٍ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ كَانُوا يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: سَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: هَذَا حَدِيثٌ خَطَأٌ، أَخْطَأَ فِيهِ مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، وَإِنَّمَا يُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ عَنْ يُونُسَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَبَا بَكْرٍ، وَعُمَرَ كَانُوا يَمْشُونَ أَمَامَ الْجَنَازَةِ، قَالَ الزُّهْرِيُّ: وَأَخْبَرَنِي سَالِمٌ، أَنَّ أَبَاهُ كَانَ يَمْشِي أَمَامَ الْجَنَازَةِ، قَالَ مُحَمَّدٌ: هَذَا أَصَحُّ. (1)

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ١٦ (١٤٨٣) (تحفة الأشراف : ١٥٦٣)

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم اوابوبكر او عمر اوعثمان رضي الله عنهم به دجنازي نه مخكي تلل.
امام ترمذي وائي ما دامام بخاري نه دي حديث باره كي تپوس اوكړو نوهغوئ اووئيل داحديث غلط دي په دي كي محمد بن بكر غلطي كړي ده دا حديث ديونس نه نقل كيږي او يونس دزهري نه مرسل روايت نقل كوي چي رسول الله اوابوبكر او عمر رضي الله عنهما به دجنازي نه مخكي تلل، زهري وائي ماته سالم بن عبدالله خبر راكړي دي چي دده پلار ابن عمربه دجنازي نه مخكي تللو محمد بن اسماعيل بخاري وائي دا زيات صحيح سند دي.

****************

## ٢٧_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ

### دجنازي نه دوروستو تللو بيان

١٠١١_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ يَحْيَى إِمَامِ بَنِي تَيْمِ اللَّهِ، عَنْ أَبِي مَاجِدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: سَأَلْنَا رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ، قَالَ: "مَا دُونَ الْخَبَبِ فَإِنْ كَانَ خَيْرًا عَجَّلْتُمُوهُ، وَإِنْ كَانَ شَرًّا فَلَا يُبَعَّدُ إِلَّا أَهْلُ النَّارِ الْجَنَازَةُ مَتْبُوعَةٌ وَلَا تَتْبَعُ وَلَيْسَ مِنْهَا مَنْ تَقَدَّمَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا يُعْرَفُ مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، قَالَ: سَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيلَ يُضَعِّفُ حَدِيثَ أَبِي مَاجِدٍ لِهَذَا، وقَالَ مُحَمَّدٌ: قَالَ الْحُمَيْدِيُّ: قَالَ ابْنُ عُيَيْنَةَ: قِيلَ لِيَحْيَى: مَنْ أَبُو مَاجِدٍ هَذَا، قَالَ: طَائِرٌ طَارَ فَحَدَّثَنَا، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ إِلَى هَذَا، رَأَوْا أَنَّ الْمَشْيَ خَلْفَهَا أَفْضَلُ، وَبِهِ يَقُولُ: سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَإِسْحَاق. قَالَ: إِنَّ أَبَا مَاجِدٍ رَجُلٌ مَجْهُولٌ لَا يُعْرَفُ، إِنَّمَا يُرْوَى عَنْهُ حَدِيثَانِ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَيَحْيَى إِمَامُ بَنِي تَيْمِ اللَّهِ ثِقَةٌ، يُكْنَى أَبَا الْحَارِثِ، وَيُقَالُ لَهُ: يَحْيَى الْجَابِرُ، وَيُقَالُ لَهُ: يَحْيَى الْمُجْبِرُ أَيْضًا، وَهُوَ كُوفِيٌّ، رَوَى لَهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَأَبُو الْأَحْوَصِ، وَسُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مادنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په جنازي پسي شاته دتلو باره كي تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل په درميانه رفتار سره تلل پكار دي چي تړپونه پكي نه وي كه چري مړي نيك وي نو په جلتئ سره يي قبر ته ورسوئ او

---

[1] _ سنن ابي داود في الجنائز ٥٠ (٣٠٨٣). سنن ابن ماجه في الجنائز ١٦ (١٤٨٤)

كه چري بد وي نو جهنميان خو ضرور لري غورځولي كيږي په جنازي پسي شاته تلل پكار دي او مخكي كيدل ورنه نه دي پكاري او څوك چي دجنازي نه مخكي خي دي دجنازي سره دتلونكو نه نه شميرلي كيږي.

امام ترمذي وائي داحديث دعبدالله بن مسعود نه صرف په همدي سند متصل دي ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه دابوحامد ددي روايت تضعيف اوريدلي دي دامام بخاري بيان دي حميري به وئيل چي سفيان بن عيينه وئيلي دي چي ديحي بن معين نه تپوس اوكړي شو چي ابوماجد څوك دي؟ هغوئ اووئيل يوه الوتلي مرغۍ وه چي مونږ ورنه روايت كړي دي يعني يو مجهول راوي دي.

**تشريح** : ابوعماره براه ابن عازب رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د اوو كارونو كولو حكم كړى دى ، دمريض تپوس كول، جنازى سره تلل، پرنجي كونكي ته يرحمك الله وئيل، كمزورى سره مدد كول، دمظلوم امداد كول، سلام عام كول، قسم پوره كول، او دا الفاظ دبخاري شريف ديو روايت دي.

دجنازو سره تلل اوپه دفن كي شريكيدل فقهاؤ فرض كفايه ګڼړلي دي. په ډيرو روايتونو كي ددي تاكيد راغلى دى دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمريض عيادت به كوئ او دجنازوسره به ځئ يقينا چي دا كارونه تاسوته اخرت رايادونكي دي .(شرح رياض الصالحين)

*****************

## ٢٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الرُّكُوبِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ

### په سورلئ باندي دسوريدو په حالت كي په جنازي پسي دتلو دكراهت بيان

١٠١٢ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ رَاشِدِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ ثَوْبَانَ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةٍ، فَرَأَى نَاسًا رُكْبَانًا، فَقَالَ: "أَلَا تَسْتَحْيُونَ، إِنَّ مَلَائِكَةَ اللَّهِ عَلَى أَقْدَامِهِمْ وَأَنْتُمْ عَلَى ظُهُورِ الدَّوَابِّ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، وَجَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ثَوْبَانَ قَدْ رُوِيَ عَنْهُ مَوْقُوفًا. قَالَ مُحَمَّدٌ: الْمَوْقُوفُ مِنْهُ أَصَحُّ.[1]

[1] ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ١٥ (١٤٨٠)

**ترجمه** : دثوبان رضي الله عنه بيأن دي فرمائي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره په يوه جنازه کي روان شو رسول الله څه کسان په سورلو سواره اوليدل نو ويي فرمائيل ايا تاسو نه شرميږئ دالله تعالي فرشتي پيدل رواني دي او تاسود څاروو په شاګانو ناست يئ.

امام ترمذي وائي دثوبان حديث موقوفاً هم مروي دي دامام بخاري قول دي ددوئ موقوف روايت زيات صحيح دي، په دي باب کي دمغيره بن شعبه، او جابر بن سمره رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي.

****************

## ٢٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

### په جنازي پسي دسورلۍ په حالت کي دتلو داجازت بيان

١٠١٣ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سِمَاكٍ، قَال: سَمِعْتُ جَابِرَ بْنَ سَمُرَةَ، يَقُولُ: "كُنَّا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَنَازَةِ أَبِي الدَّحْدَاحِ وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لَهُ يَسْعَى وَنَحْنُ حَوْلَهُ وَهُوَ يَتَوَقَّصُ بِهِ".[1]

**ترجمه** : جابر بن سمره رضي الله عنه وائي مونږ دنبي کريم صلي الله عليه وسلم سره دابو دحداح په جنازه کي موجود وو رسول الله دواپسئ وخت کي په يو اس باندي سور وو چي تيز روان وو او مونږ ورنه ګيرچاپير روان وو.

****************

١٠١٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الصَّبَّاحِ الْهَاشِمِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو قُتَيْبَةَ، عَنِ الْجَرَّاحِ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّبَعَ جَنَازَةَ أَبِي الدَّحْدَاحِ مَاشِيًا وَرَجَعَ عَلَى فَرَسٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٢٨ (٩٦٥)، سنن ابي داود في الجنائز ٤٨ (٣١٧٨)، مسند احمد (٥ في ٩٠) (تحفة الأشراف: ٢١٨٠) وأخرجه: سنن النسائي في الجنائز ٩٥ (٢٠٢٨)

[2] ـ صحيح البخاري في الجنائز ٥١ (١٣١٥)، صحيح مسلم في الجنائز ١٦ (٩٤٣)، سنن ابي داود في الجنائز ٥٠ (٣١٨١)، سنن النسائي في الجنائز ٣٣ (١٩١١)، سنن ابن ماجه في الجنائز ١٥ (١٤٧٧) (تحفة الأشراف: ١٣١٢٢) وأخرجه مالك في الجنائز ١٦ (٥٦)، موقوفاً على أبي هريرة.

**ترجمه** : دجابر بن سمره رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دابو دحداح دجنازي سره پيدل تلي وو او بيا په واپسئ كي په سورلئ سور راغلو امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٣٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الإِسْرَاعِ بِالْجَنَازَةِ

### په تيزئ سره دجنازي وړلو بيان

١٠١٥ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، سَمِعَ سَعِيدَ بْنَ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَسْرِعُوا بِالْجَنَازَةِ، فَإِنْ يَكُنْ خَيْرًا تُقَدِّمُوهَا إِلَيْهِ، وَإِنْ يَكُنْ شَرًّا تَضَعُوهُ عَنْ رِقَابِكُمْ ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي بَكْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دمړي په دفن كولو كي جلتي كوئ ځكه چي كه چرى دنيك بنده جنازه ده نو دانيكي خپل مقام ته زر اورسوئ او كه چرى هغه دبد كاره جنازه ده نو دابوج زر دخپلو اوږونه لرى كړئ.
امام ترمذي وايي په دي باب كي د ابو بكره نه هم روايت وارد دى، اود ابو هريره حديث حسن صحيح دى.

**لغات** : اسرعوا: سرع يسرع سرعة وسِرعا وسَرعا وسراعة: جلتي كول.

**تشريح** : مطلب دادى كله چي جنازه قبرستان ته ددفن كولو دپاره اوړئ نو په جلتئ جلتئ يي اورسوئ ليكن ددينه منډي وهل مراد نه دي بلكي متوسط رفتار مراد دى يعني دعام رفتا نه لږ زيات او دمنډو نه كم.

فان تك صالحة: كه دا جنازه دنيك سړي وي نو دا په جلتئ قبر ته ورسوئ ددي دپاره چي دالله اجر ته زر ورسيږي.

وان تك سوي ذلك: اوكه دا جنازه دبد كس وي او زندګي يي دالله په نافرمانئ كي تيره كړي وي نو په جلتئ سره يي دخپلو اوږو نه اوغورځوئ.

*****************

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٢١٣٢)

## ٣١_ باب مَا جَاءَ فِي قَتْلَى أُحُدٍ وَذِكْرِ حَمْزَةَ

### داحد دشهيدانو او حمزه بن عبدالمطلب رضي الله عنه ذكر

١٠١٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو صَفْوَانَ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: أَتَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى حَمْزَةَ يَوْمَ أُحُدٍ، فَوَقَفَ عَلَيْهِ فَرَآهُ قَدْ مُثِّلَ بِهِ، فَقَالَ: " لَوْلَا أَنْ تَجِدَ صَفِيَّةُ فِي نَفْسِهَا لَتَرَكْتُهُ حَتَّى تَأْكُلَهُ الْعَافِيَةُ حَتَّى يُحْشَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ بُطُونِهَا ". قَالَ: ثُمَّ دَعَا بِنَمِرَةٍ فَكَفَّنَهُ فِيهَا، فَكَانَتْ إِذَا مُدَّتْ عَلَى رَأْسِهِ بَدَتْ رِجْلَاهُ، وَإِذَا مُدَّتْ عَلَى رِجْلَيْهِ بَدَا رَأْسُهُ، قَالَ: فَكَثُرَ الْقَتْلَى وَقَلَّتِ الثِّيَابُ، قَالَ: فَكُفِّنَ الرَّجُلُ وَالرَّجُلَانِ وَالثَّلَاثَةُ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ، ثُمَّ يُدْفَنُونَ فِي قَبْرٍ وَاحِدٍ، فَجَعَلَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْأَلُ عَنْهُمْ: " أَيُّهُمْ أَكْثَرُ قُرْآنًا فَيُقَدِّمُهُ إِلَى الْقِبْلَةِ "، قَالَ: فَدَفَنَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. النَّمِرَةُ الْكِسَاءُ الْخَلَقُ، وَقَدْ خُولِفَ أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ، فَرَوَى اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ، وَرَوَى مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ، عَنْ جَابِرٍ، وَلَا نَعْلَمُ أَحَدًا ذَكَرَهُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، إِلَّا أُسَامَةَ بْنَ زَيْدٍ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: حَدِيثُ اللَّيْثِ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ جَابِرٍ أَصَحُّ. ([1])

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داحد په ورځ دحمزه دلاش خواته راغي او ورسره اودریدو نو ويي کتل چي لاش مثله کړې شوي دي نو ويې فرمائيل که چرې صفيه (دحمزه خور) پخپل زړه کي بده نه ګڼړلي نو ما به دي د دفن کولو نه بغير همداسي پريخودلي وو تردي چي درندګانو او مرغو به خوړلي وو او بيا به دي دقيامت په ورځ ددوئ دخيټو نه راپورته کيدو او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم نمر (يوزوړ څادر) راوغوښتلو او حمزه ته يي په دي کي کفن ورکړو کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم دده سر طرف ته څادر راښکلو نو دواړه خپي به يي بربنډي شوي او چي کله به يي خپو طرف ته راښکلو نو سر به يي بربنډ شو وجه دا وه چي دمقتولينو تعداد زيات وو او دکپړو کمي واقع شو چنانچه يو يو او دوه دوه او دري دري کسانو ته په يوه يوه کپړه کي کفن ورکړي

---

[1] _ سنن ابي داود في الجنائز ٣١ (٣١٣٦) (تحفة الأشراف : ١٤٧٧)

شو او بیا به تول په يو قبر کي دفن کولي شو رسول الله صلي الله عليه وسلم به د دوئ باره کي تپوس کولو چي په دوئ کي چاته قران زيات ياد دي نو هغه به يي قبلي ته مخامخ کولو تردي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا شهيدان دفن کړل او جنازه يي ورباندي اونکړه.

امام ترمذي وائئ دانس حديث حسن غريب دي او مونږ يي صرف په همدي سند پيژنو ددي حديث په روايت کي داسامه بن زيد مخالفت شوي دي، ليث بن سعد په سند د عن ابن شهاب عن عبدالرحمن بن کعب عن مالك بن جابر بن عبدالله بن زيد ، او معمرو په سند د عن الزهير عن عبدالله بن ثعلبه عن جابر زمونږ په علم کي داسامه بن زيد نه علاوه بل څوك نشته چي دا يي دزهري په واسطه دانس نه نقل کړي وي، ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه دي حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغوئ اووئيل دليث حديث په سند دعن ابن شهاب عن عبدالرحمن بن کعب عن جابر زيات صحيح دي "نمرة" زوړ څادر ته وئيلي شي.

**تشريح** : قاضي ثناء الله پخپل تفسير کي ددي حديث نه څه مستنبط فقهي مدلل مسائل بيان کړي دي چي په لاندينو کرښو کي يي نقل کوو:

**مسئله:** دعلماؤ اجماع منعقد شوي ده چي شهيد ته به غسل نه شي ورکولي ځکه چي داحد شهيدانو ته غسل نه وو ورکړي شوي اورسول الله حکم کړي وو چي ددوئ اصلحي اوسامان ورنه لري کړئ اوباقي ويني اوکپړي ورنه مه لري کوئ اودفن يي کړئ (رواه ابو داود وابن ماجه عن ابن عباس).

نسائي په صحيح سند سره دعبدالله بن ثعلبه روايت بيان کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دوينو سره يي خښ کړئ دا ځکه څوك چي دالله په لار کي زخمي شي هغه به په قيامت کي دوينو سره راځي دده دوينو رنګ به دوينو پشان وي ليکن خوشبو به يي دمشکو پشان وي ، ددي بحث يو حديث دجابر رضي الله عنه په روايت سره هم راغلي دي چي ديو سړي سينه په غشي اوويشتلي شوه او په دي باندي مړ شو اوده لره په همدغه جامو کي همدغه شان اونغښتلي شو او دفن کړي شو اومونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هم رکاب وو (رواه ابو داود علي شرط مسلم).

**مسئله:** که چري دجنابت په حالت کي څوك شهيد شي نو ايا ده ته به غسل ورکولي شي ؟ دا مسئله اختلافي ده

(۱) امام ابو حنيفه او امام احمد رحمهما الله په نزد به ورته غسل ورکولي شي.

(۲) امام مالك او امام شافعي رحمهما الله وائي چي غسل به ورته نه شي ورکولي ځکه چي درسول الله فرمان "زملوهم بدمائهم" عام دي ، دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد باندي دحنظله بن ابي عامر قصه ماخذ داستدلال دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو

ما اوليدل چي فرشتو حنظله بن ابي عامر لره دزمکي او اسمان په مينځ کي دسپيني وريځي په اوبو سره دسپينو زرو په لوښو کي غسل ورکولو ، دابو اسيد ساعدي رضي الله عنه بيان دي چي مونږ لاړو دحنظله لاش مو اوليدو اودسر نه يي اوبه څڅيدلي زه چي واپس راغلم نو رسول الله ته مي ددي خبر ورکړو نبي کريم صلي الله عليه وسلم دده دښځي نه دمعلومات حاصلولو دپاره هغي ته څوك ورواليږلو هغي اووئيل دجنابت په حالت کي بهر تلي وو ،حنظله ته په دي وجه باندي غسيل الملائکه وئيلي شي.

ابن جوزي دا حديث دمحمد بن سعد په روايت سره مرسل نقل کړي دي او ابن حبان او حاکم او بيهقي داسحاق په سند سره مسند نقل کړي دي حاکم په "اکليل " کي دابو اسيد په روايت سره هم دا روايت نقل کړي دي ليکن سند يي ضعيف دي ، حاکم په مستدرك کي او طبراني او بيهقي دابن عباس رضي الله عنه په روايت سره هم دا حديث بيان کړي دي ليکن دحاکم په روايت کي معلي بن عبدالرحمن رواي دي او هغه متروك دي اودطبراني په اسناد کي حجاج مدلس دي اودبيهقي په سند کي ابوشيبه واسطي ضعيف دي.

**مسئله:** علماؤ اختلاف کړي دي په باره دجنازي کولو کي په شهيد باندي :

(۱) امام شافعي وائي چي جنازه به ورباندي نشي کولي.

(۲) امام ابوحنيفه او امام مالك رحمة الله عليهما فرمائي چي په شهيد باندي دي جنازه وکړي شي ، اود امام احمد نه دواړه روايتونه منقول دي، زمونږ دليل دادي چي دجنازي مونځ ياخو دګناهونو دمغفرت دپاره دي يا دمړي دعزت دپاره دي او د درجاتو دبلندئ دپاره دي ، اوشهيد دعزت زيات مستحق دي، که چري په مونځ نه کولو کي تکريم وي نو بيا رسول الله ددي زيات مستحق وو ، په هغه باندي دجنازي مونځ شوي وو ، حالانکه اجماعا په هغه باندي جنازه شوي ده او اصل مونځ کول دي، امام شافعي په حديث دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه استدلال کړي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم به په يوه کپړه کي داحد دوه دوه شهيدان په کفن کول اوبيابه ئي تپوس کولو کوم يو په دوئ کي مشر دي نوچي کوم يوته به اشاره وشوه هغه به ئي لحد ته مخکي کوزولو اوبيا به ئي فرمائيل زه به په دوئ باندي دقيامت په ورځ ګواهي کوم اوحکم به ئي کولو په دفن کولو ددوئ په جامو ددوئ کي او مونځ ني ورباندي ندي کړي اونه ئي غسل ورکړي (رواه البخاري في صحيحه والنسائي وابن ماجة

و ابن حبان

وصححه وقد اعله اوبخاري دا روايت معلول ګنړلي دي او وئيلي ئي دي چي داسامة بن زيد روايت عن زهري عن انس غلط دي) بخاري دجابر رضي الله عنه پورتني خديث ته ترجيح ورکړي ده ، دامام شافعي داستدلال نه جواب دادي چي شايد رسول الله صلي الله عليه وسلم به داحد په شهيدانو مونځ ځکه نه وي کړي چي هغه پخپله زخمي شوي وو او غابنونه مبارك ئي هم شهيدان شوي وو ډيره ممکنه وه چي بل چا وربانديي کړي وي ، ددي احتمال تائيد هغه حديث هم کوي کوم چي ابوداود په مراسيل کي اوحاکم اوطحاوي دانس رضي الله عنه نه بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دحمزه رضي الله عنه په خوا کي تير شو اوهغه مثله کړي شوي وو ، اورسول کريم صلي الله عليه وسلم دحمزه رضي الله عنه نه علاوه په بل کوم شهيد باندي جنازه ونکړه ، دطحاوي په روايت کي دومره اضافه ده چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زه به دقيامت په ورځ ستاسو دټولو ګواه يم.

*****************

## ٣٢ـ باب آخَرُ

### دجنازي متعلق يو بل باب

١٠١٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنْ مُسْلِمٍ الأَعْوَرِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُ الْمَرِيضَ، وَيَشْهَدُ الْجَنَازَةَ، وَيَرْكَبُ الْحِمَارَ، وَيُجِيبُ دَعْوَةَ الْعَبْدِ، وَكَانَ يَوْمَ بَنِي قُرَيْظَةَ عَلَى حِمَارٍ مَخْطُومٍ بِحَبْلٍ مِنْ لِيفٍ عَلَيْهِ إِكَافٌ مِنْ لِيفٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُسْلِمٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَمُسْلِمٌ الأَعْوَرُ يُضَعَّفُ، وَهُوَ مُسْلِمُ بْنُ كَيْسَانَ الْمُلَائِيُّ تُكُلِّمَ فِيهِ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ. ([1])

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به دمريض عيادت کولو او په جنازو کي به يي شرکت کولو او په خر به يي سورلي کوله او دغلامانو دعوت به يي قبلولو ، دبنوقريظه په ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم په يو داسي خر سور وو چي واګي يي دکجورو دپاڼو نه جوړي شوي وي او زين وربانديي هم تړلي شوي وو. امام ترمذي وائي مونږ ته دا حديث صرف دمسلم په روايت رارسيدلي دي کوم چي هغه دانس نه نقل کړي دي او مسلم اعور دمحدثينو په نزدضعيف دي او همدي مسلم بن کيسان ملائي دي چي کلام وربانديي شوي دي او دده نه شعبه اوسفيان نقل دروايت کړي دي.

*****************

[1] ـ سنن ابي داود في التجارات ٦٦ (٢٢٩٦)

## ٣٣_ باب

### ددفن متعلق يوبل باب

١٠١٨_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: لَمَّا قُبِضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخْتَلَفُوا فِي دَفْنِهِ، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ: سَمِعْتُ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا مَا نَسِيتُهُ، قَالَ: " مَا قَبَضَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا فِي الْمَوْضِعِ الَّذِي يُحِبُّ أَنْ يُدْفَنَ فِيهِ ". ادْفِنُوهُ فِي مَوْضِعِ فِرَاشِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ الْمُلَيْكِيُّ يُضَعَّفُ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، فَرَوَاهُ ابْنُ عَبَّاسٍ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا.[1]

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي فرماني كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو دده د دفن كولو متعلق په خلقو كي اختلاف پيدا شو، ابوبكر رضي الله عنه اووئيل ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يوه داسي خبره اوريدلي دي كومه چي ما هيره كړي نه ده او هغه داده فرمائيل يي څومره انبياء چي الله تعالي راليږلي دي او الله تعالي دهغوئ روحونه قبض كړي دي هغوئ چي به چرته دفن كيدل خوښول په هم هغه مقاماتو كي دفن كړي شوي دي نو په دي وجه تاسو ده لره دده دبسترې په ځاي باندي دفن كړئ.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او عبدالرحمن بن ابي بكر مليكي دحافظي په اعتبار ضعيف ګنړلي شوي دي دا حديث ددي سند نه علاوه په بل سند هم مروي دي، ابن عباس دابوبكر صديق نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه هم نقل كړي دي.

*****************

## ٣٤_ باب آخَرُ

### دمړي متعلق يوبل باب

١٠١٩_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ أَنَسٍ الْمَكِّيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " اذْكُرُوا مَحَاسِنَ مَوْتَاكُمْ وَكُفُّوا عَنْ مَسَاوِيهِمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَالَ: سَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: عِمْرَانُ بْنُ أَنَسٍ الْمَكِّيُّ

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٦٣٤ و١٦٢٣٥)

مُنْكَرُ الْحَدِيثِ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَ: وَعِمْرَانُ بْنُ أَبِي أَنَسٍ مِصْرِيٌّ أَقْدَمُ وَأَثْبَتُ مِنْ عِمْرَانَ بْنِ أَنَسٍ الْمَكِّيِّ. (1)

**ترجمه** : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو دخپلو مړو نيکياني بيانوئ او دبديانو بيانولو نه يي منع شئ.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي عمران بن انس مکي منکر الحديث دي، بعضي راويانودا روايت دعطاء نه او عطاء دعائشه نه نقل کړي دي، عمران بن ابي انس مصري د عمران بن انس مکي نه مخکي تير شوي دي او دده نه زيات ثقه دي.

****************

## ٣٥ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْجُلُوسِ قَبْلَ أَنْ تُوضَعَ

### دجنازي دايخودلو نه مخکي دکيناستلو دکراهت بيان

١٠٢٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا صَفْوَانُ بْنُ عِيسَى، عَنْ بِشْرِ بْنِ رَافِعٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ سُلَيْمَانَ بْنِ جُنَادَةَ بْنِ أَبِي أُمَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اتَّبَعَ الْجَنَازَةَ لَمْ يَقْعُدْ حَتَّى تُوضَعَ فِي اللَّحْدِ. فَعَرَضَ لَهُ حَبْرٌ، فَقَالَ: هَكَذَا نَصْنَعُ يَا مُحَمَّدُ، قَالَ: فَجَلَسَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ: " خَالِفُوهُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَبِشْرُ بْنُ رَافِعٍ لَيْسَ بِالْقَوِيِّ فِي الْحَدِيثِ. (2)

**ترجمه** : دعباده بن صامت رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي کله چي به نبي کريم صلي الله عليه وسلم دجنازي سره تلو نو څو پوري چي به جنازه په لحد (بغلي قبر) کي ايخودلي شوي نه وه ترهغي به نه کيناستلو، يو خل يو يهودي عالم راغي او نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته يي اووئيل اي محمد مونږ هم داسي کوو رسول الله صلي الله عليه وسلم کيناستو او ويي فرمائيل تاسو ددي مخالفت اوکړئ.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او بشر بن رافع په حديث کي زيات قوي نه دي.

**مسئله**: کله چي مړی واخلی اود هغه قبره پوري اورسی.نوترڅو پورې چی جنازه په زمکه کيخودلی شوې نه وی ترهغي نو دخلقو کيناستل مکروه دی. ددي دوه دلائل دي:

---

1 ـ سنن ابي داود في الأدب ٥٠ (٤٩٠٠) (تحفة الأشراف: ٧٢٢٨)

2 ـ سنن ابي داود في الجنائز ٤٧ (٣١٧٦). سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٥ (١٥٤٥) الأرواء ٣ في ١٩٣)

(۱) ځکه چې کله کله په جنازه کښې د جنازې اوړونکو سره د مدد ضرورت پيښيږي. او د هغوی سره په وخت باندې مدد کول په هغه وخت کې ممکن وي.چې دوی ولاړ وي.ځکه وئيلې شوی دی.چې دجنازې په زمکه باندې دکيخودلونه وړاندې د خلقو کيناستل مکروه دی. اوکله چې جنازه په زمکه باندې کيخودلې شي.نواوس ولاړ پاتې کيدل مکروه دی.
(۲) دويم دليل دا دی .چې جنازې ته د حاضرويدو په وخت کې د مړي عزت کول مستحب دې.اود جنازې کيخودلو نه وړاندې دخلقو کيناستل د مړي دپاره تحقير دې.نو ځکه دی دجنازې کيخودلو نه وړاندې نه کينی.
د جنازې پورته کولو کيفيت دا دې چې اول دی د جنازې وړاندينۍ حصه کښې د مړي ښي طرف په خپل ښيۍ اوږه باندې کيږدی.بيا دغه شان د مړي د پښو طرف دی په خپله ښيۍ اوږه باندې کيږدی. (احسن الهدايه، والکفايه علي الهدايه)

****************

## ۳۶_ باب فَضْلِ الْمُصِيبَةِ إِذَا احْتَسَبَ

### په مصيبت باندې دثواب په نيت دصبر کولو دفضيلت بيان

۱۰۲۱_ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سِنَانٍ، قَالَ: دَفَنْتُ ابْنِي سِنَانًا، وَأَبُو طَلْحَةَ الْخَوْلَانِيُّ جَالِسٌ عَلَى شَفِيرِ الْقَبْرِ، فَلَمَّا أَرَدْتُ الْخُرُوجَ أَخَذَ بِيَدِي، فَقَالَ: أَلَا أُبَشِّرُكَ يَا أَبَا سِنَانٍ، قُلْتُ: بَلَى، فَقَالَ: حَدَّثَنِي الضَّحَّاكُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَرْزَبٍ، عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا مَاتَ وَلَدُ الْعَبْدِ، قَالَ اللهُ لِمَلَائِكَتِهِ: قَبَضْتُمْ وَلَدَ عَبْدِي؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: قَبَضْتُمْ ثَمَرَةَ فُؤَادِهِ؟ فَيَقُولُونَ: نَعَمْ، فَيَقُولُ: مَاذَا قَالَ عَبْدِي، فَيَقُولُونَ: حَمِدَكَ وَاسْتَرْجَعَ، فَيَقُولُ اللهُ: ابْنُوا لِعَبْدِي بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ وَسَمُّوهُ بَيْتَ الْحَمْدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

**ترجمه** : دابوسنان رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما خپل خوي سنان دفن کړو او طلحه خولاني دقبر په موړګه ناست وو کله چي ما دقبر نه دوتلو اراده اوکړه نو هغه زما لاس اونيولو او وېي وئيل اي ابو سنان ايا زيري درته درنکړم؟ ما عرض اوکړو ولي نه ضرور يي راکړه نو هغه اووئيل ماته ضحاک بن عبدالرحمن بن عرزب روايت بيان کړي دي چي ابو موسي اشعري رضي الله عنه وائي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي ديو بنده بچي وفات

---

[1] ـ تفرد به المؤلف وانظر: مسند احمد (۴ في ۴۱۵) (تحفة الأشراف: ۹۰۰۵)

شي نو الله تعالي ملائكو ته وائي چي څما دبنده اولاد مو واخستلو هغوئ وائي هو، بيا الله پاك وائي چي دهغه دزړه ټكړه مو راوړه هغوئ وائي هو نو الله پاك ترينه تپوس كوي چي هغه وخت څما بنده څه اووئيل ملائكې وائي هغه ستا حمد بيان كړو او انا لله يې اولوستلو، بيابه الله تعالي حكم اوكړي چي څما ددې بنده دپاره په جنت كي يو محل تيار كړئ او دهغې نوم بيت الحمد كيږدئ.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دى.

**لغات** : فؤاد: زړه جمع يې افئدة راځي ، حمد: حمد حمدا ومحمدا ومحمدة دفضيلت په بنا دچا تعريف كول ، احمد : قابلِ تعريف ګرځول ، يا قابل تعريف كيدل.

مات ، مړ شو يا دهوا بنديدل ماته دنصر نه موتا مړكيدل، قبضتم: نيول وژل قبض دضرب نه قبضا نيول وفات كول، فواده: زړه دلته ورنه اولاد مراد دى استرجع: ان لله وانا اليه راجعون وئيل سموه لوړيدل .

**تشريح** : "قبضتم ثمرة فؤاده" يعني دده دزړه ټكړه مو واخستله كله چي دچا كوم ماشوم وي نو دهغه سره يې دځان نه هم زيات محبت وي مګر كله چي دهغه په وفات كيدو دجزعي فزعي كولو په ځاي دالله تعريف بيان كړي چي دا دالله امانت وو او الله تعالي واپس واخستلو نو په دي باندي الله خوشحاليږي او دده دپاره په جنت كي يو كور تياروي.

بخاري دابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دالله پاك ارشاد دى چي كله زه ديوه بنده محبوب څيز دهغه نه واخلم او هغه څما په رضا باندي راضي شي او صبر اوكړي نو دهغه اجر او بدله دجنت په صورت كي وركوم.

مطلب دادى كله چي دچا څوك مړ شي او بيا هغه په دي باندي صبر اوكړي نو ددي صبر كولو په بدل كي الله تعالي ده ته جنت وركوي.

ددينه معلومه چي داهل اخرت نه كه كوم محبوب څيز فوت شي نو پدي دي صبر وكړي پدي سعادت ملاويږي او الله راضي كيږي اود الله رضا خو دهرڅيز نه بهترين څيز دي.

ددي حديث نه معلومه شوه چي كله څوك په مصيبت صبر كوي نو ده ته به ددي بدله ډيره زياته زر وركړى شي دويمه ورنه دا خبره هم معلومه شوه چي هر څنګه حال كي راځي خو انسان به په هغي صبر كوي.

سوال: الله تعالي عالم الغيوب والشهادة دى نو دفرشتو نه يې ولي سوال اوكړو؟

جواب: كله چي الله تعالي دانسان دپيدا كولو اراده اوكړه نو د فرشتو نه يې مشوره غوښتلې وه نو فرشتو دانسانانو په باره كي وئيلي وو اتجعل فيها من يفسدفيها الخ، نو الله تعالي فرشتي پوهول غواړي چي په چا باندي تاسو دهنريزئ الزام لګوئ هغوئ اوګورئ چي په هر

حال كي زما تعريف كوي لكه څرنګه چي دي كس په دنيا كي په هر وخت كي دالله حمد ادا كولو نو ده ته به په جنت كي بيت الحمد وركړى شي تردي چي هر چاته ظاهره شي چي په هر حال كي به يي دالله تعالي تعريف كولو.

*****************

## ٣٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّكْبِيرِ عَلَى الْجَنَازَةِ

### په جنازه كي دتكبيراتو وئيلو بيان

١٠٢٢_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى النَّجَاشِيِّ فَكَبَّرَ أَرْبَعًا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَجَابِرٍ، وَيَزِيدَ بْنِ ثَابِتٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَيَزِيدُ بْنُ ثَابِتٍ هُوَ أَخُو زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ وَهُوَ أَكْبَرُ مِنْهُ شَهِدَ بَدْرًا، وَزَيْدٌ لَمْ يَشْهَدْ بَدْرًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، يَرَوْنَ التَّكْبِيرَ عَلَى الْجَنَازَةِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائيل يي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په نجاشي جنازه اوكړه او څلور تكبيرونه يي اووئيل.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عباس، ابن ابي اوفي، جابر بن يزيد بن ثابت او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او يزيد بن ثابت دزيد بن ثابت ورور دي او دي ورنه مشر دي او په بدر كي شريك شوي دي او زيد په بدر كي نه وو شريك شوي داكثرو صحابه كرامو او داهل علمو په دي باندي عمل دي ددوئ رائي داده چي دجنازي په مونځ كي څلور تكبيرونه دي، سفيان ثوري ، مالك بن انس، ابن مبارك ، شافعي، احمد بن حنبل، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي.

**تشريح** : په دي باب كي دوه مسائل مختلف فيه دي:

---

1 _ صحيح البخاري في الجنائز ٥٢ (١٣١٨). سنن النسائي في الجنائز ٧٢ (١٩٧٣). سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٣ (١٥٣٤) (تحفة الأشراف: ١٣٢٦٧) (صحيح البخاري في الجنائز ٤ (١٢٤٥)، و٦٣ (١٣٣٣). والمناقب ٣٨ (٣٨٨٠، ٣٨٨١). صحيح مسلم في الجنائز ٢٢ (٩٥١). سنن ابي داود في الجنائز ٦٢ (٣٢٠٤). سنن النسائي في الجنائز ٧٢ (١٩٧٣)، و٧٦ (١٩٨٢). موطأ امام مالك في الجنائز ٥ (١٤). مسند احمد (٢ في ٢٨٩، ٤٣٨، ٥٢٩)

**اوله مسئله:** غائبانه جنازه كول جائز دي اوكه نه؟
(۱) د امام ابو حنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد جائز نه ده.
(۲) د امام شافعي او امام احمد رحمهما الله په نزد جائز ده.
**۲ مسئله:** د جنازي په مونځ تكبيرونه څو دي؟
(۱) د جمهور فقهاؤ او محدثينو په نزد په جنازه كي تكبيرو نه څلور دي.
(۲) اود غير مقلدينو په نزد د څلورو نه زيات دي.
در حقيقت په جنازه كي د څلورو نه نهو پوري تكبيرات ثابت دي، ليكن د جمهورو په نزد د روايات صحيحه په بنا څلور راجح دي.
ددوئ اول دليل حديث الباب دى.
و دويم دليل: رسول الله د علي رضي الله عنه د مور په جنازه كي څلور تكبيرونه وئيلي وو.
دريم دليل: بيهقي د ابو وائل نه روايت نقل كړى دى چي د عمر فاروق په زمانه كي په جنازه كي څلور تكبيرونه وئيلى كيدل، او په خلقو كي اختلاف پيدا شو نو عمر فاروق ټول علماء راجمع كړل او په څلورو يي متفق كړل (عنايه، فتح القدير).

****************

١٠٢٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي لَيْلَى، قَالَ: كَانَ زَيْدُ بْنُ أَرْقَمَ يُكَبِّرُ عَلَى جَنَائِزِنَا أَرْبَعًا، وَإِنَّهُ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ خَمْسًا، فَسَأَلْنَاهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمْ رَأَوْا التَّكْبِيرَ عَلَى الْجَنَازَةِ خَمْسًا، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: إِذَا كَبَّرَ الْإِمَامُ عَلَى الْجَنَازَةِ خَمْسًا فَإِنَّهُ يُتَّبَعُ الْإِمَامُ. [1]

**ترجمه:** دعبدالرحمن بن ابي ليلي بيان دي فرمائي چي زيد بن ارقم رضي الله عنه به زمونږ په جنازو څلور تكبيرونه وئيل او هغه په يوه جنازه كي پنځه تكبيرونه اووئيل نو مونږ ورنه دد د وجي تپوس اوكړو نو وي فرمائيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به هم داسي كول.
امام ترمذي وائي دزيد بن ارقم حديث حسن صحيح دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضو هم په دي باندي هم قول كړي دي ددوئ رائي داده چي په جنازه كي تكبيرونه پنځه دي،

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٢٣ (٩٥٧). سنن ابي داود في الجنائز ٥٨ (٣١٩٧). سنن النسائي في الجنائز ٧٤ (١٩٨٣). سنن ابن ماجه في الجنائز ٢٥ (١٥٠٥). (تحفة الأشراف: ٣٦٧١). مسند احمد (٣ في ٣٦٧، ٣٦٨، ٣٧٠، ٣٧٢)

امام احمد او اسحاق رحمهما الله وائي كله چي امام په جنازه كي پنځه تكبيرونه اووائي نو دامام پيروي دي اوكړي شي (يعني مقتدي به هم پنځه تكبيرونه وائي).

## دزيد بن ارقم رضي الله عنه حالات:

نوم زيد كنيه ابوعمر قبيله خزرج په ماشومۍ كي يتيم شوى وو او پرورش يي خپل تره عبدالله بن رواح رضي الله عنه اوكړو او همدا دزيد په اسلام كي دداخليدو سبب اوګرځيدو دماشوموالي په وجه په عزواتو كي شريك شوى نه وو او شركت يي په غزوه خندق كي كړى وو دى پخپله وائي ما په اولس غزواتو كي شركت كړى دى، په دربار رسالت كي ډير مقرب وو كله چي به بيمار شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به يي عيادت له راتلو يو ځل يي په ستركه درد راغلى وو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دده دعيادت دپاره راغى دجوړيدو نه پس يي ورنه تپوس اوكړو كه دا مرض اوس هم باقي پاتي شوى وى نو څه به دي كول زيد عرض اوكړو چي صبر او داجر اميد به مي كولو رسول الله ورته اوفرمائيل كه داسي دي كولى نو دالله تعالي په وړاندي به بي ګناه ګرځيدلى وى (مسند احمد).

په ٦٨هجري كي په كوفه كي وفات شوى دى او دا دمختار بن ابي عبيد ثقفي زمانه وه دمروياتو شمير يي ٩٠ دى مزيد حالات يي ابن سعد په طبقات كي ذكر كړي دي.

****************

## ٣٨_ باب مَا يَقُولُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ

## دجنازي په مونځ كي څه وئيل پكار دي

١٠٢٤_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا هِقْلُ بْنُ زِيَادٍ، حَدَّثَنَا الأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، حَدَّثَنِي أَبُو إِبْرَاهِيمَ الأَشْهَلِيُّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى عَلَى الْجَنَازَةِ، قَالَ: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا". قَالَ يَحْيَى: وَحَدَّثَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ ذَلِكَ، وَزَادَ فِيهِ: "اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الإِيمَانِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَعَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ وَالِدِ أَبِي إِبْرَاهِيمَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرَوَى هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، وَعَلِيُّ بْنُ الْمُبَارَكِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا، وَرَوَى عِكْرِمَةُ بْنُ عَمَّارٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَحَدِيثُ عِكْرِمَةَ بْنِ عَمَّارٍ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَعِكْرِمَةُ رُبَّمَا يَهِمُ فِي حَدِيثِ

يَحْيَى، وَرُوِي عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي قَتَادَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وسَمِعْت مُحَمَّدًا يَقُولُ: أَصَحُّ الرِّوَايَاتِ فِي هَذَا حَدِيثُ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي إِبْرَاهِيمَ الْأَشْهَلِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، وَسَأَلْتُهُ عَنِ اسْمِ أَبِي إِبْرَاهِيمَ فَلَمْ يَعْرِفْهُ.[1]

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه وائي ابوقتاده او ابو ابراهيم اشهلي دخپل پلار نه چي صحابي وو «رضي الله عنه» روايت بيانوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوه جنازه باندی دا دعا اولوستله ای الله «زمونږ ژوندي هم اوبخښی اومړي هم، واړه هم، اولوئ هم، سړي هم اوښځی هم کوم چي زمونږ سره دي هغوي هم او کوم چي زمونږ نه غائب دي هغوي هم، ای الله په مونږ کي چي چا ته ژوند ورکوی نو هغه په السلام باندی ژوندی اوساتی اوچاته چي مرګ ورکړی هغه ته په ايمان باندي مرګ ورکړی.

امام ترمذي وائي دابراهيم دپلار حديث حسن صحيح دي، هشام دستوائي علي بن مبارك دا حديث په سند د يحیٰ بن ابي كثير عن ابي سلمة بن عبدالرحمن عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسلا سره نقل كړي دي، او عكرمه بن عمار په سند د يحیٰ بن ابي كثير عن ابي سلمة عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي مګر دعكرمه بن عمار حديث محفوظ نه دي عكرمه اكثر ديحي بن ابي كثير په احاديثو نقل كولو كي په وهم كي واقع كيږي، او دارنګي دا حديث په سند د يحیٰ بن ابي كثير عن عبدالله بن ابي قتادة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم مروي دي ما دامام بخاري نه اوريدلي دي چي په دي سلسله كي ديحي بن ابي كثير حديث كوم چي هغوئ په سند د ابي ابراهيم الاشهلي عن ابيه سره نقل كړي دي دټولو نه زيات صحيح روايت دي او ما ورنه دابوابراهيم دنوم تپوس اوكړو نو ويي نه پيژندلو، په دي باب كي د عبدالرحمن، عائشه، ابوقتاده، عوف بن مالك او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : فتوفه: توفي توفيا پوره كيدل ، مړ كولو ته هم توفي وئيلي شي.

**تشريح** : په پورتني روايت كي چي كومه دعا منقول ده دا دجنازي په دريم تكبير كي مشهوره دعا ده او په همدي دعا وئيلو دعام امت عمل دی.

****************

١٠٢٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا مُعَاوِيَةُ بْنُ صَالِحٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى

---

[1] ـ سنن النسائي في عمل اليوم والليلة ٣١٣ (١٠٨٣)

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى مَيِّتٍ، فَفَهِمْتُ مِنْ صَلَاتِهِ عَلَيْهِ: "اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَاغْسِلْهُ بِالْبَرَدِ وَاغْسِلْهُ كَمَا يُغْسَلُ الثَّوْبُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ مُحَمَّدٌ: أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا الْبَابِ هَذَا الْحَدِيثُ.[1]

**ترجمه** : دعوف بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په مړي باندي جنازه كول اوريدلي دي او ما دهغه دمونځ نه دا كلمات ياد كړي دي

"اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَاغْسِلْهُ بِالْبَرَدِ وَاغْسِلْهُ كَمَا يُغْسَلُ الثَّوْبُ"

يعني اي الله دي مړي ته مغفرت اوكړي او په ده باندي رحم اوكړي او ده لره په واوره اووينځي او ده لره دګناهونو نه داسي پاك كړي څنګه چي جامي دخيري نه پاكولي شي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دمحمد بن ابراهيم بخاري قول دي دا حديث په دي باب كي دټولو نه زيات صحيح حديث دي.

**تشريح** : دجنازي په مونځ كي د دريم تكبير نه پس هره يوه دعا لوستلي شئ مګر ددي خبري خيال ساتل پكار دي چي په دعا كي به دمړي دپاره دمغفرت دعا غوښتل شامل وي او د واورئ او ګلئ تخصيص يي څكه كړي دي چي واوره قدرتي وي او كه دكارخاني جوړه وي خو خيري ختموي او مذكوره دعا دلته مختصر ده مګر په مشكواة كي رقم ۱۶۵۵ كي په تفصيل سره ده او امام بخاري داحديث په دي باب كي اصح ګرځولي دي

**عوف بن مالك اشجعي رضي الله عنه حالات**

نوم عوف دپلار نوم مالك كنيه ابو عبدالرحمان قبيله يي اشجعي وه دخيبر په غزوه كي دټولو نه مخكي شريك شوى دى او اسلامي جهنډه ورسره وه دفتح مكي په ورځ هم دده دقوم جهنډه دده سره وه چي په شام كي اوسيدو او هم هلته يي په ۷۳هجري كي انتقال شوى دى

مرويات: ۶۷احاديث ورنه مروي دي چي شپږ متفق عليه دي او يو په بخاري كي دى او باقي په مسلم كي.

*****************

## ۳۹_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِرَاءَةِ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ

**دجنازي په مونځ كي دسورة فاتحي لوستلو بيان**

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ۲۶ (۹۶۳). سنن النسائي في الطهارة ۵۰ (۶۲). والجنائز ۷۷ (۱۹۸۵). (تحفة الأشراف: ۱۰۹۰۱) مسند احمد (۶ في ۲۸) وأخرجه سنن ابن ماجه في الجنائز ۲۳ (۱۵۰۰). مسند احمد (۶ في ۲۳)

١٠٢٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُثْمَانَ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مِقْسَمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ: عَنْ أُمِّ شَرِيكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِذَلِكَ الْقَوِيِّ، إِبْرَاهِيمُ بْنُ عُثْمَانَ هُوَ: أَبُو شَيْبَةَ الْوَاسِطِيُّ مُنْكَرُ الْحَدِيثِ، وَالصَّحِيحُ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَوْلُهُ: مِنَ السُّنَّةِ الْقِرَاءَةُ عَلَى الْجَنَازَةِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ديو مړي په جنازه كي سورة فاتحه اولوستله.

امام ترمذي وائي دابن عباس ددي حديث سند قوي نه دي او دابراهيم بن عثمان نه مراد ابو شيبه واسطي دي او دا منكرالحديث دي دابن عباس نه چي په جنازه كي كوم صحيح څيزونه مروي دي په هغي كي په جنازه كي دسورة فاتحي لوستل سنت خودلي شوي دي، او په دي باب كي دام شريك رضي الله عنها نه هم حديث مروي دي.

*****************

١٠٢٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ طَلْحَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْفٍ، أَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ". فَقُلْتُ لَهُ، فَقَالَ: "إِنَّهُ مِنَ السُّنَّةِ أَوْ مِنْ تَمَامِ السُّنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، يَخْتَارُونَ أَنْ يُقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ بَعْدَ التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا يُقْرَأُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ، إِنَّمَا هُوَ ثَنَاءٌ عَلَى اللَّهِ، وَالصَّلَاةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالدُّعَاءُ لِلْمَيِّتِ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَغَيْرِهِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ، وَطَلْحَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَوْفٍ هُوَ: ابْنُ أَخِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، رَوَى عَنْهُ الزُّهْرِيُّ. [2]

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٢٢ (١٤٩٥) . انظر الحديث الآتي (تحفة الأشراف : ٦٣٦٨)

[2] ـ صحيح البخاري في الجنائز ٦٥ (١٣٣٥) . سنن ابي داود في الجنائز ٥٩ (٣١٩٨) . سنن النسائي في الجنائز ٧٧ (١٩٨٩) .
(تحفة الأشراف : ٥٤٦٢)

**ترجمه** طلحه بن عوف بيان دي چي ابن عباس رضي الله عنهما په يو مړي جنازه اوکړه او سورة فاتحه يي پکي اولوستله ما ورنه دسورة فاتحي باره کي تپوس اوکړو نو ويي فرمائيل دا سنت دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او طلحه بن عبدالله بن عوف دعبدالرحمن بن عوف ورازه دي دده نه ابن شهاب زهري نقل دروايت کړي دي. په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضو هم په دي باندي قول کړي دي ددوئ په نزد دتکبير اولي نه پس په جنازه کي سورة فاتحه لوستل بهتر دي او همدا دامام شافعي اواحمد بن حنبل اواسحاق قول دي. مګر بعضي اهل علم وائي په جنازه کي به سورة فاتحه نشي لوستلي ځکه چي په جنازه کي خو صرف دالله ثناء ده او په نبي کريم صلي الله عليه وسلم درود دي او دمړي دپاره دعا ده اهل کوفه او سفيان ثوري وغيره هم په دي باندي قول کړي دي.

**تشريح** : په دي مسئله کي اختلاف دي چي په جنازه کي د سورت فاتحي لوستل شته او که نه؟ په دي کي دوه مذاهب دي:

(۱) د امام ابو حنيفه او امام مالك رحمهما الله په نزد په جنازه کي د فاتحي لوستل نشته

(۲) مګر د امام شافعي او امام احمد بن حنبل رحمهما الله په نزد سنت دي. اودوئ ددي دپاره د حديث الباب نه استدلال کړي دي.

امام طحاوي ددي نه دا جواب کړي دي دبعضي صحابه کرامو نه چي د فاتحي لوستل ثابت دي دا په طور د ثناء اودعاء دي.

فريق اول په دي مسئله کي په موطا کي دابن عمر د روايت نه استدلال کړي دي ، او دويم دليل يي په ابوداود کي د ابوهريره روايت دی وفيه" فأخلصوا له الدعآء". والسبط في موطولات الفقه. والله اعلم.

*****************

## ٤٠_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ وَالشَّفَاعَةِ لِلْمَيِّتِ

### د جنازي مونځ او دمړي دپاره دشفاعت بيان

۱۰۲۸_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَيُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْيَزَنِيِّ، قَالَ: كَانَ مَالِكُ بْنُ هُبَيْرَةَ إِذَا صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ، فَتَقَالَّ النَّاسَ عَلَيْهَا جَزَّأَهُمْ ثَلَاثَةَ أَجْزَاءٍ، ثُمَّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى عَلَيْهِ ثَلَاثَةُ صُفُوفٍ فَقَدْ أَوْجَبَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَأُمِّ حَبِيبَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ.

وَمَيْمُونَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، هَكَذَا رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، وَرَوَى إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَأَدْخَلَ بَيْنَ مَرْثَدٍ، وَمَالِكِ بْنِ هُبَيْرَةَ رَجُلًا، وَرِوَايَةُ هَؤُلَاءِ أَصَحُّ عِنْدَنَا. (1)

**ترجمه** : مرثد بن عبدالله يزني وائي چي مالك بن هبيره رضي الله عنه به چي دچا جنازه كوله او خلق به لږ وو نو هغوي به يې درې صفونه جوړول اوفرمائيل به يې چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي په كوم مړي باندې درې صفونه مونځ اوكړي هغه دپاره جنت واجبيږي

امام ترمذي وائي دمالك بن حبيره حديث حسن دي دارنگي نورو راويانو هم دمحمد بن اسحاق نه نقل كړي دي، او ابراهيم بن سعد هم دا حديث دمحمد بن اسحاق نه نقل كړي دي اوهغوئ په سند دمرثد او مالك بن هبيره په مينځ كي يو كس داخل كړي دي زمونږ په نزد ددوئ روايت زيات صحيح دي، او په دي باب كي دعائشه، ام حبيبه، ابوهريره، او ميمونه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي

**لغات** : تقال: تقال الشيء يعني فلاني شي يې كم كړو، په اجزاؤ تقسيمول، يوجزء كرځول اكتفاء كول.

**تشريح** : ديو مسلمان په بل مسلمان دا حق هم دی چي كله مړ شي دهغه په جنازه كي به شركت كوي كه چرې په جنازه كي ډير خلق شريك وي نو ځومره چي صفونه زيات جوړ شي بهتر ده او كه چرې كسان كم وي نو بيا په درې صفونو تقسيمول پكار دي.

## ايا په الله تعالي كوم څيز لازم دي؟

فقد اوجب ، يعني جنت يې واجب كړو؟

سوال: په الله تعالي خو دچا حق نشته نو دلته څنگه ذكر شوي دي چي الله تعالي به په ده باندې جنت واجب كړي.

جواب: الله تعالي پخپل فضل او كرم سره پخپل ځان باندي پخپله لازم كړي دي چي دی به جنت ته داخلوي مطلب دادی چي ددا سي قسم كس دپاره الله تعالي جنت ته دداخلولو وعده كړي ده او دا خو ظاهره ده چي الله تعالي كومه وعده اوكړي هغه پوره كوي ديته وجوب لغيره وئيلی شي كوم چي جائز دي ليكن وجوب لذاته دالله تعالي دذات دپاره جائز نه دی.

1 ـ سنن ابي داود في الجنائز ۴۳ (۳۱۶۶) . سنن ابن ماجه في الجنائز ۱۹ (۱۴۹۰) . (تحفة الأشراف: ۱۱۲۰۸) . مسند احمد (۴/ ۷۹)

دعلامه کرماني په قول دعامو مونځونو په جماعت کي داول صف فضيلت زيات وي په خلاف دجنازي چي په دي کي په اخري صف کي فضيلت زيات وي.

**دمرثد بن عبدالله يزني حالات:**

نوم مرثد دپلار نوم عبدالله کنيه ابو الخير يزني او مصري ورته وئيلى شي دمشرانو تابعينو دجملي نه دى چي عموما به يي دعقبه بن عامر او ابو ايوب او عبدالله بن عمر او عمرو بن العاص رضي الله عنهم نه نقل دروايت کولو، دهجرت په ۹۰کال وفات شوى دى او په صحاح سته کي يي روايات موجود دي.

*****************

۱۰۲۹_حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، عَنْ أَيُّوبَ، وحَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيعٍ كَانَ لِعَائِشَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَمُوتُ أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَتُصَلِّي عَلَيْهِ أُمَّةٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَبْلُغُونَ أَنْ يَكُونُوا مِائَةً فَيَشْفَعُوا لَهُ إِلَّا شُفِّعُوا فِيهِ". وقَالَ عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ فِي حَدِيثِهِ: مِائَةٌ فَمَا فَوْقَهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ أَوْقَفَهُ بَعْضُهُمْ وَلَمْ يَرْفَعْهُ.(1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي يو مسلمان مړ شي او دمسلمانانو يوه ډله چي تعداد يي سلو ته رسيږي وربانديي جنازه اوکړي او دده شفاعت اوکړي نو ددوئ شفاعت به دده په حق کي قبليږي. علي بن محمد پخپل حديث کي "مائة ومافوقها" ذکر کړي دي يعني سل يا دسلو نه زيات. امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي او بعضو راويانو دا موقوفاً نقل کړي دي، او مرفوع يي نه دي نقل کړي.

**عبدالله بن يزيد خطمي صحابي رضي الله عنه مختصر حالات:**

نوم عبدالله کنيه ابو موسي قبيله اوس او دپلار نوم يي يزيد دى.
دخپل پلار سره يوځاي مسلمان شوى دى او په بيعت الرضوان کي يي شرکت کړى دى او په دغه وخت کي دده عمر اولس کاله وو عبدالله بن زبير دخلافت په زمانه کي ديو څو ورځو دپاره دمکي امير پاتي شوى دى دده په باره کي حافظ ابن حجر ليکلي دي کان اکثر الناس صلاة

---

1 ـ صحيح البخاري في الجنائز ۱۸ (۹۴۷) . سنن النسائي في الجنائز ۷۸ (۱۹۹۳) . (تحفة الأشراف : ۱۶۲۹۱) . مسند احمد (۶ في ۳۲، ۴۰، ۹۷، ۲۳۱)

وكان لايصوم الا يوم عاشورا. يعني دخپلو ملګرو نه دمونځ په كثرت كي ممتاز وو البته روژه به يي دعاشوري ضرور نيوله په كوفه كي وفات شوى دى او دمروياتو شمير يي ۱۲۷ دى چي بعضي په دي كي بلا واسطه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي او بعضي يي دابو ايوب انصاري او ابن مسعود او حذيفه بن يمان او عمر رضي الله عنهم نه نقل كړي دي.

******************

## ٤١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ وَعِنْدَ غُرُوبِهَا

**دنمر ختلو او ډوبيدلو په وخت كي دجنازي كولو دكراهت بيان**

۱۰۳۰ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مُوسَى بْنِ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: " ثَلَاثُ سَاعَاتٍ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْهَانَا أَنْ نُصَلِّيَ فِيهِنَّ أَوْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا: حِينَ تَطْلُعُ الشَّمْسُ بَازِغَةً حَتَّى تَرْتَفِعَ، وَحِينَ يَقُومُ قَائِمُ الظَّهِيرَةِ حَتَّى تَمِيلَ، وَحِينَ تَضَيَّفُ الشَّمْسُ لِلْغُرُوبِ حَتَّى تَغْرُبَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، يَكْرَهُونَ الصَّلَاةَ عَلَى الْجَنَازَةِ فِي هَذِهِ السَّاعَاتِ، وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ أَنْ نَقْبُرَ فِيهِنَّ مَوْتَانَا يَعْنِي: الصَّلَاةَ عَلَى الْجَنَازَةِ، وَكَرِهَ الصَّلَاةَ عَلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ طُلُوعِ الشَّمْسِ، وَعِنْدَ غُرُوبِهَا، وَإِذَا انْتَصَفَ النَّهَارُ حَتَّى تَزُولَ الشَّمْسُ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. قَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ فِي السَّاعَاتِ الَّتِي تُكْرَهُ فِيهِنَّ الصَّلَاةُ. (۱)

**ترجمه** : دعقبه بن عامر جهني بيان دي چي دري ساعتونه داسي دي په كوم كي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمونځ كولو نه او دخپلو مړو خښولو نه منع فرمائيله يو هغه وخت كي دي كله چي نمر راخيژي ترڅو چي پوره نه وي راختلي او دويم دغرمي وخت كي تردي چي نمر زائل شوي نه وي او بل دنمر ډوبيدو ته دمائل كيدو وخت دي ترڅو چي غائب شوي نه وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي هغوئ په دي وختونو كي جنازه كول مكروه ګنړي، ابن مبارك وائي په دي وختونو كي دمړو خښولو نه مراد په دوئ باندي جنازه كول دي او هغوئ دنمر ستركي ختلو په

---

1 ـ صحيح مسلم في المسافرين ٥١ (٨٣١) . سنن ابي داود في الجنائز ٥٥ (٣١٩٢) . سنن النسائي في المواقيت ٣١ (٥٦١)، و٣٣ (٥٦٦) . والجنائز ٨٩، (٢٠١٥) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٠ (١٥١٩) . (تحفة الأشراف : ٩٩٣٩) . مسند احمد (٣ في ١٥٢) . سنن الدارمي في الصلاة ١٣٢ (١٤٧٣)

وخت کي او دغرمي وخت کي او نمر پريوتو وخت کي جنازه کول مکروه ګنړلي دي احمد بن حنبل او اسحاق هم ددي قائل دي، امام شافعي وائي په کومو وختونو کي چي مونځ کول مکروه دي په هغي کي جنازه کولو کي څه قباحت نشته.

**دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات:**

نوم عقبه کنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چي کله مديني ته راغی نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليکلي دي چي عقبه فقيه او دکتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذکرة الحفاظ).

دقران کريم سره يي خصوصي مينه وه يوه نسخه دقران کريم يي پخپل لاس هم ليکلي وه (تهذيب التهذيب).

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي کړی دی په سفر کي به درسول الله سورلۍ راښکل په ده پوري متعلق وو لکه چي په روايتونو کي راځي کان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره کي مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادی چي په ۵۸هجري کي وفات شوی دی. او دده دمروياتو شمير ۵۵ دی چي يو په دي کي متفق عليه دی او يو په بخاري کي دی او اوه په مسلم کي دي (تهذيب الکمال).

داکابرو صحابه کرامو نه نقل دروايت کوي تردي چي صرف ديو حديث اوريدو دپاره مصر ته دابوايوب انصاري سره دملاويدو دپاره تللی وو خو چي هغه يي واوريدو نو فورا واپس لاړو.

*****************

## ٤٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الأَطْفَالِ

**په ماشومانو دجنازي کولو بيان**

١٠٣١_ حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ آدَمَ ابْنُ بِنْتِ أَزْهَرَ السَّمَّانِ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ زِيَادِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ حَيَّةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ المُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الرَّاكِبُ خَلْفَ الجَنَازَةِ وَالمَاشِي حَيْثُ شَاءَ مِنْهَا، وَالطِّفْلُ يُصَلَّى عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، رَوَاهُ إِسْرَائِيلُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، وَالعَمَلُ

عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، قَالُوا: يُصَلَّى عَلَى الطِّفْلِ، وَإِنْ لَمْ يَسْتَهِلَّ بَعْدَ أَنْ يُعْلَمَ أَنَّهُ خُلِقَ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. [1]

**ترجمه**: دمغيره بن شعبه رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په سورلو سواره خلق دي په جنازه پسي وروستو ځي او پيدل تلونكي چي څنګه تلل غواړي هغه شان تلي شي او په ماشومانو باندي هم دجنازي مونځ كيږي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي اسرائيل او بعضي نورو راويانو دا حديث دسعيد بن عبدالله نه نقل كړي دي، په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي دوئ وائي په ماشوم باندي جنازه كول دساء اخستلو نه پس وي يعني كوم مړ ماشوم كي ساه اچولي شوي وي په هغه به جنازه كيږي برابره خبره ده چي دولادت وخت كي يي اواز كړي وي او كنه وي احمد بن حنبل او اسحاق بن راهويه ددي قائل دي.

**تشريح**:

### دژوندي ماشوم پيدا كيدو احكام

"وان لم يستهل" د پيدائش په وخت د ماشوم آواز كولو مطلب دا دى.چى داسى څيز بيا مومى.چى د ماشوم په ژوند دلالت اوكړى.مثلاً د ماشوم د يو اندام حركت كول يا دده د ژړا آواز كول وغيره.بهرحال كه ماشوم د پيدا كيدو سره مړشى.يعنى كه د پيدائش په وخت د ژوند څه دليل موجود شى.اومړ شى.نو دى ماشوم ته به نوم كيخودى شى.ده ته به غسل هم وركولى شى.او په ده به د جنازى مونځ هم كولى شى.

ددي دليل د نبى كريمﷺ قول دى:

"إذا إستهل المولود صلى عليه وان لم يستهل لم يصل عليه".

او عقلى دليل دادې.چى استهلال يعنى دماشوم آواز كول د ژوند نښه ده.نود ده په حق كي د مړو طريقه متحقق ده.

اوكوم ماشوم چى د پيدائش په وخت د ژړا آواز اونكړى.او د ژوند څه بله نښه هم اونه موندى شى.نودى به د كفن په شان يوه جامه كي راونغاړى.او په كنده كي به ئې ښخ كړى.دا عمل به صرف د آدم د اولاد د تكريم په خيال سره وى.او په ده به د جنازى مونځ نشى كولې. دليل تيرشوې روايت دې.

(۲) البته د غير ظاهروايت مطابق به ده ته غسل وركولى شى. دليل دادې.چى دا من وجه د بدن يوه حصه ده. او من وجه نفس دې.نو د دواړو اعتبار اوكړې شو.چونكه د بدن يوه حصه

---

[1] ـ سنن ابى داود في الجنائز ۴۹ (۳۱۸۰). سنن النسائي في الجنائز ۵۵ (۱۹۴۳). سنن ابن ماجه في الجنائز ۱۵ (۱۴۸۱)، و۲۶ (۱۵۰۷). (تحفة الأشراف: ۱۱۴۹۰). مسند احمد (۴ في ۲۴۷، ۲۵۲)

او اندام دي.څکه به په ده د جنازې مونځ کولی شي.او چونکه من وجه نفس دې. څکه به ده ته غسل ورکولی شي. دا د ابویوسف رحمه الله نه هم نقل دی.او هم دا مختار قول دې.

******************

## ٤٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنِينِ حَتَّى يَسْتَهِلَّ

**په جنین (دمور په خېټه کې په موجود بچې) دجنازې نه کولو بیان چې څو پورې هغه دولادت وخت کې ژړلي نه وي**

١٠٣٢_ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْمَكِّيِّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: " الطِّفْلُ لَا يُصَلَّى عَلَيْهِ، وَلَا يَرِثُ وَلَا يُورَثُ حَتَّى يَسْتَهِلَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ قَدِ اضْطَرَبَ النَّاسُ فِيهِ. فَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرْفُوعًا. وَرَوَى أَشْعَثُ بْنُ سَوَّارٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ مَوْقُوفًا. وَرَوَى مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرٍ مَوْقُوفًا، وَكَأَنَّ هَذَا أَصَحُّ مِنَ الْحَدِيثِ الْمَرْفُوعِ. وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا. قَالُوا: لَا يُصَلَّى عَلَى الطِّفْلِ حَتَّى يَسْتَهِلَّ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روایت دي نبي کریم صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي په هغه ماشوم باندي جنازه نه کیږي او نه به دي دچا وارث ګرځي او نه بل څوك دده وارث ګرځي څو پوري چي هغه دپیدائش وخت کي ژړلي نه وي.

امام ترمذي وائي په دي حدیث کي راویان په اضطراب کي واقع شوي دي بعضو دا دابو الزبیر نه او هغه دجابر نه او جابر درسول الله نه مرفوعا نقل کړي دي او اشعث بن سوار او بعضو نورو راویانو دابوزبیر نه او ابوزبیر دجابر نه موقوفاً نقل کړي دي، محمد بن اسحاق دعطاء بن ابي رباح نه او عطاء دجابر نه موقوفاً نقل کړي دي ګویا کي موقوف روایت دمرفوع نه زیات صحیح دي او بعضي اهل علمو هم دا قول اختیار کړي دي دوئ وائي په ماشوم به هغه وخته پوري جنازه نه کیږي ترڅو چي هغه دپیدائش وخت کي ژړلي نه وي او همدا دسفیان ثوري او امام شافعي قول دي.

**تشریح** :د استهلال مطلب دا دی.چی داسی څیز بیا مومی.چی د ماشوم په ژوند دلالت اوکړی.مثلاً د ماشوم د یو اندام حرکت کول یا دده د ژړا آواز کول وغیره.بهرحال که ماشوم

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٦٦٠) وأخرجه: سنن ابن ماجه في الجنائز ٢٦ (١٥٠٨).

د پيداكيدو سره مړشي.يعنې كه د پيدائش په وخت د ژوند څه دليل موجود شي.اومړ شي.نو دى ماشوم ته به نوم كيخودى شي.ده ته به غسل هم وركولى شي.او په ده به د جنازى مونځ هم كولى شي.ددي دليل د نبى كريمﷺ قول: "إذا إستهل المولود صلى عليه وان لم يستهل لم يصل عليه".

اوكوم ماشوم چې د پيدائش په وخت د ژړا آواز اونكړي.او د ژوند څه بله نښه هم اونه مونډى شي.نودى به د كفن په شان يوه جامه كي راونغاړى.او په كنده كي به ئې ښخ كړى.دا عمل به صرف د آدم (١) د اولاد د تكريم په خيال سره وى.او په ده به د جنازى مونځ نشى كولې. دليل تيرشوې روايت دې.(٢) البته د غير ظاهروايت مطابق به ده ته غسل وركولى شي. دليل دادې.چې دا من وجه د بدن يوه حصه ده. او من وجه نفس دې.نو د دواړو اعتبار اوكړې شو.چونكه د بدن يوه حصه او اندام دې.ځكه به په ده د جنازى مونځ كولى شي.او چونكه من وجه نفس دې. ځكه به ده ته غسل وركولى شي. دا د ابويوسف رحمه الله نه هم نقل دى.او هم دا مختار قول دې.

*****************

## ٤٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَيِّتِ فِي الْمَسْجِدِ

### په مسجد كي په مړي دجنازي كولو بيان

**١٠٣٣_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ الْوَاحِدِ بْنِ حَمْزَةَ، عَنْ عَبَّادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "صَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى سُهَيْلِ ابْنِ بَيْضَاءَ فِي الْمَسْجِدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: قَالَ مَالِكٌ: لَا يُصَلَّى عَلَى الْمَيِّتِ فِي الْمَسْجِدِ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُصَلَّى عَلَى الْمَيِّتِ فِي الْمَسْجِدِ، وَاحْتَجَّ بِهَذَا الْحَدِيثِ.** [1]

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسهيل بن بيضاء جنازه په مسجد كي كړي وه .

---

[1] _ صحيح مسلم في الجنائز ٣٤ (٩٧٣) . سنن النسائي في الجنائز ٧٠ (١٩٦٩) . مسند احمد (٦ في ٧٩، ١٣٣، ١٦٩) (تحفة الأشراف : ١٦١٧٥) وأخرجه صحيح مسلم في الجنائز . سنن ابي داود في الجنائز ٥٣ (٣١٨٩) . سنن ابن ماجه في الجنائز ٢٩ (١٥١٨) . موطا امام مالك في الجنائز ٨ (٢٢)

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي امام شافعي وائي دامام مالك قول دي مسجد كي به په مړي جنازه نه كيږي مګر دامام شافعي خپل قول دادي چي په مسجد كي په مړي جنازه كيدي شي او هم ددي حديث نه يي استدلال كړي دي.

****************

## ٤٥ـ بَاب مَا جَاءَ أَيْنَ يَقُومُ الإِمَامُ مِنَ الرَّجُلِ وَالْمَرْأَةِ

### دسړي او دښځي دجنازي كولو په وخت كي به امام چرته اودريږي

١٠٣٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُنِيرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَامِرٍ، عَنْ هَمَّامٍ، عَنْ أَبِي غَالِبٍ، قَالَ: " صَلَّيْتُ مَعَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَلَى جَنَازَةِ رَجُلٍ، فَقَامَ حِيَالَ رَأْسِهِ، ثُمَّ جَاءُوا بِجَنَازَةِ امْرَأَةٍ مِنْ قُرَيْشٍ، فَقَالُوا: يَا أَبَا حَمْزَةَ، صَلِّ عَلَيْهَا، فَقَامَ حِيَالَ وَسَطِ السَّرِيرِ، فَقَالَ لَهُ الْعَلَاءُ بْنُ زِيَادٍ: هَكَذَا رَأَيْتَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَامَ عَلَى الْجَنَازَةِ مُقَامَكَ مِنْهَا، وَمِنَ الرَّجُلِ مُقَامَكَ مِنْهُ، قَالَ: نَعَمْ، فَلَمَّا فَرَغَ، قَالَ: احْفَظُوا ". وَفِي الْبَاب: عَنْ سَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ هَمَّامٍ مِثْلَ هَذَا، وَرَوَى وَكِيعٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ هَمَّامٍ فَوَهِمَ فِيهِ، فَقَالَ: عَنْ غَالِبٍ، عَنْ أَنَسٍ، وَالصَّحِيحُ عَنْ أَبِي غَالِبٍ، وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ أَبِي غَالِبٍ مِثْلَ رِوَايَةِ هَمَّامٍ، وَاخْتَلَفُوا فِي اسْمِ أَبِي غَالِبٍ هَذَا، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: يُقَالُ: اسْمُهُ نَافِعٌ، وَيُقَالُ: رَافِعٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق.[1]

**ترجمه** : دابوغالب بيان دي چي ما دانس بن مالك سره په يو كس باندي جنازه كړي وه او هغه دمړي سر ته اودريدو بيا دقريشو خلقو يوي ښځي جنازه راوړه او ويي وئيل اي ابو حمزه په دي باندي هم جنازه اوكړه نو هغه دكټ دمينځ سره يعني دښځي ملا ته مخامخ اودريدو علاء بن زياد ورنه تپوس اوكړو ايا تا رسول الله صلي الله عليه وسلم دښځي او سړي په جنازو كي په داسي طريقه اودريدو باندي ليدلي دي لكه چي ته اوس څنګه اودريدلي يي ؟ انس اووئيل هو، او چي كله دجنازي نه فاغ شو نو ويي وئيل دا طريقه ياد اوساتئ.

امام ترمذي وائي دانس داحديث حسن دي او نورو راويانو هم دحمام نه ددي پشان روايت نقل كړي دي، وكيع هم دا حديث دحمام نه نقل كړي دي ليكن هغه ته وهم شوي وو چي عن غالب

---

1 ـ سنن ابي داود في الجنائز ٥٧ (٣١٩٤)، سنن ابن ماجه في الجنائز ٢١ (١٤٩٤) . (تحفة الأشراف : ١٦٢١) . مسند احمد (٣ في ١٥١)

عن انس يي وئيلي وو او صحيح عن ابي غالب دي، عبدالوارث بن سعيد او بعضي نورو راويانو دابو غالب نه روايت کړي دي څنګه چي حمام کړي دي، او په دي باب کي دسمره رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي او بعضي اهل علمو هم دا قول اختيار کړي دي او دا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي

**تشريح:** مذاهب دفقهاؤ:

(۱) دمالکيانو په نزد دجنازي کولو دپاره به امام دمړي دسر سره اودريږي برابره خبره ده چي جنازه دسړي وي او که دښځي.

(۲) داحنافو په نزد دمړي دسيني سره مخامخ اودريدل پکار دي.

(۳) او دشوافع او حنابله په نزد که جنازه د سړي وي نو دسر سره اودريدل دي او که دښځي وي نو ذبدن دنيمي مخامخ اودريدل پکار دي.

*****************

۱۰۳۵ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَالْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى امْرَأَةٍ فَقَامَ وَسَطَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ. [1]

**ترجمه:** دسمره بن جندب رضي الله عنه بيان دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم په يو ښځه جنازه اوکړه نو هغه ددي دمينځ يعني دملا سره اودريدو.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او شعبه هم دا روايت دحسين المعلم نه نقل کړي دي.

## دابو سعيد سمره بن جندب رضي الله عنه حالات:

نوم سمره کنيه ابو سعيد او دپلار نوم يي جندب بن بلال وو چي په ماشوم والي کي يي پلار وفات شوی وو او مور مديني ته راوړی وو او انصارو ته يي دنکاح پيغام ورکړو خو شرط پکي دا وو هر څوك كه ماسره نكاح كوي هغه به زما او زما د ځوي سمره دواړو كفالت كوي نو په دي شرط يي دمرلي بن شيبان بن سعلبه سره نکاح اوشوه .

سمره رضي الله عنه دماشوم توب په وجه په بدر کي دشرکت نه پاتي شو ليکن په احد کي چي

[1] ـ صحيح البخاري في الحيض ۲۹ (۳۳۲)، والجنائز ۶۲ (۱۳۳۱)، و۶۳ (۱۳۳۲). صحيح مسلم في الجنائز ۲۷ (۹۶۴). سنن ابي داود في الجنائز ۵۷ (۳۱۹۵). سنن النسائي في الحيض ۲۵ (۳۹۱). والجنائز ۷۳ (۱۹۷۸). سنن ابن ماجه في الجنائز ۲۱ (۱۴۹۳). (تحفة الأشراف: ۴۶۲۵). مسند احمد (۵ في ۱۴، ۱۹)

كله رسول الله صلي الله عليه وسلم يو ماشوم ته اجازت ورکړو نو سمره اووئيل زه خو دده نه طاقتور يم او په کشتئ کي هغه ته سمره رضي الله عنه په مقابله کي شکست ورکړو نو ددينه پس په احد کي ورته دشرکت اجازت ملاؤ شو او بيا ددينه پس په تمامو غزواتو کي شريك پاتي شوی دی.

وفات: دهجرت په ۵۴ کال وفات شوی دی ددي واقعه دا وه چي يخ وهلی وو نو دګرمو اوبو په ديګ کينولی شو تردي چي اوبو ته ورپريوتو او دا دده دوفات کيدو سبب اوګرځيدو.

ابن سعد په طبقات کي ليکلي دي يوځل ابوهريره او ابو محذوره او سمره رضي الله عنهم دري واړه درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي ناست وو رسول الله اوفرمائيل په تاسو کي يو کس په اور باندي مري نو درسول الله دا پيشن ګويي دسمره په باره کي رشتيا شوه (طبقات ابن سعد اسد الغابه).

مرويات: ۱۱۲۳ احاديث ورنه مروي دي چي دوه په دي کي متفق عليه دي يو په بخاري کي دی او څلور په مسلم کي.

*****************

## ٤٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الصَّلَاةِ عَلَى الشَّهِيدِ

### په شهيد دجنازي نه کولو بيان

١٠٣٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ أَخْبَرَهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي الثَّوْبِ الوَاحِدِ، ثُمَّ يَقُولُ: "أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ". فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ إِلَى أَحَدِهِمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ، وَقَالَ: "أَنَا شَهِيدٌ عَلَى هَؤُلَاءِ يَوْمَ القِيَامَةِ، وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ، وَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا". قَالَ: وَفِي البَاب، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الحَدِيثُ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرُوِيَ عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي صُعَيْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَمِنْهُمْ مَنْ ذَكَرَهُ عَنْ جَابِرٍ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الشَّهِيدِ، فَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا يُصَلَّى عَلَى الشَّهِيدِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَهْلِ

الْمَدِينَةِ، وَبِهِ يَقُولُ: الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: يُصَلَّى عَلَى الشَّهِيدِ، وَاحْتَجُّوا بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ صَلَّى عَلَى حَمْزَةَ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَبِهِ يَقُولُ: إِسْحَاق.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به د احد شهيدان په کفن کي دوه دوه يو ځايی کول، نو اول به يی دا تپوس اوکړو په دی دواړو کي چاته قران ډير ياد وو، چي کوم يو به ورته اوخودلی شو نو هغه به يی لحد کي مخکي کينبودلو او فرمائيل به يي دقيامت په ورځ به زه په دي خلقو باندي ګواه يم او رسول الله دوی لره پخپلو وينو کي د دفن کولو حکم اوکړو او جنازه يي ورباندي اونکړه او نه يي ورته غسل ورکړو.

امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي داحديث دزهري نه مروي دي او هغه دانس نه نقل کړي دي او انس دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي . دارنګي داحديث دزهري نه عبدالله بن ثعلبه بن ابي صغير په واسطه هم مروي دي او هغوی دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کوي او په دوی کي بعضي راويانو داحديث دجابر په روايت ذکر کړي دي، په دي باب کي دانس بن مالك نه هم روايت وارد دي او په شهيد دجنازي کولو باره کي په اهل علمو کي اختلاف دي دبعضو قول دي چي په شهيد به جنازه نه کيږي او دا داهل مدينه قول دي امام شافعي او احمد رحمهما الله هم دا وائي، او دبعضو قول دي چي په شهيد به جنازه کيږي او هغوی به دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دحديث نه استدلال کړي دي چي رسول الله په حمزه رضي الله عنه جنازه کړي وه امام ثوري او اهل کوفه ددي قائل دي او دا داسحاق بن راهويه قول هم دي.

**لغات** : اشير ، اشار باب افعال لکه اشار اليه ، او اشار بيده ، يعني اشاره کول عليه، حکم کول.

**تشريح** : قاضي ثناء الله پخپل تفسير کي ددي حديث نه څه مستنبط فقهي مدلل مسائل بيان کړي دي چي په لاندينو کرښو کي يي نقل کوو:

**مسئله**: دعلماؤ اجماع منعقد شوي ده چي شهيد ته به غسل نه شي ورکولي ځکه چي داحد شهيدانو ته غسل نه وو ورکړي شوي اورسول الله حکم کړي وو چي ددوی اصلحي اوسامان

---

[1] _ صحيح البخاری في الجنائز ۷۲ (۱۳۴۳) ، و۷۳ (۱۳۴۵) ، و۷۵ (۱۳۴۶) ، و۷۸ (۱۳۴۸) ، والمغازي ۲۶ (۴۰۷۹) ، سنن ابي داود في الجنائز ۳۱ (۳۱۳۸) ، سنن النسائي في الجنائز ۶۲ (۱۹۵۷) ، سنن ابن ماجه في الجنائز ۲۸ (۱۵۱۳) ، (تحفة الأشراف : ۲۳۸۲)

ورنه لري كړئ اوباقي ويني او كپړي ورنه مه لري كوئ اودفن يې كړئ (رواه ابو داود وابن ماجه عن ابن عباس)
نسائي په صحيح سند سره دعبدالله بن ثعلبه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دوينو سره يې خښ كړئ دا څكه څوك چي دالله په لار كي زخمي شي هغه به په قيامت كي دوينو سره راځي دده دوينو رنګ به دوينو پشان وي ليكن خوشبو به يې دمشكو پشان وي ، ددي بحث يو حديث دجابر رضي الله عنه په روايت سره هم راغلي دي چي ديو سړي سينه په غشي اوويشتلي شوه او په دي باندي مړ شو اوده لره په همدغه جامو كي همدغه شان اونغښتلي شو او دفن كړي شو اومونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هم ركاب وو (رواه ابو داود علي شرط مسلم)
**مسئله:** كه چري دجنابت په حالت كي څوك شهيد شي نو ايا ده ته به غسل وركولي شي ؟ دا مسئله اختلافي ده
(۱) امام ابو حنيفه او امام احمد رحمهما الله په نزد به ورته غسل وركولي شي
(۲) امام مالك او امام شافعي رحمهما الله وائي چي غسل به ورته نه شي وركولي څكه چي درسول الله فرمان "زملوهم بدمائهم" عام دي ، دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه په نزد باندي دحنظله بن ابي عامر قصه ماخذ داستدلال دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو ما اوليدل چي فرشتو حنظله بن ابي عامر لره دزمكي او اسمان په مينځ كي دسپيني وريځي په اوبو سره دسپينو زرو په لوښو كي غسل وركولو ، دابو اسيد ساعدي رضي الله عنه بيان دي چي مونږ لاړو دحنظله لاش مو اوليدو اودسر نه يې اوبه څڅيدلي زه چي واپس راغلم نو رسول الله ته مي ددي خبر وركړو نبي كريم صلي الله عليه وسلم دده دښځي نه دمعلومات حاصلولو دپاره هغي ته څوك ورولیږلو هغي اووئيل دجنابت په حالت كي بهر تلي وو ، حنظله ته په دي وجه باندي غسيل الملائكه وئيلي شي.
ابن جوزي دا حديث دمحمد بن سعد په روايت سره مرسل نقل كړي دي او ابن حبان او حاكم او بيهقي داسحاق په سند سره مسند نقل كړي دي حاكم په "اكليل" كي دابو اسيد په روايت سره هم دا روايت نقل كړي دي ليكن سند يې ضعيف دي ، حاكم په مستدرك كي او طبراني او بيهقي دابن عباس رضي الله عنه په روايت سره هم دا حديث بيان كړي دي ليكن دحاكم په روايت كي معلي بن عبدالرحمن رواي دي او هغه متروك دي اودطبراني په اسناد كي حجاج مدلس دي اودبيهقي په سند كي ابوشيبه واسطي ضعيف دي
**مسئله:** علماؤ اختلاف كړي دي په باره دجنازي كولو كي په شهيد باندي :
(۱) امام شافعي وائي چي جنازه به ورباندي نشي كولي.

(۲) امام ابوحنیفه او امام مالك رحمة الله علیهما فرمائي چي په شهید باندي دي جنازه وکړي شي
(۳) اود امام احمد نه دواړه روایتونه منقول دي.
زمونږ دلیل دادي چي دجنازي مونځ یاخو دګناهونو دمغفرت دپاره دي یا دمړي دعزت دپاره دي او د درجاتو دبلندئ دپاره دي ، اوشهید دعزت زیات مستحق دي، که چري په مونځ نه کولو کي تکریم وي نو بیا رسول الله ددي زیات مستحق وو ، په هغه باندي دجنازي مونځ شوي وو ، حالانکه اجماعا په هغه باندي جنازه شوي ده او اصل مونځ کول دي، امام شافعي په حدیث دجابر بن عبدالله رضي الله عنه نه استدلال کړي دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم به په یوه کپړه کي داحد دوه دوه شهیدان په کفن کول اوبیابه ئي تپوس کولو کوم یو په دوئ کي مشر دي نوچي کوم یوته به اشاره وشوه هغه به ئي لحد ته مخکي کوزولو اوبیا به ئي فرمائیل زه به په دوئ باندي دقیامت ورځ ګواهي کوم اوحکم به ئي کولو په دفن کولو ددوئ په جامو ددوئ کي او مونځ ئي ورباندي نه دي کړي اونه ئي غسل ورکړي (رواه البخاري في صحیحه والنسائي وابن ماجة وابن حبان ).
پدي باره کي دانس رضي الله عنه نه هم یوحدیث مروي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم به دجنګ احد په ورځ په یوه یوه کپړه کي دوه دوه او دري دري کسه شهیدان دفن کړي وو او مونځ ئي ورباندي نه دي کړي ( رواه احمد وابوداود والترمذي وقال حدیث حسن والحاکم وصححه وقد اعله البخاري اوبخاري دا روایت معلول ګڼلي دي او وئیلي ئي دي چي داسامة بن زید روایت عن زهري عن انس غلط دي) بخاري دجابر رضي الله عنه پورتني حدیث ته ترجیح ورکړي ده ، دامام شافعي داستدلال نه جواب دادي چي شاید رسول الله صلي الله علیه وسلم به داحد په شهیدانو مونځ ځکه نه وي کړي چي هغه پخپله زخمي شوي وو اوغابښونه مبارك ئي هم شهیدان شوي وو ډیره ممکنه وه چي بل چا ورباندي کړي وي ، ددي احتمال تائید هغه حدیث هم کوي کوم چي ابوداود په مراسیل کي اوحاکم اوطحاوي دانس رضي الله عنه نه بیان کړي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم دحمزه رضي الله عنه په خوا کي تیر شو اوهغه مثله کړي شوي وو ، اورسول کریم صلي الله علیه وسلم دحمزه رضي الله عنه نه علاوه په بل کوم شهید باندي جنازه ونکړه ، دطحاوي په روایت کي دومره اضافه ده چي رسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل زه به دقیامت په ورځ ستاسو دټولو ګواه یم.
قدمه في اللحد، قبر په دوه قسمه وي اول لحد ، لحد دیته وئیلی شي چي دقبر کنستلو نه پس په قبر کي دننه مغربي طرف ته بله کنده اوکنستلی شي ، دویم شق، شق دیته وئیلی شي چي قبر اوکنستلی شي او هیڅ یو طرف ته پکي مزید کنستل اونکړی شي په دي حدیث کي حافظ قران ته ترجیح ورکولی شي او په دي باندي نور اهل علم اهل زهد او تقوي او نور صاحب

فضيلت قياس كولى شي همدا دقران خدمت به په دنيا كي هم پكار راځي او په اخرت او په قبر كي به هم پكار راځي دمرګ نه پس هيڅ يو دنياوي څيز فائده نشي وركولى.

******************

## ٤٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْقَبْرِ

### په قبر دجنازي كولو بيان

١٠٣٧ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا الشَّيْبَانِيُّ، حَدَّثَنَا الشَّعْبِيُّ، أَخْبَرَنِي مَنْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَأَى قَبْرًا مُنْتَبِذًا، فَصَفَّ أَصْحَابَهُ خَلْفَهُ فَصَلَّى عَلَيْهِ. فَقِيلَ لَهُ: مَنْ أَخْبَرَكَهُ؟ فَقَالَ: ابْنُ عَبَّاسٍ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَبُرَيْدَةَ، وَيَزِيدَ بْنِ ثَابِتٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَسَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا يُصَلَّى عَلَى الْقَبْرِ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَقَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ: إِذَا دُفِنَ الْمَيِّتُ وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِ، صُلِّيَ عَلَى الْقَبْرِ. وَرَأَى ابْنُ الْمُبَارَكِ الصَّلَاةَ عَلَى الْقَبْرِ، وَقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ: يُصَلَّى عَلَى الْقَبْرِ إِلَى شَهْرٍ، وَقَالَا: أَكْثَرُ مَا سَمِعْنَا عَنِ ابْنِ الْمُسَيِّبِ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى قَبْرِ أُمِّ سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ بَعْدَ شَهْرٍ".[1]

**ترجمه**: دشعبي بيان دي چي ماته يو داسي كس خبر راكړي دي چاچي رسول الله صلي الله عليه وسلم ليدلي وو چي رسول الله يو قبر يواخي اوليدو نو په ځان پسي يي صحابه كرام په صفونو كي اودرول او جنازه يي ورباندي اوكړه دشعبي نه چا تپوس اوكړو چي تاته دا خبر چا دركړي دي هغه اووئيل ابن عباس رضي الله عنهما.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دانس ، بريده، يزيد بن ثابت، ابوهريره، عامر بن ربيعه، ابوقتاده، او سهيل بن حنيف رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي داكثرو صحابه كرامو او اهل علمو هم په دي باندي عمل دي او دامام شافعي او احمد او اسحاق هم دا قول دي، مگر بعضي اهل علم وائي چي په قبر جنازه نه كيږي او دا دمالك بن انس قول دي ،ابن مبارك وائي كله چي مړي دفن كړي شي او جنازه ورباندي نه

[1] ـ صحيح البخاري في الأذان٦١ (٨٥٧) والجنائز٥ (١٢٤٧) و٥٣ (١٣١٩) و٥٥ (١٣٢٢) ٥٩ (١٣٢٦) و٦٦ (١٣٣٦) و٦٩ (١٣٤٠) صحيح مسلم في الجنائز٢٣ (٩٥٤) سنن ابي داود في الجنائز٥٨ (٣١٩٦) سنن النسائي في الجنائز٩٤ (٢٠٢٥) سنن ابن ماجه في الجنائز٣٢ (١٥٣٠) (تحفة الأشراف: ٥٧٦٦) مسند احمد (١في ٢٣٨)

وي شوي نو دهغه جنازه په قبر باندي كيږي ابن مبارك په قبر دجنازي كولو قائل دي. امام احمد او اسحاق بن راهويه رحمهما الله وائي په قبر باندي جنازه ديوي مياشتي پوري كيدي شي ځكه چي مونږ اكثر اوريدلي دي دسعيد بن مسيب نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دسعد بن عباده د مور په قبر يوه مياشت پس جنازه كړي وه.

*****************

١٠٣٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، "أَنَّ أُمَّ سَعْدٍ مَاتَتْ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَائِبٌ، فَلَمَّا قَدِمَ صَلَّى عَلَيْهَا، وَقَدْ مَضَى لِذَلِكَ شَهْرٌ".[1]

**ترجمه** : دسعيد بن مسيب نه مروي دي چي ام سعد وفات شوه او نبي كريم صلي الله عليه موجود نه وو كله چي رسول الله راغلو نو په ام سعد يي جنازه اوكړه او ددي واقعي يوه مياشت تيره شوي وه.

**تشريح** : په دي مسئله كي اختلاف دي چي په قبر جنازه كيږي او كنه.

(١) دامام مالك په نزد مطلقاناجائز ده.

(٢) دامام شافعي په نزد چي دچا جنازه نه وي شوي دهغه په قبر جنازه كيدي شي.

(٣) دامام ابو حنيفه په نزد قبر باندي جنازه كول ناجائز دي البته په دوه صورتونو كي په قبر جنازه جائز ده كله چي دمړي ولي ورباندي جنازه نه وي كړي، او كله چي يو كس بغير دجنازي دفن كړي شوي وي او دا دواړه صورتونه هم په يو شرط مشروط دي چي په قبر جنازه هغه وخت جائز ده كله چي په اغضاؤ كي انتشار نه وي راغلي او بعضي علماؤ ددي حد دري ورځي بيان كړي دي ليكن اصل خبره داده چي د اماكنو او دحالاتو او كيفياتو لحاظ به كولي شي.

*****************

## ٤٨ـ باب مَا جَاءَ فِي صَلاَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى النَّجَاشِيِّ

## په نجاشي بادشاه د نبي كريم صلي الله عليه وسلم دجنازي كولو بيان

١٠٣٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، وَحُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، قَالاَ: حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، قَالَ: قَالَ لَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَخَاكُمُ النَّجَاشِيَّ قَدْ مَاتَ، فَقُومُوا فَصَلُّوا عَلَيْهِ"، قَالَ:

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٤٢٢)

نَقُمْنَا فَصَفَفْنَا كَمَا يُصَفُّ عَلَى الْمَيِّتِ، وَصَلَّيْنَا عَلَيْهِ كَمَا يُصَلَّى عَلَى الْمَيِّتِ. وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ أَسِيدٍ، وَجَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رَوَاهُ أَبُو قِلَابَةَ، عَنْ عَمِّهِ أَبِي الْمُهَلَّبِ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَبُو الْمُهَلَّبِ اسْمُهُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ عَمْرٍو، وَيُقَالُ لَهُ: مُعَاوِيَةُ بْنُ عَمْرٍو.[1]

**ترجمه** : دعمران بن حصین رضي الله عنهما نه روایت دي فرمائي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم مونږ ته اوفرمائیل ستاسو وړور نجاشي وفات شوي دي پاڅئ او جنازه ورباندي اوکړئ عمران وائي چي مونږ اودریدو او صفونه مو جوړ کړل لکه څنګه چي دعامو جنازو دپاره صفونه جوړولي شي.

امام ترمذي وائي دا حدیث په دي سند حسن صحیح غریب دي، داحدیث ابو قلابه هم دخپل تره ابومهلب نه او هغه دعمران بن حصین نه نقل کړي دي، او دابومهلب نوم عبدالرحمن بن عمرو دي او هغه ته معاویه بن عمرو هم وئیلي شي، او په دي باب کي دابوهریره، جابر بن عبدالله، ابوسعید، حذیفه بن اسید او جریر بن عبدالله رضي الله عنهم نه هم احادیث مروي دي.

**تشریح** د نجاشي باد شاه د حالاتو باره کي تفسیر مظهري کي په تفسیر د سورة ال عمران کي د یوي مسئلي په ضمن کي دلچسپ معلومات را جمع کړي دي تاسو ته یي په لاندینو کرښو کي پیش کوو:

بغوي په روایت دکلبي اومحمد بن اسحاق په روایت دزهري سره دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل کړي دي کله چي جعفر بن ابي طالب رضي الله عنه مکه پریخوده اویوڅو صحابه کرام یي دځان سره حبشي ته روان کړل اورسول الله صلي الله علیه وسلم هم مدیني ته هجرت اوکړو اوپه دي دوران کي دبدر جنګ هم اوشو (په کوم کي چي دقریشو لوي لوي سرداران مړه شول اوډیر ګرفتار هم شول) نودد ینه پس قریشو په دار الندوه کي مشوره وکړه او ویي وئیل دمحمد صلي الله علیه وسلم کوم ملګري چي نجاشي بادشاه ته تلي دي په هغوئ باندي زمونږ دبدر دمقتولینو قصاص دي . لهذا څه قدري مال جمع کړئ اوپه طور دتحفي یي نجاشئ بادشاه ته ویسئ ددي دپاره کله چي دا خلق هغه ته ورسیږي نوهغه به یي مونږ ته حواله کړي (او انتقام به ورنه واخستي شو) پس په دي سلسله کي هغوئ یودوه پوهه کسان پخپلي نمائندګئ اولیږل چي عمرو بن عاص او عماره بن ابي معیط وو اوڅه څمړي وغیره یي ورته په طور دتحفي په

---

[1] ـ سنن النسائي في الجنائز ٧٢ (١٩٧٧) سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٣ (١٥٣٥) (تحفة الأشراف : ١٠٨٨٩) مسند احمد (٣ في ٤٣٩) وأخرجه صحيح مسلم في الجنائز ٢٢ (٩٥٣) سنن النسائي في الجنائز ٥٧ (١٩٤٨) مسند احمد (٤ في ٤٣٣، ٤٤١، ٤٤٦)

اتفاق سره اوليږلي ، دوئ دواړه دسمندر په لاره حبشي ته اورسيدل او د نجاشي دربار ته په حاضريدوسره يي سجده اوکړه اودسلامتئ دعا يي اوکړه او عرض يي اوکړو چې زمونږه قوم ستاسو خيرخواهان دي اوستاسو شکرګذار دي اوستاسو دعافيت دپاره دعا ګو دي زمونږ قوم مونږ تاسوته راليږلي يو په دي خبره باندي دخبرولو دپاره چې تاته به دمکي نه يوڅوکسان راځي چې ته وړباندي خبر يي دوئ ديو لوي دروغژن سړي ملګري وو چاچي دالله درسول کيدو دروغژنه وعده کړي ده مګر علاوه دبي وقوفانونه يي په مونږ کي څوك نه دي ملګري شوي مونږ دوئ دومره تنګ کړي دي چې په مجبوره کيدوسره يي زمونږ دملك په يوه ډيرئ کي پناه اخستلي ده اوهلته دخلقو تګ راتګ بندشوي دي نه هلته څوك ورځي اونه ورنه څوك بهر راوځي، اولږه اوتنده په دوئ مسلط شوي ده دډيري سختئ نه دتنګيدو په وجه يي دخپل تره ځوي تاته راليږلي دي ددي دپاره چې هغه ستا مذهب خراب کړي اوستا حکومت او رعيت تباه کړي ته ددغه خلقو په باره کي ډير احتياط اوکړه اوکه هغوئ مونږ ته حواله کړي ددي دپاره چې ستا نه يي منع کړو نو بهتره به وي زمونږ ددي خبري ثبوت دا دي چې هغوئ به ستاددين او طريقي نه نفرت کوي اوکله چې راشي نوستا په وړاندي به سجده نه کوي او نه به دنورو خلقو پشان دشاهي ادابو تعميل کوي.

نجاشي چې دا واوريدل نوجعفر رضي الله عنه يي سره دملګرو طلب کړو دوئ چې دروازي ته ورسيدل نوجعفر رضي الله عنه په چغه اووئيل چې دالله تعالي ډله دداخليدو اجازت غواړي نجاشي چې اواز واوريدو نوحکم يي اوکړو چې دي اواز کونکي ته حکم اوکړئ چې خپل الفاظ دوباره اووائي نو جعفر رضي الله عنه دوباره اووئيل نجاشي اووئيل دالله تعالي په اذن او ذمه دارئ سره داخل شئ عمرو بن عاص خپلو ملګرو ته اووئيل دا خبري خو اورئ چې دالله تعالي ډله يي اووئيله او نجاشي ورته څه جواب ورکړو عمرو بن عاص او عماره دجعفر سره د نجاشي په سلوك باندي خفه شو کله چې هغوئ دننه راغلل نو نجاشي ته يي سجده اونکړه عمرو بن عاص نجاشي ته اووئيل ستا خيال دي کنه دغرور په وجه تاته سجده نه کوي نجاشي دوئ ته اووئيل څه وجه ده چې تاسو ماته سجده اونکړه اوهغه اداب مو ولي ادا نکړل کوم چې دبهر نه راتلونکي يي ادا کوي ؟ صحابه کرامو اووئيل مونږ هغه الله ته سجده کوو چاچي ته پيدا کړي يي اوبادشاهي يي درکړي ده دسلام دا طريقه زمونږ په هغه وخت کي وه کله چې به مونږ دبتانو عبادت کولو ليکن اوس الله تعالي په مونږ کي يو رښتوني نبي پيدا کړي دي هغه مونږه دداسي قسم سلام کولو نه منع کړي يو، اومونږ ته يي دداسي قسم سلام کولو حکم کړي دي کوم چې دالله تعالي خوښ دي يعني دا طريقه دسلام داهل جنت ده ، په دي ګفتګو سره نجاشي پوهه شو چې همدا خبري حقي دي اوپه تورات او انجيل کي هم داسي دي ،نجاشي ووئيل په تاسو کي هغه کس کوم يو دي چاچي اواز کړي وو چې دالله تعالي ډله دداخليدو

اجازت غواړي جعفر رضي الله عنه اوفرمائيل ما ونيلي وو اوددينه پس يي اوفرمائيل په دي کي هيڅ شك نشته چي ته دزمکي په بادشاهانو کي يو بادشاه يي اوداهل کتابو نه يي نه ستا په وړاندي ډيري خبري کول مناسب دي اونه په چاباندي ظلم کول زه غواړم چي دخپلو ملګرو دطرف نه يواځي پخپله تاته جواب درکړم خوته دي دواړو کسانوته حکم اوکړه چي په دوئ کي دي يوکس خبري اوکړي او بل دي زمونږ دخبرو اوريدو دپاره خاموش پاتي شي ددي په اوريدو سره عمرو جعفر ته اووئيل وايه جعفر رضي الله عنه نجاشي ته اووئيل ددوئ نه تپوس اوکړه چي مونږ غلامان يو که ازاد (چي په تيښته راغلي يو) عمرو اووئيل هيڅ کله نه تاسو ازاد او معزز يي نجاشي اووئيل د غلامئ دالزام نه خو بچ شوئ جعفر اووئيل دا تپوس هم ورنه اوکړه ايا مونږ په ناحقه قتل کړي دي اودقصاص دويري نه راغلي يو عمرو اووئيل نه، يو څاڅکي وينه هم تاسو نه ده بيولي جعفر اووئيل ايامونږ دناداريُ اوقرضداريُ په وجه راغلي يو چي دهغي ادا کول زمونږ په ذمه دي نجاشي اووئيل که چري ستاسو په ذمه يو قنطار (يعني ډير مال هم وي) نودهغي ادا کول زما په ذمه دي عمرو اووئيل هيڅ مال په تاسو دچا نشته يوقيراط هم درباندي نشته نجاشي اووئيل نوبياتاسوددوئ نه څه غواړئ عمرو اووئيل مونږ او دوئ ديو مذهب والا وو اودپلار اودنيکه په دين باندي وو دوئ هغه پريخودو او په بل مذهب پسي روان شول نوپه دي وجه باندي زمونږ قوم مونږ تاسو ته راوليږلو چي دوئ مونږ ته حواله کړي نجاشي تپوس اوکړو ماته رښتيا رښتيا اووائي تاسو چي په کوم مذهب باندي وئ هغه څنګه مذهب وو او اوس هغه کوم مذهب ته اوړيدلي دي؟ جعفر اووئيل په کوم مذهب باندي چي مونږ وو هغه دشيطان دين وو مونږ به دالله تعالي نه انکار کولو اودکاڼړو عبادت به موکولو اوس چي مونږ کوم دين ته راوړيدلي يو هغه دالله تعالي اسلام دين دي دا دين دالله تعالي دطرف نه مونږ ته يو رسول راوړي دي اودهغه سره يوکتاب هم دي لکه څنګه چي ابن مريم عليه السلام راوړي وو دا کتاب هم دهغه سره موافق دي نجاشي اووئيل تاسو خوډيري لوي خبري اوکړي اوددينه پس يي دناقوص غړولو حکم اوکړو ناقوص اووهلي شو اوتمام عيسائي علماء او مشائخ راجمع شول کله چي ټول رايوځاي شول نو نجاشي ورته اووئيل زه تاسو ته په هغه الله باندي قسم درکوم چاچي په عيسي عليه السلام باندي انجيل نازل کړي وو اوتپوس درنه کوم چي ايا تاسو په انجيل کي دا خبره ليدلي ده چي دعيسي عليه السلام اودقيامت په مينځ کي کوم نبي راتلونکي دي ؟

علماؤ جواب ورکړو يقينا الله تعالي ګواه دي داسي شته مونږ ته عيسي عليه السلام ددي بشارت راکړي دي اودايي هم فرمائيلي دي چاچي درباندي ايمان راوړو نو ګوياکي هغه په ماباندي ايمان راوړو اوچاچي ورنه انکار اوکړو نولکه چي زما نه يي انکار اوکړو ، نجاشي جعفر ته اووئيل دا کس تاسو ته دڅه شي حکم کوي؟ اودکومو څيزونو نه مو

منع کوي ؟ جعفر اووئیل هغه زمونږ په وړاندي دالله کتاب لولي اودنیکو کارونو دکولو حکم کوي اود بدو کارونو نه منع کول کوي دګاونډیانو اورشته دارانو اویتیمانانو سره دنیك سلوك کولو اوهمدردئ کولو حکم کوئ اوددي خبري حکم هم کوي چي مونږ دي صرف دیو الله عبادت اوکړو دچاسره چي هیڅ شریك نشته.

نجاشي اووئیل کوم کلام چي هغه ستاسوپه وړاندي لولي دهغي نه څه قدري ماته هم واوروئ نو جعفر رضي الله عنه سورة عنکبوت او سورة روم اولوستلو نجاشي اودده ملګرو چي واوریدو نو دسترګو نه یي اوښکي رواني شوي دنجاشي ملګرو اووئیل اي جعفر دا پاك کلام مونږ ته دوباره واوروه نوجعفر رضي الله عنه سورة کهف واوړولو، عمرو بن عاص چي دا حالت لیدو نوزړه یي غوښتل چي نجاشي جعفر ته غصه کړي نوپه دي وجه یي اووئیل چي دا خلق عیسي علیه السلام اودهغه مور ته کنځل کوي نجاشي چي دا واوریدل نودجعفر نه یي تپوس اوکړو چي تاسو دعیسي علیه السلام اودهغه دمور په باره کي څه وائي نوجعفر رضي الله عنه په جواب کي دسورة مریم تلاوت اوکړو کله چي دمریم اوعیسي تذکري ته اورسیدو نو نجاشي دخپل مسواك دبور نه یوه وړه ذره لګه دبوس پشان راواخستله او ویي وئیل په الله قسم عیسي علیه السلام ددي بیان نه دومره هم زیات نه وو او بیا یي جعفر اودهغه ملګرو ته اووئیل چي زما په ملك کي ګرځئ تاسو به محفوظ ئي یعني په امن سره اوسیږئ څوك چي ستاسو بي عزتي اوکړي یا تکلیف درکړي مونږ به دهغي تفتیش کوو بیا یي اووئیل خوشحاله اوسئ هیڅ ویره مه کوئ دابراهیم علیه السلام ډله به هیڅوك خرابه نکړي عمرو تپوس اوکړو چي اي نجاشي ابراهیم علیه السلام ډله کومه یوه ده نجاشي په جواب کي اووئیل دا خلق دي اوددوئ هغه مشر (رسول کریم صلي الله علیه وسلم ) دچاطرف نه چي دوئ راغلي دي اودهغه تابعداري کونکي دي مشرکینو ددي خبري دمنلو نه انکار کولو او پخپله یي ددین ابراهیمي دتابعدارئ دعوي کوله او بیا نجاشي هغه مال هم دوئ ته وروایس کړو کوم چي عمرو اودهغه ملګرو راوړي وو اوورته یي اووئیل ستاسو دا تحفه محض رشوت دي داپخپله قبضه کي واخلئ زما رشوت ته ضرورت نشته الله تعالي ماته بادشاهي راکړي ده . دجعفر رضي الله عنه بیان دي چي بیا مونږ دهغه نه واپس شو او په بهترین محل کي دډیر عزت او عمده میلمستیاسره اوسیدو.....

## دراوي عمران بن حصین رضي الله عنه دزندګئ مختصر حالات

نوم عمران کنیه او ابو نجید او دپلار نوم یي حصین وو دهجرت په ابتداء کي مسلمان شوی وو (مستدرك حاکم).

په بعضي غزواتو کي یي درسول الله صلي الله علیه وسلم سره ملګرتیا کړي وه او درسول الله په ټوله زندګئ کي دی په مدینه کي پاتي شوی دی او د وفات نبوي نه پس یي مدیني ته راتلل

پريخودل او گوشه نشيني يي اختيار كړه، عمرفاروق رضي الله عنه په زمانه كي چي كله بصره اباده شوه نو هلته منتقل شو او ع فاروق رضي الله عنه ورته دتعليم خدمت حواله كړو (طبقات ابن سعد). عمر رضي الله عنه ددور نه پس چي كله جنگونه شروع شول نو ده ورنه ځان اوساتلو (الاصابه).

علامه ابن عبدالبر ليكلي دي كان من فضلاء الصحابة وفقهائهم (الاستيعاب).

دحسن بصري قول دی چي دعمران پشان بل بهترين سړی بصري ته نه دی راغلی (استيعاب).

دده په ژوندكي كي يو څو خصوصيات وو مثلا احترام رسول داسوه رسول پابندي په عبادت كي رياضت كول باوجود ددي چي دده ذات مرجع الخلائق وو څوك چي به په لاره تيريدل نو دده نه به يي مسائل معلومول.

وفات: داستخساء په مرض مريض شو او هم دي مرض په نتيجه كي په ۵۲هجري كي په بصره كي وفات شو (مستدرك).

مرويات: دده دمروياتو شمير ۱۳۰دی، په احاديثو كي به يي ډير زيات احتياط كولو نو ځكه يي دمروياتو شمير كم دی چي ۸ دهغي نه متفق عليه دي په بخاري كي څوارلس او نهه په مسلم كي دي.

****************

## ۴۹ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ الصَّلاَةِ عَلَى الْجَنَازَةِ

### دجنازي مونځ دفضيلت بيان

۱۰۴۰ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فَلَهُ قِيرَاطٌ، وَمَنْ تَبِعَهَا حَتَّى يُقْضَى دَفْنُهَا فَلَهُ قِيرَاطَانِ أَحَدُهُمَا، أَوْ أَصْغَرُهُمَا مِثْلُ أُحُدٍ". فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِابْنِ عُمَرَ، فَأَرْسَلَ إِلَى عَائِشَةَ فَسَأَلَهَا عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَتْ: صَدَقَ أَبُو هُرَيْرَةَ، فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ: لَقَدْ فَرَّطْنَا فِي قَرَارِيطَ كَثِيرَةٍ، وَفِي الْبَاب: عَنِ الْبَرَاءِ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُغَفَّلٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَثَوْبَانَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ.[1]

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په كوم مړي جنازه اوكړه دهغه دپاره يو قيراط اجر دي او څوك چي ورسره پاتي شو تردي چي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف رحمه الله تعالي.

تدفين او خښول يې مكمل كړي دهغه دپاره دوه قيراطه اجر دي، چې په دوئ كې به يو قيراط يا وړوكې قيراط د احد دغرسره برابر وي، راوي وائي ما ابن عمر ته ددې ذكر اوكړو نو هغه عائشه رضي الله عنها ته اوليږلم او دهغې نه مې په دې باره كې تپوس اوكړو ام المؤمنين اوونيل ابوهريره ربنتيا وائي، ابن عمر اوونيل مونږ خو په قيراطونو كې زيادت اوكړو.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دې او دا روايت دابوهريره نه په ډيرو سندونو مروي دې، او په دې باب كې دبراء ، عبدالله بن مغفل، عبدالله بن مسعود ، ابوسعيد خدري، ابئ بن كعب، ابن عمر او ثوبان رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات :** ، قيراط: يعني دڅلورو وريشو په مقدار نيم وانق جمع يې قراريط راخي.

**تشريح :** قيراط په دوه قسمه دې يو ددنيا قيراط دې چې د درهم شپږمې حصې ته ونيلي شي او بل داخرت قيراط دې نو داخرت قيراط دلته په دې حديث كې مراد دې.

په دې حديث كې په جنازه كې دمسلمان شركت كونكو فضيلت بيانولى شي او هغه دادى كه څوك په جنازه كې شريك شي دهغه دپاره يو قيراط اجر دى او كه څوك په ښخولو كې هم شريك شي نو دهغه دپاره دوه قيراطه اجر دى.

دملا علي قاري قول دې چې قيراط په اصل كې ددرهم دولسمې ته ويلې شي چې وزن يې تقريبا دڅلورو وريشو سره برابر دې ليكن دلته ورنه يو ډير لوي انبار او ډيرې مراد دې دكوم تشبيه چې يې داحد دغر سره وركړې ده.

*******************

## ٥٠_ بَابٌ آخَرُ

### دجنازې متعلق يو بل باب

١٠٤١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ. حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ مَنْصُورٍ. قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا الْمُهَزِّمِ، قَالَ: صَحِبْتُ أَبَا هُرَيْرَةَ عَشْرَ سِنِينَ سَمِعْتُهُ، يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً وَحَمَلَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ قَضَى مَا عَلَيْهِ مِنْ حَقِّهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَأَبُو الْمُهَزِّمِ اسْمُهُ: يَزِيدُ بْنُ سُفْيَانَ وَضَعَّفَهُ شُعْبَةُ. (1)

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٨٢٢)

**ترجمه** : دعباد بن منصور بيان دي فرمائي چي ما دابو المهزم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي لس كاله دابوهريره په خدمت كي پاتي شوي يم او ما دهغه نه اوريدلي وو چي فرمائيل يي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي څوك چي دكومي جنازي سره لاړو او دري پيري يي ورته اوړه وركړه نو ده خپل هغه حق اداء كړو كوم چي په ده باندي لاژم وو.
امام ترمذي وائي دا حديث قوي دي بعضي راويانو په همدي سند نقل كړي دي ليكن مرفوع يي نه دي بيان كړي، او دابو المهزم نوم يزيد بن سفيان دي او شعبه محدث دده تضعيف كړي دي.

*****************

## ٥١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ

### دجنازي دپاره د اودريدو بيان

١٠٤٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا لَهَا حَتَّى تُخَلِّفَكُمْ أَوْ تُوضَعَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَجَابِرٍ، وَسَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ، وَقَيْسِ بْنِ سَعْدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دعامر بن ربيعه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي جنازه اووينئ نو اودريږئ تردي چي جنازه تاسو پريږدي او مخكي درنه تيره شي او يا خو كيخودلي شي.
امام ترمذي وائي دعامر بن ربيعه حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابوسعيد خدري، جابر، سهل بن حنيف، قيس بن سعد ، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي.

*****************

[1] _ صحيح البخاري في الجنائز٤٦ (١٣٠٧) و٤٧ (١٣٠٨) صحيح مسلم في الجنائز ٢٤ (٩٥٨) سنن ابی داود في الجنائز٤٧ (٣١٧٢) سنن النسائي في الجنائز٤٥ (١٩١٦) سنن ابن ماجه في الجنائز٣٥ (١٥٤٢) (تحفة الأشراف : ٥٠٤١) مسند احمد (٣ في ٤٤٧)

١٠٤٣_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ الحلواني، قَالَا: حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ، فَقُومُوا لَهَا فَمَنْ تَبِعَهَا فَلَا يَقْعُدَنَّ حَتَّى تُوضَعَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ فِي هَذَا الْبَابِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، قَالَا: مَنْ تَبِعَ جَنَازَةً فَلَا يَقْعُدَنَّ حَتَّى تُوضَعَ عَنْ أَعْنَاقِ الرِّجَالِ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّهُمْ كَانُوا يَتَقَدَّمُونَ الْجَنَازَةَ فَيَقْعُدُونَ قَبْلَ أَنْ تَنْتَهِيَ إِلَيْهِمُ الْجَنَازَةُ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ. (1)

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تاسو جنازه اووينئ ورته اودريږئ او څوك چي ددي سره يو ځاي لاړ شي هغه دي هغه وخته پوري هرګز نه كيني ترڅو چي جنازه ايخودلي شوي نه وي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابوسعيد خدري حديث حسن صحيح دي، او همدا د امام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي دوئ وائي څوك چي دكومي جنازي سره لاړ شي نو تلونكي به هغه وخته پوري نه كيني ترڅو پوري چي جنازه دخلقو دځټيونو نه لاندي ايخودلي شوي نه وي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو نه مروي دي چي هغوئ به دجنازي نه مخكي تلل او دجنازي رسيدو نه مخكي به كيناستل او همدا دامام شافعي قول دي.

****************

## ٥٢_ بَابُ الرُّخْصَةِ فِي تَرْكِ الْقِيَامِ لَهَا

### دجنازي دپاره د نه اودريدلو داجازت بيان

١٠٤٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ وَاقِدٍ وَهُوَ: ابْنُ عَمْرِو بْنِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنْ مَسْعُودِ بْنِ الْحَكَمِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّهُ ذُكِرَ الْقِيَامُ فِي الْجَنَائِزِ حَتَّى تُوضَعَ، فَقَالَ عَلِيٌّ: قَامَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَعَدَ". وَفِي الْبَابِ: عَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَفِيهِ رِوَايَةُ أَرْبَعَةٍ

---

1 _ صحيح البخاري في الجنائز ٤٨ (١٣١٠) صحيح مسلم في الجنائز ٢٣ (٩٥٩) سنن النسائي في الجنائز ٤٣ (١٩١٥) و٤٥ (١٩١٨) و٨٠ (٢٠٠٠) مسند احمد (٣ في ٢٥، ٤١، ٥١) (تحفة الأشراف: ٤٤٢٠) وأخرجه سنن ابى داود في الجنائز ٤٧ (٣١٧٣) مسند احمد (٣ في ٨٥، ٩٧)

مِنَ التَّابِعِينَ بَعْضُهُمْ عَنْ بَعْضٍ. وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ العِلْمِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَهَذَا أَصَحُّ شَيْءٍ فِي هَذَا البَابِ، وَهَذَا الحَدِيثُ نَاسِخٌ لِلأَوَّلِ إِذَا رَأَيْتُمُ الجَنَازَةَ فَقُومُوا. وقَالَ أَحْمَدُ: إِنْ شَاءَ قَامَ وَإِنْ شَاءَ لَمْ يَقُمْ. وَاحْتَجَّ بِأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ رُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ قَامَ ثُمَّ قَعَدَ. وَهَكَذَا قَالَ: إِسْحَاق بْنُ إِبْرَاهِيمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: مَعْنَى قَوْلِ عَلِيٍّ: قَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الجَنَازَةِ ثُمَّ قَعَدَ. يَقُولُ: "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا رَأَى الجَنَازَةَ قَامَ ثُمَّ تَرَكَ ذَلِكَ بَعْدُ فَكَانَ لَا يَقُومُ إِذَا رَأَى الجَنَازَةَ".[1]

**ترجمه**: مروي دي چي دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه نه په مذكوره مسئله يعني څو پوري چي جنازه ايخودلي شوي نه وي تر هغي كيناستل منع دي. كي تپوس اوكړي شو نو ويي فرمائيل رسول الله صلي الله عليه وسلم به اودريدلو او بيابه كيناستلو.

امام ترمذي وائي دعلي حديث حسن صحيح دي. او په دي باب كي دڅلورو تابعينو روايتونه دي چي يو دبل نه روايت كوي، امام شافعي وائي په دي باب كي دټولو نه زيات صحيح روايت همدا دي او دا حديث دمخكني حديث "كله چي جنازه اووينئ نو ورته اودريږئ" دپاره ناسخ دي او په دي باب كي دحسن بن علي او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي، امام احمد وائي دا مسئله اختياري ده كه څوك اودريږي او كنه اودريږي هغوئ په دي مسئله كي ددي ارشاد نبوي نه استدلال كړي دي چي رسول الله به اودريدو او بيا به كيناستلو او ددي پشان قول داسحاق بن ابراهيم بن راهويه هم دي دعلي رضي الله عنه ددي قول مفهوم دادي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله جنازه اوليده نو اودريدلو به او بيا ددينه منع شو دهغي نه پس چي به يي كله جنازه اوليده نو نه به اودريدلو.

****************

## ٥٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا

**ارشاد نبوي دي بغلي قبر زمونږ دپاره دي او صندوقي قبر د نورو دپاره دي**

١٠٤٥_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَنَصْرُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الكُوفِيُّ، ويوسف بن موسى القطان البغدادي، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَكَّامُ بْنُ سَلْمٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ عَبْدِ الأَعْلَى، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ

[1] _ صحيح مسلم في الجنائز ٢٥ (٩٦٢) سنن ابي داود في الجنائز ٤٧ (٣١٧٥) سنن النسائي في الجنائز ٨١ (٢٠٠١، ٢٠٠٢). سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٥ (١٥٤٤) (تحفة الأشراف: ١٠٢٧٦)

عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اللَّحْدُ لَنَا وَالشَّقُّ لِغَيْرِنَا". وَفِي الْبَابِ: عَنْ جَرِيرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنه بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بغلي قبر زمونږ دپاره دي او صندوقي قبر دنورو دپاره دي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث په دي سند حسن غريب دي او په دي باب كي دجرير بن عبدالله، عائشه، ابن عمر، او جابر رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي

*****************

## ٥٤ـ باب مَا يَقُولُ إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ

### كله چي مړي په قبر كي كيخودلي شي كومه دعا وئيل پكار دي

١٠٤٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أُدْخِلَ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ قَال، وَقَالَ أَبُو خَالِدٍ: مَرَّةً إِذَا وُضِعَ الْمَيِّتُ فِي لَحْدِهِ قَالَ مَرَّةً: "بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ"، وَقَالَ مَرَّةً: "بِسْمِ اللهِ وَبِاللهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ أَبُو الصِّدِّيقِ النَّاجِيُّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي الصِّدِّيقِ النَّاجِيِّ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ موقوفاً أَيْضًا. (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي كله چي به مړي قبر كي كيخودلي شو، او كله كله به ابو خالد راوي داسي الفاظ وئيل كله چي به مړي پخپل قبر كي كيخودلي شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به كله كله "بسم الله وبالله وعلي ملة رسول الله" وئيل او كله كله به يي "بسم الله وبالله وعلي سنة رسول الله" وئيل يعني دالله دنوم په مدد او دالله درسول په طريقه زه دامړي په قبر كي ږدم.

---

1 ـ ابن ماجه في الجنائز ٦٥ (٣٢٠٨) سنن النسائي في الجنائز ٨٥ (٢٠١١) سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٩ (١٥٥٤) (تحفة الأشراف : ٥٥٤٢)

2 ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٨ (١٥٥٠) (تحفة الأشراف : ٧٦٤٤)

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند حسن غريب دي، دا حديث په نورو سندونو هم دابن عمر نه مروي دي او هغوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، او دا حديث ابو الصديق ناجي هم دابن عمر نه نقل كړي دي او هغه درسول الله نه نقل كړي دي او همدا رنګې دا حديث ابوالصديق ناجي دابن عمر نه موقوفاً هم نقل كړي دي

****************

## ٥٥ــ بَاب مَا جَاءَ فِي الثَّوْبِ الْوَاحِدِ يُلْقَى تَحْتَ الْمَيِّتِ فِي الْقَبْرِ

### په قبر كي دمړي دلاندي دجامي يا كپړي غوړولو بيان

١٠٤٧ــ حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ الْبَصْرِيُّ. حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ فَرْقَدٍ، قَالَ: سَمِعْتُ جَعْفَرَ بْنَ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: " الَّذِي أَلْحَدَ قَبْرَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبُو طَلْحَةَ. وَالَّذِي أَلْقَى الْقَطِيفَةَ تَحْتَهُ شُقْرَانُ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ". قَالَ جَعْفَرٌ: وَأَخْبَرَنِي عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي رَافِعٍ. قَالَ: سَمِعْتُ شُقْرَانَ. يَقُولُ: أَنَا وَاللَّهِ طَرَحْتُ الْقَطِيفَةَ تَحْتَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْقَبْرِ. قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ شُقْرَانَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَرَوَى عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ فَرْقَدٍ هَذَا الْحَدِيثَ. (1)

**ترجمه** : عثمان بن فرقد وائي ما دمحمدبن جعفر نه اوريدلي دي او هغه دخپل پلار نه روايت كولو چي كوم كس درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره بغلي قبر كنستلي وو هغه ابو طلحه دي او چاچي درسول الله لاندي په قبر كي څادر غوړولي وو هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد كړي غلام شقران دي جعفر وائي ما ته عبيدالله بن ابي رافع خبر راكړي دي فرمائيل يي چي ما دشقران نه اوريدلي دي په الله قسم ما په قبر كي درسول الله صلي الله عليه وسلم لاندي څادرغوړولي وو.

امام ترمذي وائي دشقران حديث حسن غريب دي او په دي باب كي دابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت مروي دي او ابن مديني هم دعثمان بن فرقد نه دا حديث نقل كړي دي.

****************

١٠٤٨ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " جُعِلَ فِي قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَطِيفَةٌ حَمْرَاءُ ". قَالَ: وقَالَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ فِي مَوْضِعٍ آخَرَ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، وَيَحْيَى، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَهَذَا أَصَحُّ. قَالَ

1 ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٨٣٦)

أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ الْقَصَّابِ وَاسْمُهُ: عِمْرَانُ بْنُ أَبِي عَطَاءٍ، عَنْ أَبِي جَمْرَةَ الضُّبَعِيِّ وَاسْمُهُ: نَصْرُ بْنُ عِمْرَانَ، وَكِلَاهُمَا مِنْ أَصْحَابِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ كَرِهَ أَنْ يُلْقَى تَحْتَ الْمَيِّتِ فِي الْقَبْرِ شَيْءٌ. وَإِلَى هَذَا ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرمائي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په قبرمبارك كي يو سور څادر ايخودلي شوي وو او محمد بن بشار په بل مقام كي په دي سند كي ابوجمره لفظ ذكر كړي دي او دا زيات صحيح دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، او شعبي دابوحمزه قصاب نه هم روايت نقل كړي دي او دهغه نوم عمران بن ابي عطاء دي او دجمره ضبعي نه هم روايت مروي دي او دهغه نوم نصر بن عمران دي او دوئ دواړه دابن عباس شاګردان دي ، دابن عباس نه دا روايت هم منقول دي چي هغوئ په قبر كي دمړي لاندي كوم څيز غوړول مكروه ګڼړل او بعضي اهل علمو هم دا قول اختيار كړي دي.

****************

## ٥٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَسْوِيَةِ الْقُبُورِ

### دزمكي سره دقبرونو دبرابرولو بيان

١٠٤٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، أَنَّ عَلِيًّا، قَالَ لِأَبِي الْهَيَّاجِ الْأَسَدِيِّ: أَبْعَثُكَ عَلَى مَا بَعَثَنِي بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "أَنْ لَا تَدَعَ قَبْرًا مُشْرِفًا إِلَّا سَوَّيْتَهُ، وَلَا تِمْثَالًا إِلَّا طَمَسْتَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، يَكْرَهُونَ أَنْ يُرْفَعَ الْقَبْرُ فَوْقَ الْأَرْضِ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: أَكْرَهُ أَنْ يُرْفَعَ الْقَبْرُ إِلَّا بِقَدْرِ مَا يُعْرَفُ أَنَّهُ قَبْرٌ لِكَيْلَا يُوطَأَ وَلَا يُجْلَسَ عَلَيْهِ. ([2])

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٣٠ (٩٦٧) سنن النسائي في الجنائز ٨٨ (٢٠١٣) (تحفة الأشراف : ٦٥٢٦) مسند احمد (١/ في ٢٢٨، ٣٥٥)

[2] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٣١ (٩٦٩) سنن ابي داود في الجنائز ٧٢ (٣٢١٨) سنن النسائي في الجنائز ٩٩ (٢٠٣٣) (تحفة الأشراف : ١٠٠٨٣) مسند احمد (١/ في ٩٦، ١٢٩)

**ترجمه** : د ابوالهياج حيان بن حصين نه روايت دى چي ماته علي رضي الله عنه اوفرمائي ايا تا په داسى كار پسى وانه ستوم كوم پسى چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم استولى وم، هغه دا چي ته هرچرته اوچت قبر اووينې نو دبرابرولو بغير يي مه پريږده او هر چرته چي مجسمه او بت اووينې نو دماتولو نه بغير يي مه پريږده.

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن دي، او په دي باب كي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او دبعضي اهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي هغوئ قبر دزمكي نه اوچت حالت كي مكروه تحريمي گنړي، امام شافعي وائي قبر چي ددومره اندازي نه زيات وي په څومره چي ددي پيژندگلي كيدي شي هغه دده په نزد مكروه تحريمي دي او دا دي وران كړي شي اوكيناستلورباندي پكارنه دي.

**لغات** : طمسته: طمس طمسا معني ورانول.

**تشريح** : تصوير جوړول او لوړ قبرونه جوړول داسي گناهونه دي دكومو ختمول چي دمسلمان حكمران ذمه داري ده ځكه چي په شريعت كي پاخه قبرونه او ديو گز نه لوړ قبرونه جوړول منع دي.

### د ابوالهياج حيان بن حصين حالات:

نوم حيان كنيه ابو الحياج او دپلار نوم حصين وو دقبيله بن اسد سره يي تعلق دى داسماء الرجال والا په نزد د متوسطي درجي تابعينو نه دى چي د عمر فاروق او علي رضي الله عنهما وغيره نه يي احاديث نقل كړي دي او ابن حبان وغيره په ثقات تابعينو كي شميرلى دى دده نه دده ځامن، منصور او شعبي وغيره نقل دروايت كوي.

### دابووائل شقيق ابن سلمه رضي الله عنه حالات:

نوم شقيق كنيه ابو وائيل قبيله بني اسد، دكوفي اوسيدونكي وو، دتابعينو دجملي نه دي، دابن حجر په قول په ۷۴ هجري كي وفات شوي دي(التقريب)

****************

## ۵۷_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْمَشْيِ عَلَى الْقُبُورِ وَالْجُلُوسِ عَلَيْهَا وَالصَّلاَةِ إِلَيْهَا

### په قبرونو دپاسه دگرځيدو او كيناستلو او قبرونو ته مخامخ دمونځ كولو دكراهت بيان

۱۰۵۰_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلاَنِيِّ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الأَسْقَعِ، عَنْ أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لاَ تَجْلِسُوا عَلَى الْقُبُورِ وَلاَ تُصَلُّوا إِلَيْهَا ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي

هُرَيْرَةَ، وَعَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، وَبَشِيرِ ابْنِ الْخَصَاصِيَةِ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْمُبَارَكِ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ.[1]

**ترجمه** : د ابومرثد (كناز بن الحصين) غنوي رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، په قبرونو مه کينئ او مه ددوئ په مخامخ مونځ کوئ امام ترمذي وائي په دي باب کي دابوهريره، عمرو بن حزم، بشير بن خصاصيه رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي.

دعبدالله بن مبارك نه هم په مذكوره سند ددي حديث هم معني روايت مروي دي.

**لغات** : القبر معني هغه ځاي چرته چي مړي دفن کولي شي ، قبر يقبر قبرا مقبرا معني مړي دفن کول، اقبره معني قبر ته يي داخل کړو.

**تشريح** : ددي حديث مطلب دادی چي قبرونو ته مخامخ مونځ مه کوئ او که چري دقبر دتعظيم په وجه قبلي ته مخامخ مونځ کوي نو په دي باندي انسان کافر کيږي او که دقبر تعظيم يي مقصود نه وي او بياهم قبر ته مخامخ مونځ وکړي نو کم از کم مکروه تحريمي به ضرور وي او همدا رنګي په قبرونو باندي کيناستل هم مکروه دي په قبر باندي دناستي په وجه دقبر سپکاوی کيږي خو الله تعالي خو دقبرونو دعزت کولو حکم کړی دی امام نووي وائي قبر پوخ جوړول هم مکروه تحريمي دي او ورباندي کيناستل او ورته ډډه وهل هم حرام دي.

**د ابومرثد كناز بن الحصين رضي الله عنه حالات:**

نوم مرثد دپلار نوم کناز بن حصين بن يربرع بن جهينه دي چي په مکه کي مسلمان شوی دی او دبدر نه مخکي يي دمکي نه مديني ته هجرت کړی دی او د اوس بن صامت سره رسول الله دده ورور ولي قائم کړي وه په غزوه بدر کي درسول الله سره په جهاد کي شريك وو.

وفات: بنو عزل او قاره داسلام قبلولو نه پس درسول الله نه دمذهبي تعليم دپاره دمعلم دپاره درخواست اوکړو نو رسول الله ددوئ په درخواست مرثد يا عاصم بن ثابت په امارت کي يو جماعت اوليږلو په رجيع مقام کي بنو هزيل قبيلي والا دبريندو تورو سره راغلل او جنګ شروع شو او په دي جنګ کي مرثد او خالد او عاصم رضي الله عنهم شهيدان شول مزيد حالات په اسد الغابه طبقات ابن سعد استيعاب کي کتلی شئ (روضة الصالحين)

*****************

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ۳۳ (۹۷۲) سنن ابي داود في الجنائز ۷۷ (۳۲۲۹) سنن النسائي في القبلة ۱۱ (۷۶۱) (تحفة الأشراف : ۱۱۱۶۹) مسند احمد (۴ في ۱۳۵)

١٠٥١_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَأَبُو عَمَّارٍ، قَالَا: أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، عن أَبِي مَرْثَدٍ الْغَنَوِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَيْسَ فِيهِ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ، وَهَذَا الصَّحِيحُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدِيثُ ابْنِ الْمُبَارَكِ خَطَأٌ، أَخْطَأَ فِيهِ ابْنُ الْمُبَارَكِ، وَزَادَ فِيهِ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ الْخَوْلَانِيِّ، وَإِنَّمَا هُوَ بُسْرُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، عَنْ وَاثِلَةَ، هَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ جَابِرٍ، وَلَيْسَ فِيهِ عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ، وَبُسْرُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَدْ سَمِعَ مِنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ. (1)

**ترجمه** : په دي سند سره هم دابومرثد غنوي رضي الله عنه نه روايت مروي دي البته په دي سند كي دابو ادريس واسطه نشته او همدا صحيح روايت دي.

امام ترمذي وائي دامام بخاري قول دي چي دابن مبارك روايت غلط دي په دي كي دابن مبارك نه غلطي شوي ده چي په دي كي دابوادريس خولاني واسطه زياته كړي ده صحيح دادي كوم چي بسر بن عبدالله دواسطي نه بغير دواثله نه نقل كړي دي دا رنګي نورو ډيرو راويانو هم دعبدالرحمن بن يزيد بن جابر نه نقل كړي دي او په دي كي هغوئ دابوادريس واسطه نه ده ذكر كړي او بسر بن عبدالله دواثله بن اسقع نه سماع كړي ده.

****************

## ٥٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ تَجْصِيصِ الْقُبُورِ وَالْكِتَابَةِ عَلَيْهَا

**دقبرونو دپخولو او په دي باندي دليكل كولو دكراهت بيان**

١٠٥٢_ حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ الْأَسْوَدِ أَبُو عَمْرٍو الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تُجَصَّصَ الْقُبُورُ، وَأَنْ يُكْتَبَ عَلَيْهَا، وَأَنْ يُبْنَى عَلَيْهَا، وَأَنْ تُوطَأَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ جَابِرٍ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْهُمُ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ فِي تَطْيِينِ الْقُبُورِ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا بَأْسَ أَنْ يُطَيَّنَ الْقَبْرُ. (2)

---

1 _ صحيح مسلم في الجنائز ٣٣ (٩٧٢) سنن ابي داود في الجنائز ٧٧ (٣٢٢٩) سنن النسائي في القبلة ١١ (٧٦١) (تحفة الأشراف: ١١١٦٩) مسند احمد (٣ في ١٣٥)

2 _ صحيح مسلم في الجنائز ٣٢ (٩٧٠) سنن ابي داود في الجنائز ٧٦ (٣٢٢٥) سنن النسائي في الجنائز ٩٦ (٢٠٢٩) (تحفة الأشراف: ٢٧٩٦) مسند احمد (٣ في ٢٩٥)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قبر پوخ جوړول او چونه كول او وربانديي ليكل كول او وربانديی منجور كيدل او دهغه دپاسه ابادي كول منع كړي دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دا په نورو سندونو هم دجابر نه مروي دي بعضي اهل علمو په قبرونو د خاوري اچولو اجازت وركړي دي او حسن بصري هم په دوئ كي شامل دي، دامام شافعي قول دي په قبرونو باندي په خاورو اچولو كي هيڅ قباحت نشته.

**لغات** : القبر معني هغه ځاي چرته چي مړي دفن كولي شي ، قبر يقبر قبرا مقبرا معني مړي دفن كول، اقبره معني قبر ته يي داخل كړو.

**تشريح** : علماء وائي چي قبر پوخ جوړول ناجائز دي قبر كه دننه نه پوخ كړی شي او كه دبهر نه دواړه يوشان ناجائز دي او همدا رنګي په قبر باندي كيناستل هم جائز نه دي ځكه چي ددي په وجه دقبر والا سپكاوی كيږي بعضي خلق وائي كه څوك دغم داظهار په وجه په قبر مسلسل كيني نو دا هم ناجائز دي.

او همدا رنګي په قبر باندي عمارت او ګنبد وغيره جوړول هم درست نه دي بلكي كه جوړ كړی شوی وي نو ماتول يي واجب دي لكه چي يو ځل نبي كريم صلي الله عليه وسلم علي رضي الله عنه ددي كار دپاره ليږلی وو.

علامه توريشتي وائي چي دجاهليت په زمانه كي هم دا رسم وو چي كفارو به دقبر دپاسه دلسو ورځو پوري سوری كولو ددوئ سره دمشابهت كولو نه هم ممانعت راغلی دی (منهاج الصالحين ، روضة الصالحين)

داولياؤ دقبرونو سره دمونځ كولودپاره مسجد جوړول دشيخ استاد محدث محمد فاخر په نزد مكروه دي اودكراهت ثبوت دلاندي ذكر شوو احاديثونه معلوميږي.

مسلم دابو الهياج اسدي قول نقل كړي دي چي ماته علي رضي الله عنه فرمائيلي دي ايا په هغه كار پسي دي اونه ليږم په كوم پسي چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ليږلي وم اوهغه دادي چي هرچرته كومه دركاهويني نه ورانوي به يي اوچي هرچرته لوړ قبر ويني نو اواروي به يي اودزمكي په برابر به يي پريږدي اوددينه زيات به يي نه پريږدي.

مسلم دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دقبرونو دپخولو او پدي باندي دكيناستلو اودعمارت جوړولونه منع فرمائيلي ده.

بخاري اومسلم دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها او ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت بيان كړي دي فرمائيل يي چي كله د رسول الله صلي الله عليه وسلم مرض سخت شو (او بيهوشي وربانديي راغله) نوپه مخ مبارك يي څادر خور كړي شو ليكن چي كله يي روح ختلو

نوڅادر يي دمخ نه لري کړو اوپه همدي حالت کي يي وئيل په يهودو اونصاراوو دي دالله لعنت وي هغوئ دخپلو انبياؤ قبرونه مسجدونه ګرځولي وو ، عائشه رضي الله عنها اوفرمائيل رسول الله امت لره داهل کتابوپشان ويرولو

ددي احاديثو نه دقبرونو پخولو اولوړولو اوپدي باندي دعمارت جوړولو ممانعت ثابتيږي دقبرونوسره نژدي دمسجدونو جوړولو ممانعت ورنه نه ثابتيږي ، پاتي شوه داچي رسول الله صلي الله عليه وسلم داهل کتابو مذمت کړي وو نوهغوئ دخپلو انبياؤ قبرونه مسجدونه ګرځولي وو يعني قبرونو ته يي سجدي شروع کړي وي اوداابومرثد غنوي رضي الله عنه په روايت کي دا مطلب په صراحت سره راغلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په قبرونو به نه کينئ اونه به دوئ ته مخامخ مونځونه کوئ (رواه مسلم).

****************

## ٥٩_ بَاب مَا يَقُولُ الرَّجُلُ إِذَا دَخَلَ الْمَقَابِرَ

### قبرستان د داخليدو وخت کي څه وئيل پکار دي

١٠٥٣_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الصَّلْتِ، عَنْ أَبِي كُدَيْنَةَ، عَنْ قَابُوسَ بْنِ أَبِي ظَبْيَانَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقُبُورِ الْمَدِينَةِ، فَأَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ، فَقَالَ: " السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ، يَغْفِرُ اللَّهُ لَنَا وَلَكُمْ، أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ بُرَيْدَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو كُدَيْنَةَ: اسْمُهُ يَحْيَى بْنُ الْمُهَلَّبِ، وَأَبُو ظَبْيَانَ اسْمُهُ: حُصَيْنُ بْنُ جُنْدُبٍ. [1]

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په مدينه منوره کي ديوڅو قبرونو خوا کي تيريدو نو هغی قبرونو ته يی مخ کړو اوويي فرمائيل السلام عليكم ای دقبرونو خاوندانو الله تعالي دی مونږ او تاسو ټول اوبخښي تاسو مخکي شوئ او مونږ درپسي يو دا امام ترمذي روايت کړی دی او حديث حسن يی ورته وئيلی دی امام ترمذي وائي په دي باب کي دبريده او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث وارد دي.

**لغات** : سلف: تير شوي اباء او اجداد جمع يي اسلاف راځي ، سلف د نصر ينصر نه په معني دتيريدوسره دي.اقبل ماضي صيغه ده دباب افعال نه په معني دراتلو.اقبال عليه ، متوجه کيدل مجرد يي دسمع نه په معني دقبلولو دي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٤٠٣)

**تشريح** : ددعا غوښتلو په وخت کي مخ کوم طرف ته کول پکاردي؟

فاقبل عليهم بوجهه، رسول الله به خپل مخ مبارك قبر طرف ته مخامخ کړو او دا دعا به يي ونيله، علماء وائي ددعا ونيلو په وخت کي که مخ دقبر طرف ته وي نو په دي کي څه حرج نشته همدا دجمهوررو علماؤ او مجتهدينو مسلك دى ليکن ابن حجر ددي خلاف دى دهغه په نزد مستحب داده چي قبر ته تلونکی به دمغفرت غوښتو په وخت کي خپل مخ قبلي ته مخامخ کوي

دملا علي قاري قول دى چي دمړي زيارت داسي کول پکار دي لکه څرنګه چي دهغه په ژوند کي کول پکار وو نو که په ژوند کي ورته لري کيناستو نو اوس به هم ورته لري کيني.

ملا علي قاري وائي چي دقبر دزيارت په وخت کي کم از کم يو ځل سورة فاتحه او دري ځله سورة اخلاص ونيل پکار دي او ددي ثواب مړي ته بخل پکار دي او دده دپاره دي دمغفرت دعا اوغواړي.

*****************

## ٦٠ــ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ

### قبرستان ته دتلو دجواز بيان

١٠٥٤ــ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، وَالْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، قَالُوا: حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ النَّبِيلُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ عَلْقَمَةَ بْنِ مَرْثَدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "قَدْ كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ، فَقَدْ أُذِنَ لِمُحَمَّدٍ فِي زِيَارَةِ قَبْرِ أُمِّهِ، فَزُورُوهَا فَإِنَّهَا تُذَكِّرُ الْآخِرَةَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ بُرَيْدَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ بِزِيَارَةِ الْقُبُورِ بَأْسًا، وَهُوَ قَوْلُ: ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. [1]

**ترجمه** : دبريده رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ما تاسو قبرونو ته دتلو نه منع کړي وه؛ خو اوس محمد (صلي الله عليه وسلم) ته دخپلي

---

[1] ــ صحيح مسلم في الجنائز ٣٦ (٩٧٧) (بزيادة فى السياق) (تحفة الأشراف : ١٩٣٢) وأخرجه صحيح مسلم في الأضاحى٥ (٩٧٧) سنن ابى داود في الأشربة٧ (٣٦٩٨) سنن النسائى في الجنائز١٠٠ (٢٠٣٣) والأضاحى٣٥ (٤٤٣٤، ٤٤٣٥) مسند احمد (٥ في ٣٥٠، ٣٥٥، ٣٥٦، ٣٥٧)

مور دقبر دزيارت كولو اجازت وركړي شوي دي نو تاسو هم ددوئ زيارت كولي شئ او دا څيزونه اخرت لره رايادونكي دي.

امام ترمذي وائي دبريده حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوسعيد خدري، ابن مسعود، انس، ابوهريره، اوام سلمه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دی چي هغوئ ته دقبرونو په زيارت كولو كي څه قباحت نه ښكاري، ابن مبارك، امام شافعي، احمد، او اسحاق رحمهم الله هم ددي قائل دي.

**لغات**: نهيتكم: نهي ينهي نهيا دضرب نه په معني درټلو او منع كولو دي اود سمع او كرم وغيره نه هم راځي او په مزيدو كي د باب افتعال او افعال وغيره نه هم مستعمل دي.

**تشريح : په ابتداء داسلام كي دقبرونو زيارت كول منع وو وروسته جائز شول**

"نهيتكم عن زيارة القبور" يعني ماتاسو دقبرونو دزيارت كولونه منع كړي وئ خو اوس يي كولي شئ، په ابتداء داسلام كي رسول الله دقبرونو دزيارت كولو نه ممناعت فرمائيلی دی ځكه چي هغه وخت دجاهليت زمانه نزدي وه او دا خطره وه چي شايد خلق به قبرونو ته دتلونه پس شرك شروع كړي ليكن كله چي رسول الله اوليدل چي اوس دصحابه كرامو په زړونو كي اسلام كلك شو نو قبرونو ته دتلو اجازت يي وركړو.

دتمامو علماؤ په دي خبري اتفاق دی چي دقبرونو دزيارت كولو دپاره تلل مستحب دي او ددي په وجه انسان ته مرګ رايادېږي او زړه يي نرم كيږي او په زړه كي يي دا سوچ پيدا كيږي چي دنيا فاني ده. دمرګ نه پس الله ته پيش كيدل دي.

**دبريده رضي الله عنه حالات**

نوم بريده كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم مصيب بن عبدالله.

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته ورسيدو نو بريده يي په خدمت كي حاضر شو نو رسول الله ورته داسلام دعوت وركړو نو دی فورا مسلمان شو او دده سره دبني اسلم اتيا كسان په اسلام كي داخل شول (طبقات ابن سعد).

په صلح حديبيه او بيعة الرضوان كي يي هم شركت كړی دی (اسد الغابه).

او په فتح مكه كي يي هم ملګرتيا كړي وه (مسند احمد).

تقريبا په شپاړسو غزواتو كي شريك پاتي شوی دی (بخاري كتاب المغازي).

كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داسامه په مشرئ كي اخر لښكر تيار كړو نو په دي كي هم شريك وو (طبقات ابن سعد).

غرض دا چي دده په رګ رګ كي دجهاد جذبي ټوپونه وهل او دژوند مزه به يي داسونو په زغلولو كي ليدله (طبقات ابن سعد).

دیزید په زمانه کي دهجرت په ۶۳ کال وفات شو چي دمرویاتو شمیر یي ۱۲۴ دی یو متفق علیه دی او دوه په بخاري کي دي یولس په مسلم کي دي (تهذیب الکمال).

*****************

۱۰۵۵ـ حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: تُوُفِّيَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ أَبِي بَكْرٍ بِالحبْشِيِّ، قَالَ: فَحُمِلَ إِلَى مَكَّةَ، فَدُفِنَ فِيهَا، فَلَمَّا قَدِمَتْ عَائِشَةُ، أَتَتْ قَبْرَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، فَقَالَتْ:

وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً ... مِنَ الدَّهْرِ حَتَّى قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا
فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا ... لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعَا

ثُمَّ قَالَتْ: "وَاللهِ لَوْ حَضَرْتُكَ مَا دُفِنْتَ إِلَّا حَيْثُ مُتَّ، وَلَوْ شَهِدْتُكَ مَا زُرْتُكَ".[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن ابي مليكه نه مروي دي چي عبدالرحمن بن ابي بكر په حبشه كي وفات شو نو مكي ته د دفن كولو دپاره راوړلي شو او هلته دفن كړي شو كله چي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها مكي ته راغله نو دعبدالرحمن بن ابي بكر قبر ته ورغله او دا اشعار يي اووئيل.

وَكُنَّا كَنَدْمَانَيْ جَذِيمَةَ حِقْبَةً ... مِنَ الدَّهْرِ حَتَّى قِيلَ لَنْ يَتَصَدَّعَا
فَلَمَّا تَفَرَّقْنَا كَأَنِّي وَمَالِكًا ... لِطُولِ اجْتِمَاعٍ لَمْ نَبِتْ لَيْلَةً مَعَا

يعني مونږ دواړه خو ديوي زماني پوري يوځاي اوسيدو لكه دجزيمه مقام د بادشاه د دوه ملګرو پشان تردي پوري چي دا وئيل شروع شو چي دوئ دواړه به ديو بل نه هيڅ كله جدا نشي، او بيا يي اووئيل په الله قسم كه چري زه تاسره موجود وي نو ته به هم هلته دفن شوي وي چرته چي ته وفات شوي يي او كه چري زه تاسره حاضره وي نو اوس به دي ملاقات ته نه وم راغلي

## دابو محمد عبد الرحمن بن ابي بكر صديق رضي الله عنه حالات

نوم عبدالرحمن كنيه ابو عبدالله دا دابوبكر صديق رضي الله عنه ځوي دی دمور نوم يي ام رمان دی دعائشه رضي الله عنها حقيقي ورور دی دصلح حديبيه په موقعه مسلمان شوی دی

---

[1] ـ صحيح مسلم في الجنائز ٣٦ (٩٧٤) (بزيادة في السياق) (تحفة الأشراف : ١٩٣٢) وأخرجه صحيح مسلم في الأضاحي٥ (٩٧٧) سنن ابي داود في الأشربة٧ (٣٦٩٨) سنن النسائي في الجنائز١٠٠ (٢٠٣٤) والأضاحي٣٥ (٤٤٣٤، ٤٤٣٥) مسند احمد (٥ في ٣٥٠، ٣٥٥، ٣٥٦، ٣٥٧)

او بيايي ددينه پس يي په مدينه كي دابوبكر رضي الله عنه سره اوسيدل كړي دي په تيراندازئ كي ماهروو دصلح حديبيه نه پس په تمامو جنګونو كي دمسلمانانو سره شريك شوى دى او په جنګ يمامه كي يي دبهادرئ كمال خودلى دى، دقلعه يمامه ديوال په يو ځاي كي سورى شو مسلمانانو په دي كي ننوتل غوښتل ليكن ددشمنانو يو سردار محكم بن طفيل هلته موجود وو نو عبدالرحمن په غشي اوويشلو او بياددينه پس مسلمانان هلته داخل شول دوفات قصه يي داسي ده چي په اخري عمر كي مكي ته تلى وو او دښار نه تقريبا لس ميله لري په حبشي مقام كي په يو كور كي اوسيدو دهجرت په ۵۳ كال يو ځل اوده وو او همداسي اوده پاتي شو پاڅيدو ته جوړ نشو كله چي عائشه رضي الله عنها حج ته لاړه نو دده دقبر سره اودريده او دا اشعار يي اوونيل.

وكنا كندما ني جذيمة حقبة ... من الدهر حتي قيل لن يتصدعا
فلما تفرقنا كاني ومالكا ... لطول اجتماع لم نبت ليلة معا

دمروياتو تعداد يي اته دى چي دري په دي كي متفق عليه دي.

****************

## ٦١_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ زِيَارَةِ الْقُبُورِ لِلنِّسَاءِ

### دښځو دپاره دقبرونو دزيارت كولو دمما نعت بيان

١٠٥٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُورِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَحَسَّانَ بْنِ ثَابِتٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: أَنَّ هَذَا كَانَ قَبْلَ أَنْ يُرَخِّصَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ، فَلَمَّا رَخَّصَ دَخَلَ فِي رُخْصَتِهِ الرِّجَالُ وَالنِّسَاءُ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنَّمَا كُرِهَ زِيَارَةُ الْقُبُورِ لِلنِّسَاءِ لِقِلَّةِ صَبْرِهِنَّ وَكَثْرَةِ جَزَعِهِنَّ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دقبرونو په زيارت كونكو ښځو باندي لعنت وئيلي دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابن عباس، اوحسان بن ثابت رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دبعضي اهل علمو خيال دي دا دهغه وخت خبره ده كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم قبرونو ته دتلو اجازت نه وو وركړي مګر چي كله يي اجازت وركړو نو اوس داجازت په عموم كي نارينه او زنانه دواړه شامل دي، بعضي اهل علم

---

[1] _ سنن ابن ماجه في الجنائز ٤٩ (١٥٧٦) (تحفة الأشراف: ١٤٩٨٠) مسند احمد (٢ في ٣٣٧، ٣٥٦)

وائي دښخو دپاره دقبرونو زيارت ته تلل ددوئ د بي صبرئ او دجزع فزع دكثرت په وجه مكروه دي.

*****************

## ٦٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الدَّفْنِ بِاللَّيْلِ

### دشپې دمړي دخښنولو بيان

١٠٥٧ـ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو السَّوَّاقُ، قَالَا: حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ الْيَمَانِ، عَنِ الْمِنْهَالِ بْنِ خَلِيفَةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ أَرْطَاةَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ قَبْرًا لَيْلًا فَأُسْرِجَ لَهُ سِرَاجٌ فَأَخَذَهُ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ، وَقَالَ: "رَحِمَكَ اللهُ إِنْ كُنْتَ لَأَوَّاهًا تَلَّاءً لِلْقُرْآنِ، وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعًا". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ جَابِرٍ، وَيَزِيدَ بْنِ ثَابِتٍ وَهُوَ أَخُو زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ أَكْبَرُ مِنْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَقَالُوا: يُدْخَلُ الْمَيِّتُ الْقَبْرَ مِنْ قِبَلِ الْقِبْلَةِ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: يُسَلُّ سَلًّا، وَرَخَّصَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الدَّفْنِ بِاللَّيْلِ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دشپې يو قبر ته داخل شو او چراغ ورته اولګولي شو نو مړي دقبلي دطرف نه راواخستلو او ويي فرمائيل الله دي په تا باندي رحم اوكړي ته خو ډير نرم دل او ژړيدونكي او دقران زيات تلاوت كونكي يي او بيا يي په ده باندي څلور تكبيرونه اووئيل

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن دي، او په دي باب كي دجابر او يزيد بن ثابت رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي او يزيد بن ثابت دزيد بن ثابت ورور وو او دده نه مشر دي بعضي اهل علمو هم داقول اختياركړي دي، دوئ وائي مړي به په قبر كي دقبلي دطرف نه راويستلي شي، او بعضي وائي چي دسر دطرفه به يي په قبر كي راكش كړي او اكثر اهل علمو دشپې د تدفين كولو اجازت وركړي دي.

*****************

## ٦٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الثَّنَاءِ الْحَسَنِ عَلَى الْمَيِّتِ

### دمړي دتعريف كولو بيان

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٣٠ (١٥٢٠)

١٠٥٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: مُرَّ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِجَنَازَةٍ، فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "وَجَبَتْ". ثُمَّ قَالَ: "أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الأَرْضِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي يوه جنازه تيره کړي شوه او خلقو دهغي تعريف اوکړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل (جنت) واجب شو او بيا يي اوفرمائيل تاسو خلق په زمکه کي دالله تعالي ذو الجلال ګواهان يئ.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر، کعب بن عجره، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

١٠٥٩_ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، وَهَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْبَزَّازُ، قَالاَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ الطَّيَالِسِيُّ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي الْفُرَاتِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِي الأَسْوَدِ الدِّيلِيِّ، قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِينَةَ فَجَلَسْتُ إِلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، فَمَرُّوا بِجَنَازَةٍ فَأَثْنَوْا عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ عُمَرُ: وَجَبَتْ، فَقُلْتُ لِعُمَرَ: وَمَا وَجَبَتْ؟ قَالَ: أَقُولُ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ لَهُ ثَلاَثَةٌ إِلاَّ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ". قَالَ: قُلْنَا: وَاثْنَانِ، قَالَ: "وَاثْنَانِ". قَالَ: وَلَمْ نَسْأَلْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْوَاحِدِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الأَسْوَدِ الدِّيلِيُّ اسْمُهُ: ظَالِمُ بْنُ عَمْرِو بْنِ سُفْيَانَ. [2]

**ترجمه** : د ابو الاسود رضي الله عنه روايت کوي چي مديني ته راغلم اود عمربن الخطاب سره کيناستم نو صحابه کرامو يوه جنازه اوليده نو دهغه يي په ښه لفظونو کي تعريف اوکړو په دی باندی عمر رضي الله عنه اوفرمائيل دده دپاره واجب شو ما ورته ووئيل څه شي واجب شو

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨١٢) وأخرجه صحيح البخارى في الجنائز ٨٥ (١٣٦٧) والشهادات ٦ (٢٦٤٢) صحيح مسلم في الجنائز ٢٠ (٩٤٩) سنن النسائى في الجنائز ٥٠ (١٩٣٣) سنن ابن ماجه في الجنائز ٢٠ (١٤٩١) مسند احمد (٣ في ١٧٩، ١٨٦، ١٩٧، ٢٤٥، ٢٨١)

[2] _ صحيح البخارى في الجنائز ٨٥ (١٣٦٨) والشهادات ٦ (٢٦٤٣) سنن النسائى في الجنائز ٥٠ (١٩٣٦) (تحفة الأشراف: ١٠٤٧٢) مسند احمد (١ في ٢٢، ٣٠، ٣٦)

هغه ووئيل زه درته داسي وايم څنګه چي رسول الله ونيلي وو: رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو په هر مسلمان چي دري کسان ګواهي وکړي نو جنت دهغه دپاره واجب کيږي، مونږ ووئيل او که دوه کسان ورباندي د نيکۍ ګواهي وکړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل او دوه هم، خو مونږ ورنه د يو باره کي تپوس ونکړو.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دابوالاسود الديلي نوم ظالم بن عمرو بن سفيان دي.

**لغات**: فاثنوا: الثناء تعريف كول جمع يي اثنية دضرب او باب افعال نه مستعمل دي.

**تشريح**: ايا دمړي په تعريف کولو سره هغه ته جنت ملاويږي؟

وجبت: په تعريف کولو سره جنت واجب شو، په بعضو روايتونو کي وجبت لفظ دري پيري راغلی دی مطلب دادی لکه څنګه چي تاسو ددي مړي تعريف کوئ او ستاسو تعريف صحيح او رښتيا دی نو دده دپاره به جنت واجب شي يا مطلب دادی چي ددي انسان مرګ به په خير باندي اوشي لکه څرنګه چي يي تاسو بيانوئ نو بيا هم جنت دده دپاره واجب کيږي او همدا رنګي ددوزخ دواجب کيدو مطلب دادی چي دکوم کس بدي تاسو بيانوئ که چري داپه ده کي حقيقتا موجود وي او يايي مرګ ددي بدئ په حالت کي شوی وي نو اوس به دده دپاره دجهنم سزا واجب شي.

علامه مظهري وائي ښه او بد وئيل دخلقو معتبر نه دي په دي کي مخلصينو او امانتدارو خلقو او متقيانو قول لره اعتبار دی که دوئ چاته ښه اووائي هغه به حقيقتا ښه وي او که بد اووائي نو حقيقتا به بد وي ځکه چي دداسي قسم مومن خبره کي دنفس دخواهش ګډون نه وي.

علامه زين عرب وائي چي چالره په خيراو شر سره يادول دده دپاره دجنت او جهنم نه واجبوي بلکي ددي کس په باره کي صرف دعلامي کار ورکولی شي.

انتم شهداء الله في الارض: يعني تاسو په زمکه کي دالله ګواهان يئ مطلب دادی په تاسو کي چي خلق دچا تعريف اوکړي نو هغه به حقيقتا همداسي وي او په همدي وجه به الله تعالي دخلقو په ژبه دا خبري جاري کړي او ددوئ نه ګواهي واخلي او که همدا رنګي څوک بد وي نو دده بدي به الله تعالي دخلقو په ژبو جاري کړي او دهغوئ نه به په دي ګواهي واخلي.

*****************

## ٦٤ _ بَاب مَا جَاءَ فِي ثَوَابِ مَنْ قَدَّمَ وَلَدًا

**دهغه چا اجر او ثواب بيان چا چي يو ماشوم داخرت دذخيري په طور مخکي ليږلي وي**

١٠٦٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ. ح وحَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَمُوتُ لِأَحَدٍ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ثَلَاثَةٌ مِنَ الْوَلَدِ فَتَمَسَّهُ النَّارُ إِلَّا تَحِلَّةَ الْقَسَمِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَمُعَاذٍ، وَكَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، وَعُتْبَةَ بْنِ عَبْدٍ، وَأُمِّ سُلَيْمٍ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي ذَرٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي ثَعْلَبَةَ الأَشْجَعِيِّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَقُرَّةَ بْنِ إِيَاسٍ الْمُزَنِيِّ، قَالَ: وَأَبُو ثَعْلَبَةَ الأَشْجَعِيُّ لَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَدِيثٌ وَاحِدٌ هُوَ هَذَا الْحَدِيثُ، وَلَيْسَ هُوَ الْخُشَنِيُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي دكوم مسلمان درى بچي وفات شي هغه به اور مسح هم نه كړي، البته دقسم پوره كولو دپاره چي هغه به په پل صراط باندى تيريږي.

قسم پوره كول دالله تعالي هغه قول دى چي په تاسو كي يو هم داسى نشته چي په دى دوزخ به نه تيريږي دورود نه مراد په پل صراط باندى تيريدل دي چي دجهنم دپاسه به قائمولى شي، الله تعالي دي مونږ ټول ددوزخ نه محفوظ اوساتي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمر، معاذ، كعب بن مالك، عتبه بن عبد، ام سليم، جابر، انس، ابوذر، ابن مسعود، ابوثعلبه اشجعي، ابن عباس، عقبه بن عامر، ابوسعيد خدري، او قره بن اياس مزني رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دابو ثعلبه اشجعي صرف همدا يو حديث مروي دي او هغه همدادي او دا ثعلبه خشني نه دي هغه بل يو دي.

**لغات** : تحلة القسم : دقسم كفاره وركول يا په قسم كي استثناء حلّلَ تحليلا وتحلة وتحلا، حلال گنړل.

**تشريح** : كه دچا دري بچي مړه شي نو جنت ته به داخل شي ليكن دقسم پوره كولو دپاره به دجهنم دپاسه تيريږي لكه چي ارشادالهي دى وان منكم الاواردها ، يعني داسي به هيڅوك نه وي چي دوزخ ته به داخل شوى نه وي اګر كه هغه دبجلئ دبرق پشان يوه لمحه وه او كافران چي دي دوئ خو به دجهنم دپاسه په تيريدو كي ورغورځولى شي او كمزوري ايمان والابه دشفاعت

1 _ صحيح البخاري في الأيمان والنذور ٩ (٦٦٥٦) صحيح مسلم في البر والصلة ٤٧ (٢٦٣٢) سنن النسائي في الجنائز ٢٥ (١٨٧٦) (تحفة الأشراف : ١٣٢٣٤) مسند احمد (٢ في ٢٤٣) وأخرجه صحيح البخاري في الجنائز ٦ (١٢٥١) صحيح مسلم في الجنائز سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٧ (١٦٠٣) مسند احمد (٢ في ٢٤٠، ٢٧٦، ٤٧٩)

په ذريعه راويستلی شي دحديث مطلب دا شو چي دکوم مسلمان دري بچي مره شي نو دی به دوزخ ته نه ځي مګر ددومره لمحي دپاره به ځي په څومره کي چي تلل کيدی شي چي دالله تعالي قسم پوره شي او دا قسم په مختصر وخت کي دپل صراط دپاسه دتيريدو وقفه ده.

******************

١٠٦١ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا الْعَوَّامُ بْنُ حَوْشَبٍ، عَنْ أَبِي مُحَمَّدٍ مَوْلَى عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ قَدَّمَ ثَلَاثَةً لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ، كَانُوا لَهُ حِصْنًا حَصِينًا مِنَ النَّارِ". قَالَ أَبُو ذَرٍّ: قَدَّمْتُ اثْنَيْنِ، قَالَ: "وَاثْنَيْنِ". فَقَالَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ سَيِّدُ الْقُرَّاءِ: قَدَّمْتُ وَاحِدًا، قَالَ: "وَوَاحِدًا، وَلَكِنْ إِنَّمَا ذَاكَ عِنْدَ الصَّدْمَةِ الْأُولَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو عُبَيْدَةَ لَمْ يَسْمَعْ مِنْ أَبِيهِ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دري بچي (هلکان وي او که جينکۍ وي) په طور دذخيري داخرت دخان نه مخکي اوليږل او هغوئ بلوغ ته رسيدلي نه وي نو دا ماشومان به ددوئ دپاره دجهنم نه دبچ کولو يوه مضبوطه قلعه جوړه شي، دي وخت کي ابو ذر رضي الله عنه عرض اوکړو ما خو دوه بچي مخکي ليږلي دي؟ رسول الله اوفرمائيل دوه هم کافي دي ابئ بن کعب سيدالقراء رضي الله عنه عرض اوکړو ما خو صرف يو بچي مخکي ليږلي دي؟ رسول الله اوفرمائيل يو هم کافي دي البته داقلعه به په هغه وخت کي وي کله چي هغوئ د صدمي په اول وخت کي يعني دمرګ په وخت کي صبر کړي وي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او ابو عبيده دخپل پلار عبدالله بن مسعود نه اوريدل نه دي کړي، يعني سماع يي ورنه ثابته نه ده.

******************

١٠٦٢ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، وَأَبُو الْخَطَّابِ زِيَادُ بْنُ يَحْيَى الْبَصْرِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ بَارِقٍ الْحَنَفِيُّ، قَالَ: سَمِعْتُ جَدِّي أَبَا أُمِّي سِمَاكَ بْنَ الْوَلِيدِ الْحَنَفِيَّ يُحَدِّثُ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ عَبَّاسٍ يُحَدِّثُ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ كَانَ لَهُ فَرَطَانِ مِنْ أُمَّتِي أَدْخَلَهُ اللَّهُ بِهِمَا الْجَنَّةَ" فَقَالَتْ عَائِشَةُ: فَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ؟ قَالَ: "وَمَنْ كَانَ لَهُ فَرَطٌ يَا

---

1 ـ ابن ماجه في الجنائز ٥٧ (١٦٠٦) (تحفة الأشراف: ٩٦٣٤) مسند احمد (١/ ٣٧٥، ٤٢٩).

مُوَفَّقَةُ ". قَالَتْ: فَمَنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ فَرَطٌ مِنْ أُمَّتِكَ ؟ قَالَ: " فَأَنَا فَرَطُ أُمَّتِي لَنْ يُصَابُوا بِمِثْلِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ رَبِّهِ بْنِ بَارِقٍ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الأَئِمَّةِ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الْمُرَابِطِيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، أَنْبَأَنَا عَبْدُ رَبِّهِ بْنُ بَارِقٍ ا فَذَكَرَ نَحْوَهُ، وَسِمَاكُ بْنُ الْوَلِيدِ هُوَ: أَبُو زُمَيْلٍ الْحَنَفِيُّ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي فرماني چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي زما په امت كي چي چا دوه بچي مخكي ليږلي دي الله تعالي به دهغوئ په وجه دي جنت ته داخل كړي، عائشه رضي الله عنها عرض اوكړو كه ستا په امت كي چا يو بچي مخكي ليږلي وي نو ويي فرمائيل يو هم كافي دي اي توفيق والا زنانه، هغوئ بيا تپوس اوكړو ستا په امت كي چي چا كوم بچي مخكي نه وي ليږلي نو هغوئ به څه حال وي رسول الله اوفرمائيل زه دخپل امت دطرفه مخكي ليږلي شوي يم او دچا په جدائي سره چاته دومره تكليف نه رسيږي څنګه چي به زما په جدائي هغوئ ته رسيږي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي او دا مونږ ته صرف دعبد ربه بن بارق په سند سره معلوم دي او دهغه نه ډيرو محدثينو نقل دروايت كړي دي

****************

## ٦٥ ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الشُّهَدَاءِ مَنْ هُمْ

### شهيدان څوك دي

١٠٦٣ ـ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ. ح وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ سُمَيٍّ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الشُّهَدَاءُ خَمْسٌ: الْمَطْعُونُ، وَالْمَبْطُونُ، وَالْغَرِقُ، وَصَاحِبُ الْهَدْمِ، وَالشَّهِيدُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَصَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، وَجَابِرِ بْنِ عَتِيكٍ، وَخَالِدِ بْنِ عُرْفُطَةَ، وَسُلَيْمَانَ بْنِ صُرَدٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [2]

---

[1] ـ اابن ماجه في الجنائز ٥٧ (١٦٠٦) (تحفة الأشراف : ٩٦٣٢) مسند احمد (ا في ٣٤٥ ، ٣٢٩

[2] ـ صحيح البخاري في الأذان ٣٢ (٦٥٢) و ٤٣ (٢٠ ٤) ، والجهاد ٣٠ (٢٨٢٩) والطب ٣٠ (٥٢٣٣) صحيح مسلم في الإمارة ٥١ . موطا امام مالك في الجماعة .مسند احمد (٢ في ٣٢٥ ، ٥٣٣)

**ترجمه**: ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي شهيدان پنځه دي طاعون والا هيضی والا ډوب شوی اوچي ديوال يابل څه شي لاندی شي اوپه جهاد في سبيل الله کي شهيد شي.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دانس رضي الله عنه او دصفوان بن اميه او جابر بن عتيك او خالد بن عرفة او سليمان بن صرد او ابوموسي او عائشه، رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دابوهريره حديث حسن صحيح دي.

**لغات**: المبطون : دخيټي يو قسم بيماري ده په هغي کي مبتلا کس ته مبطون ويلي شي. بطانة عظيم البطن کس ته ويلي شي

**تشريح**: دشهيد دوه قسمونه:

په دي حديث کي دا معلوم شو چي شهيد په دوه قسمه دی يو کامل شهيد دی او دويم ناقص شهيد دی يا حکمي شهيد دي

## کامل شهيد

کامل شهيد هغه چاته وائي کوم چي په جنګ کي په داسي حالاتو کي قتل کړی شي چي په جسم يي زخمونه وي او ددينه پس يي کومه دنياوي نفع حاصله کړي نه وي دداسي شهيد حکم دادی چي غسل به ورته نشي ورکولی مګر جنازه به وربانديي کولی شي ليکن دامام ابو حنيفه په نزد او دامام شافعي په نزد به په کامل شهيد باندي نه جنازه کولی شي او نه به غسل ورکولی شي.

## ناقص شهادت

ناقص شهادت کي هم ثواب ملاويږي ليکن دعامو مړو پشان به ورته غسل او کفن ورکولی شي نو په پورتني حديث کي دناقص شهيد حکم بيان شوی دی.

المطعون: يعني څوك چي دطاعون په مرض مړ شي.

المبطون: چي دخيټيي دبيمارئ په مرض مړ شي.

صاحب الهدم: څوك چي دديوال لاندي مړ شي

دناقص شهيد نه دلته څلور بيان شوي دي ، امام سيوطي تقريبا ۳۸ شميرلي دي او نورو علماؤ هم څه لږ ډير بيان کړي دي.

*****************

١٠٦٤ـ حَدَّثَنَا عُبَيْدُ بْنِ أَسْبَاطِ بْنِ مُحَمَّدٍ الْقُرَشِيُّ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا أَبُو سِنَانٍ الشَّيْبَانِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ السَّبِيعِيِّ، قَالَ: قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ صُرَدٍ لِخَالِدِ بْنِ عُرْفُطَةَ، أَوْ خَالِدٌ لِسُلَيْمَانَ: أَمَا

سَمِعْتَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ قَتَلَهُ بَطْنُهُ لَمْ يُعَذَّبْ فِي قَبْرِهِ". فَقَالَ أَحَدُهُمَا لِصَاحِبِهِ: نَعَمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ فِي هَذَا الْبَابِ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. ([1])

**ترجمه**: دابو اسحاق سبيعي بيان دي فرمائي چي سليمان بن صرد دخالد بن عرفة نه تپوس اوکړو ايا تا درسول الله صلي الله عليه وسلم نه څه نه دي اوريدلي دي چي څوک دخيټي دبيمارئ په وجه مړ شي هغه ته به په قبر کي عذاب نشي ورکولي کيدي نو په دوئ کي يو تن خپل ملګري ته اووئيل هو اوريدلي مي دي

امام ترمذي وائي په دي باب کي دا حديث حسن غريب دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي.

**تشريح** : **دشهيد مزيد نور اقسام**

عن ابي هريرة قَالَ: قَالَ رسول الله ﷺ: ((مَا تَعُدُّونَ الشُّهَدَاءَ فِيكُمْ ؟)) قالوا: يَا رسولَ اللهِ، مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ اللهِ فَهُوَ شَهِيدٌ. قَالَ: ((إِنَّ شُهَدَاءَ أُمَّتِي إِذاً لَقَلِيلٌ)) ! قالوا: فَمَنْ هُمْ يَا رسول الله ؟ قَالَ: ((مَنْ قُتِلَ فِي سَبِيلِ الله فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي سَبِيلِ الله فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي الطَّاعُونِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَمَنْ مَاتَ فِي الْبَطْنِ فَهُوَ شَهِيدٌ، وَالْغَرِيقُ شَهِيدٌ)) رواه مسلم.

أخرجه: مسلم كتاب الامارة باب بيان الشهداء واحمد وعبد الرزاق وابن ماجة وابن حبان.

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو شهيد څوک ګڼرئ اصحابو عرض اوکړو يارسول الله څوک چي په جهاد کي دکفارو دلاسه قتل شي هغه شهيد دی رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل داسی خوبه خما دامت شهيدان ډيرکم شي هغوئ عرض اوکړو نو بل څوک شهيد دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوک چي په جهاد کي قتل شي هغه خو شهيد، مګر څوک چي جهاد ته روان وي اوپه لاره کي په خپل مرګ مړ شي دی هم شهيد دی اوڅوک چي په طاعون مړ شي هغه هم شهيد دی اوڅوک چي دخيټی په مرض مړ شي هغه هم شهيد دی او څوک چي اوبو کي ډوب شي هغه هم شهيد دی.

ان شهداء امتي اذا لقليل: زما دامت شهيدان به کم وي دحقيقي شهيد نه علاوه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي نور هم ډير حکمي شهيدان شته دکومو بيان چي په مخکني حديث کي تير شوی دی او څه به وروسته راشي

[1] ـ سنن النسائي في الجنائز ۱۱۱ (۲۰۵۳) (تحفة الأشراف: ۳۵۰۲ و۳۵۶۷) مسند احمد (۴ في ۲۶۲) و (۵ في ۲۹۲)

## دحكمي شهيدانو فهرست

علامه جلال الدين سيوطي په قول ددوئ تعداد ۳۷ دى كوم چي مندرجه ذيل دي.

(۱) دخيټي بيمارئ والا.

(۲) په اوبو كي ډوب شوى.

(۳) دديوال نه پريوتلى

(۴) دسيني زخم والااو سخت درد والاچي مړ شي.

(۵) دتيبي بيمارئ والا.

(۶) په سفر كي مړ شوى.

(۷) په ميرګو مړ شوى.

(۸) په تبه مړشوى.

(۹) دمال او جان په حفاظت كي مړشوى.

(۱۰) په ظلم قتل شوى.

(۱۱) دپاكدامنئ په محبت كي مړشوى.

(۱۲) دجذام په بيمارئ مړشوى.

(۱۳) ځناورو خوړلى

(۱۴) څوك چي بادشاه په ظلم وژلى وي.

(۱۵) ضرري ځناور مار وغيره چي څوك چيچلى وي او مړشي.

(۱۶) دعلم په طلب كي يا تدريس ياتصنيف دولو په حال كي چي څوك مړ وي.

(۱۷) هغه مؤذن چي دثواب په نيت اذان كوي او تنخوا نه اخلي.

(۱۸) رښتيا ويونكى تاجر.

(۱۹) څوك چي دخپل اهل او عيال دپاره دحلال رزق په كوشش كي مړشي.

(۲۰) دسمندر په سفر كي چي په چا قى اولګي او مړشي.

(۲۱) روزانه پنځويشت پيري ددي كلماتو ويونكى چي مړ شي اللهم بارك لي في الموت وفيما بعد الموت.

(۲۲) دڅاښت دمونځ اهتمام كونكى او په هره مياشت كي دري روژي نيونكى چي په سفر او حضر كي يي نه پريږدي.

(۲۳) دامت دفساد په وخت كي دسنت اهتمام كونكى.

(۲۴) څوك چي په بيمارئ كي لا اله الا انت سبحانك اني كنت من الظالمين څلور پيري اووائي او بيا په همدي بيمارئ كي مړ شي.

(۲۵) هره شپه سورة يسين لوستونکی.
(۲۶) څوك چي دسفر په وخت کي اعوذ بالله السميع العليم من الشيطن الرجيم دري پيري اوواني او دسورة حشر دري ايتونه اولولي
(۲۷) روزانه په نبي کريم صلي الله عليه وسلم سل پيري درود ويونکی.
(۲۸) دزړه په صدق سره دشهادت تمنا کونکی.
(۲۹) دجمعی په ورځ چي څوك مړ شي
(۳۰) دکفارو سره دجنګ دپاره په سرحدونو کي داسونو ساتونکی.
(۳۱) دسورلئ نه دغورځيدو په وجه چي څوك مړ شي
(۳۲) دطاعون په مرض مړشوی.
(۳۳) په سوزيدو مړشوی.
(۳۴) کومه ښځه چي دبچي پيدا کيدو په وخت کي دبيمارئ ختميدو نه مخکي مړه شي
(۳۵) په پيغلتوب کي مړه شوي ښځه.
(۳۶) هغه څوك چي په طهارت کي يي شپه تيره کړي وي او مړشي.
(۳۷) دچا زندګي چي دتشدد نه خالي وي او نرم مزاج والاوي.

*****************

## ٦٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْفِرَارِ مِنَ الطَّاعُونِ

### دطاعون نه دتخيدو دکراهت بيان

١٠٦٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ الطَّاعُونَ، فَقَالَ: "بَقِيَّةُ رِجْزٍ، أَوْ عَذَابٍ أُرْسِلَ عَلَى طَائِفَةٍ مِنْ بَنِي إِسْرَائِيلَ، فَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَلَسْتُمْ بِهَا فَلَا تَهْبِطُوا عَلَيْهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَعْدٍ، وَخُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : داسامه بن زيد رضي الله عنه نه روايت دي فرماني چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دطاعون ذکر اوکړو او ويي فرمائيل دا دهغه عذاب باقي پاتي شوي حصه ده کوم چي دبني اسرائيلو په يوي ډلي ليږلی شوي وو کله چي په کومه زمکه يا ښار کي طاعون بيماري

---

[1] ـ صحيح البخاري في أحاديث الأنبياء ٥٣ (٣٤٧٣) والحيل ١٣ (٦٩٧٤) صحيح مسلم في السلام ٣٢ (٢٢١٨) (تحفة الأشراف : ٩٢)، وأخرجه صحيح البخاري في الطب ٣٠ (٥٧٢٨) صحيح مسلم في السلام.

وي او هلته تاسو موجود يئ نو ددغه خاي نه د وتلو كوشش مه كوئ او كله چي طاعون په كومه زمكه كي خور شوي وي او هلته تاسو موجود نه يئ نو تاسو هلته مه ورځئ.

امام ترمذي وائي داسامه بن زيد حديث حسن صحيح دي، په دي باب كي دسعد بن ثابت، عبدالرحمن بن عوف، جابر، او عائشه رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي.

**تشريح** : ددي روايت نه معلومه شوه چرته چي طاعون وي هلته ورتلل پكار نه دي ددي وجه داده كه چري هلته ورشي نو ممكن ده چي اتفاقا په ده باندي هم بيماري اولگي او دي به بيا دا گمان كوي شايد چي دا دلته دراتلو په وجه داسي اوشول تردي چي دعقيدي دخرابيدو سبب اوگرځي ددينه لري اوسيدل پكار دي تردي چي په هيڅ حال كي دمرض دمتعدي كيدو دعقيدي احتمال پيدا نشي.

ددي جملي نه دموجوده زماني خلق استدلال كوي چي بعضي مرضونه داسي شته كومو ته چي متعدي وئيلى شي په غوړونو كي يو داسي قسم وائرس وي كوم چي دنورو خلقو دبيمارئ سبب گرځي دجاهليت په زمانه كي دا عقيده وه چي بيماري پخپله متعدي كيږي حالانكه مرض پخپله نه متعدي كيږي شريعت ددينه مخالف دى بلكي دبيمارئ دپاره سبب جوړيږي چي جراسيم بل چاته منتقل شي او بيا دا دبل چا دبيماريدو سبب اوگرځي ددينه دبچ كيدو دپاره حكم اوكړى شو او په دي كي دوه فائدي هم دي يوه داده چي پخپله دبيمارئ نه بچ شي او دويم دا چي دعقيدي حفاظت يي هم اوشي (روضة الصالحين).

* * * * * * * * * * * * * * * *

## ٦٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ

**څوك چي دالله تعالي سره ملاقات كول خوښوي الله تعالي دهغه سره ملاقات كول خوښوي**

١٠٦٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مِقْدَامٍ أَبُو الأَشْعَثِ الْعِجْلِيُّ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبِي يُحَدِّثُ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي مُوسَى، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

---

[1] ـ صحيح البخاري في الرقاق ٤١ (٦٥٠٧) صحيح مسلم في الذكر ٥ (٢٦٨٣) سنن النسائي في الجنائز ١٠ (١٨٣٦) مسند احمد (٥ في ٣١٦، ٣٢١) سنن الدارمي في الرقاق ٤٣ (٢٧٩٨) ويأتي عند المؤلف في الزهد ٦ (٢٣٠٩) (تحفة الأشراف: ٥٠٧٠)

**ترجمه** : د عباده رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ وي الله تعالي هم دهغه سره ملاقات خوښوي اودچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ نه وي الله تعالي هم ورسره ملاقات نه خوښوي.

امام ترمذي وائي دعباده بن صامت حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابو موسي اشعري، ابوهريره، عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**تشريح** : دپورتني حديث نه معلومه شوه چي دزنګدن په وخت کي مومن ته فرشتي راځي او دا زيری ورته ورکوي "نحن اولياء کم في الحياة الدنيا وفي الاخرة ولکم فيها ماتشتهي انفسکم ولکم فيها ماتدعون".

پس په همدي وجه دمومن روح په وتو کي جلتي کوي په خلاف دکافر انسان ځکه چي دهغه دروح دوتلو په وخت کي هغه ته جهنم خودلی شي چي کافر ته به پکي دائمي هلاکت او خسران ښکاره شي او ددي په سبب به دده په زړه کي دا ارمان پيدا شي چي کاش مرګ راغلی وی که مرګ راشي نو بربادي به راشي.

****************

١٠٦٧ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، قَالَ: وَحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَكْرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا ذَكَرَتْ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ أَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ كَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ" قَالَتْ: فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كُلُّنَا نَكْرَهُ الْمَوْتَ، قَالَ: "لَيْسَ ذَلِكَ، وَلَكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا بُشِّرَ بِرَحْمَةِ اللَّهِ وَرِضْوَانِهِ وَجَنَّتِهِ، أَحَبَّ لِقَاءَ اللَّهِ وَأَحَبَّ اللَّهُ لِقَاءَهُ، وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا بُشِّرَ بِعَذَابِ اللَّهِ وَسَخَطِهِ كَرِهَ لِقَاءَ اللَّهِ وَكَرِهَ اللَّهُ لِقَاءَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : د عائشی رضي الله عنها نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ وي الله تعالي هم دهغه سره ملاقات خوښوي اودچاچي الله تعالي سره ملاقات خوښ نه وي الله تعالي هم ورسره ملاقات نه خوښوي عائشه

---

[1] ـ صحيح البخاری في الرقاق ٤١ (تعليقا بعد حديث عبادة) صحيح مسلم في الذکر ٥ (٢٦٨٤) سنن النسائي في الجنائز ١٠ (١٨٣٩) سنن ابن ماجه في الزهد ٣١ (٤٢٦٤) (تحفة الأشراف : ١٦١٠٣) وأخرجه صحيح مسلم في الذکر مسند احمد (٦ في ٤٤، ٥٥، ٢٠٧)

رضي الله عنها فرمائي ما عرض اوکړو یا رسول الله، الله تعالي سره ملاقات خو مرګ نه پس کيږي، الله تعالي سره ملاقات نه خوښولو مطلب دادی چي ایا مرګ یې خوښ نه وي که داسې وي خو ګرانه شوه مرګ دهیچا هم خوښ نه دی، رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل خیره داسې نه ده بلکي (ددی مطلب دادی) چي مسلمان ته دالله درحمتونو اودجنت دنعمتونو زیری ورکړی شي، نو هغه وربانديي یقین اوکړي اودهغه ملاقات خوښ کړي او کافر ته چي دالله تعالي دغضب او قهر خبر ورکړل شي نو هغه دالله تعالي ملاقات خوښ نه کړي نو الله تعالي يې هم ملاقات خوښ نه کړي

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی.

**لغات**: سخط سخطا غصه کيدل ، او ناخوښي کول مسخوط يي مفعول دي جمع يي مساخط ده.

**تشريح** : ولكن المومن اذا بشر برحمة الله ورضوانه: يعني مومن ته چي کله دالله درحمت زيری وشي، دپورتني حديث نه معلومه شوه چي دزنګدن په وخت کي مومن ته فرشتي راخي او دا زيری ورته ورکوي "نحن اولياءكم في الحياة الدنيا في الاخرة ولكم فيها ماتشتهي انفسكم ولكم فيها ماتدعون".

نو پدي وجه دمومن روح په وتو کي جلتي کوي په خلاف دکافر انسان څکه چي دهغه دروح دوتلو په وخت کي هغه ته جهنم خودلی شي چي کافر ته به پکي دائمي هلاکت او خسران ښکاره شي او ددي په سبب به دده په زړه کي دا ارمان پيدا شي چي کاش مرګ راغلی نه وی که مرګ راشي نو بربادي به راشي.

*****************

## ٦٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ قَتَلَ نَفْسَهُ

### په خودکوشي کونکي باندي دجنازي نه کولوبيان

١٠٦٨ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، وَشَرِيكٌ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ، "أَنَّ رَجُلًا قَتَلَ نَفْسَهُ فَلَمْ يُصَلِّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِي هَذَا. فَقَالَ بَعْضُهُمْ: يُصَلَّى عَلَى كُلِّ مَنْ

صَلَّى إِلَى الْقِبْلَةِ، وَعَلَى قَاتِلِ النَّفْسِ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ أَحْمَدُ: لَا يُصَلِّي الْإِمَامُ عَلَى قَاتِلِ النَّفْسِ وَيُصَلِّي عَلَيْهِ غَيْرُ الْإِمَامِ. (1)

**ترجمه**: دجابر بن سمره رضي الله عنه نه مروي دي چي يو كس خود كوشي اوكړه نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم په هغه باندي جنازه اونكړه.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په دي مسئله كي داهل علمو اختلاف دي دبعضو قول دادي چي مونځ دجنازي به په هر چا باندي كولي شي چي قبلي ته مونځ كوي او په خودكوشي كونكي باندي به هم كيږي دسفيان ثوري او اسحاق هم دا قول دي او امام احمد بن حنبل وائي په خودكوشي كونكي باندي به جنازه نه كيږي البته دمسلمانانو دحاكم نه علاوه كه امام بل څوك وي نو بيا يي كولي شي.

******************

## ٦٩ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْمَدْيُونِ

### دقرضداري دجنازي دمونځ كولو بيان

١٠٦٩ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، أَخْبَرَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَوْهَبٍ، قَالَ: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ أَبِي قَتَادَةَ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِرَجُلٍ لِيُصَلِّيَ عَلَيْهِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ فَإِنَّ عَلَيْهِ دَيْنًا". قَالَ: أَبُو قَتَادَةَ: هُوَ عَلَيَّ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بِالْوَفَاءِ"، قَالَ: بِالْوَفَاءِ، فَصَلَّى عَلَيْهِ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَسَلَمَةَ بْنِ الْأَكْوَعِ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي قَتَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه**: دابوقتاده رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته يو كس راوړلي شو چي جنازه ورباندي اوكړي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل تاسو پخپل ملګري جنازه اوكړئ ځكه چي په ده باندي قرض دي (او زه ورباندي جنازه نه كوم)

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٣١ (١٥٢٦) (تحفة الأشراف: ٢١٣٠، ٢١٤٢) (٥ في ٨٧، ٩٢)

2 ـ سنن النسائي في الجنائز ٦٧ (١٩٦٢) سنن ابن ماجه في الصدقات ٩ (٢٤٠٧) سنن الدارمي في البيوع ٥٣ (٢٦٣٥) (تحفة الأشراف: ١٢١٠٢) مسند احمد (٥ في ٣٠٢)

دي وخت کي ابوقتاده عرض اوکړو چي دده دقرض اداء کول زما په ذمه شول رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوکړو ايا پوره پوره به يي اداء کوي؟ ابوقتاده اووئيل هو پوره پوره به يي اداء کوئ نوبيا ورباندي رسول الله صلي الله عليه وسلم جنازه اوکړه.

امام ترمذي وائي دابوقتاده حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دجابر، سلمه بن الاکوع، او اسماء بنت يزيد رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

## ابوقتاده حارث بن ربعي رضي الله عنه حالات:

نوم ابوقتاده لقب فارس رسول الله صلي الله عليه وسلم، په خزرج قبيله کي يي دسلمه خاندان سره تعلق وو.

دهجرت نه لس کاله مخکي په مدينه کي پيدا شوی وو او دغزوه بدر نه علاوه يي په تمامو غزواتو کي شرکت کړی وو علي رضي الله عنه ده لره دمکي امير مقرر کړی وو قتاده ډير زيات متواضع وو او د درس حلقه يي په همدي وجه وسيع وه په حديبيه کي چي کله درسول الله صلي الله عليه وسلم سره مکي ته تلو نو په لاره کي يي ددوستانو او ملګرو سره ټوقي او خندا کوله (مسند احمد).

په غزوه حنين کي چي دلويو لويو جانبازانو قدمونه اوخويدل نو پدغه وخت کي دابوقتاده خپي مضبوطي وي دحديث په بيانولو کي يي ډير احتياط کولو چي کله يي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه من کذب علي متعمدا والا روايت واوريدو نو نور زيات احتياط يي هم شروع کړو (مسند احمد).

وفات: دده په وفات کي اختلاف دی بعضو ۴۹هجري کوفه ليکلي ده ليکن داکثرو په نزد دپنخوس او شپيتوو په مينځ کي دده وفات شوی دی.

دده دمروياتو شمير ۱۷۰دی چي يولس په بخاري او مسلم کي متفق عليه دي دولس په بخاري کي دي او اته په مسلم کي دي.

*****************

۱۰۷۰_ حَدَّثَنِي أَبُو الْفَضْلِ مَكْتُومُ بْنُ الْعَبَّاسِ التِّرْمِذِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ صَالِحٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي اللَّيْثُ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُقَيْلٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُؤْتَى بِالرَّجُلِ الْمُتَوَفَّى عَلَيْهِ الدَّيْنُ، فَيَقُولُ: " هَلْ تَرَكَ لِدَيْنِهِ مِنْ قَضَاءٍ ". فَإِنْ حُدِّثَ أَنَّهُ تَرَكَ وَفَاءً صَلَّى عَلَيْهِ، وَإِلَّا قَالَ لِلْمُسْلِمِينَ: " صَلُّوا عَلَى صَاحِبِكُمْ ". فَلَمَّا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْفُتُوحَ قَامَ، فَقَالَ: " أَنَا أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنْفُسِهِمْ، فَمَنْ تُوُفِّيَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ فَتَرَكَ دَيْنًا عَلَيَّ قَضَاؤُهُ، وَمَنْ تَرَكَ مَالًا فَهُوَ لِوَرَثَتِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ بُكَيْرٍ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ اللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، نَحْوَ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ صَالِحٍ.([1])

**ترجمه** دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته به كله يوداسي مړي راوړلي شو په كوم چي به دچا قرضه وه نو تپوس به يي كولو ايا ده دخپل قرض اداء كولو دپاره څه پريخي دي؟ نو كه اوبه ونيلي شول چي هو دومره دومره مال يي پريخي دي او په هغي به دده قرض مكمل اداء كيدي شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به وړباندي جنازه اوكړه او كنه نو عامو مسلمانانو ته به يي اوفرمائيل تاسو پخپل ملګري جنازه اوكړئ (او زه يي نشم كولي) مګر بيا چي كله الله تعالي خپل رسول ته دفتوحاتو دروازه پرانيستله نو اودريدو او ويي فرمائيل زه مسلمانانو ته ددوئ دنفسونو نه زيات عزيز يم او په مسلمانانو كي چي څوك مړشي او قرض يي پريخي وي نو دهغي اداء كول زما په ذمه دي او كه څوك مړ شي او څه مال يي پريخي وي نو هغه دده دوارثانو دي ، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، دا روايت يحیٰ بن بكير او بعضي نورو راويانو دليث بن سعد نه دعبدالله بن صالح دحديث پشان نقل كړي دي.

****************

## ٧٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ

### دعذاب قبر بيان

١٠٧١ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا قُبِرَ الْمَيِّتُ"، أَوْ قَالَ: "أَحَدُكُمْ أَتَاهُ مَلَكَانِ أَسْوَدَانِ أَزْرَقَانِ، يُقَالُ لِأَحَدِهِمَا: الْمُنْكَرُ وَالْآخَرُ النَّكِيرُ، فَيَقُولَانِ: مَا كُنْتَ تَقُولُ فِي هَذَا الرَّجُلِ؟ فَيَقُولُ: مَا كَانَ يَقُولُ هُوَ: عَبْدُ اللَّهِ وَرَسُولُهُ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ هَذَا.

---

[1] ـ صحيح البخاری في الكفارة ٥ (٢٢٩٨) والنفقات ١٥ (٥٣٧١) صحيح مسلم في الفرائض ٣ (١٦١٩) (تحفة الأشراف: ١٥٢١٦) مسند احمد (٢ في ٣٥٣) وأخرجه سنن النسائي في الجنائز ٦٧ (١٩٦٥) سنن ابن ماجه في الصدقات ١٣ (٢٤١٥) مسند احمد (٢ في ٢٩٠) من غير هذا الوجه. وأخرجه: صحيح البخاری في الاستقراض ١١ (٢٢٩٨، ٢٣٩٩) وتفسير الاقراب ١ (٤٧٩١) والفرائض ٣ (٦٧٣١) و١٥ (٦٧٤٥) و٢٥ (٦٧٦٣) صحيح مسلم في الفرائض (المصدر المذكور) مسند احمد (٢ في ٤٥٦)

ثُمَّ يُفْسَحُ لَهُ فِي قَبْرِهِ سَبْعُونَ ذِرَاعًا فِي سَبْعِينَ، ثُمَّ يُنَوَّرُ لَهُ فِيهِ، ثُمَّ يُقَالُ لَهُ: نَمْ. فَيَقُولُ: أَرْجِعُ إِلَى أَهْلِي فَأُخْبِرُهُمْ. فَيَقُولَانِ: نَمْ كَنَوْمَةِ الْعَرُوسِ الَّذِي لَا يُوقِظُهُ إِلَّا أَحَبُّ أَهْلِهِ إِلَيْهِ حَتَّى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ، وَإِنْ كَانَ مُنَافِقًا، قَالَ: سَمِعْتُ النَّاسَ يَقُولُونَ: فَقُلْتُ مِثْلَهُ: لَا أَدْرِي. فَيَقُولَانِ: قَدْ كُنَّا نَعْلَمُ أَنَّكَ تَقُولُ ذَلِكَ. فَيُقَالُ لِلْأَرْضِ: الْتَئِمِي عَلَيْهِ فَتَلْتَئِمُ عَلَيْهِ. فَتَخْتَلِفُ فِيهَا أَضْلَاعُهُ. فَلَا يَزَالُ فِيهَا مُعَذَّبًا حَتَّى يَبْعَثَهُ اللهُ مِنْ مَضْجَعِهِ ذَلِكَ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ عَلِيٍّ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَالْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ، وَأَنَسٍ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، كُلُّهُمْ رَوَوْا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي عَذَابِ الْقَبْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي يو مړي او كه داسي يي وفرمائيل چي په تاسو كي يوكس په قبر كي كيخودي شي نودوه شين سترګي فرشتي ورته راشي چي يوي نوم منكر اودبلي نوم نكير وي اودواړه ورته تپوس كوي چي تاددغه كس په باره كي څه وئيل دي به اووائي دالله بنده او رسول وو زه ګواهي وركوم چي دالله نه علاوه بل معبود نشته او محمد (صلي الله عليه وسلم) دهغه بنده اورسول دي فرشتي به اووائي مونږ پوهيدو چي ته به همدا وائي اوبيا به دده قبر اويا لاسه فراخه كړي شي اوروښانه به شي او ورته به اووئيلي شي چي اوده شه نودي به اووائي زه واپس تلل غواړم چي خپل اهل ته ددي حالت خبر وركړم نوهغوئ به ورته اووايي چي دهغه ناوي پشان اوده شه چاله چي په كور كي دهغه چا نه علاوه نه راويښوي كوم چي ورته ډير محبوب وي تردي چي الله تعالي ده لره دده دخواب ګاه نه راپورته كړي او كه چري منافق وي نوپه جواب كي به اووائي مادخلقو نه اوريدلي وو چي وئيل يي نو مابه هم هغه شان وئيل اوماته معلومه نه ده چي دي دالله رسول وو اوكه نه فرشتي به ووائي مونږ دمخكي نه پوهيدو چي ته به همداسي وائي اوبيابه زمكي ته حكم اوكړي شي اوپده باندي به راجوخته كړي شي زمكه به منافق ته دومره زور وركړي چي ديو طرف پوختئ به يي دبل طرف نه وځي اوپدي شان سره به دي تردي پوري په عذاب كي مبتلا وي چي الله تعالي ده لره دخپل خواب ګاه نه راپورته كړي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي او په دي باب كي دعلي، زيد بن ثابت، ابن عباس، براء بن عازب، ابوايوب، انس، جابر، عائشه، او ابوسفيان رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي دوئ ټولو درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دعذاب قبر متعلق روايت نقل كړي دي.

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٢٩٤٦)

**تشريح** : دابو داود او امام احمد په روايت کې ذکر شوي حديث پدې الفاظو مروي دي چې مړي ته دوه فرشتې راشي اوده لره کينوي او ورته وائي ستا رب څوک دي نوهغه ورته په جواب کې وائي الله زما رب دې بيا ورته تپوس اوکړي چې دين دې څه دې قبر والابه ورته وائي دين مې اسلام دې بيا ورته تپوس اوکړي هغه کس څنګه وو څوک چې تاسو ته درليږلی شوی وو نو قبر والابه اووائي هغه دالله رسول وو فرشتې به اووائي تاته څه معلومه وه دې به اووائي ما دالله کتاب لوستلې دې اومنلې مې دې او دهغه تصديق مې کړې دې پس دايت کريمه "يُثَبِّتُ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ" همدا مطلب دې.

رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بيا به داسمان نه اواز اوشي چې زما بنده ريښتيا اووئيل دده دپاره دجنت بسترې تيارې کړئ اودجنت لباس ورته واغوندئ اودده دپاره دجنت دروازه پرانيځئ، درسول الله فرمان دې بيابه ددينه پس په ده باندې دجنت هواګانې او خوشبوګانې اولګي او دنظر دلګيدو دحده پورې به ده ته جنت وسيع کړې شي، دکافر دذکر کولو په حال کې رسول الله اوفرمائيل چې دده روح به دده بدن ته واپس کړې شي او دوه فرشتې ورته ورشي اوده لره کينوي اوتپوس ورنه اوکړي ستا رب څوک دې نودې وائي هاه هاه ماته معلومه نه ده فرشتې وائي ستا دين څه دې نودې به وائي هاه هاه ماته معلومه نه ده فرشتې به وائي کوم کس چې تاسوته درليږلې شوې وو دهغه څه حالت وو نودې به اووائي هاه هاه ماته معلومه نه ده ، پس بيابه داسمان نه اواز اوشي چې ده دروغ اووئيل دده دپاره داور بستره اوغوړوئ او داور لباس ورته واغوندئ اودوزخ دطرفه به ورته يوه دروازه پرانيځئ اوبيا به په ده باندې ددوزخ ګرمي اوبړاس راتلل شروع شي اودده قبر به دومره تنګ کړې شي چې پښتئ به يې يوه دبلې نه اوځي اوبيابه ده ته دعذاب ورکولودپاره پده باندې يوه کنړه اوړنده فرشته مقرره کړې شي چې په لاسونو کې به يې داوسپنې داسې ګرز وي.که چرې پدغه ګرز په غر وار اوکړې شي نوخاورې به يې کړي اودا فرشته به کافر لره پدغه ګرز وهي چې اواز به يې دانسانانو اوجناتو نه علاوه دمشرق نه دمغربه پورې هر يوڅيز اورې ګوياکې پدې ګذار به کافر خاورې کيږي او بيابه په هغه کې واپس روح اچولې کيږي .

عثمان رضي الله عنه نه روايت دې کله چې به رسول الله صلي الله عليه وسلم دمړي د دفن کولو نه فارغ شو نودقبر سره به يې توقف کولو اوفرمائيل به يې دخپل دې ورور دپاره مغفرت اوغواړئ اودالله تعالي نه دده دپاره دثابت قدم کيدو سوال اوکړئ اوپدې وخت کې دده نه سوال کيږي (رواه ابوداؤد).

دانس رضي الله عنه نه روايت دې چې رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يوانسان چې کله په قبر کې کيښودې شي اوخلق ورته روان شي نومړې ددوئ دپيزارونو کشار اورې

اوپدغه وخت کي ورته دوه فرشتي راشي اوده لره کينوي او ورته اووائي چي ته ددغه کس (محمد صلي الله عليه وسلم) په باره کي څه وائي مومن په جواب کي وائي ګواهي ورکوم چي هغه دالله بنده اورسول دي دي به دخپل دوزخ والاځکانه اووينی او الله تعالي به ورته دجنت ځکانه ورکړي مومن دواړو لره ويني ، دمنافق اوکافر نه به تپوس اوشي چي ته ددغه کس په باره کي څه وائي نودي به اووائي ماته معلومه نه ده نورو خلقو چي څه وئيل هغه ماهم وئيل فرشتي به ورته اووائي ته نه پوهه شوي يي اونه دي لوستل کړي دي اوبيابه يي داوسپني په ګرزونو اووهي او چغي به وهي اودده چغي به دجناتو اوانسانانو نه علاوه نور ټول نژدي ځيزونه اوري (متفق عليه).

*****************

١٠٧٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا مَاتَ الْمَيِّتُ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ، فَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ، ثُمَّ يُقَالُ: هَذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دابن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي يو سړي مړ کيږي نو هغه ته سحر او ماښام دهغه ځکانه (اوسيدوځاي) خودلي کيږي که چري دي دجنتيانو نه وي نو په جنت کي به خپل داوسيدوځاي اووينی او که ددوزخيانو نه وي نو په جهنم کي به خپل ځاي اووينی، او بيا به ده ته وئيلي کيږي دا ستا داوسيدوځاي دي تردي پوري چي په قيامت کي دي الله پاک راپورته کړي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٧١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي أَجْرِ مَنْ عَزَّى مُصَابًا

### دهغه چا داجر او ثواب بيان څوک چي ديو مصيبت زپلي تعزيت اوکړي

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٨٠٥٧) وأخرجه صحيح البخاری في الجنائز ٨٩ (١٣٧٩) وبدء الخلق ٨ (٣٢٤٠) والرقاق ٤٢ (٦٥١٥) صحيح مسلم في الجنة ١٧ (٢٨٦٦) سنن النسائي في الجنائز ١١٦ (٢٠٧٢، ٢٠٧٣، ٢٠٧٤) الزهد ٣٢ (٤٢٧٠) موطا امام مالک في الجنائز ١٦ (٤٧) مسند احمد (٢ في ١٦، ٥١، ١١٣، ١٢٣)

١٠٧٣_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ عَاصِمٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا وَاللهِ! مُحَمَّدُ بْنُ سُوقَةَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ عَزَّى مُصَابًا فَلَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَلِيِّ بْنِ عَاصِمٍ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوقَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَهُ موقوفاً وَلَمْ يَرْفَعْهُ، وَيُقَالُ: أَكْثَرُ مَا ابْتُلِيَ بِهِ عَلِيُّ بْنُ عَاصِمٍ بِهَذَا الْحَدِيثِ نَقَمُوا عَلَيْهِ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دکوم مصيبت وهلي تعزيت اوکړو ده ته به هم ددي پوره پوره اجر ملاويږي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي مونږ يي صرف دعلي بن عاصم په روايت مرفوع پيژنو او بعضي راويانو دمحمد بن سوقه نه ددي پشان روايت په همدي سند مرفوعا نقل کړي دي او دا يي نه دي مرفوع کړي، ونيلي کيږي په علي بن عاصم چي کوم زيات طعن لګيدلي وو او خلقو ورباندي اعتراضونه کړي وو هغه ددي حديث په وجه وو.

***************

## ٧٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ مَاتَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ

### دجمعي په ورځ دمړ کيدو نکي بيان

١٠٧٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، وَأَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، قَالَا: حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ سَعْدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي هِلَالٍ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ سَيْفٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَمُوتُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَوْ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ إِلَّا وَقَاهُ اللهُ فِتْنَةَ الْقَبْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، قَالَ: وَهَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِمُتَّصِلٍ رَبِيعَةُ بْنُ سَيْفٍ، إِنَّمَا يَرْوِي عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَلَا نَعْرِفُ لِرَبِيعَةَ بْنِ سَيْفٍ سَمَاعًا مِنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو. (2)

---

1 ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ٥٦ (١٦٠٢) (تحفة الأشراف: ٩١٦٦)

2 ـ تفرد به المؤلف وانظر: مسند احمد (٢ في ١٦٩) (تحفة الأشراف: ٨٦٢٥)

**ترجمه** دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كوم مسلمان چي دجمعي په ورځ يا دجمعي په شپه وفات كيږي الله تعالي هغه لره دقبر دفتني نه محفوظ كوي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي او سند يي متصل نه دي ربيعه بن اسيد د ابوعبدالرحمن حبلي نه روايت كوي او هغه دعبدالله بن عمرو نه او مونږ ته نه ده معلومه چي د ربيعه بن سيف سماع دعبدالله بن عمرو نه ثابت ده او كنه ده.

**تشريح** : په العرف الشذي كي ليكلي دي چي دجمعي په ورځ د مړ كيدو په فضيلت كي چي څومره احاديث وارد دي ټول ضعيف دي او دقبر دفتني نه مراد دسوال او جواب وخت كي خوف ناك صورة حال دي.

****************

## ٧٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَعْجِيلِ الْجَنَازَةِ

### په جنازه كي دجلتئ كولو بيان

١٠٧٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْجُهَنِيِّ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُمَرَ بْنِ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لَهُ: "يَا عَلِيُّ، ثَلَاثٌ لَا تُؤَخِّرْهَا: الصَّلَاةُ إِذَا أَتَتْ، وَالْجَنَازَةُ إِذَا حَضَرَتْ، وَالْأَيِّمُ إِذَا وَجَدْتَ لَهَا كُفْئًا".

قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَمَا أَرَى إِسْنَادَهُ بِمُتَّصِلٍ. [1]

**ترجمه** : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته اوفرمائيل اي علي په دري څيزونو كي تاخير مه كوه يو په مونځ كي كله چي ددي وخت راشي او يو په جنازه كي كله چي حاضره شي او دكونډي په نكاح وركولو كي كله چي تاسو ته ددي مناسب څوك ملاؤ شي، امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي، او ماته ددي متصل سند معلوم نه دي.

**تشريح** : همدا مضمون دابن عمر رضي الله عنهما نه هم مروي دی فرمائي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي كله چي په تاسو كي څوك مړ شي نوپه كور كي يي ډير مه حصاروئ قبر ته يي زر ورسوئ او په دفن كولو كي يي دجلتئ نه كار واخلئ.

**يوغلط رسم**

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في الجنائز ١٨ (١٤٨٦) (تحفة الأشراف.

حكيم الامت اشرف علي تهانوي وايي په بعضي ځايونو کي مال او دولت دمعلومولو يا دترکي دتقسيم انتظام او اهتمام يا ددوستانو او رشته دارانو انتظام يا دمونځ ګذارو کثرت يا دبل کوم غرض دپاره دمړي په تدفين کي تاخير کيدی شي ترديچي په بعضي ځايونو کي پوره دوه ورځي مړی پروت وي دا ټول ناجائز او ممنوع دي «روضة الصالحين»

****************

## ٧٤_ بَابُ آخَرُ فِي فَضْلِ التَّعْزِيَةِ

### دتعزيت دفضيلت په بيان کي يو بل باب

١٠٧٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ حَاتِمٍ الْمُؤَدِّبُ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ مُحَمَّدٍ، قَالَ: حَدَّثَتْنَا أُمُّ الأَسْوَدِ، عَنْ مُنْيَةَ بِنْتِ عُبَيْدِ بْنِ أَبِي بَرْزَةَ، عَنْ جَدِّهَا أَبِي بَرْزَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ عَزَّى ثَكْلَى كُسِيَ بُرْدًا فِي الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ.(1)

**ترجمه** : دابو برزه رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دکومي داسي ښځي تعزيت اوکړو چي ځوي يي مړ شوي وي نو ده ته به په جنت کي ددي په بدل کي يوه بهترينه جوړه واغوستولي شي.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او سند يي قوي نه دي .

**تشريح** : ترمذي په رقم ٩٩٨ کي د تعزيت متعلق روايت نقل کړی دی.

دعبدالله بن جعفر رضي الله عنهما بيان دي کله چي دجعفر طيار دمرګ خبر راغي نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دجعفر دکور دخلقو دپاره دخوراك انتظام اوکړئ ځکه چي دوئ باندي نن داسي مصيبت راغلي دي په کوم کي چي هغوئ مشغول دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي ، او بعضي اهل علم دمړي کور ته په مصيبت کي دانختلو په وجه څه ليږل مستحب ګڼړي او دا دامام شافعي قول هم دي، دجعفر بن خالد پلار دخالد ساره ځوي دي او ثقه دي دده نه ابن جريج نقل دروايت کړي دي.

****************

## ٧٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْجَنَازَةِ

### دجنازي په مونځ کي دلاسو نو پورته کولو بيان

1. تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١١٦٠٩)

١٠٧٧_ حَدَّثَنَا الْقَاسِمُ بْنُ دِينَارٍ الْكُوفِيُّ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ أَبَانَ الْوَرَّاقُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ يَعْلَى، عَنْ أَبِي فَرْوَةَ يَزِيدَ بْنِ سِنَانٍ، عَنْ زَيْدٍ وَهُوَ: ابْنُ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ عَلَى جَنَازَةٍ، فَرَفَعَ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ تَكْبِيرَةٍ وَوَضَعَ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا. فَرَأَى أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنْ يَرْفَعَ الرَّجُلُ يَدَيْهِ فِي كُلِّ تَكْبِيرَةٍ عَلَى الْجَنَازَةِ، وَهُوَ قَوْلُ: ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِلَّا فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَذُكِرَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ أَنَّهُ قَالَ فِي الصَّلَاةِ عَلَى الْجَنَازَةِ: لَا يَقْبِضُ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ". وَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنْ يَقْبِضَ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ كَمَا يَفْعَلُ فِي الصَّلَاةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: يَقْبِضُ أَحَبُّ إِلَيَّ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوه جنازه کي الله اکبر اووئيل او داولني تکبير سره يي رفع اليدين اوکړل او ښي لاس يي په کس لاس باندي دپاسه کيخودو.

امام ترمذي وائي داحديث غريب دي دا مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي، داهل علمو په دي مسئله کي اختلاف دي په صحابه کرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو کي دبعضو خيال دي چي په جنازه کي دهر تکبير په وخت کي دواړه لاسونه پورته کول ضروري دي دا دابن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول دي مګر بعضي اهل علم وائي صرف په اول ځل به لاسونه پورته کوي راو بيا به يي نه پورته کوي، دا دسفيان ثوري او اهل کوفه قول دي. ابن مبارك وائي دجنازي په مونځ کي به ښي لاس چپ لاس لره نه نيسي، او بعضي اهل علم وائي چي په ښي لاس به چپ لاس نيسي لکه چي په نورو مونخونو کي ځنګه کيږي. امام ترمذي وائي لاس تړل زما زيات خوښ دي

*******************

## ٧٦_ باب مَا جَاءَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ

---

1_ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣١١٤)

**دمومن روح دقرض په وجه هغه وخته پورې زوړند وي ترڅو پورې چې دا ازاد شوي نه وي**

١٠٧٨_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ".[1]

**ترجمه**: ابوهريره رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دمومن روح دقرض دوجې نه ترهغې پورې زوړند وي څو پورې چې دهغه قرضه ادا نکړې شي.

**لغات**: يقضي عنه: قضي يقضي قضاء، ده څه شي ادا کول.

**تشريح**: مطلب دادې چې دنجات ياپه عذاب کې دمبتلا کيدو فيصله دقرض په ادا کولو پورې موقوف ده او په همدې وجه علماء وائي چې دمړي دمال نه به دهر څه نه مخکې دهغه قرضه ادا کولې شي او ددينه هغه قرضه مراد ده کومه چې بغير دضرورت نه اخستلې شوې وي اوکه چرې دضرورت په بنا يې اخستلې وي او بيا مړ شي نو داسې قرض ده لره جنت ته دتلو نه، نه منع کوي او دوخت بادشاه يا څوک رشته داربه يې ادا کوي.

*****************

١٠٧٩_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ سَعْدٍ عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عُمَرَ بْنِ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "نَفْسُ الْمُؤْمِنِ مُعَلَّقَةٌ بِدَيْنِهِ حَتَّى يُقْضَى عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ وَهُوَ أَصَحُّ مِنَ الأَوَّلِ.[2]

**ترجمه**: ابوهريره رضي الله عنه بيان کوي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چې دمومن روح دقرض دوجې نه ترهغې پورې زوړند وي څو پورې چې دهغه قرضه ادا نکړې شي.
امام ترمذي وئيلي دي چې دا حديث حسن دی اود اولني نه زيات اصح دی.

**تشريح**: تشريح په پورتني حديث کې تيره شوه.

*****************

[1] تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف: ١٤٩٥٩) وانظر: مسند احمد (٢ في ٤٤٠)، وأخرجه سنن ابن ماجه في الصدقات ١٢، مسند احمد (٢ في ٥٠٨)

[2] تفرد به المؤلف. (تحفة الأشراف: ١٤٩٥٩) وانظر: مسند احمد (٢ في ٤٤٠)، وأخرجه سنن ابن ماجه في الصدقات ١٢، و مسند احمد (٢ في ٥٠٨)

# كتاب النكاح عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

نكاح په لغت كي ضم كولو ته وايي . او په شرع كي په دوه معانيو مستعمل ده. يوه معني حقيقي ده او بله مجازي ده.

د امام ابو حنيفه په نزد نكاح په معني د وطي حقيقي معني ده او دعقد د نكاح يي مجازي معني ده.

اود امام شافعي په نزد عكس دي يعني نكاح په معني د وطي مجازي معني ده او دعقد د نكاح يي حقيقي معني ده.

اود بعضي اهل علمو په نزد نكاح په دواړو معانيو كي مشترك ده.

د نكاح شرعی دري قسمونه دی، سنت موکده، واجب ،مکروه.

په مهر،نفقه اوپه وطی د قدرت په صورت کښې نكاح سنت موكد ده.

ښځو ته د سخت رغبت په وخت كي واجب ده.

كوم وخت چي د ظلم كولو،اود فرضو اوسنتو د پريخودلو غالب گمان وی نو په داسې صورت كي نكاح مكروه ده.

دداود ظاهري داقول چي نكاح فرض عين ده دده دا قول داجماع دامت نه خلاف دي . دبعضي علماؤ په نزد واجب بالكفايه ده اواستدلال يي ددي ايت "فَانْكِحُوا مَا طَابَ لَكُمْ مِنَ النِّسَاءِ" نه كړي دي.

*****************

## ١ـ بَاب مَا جَاءَ فِي فَضْلِ التَّزْوِيجِ وَالْحَثِّ عَلَيْهِ

### د نكاح كولو دفضيلت او ديته دترغيب بيان

١٠٨٠ـ حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ وَكِيعٍ، حَدَّثَنَا حَفْصُ بْنُ غِيَاثٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي الشِّمَالِ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْبَعٌ مِنْ سُنَنِ الْمُرْسَلِينَ: الْحَيَاءُ، وَالتَّعَطُّرُ، وَالسِّوَاكُ، وَالنِّكَاحُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُثْمَانَ، وَثَوْبَانَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي نَجِيحٍ، وَجَابِرٍ، وَعَكَّافٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي أَيُّوبَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

[1] تفرد به المؤلف (٢٣٩٩). مسند احمد (د في ٤٢١)

**ترجمه** ابوايوب رضي الله عنه دا ارشاد نبوي نقل كړي دي چي څلور سنتونه دتمامو انبياؤ اتفاقي دي حيا كول، دخوشبو استعمال، مسواك وهل، نكاح كول.
امام ترمذي وائي په دي باب كي دعثمان، ثوبان، ابن مسعود، عائشه، عبدالله بن عمرو، ابي نجيح . جابر، او عكاف رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابو ايوب حديث حسن غريب دي.

**تشريح** : صحيحينو دانس رضي الله عنه په روايت سره دا ارشاد نبوي نقل كړي دي چي زه روژي هم نيسم او افطار هم كوم اودښځو سره نكاح هم كوم. نكاح زما سنت دي اوچاچي زما سنت پريخودل هغه زمونږ نه نه دي.
ابن ماجه دعائشه رضي الله عنها په روايت سره دا ارشاد نبوي نقل كړي دي چي نكاح زما سنت دي اوچاچي زما سنت پريخودل نوهغه زمونږ نه نه دي
دنكاح كوم حكم چي مونږ په پورتنو كرخو كي ليكلي دي هغه داحنافو علماؤ دقول موافق دي اودامام احمد هم دا قول دي دامام شافعي په نزد نكاح په هر حالت كي داستحباب نه پورته درجه نه لري او استحباب به هم په هغه وخت كي وي كله چي په جماع قادر وي اوخرچ برداشت كولي شي او دحق تلفي كولو خطره ورته نه وي ددي شرائطو په موجودګۍ كي اګر چي نكاح مستحب ده ليكن دعبادت دپاره دكاملي توجه حاصلولو په عرض سره نكاح نه كول افضل دي اوكه چري په ذكر شوو دريو شرطونو كي كوم شرط مفقود وي نونكاح حرام يامكروه تحريمي ده مګر كه شهواني جوش مغلوب وي او په حرامو كي دمبتلاكيدو خوف وي نو بيادنكاح استحباب زيات قوي كيږي اوپدي حالت كي نكاح دنفل مونځ اودنفلي روژي او دنفلي حج او دنفلي جهاد نه افضله ګرځي دامام مالك هم دا قول دي

*******************

حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ خِدَاشٍ الْبَغْدَادِيُّ، حَدَّثَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي الشِّمَالِ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، نَحْوَ حَدِيثِ حَفْصٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ هُشَيْمٌ، وَمُحَمَّدُ بْنُ يَزِيدَ الْوَاسِطِيُّ، وَأَبُو مُعَاوِيَةَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنْ مَكْحُولٍ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ أَبِي الشِّمَالِ، وَحَدِيثُ حَفْصِ بْنِ غِيَاثٍ، وَعَبَّادِ بْنِ الْعَوَّامِ أَصَحُّ. (1)

---

1 - تفرد به المؤلف (۳۴۹۹). مسند احمد (۵ في ۴۲۱)

**ترجمه** ابو ايوب انصاري رضي الله عنه نه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دحفص دحديث هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وائي دا حديث هشيم او محمد بن يزيد الواسطي او ابو معاويه او نورو ډيرو راويانو دحجاج نه او هغه دمعقول نه او هغه دابوايوب انصاري نه نقل كړي دي او په دي كي يي دابوشمال ذكر نه دي كړي اوحديث دحفص بن غياث او عباد بن العوام زيات صحيح دي.

**دابوايوب خالد بن زيد انصاري رضي الله عنه حالات:**

نوم خالد كنيه ابو ايوب قبيله خزرج كي دبنو نجار خاندان سره تعلق لري دنسب پوره سلسله يي داسي ده خالد بن زيد بن كليب بن ثعلبه بن عبدعوف خزرجي

په بيعت عقبه كي داسلام قبلونكو مسلمانانو دجملي نه وو مديني ته دراتلو نه وروسته نبي كريم صلي الله عليه وسلم دده په كور كي قيام كړى وو او درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هميشه په غزواتو كي شريك شوى دى په صحابه كرامو كي دفقهاؤ په ډله كي شميرلى شي داختلاف په وخت كي به دصحابه كرامو مرجع وه (اسد الغابه)

په خالد كي يو دري خصوصيات وو ، اول حب رسول، دويم ايماني جذبه، دريم حق ګويي ، په دي باره كي ډير واقعات مشهور دي غرض دا چي په طبعي طور حياء او شرم هم په كي زيات وو دبخاري په يو روايت كي راځي چي كله به يي په كوهي يا حوض كي غسل كول نو دشرم په وجه به يي څلورو واړو طرفونو ته كپړي زوړندولي (بخاري)

وفات: قسطنطنيه (توركي) باندي دحملي دپاره روان وو چي په ۵۳هجري كي ديزيد بن معاويه په امارت كي دا تقريب منعقد شوى وو غرض دا چي په دي سفر كي عامه وباء نوره شوه او ډير خلق پكي مړه شول چي يو پكي خالد هم وو دقسطنطنيه د ديوال سره نژدي دفن كړى شو چي اوس يي هم زيارت موجود دى دمروياتو شمير يي ۱۵۰ دى چي اوه۷ په كي متفق عليه دي.

******************

١٠٨١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ عُمَيْرٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: خَرَجْنَا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ شَبَابٌ لَا نَقْدِرُ عَلَى شَيْءٍ، فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ، عَلَيْكُمْ بِالْبَاءَةِ فَإِنَّهُ أَغَضُّ لِلْبَصَرِ وَأَحْصَنُ لِلْفَرْجِ، فَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ مِنْكُمُ الْبَاءَةَ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ، فَإِنَّ الصَّوْمَ لَهُ وِجَاءٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، حَدَّثَنَا الأَعْمَشُ، عَنْ عُمَارَةَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الأَعْمَشِ

بِهَذَا الإِسْنَادِ مِثْلَ هَذَا، وَرَوَى أَبُو مُعَاوِيَةَ، وَالْمُحَارِبِيُّ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: كِلَاهُمَا صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** دابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره ووتلو او مونږ ځوانان وو چي په هيڅ مو قدرت نه لرلو نو رسول الله اوفرمائيل اي دځوانانو ډلي پتاسوكي چي څوك دنكاح طاقت لري هغه لره پكار دي چي نكاح وكړي ځكه نكاح بندونكي ده نظرلره او محفوظ كونكي ده فرج لره دحرام نه . اوڅوك چي دنكاح طاقت نه لري هغه لره روژي نيول پكاردي ځكه چي روژي نيول د بنده دپاره د خسي كيدو پشان دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او په دي سند ډيرو راويانو ددي هم معني احاديث داعمش نه نقل كړي دي، او ابومعاويه او محاربي داحديث داعمش نه په سند د عن ابراهيم عن علقمه عن عبدالله عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او ددي هم معني روايت يي بيان كړي دي او دا دواړه حديثونه صحيح دي

****************

## ٢_ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ التَّبَتُّلِ

### دلونډتوب ژوند تيرولو دمما نعت بيان

١٠٨٢_ حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، وَزَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ الطَّائِيُّ، وإسحاق بن إبراهيم البصري، قَالُوا: حَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ التَّبَتُّلِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَزَادَ زَيْدُ بْنُ أَخْزَمَ فِي حَدِيثِهِ، وَقَرَأَ قَتَادَةُ: وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلا مِنْ قَبْلِكَ وَجَعَلْنَا لَهُمْ أَزْوَاجًا وَذُرِّيَّةً سورة الرعد آية ٣٨. قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ سَعْدٍ، وَأَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَرَوَى

---

[1] _ صحيح البخاري في النكاح ٣(٥٠٦٦). صحيح مسلم في النكاح ١(١٤٠٠). سنن النسائي في الصوم ٤٣(٢٢٤١، ٢٢٤٢). والنكاح ٣(٣٢١١، ٣٢١٢). مسند احمد ١ في ٣٧٨، ٤٢٥، ٤٣٢) (تحفة الأشراف : ٩٣٨٥). سنن الدارمي في النكاح ٢(٢٢١١) وأخرجه صحيح البخاري في الصوم ١٠(١٩٠٥). والنكاح ٢(٥٠٦٥). صحيح مسلم في النكاح. سنن ابي داود في الصوم ١ (٢٠٤٦). سنن ابن ماجه في الصوم ١(١٨٤٥). (سنن النسائي في الصيام ٤٣(٢٢٤٣، ٢٢٤٤، ٢٢٤٥). والنكاح ٣(٣٢٠٨، ٣٢١٠، ٣٢١٣). مسند احمد (١في ٣٤٨). سنن الدارمي في النكاح ٢(٢٢١٢)

الْأَشْعَثُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَيُقَالُ: كِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ. (١)

**ترجمه** : دسمره رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم په لونډتوب كي دژوند تيرولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي زيد بن اخرم پخپل حديث كي دومره اضافه كړي ده چي قتاده دا ايت كريمه "ولقد ارسلنا رسلا من قبلك وجعلنا لهم ازواجا وذرية" تلاوت كړو.

امام ترمذي وائي دسمره حديث حسن صحيح دي او اشعث بن عبدالملك په سند د حسن او سعيد بن هشام عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او ددي هم معني روايت يي بيان كړي دي او وئيلي شوي دي چي دا دواړه روايتونه صحيح دي او په دي باب كي دسعد، انس بن مالك، عائشه، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

*****************

١٠٨٣ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ، قَالَ: " رَدَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عُثْمَانَ بْنِ مَظْعُونٍ التَّبَتُّلَ، وَلَوْ أَذِنَ لَهُ لَاخْتَصَيْنَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (٢)

**ترجمه** : دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم عثمان بن مظعون ته بغير دواده كولو دزندګئ تيرولو اجازت ورنكړو او كه هغه ته يي اجازت وركړي وي نو مونږ به ځانونه خسيان كړي وو.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : تبتل په لغت كي انقطاع ته وائي او په اصطلاح دشريعت كي تبتل رهبانيت ته وئيلي شي او درهبانيت معني دنيا پريخودل دي چاچي دعيسي عليه السلام په دين كي عبادت كولو او عيسايانو رهبانيت په ځان باندي پخپله لازم كړي دي لكه څنګه چي زمونږ په شريعت

---

[1] ـ سنن النسائي في النكاح ٣(٣٢١٦) سنن ابن ماجه في النكاح ٢(١٨٤٩) (تحفة الأشراف : ٤٥٩٠) مسند احمد (٥ في ١٧)

[2] ـ صحيح البخاري في النكاح ٨ (٥٠٧٣). صحيح مسلم في النكاح ١(١٤٠٢). سنن النسائي في النكاح ٣ (٣٢١٤). سنن ابن ماجه في النكاح ٢ (١٨٤٨). (تحفة الأشراف : ٣٨٥٦). مسند احمد (١ في ١٧٥، ١٧٦، ١٨٣) . سنن الدارمي في النكاح ٣ (٢٢١٣)

کي په نذر منلو سره يو څيز په بنده لازميږي بيا نصاري ددي په اداء کولو کي کوتاهي اوکړي.
او زمونږ په شريعت کي درهبانيت هيڅ تصور نشي کيدي بلکي نکاح او واده کول عبادت دي

********************

## ٣_ بَاب مَا جَاءَ إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ فَزَوِّجُوهُ

### ديو ديندارا نسان دطرفه د نكاح دپيغام راتلو وخت كي د نكاح كولو حكم

١٠٨٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنِ ابْنِ وَثِيمَةَ النَّصْرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا خَطَبَ إِلَيْكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي حَاتِمٍ الْمُزَنِيِّ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ قَدْ خُولِفَ عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ سُلَيْمَانَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، وَرَوَاهُ اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدِيثُ اللَّيْثِ أَشْبَهُ، وَلَمْ يَعُدَّ حَدِيثَ عَبْدِ الْحَمِيدِ مَحْفُوظًا.

(١)

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي تاسو ته داسي کس دنکاح پيغام درکړي دچاديناداري او اخلاق چي تاسو ته درست بکاري نو نکاح ورسره اوکړئ او که چري داسي اونکړئ نو په زمکه کي به فتنه او فساد خور شي

امام ترمذي وائي د ابوهريره رضي الله عنه په دي روايت کي دعبدالحميد بن سليمان دروايت مخالفت شوي دي هغه لره ليس بن سعد په سند دابن عجلان عن ابي هريره عن النبي صلي الله عليه وسلم مرسلا (منقطعا) نقل کړي دي (يعني دابن وشيمه ذکر يي نه دي کړي) دمحمد بن اسماعيل بخاري قول دي دليث حديث اشبه (قريب تر) تردي او امام بخاري دعبدالحميد حديث محفوظ نه دي گنړلي او په دي باب کي دابوحاتم مزني او عائشه رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي

********************

١٠٨٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو السَّوَّاقُ الْبَلْخِيُّ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُسْلِمِ بْنِ هُرْمُزَ، عَنْ مُحَمَّدٍ، وَسَعِيدٍ ابني عبيد، عَنْ أَبِي حَاتِمٍ الْمُزَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى

---

[1] _ سنن ابن ماجه في النكاح ٤٦ (١٩٦٧)

اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ، إِلَّا تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ". قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَإِنْ كَانَ فِيهِ، قَالَ: "إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَأَنْكِحُوهُ" ثَلَاثَ مَرَّاتٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَأَبُو حَاتِمٍ الْمُزَنِيُّ لَهُ صُحْبَةٌ. وَلَا نَعْرِفُ لَهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ.[1]

**ترجمه**: دابوحاتم مزني رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تاسو ته داسي كس دنكاح پيغام دركړي دچا ديناداري او اخلاق چي ستاسو خوښ شي نو دهغه سره نكاح اوكړئ او كه داسي اونكړئ نو په زمكه كي به فتنه او فساد خور شي، خلقو عرض اوكړو اي دالله رسوله كه په هغه كي څه عيب وي رسول الله خپله خبره دري پيري تكرار كړه چي كله تاسو ته داسي ځوك دنكاح پيغام دركړي چي په ديناداري او اخلاقو كي درست وي نو هغه سره نكاح اوكړئ.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او ابوحاتم مزني ته شرف دصحبت حاصل دي او ددي روايت نه علاوه دده نه كوم بل مروي حديث معلوم نه دي چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كړي وي.

******************

## ٤ـ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْمَرْأَةَ تُنْكَحُ عَلَى ثَلَاثِ خِصَالٍ

### يوه ښځه عموما د دري خبرو په سبب خوښولي شي

١٠٨٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدِ بْنِ مُوسَى، أَخْبَرَنَا إِسْحَاقُ بْنُ يُوسُفَ الْأَزْرَقُ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَلِكِ بْنُ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ الْمَرْأَةَ تُنْكَحُ عَلَى دِينِهَا، وَمَالِهَا، وَجَمَالِهَا، فَعَلَيْكَ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، وَعَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[2]

**ترجمه**: ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلي الله عليه وسلم ارشاد نقل كوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ښځي سره د يوڅو خوبيانو په وجه نكاح كولى شي يو د دهغې ديناداري په وجه، اود مالداري په وجه، د دهغې ښايست په وجه او پكار ده چي ته په

---

[1] ـ ابي داود في المراسيل

[2] ـ تفرد به المؤلف. سنن الدارمي في النكاح ٣ (٢٢١٧) (تحفة الأشراف: ٢٤٢٢) وأخرجه صحيح مسلم في الرضاع ١٥ (١٥/٥٤ في ٥٤). النسائي في النكاح ١٠ (٣٢٢٨). مسند احمد (٣ في ٣٠٢)

دینداره کامیابي حاصله کړي، لاسونه دي په خاورو ككړ شه .بيرني نه دي تكيه كلام دی.
امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعوف بن مالك، عائشه،
عبدالله بن عمرو، او ابو سعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات**: فاظفر: امر دي دظفر نه دسمع يسمع نه په معني دكامل كيدو او غالب كيدو راځي.

**تشريح**: "تنكح المراءة لاربع" دښځو سره دځلورو صفتونو په وجه نكاح كولي شي، مطلب دادي چي دا څلور وجوهات عموما اكثر وي، كله كله ددي نه علاوه دبل صفت په وجه هم كيدي شي، كله خو سړي مال ته وګوري چي ددينه به راته فائده راورسيږي، يا يي حسب او نسب او خانداني شرافت ته وګوري چي ددينه پيدا كيدونكي اولاد به هم دشرف او مرتبي والا وي، او كله كله دښځي حسن او جمال ته كتلي شي چي خائسته وي نو دي وايي كه دا مي دژوند ملګري شي نو ډيره به ښه وي.

"فاظفر بذات الدين تربت يداك" يعني كله كله دين دارۍ ته كتلي شي. دا مقصد نه دي چي صرف ديندارۍ ته به كتلي شي كه چري دين داري او باقي تمام صفات ټول پكي موجود وو نو بيا خو نور علي نور ده، خو كه يوصفت پكي ديندداري وي او څه نور وي نو بيا هم ښه ده خو كه يوه ښځه كي دين داري وي او نور څه نه وي او بله ښځه كي نور صفات وي او دين داري نه وي نو دين داري به مقدم كولي شي په نورو صفتونو او هم دي مضمون ته په يوبل روايت كي هم اشاره شوي ده "ولا تزوجوا النساء لحسنهن فعسي حسنهن ان يؤذيهن ولا تزوجوهن لاموالهن فعسي اموالهن ان يطغيهن، ولكن تزوجوهن علي الدين ولامرأة جذماء سوداء ذات دين افضل".

"تربت يداك" يعني كه دينداره دي پريخوده او بله دي اختيار كړه نو لاسونه دي په خاورو ككړ شه په دي جمله كي خيري كول مراد نه دي بلكي دديندارۍ ښځي دخولو ترغيب وركوي

****************

## ٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّظَرِ إِلَى الْمَخْطُوبَةِ

### كومي ښځي ته چي د نكاح پيغام وركولي شي دهغي دليدلو بيان

١٠٨٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي زَائِدَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عَاصِمُ بْنُ سُلَيْمَانَ هُوَ: الْأَحْوَلُ، عَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ، عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ، أَنَّهُ خَطَبَ امْرَأَةً. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " انْظُرْ إِلَيْهَا فَإِنَّهُ أَحْرَى أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي حُمَيْدٍ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ

الْعِلْمِ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالُوا: لَا بَأْسَ أَنْ يَنْظُرَ إِلَيْهَا مَا لَمْ يَرَ مِنْهَا مُحَرَّمًا، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ أَحْرَى: أَنْ يُؤْدَمَ بَيْنَكُمَا، قَالَ: أَحْرَى أَنْ تَدُومَ الْمَوَدَّةُ بَيْنَكُمَا. (1)

**ترجمه** دمغيره بن شعبه رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما يوي ښځي ته د نکاح پيغام اوليږلونبي كريم صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل ته يي اووينه او يقينا! ليدل ستاسو ددواړو په مينځ كي دمحبت پيدا كولو دپاره زيات مناسب دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي، او په دي باب كي د محمد بن مسلمه، جابر، ابو حميد، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي دبعضي اهل علمو قول دي چي ديته په كتلو كي څه حرج نشته چي څو پوري داسي كتل نه وي كړي كوم چي حرام وي اوهمدا دامام احمد او اسحاق رحمهما الله قول هم دي او د "احري ان يؤدم بينكما" معني دا ده چي په تاسو كي دمحبت پيداكولو دپاره زيات موزون دي.

****************

## ٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِعْلَانِ النِّكَاحِ

### دنكاح داعلان بيان

١٠٨٨_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَخْبَرَنَا أَبُو بَلْجٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ الْجُمَحِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَرَامِ وَالْحَلَالِ الدُّفُّ وَالصَّوْتُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَالرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ حَاطِبٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو بَلْجٍ اسْمُهُ: يَحْيَى بْنُ أَبِي سُلَيْمٍ وَيُقَالُ: ابْنُ سُلَيْمٍ أَيْضًا، وَمُحَمَّدُ بْنُ حَاطِبٍ قَدْ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ غُلَامٌ صَغِيرٌ. (2)

**ترجمه** دمحمد بن حاطب جمحي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دحلالي او حرامي نكاح په مينځ كي فرق صرف چمبه (ډول) وهل او ددي اعلان كول دي

امام ترمذي وائي دمحمد بن حاطب حديث حسن دي محمد بن حاطب رسول الله صلي الله عليه وسلم لره ليدلي وو ليكن په دغه وخت كي دده عمر انتهائي كم وو بلكي ماشوم وو. اوپه

---

[1] _ النسائي في النكاح ١٧ (٣٢٣٧). سنن ابن ماجه في النكاح ٩ (١٨٦٦). (تحفة الأشراف: ١١٤٨٩). مسند احمد (٣ في ٢٣٥ ٢٣٦). سنن الدارمي في النكاح ٥ (٢٢١٨)

[2] _ سنن النسائي في النكاح ٧٢ (٣٣٧٢). سنن ابن ماجه في النكاح ٢٠ (١٨٩٦). (تحفة الأشراف: ١١٢٢١). مسند احمد (٣ في ٤١٨)

دي باب کي دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها . جابر . او ربيع بنت معوذ رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**تشريح** : دجاهليت په زمانه کي په عربو کي دنکاح څلور طريقي رائج وي نبي کريم صلي الله عليه وسلم ديوي طريقي نه علاوه نوري ټولي طريقي ختمي کړي ځکه چي هغه طريقي انتهائي ګنده او دشرم نه ډکي وي او دنکاح داعلان حکم يي اوکړو ترديچي دهغه نکاح ګانو نه فرق او جداوالي راشي کومي چي په پټه کيږي

مثلا دنکاح د اعلان ډيري طريقي دي دجاهليت په زمانه کي به خلقو دنکاح په موقعه شور کولو او ډول باجي چمبي به يي غړولي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم نه صرف دا چي ددي اجازت يي ورکړي وي بلکي ديته يي يو قسم ترغيب ورکړي دي ترديچي د تشهير سره څه ناڅه تفريح هم اوشي او که نکاح په مسجد کي اوتړلي شي نو دمسجد دعزت برکت به هم حاصل شي او تشهير به هم اوشي چنانچه په يو حديث کي په دي باندي حکم شوي دي او په وليمي ورکول سره هم تشهير کيږي او په همدي وجه وليمه مسنون ګرځولي شوي ده.

*****************

١٠٨٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ مَيْمُونٍ الأَنْصَارِيُّ، عَنِ القَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْلِنُوا هَذَا النِّكَاحَ وَاجْعَلُوهُ فِي المَسَاجِدِ وَاضْرِبُوا عَلَيْهِ بِالدُّفُوفِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ حَسَنٌ فِي هَذَا البَابِ، وَعِيسَى بْنُ مَيْمُونٍ الأَنْصَارِيُّ يُضَعَّفُ فِي الحَدِيثِ، وَعِيسَى بْنُ مَيْمُونٍ الَّذِي يَرْوِي عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ التَّفْسِيرَ هُوَ ثِقَةٌ. [1]

**ترجمه** دعائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ددي نکاح اعلان اوکړئ او دا په مسجد کي اوتړئ او ډول باجي . چمبي ورباندي اووهئ

امام ترمذي وائي په دي باب کي داحديث حسن غريب دي او عيسي بن ميمون انصاري دحديث دروايت په باب کي ضعيف ګڼرلي شوي دي اوعيسي بن ميمون چي دابن نجيح نه په تفسير کي روايت کوي هغه ثقه دي

*****************

١٠٩٠_ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ البَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ المُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ ذَكْوَانَ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ، قَالَتْ: جَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَخَلَ عَلَيَّ غَدَاةَ بُنِيَ بِي، فَجَلَسَ عَلَى

---

[1] تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٧٥٣٤)

فِرَاشِي كَمَجْلِسِكَ مِنِّي، وَجُوَيْرِيَاتٌ لَنَا يَضْرِبْنَ بِدُفُوفِهِنَّ وَيَنْدُبْنَ مَنْ قُتِلَ مِنْ آبَائِي يَوْمَ بَدْرٍ، إِلَى أَنْ قَالَتْ إِحْدَاهُنَّ: وَفِينَا نَبِيٌّ يَعْلَمُ مَا فِي غَدٍ، فَقَالَ لَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اسْكُتِي عَنْ هَذِهِ وَقُولِي الَّذِي كُنْتِ تَقُولِينَ قَبْلَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : ربيع بنت معوذ رضي الله عنها وائي چي په كومه شپه زما واده اوشو ددغي په سحر رسول الله صلي الله عليه وسلم زما خواته تشريف راوړو او زما په بستره داسي كيناستو لكه څنګه چي ته (خالد بن ذكوان) ناست يي او وړو وړو جينكو به چمبي وهلي او كوم كسان چي زمونږ په پلار نيكه كي په جنګ بدر كي شهيدان شوي وو دهغوئ مرثيي به يي وئيلي تردي پوري چي په دي جينكو كي يوي اووئيل زمونږ په مينځ كي يو داسي نبي دي كوم چي دهغه څيزونو نه خبردار دي چي صبا به كيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل داسي مه وايه او هغه اووايه كوم چي تا مخكي وئيل.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

******************

## ٧_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَا يُقَالُ لِلْمُتَزَوِّجِ

### دواده دځلمي ته دمباركئ وركولو وخت كي كومه دعا وئيل پكار دي

١٠٩١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا رَفَّأَ الْإِنْسَانَ إِذَا تَزَوَّجَ، قَالَ: "بَارَكَ اللهُ لَكَ وَبَارَكَ عَلَيْكَ وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي الْخَيْرِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم به كله دواده مباركي وركوله نو دا دعا به يي لوستله "بارك الله لك وبارك عليك وجمع بينكما

---

1 _ صحيح البخارى في المغازي ١٢ (٤٠٠١) . سنن ابي داود في الأدب ٥٩ (٤٩٢٢) . سنن ابن ماجه في النكاح ٢١ (١٨٩٧) (تحفة الأشراف : ١٥٨٣٢) . مسند احمد (٦/ ٣٥٩، ٣٦٠)

2 _ صحيح البخارى في الوضوء ٨ (١٤١) . وبدء الخلق ١١ (٣٢٨٣) . والنكاح ٦٦ (٥١٦١) . والدعوات ٥٥ (٦٣٨٨) . والتوحيد ١٣ (٧٣٩٦) . صحيح مسلم في النكاح ١٨ (١٤٣٤) . سنن ابي داود في النكاح ٤٦ (٢١٦١) . سنن ابن ماجه في النكاح ٢٧ (١٩١٩) . (تحفة الأشراف : ٦٣٤٩) . مسند احمد (١/ ٢٢٠، ٢٤٣، ٢٨٣، ٢٨٦) . سنن الدارمي في النكاح ٢٩ (٢٢٥٨)

في الخير " الله تعالي دي تاته برکت درکړي او په تادي برکت نازل کړي او تاسو دواړه دي په خير سره جمع کړي

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعلي رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي.

****************

## ٨_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَا يَقُولُ إِذَا دَخَلَ عَلَى أَهْلِهِ

### دهغه وختونو ددعاء بيان په کوموکي چي سړي خپلي کوروالا سره خلوت کوي

١٠٩٢_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ سَالِمِ بْنِ أَبِي الْجَعْدِ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ إِذَا أَتَى أَهْلَهُ. قَالَ: بِسْمِ اللَّهِ اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا. فَإِنْ قَضَى اللَّهُ بَيْنَهُمَا وَلَدًا لَمْ يَضُرَّهُ الشَّيْطَانُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (١)

**ترجمه** ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو کي چي څوك خپلی بي بي سره کوروالی کوي نو اول دی بسم الله اووائي بيا دي دا دعا اوغواړي يا الله مونږ دواړه دشيطان نه محفوظ کړی اوکوم اولاد چي مونږ ته راکوی هغه هم دشيطان نه محفوظ کړی نو که دی کوروالي نه يی اولاد په قسمت کي وي. دشيطان دضرر نه به محفوظ وي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي

**لغات** : جنبنا: جنّب يجنب تجنيبا : معني په ډډه کيدل او مائل کيدل ، استجنب معني ناپاك شو.

**تشريح** : لم يضره: "شيطان ورته ضرر نشي ورکولی" خو ددي دپاره شرط دادی چي مسنون دعا يي ونيلي وي او هغه دعا داده اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ . وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا . په بعضي روايتونو کي راغلي دي کله چي دا دعا اولوستلی شي نو ددي په سبب انسان دشيطان دشرارت او بد اثر نه محفوظ کيږي

(١) صحيح البخاري في الوضوء ٨ (١٤١)، وبدء الخلق ١١ (٣٢٨٣)، والنكاح ٦٦ (٥١٦١)، والدعوات ٥٥ (٦٣٨٨)، والتوحيد ١٣ (٧٣٩٦). صحيح مسلم في النكاح ١٨ (١٤٣٤). سنن ابي داود في النكاح ٤٦ (٢١٦١). سنن ابن ماجه في النكاح ٢٧ (١٩١٩). (تحفة الأشراف: ٦٣٤٩). مسند احمد (١/٢٢٠، ٢٤٣، ٢٨٣، ٢٨٦). سنن الدارمي في النكاح ٢٩ (٢٢٥٨)

سوال: ډير خلق دا دعا غواړي ليکن دهغوئ اولاد دشيطاني تصرفاتو نه محفوظ نه وي.
جواب: دضرر نه مراد کفر دی ددي دعا غوښتلو په برکت سره به يي اولاد دکفر په حالت کي نه وي بلکي ددي په برکت سره به يي حاتمه ښائسته وي.
دويم جواب: دضرر نه مراد سحر وغيره دی يعني ددي دعا په برکت سره به هغوئ دبلاګانو او مصيبتونو نه به محفوظ وي.
دريم جواب: ابن جوزي وائي مطلب دادی چي ددي دعا په برکت سره به داولاد دين او عقيدي ته نقصان نه رسيږي.
څلورم جواب: کله چي ماشوم پيدا کيږي نو شيطان دماشوم په تالو کي ګوته دننه کوي نو ددي دعا په برکت سره شيطان په ډير زور سره ګوته داخلولی نشي.
پنځم جواب: کله چي څوک جماع کوي نو شيطان هم ورسره وي که چري دا دعا اولولي نو دشيطان دشرارت نه به بچ شي.

*****************

## ۹_ بَاب مَا جَاءَ فِي الأَوْقَاتِ الَّتِي يُسْتَحَبُّ فِيهَا النِّكَاحُ

### دهغه وختونو بيان په کوموکي چي نکاح کول مستحب دي

۱۰۹۳_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "تَزَوَّجَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَوَّالٍ، وَبَنَى بِي فِي شَوَّالٍ". وَكَانَتْ عَائِشَةُ تَسْتَحِبُّ أَنْ يُبْنَى بِنِسَائِهَا فِي شَوَّالٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أُمَيَّةَ.[1]

**ترجمه** دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماسره په شوال کي واده اوکړو او په شوال کي يي ماسره ذفاف اوشو نو عائشه رضي الله عنها به دخپل خاندان دښځو رخصتي په شوال کي مستحب ګڼرله.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دا مونږ ته صرف دثوري په سند رارسيدلي دي او ثوري داسماعيل بن اميه نه نقل کړي دي.

*****************

[1] _ صحيح مسلم في النكاح ۱۱ (۱۴۲۳) . سنن النسائي في النكاح ۱۸ (۳۲۳۸) ، و ۷۷ (۳۳۷۹) . سنن ابن ماجه في النكاح ۵۳ (۱۹۹۰) . (تحفة الأشراف : ۱۶۳۵۵) . مسند احمد (۶/ في ۵۴ ، ۲۰۶) . سنن الدارمي في النكاح ۲۸ (۲۲۵۷)

## ١٠_ باب مَا جَاءَ فِي الْوَلِيمَةِ

### دوليمي بيان

١٠٩٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ ثَابِتٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى عَلَى عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَوْفٍ أَثَرَ صُفْرَةٍ، فَقَالَ: " مَا هَذَا ؟ " فَقَالَ: إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً عَلَى وَزْنِ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَقَالَ: " بَارَكَ اللهُ لَكَ، أَوْلِمْ وَلَوْ بِشَاةٍ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَعَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَزُهَيْرِ بْنِ عُثْمَانَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وقَالَ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ: وَزْنُ نَوَاةٍ مِنْ ذَهَبٍ: وَزْنُ ثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ وَثُلُثٍ، وقَالَ إِسْحَاق: هُوَ وَزْنُ خَمْسَةِ دَرَاهِمَ وَثُلُثٍ. [1]

**ترجمه** دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دعبدالرحمن بن عوف په جسم دزيړوالي نښانات اوليدل نو تپوس يي ورنه اوكړو دا څه دي؟ هغه عرض اوكړو ما ديوي ښځي سره دكجوري دزړي په مقدار سرو زرو باندي نكاح كړي ده رسول الله اوفرمائيل الله تعالي دي تاته بركت دركړي او وليمه ضرور اوكړه اگر كه په يوه چيلئ ولي نه وي.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابن مسعود. عائشه. جابر. او زهير بن عثمان رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي. امام احمد بن حنبل وائي دكجوري دزړي په مقدار دسرو زرو وزن دپاؤباندي يو درهم وزن سره برابر وي. او اسحاق بن راهويه وائي پنځه درهمه او يو ثلث سره برابر دي

*****************

[1] صحيح البخاري في النكاح ٥٦ (٥١٥٥)، والدعوات ٥٣ (٦٣٨٦)، صحيح مسلم في النكاح ١٣ (١٤٢٧)، سنن النسائي في النكاح ٦٢ (٣٣٥٤، ٣٣٥٥)، سنن ابن ماجه في النكاح ٢٢ (١٩٠٧) (تحفة الأشراف ٢٨٨)، سنن الدارمي في النكاح ٢٢ (٢٢٥٠)، وأخرجه صحيح البخاري في البيوع ١(٢٠٤٩)، ومناقب الأنصار ٣(٣٧٨١)، والنكاح ٤٩(٥١٣٨)، و ٥٤(٥١٥٣)، و ٦٩ (٥١٦٧)، والأدب ٦٧ (٦٠٨٢)، صحيح مسلم في النكاح، سنن ابي داود في النكاح ٣٠ (٢١٩٠)، مسند احمد (٣ في ١٦٥، ١٩٠، ٢٠٥، ٢٠٦)، سنن الدارمي في الأطعمة ٢٨(٢١٠٨)

١٠٩٥_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ وَائِلِ بْنِ دَاوُدَ، عَنِ ابْنِهِ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْلَمَ عَلَى صَفِيَّةَ بِنْتِ حُيَيٍّ بِسَوِيقٍ وَتَمْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. ([1])

**ترجمه** : انس بن مالك رضي الله عنه وائي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دصفيه بنت حيي وليمه په ستوانو او كجورو باندي كړي ده.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي

****************

١٠٩٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى، حَدَّثَنَا الْحُمَيْدِيُّ، عَنْ سُفْيَانَ نَحْوَ هَذَا، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَنَسٍ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ عَنْ وَائِلٍ، عَنِ ابْنِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَكَانَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ يُدَلِّسُ فِي هَذَا الْحَدِيثِ، فَرُبَّمَا لَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ وَائِلٍ، عَنِ ابْنِهِ وَرُبَّمَا ذَكَرَهُ. ([2])

**ترجمه** : په مذكوره سند باندي هم دماقبل روايت هم معني حديث مروي دي او بعضي راويانو داحديث په سند د ابن عيينه عن الزهري عن انس سره نقل كړي دي ليكن هغوئ په دي كي وائل بن داود او دهغه ځوي دواسطو ذكر نه دي كړي امام ترمذي وائي سفيان بن عيينه په دي حديث كي تدليس كولو كله به هغه په دي كي وائل بن داود عن ابيه ذكر نه كولو او كله به يي ذكر كولو

****************

١٠٩٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ مُوسَى الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا عَطَاءُ بْنُ السَّائِبِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "طَعَامُ أَوَّلِ يَوْمٍ حَقٌّ، وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّانِي سُنَّةٌ، وَطَعَامُ يَوْمِ الثَّالِثِ سُمْعَةٌ، وَمَنْ سَمَّعَ سَمَّعَ اللَّهُ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ زِيَادِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَزِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ كَثِيرُ

---

[1] _ ابی داود في الأطعمة ٢ (٣٧٤٤)، سنن النسائي في النكاح ٧٩ (٣٣٨٤)، سنن ابن ماجه في النكاح ٢٤ (١٩٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٢) وأخرجه مسلم في النكاح ١٤ والجهاد ٤٣ (١٣٦٥).

[2] _ ابی داود في الأطعمة ٢ (٣٧٤٤)، سنن النسائي في النكاح ٧٩ (٣٣٨٤)، سنن ابن ماجه في النكاح ٢٤ (١٩٠٩)، (تحفة الأشراف: ١٤٨٢) وأخرجه مسلم في النكاح ١٤ والجهاد ٤٣ (١٣٦٥).

الْغَرَائِبِ وَالْمَنَاكِيرِ. قَالَ: وَسَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل يَذْكُرُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عُقْبَةَ، قَالَ: قَالَ وَكِيعٌ: زِيَادُ بْنُ عَبْدِ اللهِ مَعَ شَرَفِهِ يَكْذِبُ فِي الْحَدِيثِ. ([1])

**ترجمه** : دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اوله ورځ داولي ورځي ډوډئ حق ده او د دويمي ورځي سنت ده او د دريمي ورځي ډوډئ ورکول صرف رياکاري او نمائش دي او څوك چي رياكاري كوي هغه ته به الله تعالي درياكارئ سزا وركړي.

امام ترمذي وائي دابن مسعودرضي الله عنه داحديث مونږ ته صرف دزياد بن عبدالله په روايت مرفوع رارسيدلي دي، او زياد بن عبدالله انتهائي غريب وو او منكر احاديث به يي بيانول، ما د محمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي هغه دمحمد بن عقبه نه نقل كولو چي وكيع وئيل زياد بن عبدالله ددي خبري نه ډير اوچت دي چي په حديث كي دروغ اووائي.

****************

## ١١_ بَاب مَا جَاءَ فِي إِجَابَةِ الدَّاعِي

١٠٩٨_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ إِسْمَاعِيل بْنِ أُمَيَّةَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ائْتُوا الدَّعْوَةَ إِذَا دُعِيتُمْ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عَلِيٍّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَالْبَرَاءِ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي أَيُّوبَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([2])

**ترجمه** : د ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: دعوت چي درته كله دركړى شي نو ضرور يي قبول كړئ.

امام ترمذي وايي په دي باب كي د علي، ابو هريره، براء، انس، او ابو ايوب رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

**تشريح** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمسلمان په مسلمان پنځه حقونه دي، اول دسلام جواب وركول، دويم دمريض تپوس

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٩٣٢٩)

[2] _ صحيح مسلم في النكاح ١٦ (١٤٢٩). (تحفة الأشراف: ٧٤٩٨) وأخرجه صحيح البخاري في النكاح ٧١ (٥١٧٣)، و٧٤ (٥١٧٩). صحيح مسلم في النكاح. سنن ابي داود في الأطعمة ١ (٣٧٣٦). سنن ابن ماجه في النكاح ٢٥ (١٩١٤). موطأ امام مالك في النكاح ٢١ (٤٩). سنن الدارمي في الأطعمة ٤٠ (٢١٢٧)، (٢١٢٨)، والنكاح ٢٣ (٢٢٥١)

كول، دريم دجنازی سره تلل، څلورم، نيك دعوت قبلول، پنځم دانړي (پرنجي) په جواب كي يرحمك الله ويل

(۴) دعوت قبلول دامام نووي قول دی چي دامام شافعي په نزد دعوت قبلول فرض عين دي خو په دي شرط چي څه عذر نه وي ليكن داهل ظواهر په نزد واجب دي او دجمهورو فقهاؤ په نزد واجب نه دي په دعوت قبلولو سره اسلامي اخوت مستحكم كيږي اود زړونو كدورت ورسره ختميږي.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ناكاره خوراك دوليمي هغه ډوډۍ ده چي هغه خلق ترينه منع كولی شي څوك چي پخپله راځي او چي څوك نه راځي هغه رابللی شي او څوك چي ددعوت قبلولو نه انكار كوي هغه دالله او رسول نافرمانه دی (مسلم)

او دمسلم او بخاري په يو روايت كي دابوهريره رضي الله عنه نه دارنګی نقل دي چي دهغه چا دوليمی ډوډۍ ډيره خرابه ده كومی ته چي مالداران راوبللی شي او غريبان پريخودی شي.

"شر الطعام طعام الوليمة" يعني بدترين طعام دهغي وليمي دی . ددي حديث مقصد دوليمي دخوراك بدي بيانول نه دي ځكه چي دوليمي دخوراك خوړلو تاكيد راغلی دی مروي دي چي څوك دوليمي دعوت نه قبلوي هغه ګنهګاريږي ليكن صرف دهغي وليمي مذمت راغلی دی په كومه كي چي صرف مالدارانو ته دعوت وركولی شي او غريبان پريخودی شي.

فقد عصي الله ورسوله يعني دالله اودرسول نافرماني يي اوكړه ددي وجه داده چي دالله رسول ددعوت قبلولو حكم كړی دی لهذا څوك چي دعوت نه قبلوي هغه دالله درسول نافرماني كوي اودنبي حكم هم دالله حكم دی "من يطع الرسول فقد اطاع الله" . يعني چاچي اطاعت درسول وكړو نو ده د الله اطاعت وكړو

دپورتني حديث په بنا بعضي علماؤ دوليمي دعوت قبلول واجب ګنړلي دي اودپورتني حديث نه يي استدلال كړی دی ليكن دجمهورو په نزد مستحب دي او دا امر داستحباب دپاره دی ددي نظائر په كلام دعربو كي ډير موندی شي

## دابوهريره رضي الله عنه حالات

نوم عمرو كنيه ابوهريره او دپلار نوم يي عامر وو خانداني نوم يي عبدالشمس وو. كله چه رسول الله صلي الله عليه وسلم خيبر ته تلے وو نو په هغه وخت كي مديني ته دوفد سره داسلام قبلولو دپاره حاضر شو بيا دا وفد خيبر ته ورسيدو او هم هلته مسلمان شو (طبقات ابن سعد)

درسول الله سره په اسلام باندي دبيعت كولو نه پس يي هيڅ كله درسول الله لمن پريخودي نه

ده عمر رضي الله عنه دبحريب عامل مقرر کړے دے ابوهريره رضي الله عنه دعلم ډير شوقي وو عموما به خلقو درسول الله نه ډيرو سوالاتو کولو نه ځان ساتلو ليکن ابوهريره به په جرئت سره تپوسونه کول همداوجه ده چه په کتابونو کي دده د رواياتو شمير زيات دے ، بعضي کسان دده په کثرت روايت کي په شك کي پراته و ونو په دي وجه به ده وئيل چه زما مهاجرين وروڼه په بازارونو کي کاروبارونه کوي او انصار پخپلو پټو کي مصروف وي زه يو محتاج سړے وم زما ټول وخت به درسول الله په صحبت کي تيريدو (طبقات ابن سعد ٢/ ٥٢).

اوصاف: ابوهريره رضي الله عنه په يو څو اوصافو مشهور دے (١) دقيامت نه ويريدل په دومره اندازه کي چه بيهوش به شو (٢) په عبادت کي رياضت کول (٣) درسول الله سره محبت کول (۴) دخپلي مور سره محبت کول (۵) او درسول الله دخاندان سره محبت کول (٦) سادګي (٧) فياضي

وفات: دوليد په زمانه کي په مدينه کي بيمار شو او هم دلته وفات شو وليد وربانديي دجنازي مونځ اوکړو اودعثمان رضي الله عنه ځامنو په خپلو اوګو ددفن کولو دپاره بقيع ته ورسولو او هلته اکابر صحابه موجود وو (طبقات اب سعد) دوفات کيدو په وخت کي عمر يي اته اويا کاله وو.

مرويات: دده دمروياتو شمير ۵۳۷۴ دے په دي کي ۳۲۵ په بخاري او مسلم دواړو کي دي او صرف ٧٩ په بخاري کي دي او صرف ٩٣ په مسلم کي دي (تهذيب الكمال).

*****************

## ١٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَجِيءُ إِلَى الْوَلِيمَةِ مِنْ غَيْرِ دَعْوَةٍ[1]

### د چا وليمي ته بغير دعوته د ورتلو بيان

١٠٩٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ يُقَالُ لَهُ: أَبُو شُعَيْبٍ، إِلَى غُلَامٍ لَهُ لَحَّامٍ، فَقَالَ: اصْنَعْ لِي طَعَامًا يَكْفِي خَمْسَةً، فَإِنِّي رَأَيْتُ فِي وَجْهِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجُوعَ، قَالَ: فَصَنَعَ طَعَامًا، ثُمَّ أَرْسَلَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَدَعَاهُ وَجُلَسَاءَهُ الَّذِينَ مَعَهُ، فَلَمَّا قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّبَعَهُمْ رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ مَعَهُمْ حِينَ دُعُوا، فَلَمَّا انْتَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْبَابِ، قَالَ لِصَاحِبِ الْمَنْزِلِ: "إِنَّهُ

اتَّبَعَنَا رَجُلٌ لَمْ يَكُنْ مَعَنَا حِينَ دَعَوْتَنَا فَإِنْ أَذِنْتَ لَهُ دَخَلَ ". قَالَ: فَقَدْ أَذِنَّا لَهُ فَلْيَدْخُلْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. [1]

**ترجمه** : دابومسعودرضي الله عنه بيان دي چي ابو شعيب نومي يوكس خپل غوښي خرڅونكي ته ورغلو او ورته يي اووئيل زما دپاره دومره خوراك جوړ كړه چي پنځه كسانو دپاره كافي شي ځكه چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم په مخ دولږي اثر ليدلي دي نو هغوئ خوراك تياركړو او درسول الله درابللودپاره يي څوك ورولیږل نو هغه رسول الله ته او څوك چي ورسره ناست وو ټولو ته بلنه وركړه كله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دتلو دپاره پاڅيدو نو ورپسي يو بل سړي هم روان شو كوم چي درسول الله سره هغه وخت موجود نه وو كله چي ورته دعوت وركړي كيدو، رسول الله صلي الله عليه وسلم چي كله دروازي ته وررسيدو نو دكور خاوند ته يي اووئيل زمونږ سره يوداسي بل كس هم دي كوم چي هغه وخت زمونږ سره موجود نه وو چي تا مونږ ته دعوت راكولو نو كه ستا اجازه وي دي به هم دننه راشي هغه اووئيل مونږ ده ته هم اجازت وركړي دي او دي دي هم دننه راشي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

**تشريح**: اتباد:

د وليمي ددعوت قبلولو په سلسله كي كوم روايت وارد نه دى البته د ضيافت اود عامو دعوتونو په عموم كي داخل دى، يعني ددي ثبوت د عموماتو نه مستفاد دى، (تعليمات محمدي شرح ترمذي).

****************

## ١٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَزْوِيجِ الأَبْكَارِ

### دپيغلو جينكو سره د نكاح كولو بيان

١١٠٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " أَتَزَوَّجْتَ يَا جَابِرُ؟ " فَقُلْتُ: نَعَمْ، فَقَالَ: " بِكْرًا أَمْ ثَيِّبًا؟ " فَقُلْتُ: لَا بَلْ ثَيِّبًا، فَقَالَ: " هَلَّا جَارِيَةً تُلَاعِبُهَا وَتُلَاعِبُكَ ". فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ

[1] ـ صحيح مسلم في البيوع ٣١ (٢٠٨١) . والمظالم ١٣ (٢٤٥٦) . والأطعمة ٣٤ (٥٤٣٤) . و٥٧ (٥٤٦١) . صحيح مسلم في الأشربة والأطعمة ١٩ (٢٠٣٦) . (تحفة الأشراف : ٩٩٩٠)

إِنَّ عَبْدَ اللَّهِ مَاتَ وَتَرَكَ سَبْعَ بَنَاتٍ أَوْ تِسْعًا، فَجِئْتُ بِمَنْ يَقُومُ عَلَيْهِنَّ. قَالَ: فَدَعَا لِي. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ، وَكَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما يوي ښځي سره واده اوکړو کله چه زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم نو تپوس يي رانه اوکړو اي جابر ايا واده دي کړي دي ما اووئيل هو کړي مي دي تپوس يي اوکړو چي پيغله ده او که کونډه؟ ما اووئيل نه دكونډي سره مي واده کړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دكومي پيغلي سره دي واده ولي نه کولو؟ تا به دهغي سره لوبي کولي او هغي به تاسره لوبي کولي؟ ماعرض اوکړو اي دالله رسوله (زما پلار) عبدالله وفات شوي دي او دهغه نه اوه جينکۍ پاتي شوي دي نو ما يوه داسي ښځه راواده کړه څوك چي به ددوي خيال ساتلي، چنانچه رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دپاره خصوصي دعا اوغوښتله.

امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابيّ بن كعب، او كعب بن عجره رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي.

**تشريح** : نكاح دپيغلو او كونډوسره يو شان حيثيت لري دكومي يوي سره دنكاح كولو كوم خاص فضيلت نشته دمصلحت چي څنګه تقاضا وي دهغي مطابق دهري يوي سره نكاح كولي شي ليكن طبعا رغبت پيغلو ته زيات وي څكه چي په هغوئ کي دزدكړي صلاحيت موجود وي او دحكمت په تقاضو تلل او ذمه دارياني قبلول ورته اسان دي څكه چي هغوئ دتشي تختي پشان وي او دبچو راوړلو صلاحيت پكي هم وي او كونډي تيز خوي والاوي او دبچو راوړلو طاقت يي هم كم وي هغوئ دليكلي شوي تختي پشان وي چي زاړه ليكل ورنه ورانول غوړي او زدكړه كول ورته هم اسان نه وي البته كه دكورني امورو په تقاضا دچا تجربه كاري ښځي ته ضرورت وي نو بيا دهغه دپاره كونډي سره نكاح كول بهتر دي.

****************

## ١٤_ بَابُ مَا جَاءَ لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ

---

[1] _ صحيح مسلم في النفقات ١٢ (٥٣٨٧) . الدعوات ٥٣ (٦٣٨٧) . صحيح مسلم في الرضاع ١٦ (٧١٥) سنن النسائي في النكاح ٦ (٣٢٢١) . (تحفة الأشراف : ٢٥١٢) وأخرجه صحيح البخاري في البيوع ٣٣ (٢٠٩٧) . والوكالة ٨ (٢٣٠٩) . والجهاد ١١٣ (٢٩٦٧) . والمغازي ١٨ (٤٠٥٢) . والنكاح ١٠ (٥٠٧٩) و١٢١ (٥٢٤٥) . و١٢٢ (٥٢٤٧) . صحيح مسلم في الرضاع . سنن ابي داود في النكاح ٣ (٢٠٤٨) . مسند احمد (٣ في ٢٩٤، ٣٠٢، ٣٠٨، ٣٦٢، ٣٧٤، ٣٧٦) . سنن الدارمي في النكاح ٣٢ (٢٢٦٢)

## دولي داجازت نه بغير د نكاح نه كيدوبيان

١١٠١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا شَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق. وحَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق. ح وحَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ إِسْرَائِيلَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق. ح وحَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَنَسٍ. ([1])

**ترجمه** : دابوموسیٰ اشعري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دولي داجازت نه بغير نكاح نه كيږي امام ترمذي وائي په دي باب كي د عائشه، ابن عباس، ابوهريره، عمران بن حصين، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دابوموسي اشعري حديث باندي مصنف په راتلونكي باب كي مفصل كلام كړي دي.

*****************

## ١٥ـ باب

## دولي داجازت نه بغير د نكاح نه كيدومتعلق يوبل باب

١١٠٢ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ، فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا، فَإِنِ اشْتَجَرُوا فَالسُّلْطَانُ وَلِيُّ مَنْ لَا وَلِيَّ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْأَنْصَارِيُّ، وَيَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ مِنَ الْحُفَّاظِ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ نَحْوَ هَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَحَدِيثُ أَبِي مُوسَى حَدِيثٌ فِيهِ اخْتِلَافٌ. رَوَاهُ إِسْرَائِيلُ، وَشَرِيكُ بْنُ عَبْدِ اللهِ، وَأَبُو عَوَانَةَ، وَزُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، وَقَيْسُ بْنُ الرَّبِيعِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى أَسْبَاطُ بْنُ مُحَمَّدٍ، وَزَيْدُ بْنُ حُبَابٍ،

---

[1] سنن ابي داود في النكاح ٢٠ (٢٠٨٥) . سنن ابن ماجه في النكاح ١٥ (١٨٨٠) . (تحفة الأشراف : ٩١١٥) . مسند احمد (٤/ ٤١٣، ٤١٨) . سنن الدارمي في النكاح ١١ (٢٢٢٨)

عَنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاق، عنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى أَبُو عُبَيْدَةَ الحَدَّادُ، عنْ يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ عَنْ أَبِي إِسْحَاق. وَقَدْ رُوِيَ عن يُونُسَ بْنِ أَبِي إِسْحَاق، عنْ أَبِي إِسْحَاق، عنْ أَبِي بُرْدَةَ، عنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا. وَرَوَى شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ"، وَقَدْ ذَكَرَ بَعْضُ أَصْحَابِ سُفْيَانَ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى وَلَا يَصِحُّ، وَرِوَايَةُ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ رَوَوْا عَنْ أَبِي إِسْحَاق، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ"، عِنْدِي أَصَحُّ لِأَنَّ سَمَاعَهُمْ مِنْ أَبِي إِسْحَاق فِي أَوْقَاتٍ مُخْتَلِفَةٍ، وَإِنْ كَانَ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ أَحْفَظَ وَأَثْبَتَ مِنْ جَمِيعِ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ رَوَوْا عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ هَذَا الحَدِيثَ، فَإِنَّ رِوَايَةَ هَؤُلَاءِ عِنْدِي أَشْبَهُ، لِأَنَّ شُعْبَةَ، وَالثَّوْرِيَّ سَمِعَا هَذَا الحَدِيثَ مِنْ أَبِي إِسْحَاق فِي مَجْلِسٍ وَاحِدٍ، وَمِمَّا يَدُلُّ عَلَى ذَلِكَ مَا حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: سَمِعْتُ سُفْيَانَ الثَّوْرِيَّ يَسْأَلُ أَبَا إِسْحَاق: أَسَمِعْتَ أَبَا بُرْدَةَ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ"؟ فَقَالَ: نَعَمْ، فَدَلَّ هَذَا الحَدِيثُ عَلَى أَنَّ سَمَاعَ شُعْبَةَ، وَالثَّوْرِيِّ هَذَا الحَدِيثَ فِي وَقْتٍ وَاحِدٍ وَإِسْرَائِيلُ هُوَ ثِقَةٌ، ثَبْتٌ فِي أَبِي إِسْحَاق، سَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ الْمُثَنَّى، يَقُولُ: سَمِعْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ مَهْدِيٍّ، يَقُولُ: مَا فَاتَنِي مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي إِسْحَاق الَّذِي فَاتَنِي، إِلَّا لَمَّا اتَّكَلْتُ بِهِ عَلَى إِسْرَائِيلَ، لِأَنَّهُ كَانَ يَأْتِي بِهِ أَتَمَّ، وَحَدِيثُ عَائِشَةَ فِي هَذَا البَابِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ" هُوَ حَدِيثٌ عِنْدِي حَسَنٌ، رَوَاهُ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ مُوسَى، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ الحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ، وَجَعْفَرُ بْنُ رَبِيعَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَى عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَهُ. وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَصْحَابِ الحَدِيثِ فِي حَدِيثِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ: ثُمَّ لَقِيتُ الزُّهْرِيَّ فَسَأَلْتُهُ فَأَنْكَرَهُ فَضَعَّفُوا هَذَا الحَدِيثَ مِنْ أَجْلِ هَذَا، وَذُكِرَ عَنْ يَحْيَى بْنِ مَعِينٍ، أَنَّهُ قَالَ: لَمْ يَذْكُرْ هَذَا الحَرْفَ عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ إِلَّا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، قَالَ يَحْيَى بْنُ مَعِينٍ: وَسَمَاعُ إِسْمَاعِيل بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ لَيْسَ بِذَاكَ، إِنَّمَا صَحَّحَ كُتُبَهُ عَلَى

كُتُبِ عَبْدِ الْمَجِيدِ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ، مَا سَمِعَ مِنَ ابْنِ جُرَيْجٍ. وَضَعَّفَ يَحْيَى رِوَايَةَ إِسْمَاعِيلَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، وَالْعَمَلُ فِي هَذَا الْبَابِ عَلَى حَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ" عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَعَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَبَّاسٍ، وَأَبُو هُرَيْرَةَ، وَغَيْرُهُمْ، وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ بَعْضِ فُقَهَاءِ التَّابِعِينَ، أَنَّهُمْ قَالُوا: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ، مِنْهُمْ سَعِيدُ بْنُ الْمُسَيِّبِ، وَالْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ، وَشُرَيْحٌ، وَإِبْرَاهِيمُ النَّخَعِيُّ، وَعُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ، وَغَيْرُهُمْ، وَبِهَذَا يَقُولُ: سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَالْأَوْزَاعِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، وَمَالِكٌ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كومي ښځي چي دخپل ولي داجازت نه بغير نكاح اوكړه نو ددي نكاح باطل ده، ددي نكاح باطل، ددي نكاح باطل ده، او كه چري يوي ښځي پخپله نكاح اوكړه كه دخول يي ورسره وكړو نو ددي دشرمگاه دحلالولو دپاره عوض ددي دپاره مهر دي او كه په اولياؤ كي جګړه پيداشي نو دچاچي هيڅوك ولي نه وي دهغه ولي به حاكم وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، يحىٰ بن سعيد انصاري، يحىٰ بن ايوب، سفيان ثوري، او بعضي نورو محدثينو دا حديث په همدي سند دابن جريج نه نقل كړي دي او دابوموسي اشعري په مخكني حديث كي اختلاف دي اسرائيل دا روايت دشريك بن عبدالله نه نقل كوي او ابوعوانه دزهير بن معاويه او قيس بن ربيع نه په سند د ابي اسحاق عن ابي بردة عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، او اسباط بن محمد او زيد بن حباب په سند د يونس بن اسحاق عن ابي اسحاق عن ابي بردة عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او ابو عبيده په سند د يونس بن ابي اسحاق عن ابي بردة عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او دسابقه روايت هم معني روايت يي بيان كړي دي او هغوئ په دي كي دابو اسحاق واسطه نه ده ذكر كړي، دارنګي داحديث د يونس بن ابي اسحاق نه هم مروي دي هغوئ په سند د ابي اسحاق عن ابي برده عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، شعبي اوسفيان ثوري په سند د ابي اسحاق عن ابي بردة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي چي دولي نه بغير نكاح نه كيږي، دسفيان ثوري بعضي شاګردانو په سند دسفيان عن ابي اسحاق عن ابي بردة عن ابي

---

1 ـ سنن ابي داود في النكاح ٢٠ (٢٠٨٣)، سنن ابن ماجه في النكاح ١٥ (١٨٧٩)، مسند احمد (٦ في ٦٦، ١٦٦)، سنن الدارمي في النكاح ١١ (٢٢٣٠)

موسی سره نقل کړي دي ليکن دا سند درست نه دي د هغه خلقو روايت چاچي په سند دابي اسحاق عن ابي بردة عن ابي موسي عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي چي د ولي نه بغير نکاح نه کيږي دا روايت زما په نزد زيات صحيح دي ځکه چي دابو اسحاق سبيعي نه دهغه خلقو سماع په مختلفو وختونو کي شوي ده اګر چي شعبي او ثوري دابواسحاق نه په ټولو روايت کونکو کي زيات ثقه او مضبوطي حافظي والا دي خو بيا هم دوئ دشعبه او ثوري نه علاوه دنورو راويانو روايت اشبه ګنړلي دي ځکه چي شعبه او ثوري دواړو دا حديث دابو اسحاق نه په يو مجلس کي اوريدلي دي او ددوئ نه علاوه نورو راويانو په مختلفو وختونو کي اوريدلي دي ددوئ دليل دشعبه بيان دي چي ما سفيان ثوري لره دابو اسحاق نه دتپوس کولو په حال کي اوليدو چي ايا تا دابو برده نه دا اوريدلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دولي نه بغير نکاح نه کيږي هغه اووئيل هو ما اوريدلي دي دا خبره ددي دليل دي چي دمکحول نه دشعبه او ثوري ددي حديث داوريدو وخت يو دي، او دابواسحاق سبيعي نه روايت کولو کي اسرائيل ډيرزيات ثقه راوي دي، عبدالرحمن بن مهدي وائي زما نه دثوري په روايتونو کي کوم چي هغه دابواسحاق نه نقل کړي دي يو هم پاتي شوي نه دي مګر چي کوم پاتي شوي دي هغه صرف په دي وجه پاتي شوي دي چي ما په دي سلسله کي په اسرائيل اعتماد کړي دي ځکه چي هغه به دابواسحاق احاديث په اکملي طريقي بيانول، او په دي باب کي دعائشه رضي الله عنها نه هم حديث مروي دي چي دولي نه بغير نکاح نه کيږي دا حديث زما په نزد حسن دي، او دا روايت ابن جريج په سند دسليمان بن موسي عن الزهري عن عروه عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره هم نقل کړي دي او دارنګي دا حديث حجاج بن ارطاة او جعفر بن ربيعه هم په سند د زهري عن عروه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي، او دارنګي زهري په سند دهشام بن عروه عن ابيه عروة عن عائشة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره دسابقه روايت هم معني بيان کړي دي ، بعضي محدثينو دزهري په روايت کي کوم چي هغه په سند دعروه عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي هغوئ په دي روايت باندي کلام کړي دي، دابن جريج قول دي بيا مادزهري سره ملاقات اوکړو او تپوس مي ورنه اوکړو نو هغوئ ددينه انکار اوکړو نو په دي وجه هغوئ ددي حديث تضعيف کړي دي، يحیٰ بن معين وائي دابن جريج نه داخبره داسماعيل بن ابراهيم بن عليه نه علاوه بل هيچا نه ده نقل کړي ديحي بن معين قول دي اسماعيل بن ابراهيم بن عليه سماع دابن جريج نه ثابت نه ده هغوئ دخپلو کتابونو تصحيح دعبد المجيد بن عبدالعزيز بن ابي رواد دهغه کتابونو نه کړي ده کوم چي عبد المجيد دابن جريج نه اوريدلي دي، يحیٰ بن معين داسماعيل بن ابراهيم بن عليه روايت لره کوم چي هغه دابن جريج نه نقل کړي دي ضعيف ګنړلي دي، په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضو په دي باب کي

دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په حديث "لانكاح الابولي" يعني دولي نه بغير نكاح نه كيږي باندي عمل كړي دي په كومو كي چي عمر، علي، عبدالله بن عباس، او ابوهريره رضي الله عنهم وغيره هم شامل دي دارنګي دتابعينو فقهاو نه مروي دي چي دولي داجازت نه بغير نكاح درست نه ده چي په دوئ كي سعيد بن مسيب، حسن بصري ، شريح، ابراهيم نخعي، او عمر بن عبدالعزيز وغيره هم شامل دي، او همدادسفيان ثوري، اوزاعي، عبدالله بن مبارك، شافعي، احمد بن حنبل، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي.

**تشريح : د ولی د رضا نه بغير د نكاح منعقد كيدل**

دحره، عاقله، بالغه، نكاح ددې په رضامندئ بغير د ولی منعقد كيږی، او كه نه منعقد كيږی؟

(۱) د ظاهرالرواية مطابق د شيخينو په نزد منعقد كيږی.

(۲) اود ابويوسف (رحمه الله) نه په غير ظاهرالروايت كي يو روايت دې چي بغير د ولی نه نكاح نه منعقد كيږی.

(۳) اود امام محمد (رحمه الله) په نزد موقوف منعقد كيږی، كه ولی اجازت وركړی نو نافذ به وی، او كه اجازت ورنكړی نو منعقد به نه وی.

(۴) امام مالك او امام شافعی (رحمهما الله) فرمائی چي دښځو په الفاظو سره بالكل نه منعقد كيږی.

د امام مالك او امام شافعی (رحمهما الله) دليل دادې چي د نكاح نه د نكاح مقاصد مقصود وی، دا مقاصد ښځو ته سپارل، په دې كي خلل اچول دی، ځكه چي ښځې ناقصات العقل دی، په دې وجه ښځو ته به د نكاح اختيار نشی وركولې.

امام محمد (رحمه الله) په دليل كي فرمائی چي خبره صحيح ده، خود ولی اجازت وركولو سره داخلل رفع كيږی، ځكه كه ولی مناسب اوګنړی نو اجازت به وركړی، او كه مناسب اونګنړی نو اجازت به نه وركوی، وجه د جواز داده چي دې ښځې خالص په خپل حق كي تصرف كړې دې، ځكه چي د بضع بدل هم ددې دپاره دې، اودا ښځه د تصرف اهل هم ده، ځكه چي مميز عقل لری، هم دا وجه ده چي په مال كي هم د تصرف اختيار دې ښځې ته حاصل وی.

كه څوك اعتراض اوكړی چي هركله ښځه اختيارمنده ده نو بيا د نكاح مطالبه د ولی نه ولې كيږی، د ښځو نه ولې نه كيږی؟

ددې جواب دادې چي په داسې كولوسره به د ښځو طرف ته بې حيائی منسوب كولې شی. ځكه چي ښځې د سړو مجلسونو طرف ته په وتلو كي حيا محسوسوی. كه داسې كوی نوخلق به دوی بې حياګنړی.

په ظاهرالروایة کي په کفو اوغیر کفوکي هیڅ فرق نشته، یعنی که حره،عاقله بالغه ځپله نکاح پخپله اوکړه، په کفوکي یا په غیرکفوکي نو نکاح جائز ده، خود غیرکفو په صورت کي به ولی ته د خپل طرف نه د شرم ضرر دفع کولو دپاره، د اعتراض حق حاصل وي.

اود ابوحنیفه او ابویوسف (رحمهما الله) نه په نوادر کي یو روایت دي چي په غیر کفو کي نکاح دسره جائز نه ده، ځکه چي ډیر واقعات داسې شته چي د نکاح واقع کیدلو نه پس ځوك ددې په دفع کولو باندې دسره قادر هم نه وي. نه خو هر ولی د مرافعه (قاضی ته د مقدمې) پیش کولو صلاحیت لرلې شي، او نه هرقاضی عادل وي نو احتیاط هم په دې کي دې چي په غیرکفوکي بغیر د ولی نه د نکاح دروازې بندې کړې شي. او نقل شوی دی چي امام محمد (رحمه الله) د شیخینو دې قول طرف ته رجوع کړې وه. کوم چي په ظاهرالروایة کي دې، یعنی د امام محمد (رحمه الله) په نزد هم نکاح بغیر د ولی منعقد کیږي، اود ولی په اجازت باندې موقوف هم نه وي.

****************

## ١٦ـ باب مَا جَاءَ لاَ نِكَاحَ إِلاَّ بِبَيِّنَةٍ

### دګواهانو نه بغیر نکاح درسته نه وي

١١٠٣ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْبَغَايَا اللاَّتِي يُنْكِحْنَ أَنْفُسَهُنَّ بِغَيْرِ بَيِّنَةٍ". قَالَ يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ: رَفَعَ عَبْدُ الأَعْلَى هَذَا الْحَدِيثَ فِي التَّفْسِيرِ، وَأَوْقَفَهُ فِي كِتَابِ الطَّلاَقِ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (١)

**ترجمه** دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي زناکاره ده هغه ښځه چي دګواهانو نه بغیر پخپله نکاح کوي. دیوسف بن حماد قول دي چي عبدالاعلي داحدیث په کتاب التفسیر کي مرفوعا نقل کړي دي او په کتاب الطلاق کي یي موقوفاً ذکر کړي دي او هلته یي مرفوع نه دي بیان کړي

****************

١١٠٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ نَحْوَهُ، وَلَمْ يَرْفَعْهُ وَهَذَا أَصَحُّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ لاَ نَعْلَمُ أَحَدًا رَفَعَهُ، إِلاَّ مَا رُوِيَ عَنْ عَبْدِ

---

١ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٥٣٨٤)

الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ مَرْفُوعًا. وَرُوِيَ عَنْ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ هَذَا الْحَدِيثُ مَوْقُوفًا. وَالصَّحِيحُ مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَوْلُهُ: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ. هَكَذَا رَوَى أَصْحَابُ قَتَادَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ جَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِبَيِّنَةٍ، وَهَكَذَا رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ نَحْوَ هَذَا مَوْقُوفًا. وَفِي هَذَا الْبَابِ: عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَأَنَسٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِينَ وَغَيْرِهِمْ. قَالُوا: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِشُهُودٍ، لَمْ يَخْتَلِفُوا فِي ذَلِكَ مَنْ مَضَى مِنْهُمْ. إِلَّا قَوْمًا مِنَ الْمُتَأَخِّرِينَ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَإِنَّمَا اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي هَذَا إِذَا شَهِدَ وَاحِدٌ بَعْدَ وَاحِدٍ. فَقَالَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ: "لَا يَجُوزُ النِّكَاحُ حَتَّى يَشْهَدَ الشَّاهِدَانِ مَعًا عِنْدَ عُقْدَةِ النِّكَاحِ" وَقَدْ رَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ: "إِذَا أُشْهِدَ وَاحِدٌ بَعْدَ وَاحِدٍ، فَإِنَّهُ جَائِزٌ إِذَا أَعْلَنُوا ذَلِكَ" وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَغَيْرِهِ. هَكَذَا قَالَ إِسْحَاق فِيمَا حَكَى عَنْ أَهْلِ الْمَدِينَةِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: "يَجُوزُ شَهَادَةُ رَجُلٍ وَامْرَأَتَيْنِ فِي النِّكَاحِ" وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق.[1]

**ترجمه** : په همدي سند دسعيد بن عروبه نه هم دماقبل هم معنې حديث مروي دي ليکن هغوئ مرفوع نه دي بيان کړي او همدا زيات صحيح دي.

امام ترمذي وائي داحديث غير محفوظ دي او مونږ ته هيڅوك نه دي معلوم چې دا يې مرفوع بيان کړي وي علاوه د عبدالاعلي نه ځکه چې هغه دسعيد بن ابي عروبه نه او سعيد دقتاده نه مرفوعا نقل کړي دي، او دعبدالاعلي نه دسعيد بن ابي عروبه په واسطه موقوفاً هم دا مروي دي، او صحيح هغه روايت دي کوم چې دابن عباس نه مروي دي چې بغير دګواهانو نه نکاح درسته نه ده دا دابن عباس قول دي دا رنګې نورو راويانو دسعيد بن ابي عروبه نه ددې هم معنې روايت موقوفاً نقل کړي دي، او په دې باب کې دعمران بن حصين، انس. ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي دصحابه کرامو او تابعينو او اهل علمو په همدې باندې عمل دې دوئ وائي چې بغير دګواهانو نکاح درسته نه ده، په سلفو کې په دې سلسله کې هيڅ اختلاف نه وو ليکن په متاخرينو اهل علمو کې څه کسانو په دې کې اختلاف پيدا کړو، په اهل علمو کې په دې سلسله کې اختلاف دې چې کله يو ګواه دبل نه پس ګواهي ورکړي يعني دواړه په يو وخت او يو مجلس کې په نکاح کې حاضر نه وي نو اکثر اهل کوفه وائي نکاح به هغه وخت کې درسته وي کله چې دعقد په وخت کې دواړه ګواهان په يوځاي موجود وي، او

---

[1] ــ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٥٣٨٤)

دبعضي اهل مدينه خيال دي چي كله يو دبل نه پس ګواهان قائم شول نو دا هم جائز دي خو چي عاقد ددي اعلان اوكړي او دا دمالك بن انس وغيره قول دي او ددي پشان قول داسحاق بن راهويه هم دي، او دبعضي اهل علمو قول دي چي په باب د نكاح كي ديو سړي او دوه ښځو شهادت جائز دي او دامام احمد او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي.

**تشريح: په ګواهانو كي دفسق اثر**

احناف وايي په نكاح كي شهادت شرط دې.

امام مالك (رحمه الله) فرمائي چي اعلان شرط دې شهادت شرط نه دې.

امام مالك (رحمه الله) په استدلال كي حديث"اعلنوا النكاح ولو بالدف" ذكر كړې دې، يعنى د نكاح اعلان كوئ. اګرچي په دف سره وي.

احنافو په استدلال كي حديث"لانكاح إلا بشهود" پيش كړې دې، يعنى بغير د ګواهانو نه منعقد كيږي، د امام مالك (رحمه الله) د پيش كړې شوي حديث جواب دادې چي دا حديث د اعلان په وجوب دلات كوي، خود اعلان په شرط كيدلو باندې دلالت نه كوي.

علماؤ د ګواهانو يوڅو صفات بيان كړي دي.

اول داچي د دواړو آزاد كيدل ضروري دي، ځكه چي د شهادت اهل به هغه كس وي، چاته چي د ولايت حق حاصل وي، اوچونكه غلام ته په خپل ذات باندې د ولايت حق حاصل نه وي نو په غير باندې به هم ورته د ولايت حق حاصل نه وي، ولايت وائي، "تنفيذ القول على الغير" ته.

دويم دا چي دواړه ګواهان عاقل بالغ وي، ځكه چي ددې دواړو ځيزونو نه بغير د ولايت حق نه حاصليږي، او چي ولايت حق ورته حاصل نه دي نود شهادت اهل به هم نه وي.

دريم داچي د مسلمانانو په نكاح كي دګواهانو مسلمان كيدل ضروري دي، دليل دادې چي د هيڅ مسلمان خلاف د كافرشهادت معتبر نه دې، د قرآن آيت:

وَلَنْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِينَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ سَبِيلًا (النساء:١٤١) په دي وجه د احنافو په نزد د ګواهانو سړي كيدل ضروري نه دي، بلكي يو سړې او دوه ښځې هم ګواهان جوړيدلى شي.

مګر امام شافعى (رحمه الله) اختلاف كړى دې، دې فرمائي چي په نكاح كي د سړو سره د ښځو ګواهي نشي قبليدلې، تفصيل به په كتاب الشهادات كي بيان كړو. د عدالت په شرط لګولو كي اختلاف دې.

د احنافو مذهب دادې چي د شاهدينو عدالت شرط نه دې، امام شافعي (رحمه الله) عدالت د ګواهانو دپاره شرط ګرځوي. د امام شافعي (رحمه الله) دليل دادې چي شهادت د باب كرامت نه دې. د نبى كريمﷺ د قول"أكرموا الشهود"په وجه. يعنى د ګواهانو اكرام كوئ، ددې

حديث نه معلومه شوه چي گواهان داکرام قابل دی. او فاسقان د اهانت لائق دی نو فاسق گواه نه جوړولو سره ددوی اهانت کول پکار دی نو په گواه جوړولوسره به ددوی اکرام نشی کولې.

د احنافو دلیل دادې چي فاسق د اهل ولایت نه دې نود اهل شهادت نه به هم وی. او فاسق په اهل ولایت کي کیدل ځکه دی چي شریعت دې د مسلمان کیدلو په وجه په خپل ځان باندې د ولایت نه نه دې محروم کړې نو په غیر باندې به هم د ولایت نه نشی محروم کیدلې. ځکه چي دا غیر هم د مسلمان کیدلو په وجه دده هم جنس دې.

د دویم دلیل حاصل دادې چي فاسق حاکم جوړیدلې شی. اود حاکم دپاره جائز دی چي دې څوك قاضی جوړ کړی. او فاسق حاکم چي هرکله بل څوك قاضی جوړولې شی نو په خپله هم قاضی جوړیدلې شی. او هرکله چي قاضی جوړیدلې شی نو شاهد هم جوړیدلې شی. ځکه چي شهادت او قضاء دواړه د یو باب نه دی. ځکه چي په دواړو کي د "تنفیذ الحکم علی الغیر" معنی موجود ده.

کوم کس ته چي حدقذف لګولې شوې وی. هغه هم چونکه د اهل ولایت نه دې نود اهل شهادت والو نه به هم وی. خودا کس د تحمل شهادت (یعنی د شهادت اوچتولو) اهل دې. د شهادت اداکولو اهل نه دې. یعنی د محدود فی القذف. په موجودګی کي نکاح منعقد کیږی. ځکه چي په نکاح کي تحمل شهادت کافی دې. خو که کله د قضاء په مجلس کي د ګواهی ورکولوضرورت راپیښ شی نو دده ګواهی به نه قبلیږی. د آیت "ولا تقبلوا لهم شهادة ابدا" په وجه. یعنی ددوی ګواهی کله هم مه قبلوئ.

دا بالکل داسې ده. لکه چي د دوه ړندو یا د عاقدینو د دوه ځامنو په موجودګی کي نکاح منعقد کیږی. ځکه چي دوی د تحمل شهادت اهل دی. خو د ړندو ګواهی. اود عاقدینو د ځامنو ګواهی دپلار په حق کي نه قبلیږی. خوکه خلاف ګواهی ورکړی نو د خوی ګواهی به هم د پلار په خلاف قبلیږی.

*****************

## ۱۷_ بَابُ مَا جَاءَ فِي خُطْبَةِ النِّكَاحِ

### د نکاح د خطبي بیان

۱۱۰۵_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْثَرُ بْنُ الْقَاسِمِ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: عَلَّمَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ التَّشَهُّدَ فِي الصَّلَاةِ وَالتَّشَهُّدَ فِي الْحَاجَةِ، قَالَ: "التَّشَهُّدُ فِي الصَّلَاةِ: التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ

وَبَرَكَاتُهُ، السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ". وَالتَّشَهُّدُ فِي الحَاجَةِ: "إِنَّ الحَمْدَ لِلَّهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، فَمَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، وَيَقْرَأُ ثَلَاثَ آيَاتٍ". قَالَ عَبْثَرٌ: فَفَسَّرَهُ لَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: اتَّقُوا اللَّهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ، وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالأَرْحَامَ، إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا، اتَّقُوا اللَّهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا. قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ، رَوَاهُ الأَعْمَشُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَرَوَاهُ شُعْبَةُ، عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَكِلَا الحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ لِأَنَّ إِسْرَائِيلَ جَمَعَهُمَا، فَقَالَ: عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ، عَنْ أَبِي الأَحْوَصِ، وَأَبِي عُبَيْدَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَقَدْ قَالَ أَهْلُ العِلْمِ: إِنَّ النِّكَاحَ جَائِزٌ بِغَيْرِ خُطْبَةٍ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَغَيْرِهِ مِنْ أَهْلِ العِلْمِ. (1)

**ترجمه** دعبدالله بن مسعود ﷛ نه روايت دى فرمائي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم مونږ ته دمونځ دتشهد او دخطبي حاجت(نكاح) تعليم راكړو او وي فرمائيل د مونځ تشهد دادى:

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ. السَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ. السَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللَّهِ الصَّالِحِينَ. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ".

يعني تمام قولي عباتونه او بدني عبادتونه او مالي عبادتونه خاص د الله تعالي دپاره دي (يعني صرف الله تعالي ددي مستحق دى) او سلام (سلامتيا) دي وي په تاباندي اي د الله نبي اوبركتونه او رحمتونه د الله تعالي دي وي په تاباندي، اوسلام(سلامتيا) دي وي په مونږ باندي اود الله تعالي په نيكانو بندګانو باندي ، زه ګواهي وركوم ددي خبري چي د الله تعالي نه علاوه بل هيڅوك حقدار د بندګۍ نشته او ګواهي وركوم ددي خبري چي محمد (صلي الله عليه وسلم د الله تعالي بنده او دهغه رسول دى

او بيايي وفرمائيل دحاجت (نكاح) خطبه داه

---

1 سنن ابي داود في النكاح ٣٣ (٢١١٨) . سنن النسائي في الجمعة ٢٤ (١٤٠٥) . والنكاح ٣٩ (٣٢٧٩) . سنن ابن ماجه في النكاح ١٩ (١٨٩٢) . (تحفة الأشراف : ٩٥٠٦) مسند احمد (١/ ٣٩٢) . سنن الدارمي في النكاح ٢٠ (٢٢٤٨)

"إِنَّ الْحَمْدَ لِلّٰهِ نَسْتَعِينُهُ وَنَسْتَغْفِرُهُ. وَنَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا وَسَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا. فَمَنْ يَهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ. وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ. وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

يعني ، ټول تعريفونه خاص دالله تعالي دپاره دي ، مونږ دهغه نه مدد غواړو اودهغه نه بخښنه غواړو اوپه هغه پوري پناه غواړو دخپلو نفسونو دبدوالي نه ، چاته چي الله تعالى سمه لار وښائي نوبيا هغه دپاره څوك بې لاري كونكي اوڅوك چي هغه بې لاري كړي نوبيا دغه كس ته څوك لاربښودونكى ، زه ګواهي وركوم چي دالله نه علاوه بل څوك حقدار دبندګۍ نشته اومحمد ﷺ دهغه بنده اورسول دى .

او دي سره به دري ايتونه هم لولي، عبثر راوي وايي چي بيا مونږ ته سفيان ثوري هغه دري ايتونه بيان كړل چي دادي:

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ( اتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِي تَسَاءَلُونَ بِهِ وَالْأَرْحَامَ إِنَّ اللّٰهَ كَانَ عَلَيْكُمْ رَقِيبًا) (ال عمران:۱۰۲) (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقَاتِهِ وَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنْتُمْ مُسْلِمُونَ) (النساء:۱) ( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ وَقُولُوا قَوْلًا سَدِيدًا يُصْلِحْ لَكُمْ أَعْمَالَكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَمَنْ يُطِعِ اللّٰهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ فَازَ فَوْزًا عَظِيمًا (الاحزاب:۷۰)

.يعني اي ايمان والاو دالله تعالي نه ويره وكړئ دچادنوم په وسيله باندي چي تاسو غوښتل كوئ اودريشتو دماتولونه خان وساتئ يقينا الله تعالي ستاسو نګهبان دى ، اي ايماندارو خلقو دالله تعالي نه ويريږه څرنګه چي دهغه نه ديريدلو حق دى اوهيڅ كله دي تاسوته مرګ رانشي پداسي حال كي چي تاسومسلمانان نه يى اي ايمان والا خلقو دالله نه يره وكړئ په باره دانصاف كولوكي هغه به ستاسو كارونه سم كړي اوستاسو ګناهونه به اوبخښي چاچي دالله اودهغه درسول تابعداري وكړه نوهغه لويه كاميابي حاصله كړه .

امام ترمذي وايي دعبدالله بن مسعودحديث حسن دي او داحديث اعمش په سند د ابي اسحاق عن ابي الاحوص عن عبدالله عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي دارنګي داروايت شعبه هم په سند د ابي اسحاق عن ابي عبيدة عن عبدالله عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او دا دواړه سندونه صحيح دي څكه چي اسرائيل دواړه جمع كړي دي يعني عن ابي اسحاق عن ابي الاحوص وابي عبيدة عن عبدالله بن مسعود عن النبي صلي الله عليه وسلم. په دي باب كي دعدي بن حاتم رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي داهل علمو قول دي چي نكاح بغير دخطبي لوستلو هم جائزده په اهل علموكي دسفيان ثوري وغيره هم دا قول دي.

**تشريح** : د اهل علمو او فقهاؤ پدي باندي اتفاق دي چي خطبه د نكاح دپاره شرط نه ده، دخطبي نه بغير هم نكاح درسته ده، بلكي خطبه د استحباب په درجه كي ده چي د اجرد زيادت او خير او بركت موجب ده.

*****************

۱۱۰۶_ حَدَّثَنَا أَبُو هِشَامٍ الرِّفَاعِيُّ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ خُطْبَةٍ لَيْسَ فِيهَا تَشَهُّدٌ فَهِيَ كَالْيَدِ الْجَذْمَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. ([1])

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په هره خطبه كي چي تشهد نه وي دا داسي ده لكه شل لاس.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح غريب دي.

*****************

## ۱۸_ بَاب مَا جَاءَ فِي اسْتِئْمَارِ الْبِكْرِ وَالثَّيِّبِ

### دپيغلي او كوندي ښځي داجازت اخستلو بيان

۱۱۰۷_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يُوسُفَ، حَدَّثَنَا الْأَوْزَاعِيُّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُنْكَحُ الثَّيِّبُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ، وَإِذْنُهَا الصُّمُوتُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ، وَالْعُرْسِ بْنِ عَمِيرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّ الثَّيِّبَ لَا تُزَوَّجُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَإِنْ زَوَّجَهَا الْأَبُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَسْتَأْمِرَهَا فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَالنِّكَاحُ مَفْسُوخٌ عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ. وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي تَزْوِيجِ الْأَبْكَارِ إِذَا زَوَّجَهُنَّ الْآبَاءُ، فَرَأَى أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْأَبَ إِذَا زَوَّجَ الْبِكْرَ وَهِيَ بَالِغَةٌ بِغَيْرِ أَمْرِهَا فَلَمْ تَرْضَ بِتَزْوِيجِ الْأَبِ فَالنِّكَاحُ مَفْسُوخٌ. وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْمَدِينَةِ:

---

[1] _ سنن ابي داود في الأدب۲۲ (۴۸۴۱)، (تحفة الأشراف: ۱۴۹۰)، مسند احمد (۲ في ۳۴۳)

تَزْوِيجُ الْأَبِ عَلَى الْبِكْرِ جَائِزٌ وَإِنْ كَرِهَتْ. ذَلِكَ وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (١)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ثيبه به په نكاح هغه وخته پوري نشي وركولي ترڅو پوري چي ددي رضامندي معلومه كړي شوي نه وي او حاصله كړي شوي نه وي او پيغله جينۍ دي هغه وخته پوري په نكاح ورنكړي شي ترڅوپوري چي ددينه اجازت اخستلي شوي نه وي او ددي خاموش پاتي كيدل اجازت وركول دي

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمر ، ابن عباس، عائشه، او عرس بن عميره رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي چي دثيبه نكاح دهغي درضامندۍ دحاصلولو نه بغير درسته نه ده او كه پلار دهغي نكاح دهغي درضامندۍ نه بغير اوكړه او هغه ورباندي راضي نه وه نو دتمامو اهل علمو په نزد به دانكاح ماتولي شي، او كه دپيغلو جينكو پلار دهغوۍ نكاح دهغوۍ داجازت نه بغير اوكړي نو داهل علمو په دي كي اختلاف دي داهل كوفه رائي داده كه پلار يوه پيغله لور دهغي داجازت نه بغير په نكاح وركړي او هغه بالغه وي او بيا هغه دپلار په مرضۍ راضي نه وي نو نكاح به يي ماتولي شي، او بعضي اهل مدينه وائي دپيغلي جينۍ نكاح كه پلار كړي وي نو درسته ده اګر كه دا دهغي خوښه نه وي، دا دمالك بن انس ، شافعي، احمد او اسحاق بن راهويه قول دي.

**تشريح** : **په نكاح كي دجينۍ درضامندۍ شرط كيدل**

(١) د احنافو په نزد به باكره بالغه په نكاح باندي نشي مجبورولي، كه بغير ددې د رضامندۍ نه نكاح اوكړې شوه نو ددې په اجازت باندې به موقوف وی، كه رد ئې كړه نو باطل به وی، او كه د ولی اجازت اخستلو په وخت كي خاموش پاتې شوه نودا به ددې د طرفه اجازت شمارلې شی.

(٢) د امام شافعی (رحمه الله) په نزد باكره بالغه په نكاح باندې مجبورول جائز دی، د امام شافعی (رحمه الله) دليل دادې چي دې باكره بالغه په صغيره باندې قياس كوی، ځكه چي صغيره كه باكره وی نو لكه څنګه چي دا په نكاح باندې مجبورول جائزدی. دغه شان بالغه باكره مجبورول هم جائز دی، د دواړو په مينځ كي جامع او مشترك علت،د تجربه نه

---

١ ـ صحيح مسلم في النكاح ٩ (١٤١٩) . سنن ابن ماجه في النكاح ١١ (١٨٧١) (تحفة الأشراف : ١٥٣٨٤) سنن الدارمي في النكاح ١٣ (٢٢٣٢)

کيدلو په وجه د نکاح د معاملاتو نه ناخبرى ده، ځکه چي ښځي ترکومه پورې د سړو سره اختلاط (ګډون) نه وى کړې نودا د نکاح د مصلحتونو،اود نکاح خرابيانو نه نشي خبريدلې، او باکره بالغه د نکاح معاملاتو نه ناخبره وى، په دې وجه ددې پلار بغير ددې د حکم نه په مهر باندې قبضه کولې شى،

د احنافو دليل دادې چي باکره بالغه آزاده ده، او په آزاد باندې هيڅ چاته ولايت د اجبار حاصل نه وى نو په باکره بالغه باندې به هم هيڅ چاته د اجبار ولايت نه وى، خو که څوك سوال اوکړى چي صغيره هم آزاده ده نو په دې باندې هم د اجبار ولايت نه دې پکار؟ نوددې جواب دادې چي په صغيره باندې د اجبار ولايت ددې د عقل د قصور په وجه دې، او په بالغ کيدلوسره عقل مکمل شو نو په بالغه باندې د اجبار ولايت نه وى، او په صغيره باندې به وى، او ددې دليل چي په بلوغ باندې عقل کامل کيږى. د الله تعالى خطاب د بالغه طرف ته متوجه کيدل دى چي ترکومه پورې نابالغه وى نود شريعت د احکامو مکلفه نه وى، او هرکله چي بالغه شى نو مکلف شى، او بالغه جينۍ داسې ده. لکه بالغ هلك، يعنى لکه څنګه چي په بالغ هلك باندې د اجبار ولايت نه وى. دغه شان په بالغه جينۍ باندې هم د اجبار ولايت نه وى. اودا داسې ده، لکه .تصرف فى المال، يعنى لکه څنګه چي باکره بالغه په خپل مال کي تصرف کولې شى، ددې پلار ته ددې په مال کي د تصرف اجازت نشته، دغه شان باکره بالغه به په خپل نفس کي هم د تصرف اختيارمنده وى، د پلار يا دبل ولى اجازت شرط نه دې،

د امام شافعى (رحمه الله) دا قول چي پلار بغير ددې د حکم نه په مهر باندې قبضه کولې شى مونږ په جواب کي دا وايو چي هرکله پلار په مهر باندې قبضه اوکړه نود جينۍ د سکوت په وجه دلالة رضامندى موجود شوه، که جينۍ په صراحت سره منع اوکړه نو پلار به په مهر باندې د قبضه کولو مالك نه وى.

## د باکرې بالغې د طرفه د رضامندۍ د اظهار صورتونه

که چرې دنکاح نه مخکي ولى د باکره بالغه نه اجازت اوغوښتلو ، هغې چي واورېدل نو خاموش شوه. يا ئې اوخندل نودا خاموش پاتې کيدل،يا خندل به ددې د طرفه اجازت وى، دغه شان ضحك( تبسم او مسکۍ کيدل) هم د رضامندۍ دليل دې.

ددې دليل دا ارشاد نبوى دې چي د باکره نه به ددې د ذات په باره کي رائې اخستلې شى، که دا خاموش شوه نودا به رضامندى وى، دليل عقلى دادې چي په چپ پاتې کيدلوکي او په خندلوکي د رضامندۍ معنى غالب ده، ځکه چي باکره د رغبت په ښکاره کولو شرميږى، خو په انکارکولو نه شرميږى، نوکه دا ناراضه وې نو صفا صفا به ئې انکار کړې وې، خودا انکار نه کول،ددې د رضامندۍ دليل دې.

د بعض حضراتو رائې داده، که باکره د استهزاء په انداز کي اوخندل نودا خندا به د باکره رضامندی نښی شمارلې، ځکه چي دا به د ولی د خبرې تمسخر (خندا) وی، اجازت به نه وی. اوکه چري باکره بغير د آوازه اوژړل نودا به ددې دطرفه انکار نښی شمارلې، ځکه چي ډيرکرتند د مورپلار نه دجدايئ په خبر باندې بغير د اختياره اوښکې روانيږی، په دې فتوی ده، بلکي کتلې شی چي کله کله د خوشئ په خبر باندې هم اوښکې راوځی نودا بغيرآوازه ژړا به انکار او رد نه ګڼړلې کيږی.

## خاموشي درضامندئ نه کيدو يو صورت

که چري د باکره بالغه نه غير ولی اجازت اوغوښتلو، ياد ولی اقرب په موجودګئ کي ولی ابعد د نکاح اجازت اوغوښتلو نو په دې دواړو صورتونوکي به «سکوت» يا «ضحك» د رضامندئ دليل نه وی، بلکي د اجازت ورکولو دپاره به په ژبه باندې خبرې کول ضروری وی، ځکه چي د اجنبی يا د ولی ابعد د خبرې په جواب کي خاموشي د توجه نه کولو په وجه ده، دې ته د رضامندئ دليل نشی وئيلې، که د لږ وخت دپاره اومنلې شی چي دا خاموشی هم د رضامندئ دليل دې نو احتمال په دې کي د عدم رضا هم شته. او په دې قسم رضامندئ باندې اکتفاء کول د حاجت په وجه دی، اود غير اولياء په حق کي هيڅ حاجت نشته، ځکه چي باکره بالغه د غيراولياء په مخکي په کلام کولو نه شرميږی، البته که اجازت غوښتونکې د ولی قاصد وی نودې به د ولی قائم مقام ګڼړلې شی، اود ولی په حکم کي به وی.

## دکونډيې داجازت بيان

ولی د باکره بالغه نکاح اوکړه، بيا دې باکره بالغه ته خبر اورسيدلو چي واويريدل نو خاموشه شوه نو

مخبر که ولی وی، يا د ولی قاصد وی نو ددې سکوت اوضحك (خاموشی اوخندل) به اجازت وی، او بکاء (ژړل) به اجازت نه وی، اوکه چري مخبر غير ولی، يا ولی ابعد وی نو په ژبه باندې اجازت ورکول ضروری دی، ګنی اجازت به نه وی، دليل دادې چي په سکوت کي د رضامندي دلالت مختلف نه وی، که د نکاح نه مخکي وی، او که روسته وی، بيا که مخبر فضولی وی چي نه ولی دې، او نه قاصد دې نود امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد په دې کي د تعداد يا عدالت موجود کيدل ضروری دی، يعنی مخبر چي کم ازکم دوه وی، او که يو وی نو چي عادل وی، د صاحبينو په نزد په دې دواړوکي هيڅ شرط نشته، مخبر که يو وی، او که زيات وی، که عادل وی، اوکه چري غير عادل وی، او که مخبر د ولی قاصد وی نو په اتفاق سره هيڅ شرط نه دی،

كه چري د .ثيبه. بالغه نه د نكاح په باره كي اجازت اوغوښتلي شو نو ددې دطرفه به د رضامندئ اظهار په ژبه ضروري وي، دليل د نبي كريم ﷺ ارشاد "الثيب تشاور" دې، تشاور ،مشاورت د مفاعلت نه دې، اود مفاعلت خاصه ده، اشتراك.او مشوره وائي. طلب د رائې بالقول ته، يعني په ژبه باندې د رائې طلب كول نو هركله چي په.احد الجانبين.كي قول شته نو په جانب آخر كي به هم قول وي نود حديث تقاضا تكلم دې. اوهم دا اصل دې، دويم دليل عقلي دادې چي كلام كول.د ثيبه په حق كي عيب نه شمارلې كيږي. اود سړوسره د اختلاط په وجه ددې حياء هم كمه شوه نو ددې په حق كي د كلام كولو نه هيڅ مانع نشته.

*****************

١١٠٨_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْفَضْلِ، عَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا، وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِي نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَقَدِ احْتَجَّ بَعْضُ النَّاسِ فِي إِجَازَةِ النِّكَاحِ بِغَيْرِ وَلِيٍّ بِهَذَا الْحَدِيثِ، وَلَيْسَ فِي هَذَا الْحَدِيثِ مَا احْتَجُّوا بِهِ، لِأَنَّهُ قَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ" وَهَكَذَا أَفْتَى بِهِ ابْنُ عَبَّاسٍ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: لَا نِكَاحَ إِلَّا بِوَلِيٍّ، وَإِنَّمَا مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا" عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ: "أَنَّ الْوَلِيَّ لَا يُزَوِّجُهَا إِلَّا بِرِضَاهَا وَأَمْرِهَا. فَإِنْ زَوَّجَهَا فَالنِّكَاحُ مَفْسُوخٌ عَلَى حَدِيثِ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِدَامٍ، حَيْثُ زَوَّجَهَا أَبُوهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ، فَرَدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نِكَاحَهُ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي ثيبه ښځه پخپل ځان باندي دخپل ځان باره كي دخپل ولي نه زياته مستحقه ده او دپيغلي نه به هم اجازت غوښتلي شي او دهغې اجازت خاموشي اختيارول دي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، شعبه او سفيان ثوري دا روايت دمالك بن انس نه نقل كړي دي، او بعضي اهل علمو دولي نه بغير دنكاح په جواز ددي حديث نه استدلال

[1] _ صحيح مسلم في النكاح ٩ (١٤٢١)، سنن ابي داود في النكاح ٢٦ (٢٠٩٨، ٢١٠٠)، سنن النسائي في النكاح ٣١ (٣٢٦٢، ٣٢٦٥، و٣٢٦٦)، سنن ابن ماجه في النكاح ١١ (١٨٧٠)، موطا امام مالك في النكاح ٢ (٤)، (تحفة الأشراف: ٦٥١٧)، مسند احمد (١/ ٢١٩، ٢٤٢، ٢٤٣، ٢٥٤، ٢٥٥، ٢٦٢، ٣٦٢)، سنن الدارمي في النكاح ١٣ (٢٢٣٤)

کړي دي او حال دادي په دي حديث کي داسي کوم څيز نشته چي ددي خبري دپاره دليل جوړ شي ځکه چي دابن عباس نه په نورو ډيرو سندونو مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دولي نه بغير نکاح درسته نه ده ، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه پس ابن عباس هم په دي باندي فتوي ورکړي ده چي دولي نه بغير نکاح درسته نه ده او د "الايم احق بنفسها من وليها" مطلب داکثر اهل علمو په نزد دادي چي ولي دثيبه نکاح دهغي درضامندئ او مشوري نه بغير نشي کولي او که داسي يي اوکړل نو دخنشاء بنت خدام دحديث په بناء به دهغي نکاح ماتولي شي ځکه چي دهغي پلار هغه په نکاح ورکړي وه او دهغي دخاوند بله ښځه وه نو دخنساء دا نکاح خوښه نه وه نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم دهغي نکاح ماته کړه.

**تشريح:** د ولی اقرب په موجودګۍ کښې،ولی ابعد محروم وی، په هغې دا مسئله متفرع ده، که چرې ،ولی اقرب، مثلاً د غيبت منقطعه په طور باندې غائب شو نو ولی ابعد مثلاً د نيکه به د تزويج ولايت ثابت وی. او که نه؟ يعنی د ولی اقرب په غير موجودګۍ کې به ولی ابعد ته د نکاح اجازت وی، او که نه؟ زمونږ په نزد خو جائز دی، او امام زفر دې ته ناجائز وائی.
ددې دليل دادې چې د ولايت مدار په شفقت باندې دې، اود کوم کس د رائې نه چې نفع اخستل ممکن نه وی نو ده ته دنکاح امورو په سپارلوکې هيڅ شفقت نشته، ځکه مونږ نکاح ولی ابعد ته اوسپارله، او ولی ابعد زمونږ په نزد په امام او حاکم باندې مقدم دې، لکه کله چې ولی اقرب مړشی.
امام شافعی (رحمه الله) فرمائی چې ولی اقرب که مړشی نو ولايت به ولی ابعد طرف ته نه منتقل کيږی، بلکې امام وقت طرف ته به منتقل کيږی، دغه شان که ولی اقرب غائب شی، بيا به هم ددوی په نزد امام وقت ته ولايت حاصل وی، ولی ابعد ته به حاصل نه وی، خو زمونږ په نزد ولی ابعد په امام وقت باندې مقدم دې،

****************

## ١٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي إِكْرَاهِ الْيَتِيمَةِ عَلَى التَّزْوِيجِ

### ديتيمي جينۍ په زبردستۍ سره په نکاح مجبورولو بيان

١١٠٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْيَتِيمَةُ تُسْتَأْمَرُ فِي نَفْسِهَا. فَإِنْ صَمَتَتْ فَهُوَ إِذْنُهَا، وَإِنْ أَبَتْ فَلَا جَوَازَ عَلَيْهَا ". يَعْنِي: إِذَا أَدْرَكَتْ فَرَدَّتْ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي مُوسَى، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي تَزْوِيجِ

الْيَتِيمَةِ. فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّ الْيَتِيمَةَ إِذَا زُوِّجَتْ فَالنِّكَاحُ مَوْقُوفٌ حَتَّى تَبْلُغَ. فَإِذَا بَلَغَتْ فَلَهَا الْخِيَارُ فِي إِجَازَةِ النِّكَاحِ أَوْ فَسْخِهِ، وَهُوَ قَوْلُ: بَعْضِ التَّابِعِينَ وَغَيْرِهِمْ. وقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا يَجُوزُ نِكَاحُ الْيَتِيمَةِ حَتَّى تَبْلُغَ، وَلَا يَجُوزُ الْخِيَارُ فِي النِّكَاحِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَغَيْرِهِمَا مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق: إِذَا بَلَغَتِ الْيَتِيمَةُ تِسْعَ سِنِينَ فَزُوِّجَتْ فَرَضِيَتْ فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ، وَلَا خِيَارَ لَهَا إِذَا أَدْرَكَتْ، وَاحْتَجَّا بِحَدِيثِ عَائِشَةَ "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ"، وَقَدْ قَالَتْ عَائِشَةُ: إِذَا بَلَغَتِ الْجَارِيَةُ تِسْعَ سِنِينَ فَهِيَ امْرَأَةٌ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديتيمي جينۍ نه دي دهغي رضا حاصله کړي که هغه خاموش پاتي شوه نو هم دا دهغي رضامندي ده او که انکاراوکړي نو په هغي باندي دزبردستۍ کولو هيڅ جواز نشته .

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابو موسي، ابن عمر، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، ديتيمي جينۍ دنکاح په سلسله کي داهل علمو اختلاف دي بعضي فقهاء وائي يتيمه جينۍ چي کله په نکاح ورکولي شي نو نکاح به بي هغه وخته پوري موقوف وي چي څو پوري بالغه شوي نه وي او کله چي بالغه شي هغي ته به ددي نکاح دبرحال پريخودلو او ددي دماتولو دواړه اختيارونه حاصل وي او همدا دبعضي تابعينو او فقهاؤ قول دي، بعضي علماء وائي يتيمه جينۍ چي څو پوري بالغه شوي نه وي په نکاح يي ورکول درست نه دي او په نکاح کي اختيارورکول جائز نه دي په اهل علمو کي دسفيان ثوري اوشافعي وغيره هم دا قول دي، مګر امام احمد اواسحاق وائي کله چي يتيمه جينۍ دنهو کالو شي او دا په نکاح ورکړي شي او هغه په دي باندي راضي وي نو نکاح يي درسته ده او دبالغ کيدو نه پس به دي سره اختيار نه وي شافعي او امام احمد دواړو دعائشه رضي الله عنها ددي حديث نه استدلال کړي دي او هغه داسي نبي کريم صلي الله عليه وسلم چي کله دهغي سره خلوت اوکړو نو هغه دنهو کالو وه، او دعائشه رضي الله عنها قول دي جينۍ چي کله نهه کالو ته ورسيږي نو دا به ښځه شميرلي کيږي

**تشريح** : يتيم هغه چاته وئيلي شي چي پلار يي مړ وي او ديتيم اطلاق په صغيره اوکبيره دواړو باندي کيږي، درسول الله په نومونو کي يو نوم يتيم هم دي، ددي حديث مطلب دادي کله چي ديوي جينۍ پلار مړ شوي وي او کوم رشته دار ددي پرورش اوکړي هغه ته به دا اختيار

---

[1] ـ (تحفة الأشراف : ١٥٠٣٥) وأخرجه سنن ابي داود في النكاح ٢٣ (٢٠٩٣)، سنن النسائي في النكاح ٣٦ (٣٢٧٠)، مسند احمد (٢ في ٢٥٩، ٤٧٥)

حاصل نه وي چي چرته يي خوښه وي هلته دي دا په نكاح وركړي، چرته چي څوك ديتيم پرورش كوي په عام طور سره ذهنيت دا وي چي ما ددي پرورش كړي دي نو زما چي څه خوښه وي هغه به كوم نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي كار نه منع اوفرمائيله ځكه چي په دي كي ديتيمي جينۍ حق تلفي كيږي او ددي دخواهش احترام كول او ددي رضامندي لټول ضروري دي نو كه سرپرست چاله دا په نكاح وركول غواړي او جينۍ انكار اوكړي نو سرپرست ته به ددي په زبردستۍ سره په نكاح وركولو حق حاصل نه وي.

## د يتيم دكفالت د فضيلت بيان

د يتيم د كفالت اوخير خواهۍ فضائل په نصوص متواتره كي په كثرت سره وارد دي امام بخاري هم په دي سلسله كي د سهل بن سعد نه روايت نقل كوي فرمائي : عن سهل بن سعد ﷺ، قَالَ : قَالَ رَسُول الله ﷺ : ((أَنَا وَ كَافِلُ اليَتِيمِ فِي الجَنَّةِ هٰكَذا)) وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالوُسْطَى، وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا. رواه البخاري. قَالَ النووي : و((كَافِلُ اليَتِيم)) : القَائِمُ بِأُمُورِه.

دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څه اوديتيم كفالت كونكی به په جنت كي دارنګی برابر يو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم مسواكی او مينځمۍ ګوتی سره اشاره اوكړه او په مينځ د دواړؤ كي يی لږ فراخوالی اوساته. (بخاري).

"كافل اليتيم" ديتيم د كارونو نګران او انتظام كونكی.

**لغات**: كافل: پرورش او كفالت كونكي. كفل كفلا دنصر نه كفالة دنان نفقي ذمه وار كيدل.
فرج: جدا كيدل. فرج فرجا دضرب نه پرانشتل.

تشريح : "انا وكافل اليتيم" يعني زه او ديتيم پرورش كونكے، په يو بل روايت كي راغلي دي "كافل اليتيم له اوليغيره" يعني چه دا يتيم دده رشته دار وي او كه غير رشته دار وي په دواړه حالتونو كي به دا فضيلت ده ته حاصل وي.

"اشاره بالسبابة والوسطي" يعني رسول الله د شهادت او مينځنۍ ګوته اشاره اوكړه په دي كي دي خبري ته اشاره ده چه په جنت كي به زما او ديتيم دپرورش كونكي په مينځ كي دومره نزدي علاقه وي څومره چه ددي دوه ګوتو په مينځ كي ده .

دبعضي محدثينو قول دے رسول الله چه ددوه ګوتو په مينځ كي فاصله اوكړه په دي كي يي ديته اشاره كوله چه دنبوت كومه درجه ده هغه سقاوت كولو ته نزدي ده او سخاوت كونكي خلق دالله تعالي ډير خوښ وي.

په پورتني حديث کي تمامو مسلمانانو ته ترغيب ورکولے شي چه پردے يتيم به هم دخپل يتيم پشان فالي ددي په سبب به په معاشره کي هيڅ يو يتيم داسي پاتي نشي چه دهغه څوك پالونکے نه وي په همدي وجه رسول الله صلي الله عليه وسلم بهترين کور هغه ګرځولے دے په کوم کي چه يتيم وي او ښه سلوك هم ورسره کيږي ددي په مقابل کي بدترين کور هغه دے چه يتيم پکي موجود وي خو بد سلوك ورسره کيږي همدارنګي په يو بل روايت کي راغلي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چه کوم يتيم لره پخپل کور کي اوساتي او خوراك څښاك ورته ورکړي نو الله تعالي به ده لره ضرور جنت ته داخل دي خو په دي شرط چه کومه داسي ګناه يي نه وي کړي کومه چه دمعاف کيدو لائق نه وي.

***************

## ٢٠ ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْوَلِيَّيْنِ يُزَوِّجَانِ

**بيان دهغي جيني دچا چي دوه وليان وي او هغوئ يي په جدا جدا ځاي کي په نکاح ورکوي**

١١١٠ ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا غُنْدَرٌ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَيُّمَا امْرَأَةٍ زَوَّجَهَا وَلِيَّانِ فَهِيَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا، وَمَنْ بَاعَ بَيْعًا مِنْ رَجُلَيْنِ فَهُوَ لِلْأَوَّلِ مِنْهُمَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمْ فِي ذَلِكَ اخْتِلَافًا، إِذَا زَوَّجَ أَحَدُ الْوَلِيَّيْنِ قَبْلَ الْآخَرِ فَنِكَاحُ الْأَوَّلِ جَائِزٌ وَنِكَاحُ الْآخَرِ مَفْسُوخٌ، وَإِذَا زَوَّجَا جَمِيعًا فَنِكَاحُهُمَا جَمِيعًا مَفْسُوخٌ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. ([1])

**ترجمه** : دسمره بن جندب رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کومه ښځه چي دوه وليان جدا جدا ځايونو کي په نکاح ورکړي نو چي اول چاته ورکړي شوي وي حق به دهغه جوړيږي او کله چي يو کس يو څيز په دوه کسانو خرڅ کړي په دي صورت کي به هم دا څيز داولني اخستونکي رسيږي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دي په دي سلسله کي مونږ ته په علماؤ کي اختلاف معلوم نه دي په دوه وليانو کي چي کله يو دبل نه مخکي کومه جيني په نکاح ورکړي وي نو داولني نکاح به جائز وي او ددويم نکاح به باطل وي او که دواړو

---

[1] ـ سنن ابي داود في النكاح ٢٢ (٢٠٨٨) . سنن النسائي في البيوع ٩٤ (٤٦٨٦) . سنن ابن ماجه في التجارات ٢١ (٢١٩٠) . (تحفة الأشراف : ٤٥٨٢) . مسند احمد (٥ في ٨، ١١) . سنن الدارمي في النكاح ١٥ (٢٢٣٩)

په يوځاي او په يو مجلس کي جداجداکسانوته ورکړي وي نو ددواړو نکاح به باطل وي او همدا دسفيان ثوري او احمد او اسحاق رحمهم الله قول دي

*****************

## ٢١_ بَاب مَا جَاءَ فِي نِكَاحِ الْعَبْدِ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ

### دمالک داجازت نه بغير د نکاح کولو بيان

١١١١_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا الْوَلِيدُ بْنُ مُسْلِمٍ، عَنْ زُهَيْرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا يَصِحُّ، وَالصَّحِيحُ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ نِكَاحَ الْعَبْدِ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ لَا يَجُوزُ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَغَيْرِهِمَا بِلَا اخْتِلَافٍ.[1]

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر غلام چي دمالك داجازت نه بغير نكاح اوكړي دا زناكاردي.

امام ترمذي وائي دجابرحديث حسن دي بعضي راويانو داحديث په سند د عبدالله بن محمد بن عقيل عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي اودا سند درست نه دي صحيح هغه سند دي كوم چي عبدالله بن محمد بن عقيل دجابر رضي الله عنه نه نقل كړي دي، او په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي په صحابه كرامو اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي چي دمالك داجازت نه بغير دغلام نكاح كول جائز نه دي اوهمدا دامام احمد او اسحاق وغيره قول دي او په دي كي دهيڅ اختلاف نشته.

*****************

[1] _ سنن ابي داود في النكاح ١٧ (٢٠٧٨)، (تحفة الأشراف: ٢٣٢٦)، مسند احمد (٣ في ٣٠١، ٣٧٧، ٣٨٢)، سنن الدارمي في النكاح ٤٠ (٢٢٧٩)

١١١٢ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ الْأُمَوِيُّ، حَدَّثَنَا أَبِي، حَدَّثَنَا ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَقِيلٍ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "أَيُّمَا عَبْدٍ تَزَوَّجَ بِغَيْرِ إِذْنِ سَيِّدِهِ فَهُوَ عَاهِرٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. ([1])

**ترجمه** : په همدي سند سره دجابررضي الله عنه نه هم ددي يو هم معني روايت مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر غلام چي دمالك داجازت نه بغير نكاح اوكړي دا زناكاردي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٢٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي مُهُورِ النِّسَاءِ

### دښځو دمهرونو بيان

١١١٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، وَمُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ عَاصِمِ بْنِ عُبَيْدِ اللَّهِ، قَال: سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ امْرَأَةً مِنْ بَنِي فَزَارَةَ تَزَوَّجَتْ عَلَى نَعْلَيْنِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرَضِيتِ مِنْ نَفْسِكِ وَمَالِكِ بِنَعْلَيْنِ؟" قَالَتْ: نَعَمْ. قَالَ: "فَأَجَازَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَسَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ، وَعَائِشَةَ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي حَدْرَدٍ الْأَسْلَمِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْمَهْرِ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: الْمَهْرُ عَلَى مَا تَرَاضَوْا عَلَيْهِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: لَا يَكُونُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ رُبْعِ دِينَارٍ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْكُوفَةِ: لَا يَكُونُ الْمَهْرُ أَقَلَّ مِنْ عَشَرَةِ دَرَاهِمَ. ([2])

**ترجمه** : دعامر بن ربيعه رضي الله عنه بيان دي چي دبني فزاره قبيلي يوي ښځي په يو جوړه پيزار مهر باندي نكاح اوكړله رسول الله صلي الله عليه وسلم ورنه تپوس اوكړو ايا ته په دي يو

[1] ـ سنن ابي داود في النكاح ١٧ (٢٠٧٨)، (تحفة الأشراف: ٢٣٢٦)، مسند احمد (٣ في ٣٠١، ٣٧٧، ٣٨٣)، سنن الدارمي في النكاح ٣٠ (٢٢٧٩)

[2] ـ سنن ابن ماجه في النكاح ١٧ (١٨٨٨)، (تحفة الأشراف)، مسند احمد (٣ في ٤٤٥)

جوړه پيزار مهر باندي راضي يې؟ هغې عرض اوکړوهو زه په دي راضي يم راوي وائي چې بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دهغې نکاح برقرار پريخودله.

امام ترمذي وائي دعامر بن ربيعه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر، ابوهريره، سهل بن سعد، ابوسعيدخدري، انس، عائشه، جابر، او ابوحدرد اسلمي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او داهل علمو په دي سلسله کي اختلاف دي بعضي فقهاء وائي مهر دومره پکاردي په کوم چې ښځه او خاوند دواړه راضي شي دا دسفيان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق رحمهم الله قول دي، مګر امام مالك وائي چې مهر ديودينار دڅلورمي حصي نه کمول پکارنه دي، او بعضي اهل کوفه وائي چې مهر دلسو درهمو نه کمول پکار نه دي.

**تشريح** : د مهر د نومونو بيان:

کاکی (رحمه الله) فرمائی چې په قرآن اوحديث کي د مهر اوه نومونه دی:

(۱) صداق.

(۲) نحلة: په قرآن کي دواړه نومونه ذکر دی: واتوا النساء صدقاتهن نحلة.

(۳) اجورت: همدارنګي داهم په قرآن کي ذکر دي، "واتوهن اجورهن"

(۴) فريضه، دا نوم هم په کلام پاك کي موجود دي، "وقد فرضتم لهن فريضة"

(۵) مهر، ددې نوم ذکر په حديث کي دي، "فان لمسها فلها المهر بما استحل"

(۶) عليقة، نبی کريم ﷺ فرمائی، "أدوا العلايق قيل يارسول اللهﷺ ما العلايق قال ماترضى الاهلون" په حديث کي د عليقة نه مراد مهر دي.

(۷) العقر، نبی کريم ﷺ اوفرمائيل، "عقر نسائها" دلته کي د عقر نه مراد مهر دي، په دې اوه نومونوکي څلور په قرآن کي او درې په احاديثوکي ذکر دی،

دلته په دي مقام کي د يوي اختلافي مسئلي وضاحت کوو چې په وخت د عقد کي مهر مسمي کول او معين کول د نکاح دپاره شرط دي او کنه؟

احناف فقهاء فرمائی چې نکاح صحيح کيږی، اګرچې په دې کي مهر ذکر نه وی.

دليل دادې چې نکاح عقد انضمام او عقد ازدواج ته وائی، اودا معنی زوجين سره پوره کيږی نود نکاح د صحت دپاره دمهر ذکر کول ضروری نه دی.

دويم دليل دادې چې په قرآن کي دی، "فأنكحوا ما طاب لكم من النساء .إلخ"

اوس که مونږ دمهر ذکرکولو شرط اولګولو نو په نص باندې به زياتوالي لازم شی، اودا صحيح نه دې.

خو سوال دادې چي هرکله مهر شرعاً واجب دې نو بغير د مهرنه به نكاح څنګه درست وي؟
جواب دادې چي وجوب دمهر د نكاح د صحت دپار شرط نه دې، بلكي مهر واجب شوې دې، د محل د شرافت، يعني عظمت اوشرافت ښكاره كولو دپاره نود نكاح د صحت دپاره د مهر ذكركولوكي هيڅ ضرورت نشته.
كه څوك اعتراض اوكړى چي په دې كي څه دليل دې چي د نكاح د صحت دپاره د مهرذكركولو څه ضرورت نشته؟
جواب قرآن په دې باندې شاهد دې، فرمائيلى شوى دى:
"لا جناح عليكم ان طلقتم النساء مالم تمسوهن او تفرضوا لهن فريضة ومتعوهن علي الموسع قدره وعلي المقتر قدره"
هيڅ ګناه نشته، په تاسو، كه طلاق وركړئ تاسو ښځو ته، هغه وخت چي لاس هم نه وى لګولې تاسو په هغوئ، او مهر هم نه وى مقرركړې، او دوى ته خرڅي وركوئ په مالداره باندې دده د وس مطابق، او په غريب باندې دده د وس مطابق"
په دې آيت كي بغيرد تسميه(مهرمقرر كولو)نه د صحت طلاق حكم لګولې شوې دې، او طلاق كيږى په صحيح نكاح كي نو معلومه شوه چي د مهرذكر پريخودل، د نكاح د صحت د پاره مانع نه دې، فرمائي چي دغه شان به نكاح هغه وخت هم درست وى چي كله د مهرنه كيدلوشرط اولګولې شي.
مګر امام مالك (رحمه الله) فرمائي چي د مهرد نفى په شرط سره نكاح درست نه وى.
او دليل دا پيش كوى چي نكاح عقد معاوضه ده نو څنګه چي په بيع كښې كه د ثمن نه كيدلو شرط اولګوى نو بيع به باطل وى، دغه شان د عدم مهرشرط سره به نكاح هم درست نه وى.
مونږ جواب وركوو چي په دې باندې د ټولو اجماع ده، كه د مهر ذكر ترك كړې شى، او صراحتاً نفى اونكړې شى نو نكاح به درست وى نو دغه شان كه د مهر نفى اوكړې شى. بيا به هم صحيح وى، ځكه چي په ترك ذكر او په نفى ذكر سره حكم نه مختلف كيږى. مثلاً په بيع كي د ثمن نفى اوكړې شى، يا د ثمن ذكر ترك كړې شى. په دواړه صورتونوكي به عقد بيع باطل وى.

## د مهر مقدار

د مهر دپاره د زيات مقدار هيڅ حد نشته، البته د مهر په اقل مقدار كي اختلاف دې:
۱) د احنافو په نزد لس درهمه دى.

(۲) امام مالك (رحمه الله) فرمائی چي د مهر اقل مقدار، ربع دينار يا دري درهمه، دی.
(۳) ابن شبرمه (رحمه الله) فرمائي چي کم ازکم پنځه درهمه دی.
(۴) او ابراهيم نخعی (رحمه الله) فرمائی چي د مهر اقل مقدار څلويښت درهمه دی.
(۵) اود سعيد ابن جبير (رحمه الله) په نزد کم از کم پنځوس درهمه ضروری دی.
(۶) امام شافعی (رحمه الله) فرمائی چي کوم څيز په عقد بيع کي ثمن جوړيدلې شی، هغه په عقد نکاح کي مهر هم جوړيدلې شی.
د امام شافعی (رحمه الله) دليل دادې چي مهر د ښځې حق دې، ځکه په وصول کولو او په ساقطولو کي ښځه اختيارمنده ده، معلومه شوه چي مهر د ښځې حق دې نو ددې مقدار مقرر کولو حق به هم ښځې ته وی.
زمونږ دليل د نبی کريم ﷺ حديث دې، چه، د لسو درهمو نه کم مهر نشته دې.
دويم عقلی دليل دادې چي مهر د بضع شرافت ښکاره کولو دپاره د شريعت حق دې نو دومره مقدار به مقررکولې شی چي په هغې سره د محل شرافت.او شرافت د بضع ښکاره شی. مونږ اوکتل چي نصاب د ،سرقه،لس درهمه دی نو ګويا د لسو درهمو په غلاکولو باندې لاس کټ کولې شی نو معلومه شوه چي د انسان دپاره د يو اندام يعنی د لاس کم ازکم قيمت لس درهمه دی نو هم په دې به قياس کولې شی، اوپه نکاح کي به هم د ملك بضع قيمت کم ازکم لس درهمه مقرر کولې شی.

****************

## ۲۳_ بَابٌ مِنْهُ

### دمهر متعلق يو بل باب

١١١٤_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ عِيسَى، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ نَافِعٍ الصَّائِغُ، قَالَا: أَخْبَرَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي حَازِمِ بْنِ دِينَارٍ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَاءَتْهُ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ: إِنِّي وَهَبْتُ نَفْسِي لَكَ، فَقَامَتْ طَوِيلًا، فَقَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ فَزَوِّجْنِيهَا إِنْ لَمْ تَكُنْ لَكَ بِهَا حَاجَةٌ، فَقَالَ: "هَلْ عِنْدَكَ مِنْ شَيْءٍ تُصْدِقُهَا؟" فَقَالَ: مَا عِنْدِي إِلَّا إِزَارِي هَذَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِزَارُكَ إِنْ أَعْطَيْتَهَا جَلَسْتَ، وَلَا إِزَارَ لَكَ فَالْتَمِسْ شَيْئًا". قَالَ: مَا أَجِدُ. قَالَ: "فَالْتَمِسْ وَلَوْ خَاتَمًا مِنْ حَدِيدٍ". قَالَ: فَالْتَمَسَ فَلَمْ يَجِدْ شَيْئًا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "هَلْ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ شَيْءٌ؟" قَالَ: نَعَمْ. سُورَةُ كَذَا.

وَسُورَةُ كَذَا لِسُوَرٍ سَمَّاهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "زَوَّجْتُكَهَا بِمَا مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ الشَّافِعِيُّ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: إِنْ لَمْ يَكُنْ لَهُ شَيْءٌ يُصْدِقُهَا فَتَزَوَّجَهَا عَلَى سُورَةٍ مِنَ الْقُرْآنِ، فَالنِّكَاحُ جَائِزٌ وَيُعَلِّمُهَا سُورَةً مِنَ الْقُرْآنِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: النِّكَاحُ جَائِزٌ وَيَجْعَلُ لَهَا صَدَاقَ مِثْلِهَا، وَهُوَ قَوْلُ: أَهْلِ الْكُوفَةِ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه بيان دي چي يوه ښځه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوه او عرض يي اوكړو چي ما تاته خپل ځان بخلي دي او بيا هغه ډيرساعته پوري ناسته وه (اورسول الله ورته هيڅ جواب ورنكړو) دي وخت كي يوكس عرض اوكړو اي دالله رسوله كه چري ستا ورته حاجت نه وي نو زما نكاح ورسره اوكړه رسول الله اوفرمائيل ايا دمهر وركولو دپاره تاسره څه شته؟ هغه عرض اوكړو ماسره ددي يو لنگ نه علاوه نور هيڅ نشته رسول الله اوفرمائيل كه چري ته خپل لنگ ديته په مهر كي وركړي نو ته به پخپله برينډ پاتي شي او بيا به كوم بل ځيز دځان دپاره لټوي هغه عرض اوكړو ماسره خو نور هيڅ نشته دي رسول الله ورته اوفرمائيل لټون اوكړه كه داوسپني گوتمه ولي نه وي خو ضرور يي پيدا كړه هغه تلاش اوكړو ليكن هيڅ يي پيدا نكړل، رسول الله ورته اوفرمائيل ايا قران درته ياد دي هغه اووئيل فلاني فلاني سورتونه مي ياد دي او بيا يي ديو څو سورتونو نومونه واخستل رسول الله اوفرمائيل ما ستا نكاح ددي ښځي سره دهغه سورتونو په بدل كي اوكړه كوم چي تاته ياد دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او امام شافعي ددينه استدلال كړي دي او دا قول يي كړي دي كه دچا سره په مهر كي دوركولو دپاره هيڅ نه وي او هغه دقران كوم سورت لره مهر اوگرځوي او دكومي ښځي سره نكاح اوكړي نو نكاح يي درسته ده او دي به هغي ته دقران دا سورة ښايي، بعضي اهل علم وائي نكاح به يي جائز نه وي مگرهله به جائز وي چي ديته مهر مثل وركړي او دااهل كوفه او احمد او اسحاق رحمهم الله قول دي.

---

1 ـ صحيح البخاري في الوكالة ٩ (٢٣١٠) . والنكاح ٢٠ (٥١٣٥) . والتوحيد ٢١ , ٧٤١٧) . سنن ابي داود في النكاح ٣١ (٢١١١) . و النسائي في النكاح ٦٩ (٣٣٦١) . (تحفة الأشراف : ٤٧٤٢) . موطا امام مالك في النكاح ٣ (٨) . مسند احمد (٥ في ٣٣٦) وأخرجه صحيح البخاري في فضائل القرآن ٢١ (٥٠٢٩) . والنكاح ١٣ (٥٠٨٧) . و ٣٢ (٥١٢١) . و ٣٥ (٥١٢٦) . و ٣٧ (٥١٣٢) . و ٤٣ (٥١٤١) . و ٥٠ (٥١٤٩) . و ٥١ (٥١٥٠) . واللباس ٤٩ (٥٨٧١) . و مسلم في النكاح ١٣ (١٤٢٥) . و النسائي في النكاح ١ (٣٢٠٢) . و ٤١ (٣٢٨٢) . و ٦٢ (٣٣٦١) . و ابن ماجه في النكاح ١٧ (١٨٨٩) . سنن الدارمي في النكاح ١٩ (٢٢٤٧).

**تشريح** : د ماقبل مسئلي مزيد تحقيق:

مسئله: که چري دعدم مهر په شرط ئي نکاح کړي وي نود امام مالك په نزد به نکاح بلکل صحيح نه وي ځکه چي دبيع پشان نکاح هم عقد دمعاوضي دي پس لکه چي څنګه بيع په شرط دعدم قيمت اجماعا درست نه ده نوهمدارنګي نکاح هم بغير دشرط کولو دمهر نه درست نده.

احناف وايي نکاح دبيع پشان عقد دمعاوضي نه دي بلکي دمهر وجوب په حکم دشريعت دي (نکاح په حقيقت کي عقد داقرار دي اودمحض تراضي نوم دي دکومي دپاره چي شريعت مهر واجب کړي دي) ددي دپاره چي دمحل عظمت ته اشاره اوشي ، که چري دبيع په شان عقد معاوضه وي نوبغير دذکرکولو دمهر نه به نکاح صحيح نه وه لکه چي دقيت دذکر کونه بغير چي بيع درست نه ده ، پس دمهر نه کيدو شرط به لغوه اوفاسد وي اونکاح به صحيح پاتي شي ، البته په بيع کي چونکه قيمت رکن دي نوځکه بيع بغير دذکر دقيمت يا دعدم قيمت په شرط کولو سره به درست نه وي.

**مسئله**: که چري دنکاح په وخت کي دا شرط اولګولي شي چي خاوند به ديوکال پوري دخپلي ښځي خدمت کوي اودا پوکلن خدمت به دنکاح مهر وي نو ددي په حکم کي د فقهاؤ اختلاف دي:

دامام محمد په نزد باندي به په ده باندي ديوکال دخدمت قيمت واجب وي ځکه چي دخاوند خدمت کول مهر مقررول خپلي ښځي لره دنکاح د مقتضا خلاف وي دنکاح تقاضا دخاوند ملکيت دي اوخدمت مقتضا دمملوکيت د. مګر چونکه خدمت يي مهر ګرځولي دي اومقرر شوي څيز ادا کولو تقاضا عقددي مګر ددي د ادا کولو نه قاصر دي نوپه دي وجه به په ده باندي ددي قيمت ادا کول لازم و.

، دامام صاحب او دامام ابو يوسف رحمهما الله په نزد به مهر مثل واجب وي ځکه چي منافع لره به دمال قائم مقام ګرځول په هغه وخت کي صحيح وو کله چي منافع ادا کول ممکن وو اوکله چي اداکول دمنافع دعقد دمخالفت تقاضا کوي اوددي سپارل ممکن نه دي نوپه دي بنابه منافع لره دمال قائم مقام نه شي ګرځولي او مهر مثل به واجب وي .

که چري دنکاح په وخت يي دا شرط اولګولو چي کوم بل ازاد نوکر به ديو کال پوري ددي خدمت کوي اوهمدا به دنکاح مهر وي نونکاح به صحيح وي اودخاوند په ذمه به دخدمت قيمت اداکول اتفاقا واجب وي خوپه دي شرط چي مقرر کړي ملازم دخدمت کولو راضي نه وي ياپه خدمت کولو سره دپره ي سړي دښځي سره تعلقات پيدا کيدل لازميږي .

**مسئله**: كه چري څوك ديوي ښځي څاروي يو كال اوڅروي يا ددي زمكه اوكري او بيا دي لره مهر اوګرځوي نوپه بعضي رواياتو كي راغلي دي چي داسي كول جائز نه دي داهم يو قسم دښځي خدمت كول دي

(١) احناف فقهاء وايي په صحيح رواياتو كي ددي جواز وارد دي ځكه چي دا دښځي خالص خدمت نه دي په عام طور سره ښځه او خاوند په شريكه دمالي امورو نګراني كولي شي اوددي تائيد دموسي عليه السلام اودشعيب عليه السلام دقصي نه كيږي اوزمونږ په شريعت كي ددي په خلافت كوم حكم راغلي نه دي.

(٢) امام احمد او ابن ماجه دعتبه بن منذررضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي مونږ درسول كريم صلي الله عليه وسلم خواته حاضر وو چي د" طسم " تلاوت يي اوكړو كله چي دموسي عليه السلام قيصي ته اورسيدو نو ويي فرمائيل چي موسي عليه السلام دخپل شرمګاه دپاك ساتلو (يعني دشعيب عليه السلام دلور سره نكاح كول) اودخپلي خيټي دروټئ په شرط باندي اته يالس كاله خپل ځان دشعيب عليه الصلاة السلام نوكر كړو

داقصه په دليل كي په هغه وخت كي پيش كيدي شي كله چي هغه چيلئ دكومو څرولو چي موسي عليه السلام وعده كړي وه دشعيب عليه الصلاة السلام دلور ملكيت ثابت شي مګر ظاهرا داسي نه ده (بلكي دقيصي نه معلوميږي چي ددي كډو مالك شعيب عليه السلام وو . بيادلور دمهر په عوض كي پخپله دچيلو څرولو خدمت دموسي عليه السلام نه څنګه اخستلي شو) .

كه چري دقران دكوم سورت تعليم لره مهر اوګرځولي شي(١) نودامام شافعي اودامام مالك په نزد جائز دي اوپه يو روايت كي دامام احمد هم دا قول دي (٢) ، امام ابو حنيفه رحمة الله عليهما اوپه صحيح روايت كي (٣)دامام احمد په نزد باندي هم ناجائز دي او مهر مثل وركول واجب دي ددي اختلاف بنياد په يوي بلي اختلافي مسئلي باندي دي سوال دا دي چي حج، اذان ، تعليم دقران اونورو عبادتونو باندي اجرت اخستل جائز دي اوكه نه؟ .

څوك چي دا جائز ګنړي هغوئ تعليم قران لره دمهر دګرځولو دجواز هم قائل دي ځكه چي ددي عباداتو اجرت (قيمت) كيدي شي نوبيا دا يو قسم مال ګنړل كيدل ممكن كيږي اوڅوك چي په دي عباداتوباندي اجرت لره ناجائز ګنړي نوهغوئ تعليم لره دمهر ګرځولو نه هم مخالف دي .

دامام ابوحنيفه رحمة الله عليه دقول دثابتولو دپاره دوه طريقي اختيار شوي دي ، عموما په عبادت اجرت اخستل جائز نه دي ، په خصوصيت سره تعليم مهر نشي ګرځيدلي ، اولني قول د يوڅو احاديثو نه ثابت دي دعباده بن الصامت رضي الله عنه بيان دي چي ماپه اصحاب صفه كي يوڅو كسانو ته ليكل وخودل اودقران كريم تعليم مي ورته وركړو نوپه دوئ كي يو كس ماته يوه ليندده په تحفه كي راكړه ما دا ګمان وكړو چي په جهاد كي به ورباندي غشي ولم نو

درسول الله نه ئي تپوس هم وکړو رسول کريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل که چري داور طوق اغوستل دي خوښ وي نو قبوله ئي کړه (رواه احمد وابوداود).
که چري مونږ په نورو عباداتو باندي اجرت اخستل جائز تسليم کړو نوبيا هم په قران باندي اجرت اخستل نشي جائز کيدي ځکه چي داجاري په شرائطو کي يوشرط داهم دي چي کار دي معلوم وي اووخت دعمل هم معلوم وي اوتعليم کله په لږ عمل سره مکمل کيږي اوکله په ډير سره ، اوبياتعليم دمتعلم په استعداد اوصلاحيت پوري موقوف دي اودصلاحيت دتخليق نه معلم قاصر دي کله چي په قران باندي اجرت اخستل جائز نه دي نو دي منلو ته به ضرورت پيښ شي چي شريعت ددي کوم مالي قيمت نه دي تسليم کړي اوتعليم قران ئي داموالو په فهرست کي نه دي شامل کړي لهذا دي مهر نشي ګرځولي ځکه چي طلب دنساء دمال په عوض کي ضروري دي ، پاتي شو حديث دسهل بن سعد نو دا خبر واحد دي دقران دصراحت ان تبتغوا باموالکم، سره معارض دي ، لهذا دقران په مقابله په دي باندي عمل کول ممکن ندي.

## دسهل بن سعد ساعدي رضي الله عنه حالات:

نوم سهل کنيه ابو العباس ، ابو مالك، ابو يحيي، دهجرت نبوي نه پنځه کاله مخکي پيدا شوي وه پلار ورنه هزن نوم ايخودلی وو ليکن رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي نوم بدل کړو او سهل نوم يي ورباندي کيخودو ، دده پلارغزوه بدر ته دتلو اراده کړي وه ليکن دتلو نه مخکي وفات شو او رسول الله صلي الله عليه وسلم دتمامو مجاهدينو پشان دده دپاره هم حصه مقرره کړه سهل داکابرو صحابه کرامو دوفات کيدو نه پس دخلقو مرجع اوګرځيدو دلري لري علاقو خلق به دده د درس حلقي ته راتلل سهل يو ځل دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دپاره دمديني دمشهور کوهي بير بضاعه نه دځکلو دپاره اوبه هم راويستلي وي (مسند احمد).

وفات: دهجرت په ۹۱کي دشپږ نوي کالو په عمر کي وفات شو او دده دمروياتو شمير ۱۸۸دی چي ۲۸متفق عليه دي.

******************

حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي الْعَجْفَاءِ السُّلَمِيِّ، قَالَ: قَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ: أَلَا لَا تُغَالُوا صُدُقَةَ النِّسَاءِ، فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّهِ، لَكَانَ أَوْلَاكُمْ بِهَا نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. "مَا عَلِمْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَكَحَ شَيْئًا مِنْ نِسَائِهِ وَلَا أَنْكَحَ شَيْئًا مِنْ بَنَاتِهِ عَلَى أَكْثَرَ مِنْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً". قَالَ أَبُو

عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْعَجْفَاءِ السُّلَمِيُّ اسْمُهُ: هَرِمٌ، وَالأُوقِيَّةُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ أَرْبَعُونَ دِرْهَمًا، وَثِنْتَا عَشْرَةَ أُوقِيَّةً أَرْبَعُ مِائَةٍ وَثَمَانُونَ دِرْهَمًا. (1)

**ترجمه** : دابو العجفاء سلمي نه روايت دي فرمائي چي اميرالمؤمنين عمر فاروق رضي الله عنه اوفرمائيل خبردار دښځو سره په مهرونو کي ټګي مه کوئ ځکه چي ديته په دنيا کي عزت ورکړي شوي دي او په دي کي دالله نه اووريږئ او که دا کار جائز وي نو ستاسو نه به مخکي دالله رسول کړي وي ماته درسول الله صلي الله عليه وسلم په باره کي معلوم نه دي چي پخپلو ښځو کي يي دچا سره نکاح کړي وي او يايي پخپلو لوڼرو کي کومه يوه چاته په نکاح ورکړي وي د دوه سوه اوقيو زرو نه په زيات مهر باندي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او د ابو الجعفاء نوم هرم دي او داوقيه مقداو داهل علمو په نزد څلويښت درهمه دي او ددولس اوقيو نه څلور سوه اتيا درهمه جوړيږي.

**تشريح** : مهر کم ازکم څومره وي ددي متعلق په علماؤ کي اختلاف دي ؟ امام شافعي او امام احمد په نزد باندي مهر کم از کم څه حد نشته هريوڅيز چي په هر څومره مقدار کي وي داسي مقدار چي په بيع کي قيمت جوړيدي شي نو دغه په نکاح کي مهر هم کيدي شي ځکه چي ايت ، ان تبتغوا باموالکم، مطلق دي (په دي کي دمهر کوم خاص حد نه دکثرت په جانب کي مقرر دي اونه دقلت په جانب کي)

امام ابوحنيفه او امام مالك فرمائيلي دي دمهر کم ازکم مقدار شرعا مقرر دي په څومره مقدار غلا چي دغل لاس کټ کولي شي هم دومره مقدار دمهر کمه اندازه ده ، دامام ابوحنيفه په نزد دا مقدار يودرهم يالس ديناره دي اودمام مالك په نزد پاو د دينار يا دري درهمه دي ، په جانب قلت کي دمقدار مقررکيدو دليل دالله تعالي داقول:

قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ .دي ، فرض په معني داندازي مقررولو دي ددي ايت نه دوه خبري معلومي شوي يوشرعاد مهر مقدار معلوم شو لهذا څوك چي دمهرکم مقدار معين نه ګنړي هغه دايت مفهوم باطل ګنړي دويم دمهر دمقدار تعين کونکي پخپله الله تعالي دي څوك چي دمهر دتعين حد بنده ته سپاري نوهغه دفرضنا په ضمير باندي عمل نه کوي ، ددي په جواب کي مونږ وايو چي دا ايت دمهر متعلق نه دي بلکي دښځو دنفقي متعلق دي ځکه چي پوره ايت داسي دي: قَدْ عَلِمْنَا مَا فَرَضْنَا عَلَيْهِمْ فِي أَزْوَاجِهِمْ وَمَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ ، اوس که

---

1 _ ابي داود في النكاح ٢٩ (٢١٠٦) ، و النسائي في النكاح ٦٦ (٣٣٥١) ، سنن ابن ماجه في النكاح ١٧ (١٨٨٧) (تحفة الأشراف : ١٠٦٥٥) ، مسند احمد (١/ في ٤١ ، ٤٨) ، سنن الدارمي في النكاح ١٨ (٢٢٤٦)

چري په ايت كي مهر متعين كيدل مراد كړي شي نودوينځو دپاره مهر مقررول هم لازم شول اوحال دادي چي ددي هيڅوك قائل ندي.

امام شافعي دخپل مسلك په تائيد كي يوڅو احاديث پيش كوي يوروايت دهغوئ نه روايت دسهل بن سعد دي چي رسول كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي وو دڅه څيز تلاش وكړه اګركه داوسپني ګوته وي اوداحديث صحيح دي.

دويم حديث روايت دعامر بن ربيعه دي چي ديوي ښځي ديوجوړ پيزار په بدل كي يي نكاح كړي وه رسول كريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل ته په خوشحالئ سره په دي باندي راضي ئي هغي ووئيل هو نورسول كريم صلي الله عليه وسلم ورته اجازت وركړو، داحديث دترمذي په نزد صحيح دي مګر ابن جوزي وئيلي دي چي صحيح نه دي ددي په سند كي يو راوي عاصم بن عبيدالله دي دچاتضعيف چي يحيٰ بن معين كړي دي اوابن حبان ده لره فاحش خطاء كار اومتروك ګرځولي دي.

دريم روايت دجابر بن عبدالله دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي : چاچي په مهركي ښځي ته يوډك موټي خوراكي څيز وركړو نودغه ښځه دده دپاره حلاله شوه ، كه چري چا دنكاح په باره كي يوموټي وړه ياغله يا ستوان وركړل نوده دغه ښځه دځان دپاره حلاله كړه«رواه الدارقطني» دابوداود په روايت كي يوه ډكه لپه ستوان ياكهجوري راغلي دي.

ددي حديث په تمامو سندونو كي يو راوي صالح بن مسلم بن رمان دي اويحي ده لره ضعيف ګنړلي دي ، په بعضي سندونوكي په ځاي دصالح بن مسلم باندي موسي بن مسلم راغلي دي اوهغه مجهول دي.

دارقطني دعبدالله بن مومل نه په روايت دابو الزبير سره دجابر رضي الله عنه نه دا الفاظ نقل كړي دي چي مونږ به په يوه لپه اودوه لپوباندي دښځو سره نكاح ګاني كولي ، امام احمد وئيلي دي دابن مومل احاديث منكر دي او يحيٰ وائي چي ضعيف دي.

په يوبل حديث كي دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دپيغلو سره نكاح كوئ او علائق اداكوئ عرض وكړي شو چي علائق څه شي دي وئي فرمائيل په څه باندي ددواړو طرفو سرپرستان راضي شي اګركه دكيكر يوه لخته وي. داحديث دارقطني داسماعيل بن عياش په سند سره بيان كړي دي اوده لره علماؤ ضعيف ګنړلي دي ابن حبان وئيلي دي قابل داحتجاج نه دي شعبه وئيلي دي كه چري دي راشي اوزما څټ ووهي دا ماته ددينه خوښه ده چي داسي راته ووائي چي زمانه احاديث بيان كړه،سعدي وائي چي سخت دروغژن اوكذاب وو.

دارقطني اوبيهقي همدا حديث دمحمد بن عبد الرحمن سلماني نه عن ابيه عن ابن عباس يا ابن عمر په سند سره بيان كړي، مؤخر الذكر لره دارقطني اوطبراني نقل كړي دي يحيٰ بن

معين وئيلي دي محمد بن عبد الرحمٰن ليس بشئ دي ابن حبان وئيلي دي چي ده به دخپل پلار نه روايات ليکل او مشتبه به ئي بيانول اوتول موضوعي دي، بيهقي دا حديث په يوسند سره دعمر رضي الله عنه په روايت سره بيان کړي دي ليکن ددي سند هم ضعيف دي ابوداود دعبد الملك بن مغيره طائفي په واسطي سره دعبد الرحمٰن سلماني داحديث مرسلا په مراسيلو کي بيان کړي دي ، عبد الحق وئيلي دي چي داحديث په نورو طريقو سره زيات صحيح دي اوبيهقي ديحي بن عبد الرحمٰن اوهغه دخپل پلار نه اودهغه دده دنيکه نه نقل کړي دي چي چا په يو درهم(مهر)باندي ښځه دځان دپاره حلاله کړه نوهغه دده دپاره حلاله شوه، دابن شاهين دروايت الفاظ دادي: چي دوه درهمه يا ددوه درهمو نه په زيات باندي حلاله کړه.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه دخپل مسلك دپاره دجابر رضي الله عنه دحديث نه استدلال کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: ښه واورئ چي ښځو لره دهغوئ اولياء (سرپرست) په نکاح ورکوي اوصرف دکفو سره دي ددوئ نکاح وکړي شي اومهر دي دلسو درهمو نه کم نه وي(رواه البيهقي والدارقطني).

بيهقي ليکلي دي چي دا حديث په مختلفو طريقو سره راغلي دي ليکن ددي تمامو طريقو مدار په مبشر بن عبيد سره دي دچا متعلق چي امام احمد بن حنبل ليس بشئ وئيلي دي، دده احاديث موضوعي دي اوداحديث ئي په دروغه دځان نه جوړ کړي دي دارقطني وئيلي دي چي ده به دروغ وئيل ، ابن حبان وئيلي دي دموضوعي رواياتو نسبت به ئي ثقاتو راويانو ته کولو ، ابن همام وئيلي دي داحديث اګرکه ضعيف دي خوشاهد ئي شته کوم چي دده تائيد کوي اودکوم روايت چي موقوفاً دعلي رضي الله عنه نه راغلي دي چي دلسو درهمونه کمه غلا باندي قطع ديد نشته اومهر به دلسو درهمونه کم نه وي.

امام محمد وئيلي دي چي مونږ ته دعلي، ابن عمر، عامر، اوابراهيم نخعي قول رار سيدلي دي، (په کومو کي چي دلسو درهمو تعين دي)اوپه شرح طحاوي کي دجابر رضي الله عنه په سند سره دا درسول الله قول ګڼړلي شوي دي مګردعلي رضي الله عنه داثر کيدو سند کي يوراوي داود ازدي دی چاچي داقول په روايت دشعبي سره دعلي رضي الله عنه نه بيان کړي دي يحيٰ بن معين وئيلي دي چي دداود حديث هيڅ شي ندي، ابن حبان وئيلي دي داود درجعت قائل وو، اوبيا دشعبي سماع دعلي رضي الله عنه نه ده ثابته ، اوپه بعضي سندونو کي ئي غياث بن ابراهيم راغلي دي چالره چي امام احمد اوبخاري اودارقطني متروك ګرځولي دي اويحي کذاب ګڼړلي دي او ابن حبان وئيلي دي ځان نه به ئي احاديث جوړول.

دعلي رضي الله عنه نه يوبل قول مروي دي چي دپنځه درهمو نه کم مهر نشته ددي په سند کي يوبل راوي حسن بن دينار دي دده متعلق امام احمد وئيلي دي چي ده به احاديث نه ليکل اويحي وئيلي دي غير معتبر دي او ابوحاتم ورته دکذاب نسبت کړي دي.

زه وايم چي ددي تفصيل نه ظاهره شوه چي دلسو درهمو دتعين دپاره هيڅ صحيح حديث نشته بلكي ددي په خلاف كي دسهل بن سعد حديث دي اوبالفرض كه چري دمهرپه تعين كي كوم حديث صحيح هم شي په هغي سره په كتاب الله زيادت جائز نه دي ، دكتاب تصريح مطلقه ده كه چري دا توجيه وكړي شي چي شريعت دتمتع دشرف اوعظمت داظهار دپاره دمهر قانون جاري كړي دي نوبه دي وجه هغه ځيز مهر نشي ګرځيدلي دكوم چي څه قيمت نه وي لكه دغنم يوه دانه يا دډوډۍ يوټوټي په دي كي دتمتع دعظمت اظهار نشته. لهذا كوم كم ازكم دمقدارتعين دشريعت دطرف نه كيدل پكار دي ، مونږ وايو چي داخودساخته توجيه ده په كومي سره چي دكتاب مطلق حكم باطليږي نوځكه واجب الرد ده.

والله اعلم وعنده حسن الثواب واليه المرجع والمآب.

****************

## ٢٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَعْتِقُ الأَمَةَ ثُمَّ يَتَزَوَّجُهَا

### وينځي لره ازادول او دهغي سره د نكاح كولو بيان

١١١٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَعَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ صُهَيْبٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، " أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعْتَقَ صَفِيَّةَ وَجَعَلَ عِتْقَهَا صَدَاقَهَا ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ صَفِيَّةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَكَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ يُجْعَلَ عِتْقُهَا صَدَاقَهَا، حَتَّى يَجْعَلَ لَهَا مَهْرًا سِوَى الْعِتْقِ، وَالْقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ.[1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم صفيه رضي الله عنها ازاده كړه او دهغي ازادي يي دهغي مهر مقرر كړو.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دصفيه رضي الله عنها نه هم حديث وارد دي دصحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي او همدا

---

[1] ـ صحيح مسلم في النكاح ١٤ (١٣٦٥) . سنن ابي داود في النكاح ٦ (٢٠٥٤) . سنن النسائي في النكاح ٦٣ (٣٣٤٣) . سنن الدارمي في النكاح ٤٥ (٢٢٤٨) . (تحفة الأشراف : ١٠٦٤، و١٣٢٩) وأخرجه صحيح البخاري في الصلاة ١٢ (٣٧١) . وصلاة الخوف ٦ (٩٤٧) . والجهاد والمغازي ٣٨ (٤٢٠٠) . والنكاح ١٣ (٥٠٨٦) و٦٨ (٥١٦٩) . صحيح مسلم في النكاح سنن ابن ماجه في النكاح ٤٢ (١٩٥٧) . مسند احمد (٣ في ٩٩، ١٣٨، ١٦٥، ١٧٠، ١٨١، ١٨٦، ٢٠٣، ٢٣٩، ٢٤٢)

دشافعي او اسحاق او احمد رحمهم الله قول هم دي، مګر بعضي اهل علمو د وينځي ازادولو لره مهر مقررول مکروه ګڼړلي دي تردي پوري چي ددي دازادۍ نه علاوه به کوم بل څيز په مهر کي ورکوي ليکن اولني قول زيات صحيح دي.

## په دي شرط د وينځي ازادولو بيان چي ستا ازادي به ستا مهر وي

که چري چا وينځه ازاده کړه اوددي ازادول ني ددي مهر وګرځولو ، اويائي داسي ووئيل چي تاپه دي شرط سره ازادوم چي نکاح راسره وکړي اودا ازادول به خپل مهر تسليم کړي نودا ازاديدل بالاجماع صحيح دي .

امام احمد وائي که چري داسي ئي ددوه ګواهانو په وړاندي ووئيل نونکاح به هم صحيح وي دصفيه رضي الله عنها دنکاح قصه ددي تائيد کوي.

په بل روايت کي دامام احمد قول دجمهورو دقول موافق دي دجمهورو قول دادي چي ازادي خوبه واقع شي مګرښځي ته په نکاح قبلولو کي اختيار دي چي نکاح په شرط دعتق وکړي اوکه نه نوکه وئي کړله نوددي دپاره به مهرمثل وي .

دامام ابويوسف اوسفيان ثوري رحمهما الله قول دجمهورو دقول خلاف دي دوئ دواړه ښځي ته داختيارورکولو قائل ندي؛ يوخو دصفيه رضي الله عنها دنکاح قصه ددي تائيد کوي ، دويم دجويريه رضي الله عنها واقعه هم ددي دپاره موئيده ده ، کله چي هغه دبني المصطلق په قيديانو کي ګرفتار کړي شوي راوستلي شوه اودثابت بن قيس اودخپل يوتره په حصه کي راغله نوثابت دي لره مکاتبه کړه نوجويريه درسول کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوه اودمکاتبت دزرو دپاره ئي درخواست وکړو نو ورته ئي اوفرمائيل دمکاتبت زر به زه ستادطرف نه اداکړم مګرپه دي شرط چي ته به زما سره نکاح کوي ، جويريه رضي الله عنها ووئيل خوبنه مي ده نو رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل بيا ما داسي وکړل (يعني نکاح) رواه احمد وابوداود من حديث عائشه رضي الله عنها.

مونږ وايو چي دانکاح بغير دمهرنه وه ځکه هيچاته دخپل ځان ملکيت حاصل نه وي(چي کله ئي خوښه وي خپل ځان دي خرڅ کړي) لهذا ددي نکاح حکم دبلامهر نکاح دي اومهر مثل به واجب وي، پاتي شوحديث نوهغه ناقابل استدلال دي ځکه چي بغير دمهر مثل نه نکاح بغير دمهر نه درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره خاص وو الله تعالي فرمائيلي دي:

﴿وَامْرَأَةً مُّؤْمِنَةً إِنْ وَهَبَتْ نَفْسَهَا لِلنَّبِيِّ إِنْ أَرَادَ النَّبِيُّ أَنْ يَسْتَنْكِحَهَا خَالِصَةً لَّكَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ﴾.

امام ابوحنيفه اوصاحبين او امام شافعي وايي که چري وينځه په مذکوره صورت کي دنکاح نه انکار اوکړي نودمزدورۍ په کولوسره دخپل قيمت په اندازه مال ازادونکي ته ورکول په دي باندي لازم دي .

او امام مالك او امام زفر رحمهما الله وئيلي دي چي په وينځه باندي قيمت ادا كول لازمي نه دي ، داولني قول وجه دا ده چي مالك ازادولو له مهر گرځولي دي او وينځي دنكاح نه انكار كړي دي نو په دي وجه باندي ازاديدل بغير دعوضه پاتي شول او مالك په دي باندي راضي نه دي لهذا په كوشش كولو سره به په دي باندي خپل قيمت اداكول لازمي وي لكه چاچي په دي شرط سره ازادول كړي وي چي ازاد شوي غلام به يو كال خدمت كوي اود ازادولو نه پس مالك مړ شي (اوغلام ته دخدمت كولو موقعه پاتي نه شي.

دامام ابو حنيفه او ابويوسف په نزد باندي په غلام لازم دي چي هغه خپل قيمت دمالك وارثانوته ادا كړي)

اودامام محمد په نزد باندي دخدمت دمعاوضي برابر قيمت به ادا كوي ، دامام مالك او زفر دقول دليل دا دي كله چي ازادول مهر نه شي گرځيدلي نودا ازادي بغير دعوض نه شوه لهذا وينځه كه چري دنكاح نه انكار اوكړي نه په دي باندي خپل قيمت ادا كول لازمي نه دي لكه چي په دي صورت كي ورباندي قيمت ادا كول نه دي كله چي هغه دنكاح اقرار اوكړي.

(بهرحال اقرار وي اوكه انكار په هر صورت كي به ازادي بغير دقيمت نه وي) اوهمدا قول زيات ظاهر دي (تفسير مظهري).

****************

## ٢٥ــ بَاب مَا جَاءَ فِي الْفَضْلِ فِي ذَلِكَ

### دوينځي دازادولو او بيا دهغي سره د نكاح كولو دفضيلت بيان

١١١٦ــ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، عَنِ الفَضْلِ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ بْنِ أَبِي مُوسَى، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثَةٌ يُؤْتَوْنَ أَجْرَهُمْ مَرَّتَيْنِ: عَبْدٌ أَدَّى حَقَّ اللَّهِ وَحَقَّ مَوَالِيهِ فَذَاكَ يُؤْتَى أَجْرَهُ مَرَّتَيْنِ، وَرَجُلٌ كَانَتْ عِنْدَهُ جَارِيَةٌ وَضِيئَةٌ فَأَدَّبَهَا فَأَحْسَنَ أَدَبَهَا ثُمَّ أَعْتَقَهَا ثُمَّ تَزَوَّجَهَا يَبْتَغِي بِذَلِكَ وَجْهَ اللَّهِ فَذَلِكَ يُؤْتَى أَجْرَهُ مَرَّتَيْنِ، وَرَجُلٌ آمَنَ بِالكِتَابِ الأَوَّلِ ثُمَّ جَاءَ الكِتَابُ الآخَرُ فَآمَنَ بِهِ فَذَلِكَ يُؤْتَى أَجْرَهُ مَرَّتَيْنِ ". حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ صَالِحِ بْنِ صَالِحٍ وَهُوَ ابْنُ حَيٍّ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي بُرْدَةَ، عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي مُوسَى حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو بُرْدَةَ بْنُ أَبِي مُوسَى اسْمُهُ: عَامِرُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ قَيْسٍ، وَرَوَى شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ هَذَا

الْحَدِيثَ، عَنْ صَالِحِ بْنِ صَالِحِ بْنِ حَيٍّ، وَصَالِحُ بْنُ صَالِحِ بْنِ حَيٍّ هُوَ: وَالِدُ الْحَسَنِ بْنِ صَالِحِ بْنِ حَيٍّ. (1)

**ترجمه** : دابو موسي عبدالله بن قيس اشعري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه خلق داسي دي چاته چي به ډبل اجر ملاويږي يو هغه غلام دي څوك چي دالله تعالي حق اداء كوي اود الله تعالي حق هم ادا كړي، ده ته به دوچند اجر ملاويږي، دويم هغه كس دي دچا په ملكيت كي چي ښكلي وينځه وي او هغه ددي تربيت اوكړي او ښه تربيت ورته وركړي او بيا دي لره ازاده كړي او بيا ورسره نكاح اوكړي او داټول كارونه دالله تعالي درضادپاره اوكړي نو ده ته به دوچنده اجر ملاويږي، دريم هغه كس دي دچا چي په سابقه كتاب (تورات او انجيل) باندي ايمان وي او بيا چي كله وروستي كتاب (قران) نازل شو نو په دي باندي يي هم ايمان راوړو دده دپاره به هم دوچند اجر وي.

امام ترمذي وائي دابو موسي اشعري رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٢٦_ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ ثُمَّ يُطَلِّقُهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا هَلْ يَتَزَوَّجُ ابْنَتَهَا أَمْ لاَ

**څوك چي دخپلي كومي ښځي سره نكاح اوكړي او بيا ورته ددخول نه مخكي طلاق وركړي نو ايا بيا دهغي ښځي دلورسره نكاح كولي شي؟**

١١١٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً، فَدَخَلَ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ ابْنَتِهَا، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ دَخَلَ بِهَا فَلْيَنْكِحْ ابْنَتَهَا، وَأَيُّمَا رَجُلٍ نَكَحَ امْرَأَةً فَدَخَلَ بِهَا أَوْ لَمْ يَدْخُلْ بِهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ نِكَاحُ أُمِّهَا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ مِنْ قِبَلِ إِسْنَادِهِ، وَإِنَّمَا رَوَاهُ ابْنُ لَهِيعَةَ، وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، وَالْمُثَنَّى بْنُ الصَّبَّاحِ، وَابْنُ لَهِيعَةَ يضعفان في الحديث، والعمل على هذا عند أكثر أهل العلم، قَالُوا: إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ امْرَأَةً ثُمَّ طَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا حَلَّ لَهُ أَنْ يَنْكِحَ

---

1 _ صحيح البخاري في العلم ٣١ (٩٧)، والجهاد ١٤٥ (٣٠١١)، و أحاديث الأنبياء ٤٧ (٣٤٤٦)، والنكاح ١٣ (٥٠٨٣). صحيح مسلم في الإيمان ٧٠ (١٥٤)، سنن النسائي في النكاح ٦٥ (٣٣٤٦)، سنن ابن ماجه في النكاح ٤٢ (١٩٥٦). (تحفة الأشراف: ٩١٠٧)، مسند احمد (٤ في ٣٩٥، ٤١٤)، سنن الدارمي في النكاح ٤٦ (٢٢٩٠)

ابْنَتَهَا. وَإِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الِابْنَةَ فَطَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا لَمْ يَحِلَّ لَهُ نِكَاحُ أُمِّهَا، لِقَوْلِ اللَّهِ تَعَالَى: وَأُمَّهَاتُ نِسَائِكُمْ (النساء) وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دابن عمررضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرما نيلي دي چاچي دکومي ښځي سره نکاح اوکړه او هغې سره يې دخول اوکړو نو دده دپاره دهغې ښځي دلور سره نکاح کول جائز نه دي او که دخول يې ورسره نه وي کړي نو بيا ددې دلور سره نکاح کولې شي، او چاچي دکومي ښځي سره نکاح اوکړه نو که دې سره يې دخول کړې وي او کنه وي خو ددې دمور سره به يې نکاح کول جائز نه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث دسند په اعتبار صحيح نه دي دا روايت صرف ابن لهيعه او مثني بن صالح دعمرو بن شعيب نه نقل کړي دي او مثني بن صالح او ابن لهيعه دحديث په سلسله کي ضعيف دي، او دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي دوئ وائي کله چي څوك دکومي ښځي دمور سره نکاح اوکړي او بيا ورته د دخول نه مخکي طلاق ورکړي نو دده دپاره ددې ښځي دلور سره نکاح کول جائز دي او کله چي څوك دکومي ښځي دلور سره نکاح اوکړي او بيا ورته د دخول نه مخکي طلاق ورکړي نو ددې دمور سره يې نکاح جائز نه ده ځکه چي ارشاد الهي دي "وامهات نسائکم" (النساء ٢٣) او همدا دامام شافعي اواحمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي.

****************

## ٢٧ـ بَاب مَا جَاءَ فِيمَنْ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَيَتَزَوَّجُهَا آخَرُ فَيُطَلِّقُهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا

### که څوك خپلې ښځې ته درې طلاق ورکړي او ښځه بيا دبل چا سره نکاح اوکړي او د دخول نه مخکي ورته طلاق ورکړي نو ددې څه حکم دې

١١١٨ـ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَإِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: جَاءَتِ امْرَأَةُ رِفَاعَةَ الْقُرَظِيِّ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ: إِنِّي كُنْتُ عِنْدَ رِفَاعَةَ فَطَلَّقَنِي فَبَتَّ طَلَاقِي، فَتَزَوَّجْتُ عَبْدَ الرَّحْمَنِ بْنَ الزَّبِيرِ، وَمَا مَعَهُ إِلَّا مِثْلُ هُدْبَةِ الثَّوْبِ. فَقَالَ: "أَتُرِيدِينَ أَنْ تَرْجِعِي إِلَى رِفَاعَةَ؟ لَا، حَتَّى تَذُوقِي عُسَيْلَتَهُ وَيَذُوقَ عُسَيْلَتَكِ

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٨٤٣٢)

قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ، وَالرُّمَيْصَاءِ، أَوْ الْغُمَيْصَاءِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا فَتَزَوَّجَتْ زَوْجًا غَيْرَهُ فَطَلَّقَهَا قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ بِهَا، أَنَّهَا لَا تَحِلُّ لِلزَّوْجِ الْأَوَّلِ إِذَا لَمْ يَكُنْ جَامَعَ الزَّوْجُ الْآخَرُ.[1]

**ترجمه** : عائشه رضي الله عنها فرمائي يوه ورځ درفاعه قرظي ښځه رسول الله صلي عليه وسلم ته راغله او ويي وئيل چي رفاعه ماته مغلظ (دري) طلاق راكړي دي نو عبدالرحمن بن زبير زماسره نكاح وكړه اودده سره نه وو (ذكر) مګرپشان دچيرړي اوپيسكي دڅادر پشان اوډخپلي لوپټي پلو ئي ونيولو رسول كريم صلي الله عليه وسلم مسكي شو اووئي فرمائيل چي ګني ته رفاعه ته واپس تلل غواړي؟ خودا دهغه وخته پوري نشي كيدي ترڅوچي ته دهغه مزه اوهغه ستا مزه ونه څكي.

امام ترمذي دعائشه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن عمر، انس، رميصاء يا غميصاء، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي چي يو كس كله خپلي ښځي ته دري طلاق وركړي او بيا هغه دبل چا سره نكاح اوكړي او دويم خاوند ورته ددخول نه مخكي طلاق وركړي نو ددي ښځي دپاره به داولني خاوند سره نكاح كول درست نه وي ترڅو پوري چي دويم خاوند ددي سره جماع نه وي كړي.

**تشريح** : د طلاق ثلاثه اود حلالي د مسئلي تفصيلي وضاحت قاضي ثناء الله د سورة بقري د ايت حتي تنكح زوجا غيره په تشريح ذكر كړی چي په لاتدينو كرښو كي يي كتلی شي:

د سورت بقري د ايت حتي تنكح زوجا غيره د ظاهري معني په وجه سعيد بن المسيب او داود فرمائي چي ددويم خاوند دصحبت نه بغير دمخكني خاوند سره نكاح كول درست دي ، ليكن په دي باندي اجماع منعقد شوي ده چي ددويم خاوند سره صحبت كول داولني خاوند سره ددوباره نكاح د درست كيدودپاره شرط دي اوهم ددي وجي نه بعضي اهل علمو وئيلي دي

[1] ــ صحيح البخاري في الشهادات ٣ (٢٦٣٩) . صحيح مسلم في النكاح ١٧ (١٤٣٣) . سنن النسائي في النكاح ٤٣ (٣٢٨٥) . والطلاق ١٢ (٣٤٤٠) . (تحفة الأشراف : ١٦٤٣٦) . مسند احمد ٦ في ٣٧ . سنن الدارمي في الطلاق ٤ (٢٣١٣) وأخرجه صحيح البخاري في الطلاق ٣ (٥٢٦) . و٧ (٥٢٦٥) . و٣٧ (٥٣١٧) واللباس ٦ (٥٤٩٢) . والأدب ٦٨ (٦٠٨٤) . صحيح مسلم في النكاح . سنن النسائي في الطلاق ٩ (٣٤٣٧) . و١٠ (٣٤٣٨)

چي په ايت کي دنکاح نه مراد صحبت ذي ځکه چي په لغت کي دنکاح معني صحبت ده.ددي واقعي پس منظر دادي:

عائشه رضي الله عنها فرمائي چي زه او ابوبکر رضي الله عنه درسول کريم صلي الله عليه وسلم سره موجود وو چي په دي وخت کي درفاعه قرظي ښځه راغله او ويي وئيل چي رفاعه ماته مغلظ (دري) طلاق راکړي دي او عبدالرحمن بن زبير زماسره نکاح کړي وه اودده سره نه وو(ذکر)مګرېشان دچيرړي اوپيسکي دڅادر اودخپلي لوپټي پلو ئې ونيولورسول کريم صلي الله عليه وسلم مسکي شو اووئي فرمائيل چي ګني ته رفاعه ته تلل غواړي خودا دهغه وخته پوري نشي کيدي ترڅوچي ته دهغه مزه اوهغه ستا مزه ونه څکي.

دا حديث دمحدثينو يوجماعت نقل کړي دي ، اوپه صحيحينو کي مروي دي چي دا ښځه درفاعه په نکاح کي وه اوبيائي ورته دري طلاق ورکړل.

په مؤطاء کي امام مالك دمسور بن رفاعه قرظي نه اوهغه دزبير بن عبد الرحمن بن زبير نه روايت بيان کړي دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي رفاعه بن سموال خپلي ښځي تميمه بنت وهب ته دري طلاق ورکړي وو ، بيا دتميمي سره عبدالرحمن بن زبير رضي الله عنه نکاح وکړه ليکن هغه (دنامردئ په وجه) نه وه مسح کړي اوددينه ئي جدا والي اختيار کړو. ددينه پس ورسره رفاعه دوباره نکاح کول اوغوښتل نو رسول کريم صلي الله عليه وسلم منع کړو او وئي فرمائيل ترڅوچي عبد الرحمن ددي مزه نوي څکلي ترهغي پوري ستادپاره نه حلاليږي.

ډيرو محدثينو دعائشه رضي الله عنها حديث داسي نقل کړي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس وکړي شو چي يوکس خپلي ښځي ته دري طلاق ورکړي دي بيا هغي دوباره نکاح وکړله او ددويم خاوند سره ئي خلوت هم اوشو ليکن دصحبت کولو نه مخکي ئې ورته طلاق ورکړل نو اوس دانښځه دمخکني خاوند دپاره حلاله ده اوکه نه؟ نو وئي فرمائيل چي نه ترڅوچي دويم خاوند ورسره صحبت نه وي کړي لکه څنګ چي ورسره مخکني خاوند کړي دي.

ابن منذر دمقاتل بن حيان نه روايت نقل کړي دي چي حتي تنکح زوجا غيره ايت د عائشه بنت عبد الرحمن عتيك په حق کي نازل شوي دي اوهغه درفاعه بن وهب بن عتيك په نکاح کي وه اورفاعه دهغه دتره ځوي وو هغه ورته بائن طلاق ورکړل اودعبد الرحمن قرظي سره ئي نکاح وشوه بيا ورته هغه هم طلاق ورکړل اوبيادا ام المؤمنين عائشي په خدمت کي حاضره شوه اوعرض ئي وکړوچي ماته خاوند دصحبت کولو نه مخکي طلاق راکړي دي نو ايا اوس زه مخکني خاوند ته واپس تلي شم؟ نو ورته ئي وفرمائيل چي نه ترڅوپوري چي ده درسره صحبت

نه وي کړي اوپدغه وخت کي دا ايت: "فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ" "فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَنْ يَتَرَاجَعَا" نازل شو.

علامه بغوي ذکر کړي دي چي (ددي قصي نه پس) عائشي څه موده صبر وکړو اوبيا د رسول کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوه اوعرض ئی وکړوچي اي دالله رسوله اوس زما خاوند (دويم) زما سره صحبت کړي دي ، رسول الله ورته اوفرمائيل چي تخپل اولني قول دروغ ثابت کړولهذا پدي دويم قول کي دي مونږ تصديق نه کوونو خاموش پاتي شوه تر دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم وفات شو، بياد ابوبکر رضي الله عنه په خدمت کي حاضره شوه اوعرض ئی وکړوچي زما خاوند (دويم) زما سره صحبت کړي دي اوماته ئي طلاق راکړي دي ابوبکر رضي الله عنه اوفرمائيل ته خو رسول کريم صلي الله عليه وسلم ته هم راغلي وي اوستاپه باره کي چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم څه فرمائيلي وو هغه هرچاته معلوم دي پس ته اولني خاوند ته نشي واپس کيدی ، بيا ابوبکر رضي الله عنه هم وفات شو نو عمر رضي الله عنه ته راغله اوهمدارنګي ئي هغه ته هم ووئيل عمرفاروق رضي الله عنه ورته اوفرمائيل که چري ته خپل مخکني خاوند ته واپس ورغلي نو زه به دي سنګسار کړم.

د نکاح نه عقد مراد کول ددي حديث په وجه به په کتاب الله باندي زيادت لازميږي اوپه خبر واحد سره په کتاب الله باندي زيادت کول دامام شافعي په نزد باندي جائز دي ليکن دامام ابوحنيفه په نزد باندي مشکل دي ځکه چي دده په نزد جائز ندي ، بعض علماؤ د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په مذهب کي داتوجيه کړي ده چي دا حديث مشهور دي پدي سره په کتاب الله باندي زيادت جائز دي ليکن داسي وئيل درست ندي ځکه چي داحديث داحادو دجملي نه دي، مګر دومره وئيلي شي، هر کله چي ددي حديث په موافقت باندي اجماع شوي ده اوجمهورودي لره قبول کړي دي نوپدي وجه دمشهور په حکم کي شو نوځکه پدي سره په کتاب الله باندي زيادت کول جائز شو.

**مسئله**: پدي مسئله دټولو اتفاق دي چي ددويم خاوند سره صحبت کول داولني خاوند دري طلاقونولره ختموي پس که چري دغه ښځه بيرته دوباره مخکني خاوند ته لاړه شي نوهغه په اجماع سره دوباره د دري طلاقو ورکولو مالك جوړيږي.

مګر په دي کي اختلاف دي چي ددري طلاقونه کم هم ختموي اوکه نه يعني که چري اولني خاوند يو يا دوه طلاقونه ورکړي وي اوددينه پس عدت هم پوره شوي وي اوبيادي سره دويم خاوند په نکاح صحيحه سره نکاح کړي وي او بيا ورته دويم خاوند هم دصحبت کولو نه پس طلاق ورکړي وي اودعدت پوره کيدو نه پس دا خپل مخکني خاوند ته لاړه شي نو اوس به

مخکني خاوند د دري طلاقو مالك جوړيږي او کنه؟، ديو يا دوه طلاقونو نه پس ددي باقي طلاقونو مالك جوړيږي ؟

دامام ابوحنيفه او امام ابو يوسف رحمهما الله قول دا دي چي ددويم خاوند سره صحبت کول د دري طلاقونونه کم طلاقونه هم ختموي اواولني خاوند د ابتداء نه د پوره دري طلاقو مالك جوړيږي

امام محمد فرمائي چي د دري طلاقونه کم لره نه شي ختمولي.

**مسئله:** پدي کي دائمه کرامو اختلاف دي چي اولني خاوند که چري ښځه په دري طلاقو طلاقيدونه پس دبل چا سره پدي شرط سره نکاح وکړي چي ماته به طلاق راکوي اوهغه ورسره دصحبت کولونه پس طلاق ورکړل نودعدت پوره کولو نه پس

(۱) د امام ابوحنيفه په نزد باندي په نکاح صحيحه کي دصحبت کولو په وجه دا ښځه دخپل رومبني خاوند دپاره حلاله شوه اوپه شرطونوسره نکاح نه باطليږي.

(۲) دامام محمد نه مروي دي چي نکاح خوبه ئي (ددويم خاوند سره) صحيح وي ليکن درومبني خاوند دپاره حلاله نشوه ځکه چي ده په هغه معامله کي جلتي وکړه کومه چي شروع موخر کړي وه پس دخپل مقصود دنه پوره کولو دسزا په وجه به دا حلاله نه وي لکه څنګه چي دمورث دقتل کولو په صورت کي وي (چي قاتل ته ميراث نه ملاويږي)

(۳) امام احمد او امام مالك او امام ابويوسف رحمهم الله دري واړو وئيلي دي چي دغه (دويمه) نکاح به صحيح بالکل نه وي .

(۴) اود امام شافعي نه پدي باره کي دوه قولونه دي صحيح قول ئي دادي چي نکاح درست نده، ځکه چي داد موقوف نکاح په حکم کي ده اوکله چي نکاح صحيح نه وي نوبيا خو درومبني خاوند دپاره نده حلاله شوي، پدي وجه چي دحلاليدو شرط پکي ونه موندلي شوا وهغه شرط صحيح نکاح ده اوددي نکاح په نه صحيح کيدو باندي ائمه کرامو دابن مسعود رضي الله عنه دحديث نه استدلال کړي دي فرمائيل ئي چي په محلل او محلل له باندي رسول الله صلي الله عليه وسلم لعنت فرمائيلي دي دا حديث دارمي نقل کړي دي اوترمذي صحيح ګڼړلي دي، ابن ماجه دعلي، ابن عباس، عقبه بن عامر رضي الله عنهم نه روايت نقل کړي دي

بهر حال داحديث زمونږ دپاره دليل دي نه چي په مونږ باندي دليل دي ځکه چي رسول کريم صلي الله عليه وسلم دويم خاوند محلل ګڼړلي دي پس لفظ دحلت په ثبوت باندي دلالت کوي اوپدي دنکاح صحيح کيدل لازميږي مګر دا جدا خبره ده چي ددي دويم خاوند دحرام کار په ارتکاب باندي دلالت کوي اوددي مونږ هم قائل يو پس که چري ددښځي سره چانکاح وکړه اوداشرط ئي مقررهم نکړو مګرپه زړه کي ئي داخبره وه چي دي لره به طلاق ورکوم نود امام

ابو حنيفه او صاحبينو او شافعي په نزد باندي به نكاح صحيح وي . د امام مالك او احمد قول دادي چي اوس به هم صحيح نه وي او ددي په مكروه كيدو كي دهيڅ اختلاف نشته .
امام بغوي وئيلي دي چي نافع فرمائيلي دي چي يو كس ابن عمر رضي الله عنهما ته راغي او عرض ئي وكړو چي يو سړي خپلي ښځي ته دري طلاق وركړي وو نو دده ورور بغير دتپوس كولو نه دده نه ئي نكاح ددي ښځي سره وكړه ددي دپاره چي دمخكني دپاره حلاله شي (نو ستاسو پدي باره كي څه حكم دي)نو وئي فرمائيل چي نه حلاليږي د ښځي سره نكاح دخان سره دساتلو دپاره وي( نه چي دطلاقولو دپاره) دنبي كريم صلي الله په زمانه كي به مونږ داسي كس زناكار شميرلو ، او الله تعالي په محلل او محلل له باندي لعنت فرمائيلي دي والله اعلم بالصواب.

*****************

## ٢٨ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُحِلِّ وَالْمُحَلَّلِ لَهُ

### دحلاله كونكي او دچا دپاره چي حلاله كيږي ددوئ دپاره دوعيد بيان

١١١٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ. حَدَّثَنَا أَشْعَثُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ زُبَيْدٍ الْأَيَامِيُّ. حَدَّثَنَا مُجَالِدٌ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَا: " إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ الْمُحِلَّ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ، وَجَابِرٍ حَدِيثٌ مَعْلُولٌ، وَهَكَذَا رَوَى أَشْعَثُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ عَامِرٍ هُوَ: الشَّعْبِيُّ، عنْ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَعَامِرٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهَذَا حَدِيثٌ لَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَائِمِ، لِأَنَّ مُجَالِدَ بْنَ سَعِيدٍ قَدْ ضَعَّفَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْهُمْ أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، وَرَوَى عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَهَذَا قَدْ وَهِمَ فِيهِ ابْنُ نُمَيْرٍ، وَالْحَدِيثُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ، وَقَدْ رَوَاهُ مُغِيرَةُ، وَابْنُ أَبِي خَالِدٍ، وغير واحد، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عنْ الْحَارِثِ، عَنْ عَلِيٍّ. [1]

**ترجمه** دعلي رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په حلاله كونكي او دچا دپاره چي حلاله كيږي په دواړو لعنت وئيلي دي

[1] ـ تفرد به المؤلف سنن ابي داود في النكاح ١٦ (٢٠٧٦) . سنن ابن ماجه في النكاح ٣٣ (١٩٣٣) . (تحفة الأشراف : ٢٢٤٨و١٠٠٣٢) . مسند احمد (١/ ٨٧)

امام ترمذي وائي دعلي او جابر رضي الله عنهما حديث معلول دي، دا رنگي ددي پشان روايت اشعث بن عبدالرحمن په سند د مجالد عن عامر هو الشعبي عن الحارث عن علي سره هم نقل کړي دي. او عامر شعبي په سند دجابر بن عبدالله عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي، ددي حديث سند صحيح نه دي ځکه چي مجالد بن سعيد دبعضي اهل علمو په نزد ضعيف دي او احمد بن حنبل دده تضعيف کړي دي. دارنگي عبدالله بن نمير دا حديث په سند د مجالد عن عامر عن جابر بن عبدالله عن علي رضي الله عنه سره نقل کړي دي او په دي سند کي ابن نمير ته وهم واقع شوي دي مگر ددي په نسبت اولني حديث زيات صحيح دي او دا حديث مغيره بن ابي خالد او بعضي نورو راويانو په سند د الشعبي عن الحارث عن علي سره نقل کړي دي، او په دي باب کي دابن مسعود، ابوهريره، عقبه بن عامر، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

١١٢٠_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ الزُّبَيْرِيُّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي قَيْسٍ، عَنْ هُزَيْلِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: "لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُحِلَّ وَالْمُحَلَّلَ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو قَيْسٍ الْأَوْدِيُّ اسْمُهُ: عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ ثَرْوَانَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَعُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عَمْرٍو وَغَيْرُهُمْ، وَهُوَ قَوْلُ: الْفُقَهَاءِ مِنَ التَّابِعِينَ، وَبِهِ يَقُولُ: سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، وَابْنُ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، قَالَ: وسَمِعْت الْجَارُودَ بْنَ مُعَاذٍ يَذْكُرُ، عَنْ وَكِيعٍ، أَنَّهُ قَالَ بِهَذَا، وقَالَ: يَنْبَغِي أَنْ يُرْمَى بِهَذَا الْبَابِ مِنْ قَوْلِ أَصْحَابِ الرَّأْيِ، قَالَ جَارُودُ: قَالَ وَكِيعٌ: وَقَالَ سُفْيَانُ: إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ لِيُحَلِّلَهَا ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يُمْسِكَهَا فَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُمْسِكَهَا حَتَّى يَتَزَوَّجَهَا بِنِكَاحٍ جَدِيدٍ. [1]

---

[1] _ صحيح البخاري في المغازي ٣١ (٢٢١٦) ، والنكاح ٣١ (٥١١٥) ، والذبائح ٢٨ (٥٥٢٣) ، والحيل ٢ (٦٩٦١) ، صحيح مسلم في النكاح ٣ (١٤٠٧) ، الصيد والذبائح ٥ (١٤٠٧) ، سنن النسائي في النكاح ٧١ (٣٣٦٧) ، والصيد ٣١ (٤٣٣٩) ، سنن ابن ماجه في النكاح ٤٤ (١٩٦١) ، موطا امام مالك في النكاح ١٨ (٤١) ، مسند احمد (١/ ٧٩) ، سنن الدارمي في النكاح ١٦ (٢٢٢٣) ويأتي عند المؤلف في الأطعمة ٦ (١٧٩٤)

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په حلاله كونكي او دچاد پاره چي حلاله كولي شي په دواړو لعنت وئيلي دي.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، او دا حديث درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په يو څو نورو سندونو هم مروي دي دصحابه كرامو او ددوئ نه پس داهل علمو په دي باندي عمل دي چي عمر بن الخطاب ، عثمان بن عفان، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم وغيره هم په دوئ كي شامل دي او همدا په تابعينو كي دفقهاؤ قول هم دي او سفيان ثوري، ابن مبارك، شافعي، احمد ، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي او وكيع دا هم وئيلي دي چي داصحاب الرائي قول غورځول پكار دي، سفيان ثوري وائي يو سړي چي كله ديوي ښځي سره په دي نيت نكاح كوي چي دي به دي لره داولني خاوند دپاره حلالوي او بيا ورته مناسب ښكاره شي چي دا دځان سره حصاره كړي او پري يي نږدي نو دده دپاره جائز نه دي چي دا دځان سره اوساتي تردي پوري چي په نوي نكاح يي نكاح كړي نه وي.

**تخريج** : سنن النسائي في الطلاق ١٣ (٣٤٤٥) ، (في سياق طويل) (تحفة الأشراف : ٩٥٩٥) . مسند احمد (١ في ٤٤٨، ٤٥٠، ٤٥١، ٤٦٢) . سنن الدارمي في النكاح ٥٣ (٢٣٠٤)

******************

## ٢٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي تَحْرِيمِ نِكَاحِ الْمُتْعَةِ

### د نكاح متعه دحرمت بيان

١١٢١_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، وَالْحَسَنِ ابني محمد بن علي، عَنْ أَبِيهِمَا، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ مُتْعَةِ النِّسَاءِ وَعَنْ لُحُومِ الْحُمُرِ الْأَهْلِيَّةِ زَمَنَ خَيْبَرَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَبْرَةَ الْجُهَنِيِّ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. وَإِنَّمَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ شَيْءٌ مِنَ الرُّخْصَةِ فِي الْمُتْعَةِ. ثُمَّ رَجَعَ عَنْ قَوْلِهِ حَيْثُ أُخْبِرَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَأَمْرُ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى تَحْرِيمِ الْمُتْعَةِ. وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (١)

**ترجمه** علي رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دخيبر دفتح په ورځ د ښځو سره دمتعي كولو نه او دكورنو خرو دغوښي خوړلو نه ممانعت فرمائيلي دي

١ قلت تفرد به المؤلف رحمه الله تعالي

امام ترمذي وائي دعلي رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي د سبره جهني، او ابوهريره رضي الله عنه نه هم احاديث مروي دي دصحابه کرامو او اهل علمو وغيره هم په دي باندي عمل دي البته دابن عباس نه څه قدري اجازت دمتعي مروي دي مګر بيا هغوئ دخپل قول نه رجوع کړي ده چي کله ورته دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه په دي باره کي خبر ورکړي شو اکثر اهل علمو دمتعي په حرمت قول کړي دي اوهمدادسفيان ثوري او ابن مبارك او شافعي او احمد اواسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي

**تشريح** : متعه داسي عقد دي په کوم کي چي دمهرتعين وي اودمودي تعين هم وي مقرري مودي نه پس ښځه بائنه کيږي مګر داستقرار حمل نه درحم دپاکيدو دپاره ديوحيض تيريدو ته انتظار کول وي ، که چري په موده کي دننه په زوجينو کي کوم يو مړشو نو يوته دبل ميراث هم نه ملاويږي ، پداسي عقد کونکو باندي نه دزوج اطلاق کيږي او نه دزوجي (يعني دوئ پخپلو کي ښځه اوخاوند نه وي).

عبد الرزاق په مصنف کي دابن جريج په روايت سره دعطاء قول نقل کړي دي چي ابن عباس رضي الله عنهما به متعه حلاله ګڼړله اوددي دثبوت دپاره به ئي دا ايت کريمه فما استمتعتم به منهن لوستلو. ابن عباس رضي الله عنهما داهم فرمائيلي دي چي د اُبيّ بن کعب په قراءت کي په دي ايت کي الي اجل مسمي لفظ هم ذکرشوي دي اوفرمائيل به ئي په عمر رضي الله عنه دي الله تعالي رحم وکړي داد الله تعالي په بندګانو دالله يورحمت دي که چري هغه ممانعت نه وي کړي نو زنا ته ضرورت بلکل نه پاتي کيدو.

دابن عبد البر بيان دي چي ابن عباس رضي الله عنهما نه دمتعي په باره تپوس وکړي شو چي دا نکاح ده اوکه زنا؟ نو وئي فرمائيل دا داسي ده لکه چي الله تعالي فرمائيلي دي ، نوبيا ورنه تپوس وکړي شو چي ايا ددي دعدت دپاره حيض راتلو ته ضرورت شته اوکه نه نو وئي فرمائيل چي هو ما بيا ورنه تپوس وکړو متعه کونکي نارينه اوزنانه پخپل مينځ کي وارثان جوړيږي اوکه نه نو وئي فرمائيل چي نه ، دمتعي دحلت قول دصحابه کرامو يوجماعت ته منسوب دي .

نسائي اوطحاوي ليکلي دي چي اسماء بنت الصديق فرمائيلي دي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي داسي کړي وو ، مسلم دجابر رضي الله عنه نه روايت بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او ابوبکر اوعمر دخلافت په ابتدائي زمانه کي متعه کړي وه نوعمر فاروق رضي الله عنه مونږ په اخري دور خلافت کي منع کړونوبيا مونږ دهغه دحکم نه تجاوز ونکړو.

طحاوي دجابر رضي الله عنه اوسلمه بن الاکوع په روايت سره بيان کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دصحابه کرامو سره تشريف راوړو اودمتعي اجازت ئي ورکړو

په صحيحينو کي دابن مسعود رضي الله عنه قول منقول دي چي مونږ ته رسول الله صلي الله عليه وسلم اجازت راکړي وو چي دښځو سره دمقرري مودي پوري نکاح کيدي شي بياابن مسعودرضي الله عنه دا ايت کريمه : يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تُحَرِّمُوا طَيِّبَاتِ مَا أَحَلَّ اللَّهُ لَكُمْ. تلاوت کړو.

دصحابه کرامو ددي اثارونه دمتعي جواز خو معلوم شو ليکن نه منسوخ کيدل ورنه نه معلوميږي صرف دابن عباس رضي الله عنهما اثر اودابن مسعود په قراءت سره غيرمنسوخ کيدل معلوميږي.

عبدالرزاق په مصنف کي ليکلي دي چي معاويه رضي الله عنه په طائف کي ديوي ښځي سره متعه کړي وه.

عمرو بن شيبه په اخبارالمدينه کي پخپل سند سره ليکلي دي چي سلمه بن اميه ديوي ښځي سره متعه کړي وه کله چي عمر رضي الله عنه ته ددي خبراورسيدو نوده ته يي دهمکي ورکړه ، عبدالرزاق په مصنف کي ليکلي دي چي معبد بن اميه دمتعي دحلت قائل وو ، حافظ ابن حجر ليکلي دي چي دمتعي دحلت فتوي دتابعينو يو جماعت ورکړي ده په کومو کي چي ابن جريج، طاوس ، عطاء اودابن عباس رضي الله عنهما شاګرد اوسعيد بن جبير او فقهاء دمکي هم وو په دي بنا باندي حاکم په علوم الحديث کي داوزاعي قول نقل کړي دي چي داهل حجاز پنځه اقوال متروک دي په دوئ کي داهل مکي حلت دمتعي قول اوداهل مدينه قول چي دخپلي بي بي سره دلواطت د حلت قول.

**مسئله:** دمتعي په ناجائز اوحرام کيدو باندي اجماع شوي ده علاوه دشيعه فرقي نه بل څوک ددي دحلت قائل نه دي دمتعي دحرمت ثبوت په دي ايت کريمه کي دي الله تعالي فرمائيلي دي : وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ ، إِلَّا عَلَىٰ أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ. متعي والا زنانو ته ښځي نه شي وئيلي اونه هغه مملوکه ده نوپه دي وجه باندي متعه کونکي سړي اوښځه کي دتوارث سلسله قائمه نه وي.

که چري ددي ايت تفسير دابن عباس رضي الله عنهما دمسلك متعلق اوکړي نوبيا ددي منسوخ منل لازميږي ،اوحالانکه دا ايت دټولو په نزد باندي محکم دي منسوخ نه دي، مسلم ليکلي دي چي دربيع بن صبره بن معبد جهني بيان دي چي ماته زما پلار اووئيل زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په مجلس کي موجود وم چي ويي فرمائيل اي خلقو ما دښځوسره دمتعي کولو اجازت ورکړي وو خو اوس الله تعالي دقيامته پوري متع حرامه کړي ده لهذا که چري دچا سره کومه داسي ښځه وي نوهغه دي ازاده کړي اوڅه چي ورته تاسو ورکړي وي په هغي کي به ورنه واپس څه نه اخلئ.

مسلم دمذكوره راوي دا بيان هم نقل كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته دمتعي اجازت راكړي وو نو په دي وجه باندي زه او يو بل سړي يوي عامريه ښځي ته لاړو چي خوانه او اوږدي غړئ والا وه مونږ دواړو ورته درخواست اوكړو هغي راته ووئيل ماته به څه راكوي ما ورته ووئيل خپل څادر به دركړم اوزما ملګري ورته هم خپل څادر پيش كړوليكن دهغه څادر زما دڅادر نه بهتر وو مګرزه دهغه نه ښكلي خوان وم نوښځي دهغه څادر لره خوښ كړو اوچي زه ئي وليدم نوزه ئي خوښ كړم او وئي وئيل ستا څادر زما دپاره كافي دي ته زما خوښ ئي ، چنانچه زه ورسره دري شپي پاتي شوم ، ددينه پس رسول الله اوفرمائيل دهرچا سره چي دمتعي والا ښځه وي هغه دي دي لره پريږدي.

ابن ماجه په صحيح سند سره روايت بيان كړي دي چي اميرالمومنين عمر رضي الله عنه خطبه وركړه او ويي فرمائيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته ددري ورځو پوري دمتعي اجازت راكړي وو خو بيا يي حرامه كړه نواوس كه چري زه چالره اووينم چي متعه يي كړي ده نو په الله مي دي قسم وي په كاڼرو به يي اوولم او هلاك به يي كړم خو په دي شرط چي هغه شادي شده وي ، په بل روايت كي راغلي دي اميرالمؤمنين عمر رضي الله عنه خطبه وركړه او ويي فرمائيل خلق متعه ولي كوي حالانكه رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي نه ممانعت فرمائيلي دي كه چري چا متعه كړي وي او ماته راوستلي شو نوزه به يي ضرور سنګسار كرم.

دابن عمر رضي الله عنه نه دمتعي دحكم په باره كي تپوس اوكړي شو نو ويي فرمائيل چي حرامه ده اوچي دابن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوكړي شو نودجواز فتوي يي وركړه نوده ته اووئيلي شول چي دعمر رضي الله عنه په زمانه كي دي داسي ولي نه وئيل.

دسلمه بن اكوع رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم داوطاس والاسره د دري ورځودپاره مونږ ته دمتعي اجازت راكړي وو خو بيا يي ممانعت اوفرمائيلو (مسلم)

دا هم دمسلم روايت دي چي صبره بن معبد رضي الله عنه اوفرمائيل دمكي دفتح كيدو په كال كله چي مونږ مكي ته داخل شو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته د متعي اجازت راكړي وو خو بيا يي دمكي نه دوتو نه مخكي ممانعت اوفرمائيلو.

حازمي په خپل سند سره دجابر رضي الله عنه بيان نقل كړي دي چي مونږ درسول الله صلي الله عليه وسلم په ملګرتيا كي دتبوك جهاد ته تلي وو كله چي عقبه (په شام كي ديوي علاقي نوم دي) ته ورسيدو نودهغه علاقي بعضي ښځي راغلي مونږ ورسره متعه اوكړه په دي خيال چي دوئ به زمونږ په اوښانو باندي سوري شي ليكن بيا چي رسول الله صلي الله عليه وسلم راغي او ښځي يي اوليدلي نو ويي فرمائيل چي دا څوك دي مونږ عرض اوكړو اي دالله رسوله دا هغه ښځي دي چي مونږ ورسره متعه كړي ده ددي په اوريدو سره نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته دومره غصه ورغله چي مخ مبارك يي سور شو او رنګ يي بدل شو او پاڅيدو او يوه خطبه يي

ارشاد اوفرمائیلو او دحمد اوثنا نه پس یي دمتعي ممانعت اوفرمائیلو دحکم په اوریدو سره مونږ دوئ لره رخصت کړي او بیا موداسي حرکت نه دي کړي اونه به په ائینده کي چرته داسي اوکړو.

طحاوي نقل کړي دي چي ابوهریره رضي الله عنه فرمائیلي دي مونږ درسول الله په ملګرتیا کي دتبوك جهاد ته اووتلو اورسول الله په ثنیة الوداع کي پړاؤ اچولي وو هلته یي رڼړا ګاني اولیدي او څه ښځي یي په ژړا اولیدي نو ویي فرمائیل دا څه خبره ده نو ورته اوونیلي شول دا هغه ښځي دي چي خاوندانو یي ورسره متعه کړي وه او اوس ورنه جدا کیږي نورسول کریم صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل دطلاق اونکاح او عدت اومیراث په قانون سره الله تعالي متعي لره حرامه اوباطله کړي ده ، د دار قطني دروایت الفاظ دا دي چي الله تعالي د طلاق اوعدت او میراث په حکم سره د متعي جواز ختم کړي دي.

حسن اوعبدالله چي دمحمد بن حنفیه ځامن دي روایت کوي چي محمد بن علي اوریدلي چي ابن عباس رضي الله عنهما دمتعي په باره کي نرم وونو وئي فرمائیل اي ابن عباس داسي خبري پریږده ځکه چي دخیبر په ورځ رسول الله دمتعي نه اودکورنو خرو دغوښي نه ممانعت فرمائیلي وو ، په بل روایت کي راغلي دي چي ابن حنفیه ووئیل اي ابن عباس پتا کي څه ګمراهي ده(بخاري ومسلم).

مسلم په سند دعروه بن الزبیر رضي الله عنه سره بیان کړي دي چي دعبدالله بن زبیر رضي الله عنه په مکه کي اودریدو او ویي فرمائیل چي الله تعالي دبعضي خلقو زړونه داسي ړانده کړي دي لکه څرنګه چي یي ددوئ سترګي ړندي کړي دي هغوئ دمتعي په جواز باندي فتوي ورکوي او ابن عباس رضي الله عنهما ته یي تعریض کولو ځکه چي په اخري عمر کي دابن عباس رضي الله عنهما نظر ختم شوي وو ابن عباس ابن زبیر ته په چغه اوونیل یقینا ته احمق یي په الله قسم دامام المتقین یعني درسول الله صلي الله علیه وسلم په زمانه کي متعه کیدله ابن زبیر په جواب کي اوونیل ته پخپله تجربه اوکړه او اوګوره په الله قسم که چري تا داسي اوکړل نوزه به دي سنګسار کړم

ابن ابي عمره انصاري اوفرمائیل په شروع داسلام کي دمجبوره کس دپاره دمتعي اجازت وو لکه دمرداري اودخنزیر دغوښي خوړل لیکن بیا الله تعالي دین محکم کړو او دمتعي نه یي ممانعت اوفرمائیلو.

بیهقي دزهري قول نقل کړي دي چي ابن عباس رضي الله عنهما دوفات کیدو نه مخکي دمتعي دحلت دفتوي نه رجوع کړي وه . ابو عوانه پخپل صحیح کي هم داسي ذکر کړي دي ابوداود په ناسخ کي او ابن المنذر او نحاذ دعطاء په روایت سره بیان کړي دي چي دا ایت دي ایاتونو

: يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَطَلِّقُوهُنَّ لِعِدَّتِهِنَّ. اوهمدا رنگي: وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنْفُسِهِنَّ ثَلَاثَةَ قُرُوءٍ. او ايت: وَاللَّائِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ. منسوخ كړي دي، بيهقي وغيره دابن مسعود او ابوداود او بيهقي دسعيد بن المسيب قول نقل كړي دي چي متعه په ايت دميراث سره منسوخ شوي ده.

ترمذي دابن عباس رضي الله عنهما قول نقل كړي دي چي متعه په شروع داسلام كي جائز وه كله چي به څوك داسي علاقي ته لاړو چي هلته به يي شناخت نه وو نو ترڅومره مودي چي به هلته اوسيدلو ددغه هومره مودي دپاره به يي دكومي ښځي سره نكاح اوكړه ښځي به دده دسامانونو حفاظت كولو اودده ضروريات به يي برابرول تردي چي ايت كريمه :الا علي ازواجهم اوماملكت ايمانهم ، نازل شو ، ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل دخپلي ښځي اووينځي نه علاوه اوس هره شرمګاه حرامه ده.

غرض دا چي شايد دابن زبير اونورو علماؤ سره دمناظري كولو نه پس ابن عباس دخپلي مخكنۍ فتوي نه رجوع كړي وي اودمتعي منسوخ كيدل ورته ظاهر شوي دي، داهم په رواياتوكي راغلي دي چي ابن عباس به دمتعي فتوي صرف په هغه حالت كي وركوله كله چي به څوك په سفر كي مجبور او مضطر وو ، حازمي دسعيد بن جبير قول نقل كړي دي چي وبي فرمائيل ما ابن عباس ته عرض اوكړو ستا فتوي قافلو څلورو طرفونو ته اورېدلي ده اوشاعرانو هم ددي فتوي متعلق شاعري كړي ده، ابن عباس اوفرمائيل شاعرانو څه وئيلي دي ما اووئيل دا شعريي وئيلي دي:

قد قلت للشيخ لما طال محبسه ... يا صاحبي هل لك في فتوى ابن عباس

هل لك في رخصة الأطراف أنسة ... يكون مثواك حتى يصدر الناس.

كله چي دشيخ قيام طويل شو نو ماورته اووئيل زما دوسته ايا دابن عباس په فتوي باندي دتلو خواهش لري . ايا دنازكو اونرمو ګوتووالا ښځي ته دي ضرورت شته چي دواپسۍ پوري ستاد قيام مركزوي.

ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل سبحان الله ما خودداسي فتوي نه ده وركړي متعه خو داسي ده لكه دمرداري او دويني اودخنزير دغوښي پشان چي دمجبورۍ دحالت نه علاوه دچادپاره جائز نه ده، ابن منذر پخپل تفسير كي او بيهقي هم په سنن كي دا روايت بيان كړي دي ليكن دهغه په روايت كي دا الفاظ هم دي انا لله وانا اليه راجعون، په الله قسم ما خودذي فتوي نه ده وركړي اونه دا زما مراد دي او نه دمجبورۍ نه علاوه دبل چادپاره ما متعه حلاله ګرځولي ده .

ابن جريج هم دخپلي فتوي نه رجوع کړي وه ابوعوانه پخپل صحيح کي ليکلي دي چي ابن جريج په بصره کي اوفرمائيل تاسو گواه شئ چي ما ددينه رجوع وکړله ، يعني دمتعي دحلت دفتوي نه مخکي دمتعي دجواز په تائيد کي ابن جريج اتلس احاديث بيان کړي وو.

يوه شبه: دمسلم په بعضي رواياتوکي راغلي دي چي دمتعي دحلت اوحرمت دواړو کيدل داوطاس په کال کي ذکر شوي دي ، اوپه بعضي رواياتوکي راغلي دي چي دفتح مکي په کال متعه حرامه شوي وه اودصحيحينو په روايت کي راغلي دي چي د غزوه خيبر په ورځ متعه حرامه شوي وه اوپه بعضي رواياتو کي دممانعت صدور ذکر په غزوه تبوک کي شوي دي ، په رواياتوکي دتعارض دفع کولو څه صورت دي؟

ازاله: داوطاس جهاد دفتح مکي سره نزدي په يو کال کي شوي وو پاتي شوه دخيبر په ورځ دحرمت کيدو معامله نو داپيژندل ضروري دي چي دمتعي اجازت دوه ځله ورکړي شوي وو اوهرځل اجازت منسوخ کړي شوي وو اخر داچي ددائمي حرمت فيصله وکړي شوه.

بغوي دربيع بن سليمان په واسطي سره نقل کړي دي چي امام شافعي وايي چي دمتعي نه علاوه ماته کوم بل داسي څيز په اسلام کي معلوم نه دي چي دحلاليدو نه پس حرام شوي وي او بياحلال شوي وي اوبيا حرام شوي وي ، بعضي علماؤ وئيلي دي چي متعه دري پيري منسوخ شوي ده اودبعضو په نزد باندي ددري پيرونه هم زياته منسوخ شوي ده.

باقي داچي عزوه تبوک کي دممانعت ذکر نوددينه دا مراد نه دي چي دتبوک نه مخکي اجازت وو او په تبوک کي ممانعت راغي بلکي مطلب دا دي په تبوک کي چي چا متعه کړي وه هغوئ ته دا معلومه نه وه چي متعه په دائمي طور حرامه شوي ده نوځکه دمتعي دخبرپه اوريدو سره رسول الله صلي الله عليه وسلم دومره غصه شو چي دمخ مبارک رنګ يي بدل شو او په خطبه کي يي ددي دممانعت ياداشت اوکړو ، دحازمي بيان دي چي په وطن کي اوپه کور کي داوسيدو په حالت کي خو دمتعي اجازت هيڅ کله نه وو ورکړي شوي ليکن په بعضي اوقاتو کي دضرورت په بنا اجازت ورکړي شوي وو او په حجة الوداع کي ددي حرمت هم راغي او دائمي حرمت صادر شو.

**مسئله**: دذکر شوي تفسير په بنا باندي ظاهرا دجماع نه بغير ښځه دمهر مستحقه نه وي لهذا دامام مالك قول په دي ايت سره ثابتيږي ځکه چي دهغه مسلك دا دي چي صرف په نکاح سره ښځه دپوره مهر مستحقه نه جوړيږي دنيم مهر مستحقه جوړيږي مګر دجماع يا په مرګ سره دپوره مهر مستحقه جوړيږي.

دجمهورو په نزد باندي صرف په نکاح سره د کامل مهر مستحقه کيږي مګر بغير دجماع نه په طلاق ورکولو سره نيم مهر ساقطيږي ځکه چي په ايت ان تبتغوا باموالکم کي باء دالصاق دپاره ده لهذا په عقد کولوسره مهر واجبيږي دجماع کولو پوري وجوب دمال مؤخر کول دايت

دمدلول نه خلاف دي ، ددي ايت نه صرف دومره معلوميږي چي په قربت كولوسره مهر واجبيږي اوقربت نه پس دمهر دسقوط احتمال هم باقي نه پاتي كيږي اودا نه معلوميږي چي صرف دنكاح نه پس بغير دجماع نه مهر واجب نه وي ددي مفهوم دطرف نه ايت خاموش دي لهذا دامام مالك استدلال غلط دي او په دواړه اياتونو كي څه تضاد نشته ځكه چي ښځه په محض عقد كولوسره دمهر مالكه كيږي نوپه دي وجه باندي دمهر دوصول كولونه بغير خاوند لره دقربت نه منع كول او دهغه سره په سفر كي دتلو نه انكار كولو ديته حق حاصل دي . اوكه چري په مهر كي دكوم غلام نوم ياد شوي وي نو ښځه يي ازادولي شي اوخاوند يي نه شي ازادولي .

* * * * * * * * * * * * * * * *

١١٢٢ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُقْبَةَ أَخُو قَبِيصَةَ بْنِ عُقْبَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: " إِنَّمَا كَانَتِ الْمُتْعَةُ فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ كَانَ الرَّجُلُ يَقْدَمُ الْبَلْدَةَ لَيْسَ لَهُ بِهَا مَعْرِفَةٌ فَيَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ بِقَدْرِ مَا يَرَى أَنَّهُ يُقِيمُ، فَتَحْفَظُ لَهُ مَتَاعَهُ وَتُصْلِحُ لَهُ شَيْئَهُ حَتَّى إِذَا نَزَلَتِ الْآيَةُ إِلا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ سورة المؤمنون آية ٦ ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: " فَكُلُّ فَرْجٍ سِوَى هَذَيْنِ فَهُوَ حَرَامٌ ".[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي متعه په ابتداء داسلام كي جائز وه ځوك چي به كله كوم داسي ښار ته لاړو چرته چي به دهغه پيژندګلي نه وه نو هغه به دځپل قيام دمودي پوري دكومي ښځي سره نكاح كوله او هغي به دده دسامان حفاظت كولو تردي پوري چي كله ايت كريمه "الا علي ازواجهم او ماملكت ايمانهم" نازل شو نو ابن عباس رضي الله عنهما وائي چي ددي دواړو نه علاوه باقي تمام شرمګاهونه حرام شول.

* * * * * * * * * * * * * * * *

## ٣٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ نِكَاحِ الشِّغَارِ

### دشغار (يوه ښځي دبلي په عوض كي په نكاح وركولو) دحرمت بيان

١١٢٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، حَدَّثَنَا حُمَيْدٌ وَهُوَ الطَّوِيلُ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْحَسَنُ، عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا جَلَبَ وَلَا جَنَبَ وَلَا شِغَارَ فِي الْإِسْلَامِ، وَمَنِ انْتَهَبَ نُهْبَةً فَلَيْسَ مِنَّا ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٦٤٣٩)

حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي رَيْحَانَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَمُعَاوِيَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَوَائِلِ بْنِ حُجْرٍ. (1)

**ترجمه** : دعمران بن حصين رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په اسلام كي نه جلب شته او نه جنب او نه شغار او څوك چي دچا كوم څيز لره اوتختوي هغه زمونږ نه نه دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دانس، ابوريحانه، ابن عمر، جابر، معاويه، ابوهريره، او وائل بن حجر رضي الله عنه نه هم احاديث مروي دي

*****************

١١٢٤ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَرَوْنَ نِكَاحَ الشِّغَارِ، وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ ابْنَتَهُ أَوْ أُخْتَهُ، وَلَا صَدَاقَ بَيْنَهُمَا، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: نِكَاحُ الشِّغَارِ مَفْسُوخٌ، وَلَا يَحِلُّ وَإِنْ جُعِلَ لَهُمَا صَدَاقًا، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَرُوِيَ عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، أَنَّهُ قَالَ: يُقَرَّانِ عَلَى نِكَاحِهِمَا وَيُجْعَلُ لَهُمَا صَدَاقُ الْمِثْلِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَهْلِ الْكُوفَةِ. (2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دشغار دنكاح نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي، داكثرو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي او دوئ نكاح دشغار درست نه گنړي، او شغار ديته وائي چي يو كس دخپلي لور نكاح دچا سره په دي شرط اوكړي چي هغه به دخپلي لور يا خور نكاح دده سره كوي او ددواړو په مينځ كي

---

[1] ـ سنن ابی داود في الجهاد ٧٠ (٢٥٨١). مقتصرا على قوله " لا جلب ولا جنب " سنن ابی داود في النكاح ٦٠ (٣٣٣٧). والخيل ١٥ (٣٦٢٠). و١٦ (٣٦٢١). سنن ابن ماجه في الفتن ٣ (٣٩٣٥). (تحفة الأشراف: ١٠٧٩٣) مسند احمد (٤ في ٤٢٩. ٤٣٩)

[2] ـ صحيح البخارى في النكاح ٢٨ (٥١١٢). صحيح مسلم في النكاح ٧ (١٤١٥). سنن ابی داود في النكاح ١٥ (٢٠٧٤). سنن النسائي في النكاح ٦١ (٣٣٣٧). سنن ابن ماجه في النكاح ١٦ (١٨٨٣). (تحفة الأشراف: ٨٣٢٣) موطا امام مالك في النكاح ١١ (٢٤). مسند احمد (٢ في ٦٢). سنن الدارمى في النكاح ٩ (٢٢٢٦) وأخرجه صحيح البخارى في الحيل ٣ (٦٩٦٠). صحيح مسلم في النكاح. سنن النسائي في النكاح ٦٠ (٣٣٣٦). مسند احمد (٢ في ١٩)

مهر مقرر نکړي، بعضي اهل علم وائي شغار والانکاح به ماتولي شي او داحلاله نه ده اګر که بیاروسته ددوئ په مینځ کي مهر هم مقرر کړي شي. دا دامام شافعي، احمد، او اسحاق بن راهویه رحمهم الله قول دي، لیکن عطاء بن ابي رباح وائي چي دي به پخپله نکاح باندي قائم وي البته ددوئ په مینځ کي به مهرمثل مقررولي شي او همدا داهل کوفه قول هم دي.

**تشریح:** **دشغار نکاح معني اوحکم**

که چا د خپلې لور نکاح د یو کس سره په دې شرط اوکړه چي ماجد به د خپلې لور نکاح د حامد سره کوی چي ،احد البضعین، د آخر دپاره مهر شی، یعنی د حامد د لور مهر به د ماجد د لور مِلك بضع وی، اود ماجد د لور مهر به د حامد د لور ملك بضع وی، دې نکاح ته نکاح شغار وائی.

شغار د ،شغور، نه ماخوذ دې، اود شغور معنی ده رفع او اخلاء، یعنی اوچتول او خالی کول چي د رفع معنی واخستلې شی نو وجه د تسمیه به دا وی چي زوجینو چونکه مهر د عقد نه اوچت کړو، په دې وجه دا نکاح په شغار مسي شوه، او که ددې معنی اخلاء وی، یعنی خالی کول نو وجه د تسمیه به داوی چي دا نکاح چونکه د مهر نه خالی ده، په دې وجه دې نکاح ته نکاح شغار وئیلې شی.

اود بعضو رائې داده چي د شغار معنی ده، بُعد، یعنی لرې والې، په دې صورت کي به وجه د تسمیه داوی چي ګویا زوجینو د مهر نفی اوکړه نود حق نه لرې شوی دی، په دې وجه ددې نوم نکاح شغار ایخودلې دې،

**شغارمتعلق مذاهب دفقهاؤ**

(۱) نکاح شغار د احنافو په نزد نافذ ده، خود دواړوښځو دپاره به مهر مثل واجب وی.

(۲) امام شافعی (رحمه الله) فرمائی چي دواړه عقدونه باطل دی.

صاحب دهدایه د امام شافعی (رحمه الله) د لیل عقلی خوبیان کړې دې، خو ددوې په تائید کي چي کوم حدیثونه دی، هغه ئې نه دی ذکر کړی، حالانکه دوه حدیثونه ددوی مستدل جوړیدلې شی، رومبې د ابن عمر (رضي الله عنه) حدیث "لا شغار في الإسلام" یعنی په اسلام کي د نکاح شغار هیڅ ګنجائش نشته، ترمذی (رحمه الله) هم دا حدیث د عمران بن حصین رضی الله عنه نه روایت کړې دې.

او دویم حدیث د جابر رضی الله عنه دې، کوم چي مسلم روایت کړې دې:

"نهی رسول الله ﷺ عن الشغار" یعنی نبی کریم ﷺ د نکاح شغار نه منع فرمائیلې ده، دا دواړه حدیثونه د نکاح شغار په عدم جواز باندې شاهد عدل دی.

د امام شافعي (رحمـه الله) عقلي دليـل دادې چي كوم كس دخپلې لـور د بـل سرې سره نكاح اوكړه، په دې شرط چي دې به د خپلې لور نكاح زما سره كوي نوګويا په دې دواړه جينكو كي د هر يوې نصف بضع مهر اونصف آخر(د بضع) منكوح جوړشو، حاصل داچي د هريوې بضع د خاوند او دده د لور په مينځ كي شريكه شوې ده، نصف بضع بـه د نكاح په وجه د خاوند دپاره وي، او نصف بضع به دمهر په وجه دده د لور دپاره وي نو اشتراك لازميږي، او منافع د بضع مشترك نشي كيدلې. لكه څنګه چي يوه ښځه د دوه سړو سره نكاح اوكړي، اودا صحيح نه وي نو هركله چي اشتراك صحيح نه دې نو ايجاب باطل شو، او هركله چي ايجاب باطل شو نو عقد هم باطل شو، په دې وجه د امام شافعي (رحمه الله) په نزد دواړه عقدونه باطل دي، او زمونږ دليـل دادې چي په دې دواړه عقدونوكي داسې څيز مهر جوړشوې دې، كوم چي د مهر جوړولو صلاحيت نه لري، او قاعده ده چي كوم څيز د مهر صلاحيت نه لري، كه دا مهرجوړ كړې شي نو عقد د نكاح به صحيح وي، او مهر مثل به واجب وي، مثلاً خمر اوخنزير مهر جوړ كړې شي نو نكاح به صحيح وي، او مهر مثل به واجب وي، دغه شان دلته كي هم وي، د امـام شـافعي (رحمـه الله) د عقلـي دليـل جـواب دادې چي هركلـه بـضع د مهرجوړولـو صـلاحيت نـه لـري نـو اشـتراك بـه هم نـه متحقق كيـږي، څكـه چي د يوې ښځې د بـضع منافع د بلې ښځې مملوك نشي جوړيدلې نو هركله چي شركت ثابت نشو نو بضع د مهر جوړولو شرط به شرط فاسد وي، او نكاح په شرط فاسد سره نه باطليږي، بلكي پخپله شروط فاسده باطليږي نو په دې نكاح شغار كي بـه هم د بضع د مهر جوړولو شرط به باطل وي، او نكاح به درست وي، او په خاوند به مهرمثل واجب وي،

د امام شافعي (رحمـه الله) د طرفه د پيش كړې حديث جواب دادې چي نهي عين د نكاح دپاره نه ده، بلكي په حديث كي نهي وارد شوې ده، دنكاح د مهرمسمى كولو نه د خالي كولو په وجه، مطلب دادې چي د نبي كريم ﷺ مقصد عين نكاح نه منع كول نه دي، بلكي ددې ممانعت ئې فرمائيلې دې چي نكاح د مهر مسمى كولو نه خالي اوساتلې شي، اود مهرمسمى كولو نه كه نكاح خالي اوساتلې شوه نو په دې سره نكاح نه باطليږي، لكه څنګه چي د جمعة د اذان نه پس د بيع نه منع راغلي ده نو دلته كي نفس بيع ممنوع نه ده، بلكي د جمعة د اذان نه پس ممنوع ده.(العنايه)

*****************

## ۳۱_ باب مَا جَاءَ لاَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا وَلاَ عَلَى خَالَتِهَا

## دپلار د طرفه ترور په نكاح كي د موجودګۍ په صورت كي دهغي دوريزي سره او د مور د طرفه ترور په نكاح كي د موجودګۍ په صورت كي دهغي د خورزي سره د نكاح كولو د حرمت بيان

١١٢٥ـ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ الْجَهْضَمِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ أَبِي حَرِيزٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُزَوَّجَ الْمَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ عَلَى خَالَتِهَا". وَأَبُو حَرِيزٍ اسْمُهُ: عَبْدُ اللَّهِ بْنُ حُسَيْنٍ. (1)

**ترجمه** دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم ددينه منع فرمائيلي ده چي ديوي ښځي سره نكاح اوكړي شي او حال دادي چي دهغي ترور دمخكي نه په نكاح كي موجود وي.

امام ترمذي وائي د ابو حريز نوم عبدالله بن حصين دي.

**تخريج** :

****************

حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِثْلِهِ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَجَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي مُوسَى، وَسَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ. (2)

**ترجمه** ابوهريره رضي الله عنه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په دي سند دسابقه روايت هم معني حديث بيان كړي دي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دعلي، او ابن عمر، او عبدالله بن عمرو، او ابوسعيد خدري او ابو امامه، او جابر، او عائشه، او ابوموسي اشعري، او سمره بن جندب رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

---

1 ـ حديث ابن عباس: سنن ابي داود في النكاح ١٣ (٢٠٦٧) (تحفة الأشراف: ٦٠٤٠). مسند احمد (١ في ٢١ـ ٢٠٢ـ ٢)

2 ـ صحيح البخارى في النكاح ٢٧ تعليقا عقب حديث جابر (٥١٠٨). صحيح مسلم في النكاح ٤ (١٤٠٨ في ٣٩). سنن ابى داود في النكاح ١٣ (٢٠٦٥). سنن النسائى في النكاح ٤٧ (٣٢٨٨)، وأخرجه صحيح البخارى في النكاح ٢٧ (٥١٠٩، ٥١١٠). صحيح مسلم في النكاح ٤ (١٤٠٨). سنن ابى داود في النكاح ١٣ (٢٠٦٦). سنن النسائى في النكاح ٤٠ (٣٢٩٦، ٣٢٩٠)، و ٤١ (٣٢٩٧). سنن ابن ماجه في النكاح ٣١ (١٩٢٩). موطا امام مالك في النكاح ٨ (٢٠). مسند احمد (٢ في ٤٢٦)

۱۱۲٦ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَنْبَأَنَا دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ، حَدَّثَنَا عَامِرٌ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ تُنْكَحَ المَرْأَةُ عَلَى عَمَّتِهَا أَوِ العَمَّةُ عَلَى ابْنَةِ أَخِيهَا، أَوِ المَرْأَةُ عَلَى خَالَتِهَا أَوِ الخَالَةُ عَلَى بِنْتِ أُخْتِهَا، وَلَا تُنْكَحُ الصُّغْرَى عَلَى الكُبْرَى وَلَا الكُبْرَى عَلَى الصُّغْرَى". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ عَامَّةِ أَهْلِ العِلْمِ لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمُ اخْتِلَافًا، أَنَّهُ لَا يَحِلُّ لِلرَّجُلِ أَنْ يَجْمَعَ بَيْنَ المَرْأَةِ وَعَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا، فَإِنْ نَكَحَ امْرَأَةً عَلَى عَمَّتِهَا أَوْ خَالَتِهَا أَوِ العَمَّةَ عَلَى بِنْتِ أَخِيهَا فَنِكَاحُ الأُخْرَى مِنْهُمَا مَفْسُوخٌ، وَبِهِ يَقُولُ: عَامَّةُ أَهْلِ العِلْمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: أَدْرَكَ الشَّعْبِيُّ أَبَا هُرَيْرَةَ، وَرَوَى عَنْهُ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا، فَقَالَ: صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى الشَّعْبِيُّ، عَنْ رَجُلٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ.[1]

**ترجمه** : دابو هريره رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ددينه منع فرمائيلي ده چي ديوي ښځي سره نكاح اوكړي شي او حال دادي چي دهغي ترور په نكاح كي موجود وي او يايي دترور سره نكاح كوي او دهغي وريره يا خورزه دمځكي نه دده په نكاح كي موجود وي، او كه داسي اوشول نو د اولنۍ نكاح به باقي وي او دوروستنۍ نكاح به باطل وي او په دي باندي عامو فقهاؤ اواهل علمو قول كړي دي امام ترمذي وائي دشعبي ملاقات دابوهريره رضي الله عنه سره ثابت دي اودهغه نه يي نقل دروايت هم كړي دي ما په دي باره كي دامام بخاري نه تپوس اوكړو نو ويي فرمائيل دا روايت صحيح دي امام ترمذي وائي دارنګي داحديث شعبي ديو سړي نه نقل كړي او هغه دابوهريره رضي الله عنه نه.

******************

**تشريح** :ددې عبارت حاصل دادې چي دپلار او نيكونو(د مور پلار .اود پلار پلار) منكوحه سره هم نكاح حلال نه ده. په دليل كي ئې آيت پيش كړې دې. دغه شان د خوى اود نمسى ښځې سره هم نكاح جائز نه ده. دلته كي هم په دليل كي آيت ذكر دې. خو په دې باندې اشكال كيږى چي په آيت كي د .اصلاب. د قيد نه معلوميږى چي د رضاعى خوى د ښځې

---

[1] ـ صحيح البخارى في النكاح ۲۷ تعليقا عقب حديث جابر (۵۱۰۸) . صحيح مسلم في النكاح ۴ (۲۰۸ في ۳۹) . سنن ابى داود في النكاح ۱۳ (۲۰۶۵) . سنن النسائي في النكاح ۴۷ (۳۲۸۸) وأخرجه صحيح البخارى في النكاح ـ ۲۷ (۵۱۰۹، ۵۱۱۰) . صحيح مسلم في النكاح ۴ (۱۳۰۸) . سنن ابى داود في النكاح ۱۳ (۲۰۶۶) . سنن النسائي في النكاح ـ ۴۸ (۳۲۹۰، ۳۲۹۶) ، و ۴۹ (۳۲۹۷) . سنن ابن ماجه في النكاح ۳۱ (۱۹۲۹) . موطا امام مالك في النكاح ۸ (۲۰) . مسند احمد (۲ في ۲۲۶)

سره نکاح حلال ده. حالانکه داسې نه ده. صاحب د هدايه په جواب کې فرمائي چې د ،اصلاب، قيد د متبنی يعنی (په خوئي توب نيولي) اعتبار ساقطولو دپاره دې، د رضاعی خوی ښځې حلالولو دپاره نه دې. حاصل داچې د کوموخامنو ښځې ستاسو دپاره حرام دی چې هغه ستاسو د شانه پيدا شوی وی، اوکوم چې ستاسو د شانه پيدا شوې نه دی. هغه دوه قسمه دی. يو رضاعی،دويم متبنی خو د حديث نه معلوميږی چې رضاعی خوې د نسبی خوی پشان دې، ددې نه معلومه شوه چې د ،اصلاب، په قيدسره صرف متبنی خارج شوې دې، لهذا د متبنی ښځه حلاله ده.

مصنف په دې عبارت کې رضاعی محرمات بيان کړی دی، رضاعی مور چې يو ځاځکې پې ئې هم څکولی وی، د رضاعی خور سره نکاح حرام ده. په دليل کې ئې د قرآن پاك آيت او حديث پيش کړې دې. (الکفايه ، فتح القدير).

## ٣٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الشَّرْطِ عِنْدَ عُقْدَةِ النِّكَاحِ

### په نکاح کې د عقد په وخت کې د کوم شرط مقررولو بيان

١١٢٧_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْحَمِيدِ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ مَرْثَدِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ الْيَزَنِيِّ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ أَحَقَّ الشُّرُوطِ أَنْ يُوفَى بِهَا مَا اسْتَحْلَلْتُمْ بِهِ الْفُرُوجَ". حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ الْحَمِيدِ بْنِ جَعْفَرٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، قَالَ: إِذَا تَزَوَّجَ رَجُلٌ امْرَأَةً وَشَرَطَ لَهَا أَنْ لَا يُخْرِجَهَا مِنْ مِصْرِهَا فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يُخْرِجَهَا، وَهُوَ قَوْلُ: بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ: الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، وَرُوِي عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، أَنَّهُ قَالَ: شَرْطُ اللَّهِ قَبْلَ شَرْطِهَا كَأَنَّهُ رَأَى لِلزَّوْجِ أَنْ يُخْرِجَهَا وَإِنْ كَانَتِ اشْتَرَطَتْ عَلَى زَوْجِهَا أَنْ لَا يُخْرِجَهَا، وَذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَبَعْضِ أَهْلِ الْكُوفَةِ. (١)

---

1 _ صحيح البخاری في الشروط ٦ (٢٧٢١) . والنكاح ٥٣ (٥١٥١) . صحيح مسلم في النكاح ٨ (١٤١٨) . سنن ابي داود في النكاح ٤٠ (٢١٣٩) . سنن النسائي في النكاح ٤٢ (٣٢٨١) . سنن ابن ماجه في النكاح ٤١ (١٩٥٤) . (تحفة الأشراف : ٩٩٥٣) . مسند احمد (٤ في ١٤٤، ١٥٠، ١٥٢) . سنن الدارمي في النكاح ٢١ (٢٢٤٩)

**ترجمه** : دعقبه بن عامر جهني بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تولو شرطونو كي زيات دپوره كيدو حقدار دوه شرطونه دي دكوم په ذريعه چي تاسو شرمگاهونه حلال كړي دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي چي يو په هغوئ كي عمر بن خطاب رضي الله عنه هم دي، دي وائي كله چي چا ديوي ښځي سره نكاح اوكړه او دا شرط يي مقرر كړو چي دا ښځه به ددي ښار نه بل ځاي ته نه بوځي؛ نو دده دپاره به دا جائز نه وي چي ددي ښارنه يي بهر بل ځاي ته بوځي او همدادبعضي اهل علمو قول هم دي امام شافعي او احمد او اسحاق رحمهم الله هم ددي قائل دي، البته دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي فرمائيل يي دالله تعالي شرط يعني حكم دالله تعالي دښځي په شرط باندي مقدم دي گويا كي دهغه په نظر كي دخاوند دپاره دښار نه بهر دښځي بوتلل جائز دي اگر كه ښځي درباندي دا شرط مقرر كړي وي چي دښار نه به يي بهر نه بوځي بعضي اهل علمو دا قول اختيار كړي دي او همدا دامام ثوري او بعضي اهل كوفه قول هم دي.

**تشريح** : **د مشروطي نكاح حكم:**

يوكس د يوې ښځې سره نكاح اوكړه، او زر روپۍ مهر ئې مقرركړو، په دې شرط چي دا به د ښار نه نه اوباسي، يا داچي ددې په موجودگۍ كي به دويمې ښځې سره نكاح نه كوي نو دا نكاح صحيح ده، اگرچي دسفر نه كولو،اود دويم واده نه كولوشرط،شرط فاسد دې، اوشرطِ فاسد ځكه دې چي په دې كي د امرمشروع نه منع لازميږي نوكه خاوند شرط پوره كړو نود ښځې دپاره به مسمى يعنى زر روپۍ وى، ځكه چي مسمى يعنـى زر روپـۍ د مهر جوړيـدلو صـلاحيت هـم لـري، اود ښځـې پـه زر روپـو بانـدې رضامندى هم پوره شوه، ځكه چي په دې شرط كي د ښځې نفع ده، اوكه چري خاوند شرط پوره نكړو نو اوس به دا كتلې شى چي مهرمثل د مسمى نه كم دې، او كه زيات يا برابر دې، كه مهرمثل زيات وى، دمهرمسمى يعنى د زر روپو نه نود ښځې دپاره به مهرمثل وى، دليل دادې چي خاوند داسې څيز ذكر كړې دې چي په هغې كي د ښځې فائده ده، اوهم ددې نفع په وجه ښځه مهرمسمى د مهر مثل نه په كموالى راضى شوه نوگويا د مهر نقصان ددې نفع په مقابله كي دې نو ددې نفع د فوت كيدلو په صورت كي په زرو باندې د ښځې رضامندى معدوم شوي ده نو ددې مهرمثل به مكمل كولې شى، او دا داسې شوه، لكه چي داسې ئې وئيلى وى چي په زر روپو به زه ستا اكرام هم كوم. ياد زر روپو سره به څه هديه هم دركوم نوكه دا د كرامت اوهديه شرط ئې پوره نكړو نو مهرمثل به واجب وى، دغه شان دلته كي هم ده، اوكه چري مهرمثل د مسمى

يعنی د زر روپو نه کم دې، یا برابر دې نود شرط نه پوره کولو په صورت کې به هم مسمی یعنی زر روپۍ واجب وی، اودا شرط به د خاوند دطرفه تبرع(احسان) وی.

******************

## ٣٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُسْلِمُ وَعِنْدَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ

### که څوک مسلمان شي او دده په نکاح لس ښځي وي نو څه به کوي

١١٢٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ الثَّقَفِيَّ أَسْلَمَ، وَلَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ فِي الْجَاهِلِيَّةِ فَأَسْلَمْنَ مَعَهُ، "فَأَمَرَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يَتَخَيَّرَ أَرْبَعًا مِنْهُنَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رَوَاهُ مَعْمَرٌ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: وسَمِعْت مُحَمَّدَ بْنَ إِسْمَاعِيل، يَقُولُ: هَذَا حَدِيثٌ غَيْرُ مَحْفُوظٍ، وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى شُعَيْبُ بْنُ أَبِي حَمْزَةَ وَغَيْرُهُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، قَالَ: حُدِّثْتُ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سُوَيْدٍ الثَّقَفِيِّ، أَنَّ غَيْلَانَ بْنَ سَلَمَةَ أَسْلَمَ، وَعِنْدَهُ عَشْرُ نِسْوَةٍ. قَالَ مُحَمَّدٌ: وَإِنَّمَا حَدِيثُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ ثَقِيفٍ طَلَّقَ نِسَاءَهُ، فَقَالَ لَهُ عُمَرُ: لَتُرَاجِعَنَّ نِسَاءَكَ أَوْ لَأَرْجُمَنَّ قَبْرَكَ كَمَا رُجِمَ قَبْرُ أَبِي رِغَالٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ غَيْلَانَ بْنِ سَلَمَةَ عِنْدَ أَصْحَابِنَا، مِنْهُمْ الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي غيلان بن سلمه ثقفي دي اسلام قبول کړو او دجاهليت په وخت کي دهغه لس ښځي وي اوهغوئ ټولو ورسره هم اسلام قبول کړو نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته حکم اوکړو چي ته په دوئ کي دخان دپاره څلور منتخب کړه.

امام ترمذي وائي ددي يو هم معني حديث معمرو په سند دزهري عن سالم بن عبدالله عن ابن عمر سره نقل کړي دي. او ما دمحمد بن اسماعيل بخاري نه اوريدلي دي چي دا حديث غير محفوظ دي او صحيح هغه روايت دي کوم چي شعيب بن ابي حمزه وغيره په سند دزهري عن محمد بن سويد الزهري نقل کړي دي چي غيلان بن سلمه اسلام قبول کړو او دهغه سره لس ښځي وي. امام بخاري وائي چي صحيح دزهري حديث دي کوم چي هغه دسالم بن عبدالله نه او سالم دخپل پلار عبدالله بن عمر نه نقل کړي دي چي دثقيفه قبيلي يو کس خپلو ښځو ته طلاق ورکړو نو عمر رضي الله عنه ورته اووئيل ته خپلو ښځو ته رجوع اوکړه او که داسي

---

1 ـ سنن ابن ماجه في النكاح ٤٠ (١٩٥٣). (تحفة الأشراف: ٦٩٤٩)

اونکړي نو زه به دي قبر په کانړو اولم لکه چي دابو رغال قبر په کانړو ويشتلي شوي دي، زمونږ دفقهاؤ چي امام شافعي او احمد او اسحاق هم پکي شامل دي په دي حديث باندي عمل دي.

**تشريح** : مسئله: دائمه اربعه اوجمهور اهل اسلام اتفاق دي چي دڅلورو ښځو نه زياتي په نکاح کي ساتل جائز نه دي . بعضي خلق وائي چي دحلت دنکاح کوم مقرر تعداد نشته څومره ښځي چي څوك غواړي په نکاح کي يې ساتلي شي ځکه چي ايت کريمه : فانکحوا ماطاب لکم ، مفيد دعموم دي او مثني وثلث وربع قيد نه دي بلکي دعرفي تعداد اظهار دي لکه چي وئيلي شي ددي درياب نه چي څومره اوبه غواړئ واخلئ يو مشك دوه مشك . که چري دا تعداد قيد هم اومنلي شي نو بيا هم دڅلورو جواز ثابتيږي اودڅلورو نه دزيات په عدم جواز کوم لفظ دلالت نه کوي مگر په ذکر دعدد سره دا خيال کيدي شي چي ددي عدد نه زائد جائز نه دي مگر مفهوم لره اعتبار نشته.

بغوي ليکلي دي چي دقيس بن حارث نهه ښځي وي ددي ايت دنزول نه پس ده ته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څلورو ته طلاق ورکړه او څلور دځان سره پريږده . دقيس رضي الله عنه بيان دي چي ما په هغه نهه ښځو کي هغه ښځو ته اووئيل دچاچي اولاد نه وو شوي تاسو لاړي شئ اودکومو چي اولاد شوي وو هغوئ ته مي اووئيل تاسو راشئ پس درسول الله دا فرمان ددي ايت دپاره بيان شو او هم هغه دالله تعالي په مراد باندي ډيرښه پوهيدو.

دڅلورو نه دزياتو ښځو سره په يووخت کي نکاح ناجائز کيدل دابن عمر رضي الله عنهما دحديث نه هم ثابت دي چي غيلان بن سلمه ثقفي مسلمان شو نودده سره دده هغه لس ښځي هم مسلماني شوي کومي چي دجاهليت په وخت کي دده په نکاح کي وي نبي کريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل څلور دځان سره اوساته اوباقي پريږده (رواه الشافعي واحمد والترمذي وابن ماجه).

دنوفل بن معاويه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي کله زه مسلمان شوم نوپدي وخت کي زما سره پنځه ښځي وي مادرسول کريم صلي الله عليه وسلم نه پدي باره حکم طلب کړو نو وئي فرمائيل يوه پريږده اوڅلور اوساته نوما هغه ښځه پريخودله کومه چي دټولو نه مخکي دشپيته کالونه زما سره ملګري وه مګر شنډه وه (رواه الشافعي والبغوي في شرح السنة).

صرف دڅلورښځو په نکاح کي په ساتلو باندي اجماع شوي ده داجماع په مقابله کي دبعضي خلقو قول باطل دي په غير محدود تعداد سره دنکاح دجواز قائل خو څوك بدعتي هم نشته . دخوارجو اوروافضو په نزد باندي هم تعداد معين دي چي اتلس اونهه دي

**مسئله**: که چري چا اسلام راوړو اودده په نکاح کي دڅلورو نه زياتي ښځي وي يا دوه خويندي وي ، يائي مور اولور دواړه په نکاح کي وي او دابنځي هم ورسره مسلمانانې شوي اويا اهل کتابي وي نود امام مالك او شافعي او امام احمد او امام محمد رحمهم الله په نزد باندي چي دده کومي څلور خوښي وي هغه دي دځان سره وساتي اوزياتي دي پريږدي اوپه دوه خويندو کي چي ئي کومه يوه زياته خوښه وي هغه دي دځان سره وساتي اوبله دي پريږدي اوپه مور اولور کي چي ئي کومه خوښه وه هغه دي وساتي.

امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائيلي دي که چري په يوعقد سره ئي دټولو سره نکاح کړي وي (نوبيا چاته په چاباندي دترجيح وجه نشته)ټولي به پريږدي اوکه چري ديوي نه پس ئي دبلي سره عقد کړي وي نود کومي ښځي په نکاح کي چي تقديم وي دهغي نکاح دي قائم وساتلي شي اود وروستنئ منکوحي نکاح به ختم کړي شي ، مګرکه چري مور اولور دچا په نکاح کي وي نود اسلام نه پس دواړو نکاح ختميږي خوپدي شرط چي ددواړو سره ئي قربت صنفي کړي وي ځکه چي پدي وخت کي په دواړو کي ديوي سره هم نکاح درست نده ، په احاديث مذکوره کي(په کوموکي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دزياتو ښځو والايادوه خويندو جمع کونکي په نکاح کي لرونکو خاوندانوته دانتخاب اختيار ورکړي شوي ، اومندرجه ذيل حديث دامام ابوحنيفه په خلاف داخبره ثابتوي ، ضحاك بن فيروز ديلمي دخپل نيکه نه نقل کوي چي فرمائيل ئي ما عرض وکړو اي دالله رسوله زه مسلمان شوي يم اوزما په نکاح کي دوه خويندي دي رسول کريم صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل په دواړو کي دخپلي خوښي يوه اختيار کړه.

**مسئله**: روافضو په يو وخت کي دنهه ښځو سره دنکاح کولو دجواز قول کړي دي اوددي ايت نه يي استدلال کړي دي نخعي او ابن ابي ليلي ته يي هم ددي قول نسبت کړي دي اوددي دپاره يي دليل دا بيان کړي دي چي واو دمطلق جمعيت په معني دلالت کوي.

خوارج داتلس ښځو سره په يو وخت کي دنکاح کولو دجواز قائل دي اودا ځکه اګر چي لفظ مفرد دي ليکن په معني کي تکرار دي نوپه دي وجه باندي نهه او نهه اتلس شو دا دواړه قولونه غلط دي.

دخوارجو قول ځکه غلط دي چي دا الفاظ د ادا مکرره نه معدول دي مګر دتکرار دعدد دپاره څه خاص حد نشته ، دتکرار معني صرف دوه ځل يا د دوو عدد نه وي بلکي دوه ، دوه ، دوه ، دوه ، غرض دا چي لامحدود الفاظو ته تکرار شامل دي ، پس څوك چي کوم جماعت ته اووائي ددي دراهمو نه دوه دوه واخلئ نوددي مطلب دا وي چي هر يو کس دي دوه درهمه واخلي ليکن دا مقصد نه وي چي هر يوکس دي څلور درهمه واخلي ايت کي.

دروافضو قول په دي وجه غلط دي چي اهل بلاغت دنهو دعدد بيانولو دپاره دوه او دري او څلور نه وائي بلکي مطلب دا دي چي هر يو دپاره د دوو سره هم نکاح جائز ده او دهر يو دپاره د دريو سره هم نکاح جائز ده اودهر يو دپاره دڅلورو سره هم نکاح جائز ده. (بيضاوي)

**مسئله**: ددري امامانو په نزد غلام لره صرف ددوه ښځو په نکاح کي دساتلو اجازت شته، اود امام مالك په نزد باندي غلام هم په نکاح کي څلور ښځي ساتلي شي ځکه چي ايت مذکوره عام دي ازاد اوغلام ټول ددي په حکم کي داخل دي، اودداود ظاهري اوربيعه هم داقول دي.

**مسئله**: د جمهور فقهاؤ په نزد دنکاح پيغام ليږونکي دپاره دنکاح نه مخکي دجينئ مخ او دواړه لاسونه ليدل بالاجماع مسنون دي.

داود ظاهري دمخطوبي تمام بدن بغير دعورت غليظه نه کتل دنکاح نه مخکي جائز ګڼړي.

دجابر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چري ستاسو کي څوك کومي ښځي ته دنکاح پيغام وليږي که چري دداسي ځايونو ليدل ئي ممکن وي چي نکاح ته رغبت پيدا کوي نوداسي دي وکړي شي (رواه ابوداود)

دمغيره بن شعبه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما يوي ښځي ته دنکاح پيغام وليږلو رسول کريم صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل ايا تاليدلي ده؟ ما عرض وکړو چي نه نو وئي فرمائيل دي لره ووينه، داليدل په تاسو دواړو کي داتفاق دپاره زيات مناسب عمل دي (رواه احمد والترمذي والنسائي وابن ماجه والدارمي).

***************

## ٣٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُسْلِمُ وَعِنْدَهُ أُخْتَانِ

### څوك چي اسلام قبول کړي او دهغه په زوجيت کي دوه خويندي وي نو څه به کوي

١١٢٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا ابْنُ لَهِيعَةَ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجَيْشَانِيِّ، أَنَّهُ سَمِعَ ابْنَ فَيْرُوزَ الدَّيْلَمِيَّ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِيهِ: قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ".[1]

**ترجمه**: دفيروز ديلمي رضي الله عنه بيان دي چي زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او عرض مي اوکړو اي دالله رسوله ما اسلام قبول کړي دي او زما په نکاح کي دوه خويندي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستا چي په دوئ دواړو کي کومه يوه خوښه وي هغه دځان دپاره منتخب کړه.

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ٢٥ (٢٢٤٣)، سنن ابن ماجه في النكاح ٣٩ (١٩٥١). (تحفة الأشراف: ١١٠٦١)

****************

١١٣٠ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا أَبِي، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ أَيُّوبَ يُحَدِّثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي وَهْبٍ الْجَيْشَانِيِّ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ فَيْرُوزَ الدَّيْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَسْلَمْتُ وَتَحْتِي أُخْتَانِ، قَالَ: "اخْتَرْ أَيَّتَهُمَا شِئْتَ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَأَبُو وَهْبٍ الْجَيْشَانِيُّ اسْمُهُ: الدَّيْلَمُ بْنُ هَوْشَعَ. ([1])

**ترجمه** : دفيروز ديلمي رضي الله عنه بيان دي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله ما اسلام قبول كړي دي او زما په نكاح كي دوه خويندي دي نو رسول الله راته اوفرمائيل په دوئ دواړه كي چي دي كومه يوه زياته خوښه وي هغه دخان دپاره منتخب كړه (او دويمي ته طلاق وركړه).
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي.اود ابو وهب الجيشاني نوم الديلم بن هوشع دى.

****************

## ٣٥ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَشْتَرِي الْجَارِيَةَ وَهِيَ حَامِلٌ

### كه څوك يوه وينځه واخلي اوهغه حامله وي نو حكم به څه وي

١١٣١ـ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الشَّيْبَانِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ، عَنْ رَبِيعَةَ بْنِ سُلَيْمٍ، عَنْ بُسْرِ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ، عَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلَا يَسْقِ مَاءَهُ وَلَدَ غَيْرِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ رُوَيْفِعِ بْنِ ثَابِتٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، لَا يَرَوْنَ لِلرَّجُلِ إِذَا اشْتَرَى جَارِيَةً وَهِيَ حَامِلٌ أَنْ يَطَأَهَا حَتَّى تَضَعَ. وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَالْعِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ. ([2])

**ترجمه** : درويفع بن ثابت رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په الله او په ورځ داخرت ايمان لري هغه دي خپلي اوبه د بل چا په بچي نه تويوي.

---

[1] ـ سنن ابى داود في الطلاق ٢٥ (٢٢٤٣). سنن ابن ماجه في النكاح ٣٩ (١٩٥١). (تحفة الأشراف: ١١٠٦١)

[2] ـ سنن ابى داود في النكاح ٤٥ (٢١٥٨). (تحفة الأشراف: ٣٦١٥). مسند احمد (٤ في ١٠٨). سنن الدارمى في السير ٣٧

او امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او دا په نورو سندونو هم درويفع بن ثابت نه مروي دي داهل علمو عمل هم په دي باندي دي دوئ دهيچاديارہ دا جائز نه گنړي چي كله څوك حامله وينځه واخلي هغه دي ددي سره صحبت اوكړي چي څو پوري وضع دحمل نه وي شوي، په دي باب كي دابو الدرداء ، ابن عباس، عرباض بن ساريه او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

*****************

## باب ماجاء في الرجل يسبي الامة ولها زوج هل يحل له ان يطأها

## كه څوك دجهاد نه كومه وينځه دقيد په حالت كي راولي او هغه شادي شده وي نو ددي سره دده دپاره مجامعت جائز دي

١١٣٢ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ الْبَتِّيُّ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: "أَصَبْنَا سَبَايَا يَوْمَ أَوْطَاسٍ وَلَهُنَّ أَزْوَاجٌ فِي قَوْمِهِنَّ، فَذَكَرُوا ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَنَزَلَتْ وَالْمُحْصَنَاتُ مِنَ النِّسَاءِ إِلا مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُكُمْ (النساء: ٢٤). قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَهَكَذَا رَوَاهُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ عُثْمَانَ الْبَتِّيِّ، عَنْ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبُو الْخَلِيلِ اسْمُهُ: صَالِحُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، وَرَوَى هَمَّامٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ صَالِحٍ أَبِي الْخَلِيلِ عَنْ أَبِي عَلْقَمَةَ الْهَاشِمِيِّ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ بْنُ هِلَالٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ. [1]

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي مونږ په غزوه اوطاس كي څه قيدياني ښځي راوستلي او دهغوئ په قوم كي دهغوئ خاوندان موجود وو نو خلقو ددي ذكر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوكړو نو دي وخت كي دا ايت كريمه "والمحصنات من النساء الاماملكت ايمانكم" نازل شو

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي اودا قسم روايت دسفيان ثوري نه په سند دعثمان البتي عن ابي الخليل عن ابي سعيد سره روايت مروي دي

*****************

1 ـ صحيح مسلم في الرضاع ٩ (١٤٥٦) . والمؤلف في تفسير النساء (٣٠١٧) صحيح مسلم في النكاح سنن ابي داود في النكاح ٤٥ (٢١٥٥) . سنن النسائي في النكاح ٥٩ (٣٣٢٥) . (تحفة الأشراف : ٤١٣٢) . مسند احمد (٣ في ٨٣) والمؤلف في تفسير النساء (٣٠١٦)

## ٣٧ـ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ مَهْرِ الْبَغِيِّ

## دزناكاري ښځې دامد نې دحرمت بيان

١١٣٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دابومسعود انصاري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي دقيمت اخستلو يعني ددي دخرڅولو نه او دزناكاري ښځي دامدنۍ نه او دكاهن دخوږونه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دابومسعود انصاري حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي درافع بن خديج، ابو جحيفه، ابوهريره، او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : الثمن: معني دمبيعي مالي بدل ، قيمت، الثمانة او الثمين قيمتي څيز.

البغي: معني ظلم، خيانت، ګناه، جنايت، ډير باران.

**تشريح** : په ښځو امدن حاصلولوباندي اود نجوميانو په اجرت باندي اود سپو په ساتلو باندي په دي حديث كي بحث شوي دی:

**مهر البغي** : ديته ويلي شي چي زناكاره ښځه په زنا باندي اجرت واخلي پدي دتمامو علماؤ اتفاق دي چي داقسم اجرت حرام قطعي دي.

**حلوان الكاهن**، يعني دكاهن شيريني، كاهنانو ته چي به كوم خلق راتلل او هغۍ به ورته راتلونكي خبرونه بيانول نو خلقو به ورته دشيرينۍ په نوم اجرت وركولو ، داهم حرام دي.

بعضي علماؤ دحديث مذكوره ظاهر ته په كتو سره د هر قسم سپي قيمت او خريدو فروخت حرام ګرځولي دي ، مګر امام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله او بعضي نورو علماؤ دا حديث په دي حمل كړي دي چي ددينه غير معلم اوغير ښكاري سپي مراد دي، او كه چا په

---

[1] ـ صحيح البخاري في البيوع ١١٣ (٢٢٣٧) ، والاجارة ٢٠ (٢٢٨٢) ، والطلاق ٥١ (٥٣٤٦) ، والطب ٤٦ (٥٧٦١) . صحيح مسلم في المساقاة ٩ (البيوع ٣٠) ، (١٥٦٧) . سنن ابي داود في البيوع ٤١ (٣٤٢٨) ، و ٦٥ (٣٤٨١) . سنن النسائي في الصيد والذبائح ١٥ (٤٢٩٧) . البيوع ٩١ (٤٦٧٠) . سنن ابن ماجه في التجارات ٩ (٢١٥٩) . (تحفة الأشراف : ١٠٠١٠) و موطا امام مالك في البيوع ٢٩ (٦٨) . مسند احمد (٤ في ١١٨، ١٢٠، ١٤٠، ١٤١) ويأتي عند المؤلف في البيوع ٤٦ (١٢٧٦) . والطب ٢٣ (٢٠٧١)

سپي محنت وکړو اوښکار يې ورته وخودلو. يا ددي حديث تعلق دهغه وخت سره دي کله چي رسول الله دسپو دوژلو حکم کړي وو او بيا وروسته ددي حکم منسوخ شو

## فرشتي داسي کور ته نه ورځي چي سپي يا تصوير پکي وي

دابوطلحه رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کوم کور کي چي تصوير ياسپی وي درحمت فرشتی نه ورننوزي (بخاري مسلم)

داسي کورونو ته فرشتي نه ورځي په کومو کي چي سپی يا تصوير موجود وي، دا حکم د هغه سپي دی دکوم چي ساتل حرام دي او دکومو سپو دساتلو چي اجازت شته هغه په دي کي داخل نه دي، مثلا ښکاري سپی يا دځاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره رکاوټ نه جوړيږي.

او دتصوير نه مراد هغه تصوير دی دکوم ساتل او استعمالول چي حرام دي او که داسي تصوير وي چي بالکل وړوکی وي يا دغير ذي روح څيز تصوير وي نو دداسي تصوير موجودګي هم دفرشتو دپاره رکاوټ نه دی، ليکن بعضي علماء وائي چي دا حکم عام دی هر قسم سپي او تصوير ته شامل دی برابره خبره ده چي په کورکي يي دساتلو اجازت وي او که نه.

دفرشتونه هغه فرشتي مراد دي کومي چي دانسانانو داعمالو ليکونکي او حفاظت کونکي نه وي ځکه چي عمل ليکونکي فرشتي خو په هر حال کي دانسان سره موجودي دي.

داسي کورونو ته فرشتي نه ورځي په کومو کي چي سپی يا تصوير موجود وي، دا حکم د هغه سپي دی دکوم چي ساتل حرام دي او دکومو سپو دساتلو چي اجازت شته هغه په دي کي داخل نه دي، مثلا ښکاري سپی يا دځاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره رکاوټ نه جوړيږي.

## دسپي په وجه جبريل نه راتلو

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي جبرائيل عليه السلام رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دراتلو وعده کړی وه بيايی راتلو کي دومره تاخير اوکړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته انتظار مشکل شو بهر ته اووتو نو جبرائيل عليه السلام ورسره ملاقات اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته دتاخير ګيله اوکړه نو هغه اووئيل مونږ داسی کور ته نه ورځو کوم کي چي سپي يا تصوير وي.

ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دښکار يا فصل دحفاظت نه علاوه سپی اوساتلو هره ورځ به يی دنيکو دثواب نه دوه قيراطه اجر کميږي او په يو روايت يو قيراط راغلی دی.

## دقيراط تحقيق

قیراط یو وزن دی کوم چي یو دانګ شپږ رتۍ او دبعضو په نزد دیو دینار ۲/۴ حصه ده او دبعضو په قول ددینار لسمه حصي دنیمي برابر وي او یو دانګ دشپږ رتو برابر وي یا دیو درهم دشپږمي حصي برابر وي او په بعضو روایتونو کي دقیراط وزن داحد دغر برابر خودلی شوی دی خلاصه داده چي دضرورت نه بغیر سپي ساتلو په وجه انسان دخپلو نیکو عملونو دیوي ډیري لويي حصي نه محروميږي.

## په بعضي وجوهاتو سپي ساتل جائز دي

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي سپی اوساتلو دهغه نیك عمل داجر نه به هره ورځ دوه قیراطه کميږي لیکن که دپټي یا څاروو دحفاظت دپاره وي نو خير دی.

او دامام مسلم یو روایت په دی الفاظو دی چاچي سپی اوساتلو که دښکار سپی یا دپټي او یا دڅاروو دحفاظت سپی نه وي نو دهغه داجر نه هره ورځ دوه قیراطه کميږي.

یو سوال څلور جوابونه

سوال: دسپي ساتلو په وجه په یو روایت کي دیو قیراط ثواب دکمیدو ذکر دی او په بل روایت کي د دوه قیراطه نیکۍ کمیدو ذکر دی په دواړو روایتونو کي تعارض دی.

جواب: بعضي علماء وائي بعضي سپي ډیرخطرناك په تکلیف رسونکي وي نو دهغي په ساتلو سره دوه قیراطه ثواب کميږي او کوم سپي چي کم ضرر والا وي دهغوئ په ساتلو یو قیراط ثواب کميږي.

دويم جواب: مقدس مقام مثلا مکه ، مدینه، وغیره ښارونو کي بغیر دضرورته سپي ساتلو په وجه دوه قیراطه ثواب کميږي او ددینه په علاوه ښارونو کي یو قیراط ثواب کميږي.

دريم جواب: په ښار کي دوه قیراطه کميږي او په کلو کي یو قیراط کميږي.

څلورم: په ابتداء کي دیو قیراط وعید وو لیکن کله چي خلقوسپي ساتل زیات کړل نو په زجر کي زیادت راغی او ددوه قیراطه ثواب کمیدو حکم جاري شو اوس به په دوه قیراطه ثواب کمیدو والاحدیث باندي عمل وي.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درحمت فرشتي داسي قافلي سره نه ملګري کيږي کومه کي چي سپی وي یا جرس وي.

"لاتصحب الملائكة" یعني فرشتي ملګرتیا نه کوي، ددینه هغه فرشتي مراد دي کومي چي داعمالو لیکونکو او حفاظت کونکو نه علاوه وي.

"جرس" یعني تلۍ ددي په وجه هم فرشتي لري تختي ځکه چي دا د ناقوس سره مشابه دی کوم چي دغیرمسلمو علامه ده یا داچي ددي اواز په شریعت کي بد ګڼړلی شوی دی، په یو

روايت کي راځي چي يو هلك عائشه رضي الله عنها ته راغلو او داسي څيز ورسره وو چي شرنګا يي کوله ام المومنين ورته اوفرمائيل داسي څيز زما خواته مه راوړه کوم چي فرشتو لره لري شړونکی وي

**د ابو مسعود عبدالله بن بسر رضي الله عنه حالات:**

نوم عبدالله د پلار نوم بسر او د ماذن قبيلي سره يي تعلق وو او کنيه يي ابو مسعود ده. او انصاري يي لقب دی، دده مور او پلار او ورور چي علي دی او دده خور صحماء ټولو ته رسول الله صلي الله عليه وسلم د ملاقات شرف حاصل شوی دی رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوی د پاره د عمر د اوږدوالي دعا غوښتلي ده ۵۰ روايات ورنه منقول دي چي په بخاري او مسلم کي يو يو ذکر شوي دي.
اصحاب سير ليکلي دي چي دده مرګ ناڅاپي داودس په وخت کي واقع شو دده دپاره نبي کريم صلي الله عليه وسلم دعمر داوږدوالي دپاره دعا غوښتلي وه نو ځکه يي عمر ډير اوږد وو چي په شام ياحمص کښ په ۸۸هجري کي وفات شو او عمر يي ۹۴ کلونو ته رسيدو او دبعضو په نزد دده عمر سل کاله وو (تهذيب التهذيب).

*****************

## ٣٨_ بَاب مَا جَاءَ أَنْ لاَ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ

**يو مسلمان دي د خپل بل مسلمان ورور د نکاح په پيغام د خپلي نکاح پيغام نه ورکوي**

١١٣٤_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَقُتَيْبَةُ، قَالاَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ قُتَيْبَةُ: يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَقَالَ أَحْمَدُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لاَ يَبِيعُ الرَّجُلُ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ وَلاَ يَخْطُبُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَمُرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: إِنَّمَا مَعْنَى كَرَاهِيَةِ أَنْ يَخْطُبَ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ: إِذَا خَطَبَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ فَرَضِيَتْ بِهِ فَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَخْطُبَ عَلَى خِطْبَتِهِ. وَقَالَ الشَّافِعِيُّ: مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ لاَ يَخْطُبُ الرَّجُلُ عَلَى خِطْبَةِ أَخِيهِ: هَذَا عِنْدَنَا إِذَا خَطَبَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ فَرَضِيَتْ بِهِ وَرَكَنَتْ إِلَيْهِ، فَلَيْسَ لِأَحَدٍ أَنْ يَخْطُبَ عَلَى خِطْبَتِهِ. فَأَمَّا قَبْلَ أَنْ يَعْلَمَ رِضَاهَا أَوْ رُكُونَهَا إِلَيْهِ فَلاَ بَأْسَ أَنْ يَخْطُبَهَا، وَالْحُجَّةُ فِي ذَلِكَ حَدِيثُ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، حَيْثُ جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ لَهُ: أَنَّ أَبَا جَهْمِ بْنَ حُذَيْفَةَ، وَمُعَاوِيَةَ بْنَ أَبِي سُفْيَانَ خَطَبَاهَا، فَقَالَ: أَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَرَجُلٌ لاَ يَرْفَعُ عَصَاهُ عَنِ النِّسَاءِ،

وَأَمَّا مُعَاوِيَةُ فَصُعْلُوكٌ لَا مَالَ لَهُ، وَلَكِنِ انْكِحِي أُسَامَةَ فَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَنَا وَاللَّهُ أَعْلَمُ أَنَّ فَاطِمَةَ لَمْ تُخْبِرْهُ بِرِضَاهَا بِوَاحِدٍ مِنْهُمَا، وَلَوْ أَخْبَرَتْهُ لَمْ يُشِرْ عَلَيْهَا بِغَيْرِ الَّذِي ذَكَرَتْ.[1]

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅوک دي دخپل مسلمان ورور په سودا دپاسه سودا نه کوي او نه دي څوک دخپل يو ورور دپيغام دپاسه چاته دنکاح دپاره خپل پيغام ورليږي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دسمره او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، دمالك بن انس بيان دي چي ديو کس دپاره خپل ورور دپيغام دپاسه دپيغام ليږلو مطلب دادي چي يو سړي چاته دنکاح پيغام ورکړي وي او ښځه په دي باندي راضي شوي وي په داسي وخت کي دهيچا دپاره جائز نه دي چي دخپل يو ورور دپيغام دپاسه خپل پيغام وروليږي، امام شافعي وائي ددي حديث مطلب زمونږ په نزد دادي چي کله يو سړي يوي ښځي ته پيغام ليږلي وي او ښځه دهغه نه راضي شوي وي او دده طرف ته مائل شوي وي نو په داسي صورت کي دهيچادپاره پيغام ليږل درست نه دي چي هغه دده د پيغام دپاسه خپل پيغام وروليږي مګر ددي درضامندئ او د ميلان ښکاره کيدو نه مخکي که څوک خپل پيغام ورليږي نو په دي کي څه حرج نشته او ددي دليل حديث دفاطمه بنت قيس رضي الله عنها دي چي د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضره شوه او عرض يي اوکړو چي ابوجهم او معاويه بن ابي سفيان ماته دنکاح پيغام راکړي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل دابوجهم معامله خو داده چي هغه هيڅ کله خپل لوړ داوړي نه نه کوزوي (يعني ښځي ډيري وهي) او پاتي شو معاويه نو هغه خو انتهائي نيس مند دي هيڅ مال ورسره نشته ستا دپاره بهتره داده چي ته داسامه بن زيد سره نکاح اوکړي، زمونږ په نزد ددي حديث مفهوم دادي چي فاطمه په دوئ کئ ديو سره هم دخپلي رضامندئ اظهار نه وو کړي او که چري هغي اظهار کړي وي نو د هغه په پريخودو سره به رسول الله هغي ته داسامه سره دنکاح کولو مشوره نه وي ورکړي.

**تشريح** : مسلم هم د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت نقل کړى دى چي رسول الله صلي

---

[1] ــ البخارى في البيوع ٥٨ (٢١٤٠) . مسلم في النكاح ٦ (١٤١٣) . سنن ابي داود في النكاح ١٨ (٢٠٨٠) . سنن النسائي في النكاح ٢٠ (٣٢٤١) . سنن ابن ماجه في النكاح ١٠ (١٨٦٧) . والتجارات ١٣ (٢١٧٢) . (تحفة الأشراف : ١٣١٢٣) . مسند احمد (٢ في ٢٣٨) وأخرجه صحيح البخارى في الشروط ٨ (٢٧٢٣) . والنكاح ٤٥ (٥١٤٣) . صحيح مسلم في النكاح . سنن النسائي في البيوع ١٦ (٤٤٩٦) . و ٢١ (٤٥١٠) . مسند احمد (٢ في ٢٧٤ . ٣١١ . ٣١٨ . ٣٩٤ . ٤١١ . ٤٢٧ . ٤٥٧ . ٤٨٧ . ٤٨٩ . ٥٠٨ . ٥١٦ . ٥٢٩) . سنن الدارمى في النكاح ٧ (٢٢٢١) . (وانظر إيضا الارقام : ١١٩٠ و ١٢٢٢ و ١٣٠٣)

الله عليه وسلم فرمائيلي دي : "يو كس به دبل كس په سودا سودا نه كوي"

أخرجه : مسلم كتاب النكاح باب تحريم الخطبة على خطبة اخيه ١٣٩/٤ (١٤١٤) (٥٦) .

ددي حديث مطلب دادى كله چي دوه كسانو مينځ كي سودا روانه وي نو د دريم كس دپاره جائز نه دي چي هغه هم ددي څيز داخستلو خبره شروع كړي او داسي اووائي چي زه دا څيز په دومره اخلم ده لره پكار دي چي انتظار اوكړي كه چري ددوئ په مينځ كي معامله اونه شوه نو بيا دى معامله كولى شي.

ددي وجه داده چي دداسي كار په وجه په خلقو كي بغض او عداوت پيدا كيږي او محبت او اسلامي اخوت ددي په سبب ختميږي او په حديث كي خو راغلي دي چي يو مومن دبل مومن وروړ دى.

*****************

١١٣٥ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي أَبُو بَكْرِ بْنُ أَبِي الْجَهْمِ، قَالَ: دَخَلْتُ أَنَا، وَأَبُو سَلَمَةَ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ، فَحَدَّثَتْنَا أَنَّ زَوْجَهَا طَلَّقَهَا ثَلَاثًا وَلَمْ يَجْعَلْ لَهَا سُكْنَى وَلَا نَفَقَةً، قَالَتْ: وَوَضَعَ لِي عَشَرَةَ أَقْفِزَةٍ عِنْدَ ابْنِ عَمٍّ لَهُ خَمْسَةً شَعِيرًا وَخَمْسَةً بُرًّا، قَالَتْ: فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ، قَالَتْ: فَقَالَ: "صَدَقَ". قَالَتْ: فَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَدَّ فِي بَيْتِ أُمِّ شَرِيكٍ، ثُمَّ قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ بَيْتَ أُمِّ شَرِيكٍ بَيْتٌ يَغْشَاهُ الْمُهَاجِرُونَ، وَلَكِنْ اعْتَدِّي فِي بَيْتِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ فَعَسَى أَنْ تُلْقِي ثِيَابَكِ وَلَا يَرَاكِ، فَإِذَا انْقَضَتْ عِدَّتُكِ فَجَاءَ أَحَدٌ يَخْطُبُكِ فَآذِنِينِي". فَلَمَّا انْقَضَتْ عِدَّتِي خَطَبَنِي أَبُو جَهْمٍ، وَمُعَاوِيَةُ. قَالَتْ: فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لَهُ. فَقَالَ: "أَمَّا مُعَاوِيَةُ فَرَجُلٌ لَا مَالَ لَهُ، وَأَمَّا أَبُو جَهْمٍ فَرَجُلٌ شَدِيدٌ عَلَى النِّسَاءِ". قَالَتْ: فَخَطَبَنِي أُسَامَةُ بْنُ زَيْدٍ فَتَزَوَّجَنِي. فَبَارَكَ اللَّهُ لِي فِي أُسَامَةَ. هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي الْجَهْمِ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَزَادَ فِيهِ، فَقَالَ لِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "انْكِحِي أُسَامَةَ". حَدَّثَنَا مَحْمُودٌ. حَدَّثَنَا وَكِيعٌ. عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَبِي الْجَهْمِ بِهَذَا. [1]

---

[1] ـ مسلم في الطلاق ٦ (١٤٨٠) . سنن النسائي في الطلاق ١٥ (٣٢٢٤) . و ٤٢ (٣٥٨١) . سنن ابن ماجه في الطلاق ١٠ (٢٠٣٥) . (تحفة الأشراف : ١٨٠٣٤) و أخرجه كل من : صحيح مسلم في النكاح (المصدر المذكور). سنن ابي داود في الطلاق ٣٩ (٢٢٨٤). سنن النسائي في النكاح ٨ (٣٢٤٤)، و٢١ (٣٢٤٦)، والطلاق ٣ (٢٠٢٣)، و٩ ٢٠٢٩). موطا امام مالک في الطلاق ٢٣ (٦٧). مسند احمد (٦ في ٤١٢، ٤١٥) سنن الدارمي في النكاح ٧ (٢٢٢٣)، والطلاق ١٠ (٢٣٢٠)عند المؤلف برقم : ١١٨٠

**ترجمه** : دابوبکر بن ابي جهم بيان دي فرمائي چي زه او ابوسلمه بن عبدالرحمن دواړه فاطمه بنت قيس رضي الله عنها ته ورغلو او هغي مونږ ته اووئيل چي ماته زما خاوند طلاق راکړي دي او نه يي زما دپاره داوسيدو انتظام کړي دي او نه دخوړلو څکلو او هغه زما دپاره لس بوري غله او پنځه بوري وربشي او پنځه بوري غنم دخپل تره خوي سره ايخودلي وو نو زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او دخپلو دي حالاتو ذکر مي ورته وکړو رسول الله اوفرمائيل هغه ډير درست کار کړي دي او ماته يي بيا حکم اوکړو چي زه دام شريك په کور کي عدت تير کړم او بيا ماته رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دام شريك کور ته مهاجرين تلل راتلل کوي (هغه هم مناسب نه دي) لهذا ته دابن ام مکتوم په کور کي عدت تير کړه هلته به ستا دپاره دا سهولت وي چي که څه وخت ستا دسر نه لوپټه وغيره پريوځي نو هيڅوك به دي نه ويني او بيا چي کله ستا عدت پوره شي او ځوك درته دنکاح پيغام درکړي نو ما خبر کړه کله چي زما عدت پوره شو نو ما ته ابوجهم او معاويه دنکاح پيغام راکړو زه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلم او ددي خبري ذکر مي ورته اوکړو نو رسول الله اوفرمائيل معاويه خو يو داسي سړي دي چي هيڅ قسم مال ورسره نشته او ابوجهم دښځو سره ډيره اخلاقي سختي کوي. بيا ماته اسامه بن زيد دنکاح پيغام راوليږلو او زما سره يي واده اوکړو او الله تعالي په اسامه کي زما دپاره خير او برکت واچولو، امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي او دا روايت سفيان ثوري هم دابوبکر بن ابي جهم نه ددي حديث دمفهوم مطابق نقل کړي دي مگر په دي کي دومره اضافه ده چي ماته نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته داسامه سره نکاح اوکړه.

********************

## ٣٩ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَزْلِ

### دعزل کولوبيان

١١٣٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ. حَدَّثَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ. عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّا كُنَّا نَعْزِلُ فَزَعَمَتِ الْيَهُودُ أَنَّهَا الْمَوْءُودَةُ الصُّغْرَى، فَقَالَ: "كَذَبَتِ الْيَهُودُ إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَخْلُقَهُ فَلَمْ يَمْنَعْهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَالْبَرَاءِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ. ([1])

---

[1] سنن النسائي في عشرة النساء (في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٢٥٩٤)

**ترجمه** : دجابررضي الله عنه بيان دي چي مونږعرض اوكړو اي دالله رسوله مونږ به عزل كولو او يهوديانو به وئيل دا خو په قبر كي دژوندي خښولو يو وړوكي صورت دي رسول الله اوفرمائيل يهوديان دروغژن دي الله تعالي چي كله دي لره پيدا كول غواړي نو هيڅوك يي حصارولني نشي.
امام ترمذي وائي په دي باب كي دعمر، براء، ابوهريره، او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

*****************

١١٣٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَابْنُ أَبِي عُمَرَ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: "كُنَّا نَعْزِلُ وَالْقُرْآنُ يَنْزِلُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، وَقَدْ رَخَّصَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ فِي الْعَزْلِ، وقَالَ مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ: تُسْتَأْمَرُ الْحُرَّةُ فِي الْعَزْلِ وَلَا تُسْتَأْمَرُ الْأَمَةُ. (١)

**ترجمه** : دجابررضي الله عنه بيان دي چي مونږ به عزل كولو او قران به نازليدلو.
امام ترمذي وائي دجابر حديث حسن صحيح دي. او دا حديث په يو څو نورو سندونو هم مروي دي په صحابه كرامو وغيره خلقو كي داهل علمو يو جماعت دعزل اجازت وركړي دي. دمالك بن انس قول دي دازادي ښځي نه به دعزل اجازت غوښتلي شي او دوينځي نه اجازت غوښتلو ته ضرورت نشته.

*****************

## ٤٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْعَزْلِ

### دعزل دكراهت بيان

١١٣٨_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، وَقُتَيْبَةُ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ مُجَاهِدٍ، عَنْ قَزَعَةَ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: ذُكِرَ الْعَزْلُ عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لِمَ يَفْعَلُ ذَلِكَ أَحَدُكُمْ". قَالَ أَبُو عِيسَى: زَادَ ابْنُ أَبِي عُمَرَ فِي حَدِيثِهِ وَلَمْ يَقُلْ: "لَا يَفْعَلْ

---

1 _ صحيح البخارى في النكاح ٩٦ (٥٢٠٨، ٥٢٠٩) . صحيح مسلم في النكاح ٢٢ (١٤٤٠) . سنن ابن ماجه في النكاح ٣٠ (١٩٢٧) . (تحفة الأشراف : ٢٤٦٨) وأخرجه صحيح البخارى في النكاح ٩٦ (٥٢٠٧) . صحيح مسلم في النكاح

ذَاكَ أَحَدُكُمْ". قَالَا فِي حَدِيثِهِمَا: فَإِنَّهَا لَيْسَتْ نَفْسٌ مَخْلُوقَةٌ إِلَّا اللَّهُ خَالِقُهَا. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَقَدْ كَرِهَ الْعَزْلَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ.[1]

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي چي يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په وړاندي دعزل ذکر اوکړي شو نو ويي فرمائيل تاسو داسي ولي کوئ، ابن ابي عمر پخپل حديث کي دا اضافه کړي ده چي رسول الله اوفرمائيل په تاسو کي دي هيڅوک داسي نه کوي او دوئ دواړو پخپل خپل حديث کي دا هم وئيلي دي چي کوم نفس لره الله تعالي پيداکول غواړي هغه لره هيڅوک نشي حصارولي.

امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حديث حسن صحيح دي او دا حديث ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم دابوسعيد خدري نه مروي دي، او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي او په صحابه کرامو او اهل علمو کي يو جماعت دعزل په کراهت قول کړي دي.

*****************

## ٤١_ باب مَا جَاءَ فِي الْقِسْمَةِ لِلْبِكْرِ وَالثَّيِّبِ

### دکونډي او پيغلي ښځي په مينځ کي دتقسيم کولو بيان

١١٣٩_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: لَوْ شِئْتُ أَنْ أَقُولَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَلَكِنَّهُ قَالَ: "السُّنَّةُ إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْبِكْرَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَفَعَهُ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَنَسٍ وَلَمْ يَرْفَعْهُ بَعْضُهُمْ. قَالَ: وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالُوا: إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ امْرَأَةً بِكْرًا عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا سَبْعًا، ثُمَّ قَسَمَ بَيْنَهُمَا بَعْدُ بِالْعَدْلِ، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكٍ،

---

[1] _ صحيح البخاري في التوحيد ١٨ (تعليقا عقب الحديث رقم: ٧٤٠٩). صحيح مسلم في النكاح ٢٢ (١٤٣٨). سنن أبي داود في النكاح ٤٩ (٢١٧٠) وأخرجه صحيح البخاري في البيوع ١٠٩ (٢٢٢٩). والعتق ١٣ (٢٥٤٢). والمغازي ٣٢ (٤١٣٨). والنكاح ٩٦ (٥٢١٠). والقدر ٦ (٦٦٠٣). والتوحيد ١٨ (٧٤٠٩). صحيح مسلم في النكاح. موطأ امام مالک في الطلاق ٣٤ (٩٥). مسند احمد (٣ في ٢٢، ٢٦، ٤٧، ٤٩، ٥١، ٥٣، ٥٩، ٨٦). سنن الدارمي في النكاح ٣٦ (٢٢٦٩)

وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ: إِذَا تَزَوَّجَ الْبِكْرَ عَلَى امْرَأَتِهِ أَقَامَ عِنْدَهَا ثَلَاثًا، وَإِذَا تَزَوَّجَ الثَّيِّبَ أَقَامَ عِنْدَهَا لَيْلَتَيْنِ، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ. ([1])

**ترجمه**: دانس بن مالك رضي الله عنه بيان دي فرمائيل يي چي كه زه اوغواړم نو وئيلي شم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ليكن هغوئ صرف دومره وئيلي دي چي سنت دادي چي كله څوك دخپلي ښځي په موجودګئ كي دكومي پيغلي جينئ سره واده اوكړي نو دهغي سره به اوه شپي بغير دتقسيم نه پاتي كيږي او چي كله څوك دكونډي سره واده اوكړي نو دهغي سره دتقسيم نه غير د دري شپو تيرولو اجازت دي (اوددينه پس به بيا تقسيم كيږي).
امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي او دا محمد بن اسحاق مرفوع بيان كړي دي هغوئ په سند د ايوب عن ابي قلابة عن انس ذكر كړي دي او بعضو مرفوع نه دي ذكر كړي، او په دي باب كي دام سلمه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي او دبعضي اهل علمو عمل هم په دي باندي دي چي كله څوك ديوي ښځي په موجودګئ كي دكومي پيغلي سره واده اوكړي نو هغي سره به دتقسيم نه علاوه اوه شپي پاتي كيږي او بيا به ددوئ مينځ كي تقسيم كوي او دروميئ ښځي په موجودګئ كي چي كله دكونډي يا مطلقي سره واده اوكړي نو دهغي سره دري شپي تيرولي شي امام مالك، شافعي، او احمد او اسحاق رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي، په تابعينو كي بعضي اهل علم وائي چي كله څوك دخپلي ښځي په موجودګئ كي دكومي پيغلي سره واده اوكړي نو هغي سره به دري شپي تيروي او چي كله دكونډي يا مطلقي سره واده اوكړي دهغي سره به دوه شپي تيروي (او بيا به تقسيم كوي) ليكن اولني قول زيات صحيح دي.

## دښځو سره دشپي په تقسيم كي انصاف كول

كه چري ديوكس دوه يا زياتي آزادي بيباني وي، كه دواړه باكري وي، او كه دواړه ثيبي وي، يا يوه باكره وي، او بله ثيبه وي نو په دوى كي په انصاف سره تقسيم كول واجب دي.
احناف فقهاء وايي لكه څنګه چي د باكره اوثيبه په مينځ كي په تقسيم كي عدل واجب دې، دغه شان زمونږ په نزد د نوي او زړي مينځ كي هم برابرى ساتل ضروري دى.

[1] ـ صحيح البخارى في النكاح ١٠٠ (٥٢١٣)، و١٠١ (٥٢١٤)، صحيح مسلم في الرضاع ١٢ (١٤٦١) سنن ابى داود في النكاح ٣٥ (٢١٢٤)، سنن ابن ماجه في النكاح ٢٦ (١٩١٦)، سنن الدارمى في النكاح ٢٧ (٢٢٥٥)، (تحفة الأشراف: ٩٤٣)

امام شافعي امام مالك او امام احمد رحمهم الله فرمائي، كه نوي گ شگحگه باكره وى نود نكاح عقد سره به ددې سره اوه ورځې قيام اوكړي، او كه ثيبه وى نودې سره دې درې ورځې قيام اوكړي.

## د فريق مقابل دليل د انس ﷺ حديث دي:

"عن أنس ﷺ أن النبي ﷺ جعل للبكر سبعاً وللثيب ثلاثاً"

د انس ﷺ نه روايت دې چي نبى كريم ﷺ د باكري دپاره اوه ورځې اود ثيبي دپاره درې ورځې مقرر كړي دى.

"وعنه قال من السنة إذا تزوج البكر علي الثيب أقام عندها سبعاً ثم قسم وإذا تزوج الثيب أقام عندها ثلاثاً ثم قسم"

فرمائي، سنت دى چي كله په ثيبه باندې د باكره سره نكاح اوكړى نودې سره دې اوه ورځې قيام اوكړي، بيا دې نمبر مقرر كړى، او كله چي ثيبه سره نكاح اوكړى نودې سره دې درې ورځې قيام اوكړي، بيادې نمبرمقرر كړى، (صحيحين)

**د احنافو دليل** دَ نبى رسول پاك صلي الله عليه وسلم دا ارشاد دې دَ چا چي دوه ښځې وى او هغه په دوى كي يوې طرف ته مائل شى نو دَ قيامت په ورځ به په داسې حال كي راځى چي دده نيمه حصه به مفلوجه وى او دَ عائشې نه روايت دې چي رسول پاك صلي الله عليه وسلم به دَ خپلو بيبيانو په مينځ كي په وار كي برابرې كولو او فرمائيل به يي يا الله داځما تقسيم دې په هغې كار كي چي زهٔ ئې مالك يم نو ځما مؤاخذه مه كوې په هغې كي چي زهٔ يي مالك نه يم يعنى دَ زياتئ محبت او په مارويننا كي څه تفصيل نشته، يعني: زړه او نوې ښځه برابري ددې حديث دَ اطلاق په وجه سره كوم چي مونږ روايت كړو.

اوځكه چي نمبر مقررول دَ حقوقو دَ نكاح نه دې او په دې حق كي دَ ښځو په مينځ كي څه تفاوت نشته او اختيار دَ چكر په مقدار كي خاوند لره دې ځكه چي واجب برابرى دي نه چي دَ دې طريقه.

د نمبر په مقرركولو كي خاوند ته اختيار دې، كه زړه ئې غواړى نو يوه يوه ورځ نمبر دې مقرر كړى، او كه خوښه ئې وى، دوه دوه، يا درې يا څلور څلور ورځې دې مقرركړى، او چونكه ددې تقسيم وجوب د تسلئ جوړولو دپاره،اود وحشت لرې كولودپاره دې، په دې وجه ضرورى دى چي د نزدې مودې اعتبار اوكړې شى، او زما په خيال د يوې هفتې نه زيات نمبر مقرركول د تكليف باعث دې نود يوې هفتې نه زيات مقرركولو نه احتراز كول مناسب دى، خو كه دا ښځې په زياتوباندې راضى شى نو په

زیاتوکي هیڅ باك نشته، خومناسب دادی چي دا مقدار د ایلاءمودې(څلور میاشتو) ته اونه رسی، خاوند ته د اختیار ورکولو وجه داده چي په خاوند باندې برابری واجب ده، خود برابرئ طریقه واجب نه ده، او برابری صرف په شپه تیرولو کي دي، په جماع کولوکي نه ده، یعنی تولوښځوسره به برابرشپې تیره وی، په دې شپوکي جماع کول شرط نه دی، ځکه چي جماع د طبعیت په ښه والی اوخوشحالئ باندې موقوف دي، اودا ده په اختیارکي نه دی، والله اعلم بالصواب.

****************

## ٤٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّسْوِيَةِ بَيْنَ الضَّرَائِرِ

### دبنوپه مینځ کي د نمبر په تقسیم کي دبرابري او مساوات بیان

١١٤٠_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ السَّرِيِّ. حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنْ أَبِي قِلَابَةَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ. عَنْ عَائِشَةَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْسِمُ بَيْنَ نِسَائِهِ فَيَعْدِلُ. وَيَقُولُ: "اللَّهُمَّ هَذِهِ قِسْمَتِي فِيمَا أَمْلِكُ فَلَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ وَلَا أَمْلِكُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ هَكَذَا رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنْ أَبِي قِلَابَةَ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ. عَنْ عَائِشَةَ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْسِمُ". وَرَوَاهُ حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ. وَغَيْرُ وَاحِدٍ. عَنْ أَيُّوبَ. عَنْ أَبِي قِلَابَةَ مُرْسَلًا . أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَانَ يَقْسِمُ". وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: لَا تَلُمْنِي فِيمَا تَمْلِكُ. وَلَا أَمْلِكُ إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ الْحُبَّ. وَالْمَوَدَّةَ كَذَا فَسَّرَهُ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

**ترجمه** : دام المؤمنین عائشه رضي الله عنها بیان دي فرمائي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم به دخپلو بیبیانو په مینځ کي دشپې تیرولو دنمبر تقسیم کولو او فرمائیل به یي اي الله دا زما تقسیم دي په کوم چي زه قادر یم لیکن په کوم کار چي ته قادر یي او زه په هغي قادر نه یم نو په هغي ما ملامت نکړي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حدیث په نورو سندونو هم دحماد بن سلمه عن ایوب عن ابي قلابه عن عبدالله بن یزید عن عائشه رضي الله عنها سره منقول دي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم به دنمبر تقسیم کولو، مګر دا حدیث حماد بن زید او بعضي نورو ثقاتو په سند

[1] ـ سنن ابي داود في النكاح ٣٩ (٢١٣٤) . سنن النسائي في عشرة النساء ٢ (٣٩٥٣) . سنن ابن ماجه في النكاح ٤٧ (١٩٧١) . (تحفة الأشراف : ١٦٢٩٠) . سنن الدارمي في النكاح ٢٥ (٢٢٥٣)

دايوب عن ابي قلابه.نقل كړي دي چي رسول الله به د نمبر تقسيم كولو ليكن دا حديث دحمادبن سلمه دحديث نه زيات صحيح دي او په څه چي ته قدرت لري او زه ورباندي قدرت نه لرم ددينه مراد محبت او مودت دي بعضي علماؤ ددي دا تفسير كړي دي.

****************

١١٤١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ النَّضْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ بَشِيرِ بْنِ نَهِيكٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا كَانَ عِنْدَ الرَّجُلِ امْرَأَتَانِ، فَلَمْ يَعْدِلْ بَيْنَهُمَا جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَشِقُّهُ سَاقِطٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا أَسْنَدَ هَذَا الْحَدِيثَ هَمَّامُ بْنُ يَحْيَى، عَنْ قَتَادَةَ، وَرَوَاهُ هِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ قَتَادَةَ، قَالَ: كَانَ يُقَالُ، وَلَا نَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ هَمَّامٍ وهمام ثقة حافظ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي دكوم كس دوه ښځي وي او دهغوئ مينځ كي دانصاف نه كار وانخلي نو دي به دقيامت په ورځ په داسي حال كي راځي چي يو طرف به يي كوږ وي.

امام ترمذي وائي داحديث همام بن يحيٰ دقتاده نه مسندنقل كړي دي، او هشام دستوائي هم دقتاده نه نقل كړي دي ليكن دهغه په روايت كي داسي (داسي به وئيلي كيدل)، داحديث مونږ ته صرف دهمام په سند مرفوع رارسيدلي دي او همام ثقه او حافظ دي.

**تشريح** : ددي روايت نه دامعلومه شوه كه چرې دچا ښځي ګنړي وي نو دهغوي په مينځ كي انصاف كول اوبرابري كول ضروري دي البته دنوي ښځي داخصوصيت دى كه چرې هغه پيغله وي نودهغي سره دي اوه ورځي تيري كړي اوكه چرې طلاقه شوي ياكونډه وي نودهغي سره دري ورځي تيرول دتقسيم نه علاوه ضروري دي ، ددي حديث نه امام مالك ، امام شافعي او امام احمد بن حنبل دخپل مسلك دپاره استدلال كړى دى كوم صورت چي مونږ ذكر كړو هغه ددوي مسلك دى.

مګر امام ابوحنيفه رحمة الله عليه پدي باب كي دقراني اياتونونه استدلال كړى دى اودحديث الباب مطلب دادى چي دشپي تقسيم خوپه هر حال كي واجب دى ليكن دپيغلي سره دنكاح په وخت كي په ابتدائي ورځوكي دتقسيم طريقه بدل كړى شوي ده اوديوي ورځي په ځايي باندي

---

[1] ــ سنن ابي داود في النكاح ٣٩ (٢١٣٣) . سنن النسائي في عشرة النساء ٢ (٣٩٥٢) . سنن ابن ماجه في النكاح ٤٧ (١٩٦٩) (تحفة الأشراف : ١٢٢١٣) . مسند احمد (٢ في ٢٩٥ ، ٤٧١) . سنن الدارمي في النكاح ٢٤ (٢٢٥٢)

اوه ورځي او د کونډې د پاره درې ورځې مقرر کړې شوې دي د دې توجيه تائيد دام سلمه رضي الله عنها د روايت نه هم کيږي.

****************

## ٤٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الزَّوْجَيْنِ الْمُشْرِكَيْنِ يُسْلِمُ أَحَدُهُمَا

**په مشرک ښځه او خاوند کې چې کله يو تن اسلام قبول کړي نو د دې څه حکم دی**

١١٤٢_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الحَجَّاجِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَدَّ ابْنَتَهُ زَيْنَبَ عَلَى أَبِي العَاصِي بْنِ الرَّبِيعِ، بِمَهْرٍ جَدِيدٍ وَنِكَاحٍ جَدِيدٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ فِي إِسْنَادِهِ مَقَالٌ: وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا الحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ العِلْمِ، أَنَّ المَرْأَةَ إِذَا أَسْلَمَتْ قَبْلَ زَوْجِهَا، ثُمَّ أَسْلَمَ زَوْجُهَا، وَهِيَ فِي العِدَّةِ، أَنَّ زَوْجَهَا أَحَقُّ بِهَا مَا كَانَتْ فِي العِدَّةِ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالأَوْزَاعِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دی فرمائي چې رسول الله صلي الله عليه وسلم خپله لور زينب ابوالعاص بن ربيع ته په نوي مهر او نوي نکاح واپس کړه.

امام ترمذي وائي د دې حديث په سند محدثينو کلام کړې دی او په دويم حديث باندې هم کلام شوی دی داهل علمو عمل هم په دې باندې دی چې ښځه کله د خپل خاوند نه مخکې اسلام قبول کړي او بيا د دې خاوند دعدت په دوران کې اسلام قبول کړي نو د دې خپل خاوند د دې زيات حقدار دی چې کله دا په عدت کې وي، امام مالك اوزاعي، شافعي، احمد، او اسحاق هم په دې باندې قول کړی دی.

****************

١١٤٣_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ بُكَيْرٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، قَالَ: حَدَّثَنِي دَاوُدُ بْنُ الحُصَيْنِ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "رَدَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابْنَتَهُ زَيْنَبَ عَلَى أَبِي العَاصِ بْنِ الرَّبِيعِ، بَعْدَ سِتِّ سِنِينَ بِالنِّكَاحِ الأَوَّلِ وَلَمْ يُحْدِثْ نِكَاحًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ

---

1 _ سنن ابن ماجه في النكاح ٦٠ (٢٠١٠). (تحفة الأشراف: ٨٦٤٢). مسند احمد (٢ في ٢٠٧)

لَيْسَ بِإِسْنَادِهِ بَأْسٌ وَلَكِنْ لَا نَعْرِفُ وَجْهَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَلَعَلَّهُ قَدْ جَاءَ هَذَا مِنْ قِبَلِ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ، مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ. ([1])

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم خپله لور زينب ابو العاص رضي الله عنه ته شپږ كاله پس په اولنۍ نكاح باندي واپس اوليږله او دوباره نكاح يي اونكړه.

امام ترمذي وائي ددي حديث په سند كي هيڅ اشكال نشته ليكن مونږ ته دا په قوي سند نه دي رارسيدلي شايد چي دا ځيز ذ داود بن حصين دجانبه دهغه دحفظ په لحاظ واقع شوي دي.

****************

١١٤٤ـ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَ: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا جَاءَ مُسْلِمًا عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ جَاءَتِ امْرَأَتُهُ مُسْلِمَةً، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا كَانَتْ أَسْلَمَتْ مَعِي فَرُدَّهَا عَلَيَّ، "فَرَدَّهَا عَلَيْهِ"، هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ، سَمِعْتُ عَبْدَ بْنَ حُمَيْدٍ، يَقُولُ: سَمِعْتُ يَزِيدَ بْنَ هَارُونَ يَذْكُرُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَحَدِيثُ الْحَجَّاجِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "رَدَّ ابْنَتَهُ زَيْنَبَ عَلَى أَبِي الْعَاصِ بِمَهْرٍ جَدِيدٍ، وَنِكَاحٍ جَدِيدٍ"، قَالَ يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَجْوَدُ إِسْنَادًا وَالْعَمَلُ عَلَى حَدِيثِ، عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ. ([2])

**ترجمه** : دابن عباس بيان دي چي يو كس دنبئ كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي مسلمان شو (او مديني ته يي هجرت اوكړو) او بيا دده ښځه هم مسلمانه شوه او راغله ده عرض اوكړو اي دالله رسوله دي خو ما سره يو ځاي اسلام قبول كړي وو دا ماته واپس راكړه نو هغه ورته رسول الله صلي الله عليه وسلم واپس وركړه.

امام ترمذي وائي داحديث صحيح دي، حجاج دا حديث په سند دعمرو بن شعيب عن ابيه عن جده سره نقل كړي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم خپله لور زينب ابو العاص ته په نوي مهر او نوي نكاح ليږلي وه، يزيد بن هارون وائي چي دابن عباس حديث دسند په اعتبار سره دټولو نه بهتر دي ليكن معمول بها دعمرو بن شعيب عن ابيه عن جده والا حديث دي.

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ٢٤ (٢٢٤٠) . سنن ابن ماجه في النكاح ٦٠ (٢٠٠٩) . (تحفة الأشراف : ٦٠٤٣)

[2] ـ سنن ابي داود في الطلاق ٢٣ (٢٢٣٨) . سنن ابن ماجه في النكاح ٦٠ (٢٠٠٨) . (تحفة الأشراف : ٦١٠٦)

*****************

## ٤٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَتَزَوَّجُ الْمَرْأَةَ فَيَمُوتُ عَنْهَا قَبْلَ أَنْ يَفْرِضَ لَهَا

**بيان دهغه چا چي ديوي ښځي سره نكاح اوكړي او دمهر مقررولو نه مخكي وفات شي**

١١٤٥_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ الْحُبَابِ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ عَلْقَمَةَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ سُئِلَ عَنْ رَجُلٍ تَزَوَّجَ امْرَأَةً وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا، وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا حَتَّى مَاتَ، فَقَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ: لَهَا مِثْلُ صَدَاقِ نِسَائِهَا لَا وَكْسَ وَلَا شَطَطَ وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ وَلَهَا الْمِيرَاثُ، فَقَامَ مَعْقِلُ بْنُ سِنَانٍ الْأَشْجَعِيُّ، فَقَالَ: " قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ امْرَأَةٍ مِنَّا مِثْلَ الَّذِي قَضَيْتَ "، فَفَرِحَ بِهَا ابْنُ مَسْعُودٍ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ الْجَرَّاحِ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، وَعَبْدُ الرَّزَّاقِ كلاهما، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مَنْصُورٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَبِهِ يَقُولُ الثَّوْرِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وقَالَ: بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، مِنْهُمْ عَلِيُّ بْنُ أَبِي طَالِبٍ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ، وَابْنُ عَبَّاسٍ، وَابْنُ عُمَرَ، إِذَا تَزَوَّجَ الرَّجُلُ الْمَرْأَةَ وَلَمْ يَدْخُلْ بِهَا، وَلَمْ يَفْرِضْ لَهَا صَدَاقًا حَتَّى مَاتَ، قَالُوا: لَهَا الْمِيرَاثُ وَلَا صَدَاقَ لَهَا، وَعَلَيْهَا الْعِدَّةُ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، قَالَ: لَوْ ثَبَتَ حَدِيثُ بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ، لَكَانَتِ الْحُجَّةُ فِيمَا رُوِيَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرُوِي، عَنِ الشَّافِعِيِّ، أَنَّهُ رَجَعَ، بِمِصْرَ، بَعْدُ عَنْ هَذَا الْقَوْلِ، وَقَالَ بِحَدِيثِ بِرْوَعَ بِنْتِ وَاشِقٍ. (١)

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي يو كس رانه دهغه چا باره كي تپوس اوكړو چاچي ديوي ښځي سره نكاح كړي وه ليكن نه يي دهغي دپاره مهر مقرر كړي وو او نه يي ورسره صحبت شوي وو تردي چي دي په دي دوران كي مړ شو، ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائيل ددي ښځي دپاره به ددي دخاندان دنورو ښځو دمهر پشان مهر وي نه به ددينه كم وي او نه به ددينه زيات وي او دا به عدت هم تيروي او په ميراث كي به يي هم حق

---

[1] _ سنن ابي داود في النكاح ٣٢ (٢١١٥) . سنن النسائي في النكاح ٦٨ (٣٣٥٦، ٣٣٥٩) . والطلاق ٥٧ (٣٥٥٣) . سنن ابن ماجه في النكاح ١٨ (١٨٩١) . سنن الدارمي في النكاح ٤٧ (٢٢٩٢) . (تحفة الأشراف : ١١٣٦١) وأخرجه سنن النسائي في النكاح ٦٨ (٣٣٦٠) . و مسند احمد (١ في ٤٣٧)

وي دي وخت كي معقل بن سنان اشجعي رضي الله عنه اودريدو او ويي فرمائيل بروع بنت واشق چي زمونږ دقبيلي يوه ښځه وه دهغي په باره كي هم رسول الله صلي الله عليه وسلم داسي فيصله كړي وه څنګه چي تا اوس اوكړله ددي په اوريدو ابن مسعود رضي الله عنه ډير زيات خوشحاله شو.

امام ترمذي وائي دابن مسعود حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دجراح نه هم روايت وارد دي، يزيد بن هارون او عبدالرزاق په سند دسفيان عن منصور هم ددي هم معني روايت نقل كړي دي، او دا روايت دابن مسعود رضي الله عنه نه دنورو سندونو هم منقول دي، په صحابه كرامو كي دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي، سفيان ثوري، احمد، اسحاق هم په دي باندي قول كړي دي، مګر په صحابه كرامو كي دبعضي اهل علمو قول دي په كومو كي چي علي بن ابي طالب، زيد بن ثابت، ابن عباس، او ابن عمر رضي الله عنهم هم شامل دي دوئ وائي كله چي يو كس دكومي ښځي سره نكاح اوكړي او نه يي دخول كړي وي او نه يي مهر مقرر كړي وي او دي وخت كي مړ شي نو ددوئ په نزد دي ښځي ته په ميراث كي حق ملاوېږي ليكن مهر يي نه رسيږي او عدت به هم تيروي او همدا دامام شافعي قول دي، امام شافعي دا هم وائي كه دبروع بنت واشق حديث صحيح وي نو دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دمروي كيدو په وجه به حجت وي او دشافعي نه مروي دي چي هغوئ وروسته په مصر كي ددي قول نه رجوع كړي ده او دبروع بنت واشق دحديث مطابق فتوي يي وركړي ده.

**تشريح: دمهر غير مسمى په صورت كي د احد الزوجين د وفات كيدو صورت**

كه چري د ښځي اوخاوند دواړو انتقال شويدې، اوس به دا كتلې شي چي دښځي دپاره مهرمسمى وو، او كه نه وو، كه د ښځي دپاره مهرمسمى وو نو په اتفاق به د ښځي وارثان د خاوند د متروكه مال نه مهرمثل وصول كوي، او كه د ښځي دپاره مهرمسمى نه وو نو په دې صورت كي به د امام ابوحنيفه (رحمه الله) په نزد د ښځي وارثانو دپاره هيڅ نه وي، اود صاحبينو په نزد به په دې صورت كي مهرمثل وي، حاصل داچي د صاحبينو په نزد دواړه صورتونوكي مهر دې، د تسميه په صورت كي به مسمى وي، اود عدم تسميه په صورت كي به مهرمثل وي، په متفق عليه مسئله باندې دليل دادې چي مسمى د خاوند په ذمه باندې دين دې، ددې دين ثبوت به په بينه سره شوې وي، يا به د زوجينو پخپل مينځ كي په اتفاق سره شوې وي، بهرحال مسمى د خاوند په ذمه دين دې، اود مرګ په وجه مسمى مؤكد كيږي، ځكه چي دمرګ نه وړاندې دا احتمال وو چي خاوند، طلاق قبل الدخول، وركړي، او ددې په وجه مهرنصف پاتې شي، خود مرګ نه پس دا احتمال باقي نه پاتې كيږي نو هركله چي د مرګ په وجه مهرمسمى مؤكد شو نود خاوند د تركه (مال موروث) نه به ددې فيصله كولې شي،

خو که دا معلومه شی چي دښځې مرګ د خاوند نه مخکي شویدې نو په دې صورت کي به د خاوند حصه په دې مسمی کي ساقطیږی، اود خاوند حصه داده، که ښځه د اولاد والا وی نوخاوند ته به د مال متروکه نه ربع ملاویږی، او که ښځه د اولاد والا نه وی نوخاوند ته به نصف ملاویږی، په حقیقت کي ددې څلور صورتونه دی، یو داچي زوجین یوځائې وفات شی، او ددې علم هم وی، دویم داچي ددې علم نه وی چي مخکي څوك وفات شویدی، دریم داچي ددې علم وی چي د خاوند وفات مخکي شویدې، په دې درې واړه صورتونوکي به د ښځې وارثانو ته د خاوند د ترکه نه ټوله مسمی ورکولې شی، څلورم دا چي دامعلومه وی چي د ښځې وفات مخکي شویدې نو په دې صورت کي به ددې مسمی نه دخاوند حصه میراث اوښکلې شی، او باقی به دښځې وارثانو ته ورکولې شی،

په مختلف فیه صورت کي د صاحبینو دلیل دادې چي لکه څنګه مهرمسمی د خاوند په ذمه باندې دین دې، دغه شان مهرمثل هم د خاوند په ذمه باندې دین دې نو لکه څنګه چي مهرمسمی د مرګ په وجه نه ساقطیږی، دغه شان مهرمثل هم د مرګ په وجه نه ساقطیږی، صاحبینو دویم قول د ،احدالزوجین، په مرګ باندې قیاس کړیدې چي لکه څنګه د ،احد الزوجین، په مرګ سره د مهرمثل اعتبار نه ساقطیږی، دغه شان د دواړو په مرګ سره هم مهرمثل نه ساقطیږی،

د امام صاحب دلیل دادې چي د زوجینو وفات ددې دواړو دعمروالا خلقو په ختمیدلو باندې دلالت کوی، او قاضی ددې ښځې د مهرمثل اندازه ددې دعمروالاښځو د مهرنه لګوی نو هرکله چي قاضی ددې د زمانې والاښځې بیانه مومی نو ددې د مهرمثل اندازه به څنګه لګولې شی، او هرکله چي د مهرمثل اندازه نشی لګیدلې نوددې وجوب به هم نشی کیدلې، خوکه زمانه زړه(پخوانۍ) شوې نه ده، او زیات وخت نه دې تیرشوې نو ددې ښځې د مهرمثل فیصله به کولې شی،

بعض مشائخو د امام صاحب دطرفه یوه ښه نکته بیان کړیده، فرمائی چي مهرمثل چونکه د بضعې قیمت دې، او په دې وجه دا د مهرمسمی مشابه دې، ځکه چي مسمی هم د بضعې قیمت دې، او چونکه مهرمثل د غیرمال (منافع دبضع)په مقابله کي دې، په دې وجه د صله مشابه دې، مثلاً نفقه د خاوند دطرفه صله ده، اومسمی نه د زوجینوپه مرګ سره ساقطیږی، اونه د ،احد الزوجین، په مرګ سره ساقطیږی، او صله (نفقه) د زوجینو په مرګ سره هم ساقطیږی، اود احد الزوجین په مرګ سره هم ساقطیږی، اوس که په مهرمثل کي صرف د مسمی دمشابهت لحاظ اوساتلې شی نو مهرمثل په دواړه صورتونوکي ساقطیدل نه دی پکار، نه د زوجینو په مرګ سره، اونه

د ، احد الزوجين، په مرګ سره، او که صرف د نفقه د مشابهت لحاظ اوساتلې شي نو مهرمثل په دواړو صورتونوکي ساقطيدل پکار دی، د زوجينو په مرګ سره هم،اود ،احد الزوجين، په مرګ سره هم، خومونږ د دواړو مشابهتونو لحاظ اوساتلو. چونکه مهرمثل د مسمى سره مشابهت لري، ځکه به د ،احد الزوجين، په مرګ سره نه ساقطيږي، اوچونکه صله يعنى د نفقه سره مشابهت لري، په دې وجه د زوجينو په مرګ سره مهرمثل نه ساقطيږي، والله اعلم بالصواب (فتح القدير)

****************

# كتاب الرضاع

## درضاعت احكام او مسائل

### ١ـ بَاب مَا جَاءَ يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعِ مَا يُحَرِّمُ مِنَ النَّسَبِ

### په رضاعت سره هم هغه رشتې حراميږي کومې چې په نكاح سره حراميږي

١١٤٦ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ. حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ زَيْدٍ. عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ. عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ. قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعِ مَا حَرَّمَ مِنَ النَّسَبِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنْ عَائِشَةَ. وَابْنِ عَبَّاسٍ. وَأُمِّ حَبِيبَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيٍّ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دعلي بن ابي طالب رضي الله عنه بيان دی رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په رضاعت سره هم هغه رشتې حراميږي کومې چي په نسب سره حرامې شوي دي.

امام ترمذي وائي دعلي حديث حسن صحيح دی، او په دې باب کي د عائشه، ابن عباس، او ام حبيبه رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، په صحابه کرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو کي داکثرو په دې باندې عمل دی او په دې سلسله کې مونږ دفقهاؤ په مينځ کي هيڅ قسم اختلاف نه دی موندلی

****************

١١٤٧ـ حَدَّثَنَا بُنْدَارٌ. حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ. حَدَّثَنَا مَالِكٌ. ح وحَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ. قَالَ: حَدَّثَنَا مَعْنٌ. قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ. عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ. عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٠١١٨)

عَنْ عُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللهَ حَرَّمَ مِنَ الرَّضَاعَةِ مَا حَرَّمَ مِنَ الْوِلَادَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ لَا نَعْلَمُ بَيْنَهُمْ فِي ذَلِكَ اخْتِلَافًا.[1]

**ترجمه**: دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي په رضاعت سره هم هغه زشتي حرامي كړي دي كومي چي يي په ولادت باندي حرامي كړي دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په صحابه كرامو كي داهل علمو په همدي باندي عمل دي او مونږ ته دا نه ده معلومه چي په علماؤ كي په دي مسئله كي چا اختلاف كړي وي (يعني دا اجماعي مسئله ده).

## په رضاعت سره د حرمت ثبوت

دپيويه مقداركي چي په هغې حرمت رضاعت ثابتيږي، اختلاف دې.

احناف فرمائي چي په مطلق پيئ وركولو يا رودلوسره حرمت رضاعت ثابتيږي، كه كم وي اوكه زيات وي، خوپه دې شرط چي د رضاعت په موده كي وي.

حسن بصري، سعيدبن المسيب، وكيع، عبدالله بن مبارك او زيات جمهورفقهاء ددې قائلين دي.

امام شافعي فرمائي چي په پنځه ځله پيئ رودلوسره رضاعت ثابتيږي، په دې طريقه چي ماشوم په دې كي په هريوباندې موړشي.

اوپه ظاهرروايت كي امام احمد (رحمه الله) هم ددي قائل دې.

اودامام احمد (رحمه الله) نه دويم روايت ددرې ځله پيو ځكلو منقول دې،

زمونږدليل دالله تعالى ارشاد دې: وامهاتكم التي يعنى اوحرام كړې شوى دى په تاسو ستاسوميندې چاچي تاسوته پيئ دركړى وى.

اود نبي ﷺ حديث چي "يحرم من الرضاع مايحرم من النسب" يعنى په رضاعت هغه څه حراميږي، څه چي په نسب حراميږي، آيت اوحديث دواړه مطلق دى، د قليل اوكثيرڅه تفصيل په كي نشته نوپه مطلق رضاع سره به حرمت ثابتيږي.

---

[1] ـ سنن ابي داود في النكاح ۷ (۲۰۵۵). سنن النسائي في النكاح ۴۹ (۳۳۰۲). (تحفة الأشراف: ۱۶۳۴۴). سنن الدارمي في النكاح ۴۸ (۲۲۹۵) وأخرجه صحيح البخاري في الشهادات ۷ وفرض الخمس ۴ (۳۱۰۵)، والنكاح ۲۰ (۵۰۹۹) و ـ ۲ (۵۱۱۱). صحيح مسلم في الرضاع ۲ (۱۴۴۴). سنن النسائي في النكاح ۴۹ (۳۳۰۳، ۳۳۰۴، ۳۳۰۵). سنن ابن ماجه في النكاح ۳۴ (۱۹۳۷) .موطا امام مالک في الرضاع ۱ (۳). مسند احمد (۲ في ۶۶، ۷۲، ۱۰۲). سنن الدارمي في النكاح ۴۸ (۲۲۹۱، ۲۲۹۲)

د امام شافعي دليل دا حديث دى:

{ لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ وَلَا الْإِمْلَاجَةُ وَلَا الْإِمْلَاجَتَانِ

امام شافعي چي كوم حديث په استدلال كي پيش كړې دې نودهغې نه جواب دا دې چي دا حديث به خالى نه وى، يا به د كتاب الله نه روستو وى اويا به مخكي وى، كه د كتاب الله نه روستووى نودا به مردود وى، ځكه چي كتاب الله دحديث په مقابله كي اقوى دې، اوعمل به په اقوى كولې شى، اوكه چري د كتاب الله نه مخكي وى نودا به په كتاب الله سره منسوخ وى، د عائشه رضى الله عنها دحديث په باره كي امام ابن بطال (رحمه الله) فرمائيلى دى چي دا حديث مضطرب دې نود كتاب الله په مقابله كي ددې پريخودل اوكتاب الله ته رجوع كول واجب شو.

*****************

## ٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي لَبَنِ الْفَحْلِ

### دپيو نسبت به سړي ته كيږي

١١٤٨_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا ابْنُ نُمَيْرٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: جَاءَ عَمِّي مِنَ الرَّضَاعَةِ يَسْتَأْذِنُ عَلَيَّ، فَأَبَيْتُ أَنْ آذَنَ لَهُ حَتَّى أَسْتَأْمِرَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ فَإِنَّهُ عَمُّكِ". قَالَتْ: إِنَّمَا أَرْضَعَتْنِي الْمَرْأَةُ، وَلَمْ يُرْضِعْنِي الرَّجُلُ، قَالَ: "فَإِنَّهُ عَمُّكِ فَلْيَلِجْ عَلَيْكِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ كَرِهُوا لَبَنَ الْفَحْلِ، وَالْأَصْلُ فِي هَذَا حَدِيثُ عَائِشَةَ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي لَبَنِ الْفَحْلِ وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ. [1]

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دې چي يو ځل زما رضاعي تره راغي او هغه زما نه دننه دراتلو دپاره اجازت اوغوښتلو مګر ما ورته اجازت ورنكړو او دده باره كي مي دننه دراتلو نه انكار اوكړو تردي پوري چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددې خبرې اجازت واخلم رسول الله صلي الله عليه وسلم راته اوفرمائيل هغه خو ستا خواته راتلې شي ځكه چي

---

[1] _ صحيح مسلم في الرضاع ٢ (١٤٣٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٨٢)، صحيح البخارى في الشهادات ٧ (٢٦٤٢) وتفسير سورة السجدة ٩ (٤٧٩٦)، و النكاح ٢٢ (٥١٠٣)، و١١٧ (٥٢٣٩)، والأدب ٩٣ (٦١٥٦)، صحيح مسلم في الرضاع سنن النسائى في النكاح ٤٩ (٣٣٠٣)، سنن الدارمى في النكاح ٤٨ (٢٢٩٣)

هغه خو ستا تره دي ددي خبري په اوريدو ما عرض اوکړو ماته خو ښځي پئ راکړي دي سړي خو نه وو؟ رسول الله اوفرمائيل هغه په هر حال کي ستا تره دي او ستا خواته راتلي شي.
امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي په صحابه کرامو کي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او هغوئ لبن الفهم حرام ګنړلي دي په دي باب کي اصل حديث دعائشه دي او بعضي اهل علمو دلبن الفحل باره کي اجازت ورکړي دي ليکن اولني قول زيات صحيح دي.

*****************

١١٤٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ. ح وحَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، قَالَ: حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ سُئِلَ، عَنْ رَجُلٍ لَهُ جَارِيَتَانِ: أَرْضَعَتْ إِحْدَاهُمَا جَارِيَةً، وَالأُخْرَى غُلَامًا، أَيَحِلُّ لِلْغُلَامِ أَنْ يَتَزَوَّجَ بِالْجَارِيَةِ؟. فَقَالَ: "لَا اللِّقَاحُ وَاحِدٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا تَفْسِيرُ لَبَنِ الْفَحْلِ وَهَذَا الأَصْلُ فِي هَذَا الْبَابِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (١)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي يو کس رانه دداسي کس باره کي تپوس اوکړو دچا سره چي دوه وينځي وي او په هغوئ کي يوي جينئ ته پئ ورکړي وو او دويم يي يو هلك ته ورکړي وو نو ايا ددي هلك دپاره دا جائز دي چي ددي جينئ سره نکاح اوکړي ابن عباس اوفرمائيل هرګز جائز نه دي ځکه چي لقاح يو دي، امام ترمذي وائي همدا روايت په دي باب کي اصل دي امام احمد او اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي.

**تشريح** : لبن الفحل يو اصطلاحي کلمه ده ددينه مراد حرمت درضاعت دي کوم چي درضاعي پلار په وجه ثابت وي لکه رضاعي تروريانړي، رضاعي تره، او رضاعي نيکه وغيره.

*****************

## ٣_ بَابُ مَا جَاءَ لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ

### په يو ځل دوه ځله پئ خوړلو باندي حرمت نه ثابتيږي

١١٥٠_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ أَيُّوبَ يُحَدِّثُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُمِّ الْفَضْلِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَالزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، وَابْنِ الزُّبَيْرِ، وَرَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا

---

١ _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٣١١)

الْمَصَّتَانِ "، وَرَوَى مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَزَادَ فِيهِ مُحَمَّدُ بْنُ دِينَارٍ الْبَصْرِيُّ، عَنِ الزُّبَيْرِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ وَالصَّحِيحُ عِنْدَ أَهْلِ الْحَدِيثِ، حَدِيثُ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا فَقَالَ: الصَّحِيحُ، عَنِ ابْنِ الزُّبَيْرِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَحَدِيثُ مُحَمَّدِ بْنِ دِينَارٍ وَزَادَ فِيهِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، وَإِنَّمَا هُوَ هِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ الزُّبَيْرِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. (حديث موقوف) وَقَالَتْ عَائِشَةُ: أُنْزِلَ فِي الْقُرْآنِ " عَشْرُ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ "، فَنُسِخَ مِنْ ذَلِكَ خَمْسٌ، وَصَارَ إِلَى خَمْسِ رَضَعَاتٍ مَعْلُومَاتٍ، فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ. حَدَّثَنَا بِذَلِكَ إِسْحَاقُ بْنُ مُوسَى الْأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنٌ، حَدَّثَنَا مَالِكٌ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ، عَنْ عَمْرَةَ، عَنْ عَائِشَةَ بِهَذَا، وَبِهَذَا كَانَتْ عَائِشَةُ تُفْتِي، وَبَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ أَحْمَدُ بِحَدِيثِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا تُحَرِّمُ الْمَصَّةُ وَلَا الْمَصَّتَانِ "، وقَالَ: إِنْ ذَهَبَ ذَاهِبٌ، إِلَى قَوْلِ عَائِشَةَ فِي خَمْسِ رَضَعَاتٍ، فَهُوَ مَذْهَبٌ قَوِيٌّ وَجَبُنَ عَنْهُ، أَنْ يَقُولَ فِيهِ شَيْئًا، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: يُحَرِّمُ قَلِيلُ الرَّضَاعِ، وَكَثِيرُهُ إِذَا وَصَلَ إِلَى الْجَوْفِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالْأَوْزَاعِيِّ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، وَوَكِيعٍ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي مُلَيْكَةَ هُوَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ وَيُكْنَى أَبَا مُحَمَّدٍ، وَكَانَ عَبْدُ اللهِ، قَدِ اسْتَقْضَاهُ عَلَى الطَّائِفِ، وَقَالَ ابْنُ جُرَيْجٍ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: أَدْرَكْتُ ثَلَاثِينَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو خل دوه خله پئ خوړلو سره حرمت درضاعت نه ثابتيږي.

امام ترمذي وائي دعائشه رضي الله عنها حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دام فضل، ابوهريره، زبير بن عوام، او عبدالله بن زبير رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي، او دا حديث نورو راويانو په سند دهشام بن عروه عن ابيه عن عبدالله بن الزبير عن النبي صلي

---

1 _ صحيح مسلم في الرضاع ٥ (١٤٥٠)، سنن ابي داود في النكاح ١١ (٢٠٦٣)، سنن النسائي في النكاح ٥١ (٣٣١٠)، سنن ابن ماجه في النكاح ٣٥ (١٩٤١)، (تحفة الأشراف: ١٦١٨٩)، مسند احمد (٦ في ٢٤٧)، وسنن الدارمي في النكاح ٣٩ (٢٢٩٧)

الله عليه وسلم سره نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په يو ځل دوه ځله پيځ خوړلو باندي حرمت درضاعت نه ثابتيږي، او محمد بن دينار هم دا روايت په سند دهشام بن عروه عن ابيه عن عبدالله بن الزبير عن الزبير عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي او په دي کي محمد بن دينار دزبير دواسطي اضافه کړي ده ليکن دا سند غير محفوظ دي، د محدثينو په نزد صحيح روايت دابن ابي مليکه دي کوم چي هغه په سند دعبدالله بن زبير عن عائشه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي، امام ترمذي وائي ما دامام بخاري نه ددي حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغه اووئيل صحيح روايت دابن زبير دي کوم چي هغه دعائشي نه نقل کړي دي او دمحمد بن دينار هغه روايت په کوم کي چي دزبير دواسطي اضافه ده هغه په اصل کي دهشام بن عروه نه مروي دي کوم چي هغه دخپل پلار عروه نه نقل کړي دي او عروه دزبير نه نقل کړي دي په صحابه کرامو کي داهل علمو په همدي باندي عمل دي، دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي په قران کي اولني لس رضعات والا ايتونه نازل شوي وو بيا ورنه پنځه منسوخ شو نو باقي پاتي شول او چي کله رسول الله صلي الله عليه وسلم وفات شو نو معامله په هم هغه پنځو باقي پاتي شوه او عائشه رضي الله عنها او نورو ازواج مطهراتو ته په همدي باندي فتوي ورکوله او همدا دامام شافعي او اسحاق قول دي، امام احمد دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په حديث "په يو ځل دوه ځله څکلو سره حرمت نه ثابتيږي" دعمل کولو قائل دي. امام احمد دا هم وئيلي دي که څوك دعائشه رضي الله عنها دپنځه رضعاتو والا قول اختيار کړي نو دا قوي مذهب دي ليکن هغه پخپله په دي باندي فتوي نه ده ورکړي، په صحابه کرامو کي بعضي اهل علم وائي رضاعت لږ وي او که ډير وي خو چي کله خيټي ته ورسيږي حرمت ورسره ثابتيږي همدا دسفيان ثوري، مالك بن انس، اوزاعي ، عبدالله بن مبارك، وکيع او اهل کوفه قول دي.

****************

## ٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي شَهَادَةِ الْمَرْأَةِ الْوَاحِدَةِ فِي الرَّضَاعِ

### درضاعت په سلسله کي ديوي ښځي دګواهۍ بيان

١١٥١ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، قَالَ: حَدَّثَنِي عُبَيْدُ بْنُ أَبِي مَرْيَمَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ، قَالَ: وَسَمِعْتُهُ مِنْ عُقْبَةَ وَلَكِنِّي لِحَدِيثِ عُبَيْدٍ أَحْفَظُ قَالَ: تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً، فَجَاءَتْنَا امْرَأَةٌ سَوْدَاءُ. فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُكُمَا، فَأَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: تَزَوَّجْتُ فُلَانَةَ بِنْتَ فُلَانٍ، فَجَاءَتْنَا امْرَأَةٌ سَوْدَاءُ، فَقَالَتْ: إِنِّي قَدْ أَرْضَعْتُكُمَا وَهِيَ كَاذِبَةٌ، قَالَ: فَأَعْرَضَ عَنِّي، قَالَ: فَأَتَيْتُهُ مِنْ قِبَلِ وَجْهِهِ، فَأَعْرَضَ عَنِّي بِوَجْهِهِ،

فَقُلْتُ: إِنَّهَا كَاذِبَةٌ. قَالَ: "وَكَيْفَ بِهَا وَقَدْ زَعَمَتْ أَنَّهَا قَدْ أَرْضَعَتْكُمَا؟ دَعْهَا عَنْكَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيْكَةَ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ الْحَارِثِ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، عَنْ عُبَيْدِ بْنِ أَبِي مَرْيَمَ وَلَمْ يَذْكُرُوا فِيهِ، دَعْهَا عَنْكَ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَجَازُوا شَهَادَةَ الْمَرْأَةِ الْوَاحِدَةِ فِي الرَّضَاعِ. وقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: تَجُوزُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ فِي الرَّضَاعِ، وَيُؤْخَذُ يَمِينُهَا، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. وَقَدْ قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ الْوَاحِدَةِ، حَتَّى يَكُونَ أَكْثَرَ. وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ: سَمِعْت الْجَارُودَ، يَقُولُ: سَمِعْتُ وَكِيعًا، يَقُولُ: لَا تَجُوزُ شَهَادَةُ امْرَأَةٍ وَاحِدَةٍ فِي الْحُكْمِ، وَيُفَارِقُهَا فِي الْوَرَعِ".[1]

**ترجمه** : دعقبه بن حارث رضي الله عنه بيان دي چې ما ديوي ښځې سره نکاح اوکړه نو يوه تکه توره ښځه راغله او مونږ ته يې اووئيل ماتاسو دواړو ته پيۍ درکړي دي چنانچه زه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم په خدمت کې حاضر شوم او عرض مې اوکړو چې ما دفلاني دلور سره نکاح کړې ده او اوس يوه توره ښځه راغله او مونږ ته يې وئيل ما تاسو دواړو ته پيۍ درکړې دي ليکن هغه دروغژنه ده ددې په اوريدو رسول الله صلي الله عليه وسلم خپل مخ زما نه ستون کړو نو زه ورته دبل طرف نه رامخامخ شوم نورسول الله بيا خپل مخ ستون کړو ما عرض اوکړو هغه دروغژنه ده رسول الله اوفرمائيل دا څنګه کيدې شي کله چې هغې دا خبره کړې وي چې تاسو دواړو ته يې پيۍ درکړې وي خپله ښځه دې دځان نه جدا کړه.

امام ترمذي وائي دعقبه بن حارث حديث حسن صحيح دې دا حديث نورو راويانو هم دابن ابي مليکه نه نقل کړې دې او ابن ابي مليکه دعقبه بن حارث نه نقل کړې دې او هغوئ په دې کې دعبيد بن ابي مريم واسطه نه ده ذکر کړې همدارنګې ددوئ په روايت کې د "دعها عنك" کلماتو ذکر نشته په دې باب کې دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دې، په صحابه کرامو کې دبعضې اهل علمو په دې باندې عمل دې، هغوئ درضاعت په سلسله کې ديوې ښځې شهادت درست ګڼړي، دابن عباس قول دې درضاعت په سلسله کې ديوې ښځې شهادت جائز دې ليکن هغې ته به قسم ورکولې شي، امام احمد او اسحاق بن راهويه ددې

---

[1] _ صحيح البخاري في العلم ٢٦ (٨٨) . والبيوع ٣ (٢٠٥٢) . والشهادات ٣ (٢٦٤٠) . و١٣ (٢٦٥٩) . و١٤ (٢٦٦٠) . والنكاح ٢٣ (٥١٠٣) . سنن ابي داود في الأقضيه ١٨ (٣٦٠٣) . سنن النسائي في النكاح ٥٧ (٣٣٣٢) . (تحفة الأشراف : ٩٩٠٥) . مسند احمد (٣ في ٧، ٨، ٣٨٤) . سنن الدارمي في النكاح ٥١ (٢٣٠١)

قائل دي او ديوي ښځي په ګواهۍ فيصله کول درست نه دي او که يو سړي ديوي ښځي دګواهۍ په اوريدو سره دخپلي ښځي سره جدائي اختيار کړي نو دا به عين تقوي وي.

د احنافو په نزد رضاعت د ثبوت دپاره صرف د ښځوګواهي نه کافي کيږي، يا به دوه سړي اويا يو سړې اودوه ښځې وي.

اوامام شافعي (رحمه الله) فرمائي چي د څلورو ښځوپه ګواهۍ هم رضاعت ثابتيږي، اوامام مالك(رحمه الله) په نزد ددې ښځې په ګواهۍ رضاعت ثابتيږي، خوپه دي شرط چي د عدالت په صفت موصوف وي،

دامام شافعي(رحمه الله) دليل ددي قول دا دې چي د رضاعت تعلق د ښځود سينوسره دې، اود ښځو سينوته کتل د سړي دپاره حرام دی نوپه دې کي به دڅلوروښځوګواهي معتبروي، دوه ښځې به ديوسړي قائم مقام شي، ځکه چي په کوموځيزونوسړي نه خبريږي، دشوافعو(رحمه الله) په نزدپه هغې کي صرف د ښځوګواهي معتبرده،

دامام شافعي(رحمه الله)د دليل نه جواب دا دې چي رضاعت په هغه ځيزونوکي نه دې چي د سړوخبريدل پرې ممکن نه دی، بلکي حقيقت دا دې چي په رضاعت باندې سړي خبريدې شي، مثلاً د ذوی الارحامو دپاره سينوته کتل حلال دی نودا دليل قابل قبول نه دې،

زمونږ دليل ددي قول دا دې چي د نکاح په باب کي ثبوت د حرمت د ملك د زوال نه جدا کيږي نه، يعنی دا نشی کيدې چي د رضاعت په وجه حرمت نکاح ثابته شی، اوملك نکاح باقي وی، ځکه چي د حرمت مؤبده سره بقاء ممکن نه ده نوهرکله چي د رضاعت په سبب حرمت ثابت شی نونکاح به هم باطليږی، اودنکاح د بطلان دپاره شهادت کامله يعنی د دووګواهانوشهادت ضروري دې نوځکه مونږوايو چي دوه سړی به ګواهي ورکوی، اويا يو سړې اودوه ښځې،

پاتې شوه د غوښې خبره نود يوځيزحرمت د زوال ملك نه جدا کيدې شی، يعنی دا کيدې شی چي يود يو ځيزخوراك دې حرام وی، اوبيا دې هم په ملکيت کښي وی، حاصل دا چي خوراك ئې حرام وی نوهم په ملك کي پاتې کيدې شی، مثلاً يوکافروی، دهغه سره شراب وی. اودې مسلمان شی نود مسلمانيدو نه پس هم په دغه شرابودده ملکيت باقي دې، دغه شان يوکس باندې خاوره حرامه ده، خوددې باوجود هغه دده په ملك کي باقي وی نودغه شان غوښه د مشتری دپاره حرامه ده. خوپه ملك کښي ئې باقي ده نوپه دې صورت کي د يوکس ګواهي سره د غوښې په حرمت باندې شو. د ملکيت په زوال باندې نشو. اوحرمت يوديني امردې، اوورَاندې معلومه شوې ده چي په ديني امورو کي د يوکس ګواهي معتبرده نوځکه د يوکس په خبر ورکولوسره دا غوښه حرامه شوه.

***************

3/28

## ٥_ باب مَا جَاءَ مَا ذُكِرَ أَنَّ الرَّضَاعَةَ لاَ تُحَرِّمُ إلاَّ فِي الصِّغَرِ دُونَ الحَوْلَيْنِ

### حرمت درضاعت د دوه کالو نه په کم عمر کې په پيو خوړلو ثابتيږي

١١٥٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتِ الْمُنْذِرِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " لَا يُحَرِّمُ مِنَ الرَّضَاعَةِ إِلَّا مَا فَتَقَ الْأَمْعَاءَ فِي الثَّدْيِ، وَكَانَ قَبْلَ الْفِطَامِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الرَّضَاعَةَ لَا تُحَرِّمُ إِلَّا مَا كَانَ دُونَ الْحَوْلَيْنِ، وَمَا كَانَ بَعْدَ الْحَوْلَيْنِ الْكَامِلَيْنِ، فَإِنَّهُ لَا يُحَرِّمُ شَيْئًا، وَفَاطِمَةُ بِنْتُ الْمُنْذِرِ بْنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ وَهِيَ امْرَأَةُ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. (1)

**ترجمه** : دام سلمه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په رضاعت حرمت هغه وخت ثابتيږي کله چي دي کلمو لره وشلوي او دا دپيو نه دجدا کيدو نه مخکي وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په صحابه کرامو او اهل علمو کي په اکثرو په دي باندي عمل دي درضاعت حرمت هغه وخت ثابتيږي کله چي دماشوم عمر د دوه کالو نه کم وي او کوم خوړل چي د دوه کالو دعمرنه پس، وي نو په هغي باندي هيڅ يوشي نه حراميږي.

### د رضاعت د مودي په تعين کي دفقهاؤ مذاهب

د رضاعت په موده کي اختلاف دي:

(١) امام ابوحنيفه(رحمه الله) په نزدموده د رضاعت دوه نيم کاله ده.

(٢) اودجمهور فقهاو او مذاهب ثلاثه او صاحبينو په نزددوه کاله دی.

(٣)اوامام زفرفرمائی چي موده د رضاعت دري کاله ده.

(۴)اودامام مالك(رحمه الله) نه د دووکالو او يوه مياشت قول هم منقول دي.

(۵)اود دووكالواو دوو مياشتو روايت ترې هم مروی دي.

دلائل دصاحبينو : اول دليل د الله تعالى دا ارشاد دي: حمله وفصاله دي، په دي کي د حمل اوپيوْ نه پريکولوموده ديرش مياشتي خودلي شوی دی، اوادنی موده د حمل شپږمياشتي ده نود پئ ورکولوموده دوه کاله پاتي شوه، لهذا د رضاعت موده دوه کاله شول.

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٢٨٥)

دویم دلیل د نبیﷺ حدیث دې چي د دوو کالونه پس رضاعت نشته.

اوپه یوبل روایت کي دی "لارضاع إلا في الحولين" رضاعت نشته مګرپه دوو کالو کې،

اوداین عدیؓ په روایت کي دی چي "لايحرم من الرضاع إلا ماكان في الحولين" یعنی نه ثابتیږي، مګرپه هغه پئ ورکولوچي په دووکالوکي دننه وي.

دامام ابوحنیفه (رحمه الله) دلیل هغه آیت دې، کوم چي صاحبینو بیان کړو، وجه د استدلال دا ده چي الله تعالی د حمل اوفصال دواړو دپاره یوه موده ذکرکړې ده نودا موده به په دواړوکي د هریودپاره وي، دا چي په دواړو به تقسیمولې شي. (فتح القدیر، الکفایه)

دویم عقلي دلیل ددي قول دا دې چي د پیو د مودې پوره کیدو نه پس د ماشوم دپاره دومره مودهٔ ضروري ده چي دې په کي د پیو نه علاوه دبل څیز په خوراك عادت شي، اود پیو په ځائې هغه دده د بدن د غتیولوکار شروع کړي نوامام ابوحنیفه (رحمه الله) دغه موده د حمل د ادنی مودې نه اخستې ده، ځکه چي دا مودهٔ د خوراك بدلونکي ده، ځکه چي د رضیع خوراك د جنین د خوراك نه جدا وي، ځکه چي د جنین خوراك هغه څه وو، کوم چي دده د مور خوراك وو، بیا د پیدا کیدو نه پس د ده خوراك خالص پئ شو، دغه شان د رضیع خوراك د فطیم د خوراك نه جدا وي، ځکه چي د رضیع خوراك صرف پئ وي، اود فطیم خوراك کله پئ اوکله نور څیزونه، حاصل دا چي د خوراك بدلول ضروري دي، اودخوراك بدلولودپاره کمه موده شپږ میاشتې دی نوماشوم چي هم په نور خوراك بلدولې شي، دې دپاره زیاتې شپږ میاشتې ضروري دي،

د صاحبینو د استدلال جواب دادی چي په: "لا رضاع بعد حولین" کي د رضاعت نفی نه ده، بلکي د اجرت نفی ده، مطلب دا که مطلقه ښځه خپل ماشوم ته پئ ورکوی نودا تر دوو کالوپورې د اجرت مستحقه ده چي د ماشوم د پلار یعنی خپل سابقه خاوند نه اجرت واخلي، اوپه اتفاق سره مطلقه د دووکالونه پس د اجرت اخستلومستحقه نه ده، اوهم په دې استحقاق اجرت باندې هغه نص محمول دې، کوم چي د حولین په قید سره مقید دې، یعنی والوالدات یرضعن ، دلیل ددي قول دا دې چي د دې نه پس الله تعالی فرمائیلی دی:فان ارادوا فصالا عن تراض منهما یعنی که دواړه غواړي نوپئ په خپل مینځ کي په رضا سره پرې کولې شي، په دې آیت کي د پیو پریکول په خپل مینځ کي په رضا مندئ پورې تړلې دی نوکه د دووکالونه پس د پیو ورکول حرام وو نو په خپل مینځ کي په رضامندئ پورې به ئې ولې معلق کولو نوثابته شوه چي په آیت کي د رضاعت د مودې بیان نه دې، بلکي په پلارباندې د بچی د پئ ورکولود استحقاق اجرت بیان دې

نود صاحبينو دا آيت اوحديث د خپلې مدعى په تائيد كي پيش كول صحيح نه دي. (فتح القدير ،الكفايه)

*****************

## ٦ـ باب مَا جَاءَ مَا يُذْهِبُ مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ

### حق درضاعت په څه څيز اداكيږي

١١٥٣ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ. حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ الأَسْلَمِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ. فَقَالَ: "غُرَّةٌ عَبْدٌ أَوْ أَمَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: مَا يُذْهِبُ عَنِّي مَذَمَّةَ الرَّضَاعِ، يَقُولُ: إِنَّمَا يَعْنِي بِهِ ذِمَامَ الرَّضَاعَةِ، وَحَقَّهَا، يَقُولُ: إِذَا أَعْطَيْتَ الْمُرْضِعَةَ، عَبْدًا أَوْ أَمَةً، فَقَدْ قَضَيْتَ ذِمَامَهَا، وَيُرْوَى عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ، قَالَ: كُنْتُ جَالِسًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، إِذْ أَقْبَلَتِ امْرَأَةٌ فَبَسَطَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رِدَاءَهُ حَتَّى قَعَدَتْ عَلَيْهِ، فَلَمَّا ذَهَبَتْ قِيلَ: هِيَ كَانَتْ أَرْضَعَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. هَكَذَا رَوَاهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ، وَحَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ حَجَّاجٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ حَجَّاجِ بْنِ أَبِي حَجَّاجٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَحَدِيثُ ابْنِ عُيَيْنَةَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ وَالصَّحِيحُ مَا رَوَى هَؤُلَاءِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، وَهِشَامُ بْنُ عُرْوَةَ يُكْنَى أَبَا الْمُنْذِرِ، وَقَدْ أَدْرَكَ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، وَابْنَ عُمَرَ. (1)

**ترجمه** : دحجاج اسلمي رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو اي دالله رسوله زما نه به حق درضاعت په څه اداء كيږي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چي غلام وي او يا وينځه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دا رنګي دا روايت ديحي بن سعيد قطان، حاتم بن اسماعيل، او بعضي نورو راويانو په سند دهشام بن عروه عن ابيه عن حجاج بن حجاج عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي. او سفيان بن عيينه په سند د

---

[1] ـ سنن ابي داود في النكاح ١٢ (٢٠٦٤). سنن النسائي في النكاح ٥٦ (٣٣٢١). (تحفة الأشراف: ٣٢٩٥). مسند احمد (٣ في ٤٥٠). سنن الدارمي في النكاح ٥٠ (٢٣٠٠)

هشام بن عروه عن ابيه عن حجاج بن ابي حجاج عن ابيه عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او دابن عيينه وغيره حديث محفوظ نه دي صحيح هغه دي كوم چي راويانو دهشام بن عروه نه او هغه دخپل پلار نه نقل كړي دي (يعني حجاج بن حجاج والانه چي دحجاج بن ابي حجاج او د "مايذهب عني ذمة الرضاعه" نه مراد حق درضاعت او ددي ذمه واري ده فرمائي چي كله تاسو پيۍ وركونكي ته يو غلام وركړي او يا مو ورته يوه وينځه وركړه نو تاسو دهغي حق اداء كړو، دابو الطفيل رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره ناست وم چي په دي وخت كي يوه ښځه راغله دنبي كريم صلي الله عليه وسلم خپل څادر اوغوړلو تردي چي هغه ورباندي كيناستله كله چي هغه لاړه نو اووئيلي شول شايد دا هغه ښځه وه چاچي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته خپل پيۍ وركړي وو.

*****************

## ٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَرْأَةِ تُعْتَقُ وَلَهَا زَوْجٌ

**بيان ددهغي ښځي كومه چي ازاده كړي شي او دهغي خاوند موجود وي**

١١٥٤ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا جَرِيرُ بْنُ عَبْدِ الْحَمِيدِ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَاخْتَارَتْ نَفْسَهَا وَلَوْ كَانَ حُرًّا لَمْ يُخَيِّرْهَا".[1]

**ترجمه**: دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرماي چي دبريري خاوند غلام وو رسول الله صلي الله عليه وسلم بريري ته اختيار وركړو نو هغي خپل خان واخستلو (عروه وائي) كه چري دبريري خاوند ازاد وي نو رسول الله به بريري ته اختيار نه وو وركړي.

*****************

١١٥٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ حُرًّا، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ هَكَذَا، رَوَى هِشَامٌ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ عَبْدًا"، وَرَوَى عِكْرِمَةُ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: رَأَيْتُ زَوْجَ بَرِيرَةَ، وَكَانَ عَبْدًا، يُقَالُ لَهُ: مُغِيثٌ،

---

[1] ـ مسلم في العتق ٢ (١٥٠٢ في ٩). سنن ابي داود في الطلاق ١٩ (٢٢٣٣). سنن النسائي في الطلاق ٣١ (٣٤٨١). (تحفة الأشراف: ١٦٧٧٠) وأخرجه مطولا ومختصرا صحيح البخاري في العتق ١٠ (٢٥٣٦). والفرائض ٢٢ (٦٧٥٨). صحيح مسلم في العتق (٥٠٢ في ١٠). مسند احمد (٦ في ٤٦، ١٧٨). سنن الدارمي في الطلاق ١٥ (٢٣٣٧). وبرقم ١٢٥٦ و ٢١٢٢ و ٢١٢٥

وَهَكَذَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَقَالُوا: إِذَا كَانَتِ الْأَمَةُ تَحْتَ الْحُرِّ، فَأُعْتِقَتْ فَلَا خِيَارَ لَهَا، وَإِنَّمَا يَكُونُ لَهَا الْخِيَارُ إِذَا أُعْتِقَتْ، وَكَانَتْ تَحْتَ عَبْدٍ وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَرَوَى الْأَعْمَشُ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "كَانَ زَوْجُ بَرِيرَةَ حُرًّا، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَوَى أَبُو عَوَانَةَ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الْأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ فِي قِصَّةِ بَرِيرَةَ. قَالَ الْأَسْوَدُ: وَكَانَ زَوْجُهَا حُرًّا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ، وَمَنْ بَعْدَهُمْ وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي دبريري خاوند ازاد وو او بيا هم ديته رسول الله صلي الله عليه وسلم اختيار ورکړو.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن صحيح دي دا رنګي هشام د خپل پلار عروه نه او عروه دعائشي نه روايت نقل کړي دي چي ام المؤمنين فرمائيل دبريري خاوند. غلام وو، دعکرمه نه روايت دي چي ابن عباس رضي الله عنهما فرمائيل ما دبريري خاوند ليدلي وو هغه غلام وو او نوم يي مغيث وو، دارنګي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم مروي دي دبعضي اهل علمو عمل هم په دي باندي دي دوئ وائي کله چي يوه وينځه د ازاد سړي په نکاح کي وي او دا ازاده کړي شي نو ديته به اختيار نه وي اختيار به ورسره صرف په هغه صورت کي وي کله چي دا ازاده کړي شي او دا دکوم غلام په نکاح کي وي همدا دامام شافعي، او احمد، او اسحاق بن راهويه قول دي، ليکن اعمش دا حديث په سند دابراهيم عن الاسود عن عائشه سره نقل کړي دي چي دبريري خاوند ازاد وو او رسول الله ديته اختيار ورکړو او ابو عوانه هم دا حديث په سند داعمش عن ابراهيم عن الاسود عن عائشه سره نقل کړي دي او دبريري د قصي په سلسله کي يي نقل کړي دي، اسود وائي دبريري خاوند ازاد وو دتابعينو او ددوئ نه پس په نورو خلقو کي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا د سفيان ثوري او اهل کوفه قول هم دي.

*****************

1 ـ سنن النسائي في الزكاة ۹۹ (۲٦١٥)، والطلاق ۳۰ (۳۴۷۹). سنن ابن ماجه في الطلاق ۲۹ (۲۰۷۴) (تحفة الأشراف: ۱۵۹۵۹). مسند احمد (٦ في ۴۲)

١١٥٦_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي عَرُوبَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، وَقَتَادَةُ عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، " أَنَّ زَوْجَ بَرِيرَةَ كَانَ عَبْدًا أَسْوَدَ، لِبَنِي الْمُغِيرَةِ يَوْمَ أُعْتِقَتْ بَرِيرَةُ وَاللَّهِ لَكَأَنِّي بِهِ فِي طُرُقِ الْمَدِينَةِ وَنَوَاحِيهَا، وَإِنَّ دُمُوعَهُ لَتَسِيلُ عَلَى لِحْيَتِهِ يَتَرَضَّاهَا، لِتَخْتَارَهُ فَلَمْ تَفْعَلْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَسَعِيدُ بْنُ أَبِي عَرُوبَةَ هُوَ سَعِيدُ بْنُ مِهْرَانَ وَيُكْنَى أَبَا النَّضْرِ. (١)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس بيان دي چي دبريري خاوند دبني مغيره يو تور غلام وو په كومه ورځ چي بريره ازاده كړي شوه په الله قسم ما هغه دمديني په كوڅو كي او په كنارو كي خپل ځان ته مخامخ ليدلو چي په ږيره يي اوښكي بهيدلي او هغه يي پوخلا كوله چي ده لره دخان سره دپاتي كولو دپاره راضي شي ليكن هغوئ داسي اونكړل.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****************

## ٨_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْوَلَدَ لِلْفِرَاشِ

### بچي به د خاوند يا دمالك حق وي

١١٥٧_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْوَلَدُ لِلْفِرَاشِ، وَلِلْعَاهِرِ الْحَجَرُ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَعَمْرِو بْنِ خَارِجَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَالْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ الزُّهْرِيُّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (٢)

---

[1] _ صحيح البخارى في الطلاق ١٥ (٥٢٨٢) . ١٦ (٥٢٨٣) . سنن ابى داود في الطلاق ١٩ (٢٢٣٣) . (تحفة الأشراف : ٥٩٩٨) و٦١٨٩) وأخرجه سنن ابى داود في الطلاق (٢٢٣١) . و مسند احمد (١ في ٢١٥) . وسنن الدارمى في الطلاق ١٥ (٢٣٣٨)

[2] _ صحيح مسلم في الرضاع ١٠ (١٤٥٨) . سنن النسائي في الطلاق ٤٨ (٣٥١٢) . سنن ابن ماجه في النكاح ٥٩ (٢٠٠٦) مسند احمد (٢ في ٢٣٩) (تحفة الأشراف : ١٣١٣٤) وأخرجه صحيح البخارى في الفرائض ١٧ (٦٧٥٠) . والحدود ٢٣ (٦٨١٨) . مسند احمد (٢ في ٢٨٠، ٢٨٦، ٤٠٩، ٤٩٢)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بچي دصاحب فراش (يعني خاوند يا دمالك) حق دي او دزناكار دپاره به كانړي وي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمر، عثمان، عائشه، ابو امامه، عمرو بن خارجه، عبدالله بن عمرو، براء بن عازب او زيد بن ارقم رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي.

**تشريح** : دا حديث د حجة الوداع په موقع رسول الله پخپله خصوصي او مشهوره خطبه كي ارشاد فرمائيلي دى. او دلته امام ترمذي مختصر نقل كړى دى نورو محدثينو تفصيل سره ذكر كړي دى او پس منظر يي داسي دى:

په حجة الوداع كي د رسول الله د خطبي په موقع يو كس اودريدو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله مادجاهليت په زمانه كي د معاهره عقد كړي وو (يعني يوه ښځه مي بغير دنكاح نه دځان سره ساتلي وه اودهغي نه بچي پيدا شوي دي) نو ددي څه حكم دي؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچي دكومي ازادي ښځي يا وينځي سره معاهره كړي وي او بيا ددي بچي پدي زناكار پوري خپل نسب پيوست كړي نو دا جائز نه دي نه دي ددوئ وارث ګرځي او نه دوئ دده وارثان ګرځي، زما خيال دي چي تاسو به پوهه شوي يئ ، زه خپله خبره كوم (كومه چي مي اوكړه) او ستاسو دپاره دالله تعالي نه معافي غواړم

****************

## ٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَرَى الْمَرْأَةَ تُعْجِبُهُ

## كله چي څوك يوه ښځه ويني اوخوښه يي شي نو څه كول پكار دي

١١٥٨_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ. حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى. حَدَّثَنَا هِشَامُ بْنُ أَبِي عَبْدِ اللهِ هُوَ الدَّسْتُوَائِيُّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ. عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى امْرَأَةً فَدَخَلَ عَلَى زَيْنَبَ، فَقَضَى حَاجَتَهُ، وَخَرَجَ وَقَالَ: "إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا أَقْبَلَتْ أَقْبَلَتْ فِي صُورَةِ شَيْطَانٍ. فَإِذَا رَأَى أَحَدُكُمُ امْرَأَةً فَأَعْجَبَتْهُ. فَلْيَأْتِ أَهْلَهُ فَإِنَّ مَعَهَا مِثْلَ الَّذِي مَعَهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ. عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ. حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. وَهِشَامٌ الدَّسْتُوَائِيُّ هُوَ هِشَامُ بْنُ سَنْبَرٍ. [1]

---

[1] _ صحيح مسلم في النكاح ٢ (١٤٠٣). سنن ابي داود في النكاح ٤٣ (٢١٥١). مسند احمد (٣ في ٣٣٠) (تحفة الأشراف: ٢٩٧٥). وأخرجه: مسند احمد (٣ في ٣٣٠. ٣٤١. ٣٤٨. ٣٩٥)

**ترجمه** : د جابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله (ص) يوه ښځه وليدله نو خپل كور ته د زينب كمري ته ورغلو او خپل حاجت يي ورنه پوره كړو او بيا راووتلو او وئي فرمائيل: ښځه چي هركله چا ته مخامخ كيږي نو د شيطان په شكل كي ورته مخامخ كيږي كله چي په تاسو كي يو كس يوه ښځه ووينى(اوخوښه يي شي) نو خپلي ښځي ته دي ورشي پس يقينا چي ددي سره هم هغه شي دى كوم چي د هغي سره وو.

امام ترمذي وايي په دي باب كي د ابن مسعود نه هم روايت وارد دى، او حديث د جابر حسن صحيح غريب دى، اود هشام دستوايي نوم هشام بن سنبر دى.

****************

## ١٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ الزَّوْجِ عَلَى الْمَرْأَةِ

### باب دي په بيان دحق دخاوند كي په ښځه با ندي

١١٥٩_ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا النَّضْرُ بْنُ شُمَيْلٍ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَوْ كُنْتُ آمِرًا أَحَدًا أَنْ يَسْجُدَ لِأَحَدٍ، لَأَمَرْتُ الْمَرْأَةَ أَنْ تَسْجُدَ لِزَوْجِهَا"، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَسُرَاقَةَ بْنِ مَالِكِ بْنِ جُعْشُمٍ، وَعَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي أَوْفَى، وَطَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ، وَأُمِّ سَلَمَةَ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كه چري ما چالره بل چاته دسجدي كولو اجازت وركولي نو ښځو ته به مي حكم كړي وي چي دوئ خپلو خاوندانو ته سجده اوكړي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي، او په دي باب كي دمعاذ بن جبل، سراقه بن مالك بن جعشم، عائشه، ابن عباس، عبدالله بن ابي اوفي، طلق بن علي، ام سلمه، انس، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : يسجد: سجد دنصر نه سجودا خاكسارئ او عاجزئ كولو ته وئيلي شي او همدارنګي تندي لره په زمكه ايخودلو ته وئيلي شي.

**تشريح** : لامرت المراة ان تسجد لزوجها. يعني ښځو ته به مي حكم كړی وو چي خپلو خاوندانو

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٥١٠٣)

ته سجدي اوکړي.

په پورتني حديث کي تير شول چي دخاوند په ښځه باندي دومره حقوق واجب دي که چري دغيرالله دپاره سجده کول جائز وی نو دخاوند دزيات حقدار کيدو په وجه دا به هم جائز کړی شوي وو ليکن محمدي شريعت غيرالله ته سجده کول مطلقا حرام کړي دي نو په دي وجه به زنانه هيچاته سجده نه کوي مګر دخاوند اطاعت به ضرور کوي يعني اسلام ورته اهم سبق خودلی دی.

******************

۱۱۶۰ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا مُلاَزِمُ بْنُ عَمْرٍو، قَالَ: حَدَّثَنِي عَبْدُ اللهِ بْنُ بَدْرٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ، عَنْ أَبِيهِ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا الرَّجُلُ دَعَا زَوْجَتَهُ لِحَاجَتِهِ فَلْتَأْتِهِ، وَإِنْ كَانَتْ عَلَى التَّنُّورِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ.[1]

**ترجمه** : دطلق بن علي رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کله چي يو کس خپله ښځه دخواهش پوره کولو دپاره راوغواړي نو هغي لره فورا راتلل پکار دي اګر که دا په تنور باندي وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

**لغات** : دعا :چا لره رابلل، رغبت کول، مدد غوښتل .

**تشريح** : وان کانت علي التنور. يعني اګر که ښځه په تنور باندي وي، مطلب دادي اګر که کوم څيز ته نقصان رسيږي يايي دضائع کيدو خطره وي.ددي مطلب دادي چي دخاوند په اشاري اوغوښتلو سره دي فورا راشي

**دطلق بن علي رضي الله عنه حالات:**

نوم طلق دپلار نوم علي کنيه ابو علي حنفي يمامي طلق بن ثمامه ورته وئيلی شي دمسلمانيدو دپاره ديمامي دوفد سره راغلی وو څوارلس روايات ورنه منقول دي چي په دوئ کي يو هم په صحيحينو کي نشته.

******************

---

[1] تفرد به المؤلف (أخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٥٠٢٦)

١١٦١_ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ أَبِي نَصْرٍ، عَنْ مُسَاوِرٍ الْحِمْيَرِيِّ، عَنْ أُمِّهِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَيُّمَا امْرَأَةٍ مَاتَتْ وَزَوْجُهَا عَنْهَا رَاضٍ، دَخَلَتِ الْجَنَّةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (1)

**ترجمه**: دام سلمه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كومه ښځه چي مړه شي او ددي خاوند ددينه راضي وي نو دا به په جنت كي داخليږي
امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي

**لغات**: ماتت: مات يموت موتا دنصر نه معني مړ كيدل، دكپړو زړيدل ، او مضبوط خوب باندي اوده كيدل.

**تشريح**: زوجها عنها راض ، يعني چي خاوند ورنه راضي وي.
په پورتني حديث كي د داسي زنانوو دپاره زيرى دى څوك چي داسلام داحكامو فرائضو پابندي كوي او دخپل خاوند جائزي خبري هم مني او دهغه دخوشحاليدو خيال ساتي اگر چي په دي كي بعضي كارونه خوښ ولي نه وي .
علماء وائي په دي حديث كي دخاوند هغه خبري كومي چي دشريعت خلاف وي او ددي په كولو خوشحاليږي مراد نه دي.

****************

## ١١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي حَقِّ الْمَرْأَةِ عَلَى زَوْجِهَا

### په خاوند باندي دښځي دحقوقو بيان

١١٦٢_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَخِيَارُكُمْ خِيَارُكُمْ لِنِسَائِهِمْ خُلُقًا ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ، هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (2)

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ايمان كي دټولو نه كامل مومن هغه دي دچاچي دهر چانه اخلاق زيات بهتر وي او په تاسو

---

1 _ : سنن ابن ماجه في النكاح ٤ (١٨٥٤). (تحفة الأشراف: ١٨٢٩٤)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٥٩)

كي دتېولو نه بهتر هغه كس دي څوك چي داخلاقو په لحاظ دخپلو ښځو په حق كي دتېولو نه بهتر وي.

دابوهريره دا حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعائشه او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : خياركم. الخير معني نيكي ، خيګړه او د كوم څيز خپل كمال ته رسيدل دي ، جمع يي خيور او اخيار راځي دباب ضرب او سمع نه.

**تشريح** :احسنهم خلقا . كوم چي ښو اخلاقو والا وي، دحسن بصري او عبدالله بن مبارك قول دی ښه اخلاق ديته وائي چي ته دخلقو سره په رونړ تندي مخامخ شي او ښه سلوك ورسره اوكړي او دتكليف وركونكي څيزونو نه يي بچ كړي.

كنز العمال ، دابن عمر رضي الله عنهما قول نقل كړی دی چي مكارم اخلاق ديته وئيلی شي څوك چي دالله درضا دپاره دبل چا ملاقات اوكړي او چاته چي ورغلی وي هغه دراتلونكي اكرام اوكړي او ورتلونكي كس ته چي هر څه ملاؤ شي اګر كه داوبو ګوټ وي خو په هغي باندي خوشحاله شي.

ابو العباس احمد وائي چاچي لوړه مرتبه موندلي وه نو هغه يي دښو اخلاقو په وجه موندلي وه. خياركم لنسائهم، علماء وايي چي دښځو سره نيك سلوك كول ، غلطياني ورته معاف كول د انبياء عليهم السلام شان دي.

******************

١١٦٣ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا الْحُسَيْنُ بْنُ عَلِيٍّ الْجُعْفِيُّ، عَنْ زَائِدَةَ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ غَرْقَدَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْأَحْوَصِ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، أَنَّهُ شَهِدَ حَجَّةَ الْوَدَاعِ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَحَمِدَ اللَّهَ، وَأَثْنَى عَلَيْهِ، وَذَكَّرَ وَوَعَظَ، فَذَكَرَ فِي الْحَدِيثِ قِصَّةً، فَقَالَ: " أَلَا وَاسْتَوْصُوا بِالنِّسَاءِ خَيْرًا، فَإِنَّمَا هُنَّ عَوَانٌ عِنْدَكُمْ لَيْسَ تَمْلِكُونَ مِنْهُنَّ شَيْئًا، غَيْرَ ذَلِكَ إِلَّا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ، فَإِنْ فَعَلْنَ فَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ، وَاضْرِبُوهُنَّ ضَرْبًا غَيْرَ مُبَرِّحٍ، فَإِنْ أَطَعْنَكُمْ فَلَا تَبْغُوا عَلَيْهِنَّ سَبِيلًا، أَلَا إِنَّ لَكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ حَقًّا، وَلِنِسَائِكُمْ عَلَيْكُمْ حَقًّا، فَأَمَّا حَقُّكُمْ عَلَى نِسَائِكُمْ، فَلَا يُوطِئْنَ فُرُشَكُمْ مَنْ تَكْرَهُونَ، وَلَا يَأْذَنَّ فِي بُيُوتِكُمْ لِمَنْ تَكْرَهُونَ، أَلَا

وَحَقُّهُنَّ عَلَيْكُمْ، أَنْ تُحْسِنُوا إِلَيْهِنَّ فِي كِسْوَتِهِنَّ وَطَعَامِهِنَّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَمَعْنَى قَوْلِهِ: عَوَانٌ عِنْدَكُمْ يَعْنِي: أَسْرَى فِي أَيْدِيكُمْ. (1)

**ترجمه** : دسليمان بن عمرو بن احوص بيان دي فرمائي چي ماته زما پلار بيان کړه چي زه په حجة الوداع کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره شريك وم هغوئ دالله تعالي حمد او ثنا بيان کړه او خلقو ته يي نصيحت اوکړو او دوئ يي پوهه کړل او بيا راوي په دي حديث کي يوه قصه ذکر کړه په کومه کي چي دا مضمون دي چي رسول الله اوفرمائيل واورئ دښځو سره خيرخواهي کوئ ځکه چي دوئ ستاسو سره قيد دي او تاسو ددي نه علاوه نور هيڅ اختيار نه لرئ (او کله چي هغوئ خپله ذمه واري اداء کوي نو بيا ددوئ سره دبداخلاقئ کولو څه جواز دي) مګر که هغوئ دښکاره بي حيايئ ارتکاب اوکړي (نو بيا تاسو لره دوئ ته دسزا ورکولو حق شته) او که دوئ بيا داسي اوکړي نو ددوئ نه خپلي بستري جدا کړئ او ويي وهئ ليکن دضرر والا وهل مه کوئ بيا ددينه پس که چري دوئ ستاسو فرمانبرداري شي نو بيا دوئ ته دنوري سزا ورکولو دپاره بهاني مه لټوئ ، واورئ لکه څنګه چي په ښځو باندي ستاسو حق دي دارنګي په تاسو باندي هم ستاسو د بيبيانو حق دي، ستاسو حق په دوئ باندي دادي چي هغوئ ستاسو بستره په بل چا باندي پامال نه کړي چالره چي تاسو نه خوښوئ او داسي خلقو لره ستاسو کور ته دراتلو اجازت نه ورکوئ څوك چي په تاسو باندي ښه نه لګي واورئ او په تاسو باندي ددوئ حق دادي چي لباس ورته داغوستلو دپاره ورکړئ او ښه سلوك ورسره اوکړئ

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او د "عوان عندكم" معني داده چي دوئ ستاسو قيديان دي

****************

**لغات** : لا يوطي: باب افعال اوطأ يوطئ ايطاء معني پائمالول لکه چي په محاوره کي وئيلي شي وطئ الشيء برجله يعني دخپو لاندي يي کړو

**تشريح** : "واضربوهن ضرباً غير مبرح" يعني داسي وهل مه ورکوئ چي هډوکي يي مات شي اسلام اګر چي په بعضي حالاتو کي دښځي درټلو او وهلو اجازت ورکړی دی ليکن په قران کريم په پورتني حديث کي دا حکيمانه نصيحت شوی دی چي دهر څه نه مخکي ورته نصيحت اوکړئ نو که په دي باندي کار اونکړی شي نو په دويم نمبر کي ددوئ دپاره وهل دي او که په دي هم کار اونه شي نوبيا ورنه بستره جدا کول پکار دي

1 ـ سنن ابن ماجه في النكاح ٣ (١٨٥١) . والمؤلف في تفسير التوبة (٣٠٨٧) (تحفة الأشراف : ١٠٦٩١)

"لايوطئن فرشكم من تكرهون" مطلب دادی چي دخاوند په عدم موجودګۍ کي دښځي ذمه واري داده چي دخپل عصمت او دخاوند دمال حفاظت وکړي او کورته داسي څوك راپري نږدي کوم چي يي دخاوند خوښ نه وي اګر که هغه رشته دار ولي نه وي.

دمعاويه بن حيده رضي الله عنه نه روايت دی چي ما عرض اوکړو يا رسول الله! دښځي په مونږ باندي څه حق دی ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل: داچي ته خپله څه خوري نوهغي ته هم ورکړی او چي ځان ته جامي جوړوی چي هغه ته هم جوړی کړی ، په مخ يي مه وهه او بد رد ورته مه وايه او جدا کوه يي مه، مګر په کور کي دننه (يعني دکوره يي مه شړه، او که خفه يي تری نو په کور کي دننه تري خپله بستره جدا کړه) دا حديث حسن دی (ابو داود).

لاتقبح معني ده قبحك الله يعني خدايي دی وشرموه، ورته مه وايه.

"حق زوجه" يعني په خاوند باندي حق دادی چي دطاقت مطابق لباس او ښه خوراك او دژوند نور ضروريات ورته فراهم کړي "ولا تضرب الوجه" او په مخ دي ګذار نه ورکوي، نافرماني ښځي ته دلار خودلو دپاره شريعت اجازت ورکړی دی او داعتدال حکم يي کړی دی خو دمخ دوهلو نه يي ممانعت فرمائيلی دی لکه چي دا په تمامو اعضاؤ کي اشرف دی.

فتاوي قاضي خان ليکلي دي شريعت خاوند ته په څلورو وجو دښځي دوهلو اجازت ورکړی دی يو دادي چي دخاوند دخواهش باوجود هغه زينت ترك کړي ، دويم دا چي اسلامي فرائض نه ادا کوي، دريم دا چي دخاوند داجازت نه بغير بهر لاره شي، څلورم دا چي دصحبت نه انکار اوکړي.

"ولا تهجروا الا في البيت" او جدائي ورنه مه اختياروئ مګر په کور کي، مطلب دادی که ښځي ته دتنبيه ورکولو دپاره دهغي نه جدائي اختياروئ نو په کور کي ورنه جدا شئ يعني بهر تلو ته ضرورت نشته.

## عمرو بن احوص الجشمي رضي الله عنه حالات:

نوم عمرو دپلار نوم احوص دبني کلاب قبيلي سره يي تعلق وو په دي وجه ورته کلابي وئيلی شي خو دلته قبيله جشمي ته منصوب دی علامه ابن السير وائي مونږ ته نه ده معلومه چي بني کلاب ته دجشمي نسبت درست دی او که نه ځکه چي ددي دواړو قبيلو په مينځ کي څه نسبت نشته دده نه صرف دوه احاديث مروي دي.

## ١٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ إِتْيَانِ النِّسَاءِ فِي أَدْبَارِهِنَّ

١١٦٤ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَهَنَّادٌ، قَالَا: حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنْ عَاصِمٍ الْأَحْوَلِ، عَنْ عِيسَى بْنِ حِطَّانَ، عَنْ مُسْلِمِ بْنِ سَلَّامٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ، قَالَ: أَتَى أَعْرَابِيٌّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ:

يَا رَسُولَ اللَّهِ، الرَّجُلُ مِنَّا يَكُونُ فِي الْفَلَاةِ فَتَكُونُ مِنْهُ الرُّوَيْحَةُ، وَيَكُونُ فِي الْمَاءِ قِلَّةٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ، وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَعْجَازِهِنَّ، فَإِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحْيِي مِنَ الْحَقِّ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَخُزَيْمَةَ بْنِ ثَابِتٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ، وسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: لَا أَعْرِفُ لِعَلِيِّ بْنِ طَلْقٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ الْوَاحِدِ، وَلَا أَعْرِفُ هَذَا الْحَدِيثَ، مِنْ حَدِيثِ طَلْقِ بْنِ عَلِيٍّ السُّحَيْمِيِّ، وَكَأَنَّهُ رَأَى أَنَّ هَذَا رَجُلٌ آخَرُ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

**ترجمه**: د علي بن طلق نه روایت دی فرمائي چي نبي کریم صلي الله علیه وسلم ته یو بانډچي راغلو او عرض یي وکړو اي د الله رسوله مونږ کله کله یو بیابان ته لاړ شو او هلته اکثر د اوبو کمي وی نو که هلته زمونږ نه څه باد وغیره لاړ شي نو څه به کوو؟ نبي کریم صلي الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل کله چي په تاسو کي د چا نه هوا خارج شي نو اودس دي وکړي او ښځو سره د شاه دطرفه جماع مه کوئ ځکه چي الله تعالي دحق بیانولو سلسله کي شرم نه کوي.

امام ترمذي وايي په دي باب کي د عمر، خزیمه بن ثابت، ابن عباس او ابو هریره رضي الله عنهم نه هم روایات مروي دي، او حدیث د علي بن طلق حسن دی، امام بخاري به وئیل ددي روایت نه علاوه ماته د علي بن طلق بل روایت معلوم نه دي چي د رسول الله نه یي نقل کړی وي، او داروایت ماته د طلق بن علي السحیمي په سند هم معلوم نه دی ګویا کي دهغه په خیال دا بل څوک دی د صحابه کرامو نه.

*****************

١١٦٥ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا أَبُو خَالِدٍ الْأَحْمَرُ، عَنِ الضَّحَّاكِ بْنِ عُثْمَانَ، عَنْ مَخْرَمَةَ بْنِ سُلَيْمَانَ، عَنْ كُرَيْبٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَى رَجُلٍ، أَتَى رَجُلًا أَوِ امْرَأَةً فِي الدُّبُرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ وَرَوَى وَكِيعٌ هَذَا الْحَدِيثَ. (٢)

[1] ـ ابي داود في الطهارة ٨٢ (٢٠٥). والصلاة ١٩٣ (١٠٠٥). سنن الدارمي في الطهارة ١١٣ (١١٨١)

[2] ـ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرى) (تحفة الأشراف: ٦٣٦٣)

**ترجمه** : دا بن عباس رضي الله عنه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، الله تعالي هغه کس ته د رحمت په نظر نه ګوري څوک چي يو نارينه ته او يا يوي ښځي ته د شاه طرفه راتلل وکړي
امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دی، او وکيع هم دا حديث نقل کړي دی

*****************

١١٦٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ مُسْلِمٍ وَهُوَ ابْنُ سَلَّامٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ، وَلَا تَأْتُوا النِّسَاءَ فِي أَعْجَازِهِنَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَلِيٌّ هَذَا هُوَ عَلِيُّ بْنُ طَلْقٍ. (1)

**ترجمه** : د علي بن طلق رضي الله عنه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، کله چي په تاسو کي د چا نه هوا خارج شي نو اودس دي وکړي او ښځو سره د شاه د طرفه جماع مه کوئ
امام ترمذي وايي د علي نه مراد علي بن طلق دی.

*****************

## ١٣ـ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ خُرُوجِ النِّسَاءِ فِي الزِّينَةِ

### دسنګار په حالت کي د ښځو د پاره بهر وتلو د کراهت بيان

١١٦٧ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، عَنْ أَيُّوبَ بْنِ خَالِدٍ، عَنْ مَيْمُونَةَ بِنْتِ سَعْدٍ وَكَانَتْ خَادِمًا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَثَلُ الرَّافِلَةِ فِي الزِّينَةِ فِي غَيْرِ أَهْلِهَا كَمَثَلِ ظُلْمَةِ يَوْمِ الْقِيَامَةِ لَا نُورَ لَهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ، وَمُوسَى بْنُ عُبَيْدَةَ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ وَهُوَ صَدُوقٌ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ شُعْبَةُ، وَالثَّوْرِيُّ، وَقَدْ رَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ مُوسَى بْنِ عُبَيْدَةَ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (2)

**ترجمه** : دميمونه بنت سعد (چي درسول الله صلي الله عليه وسلم خادمه وه) نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دخپل خاوند نه علاوه دنورو خلقو په

---

1 ـ ابي داود في الطهارة ٨٢ (٢٠٥) . والصلاة ١٩٣ (١٠٠٥) . سنن الدارمي في الطهارة ١١٣ (١١٨١)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٨٠٨٩)

وراندي زينت ښکاره کولو والا ښځي مثال دقيامت په ورځ دتياري پشان دي چي ددي سره به هيڅ قسم نور نه وي.
امام ترمذي وائي داحديث موښ صرف دموسي بن عبيده په سند رارسيدلي دي او موسي بن عبيده دحفظ په اعتبار ضعيف ګڼړلي شوي دي مګر رښتوني دي دده نه شعبه اوثوري هم نقل دروايت کړي دي او بعضي راويانو داحديث دموسي بن عبيده نه نقل کړي دي او مرفوع يي نه دي ذکر کړي.

**تشريح**: قاضي ثناء الله د سورة النورد ايت ولا يبدين زينتهن په تفسير کي د زينت د احکامو شاندار مدلل تحقيق کړی دی چي تاسو ته يي د مقام د مناسبت په وجه پيش کوو.
دزينت نه مراد کپړي، زيورات، سنګار، وغيره دي ـ يعني سنګار لره مه ظاهروئ اودسنګار اعضاؤ لره نه ظاهرول په درجه اولي ضروري دي.
دبعضي مفسرينو په نزد دزينت نه مراد اعضاء دزينت دي ، اويادزينت نه مراد فطري محاسن دي ، دڅلورو واړو امامانو په نزد ددينه مراد مخ دواړه لاسونه اودلاسونو ځپو ورغوي دي دعطاء په سند سره عائشه رضي الله عنها ته ددي قول نسبت شوي دي ، او په دويم روايت کي مخ او ورغوو سره دځپو استثناء هم شوي ده .
دامام شافعي مشهور قول دادي چي صرف مخ مستثنی دي بهر حال دڅلورو واړو امامانو په نزد په اتفاق سره مخ دستر نه مستثنی دي ، دامام ابو حنيفه او مالك او احمد په نزد ديو روايت په بنا کفين هم مستثنی دي، په قاضي خان کي راغلي دي چي دورغوي بهرنئ حصه او داخلي حصه دپنجي پوري مستثنی ده او په ظاهر الروايت کي راغلي دي چي دورغوو ستر نشته مګر بهرنئ حصه يي قابل دستر ده (کذا قال ابن الهمام).
دواړه ځپي په عورت کي داخلي دي ليکن په يو روايت کي دامام ابو حنيفه قول ددي په خلاف راغلي دي .
دحنفي فقهي په کتابونو کي مخ دسترنه مستثنی کړي شوي دي او دا استثناء صرف دمونځ سره مخصوص نه ده په هدايه کي دي چي د سړي دپاره دکومي ښځي دبدن دکومي حصي ليدل علاوه دمخ او دورغوو نه جائز نه دي ځکه چي الله تعالي فرمائيلي دي "وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ مِنْهَا" ددينه علاوه دمخ او ورغوو په پټ ساتلو کي ډير تکليف هم دي دضرورت په وخت کي ددوئ ښکاره ساتل ضروري دي دسړو سره په لين دين کي ددي ښکاره کيدل لازمي دي.
موښ وايو همدا دامام ابو حنيفه مسلك دي او ددي تائيد دهغه روايت نه کيږي کوم چي ابو داود مرسل بيان کړي دي چي جينئ کله بالغه شي نو ددي دمخ او دلاسواودپنجو نه علاوه بل

ځاي ته يي کتل درست نه دي، مونږ دا هم وايو کومو سړو ته چي د ښځو حاجت نه وي (يعني د ډير بوډاوالي په وجه يي ښځو ته ميلان نه وي) د هغوئ په وړاندي ښځو لره خپل زينت ښکاره کول په اجماع دعلماؤ جائز دي او په قراني صراحت سره هم ثابت دي ځکه چي په دي صورت کي دفتني خوف نه وي ، پس کله چي دزينت اظهار جائز شو نو بياخو دبي کاره سړو په وړاندي دخپل زينت ښکاره په درجه اولي څه حرج نه لري مګر که د اجنبياتو په ليدو سره نقصان انديخنه وي برابره خبره ده چي دا انديخنه صرف دشبهي په حد کي دننه وي نوبياهم ددي مخ ته کتل ناجائز دي همدامطلب صاحب دهدايه بيان کړي دي ابن همام ليکلي دي که چري داجنبيه ښځي يا امرد مخ ته په کتو سره دشهوانيت خطره وي نو ديته هم کتل جائز نه دي.
په کومو صورتونو کي چي داجنبيه مخ ته دکتلو نه ممانعت راغلي دي په هم هغه صورتونو کي دښځي دپاره خپل مخ اجنبي خلقو ته خودل ناجائز دي ځکه چي دا دفتني سبب جوړيږي.
رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ښځه سرترپايه عورت دي کله چي بهر وځي نو شيطان ورسره کيږي (رواه الترمذي عن ابن مسعود).
ددي حديث نه معلوميږي چي ښځه سرترپايه عورت دي او ضرورتونه ددي حکم نه په اجماع دامت سره مستثني دي ، که چري ښځي ته دبازار نه دسودا راوړو دپاره څوك نه ملاويږي نو دا هم يو قسم ضرورت دي دضرورت پوره کولو دپاره په پرده کي تلي شي او دلاري دليدودپاره يوه سترګه ښکاره ساتلي شي او که دسر نه خپو پوري پټونکي کپړه نه موندي نو څومره چي ممکن وي ځان دي پټ ساتي ، کله کله دعلاج معالجي دپاره طبيبانو ته دتلو ضرورت پيښيږي او کله کله عدالتونو ته دحاکم په وړاندي ګواهئ کولو ته ضرورت پيښيږي پدي ټولو صورتونو کي دضرورت په مقدار انکشاف دپردي درست دي ، مونږ دزينت مرادي معني دوه قسمه بيان کړي ده ، اول جامي، زيورات ، او دسينګار څيزونه اودبيضاوي په نزد دلته همدا معني مراد ده ، ابن مسعود رضي الله عنه به هم دزينت نه جامي مراد کولي او په دليل کي به يي ايت "خذوا زينتکم عندکل مسجد" تلاوت کولو.
پدي صورت کي دزينت يعني لباس او زيور لره دظاهرولو دممانعت صراحت شوي دي او مواضع دزينت يعني داعضاؤ دظاهرولو حرمت په دلالة النص سره په درجه اولي ثابت دي پدي وخت کي به ده الا ماظهر مطلب بلکل واضح وي چي کومي کپړي بيروني دي او پاسني لباس وي هغه ددي حکم نه مستثني دي .
او که دزينت نه مراد مواضع دزينت يعني اعضاء وي نو داستثني مطلب به دا وي چي کله دضروري کار دپاره يا دګواه فراهم کولو دپاره يا دشهادت ادا کولو دپاره مواضعو دزينت يعني اعضاؤ ښکاره کولو ته ضرورت پيښ شي او ددي دښکاره کولو اراده يي نه وي نو

پداسي ضرورت كي ددي اعضاؤ بي پردي كول جائز دي ، بهر حال دمخ او دلاسونو استثني صرف په مونځ كي نه ده بلكه عامه ده لكه څنگه چي دبيضاوي خيال دي .

دمخ دښكاره كولو عدم جواز ددي ايت نه هم ثابتيږي الله تعالي فرمائيلي دي "يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ لِأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاءِ الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِنْ جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَنْ يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَحِيمًا" دابن عباس او ابو عبيده قول دي مسلمانانو ښځو ته حكم شوي دي چي خپل مخونه او سرونه پخپلو څادرونو كي پټ ساتئ ددي دپاره چي خلقو ته معلومه شي چي دا ازادي ښځي دي او صرف يوه ستركه ښكاره كولي شئ ، هر چي دقبيله خثعم ديوي ښځي واقعه ده چاچي دخپل بوډا پلار دحج په عوض كي پخپله دحج كولو تپوس كړي وو او فضل بن عباس هغي ته كتل ‹نو ددينه په عامو حالاتو كي په جواز باندي استدلال نشي كيدي› دا ښكاره كول خو دمسئلي معلومولو دضرورت په وجه وو اودمجبورئ په وخت كي دمخ پرده نه پاتي كيږي پدي حديث كي چي رسول الله دفضل مخ دښځي نه گرځولي دي پخپله ورنه معلوميږي چي نامحرم مخ ته كتل جائز نه دي .

****************

## ١٤ــ بَاب مَا جَاءَ فِي الْغَيْرَةِ

### دغيرت بيان

١١٦٨ــ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ حَبِيبٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ الصَّوَّافِ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ اللَّهَ يَغَارُ وَالْمُؤْمِنُ يَغَارُ وَغَيْرَةُ اللَّهِ أَنْ يَأْتِيَ الْمُؤْمِنُ مَا حَرَّمَ عَلَيْهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَائِشَةَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. هَذَا الْحَدِيثُ وَكِلَا الْحَدِيثَيْنِ صَحِيحٌ، وَالْحَجَّاجُ الصَّوَّافُ هُوَ الْحَجَّاجُ بْنُ أَبِي عُثْمَانَ، وَأَبُو عُثْمَانَ اسْمُهُ مَيْسَرَةُ، وَالْحَجَّاجُ يُكْنَى أَبَا الصَّلْتِ وَثَّقَهُ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ الْقَطَّانُ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْعَطَّارُ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ الْمَدِينِيِّ، قَالَ: سَأَلْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ الْقَطَّانَ عَنْ حَجَّاجٍ الصَّوَّافِ فَقَالَ: ثِقَةٌ فَطِنٌ كَيِّسٌ. (١)

---

1 ــ صحيح مسلم في التوبة ٦ (٢٧٦١) (تحفة الأشراف : ١٥٣٦٣)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي غيرتي دي او ميمون هم غيرتي وي الله تعالي غيرت په دي خبره كوي چي مومن كوم داسي كار اوكړي كوم چي الله تعالي په هغه باندي حرام كړي وي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي او داحديث يحيىٰ بن ابي كثير په همدي سند ذكر كړي دي عن ابي سلمة عن عروة عن اسماء بنت ابي بكر عن النبي صلي الله عليه وسلم دا دواړه سندونه صحيح دي او دحجاج بن صواف نوم حجاج بن ابي عثمان دي او دابوعثمان نوم ميسره دي او دده كنيه ابو صلت ده يحيىٰ بن سعيد دده توثيق كړي دي يحيىٰ بن سعيد القطان دحجاج په باره كي وائي دا ثقه دي او هوښيار دي او په دي باب كي عائشه او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات**: يغار: غار يغار غيرة په معني دغيرت كولو دي، حرم تحريما دباب تفعيل نه په معني د حرامولو دكوم څيز دي.

**تشريح** : "ان الله يغار" غيرت لفظ په دوه معنو استعمال شوى دى اول داچي يو انسان دا گمان اوكړي چي ماله څوك نه ويني او په دي وجه كوم بد كار اوكړي، ياكوم داسي كار اوكړي چي پخپله اگر چي بد نه وي مگر نورو خلقو ته بد ښكاري او په دي حالت كي يي څوك اوويني ياڅوك راشي نو فورا يي پريږدي او يايي دپټولو كوشش اوشي.

دويمه معني دغيرت داده چي څوك دپلار يادبل مشر په خوله دكوم كار نه په سختئ سره منع شي او بيا دا كار دمنع كيدو باوجود دخپل مشر په وړاندي اوكړي.

دلته زياته مناسبه دويمه معني ده چي دكائناتو خالق پخپل مخلوق بعضي كارونه حرام كړي دي او دا ددوئ دفائدي دپاره ، نو دا به دمخلوق بي غيرتي وي چي اجتناب ورنه نه كوي نوكه اوس څوك دا كار كوي نو الله به ورته غصه كيږي او په مقرر وخت كي به سزا وركوي ليكن الله دخپل شفقت په وجه فوري سزا نه وركوي ، ددي دپاره مهلت وركوي چي مخلوق توبه اوباسي او الله ورباندي مهربانه شي.

*******************

## ١٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ أَنْ تُسَافِرَ الْمَرْأَةُ وَحْدَهَا بِغَيْرِ مَحْرَمٍ

### ديوي ښځي دپاره يواځي دسفر كولو دحرمت بيان

١١٦٩_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ. حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، أَنْ تُسَافِرَ سَفَرًا يَكُونُ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ فَصَاعِدًا إِلَّا وَمَعَهَا أَبُوهَا، أَوْ أَخُوهَا، أَوْ زَوْجُهَا، أَوِ ابْنُهَا، أَوْ ذُو مَحْرَمٍ

مِنْهَا ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَرُوِي عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "لَا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ ". وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، يَكْرَهُونَ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تُسَافِرَ إِلَّا مَعَ ذِي مَحْرَمٍ وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْمَرْأَةِ، إِذَا كَانَتْ مُوسِرَةً، وَلَمْ يَكُنْ لَهَا مَحْرَمٌ هَلْ تَحُجُّ؟. فَقَالَ: بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ لَا يَجِبُ عَلَيْهَا الْحَجُّ، لِأَنَّ الْمَحْرَمَ مِنَ السَّبِيلِ لِقَوْلِ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ: مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا سورة آل عمران آية ٩٧. فَقَالُوا: إِذَا لَمْ يَكُنْ لَهَا مَحْرَمٌ. فَلَا تَسْتَطِيعُ إِلَيْهِ سَبِيلًا. وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا كَانَ الطَّرِيقُ آمِنًا فَإِنَّهَا تَخْرُجُ مَعَ النَّاسِ فِي الْحَجِّ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيڅ يوي داسي ښځي دپاره جائز نه دي چي په الله او په ورځ داخرت ايمان لري چي هغه دري ورځي يا ددينه زيات سفر اوکړي او ددي سره ددي پلار يا ورور يا خاوند او يا خوي او يا بل کوم محرم نه وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوهريره او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم روايات وارد دي، درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي فرمائيل يي چي يوه ښځه ديوي ورځي او يوي شپي په مسافه سفر دغير محرم سره نشي کولي داهل علمو په همدي باندي عمل دي چي دوئ دښځي دپاره سفر کول درست نه ګنړي چي محرم ورسره نه وي، داهل علمو په دي باره کي اختلاف دي چي څوك دحج طاقت لري ليکن محرم ورسره نه وي نو حج کولي شي او کنه بعضي علماء وائي حجورباندي لازم نه دي ځکه چي محرم هم دالله تعالي په ارشاد "من استطاع اليه سبيلا" کي شامل دي دوئ وائي کله چي ددي سره محرم نه وي نو دي سره استطاعت دسبيل نشته دا دسفيان ثوري او اهل کوفه قول دي دبعضي علماؤ قول دي کله چي په لاره کي امن وي نو يوه ښځه دعامو خلقو سره حج ته تلي شي او دا دامام شافعي او امام مالك قول هم دي

**تشريح** : يعني هيڅ يو سړی به دکومي ښځي سره بغير دمحرم دموجودګئ نه خلوت نه کوي په يو بل حديث کي راغلي دي کله چي څوك سړی داجنبي ښځي سره په تنهائي کي ناست وي

---

[1] ـ صحيح مسلم في الحج ٧٤ (١٣٤٠) . سنن ابي داود في المناسك ٢ (١٧٢٦) . سنن ابن ماجه في المناسك ٢ (١٨٢٣) . مسند احمد (٢ في ٣٤٠، ٤٩٣) (تحفة الأشراف : ١٢٣١٦) . سنن الدارمي في الاستئذان ٣٦ (٢٧٢٠) وأخرجه: صحيح البخاري في فضل الصلاة في مسجد مكة والمدينة ٦ (١١٩٧) . وجزاء الصيد ٢٦ (١٨٦٤) . والصوم ٦٧ (١٩٩٥)

نو دريم ددوئ سره شيطان وي.

*****************

١١٧٠ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ عُمَرَ. حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ أَبِي سَعِيدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا تُسَافِرُ امْرَأَةٌ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إِلَّا وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هيڅ يوه ښځه دي ديوي ورځي او يوي شپي په مسافه سفر دمحرم نه بغير نه کوي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

**لغات** : ميسرة: مصدر دي مسافي ته وئيلي شي بينهما مسيرة يوم ، سار سيرا وتسيارا ومسيرا ومسيرة وسيرورة ، تلل، سفرکول، الدابة: سورلئ.

**تشريح** : دښځي دپاره بغير دمحرم نه څومره سفر کول جائز دي؟

په پورتني حديث کي ديوي شپي او يوي ورځي دمزل مصافي ذکر دی او په نورو روايتونو کي د دوو ورځو ذکر دی او په بعضو روايتونو کي د دريو ورځو ذکر دی ظاهرا خو دا روايتونه متضاد او متعارض ښکاري نو په دي وجه علماؤ ددي جوابونه کړي دي اول جواب دادی چي د دريو ورځو نه زيات سفر خو به ښځه بغير دمحرم نه بالکل نه کوي ددينه کم سفر که مجبوري وي نو کولی يي شي ليکن که دفتني اوفساد زمانه زياته وي نو بيا ديوي شپي او ورځي سفر هم ناجائز دي دمحرم تلل ورسره ضروري دي او که فتنه اوفساد کم وي نو بيا د دوو ورځو اجازت شته او که بالکل دامن زمانه وي نو بيابه د دريو ورځو نه کم سفر يواځي کولی شي او زيات نه په دي شان سره به په تمامو احاديثو عمل راشي.

دويم جواب شيخ عبد الحق کړي دي چي پدي تمامو رواياتو کي دسفر حد بيانول مقصود ندي بلکه دا مقصد دي چي ښځه بغير دخاوند يا محرم نه مطلقا سفر نشي کولی برابره خبره ده چي مسافه ديوي ورځي په مقدار وي او که زياته وي.

په پورتني حديث کي ديوي شپي او يوي ورځي دمزل مسافي ذکر دی او په نورو روايتونو کي د دوو ورځو ذکر دی او په بعضو روايتونو کي د دريو ورځو ذکر دی ظاهرا خو دا روايتونه

---

[1] ـ صحيح مسلم في الحج (١٣٣٩) . سنن ابى داود في المناسك ٢ (١٤٢٣) . مسند احمد (٢ في ٣٤٠ . (تحفة الأشراف ١٣٢١٦) وأخرجه صحيح البخاري في تقصير الصلاة ٣ (١٠٨٨) . سنن ابن ماجه في المناسک ٧ (٢٨٩٩) . موطا امام مالک في الاستئذان ١٤ (٣٧) . مسند احمد ٢ في ٢٣٦ . ٣٤٧ . ٤٢٣ . ٤٤٥)

متضاد او متعارض ښکاري نو په دي وجه علماؤ ددي جوابونه کړي دي اول جواب دادی چي د دريو ورځو نه زيات سفر خو به ښځه بغير دمحرم نه بالکل نه کوي ددينه کم سفر که مجبوري وي نو کولی يي شي ليکن که دفتني اوفساد زمانه زياته وي نو بيا ديوي شپي او ورځي سفر هم ناجائز دي دمحرم تلل ورسره ضروري دي او که فتنه اوفساد کم وي نو بيا د دوو ورځو اجازت شته او که بالکل دامن زمانه وي نو بيابه د دريو ورځو نه کم سفر يواځي کولی شي او زيات نه په دي شان سره به په تمامو احاديثو عمل راشي.

**دمحرم تعريف:** محرم هغه چاته وئيلی شي دچا سره چي شريعت دهميشه دپاره نکاح حرامه کړي وي برابره خبره ده چي درشته داريُ په وجه وي او که دشودو خوړلو په وجه وي او که دسخرګنيُ په وجه وي ، دمحرم دپاره عاقل او بالغ کيدل هم شرط دي ليونيان محرمان نشي جوړيدی.

شيطان ددي سړي او ښځي جنسي جذبات هر وخت راپاروي تردي چي په دويُ غالب شي تردي چي بيا غلط کار وکړي نو پدي وجه شريعت حکم وکړو چي ښځي به يواځي سفر نه کوي اوهيڅ چرته به دغير محرم سره خلوت نه کوي.

****************

## ١٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الدُّخُولِ عَلَى الْمُغِيبَاتِ

### دغير محرم سره د خلوت او يواځي کيناستلو دحرمت بيان

١١٧١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ أَبِي الْخَيْرِ، عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ". فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْأَنْصَارِ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟، قَالَ: "الْحَمْوُ الْمَوْتُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَجَابِرٍ، وَعَمْرِو بْنِ الْعَاصِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَإِنَّمَا مَعْنَى كَرَاهِيَةِ الدُّخُولِ عَلَى النِّسَاءِ عَلَى نَحْوِ مَا رُوِيَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلَّا كَانَ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ". وَمَعْنَى قَوْلِهِ الْحَمْوُ يُقَالُ: هُوَ أَخُو الزَّوْجِ كَأَنَّهُ كَرِهَ لَهُ أَنْ يَخْلُوَ بِهَا. ([1])

---

[1] _ البخاري في النكاح ١١١ (٥٢٣٢). صحيح مسلم في السلام ٨ (٢١٧٢) (تحفة الأشراف : ٩٩٥٨) مسند احمد (٣ في ١٤٩، ١٥٣). سنن الدارمي في الاستئذان ١٣ (٢٦٨٣)

**ترجمه** : دعقبه بن عامر رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دښځو سره په خلوت (يعني په تنهائي کي) دکيناستلو نه ځان اوساتئ دي وخت کي دانصارو يو کس عرض اوکړو اي دالله رسوله دخاوند د ورور(ليور) باره کي ستاسو څه خيال دي؟ نو ويي فرمائيل ليور خو مرګ دي (يعني دده نه خو ډير ځان ساتل پکار دي)

امام ترمذي وائي دعقبه بن عامر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر، جابر، او عمرو بن العاص رضي الله عنه نه هم احاديث مروي دي او ښځو سره په خلوت او تنهائي کي دکيناستلو دحرمت مطلب هم هغه دي کوم چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مروي دي فرمائيل يي چي کوم کس چي ديوي ښځي سره په تنهائي کي ناست وي نو دوئ سره دريم شيطان دي "حمو" دخاوند ورور يعني ليور ته وئيلي شي ګويا کي رسول الله دورندار سره دليور په تنهاي کي کيناستل حرام ګرځولي دي.

**لغات** : الموت: مات يموت موتا معني مړ کيدل جمع يي اموات او ميتون راځي.

**تشريح** : ددي جملي "الحمو الموت" مطلب دادي لکه څنګه چي مرګ دانسان ظاهري او باطني زندګي ختموي نو دارنګي داجنبي سړي او ليور اختلاط هم دښځو دپاره هلاکونکي دي، ليور يي په خصوصيت سره ځکه ذکر کړي دي چي خلق يي اختلاط بد نه ګڼړي

نوپه دي وجه عموما دښځو خواته ددوئ تلل راتلل دنورو سړو نه زيات وي علماء وائي چي ليور ته دمرګ وئيلو وجه داده چي عرب په عام طور سره دخطرناک څيز نه ديرولو دپاره مرګ لفظ استعمالوي مثلا اسد الموت، مطلب دادي چي شرمح ته نزدي ورتلل مرګ ته دعوت ورکول دي نو همدارنګي د ليور خواته نزدي کيدل هم تباهئ او بربادئ ته دعوت ورکول دي.

**دعقبه بن عامر رضي الله عنه حالات:**

نوم عقبه کنيه ابوعمرو دپلار نوم عامر رسول الله صلي الله عليه وسلم چي کله مديني ته راغي نو عقبه په اسلام مشرف شو علامه ذهبي ليکلي دي چي عقبه فقيه او دکتاب الله قاري وو او دفرائضو ماهر او فصيح اللسان شاعر وو (تذکرة الحفاظ)

دقران کريم سره يي خصوصي مينه وه يوه نسخه دقران کريم يي پخپل لاس هم ليکلي وه (تهذيب التهذيب)

دنبي کريم صلي الله عليه وسلم ښه خدمت يي کړی دی په سفر کي به درسول الله سورلئ راښکل دده متعلق وو لکه چي په روايتونو کي راځي کان صاحب بغلة رسول الله صلي الله عليه وسلم الشهباء.

دده دوفات دتاريخ باره کي مختلف اقوال مروي دي صحيح قول دادی چي په ۵۸هجري کي وفات شوی دی، او دده دمروياتو شمير ۵۵ دی چي يو په دي کي متفق عليه دی او يو په

بخاري كي دی او اوه په مسلم كي دي (تهذيب الكمال)
داكابرو صحابه كرامو نه نقل دروايت كوي تردي چي صرف ديو حديث اوريدو دپاره مصر ته دابوايوب انصاري سره دملاويدو دپاره تلي وو خو چي هغه يي واوريدو نو فورا واپس لاړو.

*****************

## ۱۸_ باب

### دغير محرمو سره دخلوت دحرمت متعلق يو بل باب

۱۱۷۲_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ يَجْرِي مِنْ أَحَدِكُمْ مَجْرَى الدَّمِ"، قُلْنَا: وَمِنْكَ، قَالَ: "وَمِنِّي وَلَكِنَّ اللَّهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ، فَأَسْلَمُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُهُمْ فِي مُجَالِدِ بْنِ سَعِيدٍ مِنْ قِبَلِ حِفْظِهِ، وسَمِعْت عَلِيَّ بْنَ خَشْرَمٍ، يَقُولُ: قَالَ سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ فِي تَفْسِيرِ قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَلَكِنَّ اللَّهَ أَعَانَنِي عَلَيْهِ، فَأَسْلَمُ، يَعْنِي أَسْلَمُ أَنَا مِنْهُ، قَالَ سُفْيَانُ: وَالشَّيْطَانُ لَا يُسْلِمُ، وَلَا تَلِجُوا عَلَى الْمُغِيبَاتِ، وَالْمُغِيبَةُ الْمَرْأَةُ الَّتِي يَكُونُ زَوْجُهَا غَائِبًا، وَالْمُغِيبَاتُ: جَمَاعَةُ الْمُغِيبَةِ.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمانيلي دي تاسو دداسي ښځو كورونو ته مه داخليږئ دكومو خاوندان چي په كورونو كي نه وي ځكه چي شيطان ستاسو په هر يو كس كي دننه داسي منډي وهي لكه وينه چي په جسم كي منډي وهي مونږ عرض اوكړو ايا ستاسودپاره هم دا حكم دي ؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هو زما دپاره هم داحكم دي ليكن الله تعالي دشيطان په مقابل كي زما مدد كړي دي او په همدي وجه زه دشيطان دشر نه محفوظ يم

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند غريب دي بعضي محدثينو په مجالد بن سعيد دحفظ په اعتبار كلام كړي دي، سفيان بن عيينه دارشاد نبوي ,,ولكن الله اعانني عليه فاسلم'' دا مطلب بيان كړي دي چي ددي مراد دادي چي زه دشيطان دشر نه محفوظ يم دا مطلب يي نه دي چي شيطان مسلمان شوي دي ځكه چي شيطان خو نه مسلمانيږي او په ''ولاتلجوا علي المغيبات'' كي د مغيبة نه مراد هغه ښځه ده چي خاوند يي په كور كي نه وي او مغيبات دمغيبة جمع ده.

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ۲۳۳۹)

**تشريح**: خلاصه داده چي هيڅوك به دكومي ښځي سره يواځي ملاقات نه كوي او داسي يواځي خلوت او ملاويدل علماؤ حرام ګنړلي دي ځكه چي دا په ګناه او بي حيايۍ كي د مبتلا كيدلو ذريعه او سبب ګرځيدى شي.

ذي رحم محرم، يعني چي محرم وي علماء وائي دمحرم نه هغه محرم مراد دى دچا سره چي هميشه نكاح كول په ابدي طور ناجائز او حرام وي مثلا ورور خوي زوم وغيره

* * * * * * * * * * * * * * * * *

## ۱۸_ باب

### دښځو متعلق يو بل باب

۱۱۷۳_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ عَاصِمٍ، حَدَّثَنَا هَمَّامٌ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ مُوَرِّقٍ، عَنْ أَبِي الْأَحْوَصِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمَرْأَةُ عَوْرَةٌ فَإِذَا خَرَجَتِ اسْتَشْرَفَهَا الشَّيْطَانُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. (١)

**ترجمه**: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ښځه سراسر پرده ده كله چي دا بهر اوځي نو شيطان ورپسي كيږي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

**تشريح**: يعني هيڅ يو سړى به دكومي ښځي سره بغير دمحرم دموجودګۍ نه خلوت نه كوي په يو بل حديث كي راغلي دي كله چي څوك سړى داجنبي ښځي سره په تنهائي كي ناست وي نو دريم ددوئ سره شيطان وي.

* * * * * * * * * * * * * * * * *

## ۱۹_ باب

### دسابقه باب متعلق يو بل باب

۱۱۷٤_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَرَفَةَ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ بَحِيرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ خَالِدِ بْنِ مَعْدَانَ، عَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ الْحَضْرَمِيِّ، عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ: لَا تُؤْذِيهِ قَاتَلَكِ اللَّهُ. فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكِ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا

---

١_ تفرد المؤلف بهذا الشق بهذا السند. وأخرج أبوداود الصلاة (٥٣ في ٥٤٠)

الْوَجْهِ، وَرِوَايَةُ إِسْمَاعِيل بْنِ عَيَّاشٍ، عَنِ الشَّامِيِّينَ أَصْلَحُ وَلَهُ عَنْ أَهْلِ الْحِجَازِ، وَأَهْلِ الْعِرَاقِ مَنَاكِيرُ. (1)

**ترجمه** : دمعاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ، هر کله چي يوه ښځه خپل خاوند په دنيا کي خفه کړي نو په جنت کي دهغه ښائسته حوره دی ښځی ته وائي ، خدايي دی تباه کړه مه يی تنګوه دی خو تاسره (څو ورځی) ميلمه دی ډير زر به درنه مونږ ته راشي.

دا حديث ترمذي نقل کړی دی او حديث حسن غريب يی ورته وئيلی دی.او دا مونږ ته ددي سند نه علاوه په بل سند ندي معلوم، اود شاميانو نه د اسماعيل بن عياش روايت اصلح دی اوده د اهل حجاز او اهل عراق نه ډير منکر روايات نقل کړي دي.

**لغات** : دخيل معني خپل خان پردي قوم ته منسوب کولو ته وئيلي شي ، جمع يي دخلاء راځي. دخل دخولا ومدخلا دنصر نه مستعمل دي.

**تشريح** : الا قالت زوجته من الحور العين. يعني اوبه وائي دده هغه بي بي کومه چي دحور عين نه دد.

هر يو نارينه ته به په جنت کي ډيري بيبياني ملاوېږي نو ددنيا ښځه چي کله خپل خاوند ناراضه کوي نودجنت بي بي ورنه خفه شي او پورتنۍ جمله اووائي چي الله تعالي دي تا هلاکه کړي تکليف ورته مه ورکوه لکه څرنګه چي دا ستا خاوند دی نو داسي زمونږ هم دی

په يو بل روايت کي راځي لعن الملائکة لعاصية الزوج ، يعني فرشتي په هغه ښځه لعنت وائي څوک چي دخپل خاوند نافرماني کوي.

سوال: دا خبري به دجنت حورو ته څنګه معلومېږي چي په دنيا کي ورته خپله ښځه تکليف ورکوي

جواب: محدثينو ددي دا جواب کړی دی کله چي يو انسان دنيا ته راشي نو ملاء الاعلي داسمان والا په علم کي موجود شي.

دويم جواب دادی چي دالله تعالي دطرف نه ورته خبر ورکولی کيږي

******************

# كتاب الطلاق واللعان عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

1 ـ اخرجه ابن ماجة في السنن

# د طلاق او لعان د احكامو بيان

## ١ـ باب مَا جَاءَ فِي طَلاَقِ السُّنَّةِ

### د مسنون طلاق بيان

**د جاهليت د زماني د طلاقو بيان:** بغوي وائي چي عروه بن زبير رضي الله عنه به فرمائيل چي په شروع د اسلام كي د خلقو دا حالت وو چي بې انتها طلاقونه به يي ښځو ته وركول او بعضو به داسي كول چي طلاق به يي وركړل او چي عدت به تيريدو ته نزدي شو نو رجعت به يي اوكړو او بيا به يي ورته بيا طلاق وركړل ديته د تكليف وركولو دپاره، او بيا به يي بيا رجعت اوكړو نو په دي باره كي ايت الطلاق مرتان نازل شو.

چي كله به چا دريم طلاق هم وركړو نو بيا به ښځه د بل چا سره د نكاح كولو نه بغير حلاله نه وه او د الله تعالي په دي قول مرتان فرمائيلو سره او په ثنتان نه فرمائيلو كي په دي خبره باندي دليل دي چي په يو ځاي باندي دوه طلاقونه وركول مكروه دي ځكه چي مرتان لفظ د عبارت په لحاظ سره خو په تفريق باندي دلالت كوي او اشارةً په عدد باندي دلالت كوي.

### د طلاق د مذمت بيان

الله تعالي د جادو په مذمت كي فرمائيلي دي: ﴿فَيَتَعَلَّمُونَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُونَ بِهِ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهِ﴾ د دينه معلومه شوه چي په ښځي او خاوند كي جدائي راوستل ناجائز دي.

د جابر رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ابليس خپل تخت په اوبو او غوړوي او كيني او خپلي لښكري د فساد خورولو دپاره وليږي او په دوئ تولو كي ده ته زيات مقرب هغه وي چا چي فساد زيات خور كړي وي، يو يو راځي او وائي چي ما داسي فساد خور كړي دي ابليس ورته ووائي چي تا خو هيڅ ندي كړي تر دي چي بل كس راشي او ووائي چي ما په ښځي او خاوند كي جدائي راوستلي ده نو ابليس دده نه خوشحاله شي او ووائي چي تا ډير ښه كار كړي دي.

اعمش وائي چي زما گمان دي چي جابر رضي الله عنه دا هم فرمائيلي وو چي ابليس دده لره غاړه وركړي (مسلم).

د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي حلالو څيزونو كي د الله تعالي په نزد په تولو كي زيات بد څيز طلاق دي (ابوداود).

١١٧٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ، عَنْ رَجُلٍ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَقَالَ: هَلْ تَعْرِفُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ

عُمَرَ، فَإِنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ وَهِيَ حَائِضٌ، فَسَأَلَ عُمَرُ، النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "فَأَمَرَهُ أَنْ يُرَاجِعَهَا"، قَالَ: قُلْتُ فَيُعْتَدُّ بِتِلْكَ التَّطْلِيقَةِ، قَالَ: فَمَهْ أَرَأَيْتَ إِنْ عَجَزَ وَاسْتَحْمَقَ. (1)

**ترجمه** : ديونس بن جبيربيان د چي ما دابن عمر رضي الله عنهما نه يو داسي كس باره كي تپوس اوكړو چاچي خپلي ښځي ته د حيض په حالت كي طلاق وركړي وو نو هغوئ اووئيل ته عبدالله بن عمر پيژني؟ هغه هم خپلي ښځي ته دحيض په حالت كي طلاق وركړي وو نو عمر رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړو نو رسول الله ورته حكم اوكړو چي دي ورته رجوع اوكړي، يونس بن جبير وائي مابيا تپوس اوكړو چي ايا دا طلاق به شميرلي كيږي هغه اووئيل چي نه شميرلي كيږي نو نور به څه كيږي (ولي نه شميرلي كيږي) نو ستا څه خيال دي كه چري هغه عاجز شوي وي نو ليوني شوي به وو نو ايا دا واقع كيږي او كنه

*****************

١١٧٦ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ فِي الْحَيْضِ، فَسَأَلَ عُمَرُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "مُرْهُ فَلْيُرَاجِعْهَا ثُمَّ لِيُطَلِّقْهَا طَاهِرًا أَوْ حَامِلًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ يُونُسَ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَكَذَلِكَ حَدِيثُ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا، عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ طَلَاقَ السُّنَّةِ أَنْ يُطَلِّقَهَا طَاهِرًا مِنْ غَيْرِ جِمَاعٍ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: إِنْ طَلَّقَهَا ثَلَاثًا، وَهِيَ طَاهِرٌ فَإِنَّهُ يَكُونُ لِلسُّنَّةِ أَيْضًا، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ بْنِ حَنْبَلٍ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: لَا تَكُونُ ثَلَاثًا لِلسُّنَّةِ، إِلَّا أَنْ يُطَلِّقَهَا وَاحِدَةً وَاحِدَةً، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالُوا فِي طَلَاقِ الْحَامِلِ: يُطَلِّقُهَا مَتَى شَاءَ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ بَعْضُهُمْ: يُطَلِّقُهَا عِنْدَ كُلِّ شَهْرٍ تَطْلِيقَةً. (2)

---

[1] ـ البخارى في الطلاق ٢ (٥٢٥٢)، و ٤٥ (٥٣٣٢)، صحيح مسلم في الطلاق ١ (١٤٧١)، سنن ابى داود في الطلاق ٤ (٢١٨٣، ٢١٨٤)، سنن النسائى في الطلاق ١ (٣٤١٨)، و ٧٦ (٣٥٨٥)، سنن ابن ماجه في الطلاق ٣ (٢١٠٩)، (تحفة الأشراف: ٨٥٧٣)، مسند احمد (٢ في ٤٣، ٥١، ٧٩) و أخرجه صحيح البخارى في تفسير سورة الطلاق ١ (٤٩٠٨)، والطلاق ١ (٥٢٥١)، و ٤٤ (٥٣٣٢)، والأحكام ١٣ (٧١٦٠)، صحيح مسلم في الطلاق سنن ابى داود في الطلاق ٤ (٢١٧٩،٢١٨٢)، موطا امام مالك في الطلاق ٢١ (٥٣)، سنن الدارمى في الطلاق ١ (٢٣٠٨)

[2] ـ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ٦٧٩٤)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي هغوئ خپلي ښځي ته په حالت دحيض كي طلاق وركړو او دهغه پلا عمر رضي الله عنه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه ددي مسئلي باره كي تپوس اوكړو رسول الله ورته اوفرمائيل هغه ته حكم اوكړه چي رجوع ورته اوكړي او بيايي دطهر يا دحمل په حالت كي طلاق وركړي

امام ترمذي وائي ديونس بن جبير هغه روايت كوم چي دابن عمر نه نقل كوي حسن صحيح دي او دارنگي سالم بن عبدالله هم چي كوم روايت دابن عمر نه نقل كوي دا هم صحيح دي. دا حديث په نورو يو څو سندونو هم دابن عمر نه مروي دي او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت كوي، په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضو په دي باندي قول كړي دي چي سني طلاق ديته وائي چي يو سړي په حالت دطهر كي دجماع كولو نه بغير طلاق وركړي. دبعضي علماؤ قول دي كه چا دطهر په حالت كي دري طلاقونه وركړل نو دا به هم سني طلاق وي دا قول دامام شافعي او احمد بن حنبل دي لو بعضي علماء وائي چي دري طلاقونه وركول سني طلاق نه دي علاوه ددينه چي دي ورته يو يو طلاق جدا جدا وركړي دا قول دسفيان ثوري او اسحاق بن راهويه دي، او دوئ دحامله ښځي په باره كي وائي چي ددي خاوند كله هم اوغواړي طلاق ورته وركولي شي همدا قول دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه دي او بعضي وائي چي ديته به هم په هره مياشت كي يو يو طلاق وركوي.

**تشريح** : دحيض په حالت كي طلاق وركول په اتفاق سره واقع كيږي ليكن اماميه ددينه مخالف دي هغوئ وائي چي طلاق بالكل نه واقع كيږي اوزمونږ په نزد واقع كيږي مگرحرام دي ، اوددينه پس رجعت كول واجب دي .

**مسئله**: پدي كي دائمه كرامو اختلاف دي كه چري كوم كس درجعت كولو نه پس دسنت موافق طلاق وركول غواړي نوكله وركول پكار دي؟

دامام ابوحنيفه رحمه الله قول دادي كله چي دادهغه حيض نه پاكه شي په كوم كي چي ئي ورته طلاق وركړي وي اوبيا حيض راشي اودهغي نه هم پاكه شي نوپدي وخت كي دي ورته طلاق وركړي اوداقول امام محمد هم په مبسوط كي ذكركړي دي اود امام ابوحنيفه اودصاحبينو خلاف ئي ندي ذكركړي. اوهمداد امام مالك اوامام احمد قول دي، اود امام شافعي هم مشهور قول دي.

**مسئله** : ددوه طلاقونه پس امساك په قران ثابت دي خوهله چي ښځه اوخاوند دواړه ازاد وي. او كه ازاد نه وي او غلامان وي نوبيا ددوه طلاقونه پس بالاتفاق رجعت نشي كيدي .

كه چري وينځه دازادسړي په نكاح كي وي يا ازاده ښځه دغلام په نكاح كي وي نوپدي كي اختلاف دي:

(۱) امام مالك او شافعي او احمد وئيلي دي كه چري خاوند اصيل وي نو دده طلاقونه دري دي اګر كه په نكاح كي ئي وينځه وي ، اوكه چري غلام وي نو دده طلاقونه دوه دي اګر كه په نكاح كي ئي وينځه وي ، اودا قول دعثمان، اوزيد بن ثابت رضي الله عنهما دي

(۲) امام ابوحنيفه ددي په عكس قول كړي دي يعني هغه دطلاقو اعتبار بنځولره وركوي اودا قول دعلي او ابن مسعود رضي الله عنه دي. د فريقينو دلائل مظهري په ډير بسط او تفصيل سره ذكر كړي دي.

*****************

## ٢ـ باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ الْبَتَّةَ

### كله چي يو سړي خپلي بنځي ته بته (قطعي) طلاق وركړي

١١٧٧ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ جَرِيرِ بْنِ حَازِمٍ، عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ بْنِ رُكَانَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي طَلَّقْتُ امْرَأَتِيَ الْبَتَّةَ، فَقَالَ: " مَا أَرَدْتَ بِهَا ؟ " قُلْتُ: وَاحِدَةً، قَالَ: " وَاللَّهِ ؟ " قُلْتُ: وَاللَّهِ، قَالَ: " فَهُوَ مَا أَرَدْتَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ، إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: فِيهِ اضْطِرَابٌ وَيُرْوَى، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رُكَانَةَ طَلَّقَ امْرَأَتَهُ ثَلَاثًا، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ فِي طَلَاقِ الْبَتَّةِ، فَرُوِيَ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّهُ جَعَلَ الْبَتَّةَ وَاحِدَةً وَرُوِيَ، عَنْ عَلِيٍّ أَنَّهُ جَعَلَهَا ثَلَاثًا، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: فِيهِ نِيَّةُ الرَّجُلِ، إِنْ نَوَى وَاحِدَةً فَوَاحِدَةٌ، وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا فَثَلَاثٌ، وَإِنْ نَوَى ثِنْتَيْنِ لَمْ تَكُنْ إِلَّا وَاحِدَةً، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وقَالَ: مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ فِي الْبَتَّةِ: إِنْ كَانَ قَدْ دَخَلَ بِهَا فَهِيَ ثَلَاثُ تَطْلِيقَاتٍ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنْ نَوَى وَاحِدَةً فَوَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ، وَإِنْ نَوَى ثِنْتَيْنِ فَثِنْتَانِ، وَإِنْ نَوَى ثَلَاثًا فَثَلَاثٌ. (1)

**ترجمه** : د ركانه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو اي دالله رسوله ما خپلي بنځي ته بته (قطعي) طلاق وركړي دي رسول الله اوفرمائيل ستا ددينه څه مراد وو ما عرض اوكړو يو طلاق وركول مي

---

1 ـ ابي داود في الطلاق ١٤ (٢٢٠٨) . سنن ابن ماجه في الطلاق ١٩ (٢٠٥١) سنن الدارمي في الطلاق ٨ (٢٣١٨) . (تحفة الأشراف: ٣٦١٣)

مراد وو رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوکړو ستادي په الله قسم وي؟ ما اووئيل هو زما دي په الله قسم وي رسول الله اوفرمائيل دا به هم دومره واقع کيږي دڅومره واقع کولو چې ستا اراده وه.

امام ترمذي واي دا حديث مونږ ته صرف په همدي يو سند معلوم دي او ما دامام بخاري نه ددي حديث باره کي تپوس اوکړو نو هغه اووئيل په دي کي اضطراب دي، دعکرمه نه مروي دي چي ابن عباس به وئيل رکانه خپلي ښځي ته دري طلاق ورکړي دي او په اهل علمو صحابه کرامو کي دعمربن الخطاب رضي الله عنه نه مروي دي چي هغوئ وايي د بته طلاق نه مراد يو طلاق دي او دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله دا په دري طلاقونو مقرر کړو، بعضي اهل علم وائي په دي سلسله کي دسړي نيت لره اعتبار وي که چري ديو نيت يي کړي وي نو يو به واقع کيږي او که د دريونيت يي کړي وي نو دري به واقع کيږي او که د دوو نيت يي کړي وي نو صرف يو به شميرلي کيږي او همدا دسفيان ثوري او اهل کوفه قول دي؛ مالك بن انس دقطعي طلاق په باره کي وائي که چري ښځه مدخول بها وي نو طلاق بته به دري شميرلي کيږي، امام شافعي وائي که چري ده ديونيت کړي وي نو يو به واقع کيږي او ده ته به په رجعت کولو کي اختيار وي او که د دوو نيت يي کړي وي نو دوه به واقع کيږي او که د دريو نيت يي کړي وي نو دري به شميرلي کيږي.

**تشريح : دري طلاقونه په يو ځاي واقع کيږي او کنه**

(۱) احناف فقهاء وايي دري طلاقونه چي په يوشان لفظ سره وي او که په مختلفو الفاظوسره وي په يوطهر کي ورکول حرام، بدعت، اوباعث دګناه دي.

(۲) ليکن امام شافعي ددي مخالف دي، دهغه قول دا دي چي په دي کي هيڅ حرج نشته ليکن په دي باندي دټولو اتفاق دي چي چا خپلي ښځي ته اووئيل چي په دري طلاقو طلاقه يي نوپه اجماع سره به دري واړه طلاقونه واقع کيږي.

(۳) دامامیه فرقي قول دا دي که چري چا په يو ځاي دري طلاقونه ورکړل نوددي ايت په وجه به يو طلاق هم واقع نه شي.

(۴) او د بعضي حنبيلانو قول دا دي چي يو طلاق به واقع شي ځکه چي په صحيحينو کي مروي دي چي ابو الصهباء ابن عباس رضي الله عنهماته اووئيل چي ايا تاته ياد نه دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي او دابو بکر او عمر رضي الله عنهما په خلافت کي هم به دري طلاقونه په يو باندي شماريدل، ابن عباس رضي الله عنهما اوفرمائيل يقينا خلقوپه دي کار کي جلتي کړيده په کوم کي چي تاخير کول پکار وو پس که چري اوس په دوئ باندي دا جاري شي نوکولي يي شي.

ابن اسحاق د ابن عباس رضي الله عنهما نه روايت نقل کړي دي چي فرمائيلي ئې ووچي رکانه بن عبد خپلي ښځي ته په يوځاي دري طلاقونه ورکړل ليکن بيا ورباندي ډير پښيمانه شواوبيا ورنه رسول کريم صلي الله عليه وسلم تپوس وکړو چي څنګه طلاق دي ورکړي دي؟ نو عرض ئي وکړو چي په يومجلس کي مي دري طلاقونه ورکړي دي رسول کريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل داخو صرف يوطلاق دي، لهذا رجعت ورته وکړه.

دطاوس اوعکرمه نه منقول دي چاچي دري طلاقونه(په يوځاي) ورکړل نو دسنت خلاف ئي وکړو، نو پدي وجه به ده لره دسنت طرف ته واپس کولي شي، اوهمدا قول دابن اسحاق هم دي.

(۵) دبعضي علماؤ قول دادي چي په انت طالق ثلاثا وئيلو سره په مدخول بها باندي دري طلاقونه واقع کيږي اوپه غير مدخول بها باندي يو طلاق.

څکه مسلم، ابوداود اونسائي روايت کړي دي چي ابو الصهباء ابن عباس رضي الله عنهماته اووئيل چي ايا تاته ياد نه دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه کي او دابو بکر او عمر رضي الله عنهما په خلافت کي هم به دري طلاقونه په يو باندي شماريدل، ليکن کله چي علماؤ وليدل چي اکثرو خلقو دا کار شروع کړو نو هغوئ ووئيل چي ددي په خلاف ددوئ په نسبت په ښځو باندي تاکيد وکړئ، دامام شافعي قول دي په يوي کلمي سره څو طلاقونه ورکول جائز دي اوبغير دګناه نه واقع کيږي.

د امام ابو حنيفه دليل حديث او اجماع دواړه دي حديث هم هغه دابن عمر رضي الله عنهما حديث دي چي هغه په بيمارئ کي خپلي ښځي ته طلاق ورکړي دي بيا يي اوغوښتل چي دوه نور طلاقونه په بيمارئ کي ورکړي او دا خبر رسول کريم صلي الله عليه وسلم ته هم ورسيدو رسول کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عبدالله ايا الله تعالي تاته دداسي کولو حکم کړي دي يقيناتا خو سنت طريقه پريخوده سنت طريقه خو دا ده چي اول طهر ته صبر اوکړي او بيا دهر حيض دپاره طلاق ورکړي، ابن عمر فرمائي چي مادرسول کريم صلي الله عليه وسلم په حکم سره هغي ته رجعت اوکړو بيا نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل کله چي پاکه شوه نو ياخو ورته طلاق ورکړه او يا ئي اوساته ما عرض وکړو چي اي دالله رسوله که چري زه ورته دري طلاق ورکړم نوايا بيابه زما دپاره ورته رجعت کول جائز وي اوکه نه؟، نو وئي فرمائيل چي جائز ندي څکه چي هغه بائنه شوه اوداسي کول به ګناه وي.

دا روايت دار قطني په خپل سنن کي او ابن ابي شيبه په خپل مصنف کي دحسن رضي الله عنه نه نقل کړي دي فرمائي چي مونږ ته ابن عمر رضي الله عنهما بيان کړي دي.

په مؤطاء دامام مالک کي دي چي يو کس ابن عباس رضي الله عنهما ته عرض وکړوچي ما خپلي ښځي ته سل طلاقونه ورکړي دي ستاڅه خيال دي؟ ابن عباس رضي الله عنهما

اوفرمائيل چي ستا دطرف نه په هغې باندي دري طلاقونه واقع شول اوباقي اوه نوي۹۷ طلاقونه تاد الله تعالي په ايتونو پوري خندا وکړه ،ددري طلاقو په واقع کيدو باندي اجماع منعقد شوي ده اود لويو لويو فقيهانو صحابه کرامو نه مروي ده .

په موطاء دامام مالك کي دي چي يوکس دابن مسعود رضي الله عنه په خدمت کي حاضرشو او عرض ئي وکړوچي مخپلي ښځي ته اته طلاقونه ورکړي دي هغه ورته ووئيل چي علماؤ درته څه جواب درکړي دي؟هغه ووئيل چي دا جواب ئي راکړي دي چي هغه زما نه بائنه شوي ده هغه اوفرمائيل چي رشتيائي درته وئيلي دي، پدي باره کي حکم خو هغه دي کوم چي درته هغوئ بيان کړي دي ددي روايت نه هم پدي باندي اجماع معلوميږي عبد الرزاق دعلقمه نه روايت نقل کړي دي چي فرمائيل ئي يوکس دابن مسعود رضي الله عنه په خدمت کي حاضرشو او عرض ئي وکړوچي مخپلي ښځي ته نهه نوي۹۹ طلاقونه ورکړي دي هغه ورته ووئيل چي ښځه خودرنه دري طلاقو جدا کړه اوباقي ټول ستاپه سرکشئ کي داخل شول.

ابوداود پخپل سنن اوامام مالك په مؤطاء کي دمحمد بن اياس بن بکير نه روايت نقل کړي دي چي يوکس خپلي ښځي ته ددخول نه مخکي دري طلاق ورکړي وو بيائي داسوچ وکړو چي واپس به ورسره نکاح وکړم نوددي خيال په بنا دفتوي طلب کولو دپاره روان شو اوزه هم ورسره شوم نوده پدي باره کي اول ابن عباس او ابوهريره رضي الله عنهما ته ورغلو او تپوس يي ورنه وکړو، دواړو دا جواب ورکړوچي ترڅوپوري دي ښځي دبل چاسره نکاح نه وي کړي نوترهغي پوري ئي ستاسره نکاح جائز نده نوده ووئيل چي ماخو صرف يوخل طلاق ورکړي وونو ابن عباس ورته ووئيل چي بس څه چي ستاسره پاتي شوي ووتاټولو لره شاته وغورزول.

اوهمدارنګي امام مالك په مؤطاء کي د ابن عمر رضي الله عنهما نه داسي روايت نقل کړي دي چي هغه داعمش نه اوهغه دحبيب بن ثابت نه فرمائي چي يوکس دعلي رضي الله عنه په خدمت کي حاضر شو او عرض ئی وکړو چي مخپلي ښځي ته زر طلاقونه ورکړي دي نو ورته ئي اوفرمائيل چي هغه ستانه په دري طلاقونوجدا شوي ده اوباقي طلاقونه پخپلو نوروښځو باندي تقسيم کړه.

وکيع دمعاويه بن يحیٰ نه روايت کړي دي چي يوکس دعثمان بن عفان په خدمت کي حاضر شوچي مخپلوښځي ته زر طلاقونه ورکړي دي نو ورته ئي اوفرمائيل چي هغه ستانه په دري طلاقونوجدا شوي ده .

خومره حديثونه او اثار چي مونږ ذکر کړي دي ددوئ په ذريعه دري طلاقونه په يو ځاي واقع کيدل ثابتيږي اوهمدارنګي ورسره دا هم ثابتيږي چي دا فعل بدعت اوګناه ده.

**مسئله** : په يوځاي باندي دري طلاقونه ورکول بدعت اوحرام دي اوپه هرطهر کي يو طلاق ورکول په بناءد "فان طلقها" الايه سره جائز مباح دي . اوددي ټولو نه بهتره طريقه داده چي کله

يوسرې خپلې ښځې ته په طلاق ورکولو باندې مجبوره شي نو يو طلاق دې ورکړي نو که چرې بيائي درجعت کولو اراده نه وي نو همداسې دې ئې پرېږدي تر دې چې ددې عدت تيرشي ، ددې وجه داده چې د الله تعالى په نزد باندې په مباح څيزونو کې طلاق ورکول زيات مبغوض دې او ضرورت خو په يو باندې هم پوره کيدې شي.

*****************

## ٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ

### ښځې ته داسې وئيل چې ستا معامله ستا په لاس کې ده

١١٧٨ـ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ نَصْرِ بْنِ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: قُلْتُ لِأَيُّوبَ: هَلْ عَلِمْتَ أَنَّ أَحَدًا قَالَ: فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ إِنَّهَا ثَلَاثٌ، إِلَّا الْحَسَنَ، فَقَالَ: لَا إِلَّا الْحَسَنَ، ثُمَّ قَالَ: اللَّهُمَّ غَفْرًا إِلَّا مَا حَدَّثَنِي قَتَادَةُ، عَنْ كَثِيرٍ مَوْلَى بَنِي سَمُرَةَ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ثَلَاثٌ، قَالَ أَيُّوبُ: فَلَقِيتُ كَثِيرًا مَوْلَى بَنِي سَمُرَةَ، فَسَأَلْتُهُ فَلَمْ يَعْرِفْهُ، فَرَجَعْتُ إِلَى قَتَادَةَ فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: نَسِيَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سُلَيْمَانَ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، وَسَأَلْتُ مُحَمَّدًا، عَنْ هَذَا الْحَدِيثِ، فَقَالَ: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ بِهَذَا وَإِنَّمَا هُوَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَوْقُوفٌ وَلَمْ يُعْرَفْ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ مَرْفُوعًا. وَلَمْ يُعْرَفْ حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ مَرْفُوعًا، وَكَانَ عَلِيُّ بْنُ نَصْرٍ حَافِظًا صَاحِبَ حَدِيثٍ، وَقَدِ اخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي أَمْرُكِ بِيَدِكِ، فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَغَيْرِهِمْ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ مَسْعُودٍ هِيَ وَاحِدَةٌ، وَهُوَ قَوْلُ: غَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ، وقَالَ: عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ، وَزَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ الْقَضَاءُ مَا قَضَتْ، وقَالَ: ابْنُ عُمَرَ إِذَا جَعَلَ أَمْرَهَا بِيَدِهَا وَطَلَّقَتْ نَفْسَهَا ثَلَاثًا، وَأَنْكَرَ الزَّوْجُ، وَقَالَ: لَمْ أَجْعَلْ أَمْرَهَا بِيَدِهَا، إِلَّا فِي وَاحِدَةٍ اسْتُحْلِفَ الزَّوْجُ، وَكَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهُ: مَعَ يَمِينِهِ، وَذَهَبَ سُفْيَانُ، وَأَهْلُ الْكُوفَةِ، إِلَى قَوْلِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ، وَأَمَّا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، فَقَالَ: الْقَضَاءُ مَا قَضَتْ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَأَمَّا إِسْحَاق، فَذَهَبَ إِلَى قَوْلِ ابْنِ عُمَرَ. [1]

**ترجمه** : دحماد بن زيد بيان دې چې ما د ايوب (سختياني) نه تپوس اوکړو ايا تاته دحسن بصري نه علاوه بل داسې څوك معلوم دې چاچې د "امرك بيدك" په سلسله کې دا قول کړې

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ١٣ (٢٢٠٣) . سنن النسائي في الطلاق ١١ (٣٤٣٩)

وي چي دا دري طلاق دي؟ هغوئ اووئيل دحسن بصري نه علاوه ماته بل هيڅوك نه دي معلوم او بيا يي اووئيل الله دي معافي اوكړي، هو يو روايت شته كوم چي ماته قتاده په سنډ د كثير مولابني سمرة عن ابي سلمة عن ابي هريرة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي چي رسول الله فرمائيلي دي دا دري طلاق دي، ايوب وائي زه بيا مولي د بني سمره سره ملاؤ شوم نو ددي حديث باره كي مي ورنه تپوس اوكړو ليكن دا هغه ته نه وه معلومه نو زه بيا قتاده ته راغلم او هغه ته مي دا خبره اوكړه قتاده اووئيل دهغه نه هير شوي دي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي دا مونږ ته صرف دسليمان بن حرب په سند رارسيدلي دي او هغه دحماد بن زيد نه نقل كړي دي، ما دامام بخاري نه دي حديث باره كي تپوس اوكړو نو هغه اووئيل مونږ ته سليمان بن حرب بيان كړي دي او هغه دحماد بن زيد نه نقل كړي دي او دا دابوهريره نه موقوفاً مروي دي او دابوهريره مرفوع حديث ورته معلوم نه وو، داهل علمو د "امرك بيدك" په سلسله كي اختلاف دي بعضي صحابه كرام په كومو كي چي عمر بن خطاب، عبدالله بن مسعود هم شامل دي دوئ وائي چي دا يو طلاق دي او دا په تابعينو كي ددينه پس په نورو علماؤ كي دډيرو قول دي، عثمان بن عفان او زيد بن ثابت وائي فيصله به هغه معتبر وي كومه چي ښځه اوكړي، ابن عمر رضي الله عنهما وائي كله چي خاوند اووائي ددي معامله ددي په لاس كي ده او ښځه پخپله دا قول دري طلاق اوګرځوي او خاوند ورنه انكار اوكړي اووائي ما خو صرف ديو طلاق په باره كي وئيلي وو چي ستامعامله ستا په لاس كي ده نوداسي حالت كي به خاوند ته قسم وركولي شي او دده قول به دقسم سره معتبر وي، سفيان ثوري او اهل كوفه دعمر او عبدالله بن مسعود قول اختيار كړي دي، او دامام مالك قول دي فيصله به هغه معتبر وي كومه چي ښځي كړي وي او دا دامام احمد قول هم دي او اسحاق بن راهويه دابن عمر رضي الله عنهما قول اختيار كړي دي.

## په ،امرك بيدك، سره دطلاق وقوع

په دې مسئله كي دوه خبرې ثابتول دى، (۱)اول دا چي لفظ د اختارد امرباليد جواب كيدې شى، (۲)دويمه دا چي دا په دريوباندې څنګه دلالت كوى؟مصنف د اولنۍ خبرې ثابتولوډپاره اوفرمائيل چي لفظ د اختارپه امرباليد جواب كيدې شى، ځكه لكه څنګه لفظ د تخييرپه مالك جوړيدو باندې دلالت كوى نودغه شان امرباليد هم د مالك جوړوپه معنى باندې دلالت كوى نودا دواړه الفاظ په قوت اوضعف كي برابردى نوځكه لفظ د اختار د امرباليدجواب كيدئ شى،

ددويم قول دليل دا دې چي واحدة د اختيارة محذوف صفت دې، لكه چي ښځې اووئيل "إخترت نفسي بإختيارة واحدة يعني بمرة واحدة" نوپه دې الفاظوسره درې طلاقه واقع كيږي نودغه شان دلته هم درې طلاقه واقع كيږي.

كه ښځې د "أمرك بيدك" په جواب كي اووئيل چي "طلقت نفسي بواحدة يا إخترت نفسي بتطليقة" نوپه دې باندې يوطلاق بائن واقع كيږي،

دليل دادې چي واحدة د محذوف مصدرصفت دې نود وړاندينى فعل پشان به مصدرمقدرګنړلې شي، په وړاندينۍ مسئله كي يعني "إخترت نفسي بواحدة" كي اختيارةً مقدر ګنړلې شي، اوپه دويمه مسئله يعنى "طلقت نفسي بواحدة" كي تطليقة محذوف دې،

اوس پاتې شوه دا خبره چي په دې الفاظوطلاق بائن ولې واقع كيږي؟نوددې وجه دا ده چي "أمرك بيدك" د كنايه الفاظ دى، اود كنايه په الفاظوسره طلاق بائن واقع كيږي، سوا د هغه درې الفاظونه كوم چي وړاندې تيرشول نوثابته شوه چي خاوند ورته طلاق بائن حواله كړې دې، ځكه چي خاوند هغه د خپلې معاملې مالكه جوړه كړه، اومالكه جوړيدل د بينونيت تقاضا كوى، خلاصه دا چي ښځې ته طلاق بائن حواله كړې شوې دې، اود ښځې كلام دسړى د كلام جواب واقع شوې دې نود (بينونت) كوم صفت چي په تفويض كي مذكور دې، هم هغه به د طلاق په واقع كولوكي هم ذكروى چي د ښځې كلام د سړى د كلام مطابق شي.

صاحب دهدايه فرمائى چي په "أمرك بيدك" كي د درې طلاقونيت صحيح دې، اوپه "إختارى" كي نه دې صحيح، ځكه چي امربالید دعموم اوخصوص دواړو احتمال لرى، شيخ الاسلام فرمائيلى دى چي امراسم عام دې چي هرڅيزته شامل دې، الله تعالى فرمائيلى دى: والامر يومئذ لله، اوددې نه ټول ځيزونه مراد دى نوهركله چي ئې په دې سره دطلاق نيت اوكړلو نودا كنايه شوه، د "طلاقك بيدك" اوطلاق مصدر دې د عموم اوخصوص احتمال لرى نود دريو نيت دتعميم نيت دې.

په خلاف د "إختارى" ځكه چي دا د عموم احتمال نه لرى، ددې تفصيل په "فصل في الإختيار" كي تيرشوې دې،

وړاندې ذكرشوى دى چي د "إختارى" په جواب كي كه "إخترت نفسي بتطليقة" اووئيل نودمصنف دبيان مطابق په دې باندې طلاق رجعى واقع كيږي، دا د كاتب سهوده، ددې

دليل ددي قول دا دي چي په ذكرشوې مسئله كي ئې فرمائيلى دى چي د"أمرك بيدك" په جواب كي په "إخترت نفسى بواحدة" سره يوطلاق بائن واقع كيږى نوددې مسئلي نه معلومه شوه چي په اولنۍ مسئله كښي به هم طلاق بائن واقع كيږى.والله اعلم بالصواب.

****************

## ٤ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْخِيَارِ

### ښځي ته داختيار وركولو بيان

١١٧٩ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ أَبِي خَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: " خَيَّرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاخْتَرْنَاهُ، أَفَكَانَ طَلَاقًا ؟ ". حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي الضُّحَى، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ بِمِثْلِهِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي الْخِيَارِ فَرُوِيَ، عَنْ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، أنهما قَالَا: إِنِ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فَوَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ، وَرُوِيَ عَنْهُمَا أَنَّهُمَا، قَالَا: أَيْضًا وَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ، وَإِنِ اخْتَارَتْ زَوْجَهَا فَلَا شَيْءَ وَرُوِيَ، عَنْ عَلِيٍّ، أَنَّهُ قَالَ: إِنِ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فَوَاحِدَةٌ بَائِنَةٌ، وَإِنِ اخْتَارَتْ زَوْجَهَا فَوَاحِدَةٌ يَمْلِكُ الرَّجْعَةَ، وقَالَ زَيْدُ بْنُ ثَابِتٍ: إِنِ اخْتَارَتْ زَوْجَهَا فَوَاحِدَةٌ، وَإِنِ اخْتَارَتْ نَفْسَهَا فَثَلَاثٌ، وَذَهَبَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ وَالْفِقْهِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ، فِي هَذَا الْبَابِ إِلَى قَوْلِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللَّهِ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَأَمَّا أَحْمَدُ بْنُ حَنْبَلٍ، فَذَهَبَ إِلَى قَوْلِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ. ([1])

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ ته اختيار راكړو (كه خوښه مو وي چي دده په نكاح كي پاتي شو او كه دا مو خوښه وي چي پاتي نشو) نو مونږ رسول الله لره اختيار كړو ايا دا طلاق منلي شوي وو.

---

[1] ـ صحيح البخارى في الطلاق ٥ (٥٢٦٣) . صحيح مسلم في الطلاق ٣ (١٣٤٤) . سنن النسائي في النكاح ٢ (٣٢٠٢). والطلاق ٢٤ (٣٤٤١ ٣٤٤٥) (تحفة الأشراف : ١٧٦١٣) مسند احمد ٦ في ٢٠٢. ٢٠٥. ٢٤٠) وأخرجه سنن ابى داود في الطلاق ١٢ (٢٢٠٣) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٠ (١٥٢) . مسند احمد (٦ في ٤٥. ٤٨. ١٧١. ١٧٣. ١٨٥. ٢٦٣)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي دورسره اوسيدو باره كي په اختيار وركولو كي داهل علمو اختلاف دي دعمر او عبدالله بن مسعود رضي الله عنه قول دي كه ښځي خپل خان لره اختيار كړو نو بائن طلاق به واقع شي او ددوئ دواړو دا قول هم دي چي يو طلاق به واقع كيږي او خاوند ته به درجعت اختيار وي او كه چري دوئ خپل خاوند لره اختيار كړو نو هيڅ به نه واقع كيږي، دعلي رضي الله عنه قول دي كه چري ښځي خپل خان اختيار كړو نو بائن طلاق به واقع كيږي او كه خاوند يي اختيار كړو نو يو به وي ليكن درجعت اختيار به ثابت وي. دزيد بن ثابت رضي الله عنه قول دي كه چري ښځي خاوند اختيار كړو نو يو طلاق به واقع كيږي او كه خپل خان يي اختيار كړو نو دري به واقع كيږي، په صحابه كرامو او ددوئ نه پس په اهل علمو كي اكثرو دعبدالله بن مسعود او عمر رضي الله عنهما قول اختيار كړي دي اوهمدا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول هم دي البته امام احمد دعلي رضي الله عنه قول لره اختيار كړي دي.

*****************

## ٥_ باب مَا جَاءَ فِي الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثًا لَا سُكْنَى لَهَا وَلَا نَفَقَةَ

**د دري طلاقو نو په صورت كي ښځي ته نه رهائش ملاويږي او نه دخوړلو ځكلو خرچه**

١١٨٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا جَرِيرٌ، عَنْ مُغِيرَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، قَالَ: قَالَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ قَيْسٍ: طَلَّقَنِي زَوْجِي ثَلَاثًا، عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا سُكْنَى لَكِ، وَلَا نَفَقَةَ". قَالَ مُغِيرَةُ: فَذَكَرْتُهُ لِإِبْرَاهِيمَ، فَقَالَ: قَالَ عُمَرُ: لَا نَدَعُ كِتَابَ اللهِ، وَسُنَّةَ نَبِيِّنَا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لِقَوْلِ امْرَأَةٍ لَا نَدْرِي أَحَفِظَتْ أَمْ نَسِيَتْ، وَكَانَ عُمَرُ يَجْعَلُ لَهَا السُّكْنَى، وَالنَّفَقَةَ. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، أَنْبَأَنَا حُصَيْنٌ، وَإِسْمَاعِيلُ، وَمُجَالِدٌ، قَالَ هُشَيْمٌ، وَحَدَّثَنَا دَاوُدُ أَيْضًا، عن الشَّعْبِيِّ، قَالَ: دَخَلْتُ عَلَى فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ فَسَأَلْتُهَا، عَنْ قَضَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِيهَا فَقَالَتْ: طَلَّقَهَا زَوْجُهَا الْبَتَّةَ فَخَاصَمَتْهُ فِي السُّكْنَى، وَالنَّفَقَةِ، فَلَمْ يَجْعَلْ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُكْنَى، وَلَا نَفَقَةً، وَفِي حَدِيثِ دَاوُدَ قَالَتْ: وَأَمَرَنِي أَنْ أَعْتَدَّ فِي بَيْتِ ابْنِ أُمِّ مَكْتُومٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَهُوَ قَوْلُ: بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ: مِنْهُمْ الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ، وَعَطَاءُ بْنُ أَبِي رَبَاحٍ، وَالشَّعْبِيُّ، وَبِهِ يَقُولُ: أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالُوا: لَيْسَ لِلْمُطَلَّقَةِ سُكْنَى، وَلَا نَفَقَةٌ، إِذَا لَمْ يَمْلِكْ زَوْجُهَا الرَّجْعَةَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ، عُمَرُ، وَعَبْدُ اللهِ، إِنَّ الْمُطَلَّقَةَ ثَلَاثًا لَهَا السُّكْنَى، وَالنَّفَقَةُ، وَهُوَ قَوْلُ:

سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَهَا السُّكْنَى، وَلَا نَفَقَةَ لَهَا، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَاللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: إِنَّمَا جَعَلْنَا لَهَا السُّكْنَى بِكِتَابِ اللهِ قَالَ اللهُ تَعَالَى: لا تُخْرِجُوهُنَّ مِنْ بُيُوتِهِنَّ وَلا يَخْرُجْنَ إِلا أَنْ يَأْتِينَ بِفَاحِشَةٍ مُبَيِّنَةٍ سورة الطلاق آية ١، قَالُوا: هُوَ الْبَذَاءُ أَنْ تَبْذُوَ عَلَى أَهْلِهَا، وَاعْتَلَّ بِأَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ قَيْسٍ، لَمْ يَجْعَلْ لَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، السُّكْنَى لِمَا كَانَتْ تَبْذُو عَلَى أَهْلِهَا، قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَلَا نَفَقَةَ لَهَا لِحَدِيثِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قِصَّةِ حَدِيثِ فَاطِمَةَ بِنْتِ قَيْسٍ. ([1])

**ترجمه** : دعامر بن شراحيل شعبي بيان دي فاطمه بنت قيس رضي الله عنها فرمائي چي ماته زما خاوند دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي دري طلاقونه راكړل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ستا دپاره نه رهائش شته او نه دنفقي اخراجات، مغيره وائي بيا ما ددي ذكر ابراهيم نخعي ته اوكړو هغه راته اووئيل دعمر رضي الله عنه قول دي چي مونږ ديوي ښځي په وينا دالله كتاب او درسول سنت نشو پريخودلي مونږ ته معلومه نه ده چي هغي حديث ياد هم ساتلي دي او كه هير كړي يي دي عمر رضي الله عنها به دداسي ښځي دپاره رهائش او نفقه مقرروله په يو بل سند هيشم وائي چي مونږ ته داود روايت بيان كړي دي چي شعبي به وئيل زه فاطمه بنت قيس رضي الله عنها ته ورغلم او ما ورنه په دي باره كي تپوس اوكړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم څنګه فيصله كړي ده فاطمه بنت قيس اووئيل ماته زما خاوند بته طلاق راكړي وو نو ما دنفقي او درهائش په سلسله كي مقدمه اوكړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دپاره نه درهائش حكم اوكړو او نه دنفقي، د داود په حديث كي دا هم دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته حكم اوكړو چي عدت دابن ام مكتوم په كور كي تير كړه.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او بعضي اهل علمو هم په دي باندي قول كړي دي چي حسن بصري، عطاء بن ابي رباح او شعبي هم په دوئ كي شامل دي او همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي دوئ وائي دمطلقي دپاره كله چي ددي دخاوند سره

---

[1] ـ مسلم في الطلاق ٦ (١٤٨٠) . سنن ابي داود في الطلاق ٣٩ (٢٢٨٨) . سنن النسائي في الطلاق ٧ (٣٢٣٣، ٣٢٣٣) . و ٤٠ (٣٥٤٨، ٣٥٤٩) . سنن ابن ماجه في الطلاق ١٠ (٢٠٣٦) . مسند احمد (٦ في ٣١٢، ٣١٥، ٣١٥، ٣١٦) . سنن الدارمي في الطلاق ١٠ (٢٢٢١) (تحفة الأشراف : ١٨٠٢٥) وأخرجه صحيح مسلم في الطلاق سنن ابي داود في الطلاق ٣٩ (٢٢٨٤) . سنن النسائي في النكاح ٨ (٣٢٢٣) . و ٢١ (٣٢٤٦) . و ٢٢ (٣٢٤٧) . والطلاق ١٥ (٣٣٢٧) . موطا امام مالك في الطلاق ٢٣ (٦٧) . مسند احمد (٦ في ٤١٢،٤١٧) . سنن الدارمي في النكاح ٧ (٢٢٢٣)

درجعت اختيار نه وي نه رهائش شته او نه نفقه په صحابه كرامو كي بعضي اهل علم چي عمر او عبدالله بن مسعود په كي هم شامل دي په دري طلاقو دمطلقي دپاره په رهائش او نفقه باندي قول كري دي او همدا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول دي بعضي اهل علم وائي ديته رهائش او نفقه نه ملاويږي دا دمالك بن انس، ليث بن سعد، او امام شافعي قول دي، امام شافعي وائي مونږ ددي دپاره درهائش حق دالله دكتاب په بنياد وركړي دي الله تعالي فرمائيلي دي دوئ لره ددوئ دكورونو نه مه اوباسئ او دوئ دي پخپله هم نه اوځي علاوه ددينه چي دوئ ښكاره بي حيايي اوكړي "بذاء" ديته وائي چي يوه ښځه دخاوند دكور والا خلقو سره بدكلامي اوكړي، نبي كريم صلي الله عليه وسلم دفاطمه بنت قيس دپاره درهائش نه وركولو علت هم دادي چي هغي دكور دخلقو سره بدكلامي كوله او دفاطمه بنت قيس په واقعه كي درسول الله د نفقي دنه وركولو دحديث په اعتبار سره هغي ته نفقه نه ده وركړي شوي.

*****************

## ٦_ بَابُ مَا جَاءَ لَا طَلَاقَ قَبْلَ النِّكَاحِ

### دنكاح نه مخكي دطلاق نه واقع كيدو بيان

١١٨١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا عَامِرٌ الْأَحْوَلُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا نَذْرَ لِابْنِ آدَمَ فِيمَا لَا يَمْلِكُ، وَلَا عِتْقَ لَهُ فِيمَا لَا يَمْلِكُ، وَلَا طَلَاقَ لَهُ فِيمَا لَا يَمْلِكُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَمُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَهُوَ أَحْسَنُ شَيْءٍ رُوِيَ فِي هَذَا الْبَابِ وَهُوَ قَوْلُ: أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، رُوِيَ ذَلِكَ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، وَسَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، وَالْحَسَنِ، وَسَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَعَلِيِّ بْنِ الْحُسَيْنِ، وَشُرَيْحٍ، وَجَابِرِ بْنِ زَيْدٍ، وَغَيْرِ وَاحِدٍ مِنْ فُقَهَاءِ التَّابِعِينَ، وَبِهِ يَقُولُ الشَّافِعِيُّ وَرُوِيَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، أَنَّهُ قَالَ: فِي الْمَنْصُوبَةِ إِنَّهَا تَطْلُقُ وَقَدْ رُوِيَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، وَالشَّعْبِيِّ وَغَيْرِهِمَا، مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنَّهُمْ قَالُوا: إِذَا وَقَّتَ نُزِّلَ وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، أَنَّهُ إِذَا سَمَّى امْرَأَةً بِعَيْنِهَا، أَوْ وَقَّتَ وَقْتًا، أَوْ قَالَ: إِنْ تَزَوَّجْتُ مِنْ كُورَةِ كَذَا، فَإِنَّهُ إِنْ تَزَوَّجَ، فَإِنَّهَا تَطْلُقُ، وَأَمَّا ابْنُ الْمُبَارَكِ فَشَدَّدَ فِي هَذَا الْبَابِ، وَقَالَ: إِنْ فَعَلَ لَا أَقُولُ هِيَ حَرَامٌ، وَقَالَ أَحْمَدُ: إِنْ تَزَوَّجَ لَا آمُرُهُ، أَنْ يُفَارِقَ امْرَأَتَهُ، وَقَالَ إِسْحَاقُ: أَنَا أُجِيزُ فِي الْمَنْصُوبَةِ، لِحَدِيثِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَإِنْ تَزَوَّجَهَا لَا أَقُولُ تَحْرُمُ عَلَيْهِ امْرَأَتُهُ، وَوَسَّعَ إِسْحَاقُ فِي غَيْرِ

الْمَنْصُوبَةِ وَذُكِرَ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ سُئِلَ، عَنْ رَجُلٍ حَلَفَ بِالطَّلَاقِ، أَنَّهُ لَا يَتَزَوَّجُ ثُمَّ بَدَا لَهُ أَنْ يَتَزَوَّجَ هَلْ لَهُ رُخْصَةٌ بِأَنْ يَأْخُذَ بِقَوْلِ الْفُقَهَاءِ الَّذِينَ رَخَّصُوا فِي هَذَا؟. فَقَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ: إِنْ كَانَ يَرَى هَذَا الْقَوْلَ حَقًّا، مِنْ قَبْلِ أَنْ يُبْتَلَى بِهَذِهِ الْمَسْأَلَةِ، فَلَهُ أَنْ يَأْخُذَ بِقَوْلِهِمْ فَأَمَّا مَنْ لَمْ يَرْضَ بِهَذَا فَلَمَّا ابْتُلِيَ أَحَبَّ، أَنْ يَأْخُذَ بِقَوْلِهِمْ فَلَا أَرَى لَهُ ذَلِكَ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دانسان دپاره ديو داسي څيز نذر كول نشته كوم چي دهغه په اختيار كي نه دي او په كوم چي هغه قدرت نه لري اونه چاسره دداسي كس دازادولو اختيار شته دچاچي مالك نه وي او نه چا سره داسي ښځي ته دطلاق وركولو حق شته دكومي چي دي مالك نه دي، امام ترمذي وائي دعبدالله بن عمر حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دعلي، معاذ بن جبل، جابر، ابن عباس، او عائشه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دا په ټولو كي بهترين حديث دي كوم چي په دي باب كي وارد دي، او همدا په صحابه كرامو كي داكثرو اهل علمو قول دي، او د علي بن ابي طالب، ابن عباس، جابر، عبدالله، سعيد بن المسيب ، حسن، سعيد بن جبير، علي بن حسين، شريح، او جابر بن زيد رضي الله عنهم او دمتعددو تابعينو نه هم دارروايت مروي دي او همدا دامام شافعي قول هم دي، او دابن مسعود رضي الله عنه نه مروي دي چي هغوئ دمنصوبي په سلسله كي وئيلي دي چي طلاق كيږي، او په اهل علمو كي دابراهيم نخعي او شعبي وغيره نه مروي دي چي كله دوئ كوم وخت مقرر كړي نو طلاق به واقع كيږي او همدا دسفيان ثوري او مالك بن انس قول هم دي چي كله چا ديوي معيني ښځي نوم واخستلو او يايي كوم وخت مقرر كړو او يا يي داسي اووئيل چي ما دفلانئ محلي دښځي سره نكاح اوكړه نو هغه دي طلاقه وي نو كه ده په مذكوره نكاح اوكړه نو طلاق به واقع شي البته په دي باب كي ابن مبارك دشدت نه كار اخستلي دي ليكن هغوئ دا هم وئيلي دي كه چري يو كس داسي اوكړل نو زه هم دا نه وايم چي په ده باندي به دا حرامه شي. او امام احمد وائي كه چري دغه كس په دغه محله كي نكاح اوكړه نو زه ورته دا حكم نه كوم چي دي دي دخپلي ښځي نه جدائي اختيار كړي، اسحاق بن راهويه وائي زه دابن مسعود دحديث په بنا دمنسوبه ښځي سره دنكاح كولو اجازت وركوم، او كه چري دي كس ورسره نكاح اوكړه نو زه دا نه وايم چي په ده باندي به دا ښځه حرامه شي ، او دغير منصوبه ښځي په سلسله كي اسحاق بن راهويه وسعت وركړي دي، دعبدالله بن مبارك نه منقول دي چي هغه نه ديو كس په باره كي

---

[1] ـ ابن ماجه في الطلاق ١٧ (٢٠٤٧) (تحفة الأشراف: ٨٧٢١). مسند احمد (٢ في ١٩٠) وأخرجه ابى داود في الطلاق ٧ (٢١٩٠) . سنن النسائي في البيوع ٦٠ (٤٦١٦). مسند احمد (٢ في ١٨٩)

تپوس اوکړي شو چاچي دطلاقو قسم خوړلي وو چي زه به نکاح نه کوم او بیا یي سوچ اوکړو چي نکاح اوکړم نو ایا دده دپاره اجازت شته چي دهغه فقهاؤ قول اختیار کړي چاچي اجازت ورکړي دي عبدالله بن مبارك اوونیل که چري په دي معامله کي دواقع کیدونه مخکي ده ته دهغوئ درخصت قول درست ښکاریدو نو بیا دده دپاره دهغوئ په قول عمل کول درست دي او که چري مخکي ددوئ دقول نه مطمئن نه وو او اوس په ازمائش کي دپریوتو په وخت کي دهغوئ په قول عمل کول غواړي نو زه دده په حق کي داسي کار کول درست نه ګڼړم.

**تشریح** : اضافة الطلاق الي الشرط.

**مسئله** : که چا طلاق په نکاح پورې معلق کړل. مثلاً یوې پردئ ښځي ته ئې اوونیل، "إن تزوجتك فأنت طالق" یا ئې داسې اوونیل، "كل إمرأة أتزوجها فهي طالق"

(۱) نوزمونږ په نزدیه دې صورت کي د نکاح نه پس طلاق واقع کیږي.

(۲) اوامام شافعی(رحمه الله)فرمائي چي طلاق نه واقع کیږي،

دامام شافعی(رحمه الله)دلیل دنبی(ص) حدیث دې چي د نکاح نه وړاندې طلاق نشته. د عبدالله بن عمروبن العاص ؓ نه روایت دې چي دوی یوې ښځې ته د نکاح پیغام اولیږلو، دهغې اولیاؤ دهغې دنکاح کولونه انکاراوکړلو نو عبدالله بن عمروبن العاص ؓ اوفرمائیل "إن نكحتها فهي طالق ثلاثاً" بیا ئې په دې باره کي د رسول الله(ص) نه تپوس اوکړلو، نبی(ص) ورته اوفرمائیل "لاطلاق قبل النكاح" ددې حدیث نه معلومیږی چي دنکاح نه وړاندې طلاق معتبر نه دې.

زمونږدلیل دا دې چي په یوخیزپورې معلق کول دحالف دطرفه تصرف یمین دې، ځکه چي شرط اوجزاء دواړه موجود دی، اوهم ددې نوم تعلیق دې، پاتې شوه دا خبره چي د تعلیق په وخت کي دحالف ملك نشته، ددې جواب دا دې چي دتعلیق په وخت کي د ملك وجود شرط نه دې، بلکه دجزاء د وجود په وخت کي دملك وجود شرط دې، اودلته د جزاء دوجود په وخت کي یقیناً ملك موجود دې نود طلاق واقع کیدل یعنی ترتب دجزاء به هم وی، اود شرط د وجود نه وړاندې د یمین اثرمنع دې، یعنی دمحلوف نه بچ کیدل، اودا منع د متصرف یعنی حالف پورې قائمه ده نوپه دې وخت کي د طلاق دمحل څه حاجت نشته، بلکه د حالف ذمه واری کافی ده،

دامام شافعی(رحمه الله) د پیش کړی حدیث نه جواب دا دې چي دا په طلاق منجزباندې محمول دې، حاصل دا چي نبی(ص) اوفرمائیل چي دنکاح نه وړاندې که طلاق ورکړې شی نوطلاق نه واقع کیږی، ښکاره ده چي په دې کي دچا اختلاف نشته، اختلاف خوپه

دې كې دې چې طلاق په نكاح پورې معلق كول جائزدى كه نه دى؟اوپه دې باندې په حديث كې څه صراحت نشته نوپه دې حديث باندې استدلال كول صحيح نه دى، اودا حديث په طلاق منجز باندې حمل كول داسلافو (رحمهم الله) نه منقول دى، لكه امام شعبى امام زهرى (رحمهما الله) اود دوى نه علاوه بعضې نور فقهاء.

## دعمرو بن شعيب رضي الله عنه حالات

نوم عمرو شعيب بن محمد بن عبدالله بن عمرو بن العاص هغه عموما دخپل پلار او سعيد بن المسيب نه روايتونه اوريدلي دي او دى دحديث په اسناد كې اكثر موندلى شي "ابيه" كې ضمير پلار ته راجع دى او ددې مصداق شعيب دى 'جده، په دې ضمير كې دوه احتماله دي اول ددې مصداق محمد دى ، دويم احتمال دادى چې دجد مرجع ابيه دى او دجد مصداق عبدالله بن عمرو دى كوم چې دشعيب نيكه دى مطلب دا شو چې شعيب دخپل نيكه عبدالله نه روايت كوي ددې احتمالاتو په وجه په سند كې اختلاف راغى پاتې شوه دا خبره چې دا سند قابل داحتجاج دى يا نه دى نو صحيح رائې داده چې دا سند قابل داحتجاج دى كم از كم دحسن درجې دى اصحاب سنن او امام احمد وغيره دا سند قبول كړى دى (ميزان الاعتدال، تدريب الرامي).

**تشريح** : يوكس طلاق په نكاح پورې معلق كړلو، مثلاً يوې پردۍ ښځې ته ئې اووئيل، "إن تزوجتك فأنت طالق" يا ئې داسې اووئيل، "كل إمرأة أتزوجها فهى طالق"(۱)نوزمونږ په نزدې په دې صورت كې د نكاح نه پس طلاق واقع كيږى، (۲)اوامام شافعى (رحمه الله)فرمائى چې طلاق نه واقع كيږى.

*******************

## ٧_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ طَلَاقَ الأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ

### دوينځې طلاق دوه وي

١١٨٢_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى النَّيْسَابُورِيُّ، حَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي مُظَاهِرُ بْنُ أَسْلَمَ، قَالَ: حَدَّثَنِي الْقَاسِمُ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " طَلَاقُ الأَمَةِ تَطْلِيقَتَانِ وَعِدَّتُهَا حَيْضَتَانِ ". قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ يَحْيَى: وحَدَّثَنَا أَبُو عَاصِمٍ، أَنْبَأَنَا مُظَاهِرٌ بِهَذَا، قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ مُظَاهِرِ بْنِ أَسْلَمَ، وَمُظَاهِرٌ لَا نَعْرِفُ لَهُ فِي الْعِلْمِ غَيْرَ هَذَا

الْحَدِيثِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دوينځي طلاق دوه دي او ددي عدت دوه ځل بيماريدل دي.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن غريب دي او مونږ ته صرف دمظاهر بن اسلم په سند دا روايت رارسيدلي دي او ددي روايت نه علاوه دمظاهر بن اسلم بل روايت مونږ ته معلوم نه دي، او په دي باب کي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي، په صحابه کرامو او اهل علمو کي داکثرو په دي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري ، شافعي، احمد ، او اسحاق قول هم دي.

****************

## ٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ يُحَدِّثُ نَفْسَهُ بِطَلَاقِ امْرَأَتِهِ

**ځوک چي په زړه کي دخپلي ښځي دطلاق خيال راوړي نو ددي څه حکم دي**

١١٨٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ زُرَارَةَ بْنِ أَوْفَى، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "تَجَاوَزَ اللَّهُ لِأُمَّتِي مَا حَدَّثَتْ بِهِ أَنْفُسَهَا، مَا لَمْ تَكَلَّمْ بِهِ، أَوْ تَعْمَلْ بِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا حَدَّثَ نَفْسَهُ بِالطَّلَاقِ لَمْ يَكُنْ شَيْءٌ حَتَّى يَتَكَلَّمَ بِهِ. (2)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي زما دامت هغه خيالات کوم چي ددوئ په زړونو کي تيريږي معاف کړي دي ترڅو پوري چي دا هغوئ دخولي نه ويستلي نه دي او په ژبه يي اداء کړي نه وي او يايي په دي باندي عمل نه وي کړي.

---

1 _ سنن ابي داود في الطلاق ١٧ (٢٣٤٠) (تحفة الأشراف : ١٨٥٥٥)

2 _ البخاري في العتق ٦ (٢٥٢٨) ، والطلاق ١١ (٥٢٦٥) ، والأيمان والنذور ١٥ (٦٦٦٤) ، صحيح مسلم في الإيمان ٥٨ (٢٠١) ، سنن ابي داود في الطلاق ١٥ (٢٢٠٩) ، سنن النسائي في الطلاق ٢٢ (٣٤٦٣) ، سنن ابن ماجه في الطلاق ١٤ (٢٠٤٠) ، مسند احمد (٢ في ٣٩٣، ٤٢٥، ٤٧٤، ٤٨١، ٤٩١) (تحفة الأشراف : ١٢٨٩٦)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي چي كله يو سړي پخپل زړه كي دطلاق سوچ اوكړي نو په دي باندي هيڅ نه كيږي ترڅوچي هغه په خوله ونيلي نه وي.

*****************

## ۹ـ باب مَا جَاءَ فِي الْجِدِّ وَالْهَزْلِ فِي الطَّلَاقِ

### په سنجيدګئ او ټوقو كي دطلاق لفظ ونيلو بيان

۱۱۸٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَاتِمُ بْنُ إِسْمَاعِيل، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَرْدَكَ الْمَدَنِيِّ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنِ ابْنِ مَاهَكَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "ثَلَاثٌ جِدُّهُنَّ جِدٌّ، وَهَزْلُهُنَّ جِدٌّ النِّكَاحُ، وَالطَّلَاقُ، وَالرَّجْعَةُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَعَبْدُ الرَّحْمَنِ: هُوَ ابْنُ حَبِيبِ بْنِ أَرْدَكَ الْمَدَنِيُّ، وَابْنُ مَاهَكَ هُوَ عِنْدِي يُوسُفُ بْنُ مَاهَكَ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري څيزونه داسي دي چي دهغي قصد كول هم قصد كول دي او په هغي كي ټوقي كول هم قصد كول دي يو نكاح ده او يو طلاق دي او يو رجعت دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي په صحابه كرامو وغيره خلقو كي داهل علمو په دي باندي عمل دي عبدالرحمن دحبيب بن اردك مدني څوي دي او ابن ماهك زما په نزد يوسف بن ماهك دي.

*****************

## ۱۰ـ باب مَا جَاءَ فِي الْخُلْعِ

### دخلع بيان

۱۱۸۵ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، أَنْبَأَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ سُفْيَانَ، أَنْبَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَهُوَ مَوْلَى آلِ طَلْحَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنِ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذِ بْنِ عَفْرَاءَ، أَنَّهَا

---

[1] ـ ابي داود في الطلاق ۹ (۲۱۹۴). ابن ماجه في الطلاق ۱۳ (۲۰۳۹). (تحفة الأشراف: ۱۴۸۵۴)

اخْتَلَعَتْ عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ أُمِرَتْ أَنْ تَعْتَدَّ بِحَيْضَةٍ ".([1])

**ترجمه** : د ربيع بنت معوذ بن عفراء رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په زمانه كي خلع اوكړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم حكم اوكړو چي يو حيض عدت تير كړه.

امام ترمذي وائي دربيع حديث چي ديوحيض دعدت تيرولو حكم ورته شوي دي صحيح دي، او په دي باب كي ابن عباس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

**تشريح** : نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي كومه ښځه بغير دخطري نه دخپل خاوند نه طلاق اوغواړي نوپه هغي باندي دجنت خوشبو حرامه ده (مسند احمد، ترمذي، ابوداود).

ابن ماجه او دارمي دثوبان رضي الله عنه روايت نقل كړي دي او دګناه كيدو باوجود مال وركول حرام دي بلكه په ناحقه مال بربادولو نه يعني په كوم كي چي څه ديني يا دنيوي فائده نه وي انسان منع شوي دي، اودرسول كريم صلي الله عليه وسلم ددي ارشاد چي المختلعات هن المنافقات ملطب هم دا دي (ترمذي).

پس كله چي ښځي او خاوند ته دالله دقانون دپابندۍ نه كولو او دګناه دمرتكب كيدو خطره وي نو دواړو لره وركول اخستل جائز دي اوداحكم په هغه صورت كي دي چي كله دجانبينو دطرف نه دجګړي كولو خطره وي اوكه چري صرف دخاوند دطرف نه دجګړي خطره وي نو دده په دي كي دائمه كرامو اختلاف دي چي خلع طلاق دي او كه فسخ دنكاح دي

د امام ابو حنيفه مالك او مشهور قول دامام شافعي دا دي چي خلع طلاق دي او يو روايت دامام احمد نه هم ددي پشان مروي دي.

دويم قول دامام احمد دي او يو قول دشافعي دي چي خلع فسخ دنكاح دي طلاق نه دي، پس څوك چي خلع ته فسخ وائي نه په دي سره ددي په نزد باندي دطلاقو عدت كميږي اونه په دي سره دويم طلاق واقع كيږي او نه دعدت په دوران كي دښځي اوخاوند كي وراثت جاري كيږي

****************

أَنْبَأَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحِيمِ الْبَغْدَادِيُّ، أَنْبَأَنَا عَلِيُّ بْنُ بَحْرٍ، أَنْبَأَنَا هِشَامُ بْنُ يُوسُفَ، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ امْرَأَةَ ثَابِتِ بْنِ قَيْسٍ، اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٨٣٥)

عَلَى عَهْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، "فَأَمَرَهَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَعْتَدَّ بِحَيْضَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ الْعِلْمِ فِي عِدَّةِ الْمُخْتَلِعَةِ، فَقَالَ: أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، إِنَّ عِدَّةَ الْمُخْتَلِعَةِ عِدَّةُ الْمُطَلَّقَةِ ثَلَاثُ حِيَضٍ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاقُ. قَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، إِنَّ عِدَّةَ الْمُخْتَلِعَةِ حَيْضَةٌ. قَالَ إِسْحَاقُ: وَإِنْ ذَهَبَ ذَاهِبٌ إِلَى هَذَا فَهُوَ مَذْهَبٌ قَوِيٌّ. ([1])

**ترجمه** : دابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي د ثابت بن قيس ښځي دنبي كريم سلي الله عليه وسلم په زمانه كي دخپل خاوند سره خلع اوكړه نو رسول الله ورته په يو حيض عدت تيرولو حكم اوكړو

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او دمختلعي دعدت باره كي داهل علمو اختلاف دي، په صحابه كرامو كي اكثر اهل علم وائي عدت دمختلعي دري حيضونه دي او دا د سفيان ثوري او اهل كوفه قول دي او په دي باندي امام احمد او اسحاق بن راهويه هم قول كړي دي او په صحابه كرامو كي بعضي اهل علم وائي چي عدت به دمختلعي يو حيض دي، اسحاق بن راهويه وائي كه څوك دا مسلك اختياروي نو دا يو قوي مذهب دي.

****************

## ١١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُخْتَلِعَاتِ

### دخلع غوښتونكو ښځو بيان

١١٨٦_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا مُزَاحِمُ بْنُ ذَوَّادِ بْنِ عُلْبَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ لَيْثٍ، عَنْ أَبِي الْخَطَّابِ، عَنْ أَبِي زُرْعَةَ، عَنْ أَبِي إِدْرِيسَ، عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْمُخْتَلِعَاتُ هُنَّ الْمُنَافِقَاتُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَيْسَ إِسْنَادُهُ بِالْقَوِيِّ وَرُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "أَيُّمَا امْرَأَةٍ اخْتَلَعَتْ مِنْ زَوْجِهَا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ لَمْ تَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ". ([2])

---

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٨٣٥)

[2] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٢٠٩٣)

**ترجمه** دثوبان رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلع اخستونكي ښځي منافقاني دي.

امام ترمذي وائي داحديث په دي سند غريب دي او څه خاص قوي سند نه دي، دارنګي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه دا هم مروي دي چي فرمائيل يي كومه ښځه چي بغير دكوم سبب او ضرورت نه دخپل خاوند سره خلع اوكړي نو دا به دجنت خوشبو اونه ګوري.

**تشريح : د سړي دپاره ښځي ته د مال په عوض طلاق وركول ګناه ده**

الله تعالي فرمائيلي دي "وَلَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَأْخُذُوا مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا" الايه ، او بل ايت كريمه " وَإِنْ أَرَدْتُمُ اسْتِبْدَالَ زَوْجٍ مَكَانَ زَوْجٍ وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنْطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُبِينًا" دداسي قسم طلاقوپه وجه په مال وركولو كي په ښځه باندي هم ګناه نشته دي ځكه چي طلاق غوښتل ګناه ده.

نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي كومه ښځه بغير دخطري نه دخپل خاوند نه طلاق اوغواړي نوپه هغي باندي دجنت خوشبو حرامه ده (مسند احمد ، ترمذي، ابوداود)

ابن ماجه او دارمي دثوبان رضي الله عنه روايت نقل كړي دي او دګناه كيدو باوجود مال وركول حرام دي بلكي په ناحقه مال بربادولونه يعني په كوم كي چي څه ديني يا دنيوي فائده نه وي انسان منع شوي دي، اودرسول كريم صلي الله عليه وسلم ددي ارشاد چي الـمختلعات هن المنافقات ملطب هم دا دي (ترمذي).

صاحب هدايه وائي چي دده دپاره دا مال اخستل مكروه تحريمي دي او حق دا دي چي حرام دي.

**مسئله**: په دي كي دائمه كرامو اختلاف دي چي خلع طلاق دي او كه فسخ دنكاح دي

د امام ابو حنيفه ،مالك او مشهور قول دامام شافعي دا دي چي خلع طلاق دي او يو روايت دامام احمد نه هم ددي پشان مروي دي.

دويم قول دامام احمد دي او يو قول دشافعي دي چي خلع فسخ دنكاح دي طلاق نه دي . پس ځوك چي خلعي ته فسخ وائي نه په دي سره ددي په نزد باندي دطلاقو عدت كميږي اونه په دي سره دويم طلاق واقع كيږي او نه دعدت په دوران كي دښځي اوخاوند كي وراثت جاري كيږي.

****************

١١٨٧_ أَنْبَأَنَا بِذَلِكَ بُنْدَارٌ، أَنْبَأَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ، أَنْبَأَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَمَّنْ حَدَّثَهُ، عَنْ ثَوْبَانَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلَاقًا مِنْ غَيْرِ بَأْسٍ

فَحَرَامٌ عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَيُرْوَى هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي أَسْمَاءَ، عَنْ ثَوْبَانَ وَرَوَاهُ بَعْضُهُمْ، عَنْ أَيُّوبَ بِهَذَا الإِسْنَادِ وَلَمْ يَرْفَعْهُ. (1)

**ترجمه** : دثوبان رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي خلع اخستونكي ښځي باندي دجنت خوشبو حرامه ده.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او دا حديث په سند د عن ايوب عن ابي قلابه عن ابي اسماء عن ثوبان سره هم مروي دي بعضو دايوب نه په همدي سند نقل كړي دي ليكن هغوئ مرفوع نه دي ذكر كړي.

********************

## ١٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي مُدَارَاةِ النِّسَاءِ

### دښځو دخاطر كولو بيان

١١٨٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي زِيَادٍ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ بْنِ سَعْدٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَخِي ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ عَمِّهِ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ الْمَرْأَةَ كَالضِّلَعِ إِنْ ذَهَبْتَ تُقِيمُهَا كَسَرْتَهَا، وَإِنْ تَرَكْتَهَا اسْتَمْتَعْتَ بِهَا عَلَى عِوَجٍ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، وَسَمُرَةَ، وَعَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ، ښځه دپښتئ پشان ده ده كه ته يى نيغول غواړي ماته به يى كړي او كه فائده تري اخلي نو فائده ترينه اخستلى شي او كوږوالى به پكي وي.

امام ترمذي وايي دا حديث په دي سند حسن غريب دى.

**لغات**: اقمتها: اقامه اقامة وقامة په معني دودريدلو اقام المائل او المعوج يعني كوږ يي سيده كړو.

---

1 _ سنن ابي داود في الطلاق ١٨ (٢٢٢٦) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢١ (٢٠٥٥) . (تحفة الأشراف : ٢١٠٣) . مسند احمد (٥ في ٢٧٧، ٢٨٣) . سنن الدارمي في الطلاق ٦ (٢٣١٦)

2 _ صحيح مسلم في الرضاع ١٨ (١٤٦٨) . (تحفة الأشراف : ١٣٢٢٧) وأخرجه صحيح البخارى في النكاح ٧٩ (٥١٨٣) . صحيح مسلم في الرضاع . مسند احمد (٢ في ٢٢٨، ٤٤٩، ٥٣٠) . سنن الدارمى في النكاح ٣٥ (٢٢٦٨)

**تشريح** : "فان المرائة خلقت كضلع" يعني ښځه دپوختئ پشان پيداشوي ده بعضو ددي كلام دا مطلب بيان كړى دى چي حواء عليها السلام دادم عليه السلام دچپي پوختئ نه پيدا كړى شوي ده ليكن دبعضو دا خيال دى چي رسول الله په دي جمله كي يوه حكيمانه تشبيه وركړي ده چي دښځي مثال دپوختئ پشان دى چي څوك ورته كوږي نو كړه ښكاري ليكن حسن يي په كوږوالي كي دى.

"ان ذهبت تقيمها كسرتها" ددي مطلب دادى كه څوك اوغواړي چي دا كړه پوختئ نيغه كړي نو دا خو به نيغه نشي بلكي ماته به شي نو همدارنگي حال دښځي هم دى په دي وجه دبعضو خلقو گمان دى چي په دي جمله كي دښځو مذمت بيان شوى دى حال دادى چي ددي جملي مطلب دښځو مذمت بيانول نه دي دا كوږوالى دښځي يوه فطري تقاضا ده نو پكار ده چي پخپله فطري تقاضا يي پريږدئ او دنيغولو كوشش يي اونكړئ.

****************

## ١٣ـ باب مَا جَاءَ فِي الرَّجُلِ يَسْأَلُهُ أَبُوهُ أَنْ يُطَلِّقَ زَوْجَتَهُ

### كه دچا نه پلار دښځي طلاقولو طلب اوكړي نو څه به كوي

١١٨٩ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَنْبَأَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَنْبَأَنَا ابْنُ أَبِي ذِئْبٍ، عَنِ الْحَارِثِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كَانَتْ تَحْتِي امْرَأَةٌ أُحِبُّهَا، وَكَانَ أَبِي يَكْرَهُهَا، فَأَمَرَنِي أَبِي أَنْ أُطَلِّقَهَا، فَأَبَيْتُ فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ، طَلِّقْ امْرَأَتَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِنْ حَدِيثِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما بيان دي چي زما په نكاح كي يوه ښځه وه او زما ورسره ښه زندگي تيريدله خو زما دپلار خوښه نه وه ماته زما پلار ددي دطلاقولو حكم اوكړو ليكن ما دهغه خبره اونه منله او بيا ما ددي خبري ذكر رسول الله صلي الله عليه وسلم ته اوكړو نو راته يي اوفرمائيل اي عبدالله بن عمر ښځي ته دي طلاق وركړه.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دا مونږ ته صرف د ابن ابي ذئب په سند رارسيدلي دي.

****************

[1] ـ ابي داود في الأدب ١٢٩ (٥١٣٨)، ابن ماجه في الطلاق ٣٦ (٢٠٨٨)، (تحفة الأشراف: ٦٧٠١)، مسند احمد (٢ في ٢٢، ٥٣)

## ١٤_ باب مَا جَاءَ لاَ تَسْأَلُ الْمَرْأَةُ طَلاَقَ أُخْتِهَا

### ديوې ښځې دپاره جائز نه دي چې دخاوند نه دخپلې بنې د طلاق مطالبه اوکړي

١١٩٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَسْأَلِ الْمَرْأَةُ طَلَاقَ أُخْتِهَا لِتَكْفِئَ مَا فِي إِنَائِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي يوه ښځه دي دخپلې بنې دپاره دطلاق مطالبه نه کوي او ددې په لوښي کې چې څه دې پکار داده چې دا ددې دپاره کافي شي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دې باب کې دام سلمه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دي.

**تشريح** : ولاتسال المرائة طلاق اختها لتكفا مافي انائها: يعني يوه ښځه به دبلې ښځې دطلاقيدو خواهش نه کوي ددې دپاره چې دهغې حصه هم دېته ملاؤ شي او د لتکفا مافي انائها: مطلب دادې چې يو لوښې په بل کې خالي کړې شي دا کنايه ده ددېنه چې يوه ښځه چاته اووايي چې خپله ښځه طلاقه کړه او پخپله ورسره دنکاح خواهش اوکړي او ددې کس پوره توجه خپل طرف ته وګرځوي.

*****************

## ١٥_ باب مَا جَاءَ فِي طَلاَقِ الْمَعْتُوهِ

### دليوني دطلاقو بيان

١١٩١_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، أَنْبَأَنَا مَرْوَانُ بْنُ مُعَاوِيَةَ الْفَزَارِيُّ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ بْنِ خَالِدٍ الْمَخْزُومِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كُلُّ طَلَاقٍ جَائِزٌ إِلَّا طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا

---

[1] _ البخاری في البيوع ٥٨ (٢١٤٠). صحيح مسلم في النكاح ٦ (١٤١٣ في ٥٢). سنن النسائی في النكاح ٢٠ (٣٢٤١). والبيوع ١٦ (٤٤٩٦). و١٩ (٤٥٠٦). و٢١ (٤٥١٠). مسند احمد (٢ في ٢٣٨). (تحفة الأشراف: ١٣١٢٣) وأخرجه صحيح البخاری في الشروط ٨ (٢٧٢٣). والنكاح ٥٣ (٥١٥٢). والقدر ٤ (٦٦٠١). صحيح مسلم في النكاح. مسند احمد (٢ في ٢٧٤. ٣١١. ٣٩٤. ٤١٠. ٤٨٧. ٤٨٩. ٥٠٨. ٥١٦)

نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَطَاءِ بْنِ عَجْلَانَ، وَعَطَاءُ بْنُ عَجْلَانَ ضَعِيفٌ ذَاهِبُ الْحَدِيثِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ طَلَاقَ الْمَعْتُوهِ الْمَغْلُوبِ عَلَى عَقْلِهِ لَا يَجُوزُ إِلَّا أَنْ يَكُونَ مَعْتُوهًا يُفِيقُ الْأَحْيَانَ فَيُطَلِّقُ فِي حَالِ إِفَاقَتِهِ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر طلاق واقع کيږي مگر علاوه دطلاق دليوني نه.

امام ترمذي وائي دا حديث مونږ ته صرف دعطاء بن عجلان په سند مرفوع رارسيدلي دي او عطاء ضعيف او ذاهب الحديث دي (يعني هيرونکي دحديث) په صحابه کرامو وغيره خلقو کي داهل علمو په دي باندي عمل دي چي دليوني طلاق نه واقع کيږي مگر علاوه دهغه ليوني نه چي دهغه ليوتتوب کله کله ښه کيږي او بيا ورته هغه دصحت په حالت کي طلاق ورکړي.

**تشريح**: دلته دا مسئله بيان شوې ده.چي د چا طلاق واقع کيږی اوکه د چا نه واقع کيږی. فرمائی.که خاوند عاقل بالغ وی.اودهٔ خپلې ښځې ته طلا ق ورکړلو.نوطلاق واقع کيږی.اوکه ماشوم يا ليونې يا اودهٔ وی.نوطلاق نه واقع کيږی.

ځکه چي نبیﷺ فرمائيلی دی.هريوطلاق واقع کيږی سوا د ماشوم او ليونی د طلاقه.

دويم دليل دا دې.چي د تصرف اهليت په عقل مميزباندې راځی.(يعنی دهغه چاتصرف قبليږی.چي په چا کي عقل وی.اود ښه اوبد تميزکولې شی)اوماشوم اوليونې دواړو کي عقل مميز نشته.نومعلومه شوه.چي په دوی دواړوکي د طلاق اهليت نشته.اوچي د طلاق اهليت په کي نشته.نود دوی طلاق به واقع کيږی هم نه.اوځوك چي اودهٔ وی.نوپه دهٔ کي اختيارنشته.حالانکه په تصرف کي اختيارشرط دې.

*****************

## ١٦ـ باب

### دليوني دطلاق متعلق يوبل باب

١١٩٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ شَبِيبٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ النَّاسُ وَالرَّجُلُ يُطَلِّقُ امْرَأَتَهُ مَا شَاءَ، أَنْ يُطَلِّقَهَا وَهِيَ امْرَأَتُهُ إِذَا ارْتَجَعَهَا وَهِيَ فِي الْعِدَّةِ، وَإِنْ طَلَّقَهَا مِائَةَ مَرَّةٍ أَوْ أَكْثَرَ حَتَّى قَالَ رَجُلٌ لِامْرَأَتِهِ: وَاللهِ لَا أُطَلِّقُكِ فَتَبِينِي مِنِّي وَلَا آوِيكِ أَبَدًا، قَالَتْ: وَكَيْفَ ذَاكَ؟، قَالَ: أُطَلِّقُكِ فَكُلَّمَا هَمَّتْ عِدَّتُكِ أَنْ تَنْقَضِيَ رَاجَعْتُكِ. فَذَهَبَتِ الْمَرْأَةُ حَتَّى دَخَلَتْ عَلَى

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٤٢٤٣)

عَائِشَةَ فَأَخْبَرَتْهَا. فَسَكَتَتْ عَائِشَةُ حَتَّى جَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرَتْهُ. فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى نَزَلَ الْقُرْآنُ: الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ (البقرة ٢٢٩) قَالَتْ عَائِشَةُ: فَاسْتَأْنَفَ النَّاسُ الطَّلَاقَ مُسْتَقْبَلًا مَنْ كَانَ طَلَّقَ، وَمَنْ لَمْ يَكُنْ طَلَّقَ. (1)

**ترجمه** دعائشه رضي الله عنها بيان دي فرمائي چي دخلقو داحال وو چي يو سړي به خپلي ښځي ته څومره طلاقونه ورکول غوښتل هغه به يي ورکړل او بيا به درجوع كولو په صورت كي دهغه ښځه جوړيده اګر كه هغه به ديته دسلو پيرو نه هم زيات طلاق وركړي وو تردي پوري چي يو خل يو كس خپلي ښځي ته اووئيل په الله قسم زه تاته نه طلاق دركوم چي ته رانه بيا جدا شي او نه درته چرته پناهي دركوم ښځي ورته اووئيل دا څنګه كيدي شي ؟ هغه اووئيل زه به طلاق دركړم خو چي عدت كله ختميدو ته نزدي شي نو رجعت به كوم دا ښځه عائشه رضي الله عنها ته راغله او داخبره يي ورته بيان كړه عائشه خاموش شوه تردي پوري چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم تشريف راوړو نو ام المؤمنين ورته ددي خبري خبر وركړو رسول الله صلي الله عليه وسلم هم خاموشي اختياركړه تردي پوري چي دا ايت كريمه "الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح باحسان" نازل شو يعني رجعي طلاق دوه دي او بيا يا خو په نيكي طريقي سره ساتل دي او يا رخصت وركول دي (البقره: ٢٢٩) دعائشه رضي الله عنها بيان دي ددينه پس خلقو طلاق دسره نوي شميرل شروع كړل چاچي طلاق وركړي وو هغوئ هم او چاچي نه وو وركړي هغوئ هم.

*****************

حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ مُحَمَّدُ بْنُ الْعَلَاءِ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ نَحْوَ هَذَا الْحَدِيثِ بِمَعْنَاهُ وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ يَعْلَى بْنِ شَبِيبٍ. (2)

**ترجمه** هشام بن عروه هم دخپل پلار نه ددي هم معني حديث بيان كړي دي او هشام پخپل حديث كي دعائشه ذكر نه دي كړي، امام ترمذي وائي داحديث ديعلي بن شبيب دحديث نه زيات صحيح دي.

*****************

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٦٣٣٧)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٩٠٣٦)

## ١٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْحَامِلِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا تَضَعُ

### دخاوند دوفات نه پس دحاملي ښځي دعدت بيان

١١٩٣_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ أَبِي السَّنَابِلِ بْنِ بَعْكَكٍ، قَالَ: وَضَعَتْ سُبَيْعَةُ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِثَلَاثَةٍ وَعِشْرِينَ، أَوْ خَمْسَةٍ وَعِشْرِينَ يَوْمًا فَلَمَّا تَعَلَّتْ، تَشَوَّفَتْ لِلنِّكَاحِ فَأُنْكِرَ عَلَيْهَا، فَذُكِرَ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "إِنْ تَفْعَلْ فَقَدْ حَلَّ أَجَلُهَا".[1]

**ترجمه** : دابو السنابل بن بعكك بيان دي چي دسبيعه دخاوند دمرګ نه پس ۲۳ يا ۲۵ ورځي پس ولادت اوشو او کله چي دا دنفاس نه پاکه شوه نو دنکاح دپاره يي زينت شروع کړو خلقو ورباندي اعتراض اوکړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يي ددي دحال ذکر اوکړو رسول الله اوفرمائيل که چري سبيعه داسي کوي نو هيڅ قباحت نشته ددي عدت پوره شوي دي.

****************

حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا شَيْبَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ نَحْوَهُ. وَقَالَ وَفِي الْبَابِ: عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي السَّنَابِلِ، حَدِيثٌ مَشْهُورٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَلَا نَعْرِفُ لِلأَسْوَدِ سَمَاعًا مِنْ أَبِي السَّنَابِلِ، وَسَمِعْت مُحَمَّدًا، يَقُولُ: لَا أَعْرِفُ أَنَّ أَبَا السَّنَابِلِ، عَاشَ بَعْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْحَامِلَ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا إِذَا وَضَعَتْ، فَقَدْ حَلَّ التَّزْوِيجُ لَهَا، وَإِنْ لَمْ تَكُنِ انْقَضَتْ عِدَّتُهَا وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: تَعْتَدُّ آخِرَ الأَجَلَيْنِ وَالْقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ.[2]

---

[1] _ النسائي في الطلاق ٥٦ (٣٥٣٩) ، سنن ابن ماجه في الطلاق ٧ (٢٠٢٧) ، مسند احمد (٣ في ٣٠٥) (تحفة الأشراف : ١٢٠٥٣)

[2] _ النسائي في الطلاق ٥٦ (٣٥٣٩) ، سنن ابن ماجه في الطلاق ٧ (٢٠٢٧) ، مسند احمد (٣ في ٣٠٥) (تحفة الأشراف : ١٢٠٥٣)

**ترجمه** : حسن بن موسي د شيبان په واسطه دمنصور نه د ماقبل هم معني روايت نقل کړی دی ، امام ترمذي وايي په دي باب کي د ام سلمه رضي الله عنها نه هم روايت وارد دی، امام ترمذي وايي د ابو السنابل حديث په مذکوره سندمشهور غريب دی، اود ابو السنابل نه د اسود د سماع باره کي موئږ ته علم نشته، د امام بخاري نه مي اوريدلي دي وئيل يي چي ماته معلومه نه ده ابو السنابل د وفات نبوي نه پس زندګي تيره کړي وي، اوپه دي باندي په صحابه کرامو کي د اهل علمو او ددوي نه پس د نورو اهل علمو عمل دی چي د متوفي عنها زوجها وضع د حمل سبب د حلت د تزويج جديده دی اګر که عدت يي نه وي تير شوي، سفيان ثوري ، شافعي ، احمد او اسحاق هم په دي باندي قول کړی دی مګر په صحابه کراموکي د بعضي اهل علمو اوددوئ نه پس دبعضي اهل علمو قول دادي چي د متوفي عنها زوجها عدت ابعد الاجلين دی ليکن زما په نزد اولني قول راجح دی.

****************

١١٩٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، أَنَّ أَبَا هُرَيْرَةَ، وَابْنَ عَبَّاسٍ، وَأَبَا سَلَمَةَ بْنَ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، تَذَاكَرُوا الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا الْحَامِلَ تَضَعُ عِنْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا، فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: تَعْتَدُّ آخِرَ الأَجَلَيْنِ، وَقَالَ أَبُو سَلَمَةَ: بَلْ تَحِلُّ حِينَ تَضَعُ، وَقَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ: أَنَا مَعَ ابْنِ أَخِي يَعْنِي أَبَا سَلَمَةَ، فَأَرْسَلُوا إِلَى أُمِّ سَلَمَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: قَدْ وَضَعَتْ سُبَيْعَةُ الأَسْلَمِيَّةُ بَعْدَ وَفَاةِ زَوْجِهَا بِيَسِيرٍ، فَاسْتَفْتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَهَا أَنْ تَتَزَوَّجَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دسليمان بن يسار بيان دي فرمائي چي ابوهريره او ابن عباس او ابوسلمه رضي الله عنهم پخپل مينځ کي دکونډي دعدت مذاکره کوله چي کله دا حامله وي او دخاوند دوفات نه پس يي ولادت اوشي، ابن عباس اووئيل په دوه نيتو کي چي کومه اوږده وي دهغي عدت به تيروي او ابوسلمه اووئيل چي ولادت سره ددي عدت پوره کيږي او ابوهريره اووئيل زه دخپل وراره ابوسلمه هم خيال يم نو هغوئ په دي سلسله کي ام سلمه رضي الله عنها ته څوك وروليږل

[1] ــ البخاري في تفسير سورة الطلاق ٢ (٤٩٠٩) . صحيح مسلم في الطلاق ٨ (١٤٨٥) . سنن النسائي في الطلاق ٥٦ (٣٥٢٢، ٣٥٢٣) . مسند احمد (٦ في ٢٨٩) . سنن الدارمي في الطلاق ١١ (٢٣٢٥) (تحفة الأشراف : ١٨١٥٤ و ١٨٢٠٦) وأخرجه صحيح البخاري في الطلاق ٣٩ (٥٣١٨) . صحيح مسلم في الطلاق . سنن النسائي في الطلاق ٥٦ (٣٥٣٩، ٣٥٤٠، ٣٥٤١، ٣٥٤٢، ٣٥٤٥، ٣٥٤٦، ٣٥٤٧) . مسند احمد (٦ في ٣١٢، ٣١٩).

نو هغي اوونيل دسبيعه اسلمي دوفات نه پس لږي ورځي پس ولادت اوشو او هغي درسول الله نه دمسئلي تپوس اوکړو نو رسول الله ورته دنکاح کولو اجازت ورکړو
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

****************

## ١٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي عِدَّةِ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا

### دكومي ښځي خاوند چي وفات شي عدت تيرول وربا ندي لازم دي

١١٩٥ـ حَدَّثَنَا الأَنْصَارِيُّ، حَدَّثَنَا مَعْنُ بْنُ عِيسَى، أَنْبَأَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ حُمَيْدِ بْنِ نَافِعٍ، عَنْ زَيْنَبَ بِنْتِ أَبِي سَلَمَةَ، أَنَّهَا أَخْبَرَتْهُ بِهَذِهِ الأَحَادِيثِ الثَّلاَثَةِ، قَالَتْ زَيْنَبُ: دَخَلْتُ عَلَى أُمِّ حَبِيبَةَ زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، حِينَ تُوُفِّيَ أَبُوهَا أَبُو سُفْيَانَ بْنُ حَرْبٍ، فَدَعَتْ بِطِيبٍ فِيهِ صُفْرَةٌ خَلُوقٌ، أَوْ غَيْرُهُ، فَدَهَنَتْ بِهِ جَارِيَةً، ثُمَّ مَسَّتْ بِعَارِضَيْهَا، ثُمَّ قَالَتْ: وَاللهِ مَا لِي بِالطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ، غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "لاَ يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ، أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلاَثَةِ أَيَّامٍ إِلاَّ عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا".[1]

**ترجمه**: دحميد بن نافع نه روايت دي چي زينب بنت ابوسلمه دهغه دري احاديثو باره كي اوونيل حميد وائي چي زينب اوفرمائيل چي زه دام حبيبه دپلار ابوسفيان په مرګ كي دهغوئ په خدمت كي حاضرشوم نو ام حبيبه خوشبويي راوغوښتله په كومه كي چي دخلوق خوشبويئ زيروالي وو او كه بل څه پكي وو هغوئ په يوي جينئ خوشبويي اولګوله او بيا يي پخپلو انګو راښكله او بيا يي اوونيل په الله قسم زما خوشبوته ضرورت نشته ليكن ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي دكومي ښځي په الله او دقيامت په ورځ ايمان وي دهغي دپاره دا جائز نه دي چي په يو مړي باندي د دريو ورځو نه زيات غم او ماتم اوكړي صرف په خاوند باندي به څلورمياشتي او لس ورځي غم كوي.

### د زنب بنت ابو سلمه رضي الله عنها حالات:

---

[1] ـ البخاري في الجنائز ٣٠ (١٢٨١)، والطلاق ٤٦ (٥٣٣٤)، و٤٧ (٥٣٣٩)، و٥٠ (٥٣٤٥)، صحيح مسلم في الطلاق ٩ (١٤٨٦)، سنن ابي داود في الطلاق ٤٣ (٢٢٩٩)، سنن النسائي في الطلاق ٥٥ (٣٥٣٠، ٣٥٣٢) و٦٣ (٣٥٦٣)، سنن ابن ماجه في الطلاق ٣٤ (٢٠٨٤)، موطا امام مالک في الطلاق ٣٥ (١٠١) مسند احمد (٦ في ٣٢٥، ٣٢٦)، سنن الدارمي في الطلاق ١٢ (٢٣٣٠) (تحفة الأشراف: ١٥٨٧٤)

نوم زينب قبيله بني مخذوم دام سلمه رضي الله عنها دخيتي نه پيدا شوي ده او اسماء بنت ابي بكر رضي الله عنها ورته تى وركړى وو ددي نوم بره وو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورباندي زينب نوم كيخودو په څلورم هجري كال كي ابو سلمه وفات شو او دام سلمه رضي الله عنها نكاح درسول الله صلي الله عليه وسلم سره اوشوه او پدغه وخت كي زينب د تي ماشومه وه دخپلي مور سره درسول الله صلي الله عليه وسلم سره پرورش ته راغله رسول الله صلي الله عليه وسلم به دغسل نه پس دخپلي خولي مباركي اوبه په دي باندي راښكلي دمحبت په وجه ليكن ددي دبركت اثردا وو چي دبوډاوالي پوري يي مخ تر اوتازه وو نكاح يي دعبدالله بن زمعه رضي الله عنها سره اوشوه او دوه ماشومان يي هم پيدا شول او دواړه په ۶۳ هجري كي په جنګ حره كي شهيدان شول او عبدالله بن عمر رضي الله عنه ورباندي جنازه اوكړه يو څو روايات ورنه مروي دي.

****************

١١٩٦ـ قَالَتْ قَالَتْ زَيْنَبُ: فَدَخَلْتُ عَلَى زَيْنَبَ بِنْتِ جَحْشٍ، حِينَ تُوُفِّيَ أَخُوهَا. فَدَعَتْ بِطِيبٍ فَمَسَّتْ مِنْهُ. ثُمَّ قَالَتْ: وَاللَّهِ مَا لِي فِي الطِّيبِ مِنْ حَاجَةٍ غَيْرَ أَنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَحِلُّ لِامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، أَنْ تُحِدَّ عَلَى مَيِّتٍ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ إِلَّا عَلَى زَوْجٍ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا".([1])

**ترجمه** : زينب بنت ابي سلمه وائي چي زينب بنت جحش په مرګ كي ز هغوئ ته ورغلم او هغوئ خوشبويي راوغوښتله او وئيل يي په الله قسم زما خوشبوته ضرورت نشته ليكن ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي فرمائيل يي چي دكومي ښځي په الله او دقيامت په ورځ ايمان وي دهغي دپاره دا جائز نه دي چي په يو مړي باندي د دريو ورځو نه زيات غم او ماتم اوكړي صرف په خاوند باندي به څلورمياشتي او لس ورځي غم كوي.

## دزينب بنت جحش رضي الله عنها حالات

نوم زينب كنيه ام الحكم په قريشو كي يي دبني اسد قبيلي سره تعلق وو دپلار نوم يي جحش بن رباب وو او دمور نوم يي اميمه وه دا درسول الله صلي الله عليه وسلم حقيقي دترور لور وه

---

[1] ـ البخاري في الجنائز ٣٠ (١٢٨١) . والطلاق ٤٦ (٥٣٣٤) . و٤٧ (٥٣٣٩) . و ٥٠ (٥٣٤٥) . صحيح مسلم في الطلاق ٩ (١٤٨٦) . سنن ابي داود في الطلاق ٤٣ (٢٢٩٩) . سنن النسائي في الطلاق ٥٥ (٣٥٣٠، ٣٥٣٢) و٦٣ (٣٥٦٣) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٣٤ (٢٠٨٤) . موطا امام مالك في الطلاق ٣٥ (١٠١) مسند احمد (٦ في ٣٢٥، ٣٢٦) . سنن الدارمي في الطلاق ١٢ (٢٣٣٠) (تحفة الأشراف : ١٥٨٧٤)

ددي داسلام په باره کي صاحب د اسد الغابه ليکلي دي کانت قديمة الاسلام يعني په اسلام راوړو کي مخکښي وه (اسد الغابه).

ددي مخکښي نکاح دزيد بن حارثه رضي الله عنه سره شوي وه څوک چي درسول الله صلي الله عليه وسلم ازاد کړی غلام او متبني وو، بيايي ددينه پس درسول الله صلي الله عليه وسلم سره نکاح اوشوه درسول الله ورسره ډير زيات محبت وو همدا وجه ده چي ام المومنين عائشه رضي الله عنها فرمائي : هي التي كانت تساوين من هن في المنزلة عند رسول الله صلي الله عليه وسلم.

يعني درسول الله صلي الله عليه وسلم په نظر کي دعزت او مرتبي په لحاظ سره هغي زما سره مقابله کوله چي ډيره عبادت گذاره اود بهترينو اخلاقو مالکه وه ام سلمه رضي الله عنها فرمائي كانت زينب صالحة صوامة قوامة (زرقاني) يعني زينب يوه نيکه روژه داره او مونځ گذاره ښځه وه.

وفات: دهجرت په شلم کال د دري پنځوس کالو په عمر کي وفات شوه چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يي دنکاح په وخت کي عمر ۳۸ کلونه وو ليکن علامه واقعي ۳۵ کلونه ليکلي دي ليکن داکثرو په نزد اولنى قول راجح دى.

****************

۱۱۹۷_ قَالَتْ قَالَتْ زَيْنَبُ، وَسَمِعْتُ أُمِّي أُمَّ سَلَمَةَ، تَقُولُ: جَاءَتِ امْرَأَةٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ ابْنَتِي تُوُفِّيَ عَنْهَا زَوْجُهَا، وَقَدِ اشْتَكَتْ عَيْنَيْهَا أَفَنَكْحَلُهَا. فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا" مَرَّتَيْنِ، أَوْ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ، كُلُّ ذَلِكَ يَقُولُ: "لَا". ثُمَّ قَالَ: "إِنَّمَا هِيَ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، وَقَدْ كَانَتْ إِحْدَاكُنَّ فِي الْجَاهِلِيَّةِ تَرْمِي بِالْبَعْرَةِ عَلَى رَأْسِ الْحَوْلِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ فُرَيْعَةَ بِنْتِ مَالِكٍ أُخْتِ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، وَحَفْصَةَ بِنْتِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْنَبَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا، تَتَّقِي فِي عِدَّتِهَا الطِّيبَ، وَالزِّينَةَ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

---

1 _ البخاري في الجنائز ۳۰ (۱۲۸۱) . والطلاق ۴۶ (۵۳۳۴) . و۴۷ (۵۳۳۹) . و ۵۰ (۵۳۴۵) . صحيح مسلم في الطلاق ۹ (۱۴۸۶) . سنن ابی داود في الطلاق ۴۳ (۲۲۹۹) . سنن النسائي في الطلاق ۵۵ (۳۵۳۰، ۳۵۳۲) و ۶۳ (۳۵۶۳) . سنن ابن ماجه في الطلاق ۳۴ (۲۰۸۴) . موطا امام مالک في الطلاق ۳۵ (۱۰۱) مسند احمد (۶ في ۳۲۵، ۳۲۶) . سنن الدارمي في الطلاق ۱۳ (۲۳۳۰) (تحفة الأشراف : ۱۵۸۷۴)

**ترجمه** : زينب وائي ما دخپلي مور ام سلمه رضي الله عنها نه اوريدلي دي چي يوه ښځه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوه او عرض يي اوکړو اي دالله رسوله زما دلور خاوند مړ شوي دي او دهغي سترګي خوږيږي ايا دا رانجه لګولي شي رسول الله صلي الله عليه وسلم وفرمائيل نه دوه يا دري پيري دي ښځي پوښتنه وکړله او رسول الله به هرځل اوفرمائيل نه، او بيا يي په څلورم ځل اوفرمائيل دا څلورمياشتي او لس ورځي دي مګر دجاهليت په زمانه کي تاسو دکال تيريدو نه پس داوښانو پچي غورځولي، په دي باب کي دفريعه بنت مالك بن سنان (دابوسعيد خدري خور) او دحفصه بنت عمر رضي الله عنهم نه هم روايت وارد دي امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دنورو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي چي دکومي ښځي خاوند وفات شي دا به دخوشبو لګولو او ډول سينګار نه پرهيز کوي دسفيان ثوري، امام مالك، امام شافعي، او اسحاق رحمهم الله هم دا قول دي.

*****************

## ١٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ

### ظهار کونکي چي دکفاري اداء کولو نه مخکي صحبت اوکړي نو څه حکم دي

١١٩٨ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَعِيدٍ الْأَشَجُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ إِدْرِيسَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ، عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ صَخْرٍ الْبَيَاضِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْمُظَاهِرِ يُوَاقِعُ قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ، قَالَ: "كَفَّارَةٌ وَاحِدَةٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ، وَمَالِكٍ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُهُمْ: إِذَا وَاقَعَهَا قَبْلَ أَنْ يُكَفِّرَ، فَعَلَيْهِ كَفَّارَتَانِ وَهُوَ قَوْلُ: عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ مَهْدِيٍّ.[1]

**ترجمه** : دسلمه بن صخر بياضي نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي دظهار دکفاري اداء کولو نه مخکي صحبت اوکړي په هغه باندي صرف يوه کفاره ده.

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ١٧ (٢٢١٣) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٥ (٢٠٦٢) . (تحفة الأشراف : ٤٥٥٥) . مسند احمد (٥ في ٤٣٦) . سنن الدارمي في الطلاق ٩ (٢٢١٩)

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي او داكثرو اهل علمو په دي باندي عمل دي سفيان ثوري، مالك، شافعي، احمد او اسحاق رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي. او دبعضي اهل علمو په نزد په داسي كس باندي دوه كفاري اداء كول واجب دي.

****************

١١٩٩ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا الفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ مَعْمَرٍ، عَنِ الحَكَمِ بْنِ أَبَانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَدْ ظَاهَرَ مِنَ امْرَأَتِهِ فَوَقَعَ عَلَيْهَا، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنِّي قَدْ ظَاهَرْتُ مِنْ زَوْجَتِي فَوَقَعْتُ عَلَيْهَا، قَبْلَ أَنْ أُكَفِّرَ. فَقَالَ: " وَمَا حَمَلَكَ عَلَى ذَلِكَ يَرْحَمُكَ اللهُ "، قَالَ: رَأَيْتُ خَلْخَالَهَا فِي ضَوْءِ القَمَرِ، قَالَ: " فَلَا تَقْرَبْهَا حَتَّى تَفْعَلَ مَا أَمَرَكَ اللهُ بِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه**: دابن عباس رضي الله عنهمانه مروي دي چي يو كس دخپلي ښځي سره دظهار كولو نه پس صحبت اوكړو او بيا دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله ما دخپلي ښځي سره ظهار كړي دي او دكفاري اداء كولو نه مي مخكي صحبت اوكړو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله دي په تاباندي رحم اوكړي ته دي كار ته څه څيز مجبوره كړي يي ، رسول الله اوفرمائيل اوس دالله تعالي دحكم (كفاري اداء كولو) پوره كولو نه مخكي ديته ورتلل مه كوه، داحديث حسن صحيح غريب دي.

****************

## ٢٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ

### دظهار دكفاري بيان

١٢٠٠ـ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَنْبَأَنَا هَارُونُ بْنُ إِسْمَاعِيلَ الخَزَّازُ، أَنْبَأَنَا عَلِيُّ بْنُ المُبَارَكِ، أَنْبَأَنَا يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، أَنْبَأَنَا أَبُو سَلَمَةَ، وَمُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، أن سلمان بن صخر الأنصاري أحد بني بياضة، جعل امرأته عليه كظهر أمه، حتى يمضي رمضان، فلما مضى نصف من رمضان وقع عليها ليلا، فَأَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ. فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " أَعْتِقْ رَقَبَةً " قَالَ: لَا أَجِدُهَا، قَالَ: " فَصُمْ شَهْرَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ "، قَالَ: لَا

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ١٧(٢٢٢١، ٢٢٢٢) سنن النسائي في الطلاق ٣٣ (٣٤٨٤) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٦ (٢٠٦٥) . (تحفة الأشراف : ٦٠٣٦)

أَسْتَطِيعُ. قَالَ: "أَطْعِمْ سِتِّينَ مِسْكِينًا". قَالَ: لَا أَجِدُ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِفَرْوَةَ بْنِ عَمْرٍو: "أَعْطِهِ ذَلِكَ الْعَرَقَ وَهُوَ مِكْتَلٌ يَأْخُذُ خَمْسَةَ عَشَرَ صَاعًا، أَوْ سِتَّةَ عَشَرَ صَاعًا، إِطْعَامَ سِتِّينَ مِسْكِينًا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ. يُقَالُ: سَلْمَانُ بْنُ صَخْرٍ، وَيُقَالُ: سَلَمَةُ بْنُ صَخْرٍ الْبَيَاضِيُّ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ، عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي كَفَّارَةِ الظِّهَارِ.[1]

**ترجمه**: دابوسلمه او محمد بن عبدالرحمن نه روايت دي چي دبنو بياضه قبيلي يو كس سلمان بن صخر انصاري خپلي ښځي ته اووئيل درمضان تيريدو پوري ته په ما باندي زما دمور دشا په شان يي رمضان چي نيم تير شو نو ده صحبت اوكړو او بيا دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شو او واقعه يي ورته بيان كړه رسول الله اوفرمائيل يو غلام ازاد كړه هغه عرض اوكړو غلام خو نشم ازادولي بيا يي ورته اوفرمائيل دوه مياشتي متواتر روژي اونيسه هغه اووئيل په ما كي ددي طاقت نشته، بيا يي ورته اووئيل شپيته مسكينانو ته خوراك وركړه هغه عرض اوكړو په ما كي ددي طاقت هم نشته رسول الله صلي الله عليه وسلم فروه بن عمرو (دزكوة متولي) ته حكم اوكړو ده ته هغه ټوكرئ وركړه په كوم كي چي شپاړس صاع مال راځي او دشپيته مسكينانو دپاره پوره كيږي داحديث حسن دي او سلمان بن صخر ته سلمه بن صخر بياضي هم وئيلي شي داهل علمو دظهار دكفاري متعلق په دي حديث باندي عمل دي.

**تشريح**: دظهار معني داده چي كوم كس خپلي ښځي ته داسي اووائي چي ته زما دپاره داسي حرامه يي لكه څنګه چي زما دمور شا ده، دجاهليت په زمانه كي بـه دا طلاق ګڼړلي كيدل او پدي باندي به دغه ښځه دخپل خاوند په حق كي دهميشه دپاره حراميدله خو شريعت ظهار لره د دائمي حرمت موجب ونه ګرځولو بلكه ديوخاص وخت پوري يي دا ښځه حرامه كړه دكفاري ادا كولو نه پس دظهار والا ښځه حرامه نه پاتي كيږي بلكه دخاوند دپاره حلاليږي.

ظهار دظهر نه مشتق دي (او ظهر په معني د شا دي)

احنافو فقهاؤ پدي كي هر هغه حصه شامله كړي ده دكومي چي بربنډول حرام دي مثلا ورون، شرمګاه وغيره دظهر په حكم كي شامل دي.

او دامام شافعي په نزد خو دخپلي ښځي دبدن دكومي حصي تشبيه دمور دبدن دكومي حصي سره وركول هم دي كوم چي واجب الستر نه وي او كتل ورته دهميشه دپاره جائز وي لكه لاس، سترګي وغيره دظهار په حكم كي داخل دي، او هغدا رنګي ښځي سره دنياګانو سره يادلور

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ١٧ (٢٢٢١، ٢٢٢٢) سنن النسائي في الطلاق ٣٣ (٣٤٨٦). سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٦ (٢٠٦٥). (تحفة الأشراف: ٦٠٣٦)

سره يادترورياتو سره يا دداسي ښځي سره تشبيه ورکول چي نکاح ورسره دهميشه دپاره حرام وي موجب دظهار دي، دامام شافعي په نزد که چري څوك دخپلي ښځي تشبيه دخپلي پيء ورکونکي مور سره يادپلاردښځي سره تشبيه ورکړي نو ظهار به نافذ نه وي ځکه چي دا حرمت عارضي دي ځکه چي دپيء ورکونکي مور ياد پلار دزوجي په وجه پيدا شوي دي، ليکن دامام ابو حنيفه په نزد دداسي ښځو سره تشبيه ورکول هم موجب دظهار دي ځکه چي ددي ښځو سره دهميشه دپاره نکاح حرام ده.

همدا رنګي که چري دخپلي ښځي دکومي غيري معيني حصي يادداسي اندام تشبيه ورکړي کومه چي دکل بدن قائم مقام وي نو بيابه هم دظهار حکم جاري وي مثلا داسي يي اووئيل زما دپاره ستا سر يا شرمګاه يا ستا مخ يا ستا غړئ يا بدن يا ستا جسم يا ستا روح او نفس يا ستا نيم بدن يا ستا دبدن دريمه حصه زما دپاره داسي ده لکه زما دمور شا ځکه چي پدي الفاظو کي داسي دي چي ددي په وئيلو سره پوره شخصيت مراد کيدي شي يا داسي اجزاء دبدن ذکر کړي کوم چي غير معين وي نو پدي صورت کي به حکم تمام بدن ته متعدي کيږي مګر که داسي يي اووئيل چي ستا لاس يا ستا خپه زما دپاره زما دمور دشا پشان ده نو ظهار به نه واقع کيږي ، دامام شافعي ظاهر قول ددي په خلاف دي.

**مسئله**: که چا دښځي تشبيه دمور دشا سره ديوي معيني مودي پوري ورکړي وي او داسي يي وئيلي وي چي ديوي مياشتي پوري ته زما دپاره زما دمور دشا پشان يي.

نو دامام شافعي په نزد په يو روايت کي ظهار نه واقع کيږي بلکه کلام به يي لغوه ګڼلي شي ليکن دامام شافعي په بل روايت کي راغلي دي چي ظهار واقع کيږي.

دامام ابو حنيفه او احمد رحمهما الله هم دا قول دي ، ددي صورت په بنا که چري دمعيني مودي پوري يي په يوه مياشت کي دننه دجماع کولو اراده اوکړه نو کفاره ادا کول به ورباندي لازم وي او که معينه موده همداسي تيره شوه او ښځي ته يي قربت اونکړو نو کفاره به ورباندي لازمه نه وي

دکفاري دلزوم په صورت کي دامام احمد په نزد دقربت نه مخکي کفاره ادا کول ضروري دي يعني اول دي کفاره ورکړي او بيادي قربت اوکړي او که داسي اونکړي نو ګنهګار به وو او کفاره به ورباندي دوباره بيا هم لازمه وي.

او دامام ابو حنيفه په نزد خو ګنهګار دي مګر دکفاري اعاده ورباندي نشته مګر په دويم ځل په مقرره موده کي دننه يي دقربت اراده اوکړه نو کفاره ورکول به ورباندي لازم وي او که دغه معينه موده همداسي تيره شوه نو ښځه به دده دپاره بغير دکفاري ادا کولو نه حلاله وي او که چري په معينه موده کي دننه يي بائن طلاق ورکړل نو دکفاري لزوم باقي نه پاتي کيږي.

دامام مالك په نزد د دائمي ظهار حكم لري په يو روايت كي ددي قول نسبت إمام شافعي رحمت الله عليه ته هم شوي دي.

**مسئله** كه چري ظهار يي دكوم شرط سره مشروط كړو او بيايي بائن طلاق وركړو او دطلاق وركولو نه پس شرط واقع شو (نو طلاق به واقع كيږي) او دظهار حكم به نه وي (كذا قال ابن الهمام).

**مسئله**: دامام ابو حنيفه په نزد ظهار دنكاح په شرط صحيح دي مثلا چا كومي اجنبيه ښځي ته اوونيل كه چري ما ستاسره نكاح اوكړه نو ته دي زما دپاره داسي يي لكه زما دمور شا نو چي بيا ورسره نكاح اوكړي نو دظهار كفاره به لازميږي، اوكه چري كومي ښځي ته يي اوونيل ته زما دپاره په رجب او رمضان كي داسي يي لكه زما دمور شا او بيايي په رجب كي كفاره وركړه نو كافي به وي (په رمضان كي دوباره كفارې ادا كولو ته ضرورت نشته).

**مسئله**: كه چا ظهار اوكړو او بيا ليوني شو او څه وخت پس يي ليوتوب ختم شو نو ددينه پس به دظهار حكم باقي وي، افاقه دجنون په وجه خپل اصلي حالت ته نه واپس كيږي خوچي ترڅو يي قربت نه وي كړي ليكن دامام شافعي يو قول ددي په خلاف دي.

*****************

## ٢١ـ باب مَا جَاءَ فِي الإِيلَاءِ

### دايلاء بيان

١٢٠١ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ قَزَعَةَ البَصْرِيُّ، أَنْبَأَنَا مَسْلَمَةُ بْنُ عَلْقَمَةَ، أَنْبَأَنَا دَاوُدُ بْنُ عَلِيٍّ، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: "آلَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ نِسَائِهِ وَحَرَّمَ. فَجَعَلَ الحَرَامَ حَلَالًا، وَجَعَلَ فِي اليَمِينِ كَفَّارَةً". قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَأَبِي مُوسَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مَسْلَمَةَ بْنِ عَلْقَمَةَ، عَنْ دَاوُدَ، رَوَاهُ عَلِيُّ بْنُ مُسْهِرٍ، وَغَيْرُهُ، عَنْ دَاوُدَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرْسَلًا وَلَيْسَ فِيهِ، عَنْ مَسْرُوقٍ، عَنْ عَائِشَةَ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مَسْلَمَةَ بْنِ عَلْقَمَةَ، وَالإِيلَاءُ: هُوَ أَنْ يَحْلِفَ الرَّجُلُ أَنْ لَا يَقْرَبَ امْرَأَتَهُ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ فَأَكْثَرَ، وَاخْتَلَفَ أَهْلُ العِلْمِ فِيهِ إِذَا مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: إِذَا مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ يُوقَفُ فَإِمَّا أَنْ يَفِيءَ، وَإِمَّا أَنْ يُطَلِّقَ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ،

وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: إِذَا مَضَتْ أَرْبَعَةُ أَشْهُرٍ فَهِيَ تَطْلِيقَةٌ بَائِنَةٌ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دخپلو بيبيانو سره ايلاء اوكړو او هغوئ يي پخپل ځان باندي حرامي كړي او بيا يي دخپل قسم كفاره اداء كړه او چي كوم څيز يي په ځان باندي حرام كړي وو هغه يي حلال كړو، په دي باب كي دابوموسي او انس رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي دا حديث مسلمه مسند بيان كړي دي او علي بن مسحر وغيره مرسل بيان كړي دي يعني هغوئ په سند كي دمسروق او عائشي ذكر نه دي كړي بلكه شعبي وائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ايلاء كړي ده او مرسل روايت دامام ترمذي په نزد اصح دي، او ايلاء ديته وائي چي يو سړي قسم اوكړي چي دي به دخپلي ښځي سره څلور مياشتي ددينه زيات صحبت نه كوي دعلماؤ په دي كي اختلاف دي چي كله څلور مياشتي تيري شي نو په صحابه كرامو كي بعضي اهل علم وائي قاضي به ددي ښځي خاوند لره راغواړي ياخوبه ښځه ځان ته واپس كوي او يا به طلاق وركوي امام مالك او شافعي او احمد او اسحاق رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي بعضي صحابه كرام او اهل علم وائي كله چي څلور مياشتي تيري شي نو په دي ښځه به يو بائن طلاق واقع شي او دا دسفيان ثوري او اهل كوفه قول دي.

**تشريح** : قتاده وئيلي دي چي ايلاء داهل جاهليت طلاق وو، سعيد بن المسيب فرمائي چي ايلاء دجاهليت په زمانه دضرر وركولو دپاره وو، چي كله به چا دخپلي ښځي سره جماع كول نه غوښتل اونه به ئي داخوښوله چي دبل چاسره نكاح وكړي نودا قسم به ئي وكړوچي زه به ورته هيڅكله ورنزدي نشم اودابه ئي پدي شان سره ساتله چي نه به ئي دابښځه وه اونه به ئي هغه خاوند وو، داسلام په ابتداء كي ټول خلق ددي پابندوو ليكن بيا په اسلام كي ددي دپاره وخت مقررشو.

:آلي يولي ايلاءً قسم خوړل اوپه شريعت كي ايلاء وائي.دڅلورو مياشتو يا ددې نه د زياتې مودې پورې خپلې منكوحې سره د جماع نه كولوقسم خوړل. ونيل دى.اوددې حكم په موده دايلاء كي ښځې ته په نزديكت باندې د كفارې لزوم اود ايلاء د مودې تيريدو په صورت كي طلاق بائن واقع كيدل دى.

*****************

## ٢٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي اللِّعَانِ

1 _ سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٨ (٢٠٨٢) (تحفة الأشراف: ١٦٢١٤)

## دلعان بيان

١٢٠٢ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي سُلَيْمَانَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، قَالَ: سُئِلْتُ عَنِ الْمُتَلَاعِنَيْنِ فِي إِمَارَةِ مُصْعَبِ بْنِ الزُّبَيْرِ، أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا ؟ فَمَا دَرَيْتُ مَا أَقُولُ: فَقُمْتُ مَكَانِي إِلَى مَنْزِلِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، اسْتَأْذَنْتُ عَلَيْهِ فَقِيلَ لِي: إِنَّهُ قَائِلٌ: فَسَمِعَ كَلَامِي، فَقَالَ ابْنُ جُبَيْرٍ: ادْخُلْ مَا جَاءَ بِكَ إِلَّا حَاجَةٌ، قَالَ: فَدَخَلْتُ فَإِذَا هُوَ مُفْتَرِشٌ بَرْذَعَةَ رَحْلٍ لَهُ. فَقُلْتُ: يَا أَبَا عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمُتَلَاعِنَانِ، أَيُفَرَّقُ بَيْنَهُمَا ؟. فَقَالَ: سُبْحَانَ اللهِ، نَعَمْ إِنَّ أَوَّلَ مَنْ سَأَلَ عَنْ ذَلِكَ فُلَانُ بْنُ فُلَانٍ، أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ أَحَدَنَا رَأَى امْرَأَتَهُ عَلَى فَاحِشَةٍ، كَيْفَ يَصْنَعُ إِنْ تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ بِأَمْرٍ عَظِيمٍ. وَإِنْ سَكَتَ سَكَتَ عَلَى أَمْرٍ عَظِيمٍ. قَالَ: فَسَكَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمْ يُجِبْهُ، فَلَمَّا كَانَ بَعْدَ ذَلِكَ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: إِنَّ الَّذِي سَأَلْتُكَ عَنْهُ قَدِ ابْتُلِيتُ بِهِ. فَأَنْزَلَ اللهُ هَذِهِ الْآيَاتِ، الَّتِي فِي سُورَةِ النُّورِ: وَالَّذِينَ يَرْمُونَ أَزْوَاجَهُمْ وَلَمْ يَكُنْ لَهُمْ شُهَدَاءُ إِلا أَنْفُسُهُمْ (النور : ٦) . حَتَّى خَتَمَ الْآيَاتِ فَدَعَا الرَّجُلَ، فَتَلَا الْآيَاتِ عَلَيْهِ، وَوَعَظَهُ، وَذَكَّرَهُ وَأَخْبَرَهُ، أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ. فَقَالَ: لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا كَذَبْتُ عَلَيْهَا، ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ فَوَعَظَهَا وَذَكَّرَهَا، وَأَخْبَرَهَا، أَنَّ عَذَابَ الدُّنْيَا أَهْوَنُ مِنْ عَذَابِ الْآخِرَةِ، فَقَالَتْ: لَا وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا صَدَقَ، قَالَ: فَبَدَأَ بِالرَّجُلِ فَشَهِدَ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ: بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الصَّادِقِينَ، وَالْخَامِسَةُ أَنَّ لَعْنَةَ اللهِ عَلَيْهِ إِنْ كَانَ مِنَ الْكَاذِبِينَ، ثُمَّ ثَنَّى بِالْمَرْأَةِ فَشَهِدَتْ أَرْبَعَ شَهَادَاتٍ: بِاللهِ إِنَّهُ لَمِنَ الْكَاذِبِينَ، وَالْخَامِسَةُ أَنَّ غَضَبَ اللهِ عَلَيْهَا، إِنْ كَانَ مِنَ الصَّادِقِينَ ثُمَّ فَرَّقَ بَيْنَهُمَا. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَحُذَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

[1] ـ مسلم في اللعان ١ (١٤٩٣) . سنن النسائي في الطلاق ٤١ (٣٥٠٣) . (تحفة الأشراف : ٧٠٥٨) . مسند احمد (٢ في ١٢) . سنن الدارمي في النكاح ٣٩ (٢٢٤٥) وأخرجه صحيح البخاري في الطلاق ٢٧ (٥٣٠٦) . و٣٢ (٥٣١١) . و٣٣ (٥٣١٢) . و٣٣ (٥٣١٣ . ٥٣١٤) . و٣٥ (٥٣١٥) . و ٥٢ (٥٣٤٩) . و٥٣ (٥٣٥٠) . والفرائض ١٧ (٦٧٤٨) . صحيح مسلم في اللعان . سنن ابي داود في الطلاق ٢٧ (٢٢٥٧ . ٢٢٥٨ . ٢٢٥٩) . سنن النسائي في الطلاق ٣٢ (٣٥٠٢) . و٣٣ (٣٥٠٥) . و٣٣ (٣٥٠٥) . و٣٤ (٣٥٠٦) . و ٣٥ (٣٥٠٧) . سنن ابن ماجه في الطلاق ٢٧ (٢٠٦٦) . موطا امام مالک في الطلاق ١٣ (٣٥)

**ترجمه** دسعيد بن جبير نه روايت دي چي دمصعب بن زبير دامارت په زمانه كي زما نه د لعان كونكي ښځي او خاوند باره كي تپوس اوكړي شو چي ايا ددوئ دواړو په مينځ كي به جدائي واقع كولي شي او كنه زه نه پوهيږم چي په جواب كي څه اووايم نو زه پاڅيدم او عبدالله بن عمر طرف ته روان شوم هلته چي اورسيدم نو اجازت مي اوغوښتلو په جواب كي راته اووئيلي شول ابن عمر اوس قيلوله (دغرمي ارام) كوي نو ابن عمر دي وخت كي زما خبري واوريدي او ويي فرمائيل اي ابن جبير راشه ته به ضرور دڅه كار دپاره راغلي يي ابن جبير وائي چي زه دننه ورداخل شوم هغه په اوښ باندي دخورولو څادر دارام كولو دپاره خان ته غوړولي وو او په هغي پروت وو ما اووئيل اي ابو عبدالرحمن ايا د دوه لعان كونكو مينځ كي به تفريق كولي شي ابن عمر اووئيل سبحان الله هو، دټولو نه اول فلاني او فلاني ددي مسئلي تپوس كړي وو او درسول الله په خدمت كي حاضر شوي وو او عرض يي كړي وو اي دالله رسوله كه چري په موږ كي يو كس خپله ښځه په زنا كولو اووينو نو څه به كوو نو كه څه وائي نو هم ډيره لويه خبره ده او كه خاموش پاتي كيږي نو په داسي معامله خاموش پاتي كيدل هم ډير مشكل دي، ابن عمر اوفرمائيل نبي كريم صلي الله عليه وسلم خاموش پاتي شو او سوال كونكي ته يي هيڅ جواب ورنكړو هغه څه موده پس بيا حاضر شو او عرض يي اوكړو اي دالله رسوله دكوم څيز باره كي مي چي ستا نه سوال كړي وو په هم دي كي مبتلا شوي يم نو دي وخت كي دسورة النور ايتونه "والذين يرمون ازواجهم ولم يكن لهم شهداء الا انفسهم" نازل شو نو رسول الله دا سړي راوغوښتلو او دده په وړاندي يي دا ايتونه اولوستل او ده ته يي نصيحت اوكړو او ورته يي اوفرمائيل ددنيا تكليف داخرت دعذاب په مقابل كي هيڅ نه دي هغه عرض اوكړو اي دالله رسوله زما دي په هغه ذات قسم وي چاچي ته دحق سره راليږلي يي ما په دي باندي تهمت نه دي لګولي بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم همدا ايتونه دښځي په وړاندي اولوستل او هغه يي هم په دي شان سره پوهه كړله چي ددنيا عذاب داخرت په مقابل كي ډير اسان دي هغه عرض اوكړو هيڅ كله نه اي دالله رسوله زما دي په هغه ذات قسم وي چاچي ته په حق سره درسول په صفت راليږلي يي دا كس رښتوني نه دي راوي وائي چي بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم دسړي نه څلور پيري دقسم سره ګواهي طلب كړه چي زه رښتوني يم او په پنځم ځل يي دا اووئيل كه چري زه دروغژن يم نو په مادي دالله لعنت وي او ښځي هم داسي څلور پيري په قسم سره ګواهي وركړه چي دا سړي دروغژن دي او په پنځم ځل يي اووئيل كه چري دي رښتوني وي نو په ما دي دالله لعنت او غضب وي او بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ددواړو په مينځ كي تفريق واقع كړو، په دي باب كي دسهل بن سعد ، ابن

عباس، حذيفه، ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او دابن عمر حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي

*******************

۱۲۰۳_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، أَنْبَأَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: لَاعَنَ رَجُلٌ امْرَأَتَهُ، وَفَرَّقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَهُمَا، وَأَلْحَقَ الْوَلَدَ بِالأُمِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

**ترجمه** : دابن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي يو كس د خپلي ښځي سره لعا ن وكړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم ددوئ مينځ كي تفريق راوستلو اود بچي يي(يعني د بچي نسب يي) په مور پوري ملحق كړو.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دي او د اهل علموورباندي عمل دى.

**تشريح** : لعان دباب مفاعلت نه دې.لغوى معنى ئې ده رټل اودرحمت نه لرې كول.اوپه شريعت كي لعان هغه څلورو شهادتونو اولعنت او غضب ته وائى.كوم چي د ښځې اوخاوند په مينځ كي جارى وى.اود مجموعي نوم لعان ددې وجې كيخودې شو.چي په دې كي لعنت مذكور دې.لكه څنګه چي مونځ په ركوع باندې مشتمل دې.ددې وجې د مونځ نوم ركوع كيخودې شو.اوپه تشهد باندې د مشتمل كيدوپه وجه د التحيات نوم تشهد كيخودې شو.نود لعان نوم كيخودل تسمية الكل باسم الجزء د قبيلة څنى دې.

كه څوك سوال وكړي چي لعان نوم ورله ولې كيخودې شو.حالانكه په دې كي خو غضب هم موجود دې.نوددې جواب دا دې.چي لعنت د سړى دطرفه وى.اوغضب د ښځې دطرفه.اوښكاره خبره ده.چي كوم څيزد سړى سره متعلق وى.هغه مقدم وى.نوځكه په نوم كيخودوكي لعنت ته ترجيح وركړې شوه.غضب ته نه.

اود لعان ركن هغه شهادت دې.چي په قسم سره مؤكد وى.اود دې په سبب د سړى په خپله ښځه باندې داسې تهمت لګول چي هغه په پردوكي موجب د حد وى.اوددې شرط قيام د نكاح دې.اوددې حكم د لعان د فارغ كيدو نه پس سمدستى د وطى اواستمتاع حرمت دې.اوزمونږ په نيزد لعان اهل هغه څوك دې.چي هغه د شهادت اهل وى.اودامام شافعي(رح) په نيزهغه څوك دې.چي هغه د يمين اهل وى.

**مسئله** : كه څوك پخپله ښځه دزنا تهمت اولګوي يا اووائي چي دا حمل زما نه نه دي او دواړه اهل دلعان هم وي او ښځه دقذف دسزا مطالبه اوكړي نو په خاوند به لعان كول واجب وي

---

1_ انظر ما قبله (تحفة الأشراف: ۸۳۲۲)

او که سړي دلعان نه انکار اوکړي نو دامام ابو حنيفه قول دی چې حاکم دې دی لره دهغه وخته پورې په قيد کې اوساتي چې ترڅو يې لعان نه وي کړي او يايي دخپل دروغژن توب اقرار نه وي کړي که چرې دخپل ځان د دروغژن توب اقرار اوکړي نو حد دقذف به وربانديې جاري کيږي.

دامام مالك او امام شافعي او امام احمدرحمهم الله په نزد په مذکوره صورت کې قيد کول نشته بلکه چې ښځه يې د لعان نه انکار اوکړو نو پده به حد دقذف جاري کيږي ځکه چې قذف دشرعي حد داجرا تقاضا کوي او دلعان صورت خو دخاوند دربښتوني توب ظاهرولو دپاره قائم کړې شوي دی نو کله چې قاذف پخپله دخپل صداقت ظاهرولو نه قاصر شي نو فورا دحد جاري کيدو مستحق ګرځي او دقيد مستحق نه ګرځي.

دامام شافعي په نزد دلعان نه په انکار کولو سړه فاسق کيږي او دامام مالك په نزد صرف په انکار کولو سره نه فاسق کيږي.

دامام ابو حنيفه دقول دليل دادې چې دلعان نه انکار کول دخپل دروغژن توب اقرار کول دی ليکن پدې کې هيڅ شبهه نشته (ځکه چې ده صراحتا دکذب اقرار نه دی کړي) اودشبهې په صورت کې به حد نشي جاري کولې او مجبورا به دې په قيد کې ساتلې شي تردې چې يا خو لعان ته تيار شي او يا لعان اوکړي او ياصراحتا دخپل دروغژن کيدو اقرار اوکړي تردې چې حد دقذف وربانديې جاري کړې شي که چرې خاوند لعان وکړي نو په ښځه باندې هم لعان کول واجب کيږي او که انکار اوکړي نو حاکم به يې په قيد کې ساتي او تردومره مودې به په قيد کې وي ترڅو لعان کولو ته تياره شوي نه وي او يادا چې دزنا اقرار اوکړي او دخاوند تصديق اوکړي . دامام شافعي په نزد که چرې سړي لعان اوکړو نو په سړي او ښځه دواړو کې به جدائي راوستلې شي او دا به په ده باندې دهميشه دپاره حرامه وي او دبچي نسبت به هم ده ته نه کيږي ځکه چې ارشاد نبوي دی دوه لعان کونکي هيڅ کله نشي جمع کيدې موږ وايو لعان دهغه وخته پورې نه متحقق کيږي چې ترڅو ښځې هم لعان نه وي کړي (ځکه چې لعان دباب مفاعلي نه دی اوددواړو دشرکت نه بغير دمفاعلي مصدر نه متحقق کيږي نو پدې وجه صرف دخاوند په لعان کولو سره په دوئ کې دتفريق حکم نشي کيدې ترڅو چې دواړو لعان نه وي کړي.

****************

## ۲۳_ بَاب مَا جَاءَ أَيْنَ تَعْتَدُّ الْمُتَوَفَّى عَنْهَا زَوْجُهَا

**دخاوند دوفات نه پس به ښځه عدت چرته تيروي**

١٢٠٤ ـ حَدَّثَنَا الْأَنْصَارِيُّ، أَنْبَأَنَا مَعْنٌ، أَنْبَأَنَا مَالِكٌ، عَنْ سَعْدِ بْنِ إِسْحَاقَ بْنِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، عَنْ عَمَّتِهِ زَيْنَبَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ، أَنَّ الْفُرَيْعَةَ بِنْتَ مَالِكِ بْنِ سِنَانٍ، وَهِيَ أُخْتُ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، أَخْبَرَتْهَا، أَنَّهَا جَاءَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَسْأَلُهُ، أَنْ تَرْجِعَ إِلَى أَهْلِهَا فِي بَنِي خُدْرَةَ، وَأَنَّ زَوْجَهَا خَرَجَ فِي طَلَبِ أَعْبُدٍ لَهُ، أَبَقُوا حَتَّى إِذَا كَانَ بِطَرَفِ الْقَدُومِ، لَحِقَهُمْ فَقَتَلُوهُ. قَالَتْ: فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْ أَرْجِعَ إِلَى أَهْلِي فَإِنَّ زَوْجِي لَمْ يَتْرُكْ لِي مَسْكَنًا يَمْلِكُهُ، وَلَا نَفَقَةً. قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَعَمْ". قَالَتْ: فَانْصَرَفْتُ حَتَّى إِذَا كُنْتُ فِي الْحُجْرَةِ، أَوْ فِي الْمَسْجِدِ نَادَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَوْ أَمَرَ بِي فَنُودِيتُ لَهُ. فَقَالَ: "كَيْفَ قُلْتِ؟" قَالَتْ: فَرَدَدْتُ عَلَيْهِ الْقِصَّةَ الَّتِي ذَكَرْتُ لَهُ مِنْ شَأْنِ زَوْجِي، قَالَ: "امْكُثِي فِي بَيْتِكِ، حَتَّى يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ". قَالَتْ: فَاعْتَدَدْتُ فِيهِ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا، قَالَتْ: فَلَمَّا كَانَ عُثْمَانُ أَرْسَلَ إِلَيَّ فَسَأَلَنِي عَنْ ذَلِكَ، فَأَخْبَرْتُهُ، فَاتَّبَعَهُ، وَقَضَى بِهِ. حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَنْبَأَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، أَنْبَأَنَا سَعْدُ بْنُ إِسْحَاقَ بْنِ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ فَذَكَرَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، لَمْ يَرَوْا لِلْمُعْتَدَّةِ أَنْ تَنْتَقِلَ مِنْ بَيْتِ زَوْجِهَا، حَتَّى تَنْقَضِيَ عِدَّتُهَا، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَعْتَدَّ حَيْثُ شَاءَتْ، وَإِنْ لَمْ تَعْتَدَّ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ.[1]

**ترجمه** : دزینب بنت کعب بن عجره نه روایت دي فرمائي چي فريعه بن مالك بن سنان چي دابوسعيد خدري خور ده ماته خبر راكړي دي فرمائيلي يي دي چي زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضره شوم او تپوس مي ورنه كولو چي زه به خپلي كورنئ ته بني خدره مقام ته لاړه شم (واقعه داسي شوي وه) ددي خاوند دخپلو غلامانو په لټولو پسي تلي وو كوم چي ورنه تختيدلي وو چي كله يي هغوئ په قدوم علاقه كي رالاندي كړل نو دي غلامانو دي مړ كړو فريعه وائي چي مادرسول الله نه تپوس اوكړو چي زه به خپلي كورنئ ته لاړه شم خكه چي زما خاوند خو نه زما دپاره داوسيدو كوم كور پريخودلي دي او نه يي څه خرچه پريخودلي ده؟ رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چنانچه زه واپس روانه شوم تردي پوري چي زه په حجره يا مسجد نبوي كي لاموجود وم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم

---

[1] ـ سنن ابي داود في الطلاق ۴۴ (۲۳۰۰) . سنن النسائي في الطلاق ۶۰ (۳۵۵۸) . سنن ابن ماجه في الطلاق ۸ (۲۰۳۱) . موطأ امام مالك في الطلاق ۳۱ (۸۷) (تحفة الأشراف : ۱۸۰۴۵) . مسند احمد (۶ في ۳۷۰) . سنن الدارمي في الطلاق ۱۴ (۲۳۳۳)

راوغوښتلم او بیا يي زما نه تپوس اوکړو تا څه وئیلي وو؟ نو ما هم هغه قصه تکرار کړه، کومه چي مي ورته دخپل خاوند باره کي کړي وه راته يي اوفرمائیل ته هم په دي خپل کور کي اوسیږه تردي پوري چي ستا عدت ختم شي چنانچه ما په همدي کورکي څلورمیاشتي او لس ورځي عدت تیر کړو، بیا چي کله عثمان رضي الله عنه خلیفه شو نو زه يي راوغوښتلم او زما نه يي په دي باره کي تپوس اوکړو نو ما ورته خپل سرگذشت بیان کړو چنانچه هغوئ ددي پیروي اوکړه او هم ددي مطابق يي فیصله اوکړه دمحمد بن بشار نه هم په دي سند باندي ددي هم معني روایت مروي دي.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي دصحابه کرامو او اهل علمو کي اکثرو په دي باندي عمل دي دوئ دعدت تیرونکي ښځي دپاره دا درست نه گڼړي چي دخاوند دکور نه بل چرته منتقل شي چي ترڅو يي عدت پوره شوي نه وي، همدا دسفیان ثوري، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهویه رحمهم الله قول هم دي صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو قول دادي که چري ښځه دخپل خاوند په کور کي عدت نه تیروي نو دیته اختیار دي چي چرته يي خوښه وي هلته دي خپل عدت تیر کړي، امام ترمذي وائي دا قول زیات صحیح دي.

****************

# كتاب البيوع عن رسول الله صلى الله عليه وسلم

## دا خستلو خرڅولو داحکامو بیان

## ١ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي تَرْكِ الشُّبُهَاتِ

### د شبهاتو پریخودلو بیان

١٢٠٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، أَنْبَأَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " الْحَلَالُ بَيِّنٌ وَالْحَرَامُ بَيِّنٌ، وَبَيْنَ ذَلِكَ أُمُورٌ مُشْتَبِهَاتٌ لَا يَدْرِي كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ، أَمِنَ الْحَلَالِ هِيَ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ، فَمَنْ تَرَكَهَا اسْتِبْرَاءً لِدِينِهِ وَعِرْضِهِ، فَقَدْ سَلِمَ، وَمَنْ وَاقَعَ شَيْئًا مِنْهَا يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَ الْحَرَامَ، كَمَا أَنَّهُ مَنْ يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يُوَاقِعَهُ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللَّهِ مَحَارِمُهُ ".

حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا بْنِ أَبِي زَائِدَةَ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ، عَنِ

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ غَيْرُ وَاحِدٍ، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ. ([1])

**ترجمه** : دنعمان بن بشير رضي الله عنه نه روايت دی چي ما اوريدلي دي د رسول الله صلي الله عليه وسلم نه چي فرمايل يي حلال هم ښکاره دي او حرام هم ښکاره دي او ددي دواړو ترمينځه څه څيزونه مشتبه دي چي ډير خلق پری نه پوهيږي نو چاچي دمشتبه څيزونو نه ځان اوساتلو هغه خپل دين او خپل عزت محفوظ کړو او څوك چي مشتبهاتو کي مبتلا شو هغه په حرامو کي مبتلا شو، لکه شپون که دساتلی شوی ورشو خوا کي مال څروي،نزدي ده چي په حرامو کي واقع شي نو يقيني به تری څه څاروي اخوا اوړي (اوجرم کي به يی راخي) خبردار دهر بادشاه څه محفوظ علاقی وي (چي هيڅوك ورننوتو ته نه پريږي) خبردار، دالله تعالي محفوظه علاقه دهغه حرام کړي کارونه دي.

په نورو سندونو هم دنعمان بن بشير نه ددي هم معني روايت مروي دي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي دا يو څو راويانو دشعبي نه او شعبي دنعمان بن بشير نه نقل کړي دي.

**لغات** مشتبهات: اشتبه يشتبه اشتباها د کوم څيز پټ او مشتبه کيدل.استبرا يستبرئ استبراء دقرض يا ګناه براءت طلب کول، عرضه، العرض ، عادت، عزت، باعث دفخر جمع يي اعراض راخي، الحمي ، چراه ګاه، په کومه کي چي دبل چا څاروي څرول ممنوع وي.يعني هرهغه څيز چي حفاظت يي شوي وي، ان يرتع. رتع يرتع رتعا ورتوعا ورتاعا في المكان . يعني اقامت کول، په پراخئ سره خوراك کول.

استبرأ يستبرئ استبراء دقرض يا ګناه نه براءت طلب کول

**تشريح** : **ددي حديث اهميت**

بعضي علماؤ دا حديث ثلث الاسلام ګڼلي دي ددوئ په نزد داسلام خلاصه په دري احاديثو کي جمع شوي ده.

اول پورتنی حديث.

دويم: انما الاعمال بالنيات.

دريم: من حسن اسلام المرء ترکه مالايعنيه.

---

[1] _ صحيح البخاری في الإيمان ۳۹ (۵۲) . والبيوع ۲ (۲۰۵۱) . صحيح مسلم في المساقاة ۲۰ (البيوع ۳۰) . (۱۵۹۹) . سنن ابی داود في البيوع ۳ (۳۳۲۹) . سنن النسائی في البيوع ۲ (۴۴۵۸) . سنن ابن ماجه في الفتن ۱۴ (۳۹۸۴) . (تحفة الأشراف : ۱۱۶۲۴) . مسند احمد (۴ في ۲۶۷ . ۲۶۹ . ۲۷۰ . ۲۷۱ . ۲۷۵) . سنن الدارمی في البيوع ۱ (۲۵۷۳)

امام ابو داود په پنځه لاکه احاديثو کي څلور منتخب کړي دي او پخپل کتاب ابو داود کي يي څلور زره اته سوه احاديث جمع کړي دي او ليکلي يي دي چي دانسان دپاره څلور احاديث هم کافي دي.

اول: انما الاعمال بالنيات.

دويم: من حسن اسلام المرء ترکه مالايعنيه.

دريم: لايکون المؤمن مؤمنا حتي يرضي لاخيه مايرضي لنفسه.

څلورم: الحلال بين والحرام بين (پورتني حديث).

ددي حديث داهميت په بنا محدثين وائي چي يو طرف ته په دي کي په خوراك کي دحلال او حرام څيزونو استعمال بيان شوی دی او ددي سره سره دمشتبهاتو پريخودو حکم هم شوی دی او دا تمامي خبري رسول الله په يو مثال کي بيان کړي دي او بيايي په اخر کي يوضروري کار چي دزړه دحالاتو مراعات کولو او نګراني ده نو په دي باره کي يي هم تاکيد فرمائيلی دی.

## حلال او حرام واضح دي

"ان الحلال بين والحرام بين وبينهما مشتبهات لايعلمهن کثير من الناس"

حلال هم واضح دي او حرام هم خو ددي په مينځ کي څه مشتبهات دي کوم چي خلقو ته معلوم نه دي" ددي جملي مطلب ابن حجر داسي ليکلی دی چي ډير څيزونه حلال دي او واضح هم دي او ډير څيزونه حرام دي او واضح هم دي ليکن ددي سره سره ډير څيزونه داسي هم شته چي مشتبهات دي اوپچ کيدل ورنه ضروري دي ځکه که چري دا في نفسه حرام وي خوبنده به ورنه خان اوساتي اوکه في نفسه مباح وي نوبيا هم څه خبره نشته په پريخودو به يي اجر اوثواب ملاويږي.

امام نووي وائي د مشتبهاتو نه مراد هغه څيزونه دي په کوم کي چي دحلت اوحرمت دلائل متعارض وي او ددي پريخودل پکار دي.

کالراعي يرعي حول الحمي يوشك ان يرتع فيه. لکه چي شپونکی دچراګاه چاپيره څاروي څروي نوډيره نژدي ده چي کوم څاروی ورته داخل شي، په سابقه زمانه کي دا رواج وو چي بادشاه او بعضي نورو لويو خلقو به دخان دپاره څه زمکه مخصوص کوله چي سبزياني به يي پکي کرلي که څاروی به ديته راغلو نو سزا به يي ورکوله اود شپونکي سمجداري داده چي خپل څاروي داسي چراګاه ته نژدي پري نږدي ديته به داخل شي ورنه په حرامو کي به واقع شي.

الاوان في الجسد مضغة، يعني خبردار په جسم کي يوه تکړه ده.

په يوبل روايت کي راځي القلب ملك وله جنود اذا صلح الملك صلحت جنوده واذا فسد الملك فسدت جنوده.

يعني دزړه مثال دانجن پشان دي دابه څنګه ډېي راکاږي نو داسي به دوئ رواني وي.

## د نعمان بن بشير رضي الله عنه حالات:

نوم نعمان كنيه ابو عبدالله او دپلار نوم يي بشير وو نعمان بلند پايه صحابي وو دده مور دعبدالله بن رواحه خور وه دهجرت نه پس په انصارو كي دټولو نه مخكي دده پيدائش شوى وو او بيا شپږمياشتي پس عبدالله بن زبير پيدا شو چي لږ هوښيار شو نو دمنبر نبوي سره به نژدي كيناستو او وعظ نصيحت به يي اوريدلو (مسند احمد).

دهجرت په ۵۹ كال كي امير معايه دكوفي حاكم مقرر كړو او بيا دحمص امير مقرر شو دده په باره كي صاحب دفحري ليكلي دي كان حليما ناسكا يحب العافية. يعني دى ډير صبرناك عابد او عافيت پسند انسان وو.

وفات: دهجرت په ۶۵ كال دحمص علاقه بيران نومي كلي كي وفات شو او پدغه وخت كي دابن زبير او مروان جنګ جاري وو په كوم كي چي ده دزبير ملګرتياكړي وه نو په دي وجه دمروان كسانو دى قتل كړو او دده سر يي كټ كړو دده ښځي دده سر پخپله غيږ كي كيخودو او پدغه وخت كي دده عمر ۶۴ كلونه وو (استيعاب).

دده دمروياتو شمير ۱۲۴ دى چي پنځه متفق عليه دي يو په بخاري كي او څلور په مسلم كي.

****************

## ٢ـ باب مَا جَاءَ فِي أَكْلِ الرِّبَا

### دسود خوړلو بيان

١٢٠٦ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا أَبُو عَوَانَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: " لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آكِلَ الرِّبَا، وَمُؤْكِلَهُ، وَشَاهِدَيْهِ وَكَاتِبَهُ ". قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه**: ابن مسعود رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په سود وركونكي او سود اخستونكي اود سود په معاملي ګواهي كونكو اود سود په ليكونكي باندي لعنت فرمائيلى دى.

---

[1] ـ سنن ابي داود في البيوع ۴ (۳۳۳۳)، سنن ابن ماجه في التجارات ۵۸ (۲۲۷۷)، (تحفة الأشراف: ۹۳۵۶)، مسند احمد (۱/ في ۳۹۳، ۴۰۲)

امام ترمذي وايي دا حديث حسن صحيح دی.او په دي باب کي دعمر اوعلي او جابر او ابو جحيفه رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي

(يعني په سود رقم ورکونکي اخستونکي ددی اقرار نامی ليکونکي او په دی گواهي ورکوونکي تولو باندی رسول الله صلي الله عليه وسلم لعنت وئيلی دی اودلعنت معني ده دالله تعالي درحمت نه محروم کيدل او څوک چي دالله تعالي درحمت نه محروم شو ، تباه شو)

**لغات** : لعن؛ يلعن لعنا دفتح نه فلانا معني په چاباندي تهمت لګول ، رسوا کول، کنځل کول، دخير نه لري کول، لعن نفسه يعني پخپل ځان باندي لعنت کول ، لاعنه لعانا يعني يو په بل باندي لعنت کول لعّنه تلعينا معني عذاب ورکول.

**تشريح** : سود په لغت کي زيادت ته ويلي شي او په شرع کي هغه مالي زيادت دي چي دمعاوضي نه بغير حاصل شي.

دسود په ګواهانو او ليکونکي باندي هم لعنت دي، خلاصه داده چي په سودي معاملاتو کي معمولي شان تعاون کول هم حرام دي اوموجب دلعنت دي، اود غضب الهي باعث دي، ددي په وجه اقتصادي نظام تباه کيږي ددي په وجه امير امير تر ګرځي او غريب غريب تر پاتي کيږي همدا وجه ده چي په قران کريم کي يي سخت مذمت راغلي دي.

فَإِن لَّمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِّنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ: که چري تاسو دسود پريخودو په حکم عمل نه کوئ نو بيا تاسو دالله اودهغه درسول دطرفه دجنګ اعلان واورئ؛

ديو سوال جواب. حکيم الامت وائي بعضي ناکاره خلق دا وائي چي دسود نه بغير نن سبا هيڅ يو کار نشي کيدی، ددي جواب دادی چي دولس سوه کالو پوري سود نه دی اخستلی شوی او دتجربي نه ثابته ده چي هغه دور ډير سکون والا دور وو په خلاف ددیارلسمي صدئ چي په دي کي مسلمانانو سود اخستل شروع کړل ددي سدئ تجربه دا وائي چي په مصيبتونو او پريشانو کي اضافه پيداشوي ده مسلمانان که اوس هم سود پريږدي نو دوباره به يي سکون او اطمينان په نصيب شي.

### دربوي لغوي معني

الربوي في اللغة الزيادة يعني ددي لغوي معني زيادت دی.

### دربوي اصطلاحي تعريف

هو القرض المشروط في الاجل وزيادة مال علي المستقرض: يعني دا هغه قرض دی کوم چي ديوي نيتي پوري په دي شرط سره ورکړی شي چي دقرض اصل مال به سره د زائد سره ادا کوي په قران او حديث کي په ډيرو مقاماتو کي ددي مذمت راغلی دی

## دسود دحرمت عقلي وجوهات

ددينه علاوه په عقلي طور سره هم په دي كي ډير نقصانات دي مثلا تمام خلق به دسرمايه دارو غلامان جوړ شي او دوئ ته به منافع ورکوي دويم دتمامو څيزونو نرخونو به دسرمايه کار لاس ته ورشي څومره قيمت چي زياتوي هغه هومره به زياتولی شي او يا به دمال خرڅ کم کړي ، دريم په انسانانو کي به دسخاوت جزبه ختمه شي ، څلورم په مصيبت وهلي باندي درحم په ځاي دهغه دمصيبت نه به ناجائز فائده اخستل شروع شي ، پنځم دسود خورئ په نتيجه کي به دمال حرص دومره زيات شي چي دپاك او دناپاك تميز به ختم شي.

يتخبطه الشيطان من المس : دشيطان نه مراد جن دی يتخطبه نه مراد سخت مطلب دادی څوك چي سود خوري نو دوئ به دقيامت په ورځ داسي حال كي اوتكولی شي چي شيطان به ليوني كړي وي.

ذلك بانهم قالوا: په پورتني ايت كي دسود خوړلو دوه جرمونه بيان شوي دي دسود حرام مال خوړل او سود حلال ګنړل او داخبره كول چي دا دبيع او شراء پشان دي.

*****************

## ٣ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التَّغْلِيظِ فِي الْكَذِبِ وَالزُّورِ وَنَحْوِهِ

### په دروغوويلو او دروغ ګواهئ كولو باندي دوعيد بيان

١٢٠٧ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى الصَّنْعَانِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ الْحَارِثِ، عَنْ شُعْبَةَ. حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ أَبِي بَكْرِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكَبَائِرِ، قَالَ: " الشِّرْكُ بِاللَّهِ، وَعُقُوقُ الْوَالِدَيْنِ، وَقَتْلُ النَّفْسِ، وَقَوْلُ الزُّورِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي بَكْرَةَ، وَأَيْمَنَ بْنِ خُرَيْمٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ. [1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دكبيره ګناهونو متعلق فرمائيلي دي دالله تعالي سره شريك مقررول، دمور او پلار نافرماني كول، يو نفس لره په ناحقه وژل، او دروغ خبره كول (دكبائرو نه دي) امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح

[1] ـ صحيح البخارى في الشهادات ١٠ (٢٦٥٣) . والأدب ٦ (٦٨٧١) . صحيح مسلم في الإيمان ٣٨ (٨٨) . سنن النسائي في المحاربه (تحريم الدم) ٣ (٤٠١٥) . والقسامة ٣٨ (٤٨٧١) . (التحفه: ١٠٧٧) مسند احمد ٣ في ١٣١، ١٣٢) والمؤلف في تفسير النساء (٣٠١٨)

غريب دي او په دي باب كي دابي بكره، ايمن بن خريم او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**تشريح**: علماء وايي كبيره ګناه دي ته وايي په كومه كي چي په دي لاندينو اوصافو كي كوم وصف موندلی کیږي.

اول: په كومه ګناه چي په قران او حديث كي وعيد راغلی وي.

دويم: په كومه ګناه چي لعنت راغلی وي.

دريم: په كومه ګناه چي حد مقرر وي، مثلا زنا سرقه قذف وغيره.

، څلورم: په كومه ګناه كي چي نقصان زيات وي مثلا كوم فوجي دمسلمانانو راز خور كړي.

پنځم: صغيره ګناه بار بار كول او هغي لره معمولي ګڼړل.

علماء وايي په اعمالو صغيره ګناهونه معاف كيږي او دكبيره ګناه دپاره توبه ضروري ده دجمهورو علماؤ په دي باندي اتفاق دی دشيخ عبدالحق دهلوي قول دی چي ددينه مراد صغيره ګناهونه دي په دليل ددي قول درسول الله صلي الله عليه وسلم "الصلوات الخمس والجمعة الي الجمعة" او همدارنګي دا خبره هم ده كه چري په اعمالو سره صغيره او كبيره ګناهونه دواړه معاف شي نو بيا خو به دوزخ ته هيڅوك لاړ نشي او يو څه ناڅه عمل خو هر يو سړي كړی وي.

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي په روژه كي دروغ خبرى اوغلط كارونه نه پريدي نو خوراك څکاك پريښودوته يې دالله تعالي هيڅ حاجت نشته.

أخرجه : البخاري كتاب الصوم باب من لم يدع قول الزور. احمد وابوداود والترمذي وابن حبان والبيهقي.

## په دروغ وئيلو د وعيد بيان

قَالَ اللهُ تَعَالَى: ﴿وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ﴾ [الحج: ۳۰].

[او ډه كوى ددروغ ويناڼه]

إمام احمد، ابوداود، ابن ماجه، طبراني او ابن المنذر دخريم بن فاتك نه روايت نقل كړي دي چي رسول الله دسحر مونځ وكړو اود مونځ نه پس ودريدو او وئي فرمائيل په دروغه ګواهي كول دشرك سره برابر دي اودا كلام يي دري پيري اعاده كړو او بيا يي ايت كريمه "فَاجْتَنِبُوا الرِّجْسَ مِنَ الْأَوْثَانِ وَاجْتَنِبُوا قَوْلَ الزُّورِ حُنَفَاءَ لِلَّهِ غَيْرَ مُشْرِكِينَ بِهِ" تلاوت كړو.

په حديث كي دا ګناه په كبائرو كي شميرلي شوي ده او په ډيرو احاديثو كي ددي مذمت بيان

شوي دي.

وقَالَ تَعَالَى: ﴿وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ﴾ [الفرقان: ۷۲].

[او داهغه کسان دي چي نه حاضريږي دروغو ته].

**مختصر تشريح**: په دي کي دنيکانو بندګانو دا صفت بيان شو چي هغوئ په داسي مجلسونو کي شرکت نه کوي په کومو کي چي دروغ او دګناه خبري او ريا کاري کيږي. دپورتني ايت متعلق دمجاهد او محمد بن حنفيه بيان دی چي ددينه مراد دګاني بجاني مجلسونه دي دزهري او امام مالك قول دی چي ددينه مراد شراب خاني دي.

خلاصه داده چي دالله تعالي نيك بندګان په لغوه او باطل مجلسونو کي شرکت نه کوي، دبعضي مفسرينو په نزد د يشهدون نه مراد ګواهي کول دي ددي تفسير په بنا دايت مطلب دا شو چي دا خلق د دروغو په ګواهئ کي شرکت نه کوي قاضي ثناء الله پاني پتي رحمة الله عليه په دي باره کي بهترين وضاحت کړي دی کوم چي مندرجه ذيل دی.

دعلي بن طلحه په نزد دشهادت الزور نه مراد دخلقو په خلاف په دروغه شهادت کول دي، بغوي دا هم ليکلي دي چي عمر رضي الله عنه فرمائيلي دي په دروغه ګواهي کونکي به څلويښت کوړي وهلي شي او مخ به يي تورولي شي او په بازار کي به ګرځولي شي.

ابن ابي شيبه دابو خالد په روايت سره دحجاج نه او هغه دمکحول نه دوليد بيان نقل کړي دي چي عمر رضي الله عنه خپلو هغو عاملانو ته چي په شام کي مقرر وو يو تحرير ليږلي وو چي په دروغه ګواهي کونکي به څلويښت کوړي وهئ او مخ به يي توروئ او سر به يي خروئ او تراوږدي مودي به يي قيد کوئ، عبدالرزاق په مصنف کي دمکحول په سند سره روايت بيان کړي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه په دروغه ګواهي کونکي لره څلويښت کوړي سزا ورکړي وه، عبدالرزاق دا هم ليکلي دي چي ماته يحيي بن علاء او هغه ته احوص بن حکيم روايت بيان کړي دي او احوص دخپل پلارنه روايت نقل کړي دي چي عمر فاروق رضي الله عنه په دروغه د شهادت کونکي متعلق حکم کړي وو چي دداسي کس مخ دي تور کړي شي او دده پټکي دي دده په مړئ کي واچولي شي او په ټولو قبيلو کي دي اوګرځولي شي.

دامام مالك، شافعي، ابويوسف او محمد رحمهم الله په نزد به په دروغه ګواهي کونکي ته تعذيري سزا ورکولي شي او دي به دقوم په وړاندي اودرولي شي ددي دپاره چي هغوئ يي اوپيژني چي دي په دروغه ګواهي کونکي دي امام مالك دومره اضافه کړي ده چي په مساجدو او بازارونو کي دي داسي کس حاضر کړي شي، دذکر شوو امامانو قول دي چي په دروغه شهادت کول کبيره ګناه ده لکه چي صحيحينو درسول الله صلي الله عليه وسلم دا فرمان دانس رضي الله عنه نه نقل کړي دي، دبخاري په روايت کي دي چي رسول الله اوفرمائيل ايا زه تاسو ته اونښايم چي په ټولو کي لويه ګناه کومه يوه ده، صحابه کرامو عرض اوکړو اي دالله رسوله

ضرور يي راته اوښايه نو ويي فرمائيل دالله تعالي سره په عبادت کي بل څوك شريکول او بل چالره دهغه په شان ګڼل ، او دپلار نه سرکشي کول ، رسول الله ددي وخته پوري ډډه وهلي وه او ددينه پس فورا کيناستو او ويي فرمائيل واورئ او په دروغه ګواهي کول هم لويه ګناه ده رسول الله صلي الله عليه وسلم په دروغه دګواهئ کولو لفظ دومره پيري بار بار تکرار کړو چي مونږ اووئيل کاش چي رسول الله خاموش شوي وي نو بهتره به وه .

الله تعالي دشرك او د دروغو دګواهئ کولو نه دپرهيز کولو حکم په يوځاي کړي دي او فرمائيلي يي دي

"فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور"

کله چي ددروغو شهادت کبيره ګناه ګرځولي شوي ده او ددي دپاره کومه شرعي سزا مقرر شوي نه ده بلکه پدي کي تعذيري سزا ده دامام ابو حنيفه په نزد دتعذيري سزا دپاره صرف تشهير کافي دي وهل او قيد کول يي جائز نه دي ځکه چي دتعذير مقصد دمجرم منع کول دي او دا مقصد په تشهير سره حاصليږي وهل او قيد کول په زجر او منع کولو کي شدت دي تردي چي دداسي سختي سزا تصور مجرم لره دخپل دروغو دشهادت اقرار او دشهادت نه دواپس کيدو نه منع کول دي اودشهادت دروغژن کيدل بغير ددينه نه ثابتيږي چي مجرم پخپله دخپل شهادت ددرغژن کيدو اقرار وکړي او د ورکړي شهادت نه واپس شي لهذا دورکړي شهادت په سزا کي تخفيف پکار دي ، پاتي شو دعمر رضي الله عنه اثر نو هغه يو سياسي حکم وو (يعني کوم جاري قانون نه وو).

دامام ابو حنيفه دقول پشان د قاضي شريح يو قول هم په يوروايت کي راغلي دي چي امام محمد په کتاب الاثار کي بيان کړي دي چي شريح به کله کوم دروغژن ګواه اونيولو او مجرم به څوك بازاري سړي وو نو شريح به خپل قاصد ته حکم اوکړو چي ورشه او بازاريانو ته اووايه چي شريح په تاسو سلام وائي او دسلام نه پس هغه دا وئيلي دي چي دا کس مونږ د دروغو په ګواهئ اوليږو لهذا تاسو ورنه پرهيز اوکړئ او که چري مجرم به په عربو کي دکومي قبيلي نه وو نو ددغه قبيلي مسجد ته به يي قاصد اوليږلو او مذکوره پيغام به يي ددي قاصد په خوله اوليږلو ابن ابي شيبه هم دشريح دا فيصله نقل کړي ده، دابن جريج په نزد دشهادت الزور نه مراد هر قسم دروغ مراد دي صرف شرك نه دئ.

بعضي علماؤ د لايشهدون الزور دا مطلب بيان کړي دي چي دوئ د دروغو په محفلونو کي شرکت نه کوي يعني دالزور نه مخکي مضاف محذوف دي ، ځکه چي په عبس مجلسونو کي موجود کيدل هم د شرکت حکم لري ، ددي تفسير په بنا په عبسو قصو ياد شاعرئ په مجلسونو کي شرکت کول ناجائز ګرځي، دمجاهد هم دا قول دي ددي مطلب دادي چي دمشرکانو اخترونو او ميلو کي دوئ شرکت نه کوي .

بعضو دالزور نه دنوحه (وير) مجلس مراد كړي دي ، او قتاده دعدم شهادت الزور هم دا مطلب بيان كړي دي چي دعبسو اوباطلو خبرو تائيد او اعانت نه كوي .

دمحمد بن حنفيه قول دي چي دلغوه خبرو او سندرو په موقع نه حاضريږي ، دابن مسعود رضي الله عنه بيان دي سندري اوريدل په زړونو كي نفاق لره داسي رازرغونوي لكه څرنګه چي اوبه فصل لره زرغونوي .

بغوي ليكلي دي دزور اصل معني كوم څيز لره ښائسته كول او داصل حالت په خلاف په بل حالت خودل دي، پس دزور معني په باطل باندي داسي ټينګيدل تردي چي هغه خلقو ته حق ښكاره شي. زه وايم په لغت كي زور په معني د اوړيدلو دي د حق نه الله تعالي فرمائيلي دي تزاور عن كهفهم يعني نمر ددوئ دغار نه ګرځي ، ددي لفظ استعمال دكذب دپاره هم كيږي ځكه چي په دروغو كي دحق نه باطل طرف ته ميلان وي او همدا رنګي په هره دروغژنه خبره هم ددي اطلاق كيږي .

****************

## ٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي التُّجَّارِ وَتَسْمِيَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِيَّاهُمْ

دتاجرانو ذكر او درسول الله دوئ لره مسمي كولو بيان

١٢٠٨ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ عَاصِمٍ، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ، قَالَ: خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ نُسَمَّى السَّمَاسِرَةَ، فَقَالَ: " يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ، إِنَّ الشَّيْطَانَ، وَالإِثْمَ، يَحْضُرَانِ الْبَيْعَ فَشُوبُوا بَيْعَكُمْ بِالصَّدَقَةِ ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، وَرِفَاعَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، رَوَاهُ مَنْصُورٌ، وَالأَعْمَشُ، وَحَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، وغير واحد، عَنْ أَبِي وَائِلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ، وَلَا نَعْرِفُ لِقَيْسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا. حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، أَبِي وَائِلٍ، عَنْ قَيْسِ بْنِ أَبِي غَرَزَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَهُ بِمَعْنَاهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : قيس بن ابي غرزه رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زمونږ خواته تشريف راوړو او مونږ ته به په دغه وخت كي سماسره (دلال) وئيلي كيدل رسول الله

[1] ـ سنن ابي داود في البيوع ١(٣٣٢٦) . سنن النسائي في الأيمان والنذور ٢٢ (٣٨٣١) . والبيوع ٧ (٤٤٧٥) . سنن ابن ماجه في التجارات ٣ (٢١٤٥) . (تحفة الأشراف : ١١١٠٣) . مسند احمد (٤ في ٦، ٢٨٠)

صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي دتاجرانو ډلي دخريد او فروخت وخت کي اکثر دشيطان او گناه سره مخامخ کيدل واقع کيږي لهذا تاسو خپله سوداگري دصدقي سره يوځاي کوئ.

امام ترمذي وائي دقيس بن ابي غرزه حديث حسن صحيح دي او مونږ ته ددي حديث نه علاوه دقيس کوم بل حديث معلوم نه دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه يي نقل کړي وي، مصنف په سند د ابومعاويه عن الاعمش عن شقيق بن سلمه وشقيق هو ابووائل عن قيس بن ابي غرزة عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل کړي دي او دسابقه حديث هم معني روايت يي بيان کړي دي داحديث صحيح دي او په دي باب کي دبراء بن عازب او رفاعه نه هم احاديث وارد دي.

******************

١٢٠٩ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا قَبِيصَةُ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "التَّاجِرُ الصَّدُوقُ الأَمِينُ مَعَ النَّبِيِّينَ، وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ هَذَا الوَجْهِ، مِنْ حَدِيثِ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ، وَأَبُو حَمْزَةَ اسْمُهُ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَابِرٍ وَهُوَ شَيْخٌ بَصْرِيٌّ. (1)

**ترجمه** : دابوسعيد خدري رضي الله عنه نه مروي دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي رښتوني او امانتدار تاجر به دقيامت په ورځ دانبياء او صديقينو او شهداؤ سره په ملګرتيا کي وي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن دي او مونږ ته صرف دثوري په سند رارسيدلي دي او هغه دابوحمزه نه نقل کړي دي او دابو حمزه نوم عبدالله بن جابر دي او هغه دبصري شيخ دي.

******************

حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ المُبَارَكِ، عَنْ سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، عَنْ أَبِي حَمْزَةَ بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. (2)

**ترجمه** : دابو حمزه نه هم ددي روايت هم معني روايت مروي دي .

******************

---

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٩٩٣)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٩٩٣)

١٢١٠ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا بِشْرُ بْنُ الْمُفَضَّلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُثْمَانَ بْنِ خُثَيْمٍ، عَنْ إِسْمَاعِيلَ بْنِ عُبَيْدِ بْنِ رِفَاعَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ خَرَجَ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمُصَلَّى، فَرَأَى النَّاسَ يَتَبَايَعُونَ، فَقَالَ: "يَا مَعْشَرَ التُّجَّارِ". فَاسْتَجَابُوا لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَفَعُوا أَعْنَاقَهُمْ، وَأَبْصَارَهُمْ إِلَيْهِ، فَقَالَ: "إِنَّ التُّجَّارَ يُبْعَثُونَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فُجَّارًا إِلَّا مَنِ اتَّقَى اللَّهَ وَبَرَّ، وَصَدَقَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَيُقَالُ إِسْمَاعِيلُ بْنُ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ رِفَاعَةَ أَيْضًا.[1]

**ترجمه** : درفاعه نه مروي دي فرمائي چي زه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم سره عيدگاه طرف ته روان شوم خو رسول الله هلته خلق په خريدو فروخت كولو اوليدل نو وېي فرمائيل اي دتاجرانو ډلي نو خلقو درسول الله صلي الله عليه وسلم خبرو ته غوږ كيخودو او درسول الله طرف ته يي خپل څټونه او نظرونه راتاؤو كړل ورته يي اوفرمائيل تاجران به دقيامت په ورځ گنهگار راپورته كيږي مگر علاوه دهغه چانه څوك چي دالله دويري نيك كارونه كوي او رښتيا وائي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، اسماعيل بن عبيد بن رفاعه ته اسماعيل بن عبيدالله بن رفاعه هم وئيلي شي.

*****************

## ٥ـ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ حَلَفَ عَلَى سِلْعَةٍ كَاذِبًا

### په سودا په دروغه دقسم خوړلو بيان

١٢١١ـ حَدَّثَنَا مَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، حَدَّثَنَا أَبُو دَاوُدَ، قَالَ: أَنْبَأَنَا شُعْبَةُ، قَالَ: أَخْبَرَنِي عَلِيُّ بْنُ مُدْرِكٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا زُرْعَةَ بْنَ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ يُحَدِّثُ، عَنْ خَرَشَةَ بْنِ الْحُرِّ، عَنْ أَبِي ذَرٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "ثَلَاثَةٌ لَا يَنْظُرُ اللَّهُ إِلَيْهِمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ". قُلْنَا: مَنْ هُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ فَقَدْ خَابُوا وَخَسِرُوا، فَقَالَ: "الْمَنَّانُ، وَالْمُسْبِلُ إِزَارَهُ، وَالْمُنَفِّقُ

---

[1] ـ سنن ابن ماجه في التجارات ٣ (٢١٤٦)

سِلْعَتَهُ بِالْحَلِفِ الْكَاذِبِ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي أُمَامَةَ بْنِ ثَعْلَبَةَ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَمَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي ذَرٍّ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** دابوذر رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دري قسمه خلق داسي دي چاته چي به الله تعلي دقيامت په ورځ درحمت په نظر اونه گوري او نه به دوئ لره دگناهونو نه پاك كړي او ددوئ دپاره به دردناك عذاب وي مونږ تپوس اوكړو اي دالله رسوله دا څوك دي دوئ خو نقصان او خساره پورته كونكي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل چاچي چا سره نيكي كړي وي او هغه ورته بيا رايادوي او زباتل ورته كوي. بل هغه كس دي چي پرتوگ يا لنگ دگيتو نه لاندي ساتي او بل هغه كس دي چي په دروغه دقسم په ذريعه خپل سامان رائج كول او خرڅول غواړي.

امام ترمذي وائي دابوذر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابن مسعود، ابوهريره، ابو امامه بن ثعلبه او عمران بن حصين او معقل بن يسار رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

## ٦ـ باب مَا جَاءَ فِي التَّبْكِيرِ بِالتِّجَارَةِ

### دتجارت كاروبار دپاره دسحر وختي وتلو بيان

١٢١٢ـ حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ الدَّوْرَقِيُّ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، حَدَّثَنَا يَعْلَى بْنُ عَطَاءٍ، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ حَدِيدٍ، عَنْ صَخْرٍ الْغَامِدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " اللَّهُمَّ بَارِكْ لِأُمَّتِي فِي بُكُورِهَا ". قَالَ: وَكَانَ إِذَا بَعَثَ سَرِيَّةً، أَوْ جَيْشًا بَعَثَهُمْ أَوَّلَ النَّهَارِ، وَكَانَ صَخْرٌ رَجُلًا تَاجِرًا، وَكَانَ إِذَا بَعَثَ تِجَارَةً بَعَثَهُمْ أَوَّلَ النَّهَارِ، فَأَثْرَى، وَكَثُرَ مَالُهُ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَبُرَيْدَةَ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ صَخْرٍ الْغَامِدِيِّ حَدِيثٌ

---

[1] ـ صحيح مسلم في الإيمان ٤٦ (١٠٦) . سنن ابي داود في اللباس ٢٨ (٤٠٨٧) . سنن النسائي في الزكاة ٦٩ (٢٥٦٤) . والبيوع ٥ (٤٤٦٣) . والزينة ١٠٣ (٥٣٣٥) . سنن ابن ماجه في التجارات ٣٠ (٢٢٠٨) . (تحفة الأشراف : ١١٩٠٩) . مسند احمد (٥ في ١٤٨، ١٥٨، ١٦٢، ١٦٨، ١٧٨)

حَسَنٌ، وَلَا نَعْرِفُ لِصَخْرٍ الْغَامِدِيِّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَيْرَ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَدْ رَوَى سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ عَطَاءٍ هَذَا الْحَدِيثَ.[1]

**ترجمه** : دصخر غامدي رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي اي الله زما امت ته د دوئ د ورځي په ابتدائي حصه کي برکت ورکړي، دصخر بيان دي کله چي به رسول الله صلي الله عليه وسلم کومه سريه يا لښکر ليږلو نو دوئ به يي دورځي په ابتدائي حصه کي رخصتول، او صخر يوتاجر سړي وو کله چي به هغه دخپلي سودا سره خپل کسان ليږل نو هغوئ به يي دورځي په ابتدائي حصه کي رخصتول ترديچي صخر مالدار شو او دولت يي زيات شو.

امام ترمذي وائي دصخر غامدي حديث حسن دي او مونږ ته ددي حديث نه علاوه دصخر غامدي کوم بل حديث معلوم نه دي چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل کړي وي، او په دي باب کي دعلي، ابن مسعود، بريده، انس، ابن عمر، ابن عباس، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

## ٧ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي الشِّرَاءِ إِلَى أَجَلٍ

### دکومي نيتي په وعده دکوم څيز داخستلو داجازت بيان

١٢١٣ـ حَدَّثَنَا أَبُو حَفْصٍ عَمْرُو بْنُ عَلِيٍّ أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ زُرَيْعٍ، أَخْبَرَنَا عُمَارَةُ بْنُ أَبِي حَفْصَةَ، أَخْبَرَنَا عِكْرِمَةُ، عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَوْبَانِ قِطْرِيَّانِ غَلِيظَانِ، فَكَانَ إِذَا قَعَدَ فَعَرِقَ ثَقُلَا عَلَيْهِ، فَقَدِمَ بَزٌّ مِنَ الشَّامِ لِفُلَانٍ الْيَهُودِيِّ، فَقُلْتُ: لَوْ بَعَثْتَ إِلَيْهِ، فَاشْتَرَيْتَ مِنْهُ ثَوْبَيْنِ إِلَى الْمَيْسَرَةِ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ، فَقَالَ: قَدْ عَلِمْتُ مَا يُرِيدُ إِنَّمَا يُرِيدُ أَنْ يَذْهَبَ بِمَالِي، أَوْ بِدَرَاهِمِي، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "كَذَبَ قَدْ عَلِمَ أَنِّي مِنْ أَتْقَاهُمْ لِلَّهِ، وَآدَاهُمْ لِلْأَمَانَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَنَسٍ، وَأَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ، حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ أَيْضًا، عَنْ عُمَارَةَ بْنِ أَبِي حَفْصَةَ، قَالَ: وَسَمِعْتُ مُحَمَّدَ بْنَ فِرَاسٍ الْبَصْرِيَّ، يَقُولُ: سَمِعْتُ أَبَا دَاوُدَ الطَّيَالِسِيَّ، يَقُولُ: سُئِلَ شُعْبَةُ يَوْمًا، عَنْ

---

[1] ـ سنن ابي داود في الجهاد ٨٥ (٢٦٠٦) . سنن ابن ماجه في التجارات ٤١ (٢٢٣٦) (تحفة الأشراف : ٤٨٥٢) . مسند احمد (٣ في ٤١٦، ٤١٧، ٤٣٢) ، و (٣ في ٣٨٤، ٣٩٠، ٣٩١) . سنن الدارمي في السير١ (٢٤٧٩)

هَذَا الحَدِيثِ فَقَالَ: لَسْتُ أُحَدِّثُكُمْ حَتَّى تَقُومُوا إِلَى حَرَمِيِّ بْنِ عُمَارَةَ بْنِ أَبِي حَفْصَةَ. فَتُقَبِّلُوا رَأْسَهُ، قَالَ: وَحَرَمِيٌّ فِي القَوْمِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: أَيْ إِعْجَابًا بِهَذَا الحَدِيثِ. (1)

**ترجمه** دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم په جسم مبارك دقتر جوړي دوه جامي وي كله چي به كيناستلو او خوله به وربانډي راغله نو دا به وربانډي درني شوي نو دشام نه فلاني فلاني يهودي دكاروبار دپاره جامي راوړلي نو ما عرض اوكړو كاش چي تا دوئ ته څوك ورليږلي وي او ددوئ نه دي دوه جامي دهغه وخت په وعده اخستلي وي كله چي مونږ سره ګنجائش پيداشي نو قيمت به يي وركړو، رسول الله صلي الله عليه وسلم هغوئ ته يو كس وروليږلو كه چري هغوئ غواړي او خوښه يي وي (نو مونږ ته دي په نيتيه سودا راكړي) مګر هغوئ دا خيال اوكړو او ددينه اوويريدل چي دي زما مال او يا زما دراهم خوړل غواړي ، رسول الله اوفرمائيل هغه دروغژن دي هغه ته معلومه ده چي زه په خلقو كي دهر چا نه زيات دالله نه ويريدونكي او دهر چانه زيات دامانت اداء كونكي يم.

امام ترمذي وائي دعائشه حديث حسن غريب صحيح دي دا حديث شعبه هم دعماره بن ابي حفصه نه نقل كړي دي،دمحمد بن فراس بصري نه مي اوريدلي دي فرمائيل يي چي ابو داود طيالسي وائي يوه ورځ مي دشعبه نه ددي حديث باره كي تپوس اوكړي شو نو هغه اووئيل دا درته هغه وخته پوري نشم بيانولي څو پوري چي تاسو پاڅيدلي نه يئ او د حرمي بن عماره بن ابي حفصه سر مو ښكل كړي نه وي حرمي په قوم كي موجود وو، امام ترمذي وائي دايي ددي حديث نه دتعجب كولو په بنياد اووئيل.

**تشريح:** عروه رضي الله عنه دام المؤمنين عائشه صديقه رضي الله عنها دا وينا نقل كوي چي هغې به وئيل، په الله قسم! اې خورنيه، په مونږ به دوه مياشتي دري مياشتي تيري شوي او د رسول الله صلي الله عليه وسلم په كورونو كي به اور بل نه شو ما عرض اوكړو چي اې خما ترورى! بيا به موګذاره په څه كيدله؟ ويې فرمائيل په كهجورو او اوبو باندي، البته داسې به ضرور كيدل چي د رسول الله صلي الله عليه وسلم انصار ګاونډيان وو چي دپيو والا خاروي ورسره وو، هغوي به د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي پئ دهديې په طور راليږل نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به مونږ باندي هم څكول (مطلب دا چي رسول الله صلي الله عليه وسلم او دهغوي دكور خلقو ټول ژوند په احتياج او فقر كي تير كړو.

أخرجه : البخاري في كتاب الهبة وكتاب الرقاق باب كيف كان عيش النبي صلي الله عليه وسلم واصحابه ومسلم في اوائل كتاب الزهد والرقاق. وابن حبان.

---

1 ـ سنن النسائي كتاب البيوع ٧٠ (٤٦٣٢) . مسند احمد (٦ ـ ١٤٧) (تحفة الأشراف : ١٧٤٣٠)

دامام غزالي قول دی په يو حديث کي راغلي دي څوك چي په دنيا کي دخوراك او څښاك مقدار کم ساتي نو الله تعالي وربانديي دفرشتو په وړانديي فخر کوي او ارشاد فرمائي زما بنده ته اوګورئ چي ما دخوراك او څښاك په کمي مبتلا کړی دی مګر دی صبر کوي تاسو ګواه شئ کومه لقمه چي ده دخپل خوراك نه کمه کړي ده دهغي په بدله کي به ورته دجنت درجي ورکوم په يو حديث کي راځي چي اکثر وخت به رسول الله صلي الله عليه وسلم په ولږه وخت تيرولو يعني داسي به هم کيدل چي خوراك به موجود هم وه خو ددي باوجود به يي کم خوراك کولو ددي وجه دا وه چي په ولږي تيرولو سره انسان ته انوار په کثرت سره ورکولی شي سليمان عليه السلام به وئيل چي ولږه دالله يوه داسي خزانه ده کومه چي خپلو دوستانو ته ورکوي.

****************

١٢١٤ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، وَعُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، عَنْ هِشَامِ بْنِ حَسَّانَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: "تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَدِرْعُهُ مَرْهُونَةٌ بِعِشْرِينَ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَخَذَهُ لِأَهْلِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم په داسي حال کي وفات شو چي زغره يي په شل صاع غله باندي ګرو کړي شوي وه او دا غله يي دخپل کور د خلقو دخوراك دپاره اخستلي وه، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

## په ثمن مؤجل بيعه کول

**داعيان اقسام**:د اعيان دري قسمونه دی،(١) نقود، يعنی درهم او دنانير (٢) څاروی اوکور وغيره (٢) مقدرات، لکه مکيلات، موزونات، او عدديات متقاربه که د غيرنقدينو بيع د نقدينو په عوض کي وی،نودا بيع په "مبيع محض" او په "ثمن محض" باندي مشتمل ده يعنی په دې کي د نقدينو ثمن کيدل اود غيرنقدينو مبيع کيدل متعين دی اوددې نه علاوه په باقی نورو صورتونوکي هر يو عوض ثمن هم کيدلې شی اوبيع هم کيدلې شی،خو په لفظونوکي به په دخول د "باء" او په عدم دخول د "باء" سره فرق کولې شی يعنی په کوم عوض باندې چي "باء" داخله شی،هغې ته به ثمن وائی اودويم ته به عوض د مبيع وئيلې شی،

---

[1] ـ سنن النسائی کتاب البيوع ٨٣(٤٦٥٥)، (تحفة الأشراف: ٦٢٢٨)، سنن الدارمی کتاب البيوع ٤٤(٢٦٢٣)، مسند احمد (اکتاب ٢٣٦، ٣٦١)، و سنن ابن ماجه کتاب الرهون ١(٢٤٣٩)، مسند احمد (١ـ ٣٠٠)

اوس بيع په نقدو او قرضو دواړه شان جائز ده،په دې شرط چې د قرضو موده معلومه وی که د قرضو موده معلومه نه وی نو بيع به فاسد وی،دليل(١) دادې چې الله تعالى واحل الله البيع . مطلق فرمائيلى دى يعنى بيع مطلقا حلال ده،ثمن که نقد وی. او که چرې قرض وی،په دې آيت کې دواړه داخل دی، دويم دليل د رسول الله ﷺ حديث دې،حديث دادې چې رسول اکرم ﷺ د ابوشحم نومې يهودی نه څه غله د يوې مودې په وعده باندې قرض واخستله اوخپله زغره ئې دده سره رهن کيخودله .اود بخاری په حديث کې د ((ثلاثين صاعاً من شعير )) لفظ دې يعنی نبی کريم ﷺ ديرش صاع اوربشې واخستلې،د ذکر شوی آيت او روايت نه معلوميږی چې بيع څنګه په نقدو جائز ده،دغه شان په قرضو هم جائز ده،خود قرضو موده او وخت معلومول ضروری دی ځکه چې د مودې مجهول کيدل. د ثمن سپارلو نه مانع دی،حالانکه د ثمن سپارل د عقد بيع په وجه واجب شوې دې اود سپارلو نه په دې وجه مانع دې چې بائع به په نزدې موده کې د ثمن مطالبه کوی اومشتری به په لرې موده کې د ورکولو کوشش کوی نو په دې وجه به جګړه پيدا شی اوکوم جهالت چې جګړه پيدا کړی چې دا د بيع د جواز دپاره مانع دې،په دې وجه د مودې مجهول کيدل به د بيع د جواز دپاره مانع وي.

****************

١٢١٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ هِشَامٍ الدَّسْتُوَائِيِّ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ. ح قَالَ مُحَمَّدٌ: وَحَدَّثَنَا مُعَاذُ بْنُ هِشَامٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا أَبِي، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: مَشَيْتُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِخُبْزِ شَعِيرٍ، وَإِهَالَةٍ سَنِخَةٍ، وَلَقَدْ رُهِنَ لَهُ دِرْعٌ، عِنْدَ يَهُودِيٍّ بِعِشْرِينَ صَاعًا مِنْ طَعَامٍ، أَخَذَهُ لِأَهْلِهِ، وَلَقَدْ سَمِعْتُهُ ذَاتَ يَوْمٍ يَقُولُ: "مَا أَمْسَى فِي آلِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَاعُ تَمْرٍ، وَلَا صَاعُ حَبٍّ، وَإِنَّ عِنْدَهُ يَوْمَئِذٍ لَتِسْعَ نِسْوَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.(١)

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چې يوه ورځ مي داوربشو ډوډئ او زړه ترکاري راواخستله او دنبي کريم صلي الله عليه وسلم کور ته ورغلم او يقينا دهغه زغره ديو يهودي سره په شل صاع طعام باندې ګرو کړې شوې وه چې هغه يې دخپل اهل دپاره اخستلې وه او يقينا ما ورنه يوه ورځ اوريدلي وو چې فرمائيل يې قتاده وائي ما يوه ورځ دانس رضي

---

١ ـ صحيح البخاری كتاب البيوع ١٤ (٢٠٦٩) ، والرهون ١ (٢٥٠٨) . سنن ابن ماجه كتاب الرهون ١ (الأحكام ٢٣) . (٢٤٣٧) . (تحفة الأشراف : ١٣٥٥)

الله عنه نه واوریدل چي دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دکورنئ سره یو صاع کجوري یا دمابښام دپاره یو صاع غله نه وه او دا دهغه وخت خبره ده کله چي دهغه نهه بیبیاني وي، امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي.

**تشريح** : د رسول الله د کور معاشي حالت بخاري او مسلم د عائشي رضي الله عنها نه داسي نقل کړی دی:

عن عائشة رضي الله عنها، قالت: مَاشَبِعَ آلُ مُحَمَّدٍ ﷺ مِنْ خُبْزِ شَعِيرٍ يَوْمَيْنِ مُتَتَابِعَيْنِ حَتَّى قُبِضَ.

وفي رواية: مَاشَبِعَ آلُ محَمَّدٍ ﷺ مُنْذُ قَدِمَ المَدِينَةَ مِنْ طَعَامِ البُرِّ ثَلاثَ لَيَالٍ تِبَاعاً حَتَّى قُبِضَ.

ام المومنین عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم تروفاته پوري دوه ورځې پرله پسې داسې نه دي تیرې شوې چي دهغوئ دکور خلقو پکي داوربشو روټئ په مړه خیټه خوړلی وي (بخاري ومسلم) او په یو روایت کي دي چي د رسول الله صلي الله علیه وسلم مدیني منوري ته دتشریف راوړلو نه پس تروفاته پور ی دهغوي دکور خلقو دری شپې متواتر دغنمو ډوډئ هیڅکله په مړه خیټه نه ده خوړلی.

"یومین متتابعین" یعني دوه ورځي مسلسل نبي کریم صلي الله علیه وسلم او دهغه دکورنئ دا معمول وو چي که یوه ورځ خوراك به یي اوکړو نو دویمه ورځ به یي نهره تیرولـه او دا شان زندګي تیرول دهغوئ دپاره اختیاري وو ورنه هغه ته دالله تعالي دطرفه دټولي دنیا دخزانو او دمکي دغرونو دسرو زرو ګرځولو پیشکش شوی وو، ددي په مقابلـه کي رسول الله صلي الله علیه وسلم فقر او تنګدستي خوښه کړه او ویې فرمائیل زه خو دا غواړم چي یوه ورځ موړ یم او یوه ورځ نهر او هر وخت دالله تعالي شکر ادا کړم او کله چي نهر یم نو په هغه ورځ صبر اوکړم.

حتي قبض، تردي پوري چي ددنیا نه رخصت شو بعضي خلقو خو دا وئیلي دي چي رسول الله په اخري زمانه کي غني شوی وو نو په پورتني حدیث کي ددي تردید هم اوشو چي دمرګه پوري یي وخت په ولږه او فقر کي تیر کړی وو.

مګر دومره خبره ضرور ده چي دنبوت په اخري زمانه کي دفتوحاتو دسلسلي په وجه دغنمیت مالونـه بـه دربـار نبوت تـه ډیر راتلل لـیکن دا خبره هم دروایـات صحیحه نه ثابتـه ده چي دا مالونه به رسول الله په خلقو تقسیمول او ددینه به یي دځان سره هیڅ نه ساتل.

رسول الله صلي الله علیه وسلم په فقیرانه زندګئ کي دغریبانانو دپاره دتسلئ ډیر انتظام دی. پدي کي د امیرانو دپاره هم سبق دی چي په خپلو حاجاتو به مسکینانو ته ترجیح ورکوي.

***************

## ۸_ بَاب مَا جَاءَ فِي كِتَابَةِ الشُّرُوطِ

## دسوداګرئ دکاروبار دشرائطو لیکلو بیان

۱۲۱۶ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، أَخْبَرَنَا عَبَّادُ بْنُ لَيْثٍ صَاحِبُ الْكَرَابِيسِيِّ الْبَصْرِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْمَجِيدِ بْنُ وَهْبٍ، قَالَ: قَالَ لِي الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ: أَلاَ أُقْرِئُكَ كِتَابًا كَتَبَهُ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. قَالَ: قُلْتُ: بَلَى فَأَخْرَجَ لِي كِتَابًا " هَذَا مَا اشْتَرَى الْعَدَّاءُ بْنُ خَالِدِ بْنِ هَوْذَةَ، مِنْ مُحَمَّدٍ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشْتَرَى مِنْهُ عَبْدًا، أَوْ أَمَةً، لاَ دَاءَ، وَلاَ غَائِلَةَ، وَلاَ خِبْثَةَ بَيْعَ الْمُسْلِمِ الْمُسْلِمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لاَ نَعْرِفُهُ إِلاَّ مِنْ حَدِيثِ عَبَّادِ بْنِ لَيْثٍ، وَقَدْ رَوَى عَنْهُ هَذَا الْحَدِيثَ غَيْرُ وَاحِدٍ مِنْ أَهْلِ الْحَدِيثِ. ([1])

**ترجمه** : دعبد المجيد بن وهب نه مروي دي چي ماته عداء بن خالد بن هوذه روايت بيان کړو چي زه تاته يو تحرير وانوروم کوم چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زما دپاره ليکلي دي؟ ما اووئيل ولي نه ضرور يي راته بيان کړه بيا هغه يو خط راوويستلو ‹اودا پکي ليکلي شوي دي› دا ديو داسي څيز بيع نامه ده کوم چي عداء بن خالد بن هوذه دمحمد ‹صلي الله عليه وسلم› نه اخستلي دي هغوئ درسول الله نه دغلام يا وينځي خريداري په دي شرط کړي وه چي نه به په دي کي کومه بيماري وي او نه به تختيدونکي وي او نه به دحرام مال نه وي، دا ديو مسلمان نه ديل مسلمان اخستل دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي دا مونږ ته صرف دعباد بن ليث په سند رارسيدلي دي او دهغه نه دا حديث متعددو محدثينو نقل کړي دي.

*****************

## ۹ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمِكْيَالِ وَالْمِيزَانِ

### دناپ اوتول بيان

۱۲۱۷ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ يَعْقُوبَ الطَّالَقَانِيُّ، حَدَّثَنَا خَالِدُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْوَاسِطِيُّ، عَنْ حُسَيْنِ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لأَصْحَابِ الْمِكْيَالِ وَالْمِيزَانِ: " إِنَّكُمْ قَدْ وُلِّيتُمْ أَمْرَيْنِ هَلَكَتْ فِيهِ الأُمَمُ السَّالِفَةُ قَبْلَكُمْ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا

---

[1] ـ صحيح البخاري كتاب البيوع ۱۹ (تعليقاً في الترجمة) سنن ابن ماجه كتاب التجارات ۴۷ (۲۲۵۱) (تحفة الأشراف: ۹۸۴۸)

حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا، مِنْ حَدِيثِ حُسَيْنِ بْنِ قَيْسٍ. وَحُسَيْنُ بْنُ قَيْسٍ يُضَعَّفُ فِي الْحَدِيثِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا بِإِسْنَادٍ صَحِيحٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ مَوْقُوفًا. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ناپ كونكو او تول كونكو ته اوفرمائيل تاسو ته داسي دوه كارونه سپارلي شوي دي په كوم چي ستاسو نه مخكني تير شوي امتونه هلاك شوي دي

امام ترمذي وائي داحديث مونږ ته صرف دحسين بن قيس په سند مرفوع رارسيدلي دي حسين بن قيس دمحدثينو په نزد ضعيف دي دارنګي داحديث په دي سند باندي دابن عباس نه موقوفاً هم مروي دي

****************

## ١٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي بَيْعِ مَنْ يَزِيدُ

## دبيع من يزيد ( نيلامي ) بيان

١٢١٨ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، أَخْبَرَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ شُمَيْطِ بْنِ عَجْلَانَ، حَدَّثَنَا الأَخْضَرُ بْنُ عَجْلَانَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ الْحَنَفِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَاعَ حِلْسًا وَقَدَحًا، وَقَالَ: "مَنْ يَشْتَرِي هَذَا الْحِلْسَ وَالْقَدَحَ". فَقَالَ رَجُلٌ: أَخَذْتُهُمَا بِدِرْهَمٍ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ مَنْ يَزِيدُ عَلَى دِرْهَمٍ". فَأَعْطَاهُ رَجُلٌ دِرْهَمَيْنِ فَبَاعَهُمَا مِنْهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ الأَخْضَرِ بْنِ عَجْلَانَ. وَعَبْدُ اللَّهِ الْحَنَفِيُّ، الَّذِي رَوَى عَنْ أَنَسٍ هُوَ أَبُو بَكْرٍ الْحَنَفِيُّ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ لَمْ يَرَوْا بَأْسًا بِبَيْعِ مَنْ يَزِيدُ فِي الْغَنَائِمِ، وَالْمَوَارِيثِ. وَقَدْ رَوَى هَذَا الْحَدِيثَ الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ وَغَيْرُ وَاحِدٍ، مِنْ كِبَارِ النَّاسِ، عَنِ الأَخْضَرِ بْنِ عَجْلَانَ. (2)

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا ټاټ كوم چي به دكجاوي دلاندي غوړولي شو او دا پياله به څوك واخلي يو كس عرض اوكړو زه يي په يو درهم اخستلي شم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ديو درهم نه يي په زياتو

1 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦٠٢٦)

2 ـ سنن ابي داود كتاب الزكاة ٢٦ (١٦٤١) . سنن النسائي كتاب البيوع ٢٢ (٤٥١٢) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٢٥ (٢١٩٨) . مسند احمد (٣ـ١٠٠)

څوك اخلي؟ بل كس رسول الله ته دوه درهم وركړل بو رسول الله په هم هغه باندي دا دواړو څيزونه خرڅ كړل.
امام ترمذي وائي داحديث حسن دي دا مونږ ته صرف داخضر بن عجلان په سند رارسيدلي دي او عبدالله حنفي چاچي دانس نه نقل دروايت كړي دي هغه ابوبكر حنفي دي، دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي ددوئ په نزد دغنيمت او دميراث سامان په زيات قيمت وركونكي باندي په خرڅولو كي څه قباحت نه ويني. داحديث دمعتمر بن سليمان او بعضي نورو لويو محدثينو هم داخضر بن عجلان نه نقل كړي دي.

****************

## ١١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي بَيْعِ الْمُدَبَّرِ

### دمدبر غلام دخرڅولو بيان

١٢١٩_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ. حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ. عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ. عَنْ جَابِرٍ. أَنَّ رَجُلًا مِنَ الْأَنْصَارِ دَبَّرَ غُلَامًا لَهُ فَمَاتَ، وَلَمْ يَتْرُكْ مَالًا غَيْرَهُ فَبَاعَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاشْتَرَاهُ نُعَيْمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ النَّحَّامِ. قَالَ جَابِرٌ: عَبْدًا قِبْطِيًّا مَاتَ عَامَ الْأَوَّلِ فِي إِمَارَةِ ابْنِ الزُّبَيْرِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَرُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. لَمْ يَرَوْا بِبَيْعِ الْمُدَبَّرِ بَأْسًا وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَكَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ بَيْعَ الْمُدَبَّرِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَمَالِكٍ، وَالْأَوْزَاعِيِّ. [1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي په انصارو كي يو كس خپل غلام مدبر كړو (يعني غلام به دده دمرګ نه پس ازاد وي) او بيا مالك مړ شو او ددي غلام نه علاوه ددي مالك كوم بل وارث نه وو نو نبي كريم صلي الله عليه وسلم دي خرڅ كړو او نعيم بن عبدالله بن نحام واخستلو دجابر رضي الله عنه بيان دي چي دا يو قبطي غلام وو دعبدالله بن زبير دامارت نه مخكي كال باندي وفات شو.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دا دجابر بن عبدالله نه په نورو سندونو هم مروي دي په صحابه كرامو وغيره خلقو كي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ

---

[1] _ سنن ابي داود كتاب البيوع ١١٠(٢٢٢١) . صحيح مسلم كتاب الأيمان والنذور ١٣(٩٩٧) . سنن ابن ماجه كتاب العتق ١(الأحكام ٩٢) . (٢٥١٣) (تحفة الأشراف : ٢٥٢٦)

دمدبر په خرخولو کي هيڅ قباحت نه ويني، او همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضو دمدبر خرخول مکروه ګڼلي دي او دا دسفيان ثوري او دامام مالك اوزاعي رحمهم الله قول هم دي.

*****************

## ١٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ تَلَقِّي الْبُيُوعِ

**دمال خرڅونكو سره بازار ته دارسيدو نه مخكي په لاره كي دملاويدو دكراهت بيان**

١٢٢٠_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ: "نَهَى عَنْ تَلَقِّي الْبُيُوعِ"، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَرَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (١)

**ترجمه**: دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم بازار ته درارسيدو نه مخکي په لاره کي دسوداګرو سره دملاويدو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دعلي، ابن عباس، ابوهريره، ابوسعيد خدري، ابن عمر، او ديو بل صحابي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

*******************

١٢٢١_ حَدَّثَنَا سَلَمَةُ بْنُ شَبِيبٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ جَعْفَرٍ الرَّقِّيُّ، حَدَّثَنَا عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرٍو، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى أَنْ يُتَلَقَّى الْجَلَبُ، فَإِنْ تَلَقَّاهُ إِنْسَانٌ فَابْتَاعَهُ فَصَاحِبُ السِّلْعَةِ فِيهَا بِالْخِيَارِ، إِذَا وَرَدَ السُّوقَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، مِنْ حَدِيثِ أَيُّوبَ، وَحَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ، حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ تَلَقِّي الْبُيُوعِ، وَهُوَ ضَرْبٌ مِنَ الْخَدِيعَةِ، وَهُوَ قَوْلُ الشَّافِعِيِّ وَغَيْرِهِ، مِنْ أَصْحَابِنَا. (٢)

---

[1] _ صحيح البخاري كتاب البيوع ٦٤ (٢١٤٩)، و٧١ (٢١٦٣)، صحيح مسلم كتاب البيوع ٥ (١٥١٨)، سنن ابن ماجه كتاب التجارات ١٦ (٢١٨٠)، مسند احمد (١_ ٤٣٠) (تحفة الأشراف: ٩٣٧٧)

[2] _ سنن ابي داود كتاب البيوع ٤٥ (٣٤٣٧)، (تحفة الأشراف: ١٤٤٤٨) و صحيح مسلم كتاب البيوع ٥ (١٥١٩)، سنن النسائي كتاب البيوع ١٨ (٤٥٠٥)، سنن ابن ماجه كتاب التجارات ١٦ (٢١٧٩)، مسند احمد (٢_ ٢٨٤، ٤٠٣، ٤٨٨)_

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم بازار ته درارسيدو نه مخکي په لاره کي دسوداګرو سره دملاويدو نه منع فرمائيلي ده.او که څوک ورسره ملاؤ شو او سودا يي اوکړه نو دمال مالك ته به بازار ته درسيدو پوري اختيار دي (که خوښه يي وي نو دا څيز دي ورباندي خرڅ کړي او که خوښه يي وي نو نه دي خرڅوي).
امام ترمذي وائي دا حديث دايوب په روايت حسن غريب دي او دابن مسعود په روايت حسن صحيح دي، په اهل علمو کي يو جماعت دسوداګرو سره بازار ته درسيدو نه مخکي ملاويدل او خريداري کول ناجائز ګڼړلي دي ځکه چي دا د دهوکي يو قسم دي او زمونږ په فقهاؤ کي دامام شافعي وغيره هم دا قول دي.

*****************

## ١٣_ بَاب مَا جَاءَ لاَ يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ

### دښار اوسيدونکي دي دبهر نه راتلونکي با ندچي دپاره سودا نه کوي

١٢٢٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالاَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: وَقَالَ قُتَيْبَةُ: يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لاَ يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ طَلْحَةَ، وَجَابِرٍ، وَأَنَسٍ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَحَكِيمِ بْنِ أَبِي يَزِيدَ، عَنْ أَبِيهِ، وَعَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ جَدِّ كَثِيرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، وَرَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. ([1])

**ترجمه** : د ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ دی نه منع کړي يوو چي يو شهري سړی دباندچي دپاره څه څيز خرڅ کړي.
امام ترمذي وائي په دي باب کي دطلحه، جابر، انس، ابن عباس، ابويزيد، کثير بن عبدالله نيکه عمرو بن عوف، مزني، او يو بل صحابي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : نهي ينهي نهيا معني منع کول مذکرصفت يي ناه راځي او مونث يي ناهية راځي.

**تشريح** : "دښار اوسيدونکی به دباندچي دپاره سودانه کوي" ددي مطلب دادی که دښار

---

[1] _ البخاری کتاب البیوع ٥٨ (٢١٣٠)، و مسلم کتاب النکاح ٦ (١٤١٣)، والبیوع ٦ (١٥٢٠)، سنن النسائی کتاب النکاح ٢٠ (٣٢٤١)، سنن ابن ماجه کتاب التجارات ١٥ (٢١٧٥) (تحفة الأشراف : ١٣١٢٣)، مسند احمد (٢_٢٣٨) و البخاری کتاب البیوع ٦٤ (٢١٥٠)، و ٧٠ (٢١٦٠)، و ٧١ (٢١٦٢)، ... ٨ (٢٧٢٣)، و ١١ (٢٧٢٧)، صحیح مسلم کتاب النکاح . سنن النسائی کتاب البیوع ١٦ (٤٤٩٦)، و ١٩ (٤٥٠٦)، و ٢١ (٤٥١٠)، مسند احمد (٢_ ٢٧٤، ٣٩٤، ٤٨٧) (و رقم ١١٣٤ و ١١٩٠ و ١٢٢٢، و ١٣٠٤)

اوسیدونکی دباندچي سره خبره اوکړي چي خپله غله زما سره پریږده څه موده پس په ښار کي ریټ زیاتیږي او بیابه يي ستا دپاره خرڅه کړم نو داسي قسم سودا داحتکار يو قسم دی دا په هغه وخت کي ناجائز دی کله چي دعام ضرر سبب ګرځي.

******************

۱۲۲۳_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لَا يَبِيعُ حَاضِرٌ لِبَادٍ دَعُوا النَّاسَ يَرْزُقُ اللَّهُ بَعْضَهُمْ مِنْ بَعْضٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَحَدِيثُ جَابِرٍ فِي هَذَا هُوَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ أَيْضًا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، كَرِهُوا أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَرَخَّصَ بَعْضُهُمْ فِي أَنْ يَشْتَرِيَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: يُكْرَهُ أَنْ يَبِيعَ حَاضِرٌ لِبَادٍ، وَإِنْ بَاعَ فَالْبَيْعُ جَائِزٌ. (١)

**ترجمه**: دجابر رضي الله عنه نه روایت دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي هیڅ یو دښار اوسیدونکي دي دباندچیانو سامانونه نه خرڅوي او تاسو خلق پریږدئ (چي خپل سامانونه پخپله خرچ کړي) ځکه چي الله تعالي د بعضو په ذریعه بعضو نورو ته رزق ورکوي. امام ترمذي وائي دابوهریره حدیث حسن صحیح دي، او په دي باب کي دجابر حدیث هم حسن صحیح دي، او په صحابه کرامو کي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ دا کار مکروه ګڼړي چي ښار والا دبهر نه راتلونکو باندچیانو دپاره سوداګري اوکړي او بعضي اهل علمو اجازت ورکړي دي چي دښار اوسیدونکي دباندچیانو دپاره سودا کولي شي، امام شافعي وائي دیو ښاري دپاره دباندچي دپاره سودا خرڅول مکروه دي او که خرڅ یي کړي نو بیع به جائز وي.

## د تلقي حکم

د تلقي يو څو صورتونه فقهاؤ ذکر کړي دی:

(۱) دا چي په ښارکي قحط وی، خوچي کله د ښار بعضو سوداګرو ته د غلې د قافلې راتللو خبرملاؤ شی نو دوی د ښار نه بهر اوځی اود قافلې والو نه ټوله غله واخلی چي دخپلې خوښي په قیمت ئې خرڅه کړی.

---

1 _ مسلم کتاب البیوع ۶ (۱۵۲۲). سنن ابن ماجه کتاب التجارات ۱۵ (۲۱۷۶). (تحفة الأشراف: ۲۷۶۳). مسند احمد (۳/۳۰۷) و صحیح مسلم کتاب البیوع. سنن ابي داود کتاب البیوع ۴۷ (۳۴۴۲). سنن النسائي کتاب البیوع ۱۷ (۴۵۰۰). مسند احمد ۳/۳۱۲، ۳۸۶، ۳۹۲)

(۲) چي په ښار کي د غلې کمی نه وی اوخه سوداګر د ښارنه اوځی اود قافلې تولـه غلـه واخلی.
(۳) چي د قافله والو نه په آرزان قيمت غله واخلی اود ښار نرخ په دوی باندې پټ اوساتی اودوی پخپله هم د ښار د قيمت نه ناخبره وی.
(۴) چي د قافله والو نه غله په آرزان قيمت واخلی،خو په دوی باندې قيمت پټ اونه ساتی.
په دې کي ړومبې او دريم صورت مکروه دې،ړومبې صورت ځکه مکروه دې چي په دې صورت کي د ښارخلق په قحط اود غله نه کيدلو په وجه په ضرر او پريشانئ کي مبتلا دی اود سوداګرو په دې عمل سره به د ښار د خلقو په پريشانئ کي نوره هم اضافه اوشی اوخوك په پريشانئ کي مبتلاکول امرقبيح دې،خودا امرقبيح داسې دې چي دا د بيع نه جداکيدلې شی ځکه به په دې وجه بيع مکروه وی.
اويه دريم صورت کي چونکه د راتلونکې قافلې په خلقو باندې نرخ پټ کړې شوې دې اودوی ته دهوکه ورکړې شوې ده اودهوکه ورکول امرقبيح دې ځکه به په دې صورت کي هم بيع مکروه وی اويه باقی دوه صورتونوکي چونکه دا خرابيانې نشته ځکه به په دې کي بيع بلا کراهت درست وی.

****************

## ١٤ـ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ

### دمحاقله اومزابنه دمما نعت بيان

١٢٢٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا يَعْقُوبُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْإِسْكَنْدَرَانِيُّ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ "، قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَسَعْدٍ، وَجَابِرٍ، وَرَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْمُحَاقَلَةُ بَيْعُ الزَّرْعِ بِالْحِنْطَةِ، وَالْمُزَابَنَةُ بَيْعُ الثَّمَرِ عَلَى رُءُوسِ النَّخْلِ بِالتَّمْرِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا بَيْعَ الْمُحَاقَلَةِ وَالْمُزَابَنَةِ.([1])

---

[1] ـ مسلم كتاب البيوع ١٧(١٥٣٥) . (تحفة الأشراف : ١٢٦٩٨) . مسند احمد (٢/٢١٩) و سنن النسائى كتاب المزارعة ٢ (٣٩١٥) . مسند احمد (٣٩٢/٢ ، ٤٨٣)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمحاقلي او مزابني نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن عمر، ابن عباس، زيد بن ثابت، سعد جابر، او رافع بن خديج او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي، په وړو كي ولاړ فصل ته په غنمو خرڅولو ته محاقله وئيلي شي او په ونو كي زوړندو كجورو لره په شوكيدلو كجورو خرڅولو ته مزابنه وئيلي شي د اكثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي چي محاقله او مزابنه مكروه ګرځي.

****************

١٢٢٥_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، أَنَّ زَيْدًا أَبَا عَيَّاشٍ، سَأَلَ سَعْدًا، عَنِ الْبَيْضَاءِ بِالسُّلْتِ، فَقَالَ: أَيُّهُمَا أَفْضَلُ ؟، قَالَ الْبَيْضَاءُ: فَنَهَى عَنْ ذَلِكَ، وَقَالَ سَعْدٌ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسْأَلُ عَنِ اشْتِرَاءِ التَّمْرِ بِالرُّطَبِ ؟، فَقَالَ: "لِمَنْ حَوْلَهُ، أَيَنْقُصُ الرُّطَبُ إِذَا يَبِسَ ؟ "، قَالُوا: نَعَمْ، فَنَهَى عَنْ ذَلِكَ. حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ زَيْدٍ أَبِي عَيَّاشٍ، قَالَ: سَأَلْنَا سَعْدًا فَذَكَرَ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَصْحَابِنَا.(1)

**ترجمه** : دعبدالله بن يزيد نه روايت دي فرمائي چي ابوعياش ، زيد دسعد رضي الله عنه نه د غنمو په پوستكي ويستلي شوو اوربشي باندي خرڅولو باره كي تپوس اوكړي شو نو هغه ورنه تپوس اوكړو په دي دواړو كي كوم يو افضل دي نو ده غنم ذكر كړل نو هغوئ ددينه منع اوفرمائيل او سعد رضي الله عنه اوفرمائيل چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چي په اوچو كجورو دلمدو كجورو دخرڅولو باره كي ورنه تپوس اوكړي شو نو رسول الله دخان خوا كي دناستو خلقو نه تپوس اوكړو چي ايا لمدي كجوري داوچيدو نه پس كميږي؟ خلقو اووئيل هو كميږي، نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ددينه منع اوفرمائيله.

---

1 _ سنن ابي داوذ كتاب البيوع ١٨ (٣٣٥٩) . سنن النسائي كتاب البيوع ٣٦ (٤٥٤٩) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٥٣ (٢٢٦٤) . (تحفة الأشراف : ٣٨٥٤) . موطا امام مالك كتاب البيوع ١٢ (٢٢) . مسند احمد (١٧٩/١،١٧٥)

امام ترمذي په سند دوكيع عن مالك ددي هم معني روايت نقل كړي دي او وائي چي دا حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا دامام شافعي او زمونږ دعامو شوافعو قول دي.

## بيع مزابنه او محاقله

بيع مزابنه داده چي د كهجورې په ونه كي لګيدلې كهجورې،د شوكيدلو كهجورو په عوض په دې طريقه خرڅې كړې چي شوكيدلې كهجورې ئې پيمانه كړلې،يا ئې وزن كړلې اوپه ونه كي چي كومې كهجورې لګيدلې دې،د هغې اندازه اوكړې،مثلا دا اندازه ئې اوكړله چي په ونه كي لګيدلې كهجورې پنځه منه دې،نود عاقد آخر نه ددې عوض پنځه منه شوكيدلې وزن كړې اوواخلې.

اوبيع محاقله داده چي په وګو( بمبلو) كي غنم خرڅ كړې،د وګو( يعنى بمبلو) نه د وتلې شوې صفا غنمو په عوض كښې، په دې طريقه چي په وګو كي د غنمو اندازه اوكړې اوصفا غنم په وزن يا پيمانه سره واخلې،مثلا دا اندازه ئې اوكړله چي په وګوكي پنځه منه غنم دې،نود عاقد آخرنه ئې ددې عوض پنځه منه غنم وزن كړل اووائې خستل، او امام شافعى رحمه الله د پنځه وسقو نه په كم كي مزابنه اومحاقله جائز ګرځولې ده اود پنځه وسقو نه په زياتى كي ئې ناجائز ګرځولې ده اوپه پنځه وسقو كي دوه اقواله دې،يود جواز اودويم د عدم جواز.(عنايه)

****************

## ١٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الثَّمَرَةِ حَتَّى يَبْدُوَ صَلاَحُهَا

### دپوخ والي دظاهريدو نه مخكي دميوي خرڅولو دكراهت بيان

١٢٢٦_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ النَّخْلِ حَتَّى يَزْهُوَ".[1]

---

[1] _ مسلم كتاب البيوع ١٣ (١٥٣٥) . و ابي داود كتاب البيوع ٢٣ (٣٣٦٨) . و النسائی كتاب البيوع ٣٠ (٣٥٥٥) . (تحفة الأشراف : ٥٤١٥) . مسند احمد (٢/٥) و البخاری كتاب الزكاة ٥٨ (١٣٨٦) . والبيوع ٨٢ (٢١٨٣) . و٨٥ (٢١٩٣) . و-٩ (٢١٩٩) . والسلم ٣ (٢٢٤٧ و٢٢٤٩) . صحيح مسلم كتاب البيوع ١٣ . سنن ابي داود كتاب البيوع ٢٣ (٣٣٦٧) . و النسائی كتاب البيوع ٢٨ (٣٥٢٣) . و ابن ماجه كتاب التجارات ٣٢ (٢٢١٣) . موطا امام مالک كتاب البيوع ٨ (١٠) . مسند احمد (٢/٧. ٣٦. ٥٦. ٦١. ٨٠. ١٢٣) . و الدارمی كتاب البيوع ٢١ (٢٥٩٧)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په ونه کي دکجورو دخرڅولو نه منع فرمائيلي ده تردي پوري چي دا ښائسته شوي نه وي (اوپوخ والي ته رسيدلي نه وي).

*****************

۱۲۲۷/ وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى عَنْ بَيْعِ السُّنْبُلِ، حَتَّى يَبْيَضَّ، وَيَأْمَنَ الْعَاهَةَ نَهَى الْبَائِعَ، وَالْمُشْتَرِيَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَزَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، كَرِهُوا بَيْعَ الثِّمَارِ قَبْلَ أَنْ يَبْدُوَ صَلَاحُهَا وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. [1]

**ترجمه** : او په همدي سند مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دغنمو وريشو دوږو دخرڅولو نه منع فرمائيلي ده چي څو پوري پاکه شوي نه وي او دافت نه په امن کي شوي نه وي رسول الله بائع او مشتري دواړه ددي کار نه منع کړي دي.

امام ترمذي وائي دابن عمر رضي الله عنهما حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دانس، عائشه، ابوهريره، ابن عباس، جابر، ابوسعيد خدري، او زيد بن ثابت رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي په صحابه کرامو کي داهل علمو په همدي باندي عمل دي چي هغوئ دپوخ والي دظاهريدو نه مخکي دميوو خرڅول مکروه ګڼړل او همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي.

*****************

۱۲۲۸_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا أَبُو الْوَلِيدِ، وَعَفَّانُ، وَسُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ حُمَيْدٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَهَى عَنْ بَيْعِ

---

[1] _ مسلم كتاب البيوع ۱۳ (۱۵۳۵) . و ابي داود كتاب البيوع ۲۲ (۳۳۶۸) . و النسائي كتاب البيوع ۳۰ (۳۵۵۵) . (تحفة الأشراف: ۵۷۱۵) . مسند احمد (۲/۵) و البخاری كتاب الزكاة ۵۸ (۱۳۸۶) . والبيوع ۸۲ (۲۱۸۳) . و۸۵ (۲۱۹۴) . و۸۷ (۲۱۹۹) . والسلم ۳ (۲۲۴۷ و۲۲۴۹) . صحيح مسلم كتاب البيوع ۱۳ . سنن ابي داود كتاب البيوع ۲۳ (۳۳۶۷) . و النسائي كتاب البيوع ۲۸ (۳۵۲۳) . و ابن ماجه كتاب التجارات ۳۲ (۲۲۱۳) . موطا امام مالک كتاب البيوع ۸ (۱۰) . مسند احمد (۲/۷ . ۳۶ . ۵۶ . ۶۱ . ۸۰ . ۱۲۳) . و الدارمی كتاب البيوع ۲۱ (۲۵۹۷)

الْعِنَبِ حَتَّى يَسْوَدَّ، وَعَنْ بَيْعِ الْحَبِّ حَتَّى يَشْتَدَّ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ. (1)

**ترجمه** : د انس رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله ددا سي انگورو د خرڅولو نه منع فرمائيلي ده کوم چي توريدو ته رسيدلي نه وي. اود خرڅولو ددانو غلو نه څو پوري چي سختي او کلکي شوي نه وي.

امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دی، او ددي مرفوع کيدل زمونږ په نزد ثابت نه دي، مگر صرف د حماد بن سلمه سند (چي هغه يي مرفوع بيانوي).

**تشريح** : **بيع الثمر قبل بدو الصلاح**

صلاح ښکاره کيدل زمونږ په نزد دادی چي ميوې د طوفان ( سيلئ ) وغيره آفت نه اود گلئ وغيره د فساد نه محفوظ شي.

اود امام شافعی رحمهم الله په نزد د پوخوالی او خوږوالی شروع کيدل، د صلاح ښکاره کيدل دی، چي په ونو باندې د ميوو خرڅولو دوه صورتونه دی،يود ميوو ښکاره کيدلو نه وړاندې.

دويم د ميوو ښکاره کيدلو نه پس،په ړومبی صورت کي خو بالاتفاق ناجائز دی.

اوپه دويم صورت کي د صلاح ښکاره کيدلو نه پس بالاتفاق جائز دی اود صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې زمونږ په نزد جائز دی.

خود امام مالك، امام شافعی اود امام احمد رحمه الله په نزد ناجائز دی.

حاصل داچي زمونږ په نزد په ونه باندې د لگيدلو ميوو خرڅول، د صلاح ښکاره کيدلو نه پس هم جائز دی اود صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې هم جائز دی.

اود امام شافعی،امام مالك اود امام احمد رحمه الله په نزد د صلاح ښکاره کيدلو نه وړاندې خرڅول جائز نه دی،هم دا قول د شمس الائمه سرخسی رحمه الله هم دې،خو ړومبې قول يعنی په دواړه حالتونوکي د بيع جائز کيدلو قول زيات صحيح دې.(عنايه).

****************

## ١٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ بَيْعِ. حَبَلِ الْحَبَلَةِ

**دحمل دحمل دخرڅولو بيان**

1 ـ سنن ابی داود کتاب البيوع ٢٢ (٣٣٧١) . سنن ابن ماجه کتاب التجارات ٣٢ (٢٢١٧) . (تحفة الأشراف : ٦١٣)
وأخرجه: مسند احمد (٣/١١٥)

١٢٢٩ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى عَنْ بَيْعِ حَبَلِ الْحَبَلَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَحَبَلُ الْحَبَلَةِ نِتَاجُ النِّتَاجِ وَهُوَ بَيْعٌ مَفْسُوخٌ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ وَهُوَ مِنْ بُيُوعِ الْغَرَرِ، وَقَدْ رَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ وَرَوَى عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ وَغَيْرُهُ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، وَنَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذَا أَصَحُّ.[1]

**ترجمه**: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دحمل دحمل دخرڅولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، او شعبه دا حديث په سند د عن ايوب عن سعيد بن جبير عن ابن عباس سره نقل كړي دي او عبدالوهاب ثقفي وغيره په سند د عن ايوب عن سعيد بن جبير ونافع عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او دا روايت زيات صحيح دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي او دحمل دحمل نه مراد داوښ دبچي بچي دي داهل علمو په نزد دا بيع منسوخ ده او دا د دهوكي په بيوعاتو كي يوه بيعه ده، او په دي باب كي دعبدالله بن عباس او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

**دحمل او نتاج بيع**

د مارغانو د بيع دري صورتونه دي:

(١) د ښكار كولو نه وړاندي په هواكي خرڅول.

(٢) دښكار كولو نه پس په هواكي پريخودلو نه پس خرڅول.

(٣) مارغه پخپله ځي راځي، مثلاً كونتره چي پخپله ځي او پخپله راځي.

(د داسي مارغه خرڅول) په ړومبی دوه صورتونوكي بالاتفاق بيع ناجائز ده، په ړومبی صورت كي د مارغه د غير مملوك كيدلو په وجه او په دويم صورت كي د غيرمقدور التسليم كيدلو په وجه، ځكه چي په دويم صورت كي د ښكار كولو په وجه مارغه د بائع مملوك شو، خود پريخودلو په وجه غيرمقدورالتسليم شوي دي.

---

[1] ـ تفرد به المؤلف (وأخرجه النسائي في الكبرىٰ) (تحفة الأشراف: ٧٥٥٢)

اوپه دريم صورت كښې كه د مارغه د څه حيلې نه بغير نيول ممكن وى نو ددې بيع جائز ده،گنى جائز نه ده.

اود حمل يعنى د جنين اود حمل حمل بيع ناجائز ده.د حمل دبيع صورت دادې چې مثلا مشترى اووئيل: ددې اوښې يا چيلۍ په خيټه كي چې كوم بچې دې،په سلو روپو كي ما واخستلو،بائع دا قبول كړلو اود نتاج يعنى د حمل حمل بيع داده چې مشترى اووائى چې ددې اوښې په خيټه كي كه ماده بچې وى نو چې دا ماده بچې لوئې شى اوددې كوم بچې پيدا شى.ما هغه واخستلو اوبائع دا قبول كړلو.

د جاهليت په زمانه كي دا عادت وو چې يو سړى به د بل نه اوښه اخستله،په دې شرط باندې چې دا اوښه به ماسره هغه وخته پورې وى چې تركومه ددې بچې پيدا شى،بيا ددغه بچي بچې پيدا شى نو هركله چې به ددې اوښې د بچى نه بچې پيدا شولو نو دا اوښه به بائع ته واپس كولې شوه اودا اوښه به ده ملك كيدله.

(١) رسول اللهﷺ دا بيع باطل اوګرځوله اود حمل اود حمل حمل بيع نه ئې منع اوفرمائيله.

*****************

## ١٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الْغَرَرِ

### دبيعي غرر(دهوكه ) دحرمت بيان

١٢٣٠_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، أَنْبَأَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْغَرَرِ، وَبَيْعِ الْحَصَاةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا بَيْعَ الْغَرَرِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَمِنْ بُيُوعِ الْغَرَرِ بَيْعُ السَّمَكِ فِي الْمَاءِ، وَبَيْعُ الْعَبْدِ الآبِقِ، وَبَيْعُ الطَّيْرِ فِي السَّمَاءِ وَنَحْوُ ذَلِكَ مِنَ الْبُيُوعِ، وَمَعْنَى بَيْعِ الْحَصَاةِ: أَنْ يَقُولَ الْبَائِعُ لِلْمُشْتَرِي: إِذَا نَبَذْتُ إِلَيْكَ بِالْحَصَاةِ، فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ فِيمَا بَيْنِي وَبَيْنَكَ وَهَذَا شَبِيهٌ بِبَيْعِ الْمُنَابَذَةِ، وَكَانَ هَذَا مِنْ بُيُوعِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ. (١)

---

1 _ مسلم كتاب البيوع ٢ (١٥١٣) . سنن ابى داود كتاب البيوع ٢٥ (٣٣٧٦) . سنن النسائى كتاب البيوع ٢٧ (٤٥٢٢) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٢٣ (٢١٩٣) . (تحفة الأشراف : ١٣٧٩٣) . مسند احمد (٢/٢٥٠، ٣٣٦، ٤٣٦، ٤٩٦) وأخرجه مسند احمد (٢/٣٧٦)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبيع غرر او دبيع الحصاة نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دابوهريره داحديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابن عمر، ابن عباس، ابوسعيد، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي او داهل علمو په دي باندي عمل دي ددوئ په نزد بيع غرر مکروه ده، امام شافعي وائي دمهي خرڅول کله چي په اوبو کي وي او دتختيدونکي غلام خرڅول او په اسمان کي دالوتونکو مرغو خرڅول او دارنګي بعضي نور بيوعات دبيع غرر دقبيلي نه دي، او دبيع حصات مطلب دادي چي خرڅونکي اخستونکي ته اووائي چي زه کله ستا طرف ته ګيټئ دروغورځوم نو زما او ستا په مينځ کي به بيع واجب وي دا دبيع منابذه سره مشابه ده او دا دجاهليت په بيوعاتو کي يو قسم وو.

****************

## ١٨ـ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ

### په يوه بيعه کي د دوه بيعو دمما نعت بيان

١٢٣١ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ. حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ سُلَيْمَانَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرٍو، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ". وَفِي الْبَابِ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَقَدْ فَسَّرَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ قَالُوا: بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ، أَنْ يَقُولَ: أَبِيعُكَ هَذَا الثَّوْبَ بِنَقْدٍ بِعَشَرَةٍ وَبِنَسِيئَةٍ بِعِشْرِينَ، وَلَا يُفَارِقُهُ عَلَى أَحَدِ الْبَيْعَيْنِ، فَإِذَا فَارَقَهُ عَلَى أَحَدِهِمَا فَلَا بَأْسَ، إِذَا كَانَتِ الْعُقْدَةُ عَلَى أَحَدٍ مِنْهُمَا. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَمِنْ مَعْنَى نَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ أَنْ يَقُولَ: أَبِيعُكَ دَارِي هَذِهِ بِكَذَا، عَلَى أَنْ تَبِيعَنِي غُلَامَكَ بِكَذَا، فَإِذَا وَجَبَ لِي غُلَامُكَ، وَجَبَتْ لَكَ دَارِي، وَهَذَا يُفَارِقُ عَنْ بَيْعٍ بِغَيْرِ ثَمَنٍ مَعْلُومٍ، وَلَا يَدْرِي كُلُّ وَاحِدٍ مِنْهُمَا، عَلَى مَا وَقَعَتْ عَلَيْهِ صَفْقَتُهُ.[1]

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم په يوه بيعه کي د دوه بيعو کولو نه منع فرمائيلي ده، امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دعبدالله بن عمر او عبدالله بن عمرو او ابن مسعود رضي الله عنهم نه هم

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٥٠٥٠) و سنن النسائي كتاب البيوع ٧٣ (٤٦٣٦). موطا امام مالک کتاب البيوع ٣٣ (٧٢) (بلاغا) مسند احمد (٢/٣٣٢، ٤٧٥، ٥٠٣)

احاديث مروي دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي، بعضي اهل علمو په يوه بيعه كي د دوه بيعو كولو داسي تفسير كړي دي مثلا يو سړي اووائي زه په تا باندي دا جامه په نغدو په لس روپۍ خرڅوم او په قرضو يي په شل روپۍ خرڅوم او خريدار په دي دوه بيعو كي په كومه يوه باندي جدا نشي (بلكه بغير دكومي يوي د معين كولو نه په مبهمه بيعه ددي خاي نه لاړ شي) او كله چي دي په دي دوه بيعو كي په كومه يوه باندي جدا شي نو څه حرج نشته خو شرط دادي چي په دي دوه بيعو كي به كومه يوه منعقد شوي وي، امام شافعي وائي په يوه بيعه كي د دوه بيعو مفهوم دادي چي يو كس اووائي زه خپل كور په دومره پيسو په دي شرط خرڅوم چي ته به په ماباندي خپل غلام په دومره قيمت خرڅوي كله چي ستا غلام زما دپاره واجب او ثابت شي نو زما كور به هم ستا دپاره واجب اوثابت شي دا بيع دمعلوم ثمن نه بغير واقع شوي دداو په بائع او مشتري كي يو هم نه پوهيږي چي دده سودا په څه څيز واقع شوي ده.

****************

## ١٩_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ

### چي كوم څيز دچا سره موجود نه وي دهغه دخرڅولو دعدم جواز بيان

١٢٣٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ، عَنْ أَبِي بِشْرٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ: يَأْتِينِي الرَّجُلُ، يَسْأَلُنِي مِنَ الْبَيْعِ مَا لَيْسَ عِنْدِي أَبْتَاعُ لَهُ مِنَ السُّوقِ، ثُمَّ أَبِيعُهُ، قَالَ: "لَا تَبِعْ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ". قَال: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ. (1)

**ترجمه** : دحكيم بن حزام رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي زه رسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شوم او عرض مي اوكړو ماته بعضي كسان راځي او دهغه څيز دخرڅولو خبره راته كوي كوم چي زما سره نه وي نو زه دغه څيز ددوئ دپاره په بازار كي اخلم او بيا يي راوړم او په دوئ يي خرڅوم (ددي څه حكم دي) رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل كوم څيز چي تاسره نه وي دهغي بيعه مه كوه.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي.

****************

1 _ سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٠ (٣٥٠٣) . سنن النسائي كتاب البيوع ٦٠ (٤٦١٧) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٢٠ (٢١٨٧) . (تحفة الأشراف : ٣٤٣٦) . مسند احمد (٣/٤٠٢، ٤٣٤)

۱۲۳۳_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: " نَهَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْ أَبِيعَ مَا لَيْسَ عِنْدِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، قَالَ إِسْحَاق بْنُ مَنْصُورٍ: قُلْتُ لِأَحْمَدَ: مَا مَعْنَى نَهَى عَنْ سَلَفٍ، وَبَيْعٍ، قَالَ: أَنْ يَكُونَ يُقْرِضُهُ قَرْضًا، ثُمَّ يُبَايِعُهُ عَلَيْهِ بَيْعًا، يَزْدَادُ عَلَيْهِ، وَيَحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ يُسْلِفُ إِلَيْهِ فِي شَيْءٍ، فَيَقُولُ: إِنْ لَمْ يَتَهَيَّأْ عِنْدَكَ فَهُوَ بَيْعٌ عَلَيْكَ، قَالَ إِسْحَاق: يَعْنِي ابْنَ رَاهَوَيْهِ، كَمَا قَالَ: قُلْتُ لِأَحْمَدَ: وَعَنْ بَيْعِ مَا لَمْ تَضْمَنْ، قَالَ: لَا يَكُونُ عِنْدِي إِلَّا فِي الطَّعَامِ، مَا لَمْ تَقْبِضْ، قَالَ إِسْحَاق، كَمَا قَالَ: فِي كُلِّ مَا يُكَالُ أَوْ يُوزَنُ، قَالَ أَحْمَدُ: إِذَا قَالَ أَبِيعُكَ هَذَا الثَّوْبَ، وَعَلَيَّ خِيَاطَتُهُ وَقَصَارَتُهُ، فَهَذَا مِنْ نَحْوِ شَرْطَيْنِ فِي بَيْعٍ، وَإِذَا قَالَ: أَبِيعُكَهُ وَعَلَيَّ خِيَاطَتُهُ، فَلَا بَأْسَ بِهِ، أَوْ قَالَ: أَبِيعُكَهُ وَعَلَيَّ قَصَارَتُهُ، فَلَا بَأْسَ بِهِ، إِنَّمَا هُوَ شَرْطٌ وَاحِدٌ. (1)

**ترجمه** : دحکيم بن حزام رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه دهغه څيز دخرڅولو نه منع کړي يم کوم چي زما سره موجود نه وي.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي داسحاق بن منصور قول دي ما دامام احمد بن حنبل نه دبيعي سره دقرض متعلق مسئلي تپوس اوکړو چي ددي څه مطلب دي هغه اووئيل ددي صورت دادي چي څوك يو سړي ته قرض ورکړي او بيا ورسره سودا اوکړي او دقيمت سامان زيات واخلي او دا احتمال هم شته چي څوك په کوم څيز کي سلف اوکړي او داسي اووائي که چري تا سره پيسي پيدا نشوي نو ته به دا سامان په ماباندي خرڅوي داسحاق بن راهويه هم دا قول دي، اسحاق بن منصور اووئيل ما دامام احمد نه دداسي څيز دخرڅولو باره کي تپوس اوکړو دکوم چي بائع ضامن نه وي نو هغوئ په جواب کي اووئيل دا ممانعت زما په نزد صرف دطعام په بيع کي دي چي څو پوري قبض شوي نه وي يعني دضمان نه قبضه مراد ده .اسحاق بن راهويه هم داسي وائي څنګه چي امام احمد وائي ليکن دا ممانعت په هرهغه څيز کي وي کوم چي مکيلي يا موزوني وي امام احمد بن حنبل وائي کله چي بائع اووائي زه به تا باندي دا جامه په دي شرط خرڅوم چي ددي ګنډل او وينځل به زما په ذمه وي نو دبيعي دا شکل په يوه بيعه کي د دوه شرطونو دقبيلي نه دي، او کله چي بائع داسي اووائي زه دا جامه په تاباندي په دي شرط خرڅوم چي ددي ګنډل به زما په ذمه وي او يا داسي اووائي دا کپړه په دي شرط په تا

---

1 _ سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٠ (٣٥٠٣) . سنن النسائي كتاب البيوع ٦٠ (٤٦١٧) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٢٠ (٢١٨٧) . (تحفة الأشراف : ٣٤٣٦) . مسند احمد (٤٠٢/٣، ٤٣٤)

خرخوم چي ددي وينځل به زما په ذمه وي نو په دي بيعه کي هيڅ قباحت نشته دا خو صرف يو شرط دي امام احمد چي څنګه وائي داسي قول داسحاق بن راهويه هم دي.

## دحديث دراوي حکيم بن حزام رضي الله عنه حالات

نوم حکيم کنيه ابو خالد او په قريشو کي داسدي قبيلي سره تعلق لري او د ام المؤمنين خديجه رضي الله عنه وراره وو دفيل دواقعي نه ديارلس کاله مخکي په کعبه کي پيدا شوى دى دجاهليت او داسلام په دواړو زمانو کي به ورته دعزت په نظر کتلى شول او وروسته يي اسلام هم ډير ښکلى وو په صحابه کرامو به يي دفاضل او سمجدار مرتبه وه په شروع کي په مؤلفة القلوب کي وو او دجاهليت په زمانه کي يي سل غلامان ازاد کړي وو او داسلام په زمانه کي يي بياهم سل غلامان ازاد کړل په ۵۴هجري کي ديوسل او شلو کلونو په عمر کي په مدينه کي وفات شو.

*****************

۱۲۳۴ــ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ إِبْرَاهِيمَ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ شُعَيْبٍ، قَالَ: حَدَّثَنِي أَبِي، عَنْ ابيهِ، حَتَّى ذَكَرَ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرٍو، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا يَحِلُّ سَلَفٌ، وَبَيْعٌ وَلَا شَرْطَانِ فِي بَيْعٍ، وَلَا رِبْحُ مَا لَمْ يُضْمَنْ، وَلَا بَيْعُ مَا لَيْسَ عِنْدَكَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. قَدْ رُوِيَ عَنْهُ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، رَوَى أَيُّوبُ السَّخْتِيَانِيُّ، وَأَبُو بِشْرٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى هَذَا الْحَدِيثَ عَوْفٌ، وَهِشَامُ بْنُ حَسَّانَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ، إِنَّمَا رَوَاهُ ابْنُ سِيرِينَ، عَنْ أَيُّوبَ السَّخْتِيَانِيِّ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ.[1]

**ترجمه**: دعبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دبيعي سره قرض جائز نه دي او نه په يوه بيعه کي دوه شرطونه جائز دي او نه دداسي څيز نه فائده اخستل جائز دي دکوم چي هغه ضامن نه وي او نه دداسي څيز بيعه جائز ده کوم چي تاسره نه وي.

[1] ـ سنن ابی داود کتاب البيوع ۷۰ (۳۵۰۳). سنن النسائی کتاب البيوع ۶۰ (۴۶۱۵). سنن ابن ماجه کتاب التجارات ۲۰ (۲۱۸۸). (تحفة الأشراف: ۸۶۶۴). مسند احمد (۲/۱۷۹)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي، او دحكيم بن حزام حديث حسن دي دا حديث دحكيم بن حزام نه په نورو سندونو هم مروي دي دا حديث ايوب سختياني او ابوبشر ديوسف بنت ماهك نه او هغه دحكيم بن حزام نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او داحديث مرسل منقطع دي په اصل كي ابن سيرين دايوب سختياني نه او هغه ديوسف بن ماهك نه او هغه دحكيم بن حزام نه همداسي نقل كړي دي.

*****************

١٢٣٥ـ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، وَعَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ أَبُو سَهْلٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا عَبْدُ الصَّمَدِ بْنُ عَبْدِ الْوَارِثِ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: " نَهَانِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَبِيعَ مَا لَيْسَ عِنْدِي ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَرَوَى وَكِيعٌ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ ابْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، وَلَمْ يَذْكُرْ فِيهِ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، وَرِوَايَةُ عَبْدِ الصَّمَدِ أَصَحُّ وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يَعْلَى بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ يُوسُفَ بْنِ مَاهَكَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عِصْمَةَ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، كَرِهُوا أَنْ يَبِيعَ الرَّجُلُ مَا لَيْسَ عِنْدَهُ.[1]

**ترجمه** : دحكيم بن حزام رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه دهغه څيز دخرڅولو نه منع كړي يم كوم چي زما سره نه وي.

امام ترمذي وائي وكيع دا حديث په سند د يزيد بن ابراهيم عن ابن سيرين عن ايوب عن حكيم بن حزام سره نقل كړي دي او په دي كي يي ديوسف بن ماهك واسطه نه ده ذكر كړي، دعبدالصمد روايت زيات صحيح دي (په كومه كي چي دابن سيرين ذكر دي) او يحىٰ بن كثيردا حديث په سند د يعلي بن حكيم عن يوسف بن ماهك عن عبدالله بن عصمة عن حكيم بن حزام عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي، داكثرو اهل علمو په همدي حديث عمل دي ددوئ په نزد دداسي څيز بيعه مكروه ده كوم چي دخرڅونكي سره نه وي.

*****************

[1] ـ سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٠ (٣٥٠٣)، سنن النسائي كتاب البيوع ٦٠ (٤٦١٧)، سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٢٠ (٢١٨٧)، (تحفة الأشراف: ٣٤٣٦)، مسند احمد (٣/٤٠٢، ٤٣٤)

## ٢٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَهِبَتِهِ

### دميراث ولاء دخرڅولو او ددي دهبه كولو دكراهت بيان

١٢٣٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، وَشُعْبَةُ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَهِبَتِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَقَدْ رَوَى يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْوَلَاءِ وَهِبَتِهِ"، وَهُوَ وَهْمٌ وَهِمَ فِيهِ يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، وَرَوَى عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، وَعَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ دِينَارٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سُلَيْمٍ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دولاء خرڅولو او هبه كولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دا مونږ ته صرف دعبدالله بن دينار په سند رارسيدلي دي كوم چي هغه دابن عمر نه نقل كړي دي، او يحیٰ بن سليم دا حديث په سند د عبيدالله بن عمرو عن نافع عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي چي رسول الله دولاء دخرڅولو او هبه كولو نه منع فرمائيلي ده، په دي سند كي وهم دي، ددي په سند كي يحیٰ بن سليم ته وهم شوي دي، عبدالوهاب ثقفي او عبدالله بن نمير او بعضي نورو راويانو په سند دعبيدالله بن عمر عن عبدالله بن دينار عن ابن عمر عن النبي صلي الله عليه وسلم سره نقل كړي دي او ديحي بن سليم حديث زيات صحيح دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي.

***************

1 ـ البخاری کتاب العتق ١٠(٢٥٣٥) . و الفرائض ٢١ (٦٧٥٦) . صحیح مسلم کتاب العتق ٣ (١٥٠٦) . سنن ابی داود کتاب الفرائض ١٣ (٢٩١٩) . سنن النسائی کتاب البیوع ٨٧ (٤٦٦٦) . سنن ابن ماجه کتاب الفرائض ١٥ (٢٧٤٧) . ويأتي برقم (٢١٢٦) . (التحفه: ٧١٥، و٧١٨٩) . و موطا امام مالک کتاب العتق ١٠ (٢٠) . و مسند احمد (٢/٩، ٧٩، ١٠٧) . سنن الدارمی کتاب البیوع ٣٦ (٢٦١٣) . والفرائض ٥٣ (٣٢٠٠)

## ۲۱ـ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً

### ديو ځاروي په بل ځاروي په قرضو خرڅولو دكراهت بيان

۱۲۳۷ـ حَدَّثَنَا أَبُو مُوسَى مُحَمَّدُ بْنُ مُثَنَّى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " نَهَى عَنْ بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَجَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَسَمَاعُ الْحَسَنِ مِنْ سَمُرَةَ صَحِيحٌ، هَكَذَا قَالَ: عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ وَغَيْرُهُ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. فِي بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. فِي بَيْعِ الْحَيَوَانِ بِالْحَيَوَانِ نَسِيئَةً، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَإِسْحَاق. (۱)

**ترجمه** : دسمره رضي الله عنه بيان دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم دقرض په صورت كي ديو ځاروي په بل ځاروي دخرڅولو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دسمره حديث حسن صحيح دي او دحسن سماع دسمره نه ثابت ده، علي بن مديني وغيره هم داسي وئيلي دي، او په دي باب كي دابن عباس، جابر، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، په صحابه كرامو او ددوئ نه پس اهل علمو ديو ځاروي په بل ځاروي په قرضو خرڅولو په صورت كي په همدي حديث عمل دي او دسفيان ثوري او اهل كوفه هم دا قول دي او امام احمد بن حنبل هم ددي قائل دي مگر په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضو ددي اجازت وركړي دي او همدا دامام شافعي او اسحاق بن راهويه قول هم دي.

*****************

۱۲۳۸ـ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ نُمَيْرٍ، عَنِ الْحَجَّاجِ وَهُوَ ابْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْحَيَوَانُ اثْنَانِ بِوَاحِدٍ لَا يَصْلُحُ نَسِيئًا، وَلَا بَأْسَ بِهِ يَدًا بِيَدٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (۲)

---

[1] ـ سنن ابي داود كتاب البيوع ۱۵ (۳۳۵۶) . سنن النسائي كتاب البيوع ۶۵ (۴۶۲۳) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ۵۶ (۲۲۷۰) . (تحفة الأشراف : ۴۵۸۳) . مسند احمد (۵/۱۲، ۲۱، ۲۲)

[2] ـ سنن ابن ماجه كتاب التجارات ۵۶ (۲۲۷۱) . (تحفة الأشراف : ۲۶۷۶)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بیان دي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي دوه ځاروي په یو ځاروي په قرضو خرڅول درست نه دي او لاس په لاس خرڅولو کي څه قباحت نشته.

امام ترمذي وائي دا حدیث حسن صحیح دي.

****************

## ۲۲ـ باب مَا جَاءَ فِي شِرَاءِ الْعَبْدِ بِالْعَبْدَيْنِ

### یوغلام په دوه غلامانو دا خستلو بیان

۱۲۳۹ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، أَخْبَرَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: جَاءَ عَبْدٌ فَبَايَعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْهِجْرَةِ، وَلَا يَشْعُرُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ عَبْدٌ، فَجَاءَ سَيِّدُهُ يُرِيدُهُ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "بِعْنِيهِ فَاشْتَرَاهُ بِعَبْدَيْنِ أَسْوَدَيْنِ". ثُمَّ لَمْ يُبَايِعْ أَحَدًا بَعْدُ حَتَّى يَسْأَلَهُ أَعَبْدٌ هُوَ. قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّهُ لَا بَأْسَ بِعَبْدٍ بِعَبْدَيْنِ يَدًا بِيَدٍ، وَاخْتَلَفُوا فِيهِ إِذَا كَانَ نَسِيئًا. ([1])

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي یو غلام راغلو او دنبي کریم صلي الله علیه وسلم سره یي په هجرت باندي بیعت اوکړو رسول الله صلي الله علیه وسلم وباندي پوهه نشو چي دا غلام دي په دي دوران کي دده مالك راغي او دده مطالبه یي کوله رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته اوفرمائیل ته دي په ماباندي خرڅ کړه چنانچه ده لره رسول الله صلي الله علیه وسلم په دوه تورو غلامانو واخستلو او بیا به ددینه پس رسول الله د دچا سره هغه وخته پوري بیعت نه کولو چي څو پوري به یي معلومه کړي نه وه چي دا غلام دي

امام ترمذي وائي دجابر حدیث حسن صحیح دي او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم روایت وارد دي داهل علمو په همدي باندي عمل دي چي یو غلام په دوه غلامانو په نقد اخستلو کي څه باك نشته او چي کله قرض وي نو په دي کي اختلاف دي.

****************

[1] ـ مسلم کتاب المساقاة ۲۳ (البیوع ۴۴) . (۱۶۰۲) . و ابی داود کتاب البیوع ۱۷ (۳۳۵۸) . و النسائی کتاب البیعة ۲۱ (۴۱۸۹) . و البیوع ۶۶ (۴۶۲۵) . سنن ابن ماجه کتاب الجهاد ۴۱ (۲۸۶۹) . مسند احمد (۳/۳۴۲) . ویأتي عند المؤلف في السیر ۳۶ (۱۵۹۶) . (تحفة الأشراف : ۲۹۰۳)

## ٢٣_ بَاب مَا جَاءَ أَنَّ الْحِنْطَةَ بِالْحِنْطَةِ مِثْلاً بِمِثْلٍ وَكَرَاهِيَةِ التَّفَاضُلِ فِيهِ

**دغنمو په غنمو برابر خرڅولو او په دي کي دکمي او زياتي کولو درست نه کيدلو بيان**

١٢٤٠_ حَدَّثَنَا سُوَيْدُ بْنُ نَصْرٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ الْمُبَارَكِ، أَخْبَرَنَا سُفْيَانُ، عَنْ خَالِدٍ الْحَذَّاءِ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ، عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالفِضَّةُ بِالفِضَّةِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالبُرُّ بِالبُرِّ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ مِثْلًا بِمِثْلٍ، فَمَنْ زَادَ أَوِ ازْدَادَ، فَقَدْ أَرْبَى بِيعُوا الذَّهَبَ بِالْفِضَّةِ، كَيْفَ شِئْتُمْ يَدًا بِيَدٍ، وَبِيعُوا الْبُرَّ بِالتَّمْرِ كَيْفَ شِئْتُمْ يَدًا بِيَدٍ، وَبِيعُوا الشَّعِيرَ بِالتَّمْرِ، كَيْفَ شِئْتُمْ يَدًا بِيَدٍ ". قَالَ: وَفِي البَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَبِلَالٍ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عُبَادَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ خَالِدٍ بِهَذَا الإِسْنَادِ، وَقَالَ: بِيعُوا الْبُرَّ بِالشَّعِيرِ، كَيْفَ شِئْتُمْ يَدًا بِيَدٍ، وَرَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ خَالِدٍ، عَنْ أَبِي قِلَابَةَ، عَنْ أَبِي الْأَشْعَثِ، عَنْ عُبَادَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْحَدِيثَ وَزَادَ فِيهِ، قَالَ خَالِدٌ: قَالَ أَبُو قِلَابَةَ: " بِيعُوا الْبُرَّ بِالشَّعِيرِ كَيْفَ شِئْتُمْ. فَذَكَرَ الْحَدِيثَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، لَا يَرَوْنَ أَنْ يُبَاعَ الْبُرُّ بِالْبُرِّ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، فَإِذَا اخْتَلَفَ الْأَصْنَافُ فَلَا بَأْسَ، أَنْ يُبَاعَ مُتَفَاضِلًا إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ ". وَهَذَا قَوْلُ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَالْحُجَّةُ فِي ذَلِكَ، قَوْلُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " بِيعُوا الشَّعِيرَ بِالْبُرِّ كَيْفَ شِئْتُمْ يَدًا بِيَدٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ أَنْ تُبَاعَ الْحِنْطَةُ بِالشَّعِيرِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَهُوَ قَوْلُ: مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ.(١)

**ترجمه** : دعبيده بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سره زر په سرو زرو او سپين زر په سپينو زرو کجوري په کجرو او غنم په غنمو او مالګه په مالګي او وربشي په وربشو برابر په برابر خرڅ کړئ او چاچي زيات ورکړو او يايي

---

[1] _ صحيح مسلم كتاب المساقاة ١٥ (البيوع ٣٦) . (١٥٨٧) . سنن ابي داود كتاب البيوع ١٢ (٣٣٤٩، ٣٣٥٠) . سنن النسائى كتاب البيوع ٤٣ (٤٥٦٧) . (تحفة الأشراف : ٥٠٨٩) . مسند احمد (٥/٣١٤، ٣٢٠) و سنن النسائى كتاب ٤٢ (٤٥٦٤، ٤٥٦٥) سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٤٨ (٢٢٥٤)_

زيات واخستلو هغه دسود معامله اوكړه، سره زر په سروزرو او سپين زر په سپينو زرو نقد په نقد څنګه چي تاسو غواړئ هغه شان يي خرڅ كړئ غنم په كجورو نقد په نقد چي څنګه مو خوښه وي خرڅ كړئ او وربشي په كجورو نقد په نقد چي څنګه مو خوښه وي هغه شان يي خرڅ كړئ

امام ترمذي وائي دعباده حديث حسن صحيح دي، بعضي راويانو داحديث دخالد نه په همدي سند نقل كړي دي او په دي روايت كي داسي دي غنم په وربشو نقد په نقد څنګه چي مو خوښه وي خرڅ كړئ، بعضي راويانو داحديث دخالد نه او هغه دابوقلابه نه او هغه دابوالاشعث نه او هغه دعباده نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي او په دي كي دا اضافه ده خالد وائي چي ابوقلابه اووئيل غنم په وربشو چي څنګه ستاسو خوښه وي خرڅولي شئ او بيا يي پوره حديث ذكر كړو، په دي باب كي دابوسعيد خدري، ابوهريره، بلال، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علموپه همدي باندي عمل دي دوئ وائي چي غنم په وربشو او وربشي په اوربشو برابر په برابر خرڅول جائز دي او كله چي اجناس مختلف وي نو په كمي زياتي سره خرڅولو كي څه باك نشته خو شرط دادي چي نقد په نقد وي په صحابه كرامو كي داهل علمو هم دا قول دي سفيان ثوري او امام شافعي، احمد او اسحاق رحمهم الله هم په دي باندي قول كړي دي ، امام شافعي وائي ددي خبري دليل دا ارشاد نبوي دي چي وربشي په غنمو نقد په نقد چي څنګه ستاسو خوښه وي خرڅ كړئ، او داهل علمو يو جماعت په وربشو او غنم اخستل مكروه ګڼړلي دي مګر دا چي وزن مساوي وي ليكن اولني قول زيات صحيح دي.

**تشريح** : رباء په هرمكيلى او موزونى شى كي حرام ده،په دې شرط چي ددې د جنس په عوض كمى زياتى سره خرڅ كړې شى نو زمونږ په نزد د رباء علت " كيل مع الجنس " يا " وزن مع الجنس " دې يعنى په كومو دوه څيزونوكي چي مبادله شوې ده،هغه دواړه مكيلى وى،يا موزونى وى،خو ددې دواړو جنس يووى اوكه دواړه عوضونه موزونى وى،جنس يو نه وى،مثلاً سره زر او سپين زر،يا دواړه مكيلى وى،خوجنس يو نه وى لكه غنم او اوربشې نو ددې دواړو په مينځ كي ربوا او زياتوالې حرام نه دې.

قدر چونكه كيل او وزن دواړو ته شامل دې،په دې وجه دا هم وئيلې شى چي علت د ربوا " قدرمع الجنس " دې،د " قدر مع الجنس " د ربوا په علت كيدلوكي اصل حديث مشهور دې،دا حديث شپاړس صحابه كرامو روايت كړې دې.

(( عن ابى سعيدالخدرىؓ عن رسول اللهﷺ أنه قال ألذهب بألذهب مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربوا.والفضة بألفضة مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربوا.والحنطة بألحنطة مثلاً بمثل يداً

بيد والفضل ربوا. والشعير بالشعير مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربوا. والملح بالملح مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربوا. والتمر بالتمر مثلاً بمثل يداً بيد والفضل ربوا))

د عباده بن الصامت رضي الله عنه د حديث الفاظ دادي:

((قال رسول الله ﷺ الذهب بالذهب والفضة بالفضة والبر بالبر والشعير بالشعير والتمر بالتمر والملح بالملح مثلاً بمثل سواء بسواء يداً بيد فاذا اختلف هذه الأصناف فبيعوا كيف شئتم إذا كان يدا بيد))

دا حديث د اعراب په اعتبارسره په دوه طريقو نقل دي،يوخو كلمات سته او لفظ مثل په رفع سره دى،په دې صورت كې به مضاف مقدر وى،تقدير عبارت به داسې وى،((بيع التمر بالتمر يا بيع الذهب بالذهب مثل بمثل)) بيع التمر به مبتدا وى اومثل به ددې خبر وى،په دويم روايت كې داكلمات او لفظ د مثل منصوب دي،په دې صورت كې به فعل امر بيعوا مقدر وى،تقدير د عبارت به داسې وى،((بيعوا التمر "ألحديث)) دا كلمات په د بيعوا مفعول كيدلو په وجه منصوب وى اولفظ مثلاً به حال كيدلو په وجه منصوب وى،په حديث كې مثلاً بمثل نه مراد دادې چې دواړه عوض كيل يا وزن كې برابر وى اود يداً بيد نه مراد دادې چې په دواړه عوضونوكښې په مجلس عقدكې قبضه اوشى،حاصل داچې اتحاد قدر اود اتحاد جنس په صورت كښې په عوضين كې د كيل يا وزن په اعتبارسره برابرى هم شرط ده اوپه عوضينو باندې قبضه هم شرط دې.

## دعباده بن صامت رضي الله عنه حالات:

نوم عباده كنيه ابو الوليد په بني خزرج كې يې دسالم خاندان سره تعلق دى دپلار نوم يې صامت او دمور نوم يې قرة العين وو، په غزوه بدر او ددينه پس په تمامو غزواتو كې شريك پاتې شوى دى او په بيعة الرضوان كې هم موجود وو (طبقات ابن سعد).

خلافت صديقي او فاروقي كې هم په جنګونو كې شريك پاتې شوى دى.

عمرفاروق رضي الله عنه دخپل خلافت په زمانه كې دى دفلسطين قاضي مقرر كړى دى عباده د حفاظو صحابه كرامو دجملې نه وو چې اصحاب صفه ته به يې دقرائت تعليم وركولو (مسند احمد).

عمرفاروق رضي الله عنه دى په شام كې دمسلمانانو دتعليم دپاره متعين كړى وو دقرائت نه علاوه په فقه كې ورته هم كمال حاصل وو يوځل قتاده دعباده ملاقات ته لاړو نو ويې وئيل "وكان قد تفقه في دين الله" يعني عباده دالله په دين كې مهارت حاصل كړى وو.

وفات: د دوه اوياكالو په عمر كې دهجرت په ۳۴كال وفات شو دوفات وخت يې چې نزدې شو

نو يو خوي يي ورته دوصيت كولو درخواست اوكړو نو ويې فرمائيل مانيغ كينوئ او بيايي ددينه پس اوفرمائيل اى بچيه په تقدير به يقين ساتي ورنه ايمان ته دي خيرنشته (مسند احمد).

دده د دفن كيدو دځاي په باره كي دعلماؤ دري اقوال دي ، اول ابن سعد رمله مقام ليكلى دى، دويم بعضي علماؤ بيت المقدس ليكلى دى او امام بخاري فلسطين ليكلى دى، ددي دري واړو په حقيقت كي څه اختلاف نشته ځكه چي رمله په فلسطين كي يوه صوبه ده او بيت المقدس هم يوه ضلع ده دده درورايت شمير ۱۸۱ دى چي شپږ متفق عليه دي او دوه صرف بخاري نقل كړي دي.

****************

## ٢٤_ بَاب مَا جَاءَ فِي الصَّرْفِ

### دصرف بيان

١٢٤١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، أَخْبَرَنَا حُسَيْنُ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا شَيْبَانُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ نَافِعٍ، قَالَ: انْطَلَقْتُ أَنَا وَابْنُ عُمَرَ، إلى أبي سعيد فحدثنا، أن رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَمِعَتْهُ أُذُنَايَ هَاتَانِ، يَقُولُ: "لَا تَبِيعُوا الذَّهَبَ بِالذَّهَبِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، وَالْفِضَّةَ بِالْفِضَّةِ إِلَّا مِثْلًا بِمِثْلٍ، لَا يُشَفُّ بَعْضُهُ عَلَى بَعْضٍ، وَلَا تَبِيعُوا مِنْهُ غَائِبًا بِنَاجِزٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي بَكْرٍ، وَعُمَرَ، وَعُثْمَانَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَهِشَامِ بْنِ عَامِرٍ، وَالْبَرَاءِ، وَزَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ، وَفَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، وَأَبِي بَكْرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي الدَّرْدَاءِ، وَبِلَالٍ، قَالَ: وَحَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الرِّبَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، إِلَّا مَا رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ كَانَ لَا يَرَى بَأْسًا أَنْ يُبَاعَ الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ مُتَفَاضِلًا، وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ مُتَفَاضِلًا، إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ، وقَالَ: إِنَّمَا الرِّبَا فِي النَّسِيئَةِ، وَكَذَلِكَ رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِهِ شَيْءٌ مِنْ هَذَا، وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّهُ رَجَعَ عَنْ قَوْلِهِ، حِينَ حَدَّثَهُ أَبُو سَعِيدٍ الْخُدْرِيُّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْقَوْلُ الْأَوَّلُ أَصَحُّ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: لَيْسَ فِي الصَّرْفِ اخْتِلَافٌ.[1]

---

[1] _ البخارى كتاب البيوع ٧٨ (٢١٧٤) ، صحيح مسلم كتاب المساقاة ١٣ (البيوع ٣٥) ، (١٥٨٣) ، سنن النسائى كتاب البيوع ٤٧ (٤٥٧٣) ، (تحفة الأشراف : ٣٣٨٥) ، موطا امام مالک کتاب البيوع ١٦ (٣٠) ، مسند احمد (٣/٤، ٥١، ٦١)

**ترجمه** : دنافع بيان دي چي زه او ابن عمر رضي الله عنه ابوسعيد خدري رضي الله عنه ته ورغلم هغه مونږ ته حديث بيان کړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي او زما دواړو غوږونو اوريدلي دي سره زر په سرو زرو برابر په برابر خرڅ کړئ او سپين زر په سپينو زرو برابر په برابر خرڅ کړئ او ديو نه دي په بل کي کمي او زيادت اونکړي شي او غير موجود په موجود مه خرڅوئ

امام ترمذي وائي دربا په سلسله کي دابوسعيد خدري رضي الله عنه هغه حديث کوم چي هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي حسن صحيح دي، او په دي باب کي دابوبکر، عمر، عثمان، ابوهريره، هشام بن عامر، زيد بن ارقم، فضاله بن عبيد، ابوبکره، ابن عمر، او ابو الدرداء او بلال رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، په صحابهٔ کرامو او ددوئ نه پس په خلقو کي اهل علمو په دي باندي عمل دي مګر کوم حديث چي دابن عباس نه مروي دي چي سره زر په سرو زرو او سپين زر په سپينو زرو دکمي او زيادت په صورت کي خرڅولو کي څه باك نشته خو دا هله کله چي بيعه نقد وي ابن عباس به دا هم وئيل چي سود خو په قرض ورکولو دي او ددي هم معني روايت دهغه دبعضي ملګرو نه هم مروي دي، دابن عباس نه دا هم مروي دي ابوسعيد خدري رضي الله عنه چي کله دنبي کريم صلي الله عليه وسلم حديث بيان کړو نو هغه دخپل قول نه رجوع اوکړه، اولني قول زيات صحيح دي او داهل علمو په همدي باندي عمل دي او همدا دسفيان ثوري او ابن مبارك او شافعي او احمد او اسحاق قول هم دي، ابن مبارك به وئيل په صرف کي دهيڅا اختلاف نشته.

*****************

١٢٤٢ـ حَدَّثَنَا الحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الخَلَّالُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: كُنْتُ أَبِيعُ الإِبِلَ بِالبَقِيعِ فَأَبِيعُ بِالدَّنَانِيرِ، فَآخُذُ مَكَانَهَا الوَرِقَ، وَأَبِيعُ بِالوَرِقِ فَآخُذُ مَكَانَهَا الدَّنَانِيرَ، فَأَتَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدْتُهُ خَارِجًا مِنْ بَيْتِ حَفْصَةَ، فَسَأَلْتُهُ عَنْ ذَلِكَ، فَقَالَ: "لَا بَأْسَ بِهِ بِالقِيمَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَرَوَى دَاوُدُ بْنُ أَبِي هِنْدٍ هَذَا الحَدِيثَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ مَوْقُوفًا، وَالعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ العِلْمِ، أَنْ لَا بَأْسَ أَنْ يَقْتَضِيَ الذَّهَبَ مِنَ الوَرِقِ وَالوَرِقَ، مِنَ الذَّهَبِ وَهُوَ قَوْلُ:

أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ ذٰلِكَ. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي فرمائي چي ما دبقيع په بازار کي اوښ خرڅولو او په دينارونو مي خرڅولو او دهغي په بدل کي به مي سپين زر اخستل او چي په سپينو زرو يي خرڅ کړم نو دهغي په بدل کي مي دينارونه اخستل زه درسول الله صلي الله عليه وسلم په خدمت کي حاضر شوم او ما هغه اوليدلو چي هغوئ دحفصه رضي الله عنها دکور نه راووتلو نو ما ورنه په دي باره کي تپوس اوکړو راته يي اوفرمائيل په قيمت سره داسي کولو کي هيڅ باك نشته.

امام ترمذي وائي مونږ ته دا حديث صرف دسماك بن حرب په سند مرفوع رارسيدلي دي سماك دا روايت دسعيد بن جبير نه او سعيد دابن عمر نه نقل کړي دي او داود بن ابي هند دسعيد بن جبير نه او سعيد دابن عمر نه موقوفاً نقل کړي دي دبعضي اهل علمو عمل هم په دي حديث باندي دي چي که څوك دسرو زرو په بدل کي سپين زر واخلي او يا دسپينو زرو په بدل کي سره زر واخلي نو هيڅ باك نشته همدا دامام احمد او اسحاق قول هم دي او په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضو دا مکروه ګنړلي دي.

****************

١٢٤٣_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَوْسِ بْنِ الْحَدَثَانِ، أَنَّهُ قَالَ: أَقْبَلْتُ أَقُولُ مَنْ يَصْطَرِفُ الدَّرَاهِمَ. فَقَالَ طَلْحَةُ بْنُ عُبَيْدِ اللّٰهِ وَهُوَ عِنْدَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ: أَرِنَا ذَهَبَكَ، ثُمَّ ائْتِنَا إِذَا جَاءَ خَادِمُنَا نُعْطِكَ وَرِقَكَ. فَقَالَ عُمَرُ: كَلَّا وَاللّٰهِ لَتُعْطِيَنَّهُ وَرِقَهُ، أَوْ لَتَرُدَّنَّ إِلَيْهِ ذَهَبَهُ، فَإِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "الْوَرِقُ بِالذَّهَبِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ، وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ رِبًا إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى:

---

[1] _ ابي داود كتاب البيوع ١٣ (٣٣٥٤) . و النسائي كتاب البيوع ٥٠ (٤٥٨٦) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٥١ (٢٢٦٢) . (تحفة الأشراف : ٧٠٥٣) . مسند احمد (٢/٣٣، ٥٩، ٩٩، ١٠١، ١٣٩)

هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: إِلَّا هَاءَ وَهَاءَ يَقُولُ يَدًا بِيَدٍ. (1)

**ترجمه**: دمالك بن اوس بن حدثان بيان دي چي ما په بازار كي دا واوريدل درهمونه په دينار څوك بدلوي نو طلحه بن عبيدالله اووئيل او هغه دعمر رضي الله عنه سره وو ماته خپل سره زر اوښايه كله چي زمونږ خادم راشي نو ته بيا مونږ ته راشه (ددي په بدل كي به تاته سپين زر دركړي ددي خبري اوريدو كي عمر رضي الله عنه اووئيل په الله قسم داسي هرګز نشي كيدي ده ته به سپين زر وركوي او كه داسي نه كوي نو خپله سونه ورته واپس كړه ځكه چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دسرو زرو په بدل كي سپين زر اخستل سود دي مګر دا چي لاس په لاس وي، دغنمو په بدل كي غنم اخستل سود دي مګر هغه وخت كي سود نه دي كله چي لاس په لاس وي او د وربشو په بدل كي وربشي اخستل سود دي خو چي كله لاس په لاس وي نو سود نه دي او دكجورو په بدل كي كجوري اخستل سود دي مګر دا چي كله په يو لاس وركړي او په بل يي واخلي نو بيا سود نه دي.

*****************

## ٢٥ـ بَاب مَا جَاءَ فِي ابْتِيَاعِ النَّخْلِ بَعْدَ التَّأْبِيرِ وَالْعَبْدِ وَلَهُ مَالٌ

**په ونوكي دپيوند لګولو نه پس دكجورو دونو خرڅول او دداسي غلام خرڅول دچا سره چي مال وي**

١٢٤٤ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: " مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلَّذِي بَاعَهَا، إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ، وَمَنِ ابْتَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلَّذِي بَاعَهُ، إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَحَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. هَكَذَا رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: " مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا بَعْدَ أَنْ تُؤَبَّرَ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ، وَمَنْ بَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلَّذِي بَاعَهُ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ

---

1 ـ صحيح البخاري كتاب البيوع ٥٣ (٢١٣٤)، و٧٤ (٢١٧٠)، و٧٦ (٢١٧٤)، صحيح مسلم كتاب المساقاة (البيوع ٣٤) (١٥٨٦)، سنن ابي داود كتاب البيوع ٣٣٤٨، سنن النسائي كتاب البيوع ١٧ (٣٨)، (تحفة الأشراف: ١٠٦٣٠)، مسند احمد (١كتاب ٢٤، ٢٥، ٣٥)، سنن الدارمي كتاب البيوع ٤١ (٢٦٢٠)

الْمُبْتَاعُ". وَقَدْ رُوِيَ عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "مَنِ ابْتَاعَ نَخْلًا قَدْ أُبِّرَتْ فَثَمَرَتُهَا لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ"، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ عُمَرَ أَنَّهُ قَالَ: "مَنْ بَاعَ عَبْدًا وَلَهُ مَالٌ فَمَالُهُ لِلْبَائِعِ إِلَّا أَنْ يَشْتَرِطَ الْمُبْتَاعُ". هَكَذَا رَوَاهُ عُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَغَيْرُهُ، عَنْ نافع، الحديثين. وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا. وَرَوَى عِكْرِمَةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوَ حَدِيثِ سَالِمٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْمَاعِيل: حَدِيثُ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَالِمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَصَحُّ مَا جَاءَ فِي هَذَا الْبَابِ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي چاچي د تابير (پيوند لګولو) نه پس دکجوري ونه واخستله نو ددي ميوه به دخرڅونکي وي مګر هله چي اخستونکي داخستلو وخت کي دميوي شرط مقرر کړي وي او که چا کوم داسي غلام واخستلو دچا سره چي مال وي نو دده مال به دخرڅونکي وي مګر دا چي اخستونکي شرط لګولي وي.

امام ترمذي وائي د ابن عمر حديث حسن صحيح دي دارنګي په نورو سندونو هم دا حديث دزهري نه او هغه دسالم نه او هغه دابن عمر رضي الله عنهما نه او هغه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي چي فرمائيل يي چاچي دپيوند لګولو نه پس دکجوري ونه واخستله نو ددي ميوه به دخرڅونکي وي مګر دا چي اخستونکي دميوي شرط لګولي وي او چاچي يو داسي غلام واخستلو دکوم سره چي مال وي نو دده مال به هم دخرڅونکي وي مګر دا که اخستونکي شرط لګولي وي، دا روايت دنافع نه هم مروي دي چي هغه دابن عمر نه او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي چي فرمائيل يي چاچي يو داسي غلام واخستلو دکوم سره چي مال وي نو دده مال به هم دخرڅونکي وي مګر دا که اخستونکي شرط لګولي وي، دنافع نه مروي دي او هغه دابن عمر نه روايت نقل کوي چي چا کوم داسي غلام

---

[1] ـ البخاری کتاب الشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٧٩) . و مسلم کتاب البيوع ١٥ (١٥٤٣) . و ابن ماجه کتاب التجارات ٣١ (٢٢١١) . (تحفة الأشراف : ٦٩٠٧) و البخاری کتاب البيوع ٩٠ (٢٢٠٣) . و ٩٢ (٢٢٠٦) . والشروط ٢ (٢٧١٦) . و مسلم کتاب البيوع . و ابی داود کتاب البيوع ٤٤ (٣٤٣٣) . سنن النسائی کتاب البيوع ٧٥ (٤٦٣٩) . و٧٦ (٤٦٤٠) . سنن ابن ماجه کتاب التجارات ٣١ (٢٢١٠) . موطا امام مالک کتاب البيوع ٧ (٩) . مسند احمد (٢/٦ . ٩ . ٥٤ . ٦٣ . ٧٨)

خرخ کړو چي مال ورسره وي نو دده مال به دخرخونکي وي مګر دا چي اخستونکي داخستلو وخت کي شرط لګولي وي، دا رنګي عبيدالله بن عمر وغيره دنافع نه دا دواړه حديثونه نقل کړي دي، بعضي راويانو داحديث دنافع نه او نافع دابن عمر نه او ابن عمر دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي، عکرمه بن خالد د ابن عمر نه او ابن عمر دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه دسالم دروايت پشان حديث نقل کړي دي ، امام بخاري وائي چي دزهري هغه حديث کوم چي هغه دسالم نه او هغه دخپل پلار او هغه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي دا روايت په دي باب کي دټولو روايتونو نه زيات صحيح دي او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل هم دي او همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي او په دي باب کي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي.

*****************

## ٢٦ـ باب مَا جَاءَ فِي الْبَيِّعَيْنِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا

**د دوه سودا کونکو سره هغه وخته پوري دسودا ماتولو او نه ماتولو اختيار دي چي څو پوري ديو بل نه جدا شوي نه وي**

١٢٤٥ـ حَدَّثَنَا وَاصِلُ بْنُ عَبْدِ الأَعْلَى، حَدَّثَنَا الكُوفِيُّ بْنُ فُضَيْلٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: "الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا "أَوْ" يَخْتَارَا". قَالَ: فَكَانَ ابْنُ عُمَرَ إِذَا ابْتَاعَ بَيْعًا وَهُوَ قَاعِدٌ، قَامَ لِيَجِبَ لَهُ الْبَيْعُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي البَاب، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ، وَحَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو، وَسَمُرَةَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ العِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَالُوا: الْفُرْقَةُ بِالأَبْدَانِ لَا بِالْكَلَامِ، وَقَدْ قَالَ بَعْضُ أَهْلِ العِلْمِ: مَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا يَعْنِي الْفُرْقَةَ بِالْكَلَامِ". وَالْقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ لِأَنَّ ابْنَ عُمَرَ هُوَ رَوَى عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَهُوَ أَعْلَمُ بِمَعْنَى مَا رَوَى. وَرُوِيَ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُوجِبَ الْبَيْعَ مَشَى لِيَجِبَ لَهُ. (1)

---

1 ـ البخارى كتاب البيوع ٤٣ (٢١٠٧). صحيح مسلم كتاب البيوع ١٠ (١٥٣١). سنن النسائى كتاب البيوع ٩ (٤٤٧٨). (تحفة الأشراف: ٨٥٢٢) و صحيح البخارى كتاب البيوع ٤٣ (٢١٠٩). و ٤٤ (٢١١١). و٤٥ (٢١١٢). و٤٦ (٢١١٣). صحيح

**ترجمه** : عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي داخستلو خرڅولو معامله کونکو ته تر څو چي هغوي جدا شوي نه وي دسودا کولو او ماتولو اختيار دي او يا دا چي دواړه اختيار لره شرط مقرر کړي، نافع وائي کله چي به ابن عمر کوم څيز اخستلو او ناست به وو نو دي وخت کي به اودريدلو تردي پوري چي بيعه واجب (پخه) شي (او اختيار باقي پاتي نشي).

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابوبرزه، حکيم بن حزام، عبدالله بن عباس، عبدالله بن عمرو، سمره، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي په صحابه کرامو او تابعينو کي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق رحمهم الله قول هم دي، دوئ وائي چي دتفرق نه جسماني تفرق مراد دي نه چي قولي تفرق يعني دمجلس نه جدا کيدل مراد دي او دخبري موضوع بدليدل مراد نه دي، بعضي اهل علم وائي چي دنبي کريم صلي الله عليه وسلم دقول "مالم يتفرقا" نه مراد قولي جدائي ده ليکن اولني قول زيات صحيح دي څکه چي ابن عمر رضي الله عنهما دا دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه نقل کړي دي او هغه پخپل نقل کړي حديث زيات پوهيدونکي دي.دهغوئ نه مروي دي چي کله به هغه دبيعي واجب کولو اراده اوکړه نو د مجلس نه به روان شو تردي چي بيعه پخه شي، دابوبرزه رضي الله عنه نه هم ددي هم معني روايت مروي دي.

**تشريح** : که احدالمتعاقدين د ايجاب او قبول نه پس د آخر د قبلولو نه وړاندې يوکس پاڅيدلو ،نوايجاب باطل شو اوودده دا اودريدل به د ايجاب نه د رجوع کولو دليل وی.

او که چري عاقد آخر پاڅيدلو نو دده پاڅيدل به د قبلولو نه د اعراض کولو دليل وی.

ښکاره دې وی چي په عامو کتابونوکي ذکر دی چي مطلق قيام د اعراض دليل دې که ددې ځائې نه منتقل کيدل اوموندې شی،يا منتقل کيدل اونه موندې شی،خو شيخ الاسلام خواهرزاده رحمه الله په شرح جامع صغير کي ليکلی دی چي مطلق پاسيدل د اعراض دليل نه دې بلکه هغه قيام د اعراض دليل دې چي په هغې کي تلل، او منتقل کيدل اوموندې شی که بائع پاسيدلو ، او د خپل ځائې نه منتقل نشو اومشتری قبول کړلو نو صحيح ده،

هر کله چي د عاقدينو د طرفه ايجاب او قبول حاصل شو نو بيع لازمه شوه اوپه بائع اومشتری کي د هر يوکس دپاره ملك ثابت شو يعنی بائع د ثمن مالك شو اومشتری د مبيع مالك شو اوس به په دوی کي د هيڅ يو کس دپاره د بيع فسخ کولو اختيار نه وی،خو که په

---

مسلم كتاب البيوع . سنن ابي داود كتاب البيوع ۵۳ (۳۴۵۴) . سنن النسائي كتاب البيوع ۹ (۴۴۷۷،۴۴۷۸) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ۱۷ (۲۱۸۱) . موطا امام مالك كتاب البيوع ۳۸ (۷۹) . مسند احمد (۲/۴، ۹، ۵۲، ۵۴، ۷۳، ۱۱۹، ۱۳۵)

مبيع كي څه عيب وى، يا ئې مبيع بغير د كتلو نه اخستې وى نو په دې دواړو صورتونوكي به مشترى ته خيار حاصل وى، په ړومبى صورت كي خيار عيب اوپه دويم صورت كي به خيار رؤيت حاصل وى.

حاصل داچي زمونږ په نزد په عاقدينوكي هيڅ يو كس ته خيار مجلس حاصل نه دې اوامام مالك رحمه الله هم ددې قائل دې.

امام شافعى رحمه الله فرمائى چي په عاقدينو كي د هريو كس دپاره خيارمجلس ثابت دې يعنى د ايجاب او قبول نه پس هر يو كس ته د ملګرى د رضامندئ نه بغير په مجلس كي دننه د بيع فسخ كولو حق حاصل دې، خو د مجلس نه پس به دا اختيار باقى نه وى. هم دا د امام احمد رحمه الله قول دې. (ددې دلائل د علم فقه په مطولاتو كي مذكور دي هلته يي د مزيد تحقيق دپاره كتلى شئ).

*****************

١٢٤٦ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ شُعْبَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ صَالِحٍ أَبِي الْخَلِيلِ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ الْحَارِثِ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا فَإِنْ صَدَقَا وَبَيَّنَا بُورِكَ لَهُمَا فِي بَيْعِهِمَا، وَإِنْ كَتَمَا وَكَذَبَا مُحِقَتْ بَرَكَةُ بَيْعِهِمَا ". هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ وَهَكَذَا رُوِيَ، عَنْ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ أَنَّ رَجُلَيْنِ اخْتَصَمَا إِلَيْهِ فِي فَرَسٍ بَعْدَ مَا تَبَايَعَا، وَكَانُوا فِي سَفِينَةٍ، فَقَالَ: لَا أَرَاكُمَا افْتَرَقْتُمَا، وَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا ". وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَهْلِ الْكُوفَةِ وَغَيْرِهِمْ، إِلَى أَنَّ الْفُرْقَةَ بِالْكَلَامِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ. وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، وَرُوِيَ عَنِ ابْنِ الْمُبَارَكِ، أَنَّهُ قَالَ: كَيْفَ أَرُدُّ هَذَا ؟ وَالْحَدِيثُ فِيهِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَحِيحٌ وَقَوَّى هَذَا الْمَذْهَبَ، وَمَعْنَى قَوْلِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِلَّا بَيْعَ الْخِيَارِ " مَعْنَاهُ: أَنْ يُخَيِّرَ الْبَائِعُ الْمُشْتَرِيَ بَعْدَ إِيجَابِ الْبَيْعِ، فَإِذَا خَيَّرَهُ فَاخْتَارَ الْبَيْعَ، فَلَيْسَ لَهُ خِيَارٌ بَعْدَ ذَلِكَ فِي فَسْخِ الْبَيْعِ، وَإِنْ لَمْ يَتَفَرَّقَا هَكَذَا فَسَّرَهُ الشَّافِعِيُّ، وَغَيْرُهُ، وَمِمَّا يُقَوِّي قَوْلَ: مَنْ يَقُولُ الْفُرْقَةُ بِالْأَبْدَانِ، لَا بِالْكَلَامِ حَدِيثُ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

---

[1] ــ البخاري كتاب البيوع ١٩ (٢٠٧٩) . و ٢٢ (٢٠٨٢) . و ٤٢ (٢١٠٨) . و ٤٣ (٢١١٠) . و ٤٦ (٢١١٤) . صحيح مسلم كتاب البيوع ١١ (١٥٣٢) . سنن ابي داود كتاب البيوع ٥٣ (٣٤٥٩) . سنن النسائى كتاب البيوع ٥ (٤٤٦٣) . (تحفة الأشراف : ٣٤٢٧) و مسند احمد (٤٠٢/٣، ٤٠٣، ٤٠٢، ٤٣٤)

**ترجمه**: حكيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي داخستلو خرڅولو معامله كونكو ته تر څو چي هغوي جدا شوي نه وي دسودا كولو او ماتولو اختيار دي كه خپله معامله رښتياو سره اوكړي دمال يازرمبادله عيب ښكاره كړي نو اخستل خرڅول به يي دبركت ذريعه وي او كه چرى دي كي د دروغو يا دعيب پرده پوشي او موندى شوه نوبركت به ترينه ختم شي.

امام ترمذي وائي دا حديث صحيح دي ددي هم معني حديث دابوبرزه اسلمي نه هم مروي دي چي دوه كسانو داس خرڅولو نه پس پخپل مينځ كي مقدمه شروع كړه او ابوبرزه ته يي مقدمه پيش كړه او هغوئ په دغه وخت كي په كشتئ كي ناست وو ابوبرزه اوونيل زه نه پوهيږم يعني ماته معلومه نه ده چي تاسو دواړه جداشوي يئ او رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بائع او مشتري ته هغه وخته پوري اختيار دي چي څو پوري ديو بل نه جدا شوي نه وي په اهل كوفه كي بعضي اهل علمو داقول اختيار كړي دي چي تفرق به په قول سره راخي او همدا دسفيان ثوري قول دي او امام مالك ته هم ددې قول نسبت شوي دي. ابن مبارك وائي چي زه به دا مسلك څنګه رد كړم هر كله چي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په دي باره كي صحيح حديث وارد دي او هغوئ دا قوي ګڼړلي دي او درسول الله دقول "الابيع الخيار" مطلب دادي چي بائع مشتري ته دبيعي واجب كولو نه پس اختيار وركړي پس هر كله چي مشتري بيعه قبوله كړي نو ددينه پس به ده ته دفسخ كولو اختيار نه وي اګر كه دواړه جداشوي نه وي دارنګي امام شافعي وغيره دحديث دا تفسير كړي دي او څوك چي دجسماني جدائي (تفرق بالابدان) قائل دي دهغوئ دقول دليل دعبدالله بن عمر حديث دي كوم چي هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي (او لاندي راروان دي).

**لغات**: البيعان: باع بيعا ومبيعا د ضرب نه په معني داخستلو او خرڅولو دي بائع يي صفت دي او باعة يي جمع مفعولي ده، مبيع بايعه مبايعة، يعني دچا سره دخريد او فروخت څه قسم معامله كول چي هرڅنګه وي.

الخيار: خار خيرا وخيرة د ضرب په معني د فضيلت وركولو دي يو شي ته په بل باندي اوهم ددي نه "اللّٰهُمَّ خرلي" فقره مشتق كړي شوي ده ، الخيار غوره كولو ته وئيلي شي.

يتفرقا: فرق فرقا وفرقانا دنصر او ضرب نه په معني د جدا كولو دي .

كتم: كتم كتما وكتمانا دنصر نه په معني دپټولو دي، يا كوم څيز لره پوشيده كول، كتم په بعضي وختونو كي دوه مفعولو ته متعدي كيږي لكه كتمت زيدا الحديث يعني دزيد نه مي خبره پټه كړه ، په مفعول اول كي من هم زياتولي شي لكه كتمت من زيد الحديث.

محقت: محق محقا دضرب نه په معني دورانولو دي.

**تشريح** : "البيعان بالخيار مالم يتفرقا" يعني اخستونكى او خرخونكى چي ترڅو پوري جدا شوي نه وي ترهغي پوري دوئ ته اختيار باقي وي په دي حديث كي ددي خبري وضاحت دى چي په اخستلو او خرڅولو كي دبايع او مشتري دواړو رضامندي ضروري ده لكه چي الله تعالي فرمائيلي دي:

"لاتاكلوا اموالكم بينكم بالباطل الا ان تكون تجارة عن تراض منكم"

كله چي بايع او مشتري دواړو ايجاب او قبول اوكړي نو رضامندي متحققه شوه لهذا اوس به يوته دبل مال حلال وي دپورتني حديث هم دا مطلب دى چي بايع او مشتري دواړو لره ديو بل د مال درد كولو اختيار وي خو ترڅو چي ايجاب او قبول شوى نه وي كله چي ايجاب او قبول اوشي نو اختيار ختم شي.

فان صدقا وبينا بورك لهما في بيعهما. يعني كه دوئ رښتيا اووائي او دسودا عيب بيان كړي نو په دي كي به ددي دواړو دپاره بركت واچولى شي.

په يو بل حديث كي راغلي دي كه چرې دوئ عيب بيان نكړي نو داسي سودا غوره سودا نه ده.

عن واثلة بن الاسقع رضي الله عنه قال سمعت رسول الله صلي الله عليه وسلم يقول من باع عيبا لم ينبه لم يزل في مقت الله او لم تزل الملائكة تلعنه(ابن ماجه).

دواثله بن اسقع رضي الله عنه نه روايت دي چي د رسول الله نه مي اوريدلي دي كه څوك كوم عيب دار څيز خرڅ كړي او عيب يي پټ كړي نو الله تعالي ورته په غضب كي وي او كه داسي يي او فرمائيل چي فرشتي وربادي هميشه لعنت وايي.

****************

١٢٤٧ـ أَخْبَرَنَا بِذَلِكَ قُتَيْبَةُ بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ بْنُ سَعْدٍ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " الْبَيِّعَانِ بِالْخِيَارِ مَا لَمْ يَتَفَرَّقَا إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَفْقَةَ خِيَارٍ، وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَ صَاحِبَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ، وَمَعْنَى هَذَا أَنْ يُفَارِقَهُ بَعْدَ الْبَيْعِ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ، وَلَوْ كَانَتِ الْفُرْقَةُ بِالْكَلَامِ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ خِيَارٌ بَعْدَ الْبَيْعِ لَمْ يَكُنْ لِهَذَا الْحَدِيثِ مَعْنًى حَيْثُ قَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " وَلَا يَحِلُّ لَهُ أَنْ يُفَارِقَهُ خَشْيَةَ أَنْ يَسْتَقِيلَهُ ".[1]

---

[1] ـ ابي داود كتاب البيوع ٥٣ (٣٤٥٨) . (تحفة الأشراف : ٨٧٩٤) . و مسند احمد (٢/١٨٣)

**ترجمه** : د عمرو بن العاص رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي داخستلو خرڅولو معامله کونکو ته تر څو چي هغوي جدا شوي نه وي دسودا کولو او ماتولو اختيار دي او دبائع دپاره جائز نه دي چي دخپل ملګري (مشتري) نه ددي ويري په وجه جدا شي چي دي چرته بيعه ماته نکړي امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي او ددي معني داده چي دبيعي نه پس اخستونکي دخرڅونکي نه ددي ويري په وجه جدا شي چي چرته بيعه ماته نکړي او که جدائي صرف په کلام سره راتلي او دبيعي نه پس مشتري ته اختيار نه پاتي کيدي نو بيا خو به ددي حديث کومه معني نه وه چي دبائع دپاره جائز نه دي چي دمشتري نه ددي ويري په وجه جدا شي چي دي چرته بيعه ماته نکړي.

****************

## ٢٧_ باب

### دخيار متعلق يو بل باب

١٢٤٨_ حَدَّثَنَا نَصْرُ بْنُ عَلِيٍّ، حَدَّثَنَا أَبُو أَحْمَدَ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ أَيُّوبَ وَهُوَ الْبَجَلِيُّ الكوفي، قَالَ: "سَمِعْتُ أَبَا زُرْعَةَ بْنَ عَمْرِو بْنِ جَرِيرٍ يُحَدِّثُ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا يَتَفَرَّقَنَّ عَنْ بَيْعٍ إِلَّا عَنْ تَرَاضٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ. [1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي بائع او مشتري دي دمجلس نه په رضامندئ سره جدا شي.

امام ترمذي وائي دا حديث غريب دي.

****************

١٢٤٩_ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الشَّيْبَانِيُّ، حَدَّثَنَا ابْنُ وَهْبٍ، عَنِ ابْنِ جُرَيْجٍ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " خَيَّرَ أَعْرَابِيًّا بَعْدَ الْبَيْعِ ". وَهَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [2]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم دبيعي نه پس يو اعرابي ته اختيار ورکړي وو.

---

1 _ ابي داود کتاب البيوع ٥٣ (٣٤٥٨)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٢٢)، و مسند احمد (٢/٥٣٦)

2 _ سنن ابن ماجه کتاب التجارات ١٨ (٢١٨٤)، (تحفة الأشراف: ٢٨٢٣)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي.

****************

## ٢٨_ بَابُ مَا جَاءَ فِيمَنْ يُخْدَعُ فِي الْبَيْعِ

### بيان دهغه چا څوک چي په كاروبار كي دهوكه كيږي

١٢٥٠_ حَدَّثَنَا يُوسُفُ بْنُ حَمَّادٍ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْأَعْلَى بْنُ عَبْدِ الْأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ رَجُلًا كَانَ فِي عُقْدَتِهِ ضَعْفٌ، وَكَانَ يُبَايِعُ، وَأَنَّ أَهْلَهُ أَتَوُا النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، احْجُرْ عَلَيْهِ، فَدَعَاهُ نَبِيُّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَهَاهُ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي لَا أَصْبِرُ عَنِ الْبَيْعِ، فَقَالَ: "إِذَا بَايَعْتَ فَقُلْ: هَاءَ وَهَاءَ، وَلَا خِلَابَةَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. وَحَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَقَالُوا: الْحَجْرُ عَلَى الرَّجُلِ الْحُرِّ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ إِذَا كَانَ ضَعِيفَ الْعَقْلِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَلَمْ يَرَ بَعْضُهُمْ أَنْ يُحْجَرَ عَلَى الْحُرِّ الْبَالِغِ.[1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي يوكس اخستلو خرڅولو كي كمزوري وو او هغه به اخستل خرڅول كول چنانچه دده دكور خلق دنبي كريم صلي الله عليه وسلم په خدمت كي حاضر شول او عرض يي اوكړو يا رسول الله ده لره دتصرف كولو نه منع كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم دي راوغوښتلو او منع يي كړلو هغه عرض اوكړو زه داخستلو خرڅولو نه بغير نشم پاتي كيدي رسول الله اوفرمائيل څوك چي تاسره سودا كوي نو دا ورته وايه برابر په برابر لين دين كول دي او په دي كي فريب اودهوكه به نه وي.

امام ترمذي وائي په دي باب كي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي او دانس حديث حسن غريب دي دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ وائي چي كمزوري عقل والالره دي داخستلو خرڅولو نه منع كړي شي داسحاق هم دا قول دي او دبعضي اهل علمو په نزد يو ازاد بالغ انسان لره داخستلو خرڅولو نه منع كول جائز نه دي.

**لغات** : الخلابة: معني دوكه كول، يعني كه دهوكه دي راسره كړي وي نو شي به درته واپس كيږي.

**تشريح** : ددي كس نه مراد منقذ بن عمرو دي څوك چي دسر دزخم په وجه ذهني كمزوري شوى

---

[1] _ ابي داود كتاب البيوع ٦٨ (٣٥٠١) . و النسائي كتاب البيوع ١٣ (٤٤٩٠) . و ابن ماجه كتاب الأحكام ٢٤ (٢٣٥٤) . (تحفة الأشراف : ١١٧٥) . و مسند احمد ٣/٢١٧)

وو.

"فقل لاخلابة" توربشتي ددي دا مطلب بيان کړی دی چي رسول الله دي صحابي ته اوفرمائيل چي ته به د خرڅولو په وخت کي داسي وائي چي زما دمعاملاتو سره زيات واقفيت نشته نو په دي وجه به ما نه دوکه کوئ نو ددينه پس به دی هيڅا نه دوکه کولو.

واضح دي وي چي دا دهغي زماني خبره ده کومه زمانه چي دامانتدارئ او دينداريئ او پرهيزګاريئ اعلي نمونه پيش کړي وه او په هغه زمانه کي دهر چا په زړه کي دنورو دپاره دهمدرديئ جزبه وه ليکن نن سبا که چاته معلومه شي چي فلانی دمعاملاتو نه واقف نه دی نو بيا خو خلق هغه لره دنور زيات دوکه کولو کوشش کوي.

****************

## ٢٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُصَرَّاةِ

### دبيع مصرات بيان

١٢٥١_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ زِيَادٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنِ اشْتَرَى مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ إِذَا حَلَبَهَا إِنْ شَاءَ رَدَّهَا وَرَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ تَمْرٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَاب، عَنْ أَنَسٍ، وَرَجُلٍ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي که چا داسي لنګ څاروي واخستلو چي يئ يي مالك دڅو ورځو نه بند کړي وو نو اخستونکي ته اختيار دي چي دلوشلو نه پس دي لره دي ديو صاع کجورو سره واپس کوي (او که څان سره يي ساتي).

امام ترمذي وائي په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه او يو بل صحابي نه هم روايت وارد دي.

**تشريح** په حديث کي راځي: ونهي عن النجش والتصري: يعني منعه يي فرمائيلي ده ديو څيز دګران خرڅولو او دڅاروو په غلانزو کي دشودو جمع کولو نه پس هغي لره دخرڅولو نه دنجش تشريح خو مخکي تيره شوه چي يو دريم کس په ذريعه ديو څيز قيمت زيات کړی شي حالانکه هغه ددي څيز اخستل نه غواړي صرف خريدار ته دوکه ورکول يي مطلب وي چي دا څيز ګران

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٣٣٦٥)

واخلي او دا دريم كس عموما دبائع دطرف نه په دي كار مقرر وي.

******************

١٢٥٢ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا أَبُو عَامِرٍ، حَدَّثَنَا قُرَّةُ بْنُ خَالِدٍ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ سِيرِينَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنِ اشْتَرَى مُصَرَّاةً فَهُوَ بِالْخِيَارِ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ، فَإِنْ رَدَّهَا رَدَّ مَعَهَا صَاعًا مِنْ طَعَامٍ لَا سَمْرَاءَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَصْحَابِنَا مِنْهُمْ: الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاقَ، وَمَعْنَى قَوْلِهِ: "لَا سَمْرَاءَ" يَعْنِي: لَا بُرَّ.[1]

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په غلانز كي حصار كړو پيو والاخاروي واخستلو ده ته د دري ورځو پوري اختيار دي كه چري دي لره واپس كوي نو دغنمو نه علاوه كومه بله غله به يوصاع ورسره وركوي او د لا سمراء معني داده چي غنم به نه وي.

داحديث حسن صحيح دي او زمونږ دشوافعو علماؤ په دي باندي عمل دي او دامام شافعي او احمد او اسحاق رحمهم الله هم دا قول دي.

**تشريح** : مصرات داسم مفعول صيغه ده او دتصريه معني تړل او حصارول دي يعني دخاروي په غلانز كي دځو ورځو نه پئ حصارولو ته وئيلي شي تردي چي خريدار ورباندي دهوكه شي او دي دخپل طبيعت قيمت وصول كړي دي عمل ته تصريه وئيلي شي كه چري دا عمل داوښ نه علاوه دبل خاروي سره اوكړي شي نو ديته تصريه ويلي شي او كډو چيلو سره اوكړي شي نو ديته شات مصرات وئيلي شي او كه دا عمل غواؤ سره اوكړي شي نو ديته بقرة المصرات وئيلي شي، او كه دا عمل داوښ سره اوكړي شي نو ديته تحفيل وئيلي شي او اوښي ته ناقة محفلة وئيلي شي (ددي تفصيل دعلم فقه په كتابونو كي موجود دي هلته يي كتلي شئ).

******************

## ٣٠ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي اشْتِرَاطِ ظَهْرِ الدَّابَّةِ عِنْدَ الْبَيْعِ

**د سورلئ د خرڅون وخت د سورلئ كولو شرط مقررولو بيان**

---

[1] ـ البخاري كتاب البيوع ٦٤ (٢١٤٨)، مسلم كتاب البيوع ٤ (١٥١٥)، سنن النسائي كتاب البيوع ١٣ (٤٤٩٣، ٤٤٩٤)، ابن ماجه كتاب التجارات ٣٢ (٢٢٣٩)، (تحفة الأشراف : ١٤٥٠٠)

١٢٥٣_ حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عُمَرَ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنِ الشَّعْبِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، "أَنَّهُ بَاعَ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعِيرًا، وَاشْتَرَطَ ظَهْرَهُ إِلَى أَهْلِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنْ جَابِرٍ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، يَرَوْنَ الشَّرْطَ فِي الْبَيْعِ جَائِزًا، إِذَا كَانَ شَرْطًا وَاحِدًا، وَهُوَ قَوْلُ: ، أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَا يَجُوزُ الشَّرْطُ فِي الْبَيْعِ وَلَا يَتِمُّ الْبَيْعُ إِذَا كَانَ فِيهِ شَرْطٌ.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي ما په رسول الله صلي الله عليه وسلم باندي اوښ خرڅ کړو او په دي باندي مي دخپل کور پوري دسورلئ کولو شرط مقرر کړو.
امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او دجابر رضي الله عنه نه په يوڅو سندونو مروي دي دبعضي صحابه کرامو او اهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ وائي په بيع کي يو شرط لګول جائز دي دامام احمد او اسحاق بن راهويه هم دا قول دي مګر دبعضي علماؤ په نزد په بيع کي شرط لګول جائز نه دي او دشرط والا بيع ددوئ په نزد کامله بيعه نه وي.

***************

## ٣١_ بَاب مَا جَاءَ فِي الِانْتِفَاعِ بِالرَّهْنِ

### د مرهونه څيز نه د فائدي اخستلو بيان

١٢٥٤_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَيُوسُفُ بْنُ عِيسَى، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ زَكَرِيَّا، عَنْ عَامِرٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "الظَّهْرُ يُرْكَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَلَبَنُ الدَّرِّ يُشْرَبُ إِذَا كَانَ مَرْهُونًا، وَعَلَى الَّذِي يَرْكَبُ وَيَشْرَبُ نَفَقَتُهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، لَا نَعْرِفُهُ مَرْفُوعًا إِلَّا مِنْ حَدِيثِ عَامِرٍ الشَّعْبِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَدْ رَوَى غَيْرُ وَاحِدٍ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ الْأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ مَوْقُوفًا، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ

---

[1] _ البخاری کتاب البیوع ٣٣ (٢٠٩٧) ، والاستقراض ١ (٢٣٨٥) ، و ١٨ (٢٤٠٦) ، والمظالم ٢٦ (٢٤٧٠) ، والشروط ٤ (٢٧١٨) ، والجهاد ٤٩ (٢٨٦١) ، و ١١٣ (٢٩٦٧) ، صحيح مسلم کتاب البیوع ٤٢ (المساقاة ٢١) ، (٧١٥) ، والرضاع ١٦ و ٥٧ و ٥٨) . سنن ابي داود کتاب البیوع ٧٧ (٣٦٤١) ، سنن ابن ماجه کتاب التجارات ٢٩ (٢٢٠٥) . (تحفه الأشراف: ٢٣٤١) ، و مسند احمد (٣/٢٩٩)

بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: لَيْسَ لَهُ أَنْ يَنْتَفِعَ مِنَ الرَّهْنِ بِشَيْءٍ. ([1])

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كړو كړي ځاروي دسورلئ دپاره استعمالول او يا ددي پئ خوړل جائز دي ليكن په سورلي كونكي او پئ خوړونكي باندي ددي ځاروي نفقه واجب ده.

داحديث حسن صحيح دي او دا مونږ ته صرف دعامر شعبي په سند دابوهريره نه مرفوع رارسيدلي دي يو څو راويانو داحديث داعمش نه او هغه دابوصالح نه او هغه دابوهريره رضي الله عنه نه موقوفاً نقل كړي دي او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي امام احمد او اسحاق هم ددي قائل دي او دبعضي علماؤ په نزد دګروئ والاخيز نه فائده اخستل جائز نه دي.

*****************

## ٣٢ـ بَاب مَا جَاءَ فِي شِرَاءِ الْقِلَادَةِ وَفِيهَا ذَهَبٌ وَخَرَزٌ

**دداسي اميل اخستلو بيان په كوم كي چي سره زر او غمي استعمال شوي وي**

١٢٥٥ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي شُجَاعٍ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ خَالِدِ بْنِ أَبِي عِمْرَانَ، عَنْ حَنَشٍ الصَّنْعَانِيِّ، عَنْ فَضَالَةَ بْنِ عُبَيْدٍ، قَالَ: اشْتَرَيْتُ يَوْمَ خَيْبَرَ قِلَادَةً بِاثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا فِيهَا ذَهَبٌ، وَخَرَزٌ فَفَصَّلْتُهَا، فَوَجَدْتُ فِيهَا أَكْثَرَ مِنَ اثْنَيْ عَشَرَ دِينَارًا. فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "لَا تُبَاعُ حَتَّى تُفَصَّلَ". حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ: حَدَّثَنَا ابْنُ الْمُبَارَكِ، عَنْ أَبِي شُجَاعٍ سَعِيدِ بْنِ يَزِيدَ، بِهَذَا الإِسْنَادِ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى ١٢: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. لَمْ يَرَوْا أَنْ يُبَاعَ السَّيْفُ مُحَلًّى، أَوْ مِنْطَقَةٌ مُفَضَّضَةٌ، أَوْ مِثْلُ هَذَا بِدَرَاهِمَ حَتَّى يُمَيَّزَ وَيُفَصَّلَ. وَهُوَ قَوْلُ: ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي ذَلِكَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. ([2])

---

[1] ـ البخاري كتاب الرهن ٤ (٢٥١١). سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٨ (٣٥٢٦). سنن ابن ماجه كتاب الرهون ٢ (٢٤٤٠). (تحفة الأشراف: ١٣٥٤٠)، و مسند احمد ٢/٢٢٨)

[2] ـ مسلم كتاب المساقاة ١٧ (البيوع ٣٨). سنن ابي داود كتاب البيوع ١٣ (٣٣٥١). سنن النسائي كتاب البيوع (٤٥٧٧). (تحفة الأشراف: ١١٠٢٧)، و مسند احمد (٦/١٩، ٢١)

**ترجمه :** دفضاله بن عبيد رضي الله عنه بيان دي چي دغزوه خيبر په موقع ما په دولس ديناره يو هار واخستلو چي سره زر او غمي پکي لګيدلي وو ما چي ورنه دا څيزونه جدا کړل نو ددولس دينارو نه مي زيات زر اوموندل نو ما نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته عرض اوکړو راته يي اوفرمائيل دزرو جدا کولو نه دي دا خرڅ نکړې شي، دقتيبه، ابن مبارك، ابوشجاع، سعيد بن زيد نه هم په همدي سند ددي حديث هم معني روايت مروي دي او دا حديث حسن صحيح دي دبعضي صحابه کرامو او ددوئ نه پس دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي دوئ وائي چي دداسي کمربند ياتوري وغيره جدا جدا خرڅول په کوم کي چي سپين زر استعمال شوي وي جائز نه دي تردي چي دواړه څيزونه جدا جدا خرڅ کړي شي اود ابن مبارك، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله هم دا قول دي، مګر بعضي صحابه کرامو او ددوئ نه پس بعضي اهل علمو ددي اجازت ورکړي دي.

**دابومحمد فضاله بن عبيد انصاري رضي الله عنه حالات:**

نوم فضاله کنيه ابو محمد دپلار نوم عبيد بن نافذ او دمور نوم عقبه بنت محمد بن عقبه وو مديني ته دراتلونکو سره مسلمان شوي وو چي دغزوه بدر نه علاوه په تمامو غزواتو کي شريك شوي دی او په بيعة الرضوان کي هم شامل وو (اصابه).

دوفات نبوي نه پس شام ته لاړو او هلته يي کور جوړ کړو مسند احمد.

ابوالدرداء رضي الله عنه د دمشق قاضي وودوفات کيدو نه مخکي يي اوفرمائيل چي زمانه پس به فضاله بن عبيد قاضي مقرروئ خلق به ورته دډير لري لري نه درسول الله داحاديثو داوريدلو دپاره راتلل يو سړي ورته ددي دپاره راغلى وو چي احاديث ورنه واوري هغه چي اوکتل چي ويخته يي ګډ وډ او په خپو برېنډ دی نو په تعجب سره يي تپوس اوکړو چي ته ددي ښار قاضي يي او حالت دي دادی فضاله رضي الله عنه اوفرمائيل چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مونږ داسانئ او ډول او سنګار خوښولو نه منع کړي يو او کله کله به يي راته په برېنډو خپو دګرځيدو حکم کولو (مسند احمد).

وفات: دهجرت په ۵۳ کال دامير معاويه په دور کي وفات شو او په دمشق ښار کي يي تراوسه پوري قبر موجود دی چي پنځوس روايات ورنه منقول دي چي دوه ددينه په مسلم کي دي.

******************

## ٣٣_ بَاب مَا جَاءَ فِي اشْتِرَاطِ الْوَلَاءِ وَالزَّجْرِ عَنْ ذَلِكَ

**په بيعه کي دولاء په شرط مقررولوزجر او وعيد**

١٢٥٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ مَنْصُورٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ، عَنِ الأَسْوَدِ، عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا أَرَادَتْ أَنْ تَشْتَرِيَ بَرِيرَةَ، فَاشْتَرَطُوا الْوَلَاءَ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "اشْتَرِيهَا فَإِنَّمَا الْوَلَاءُ لِمَنْ أَعْطَى الثَّمَنَ، أَوْ لِمَنْ وَلِيَ النِّعْمَةَ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ عَائِشَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ، قَالَ: وَمَنْصُورُ بْنُ الْمُعْتَمِرِ يُكْنَى: أَبَا عَتَّابٍ. حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْعَطَّارُ الْبَصْرِيُّ، عَنِ ابْنِ الْمَدِينِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ يَحْيَى بْنَ سَعِيدٍ، يَقُولُ: إِذَا حُدِّثْتَ عَنْ مَنْصُورٍ، فَقَدْ مَلَأْتَ يَدَكَ مِنَ الْخَيْرِ لَا تُرِدْ غَيْرَهُ، ثُمَّ قَالَ يَحْيَى: مَا أَجِدُ فِي إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ، وَمُجَاهِدٍ، أَثْبَتَ مِنْ مَنْصُورٍ، قَالَ مُحَمَّدٌ: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي الأَسْوَدِ، قَالَ: قَالَ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ مَنْصُورٌ، أَثْبَتُ أَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه**: دعائشه رضي الله عنها نه روايت دي فرمائي چي ما دبريري داخستلو اراده اوکړي نو خرخونکو دولاء شرط اولګولو نبي کريم صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ته دا واخله ځکه چي ولاء حق دهغه چا دپاره دي څوك چي قيمت اداء کړي او يا ددي د ازادولو مالك اوګرځي، او په دي باب کي دابن عمر رضي الله عنهما نه هم روايت وارد دي او دعائشه حديث حسن صحيح دي داهل علمو هم په دي باندي عمل دي او دمنصور بن معتمر کنيه ابوعتاب ده ابوبکر عطار دعلي بن مديني نه روايت نقل کوي او هغه ديحي بن سعيد نه چي کله تاسو ته دمنصور په واسطه کوم حديث راورسيږي نو پوهه شئ چي ستاسو دواړه لاسونه دخير نه ډك شول او دده نه پس بل چاته ضرورت نشته، ،ی وائي دابراهيم نخعي او مجاهد نه په روايت کولو کي دمنصور نه زيات اثبت بل څوك نشته دامام بخاري، عبدالله بن ابي اسود نه روايت نقل کوي او هغه دعبدالرحمن بن مهدي قول نقل کړي دي چي منصور دکوفي په تمامو راويانو کي اثبت دي.

*****************

## ٣٤_ باب

### دولاد احکامو متعلق يو بل باب

١٢٥٧_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرِ بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ أَبِي حُصَيْنٍ، عَنْ حَبِيبِ بْنِ أَبِي ثَابِتٍ، عَنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَعَثَ حَكِيمَ بْنَ حِزَامٍ يَشْتَرِي لَهُ

1 _

أُضْحِيَّةً بِدِينَارٍ، فَاشْتَرَى أُضْحِيَّةً، فَأُرْبِحَ فِيهَا دِينَارًا، فَاشْتَرَى أُخْرَى مَكَانَهَا، فَجَاءَ بِالأُضْحِيَّةِ وَالدِّينَارِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: " ضَحِّ بِالشَّاةِ، وَتَصَدَّقْ بِالدِّينَارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ لَمْ يَسْمَعْ عِنْدِي مِنْ حَكِيمِ بْنِ حِزَامٍ.[1]

**ترجمه**: دحكيم بن حزام رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم زه په يو دينار دقرباني د څاروي اخستلو دپاره اوليږلم راوي وائي چي حكيم بن حزام يو څاروي واخستلو (او په دوه ديناره يي خرڅ كړو) او په دي كي يي يو دينار اوګټلو او بيا حكيم ددي څاروي په ځاي په يو دينار بل څاروي واخستلو نو يو يي دقرباني څاروي راوستلو او يو دينار يي هم دځان سره رسول الله صلي الله عليه وسلم وسلم ته راوړو او پيش يي كړو رسول الله ورته اوفرمائيل په چيلي قرباني اوكړئ او دينار صدقه كړئ.

امام ترمذي وائي دحكيم بن حزام حديث مونږ ته صرف په همدي سند رارسيدلي دي او زما په نزد دحبيب بن ابي ثابت سماع دحكيم بن حزام نه ثابت نه ده.

**تخريج**: تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٤٢٣)

****************

١٢٥٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الدَّارِمِيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ، حَدَّثَنَا هَارُونُ الأَعْوَرُ الْمُقْرِئُ، حَدَّثَنَا الزُّبَيْرُ بْنُ الْخِرِّيتِ، عَنْ أَبِي لَبِيدٍ، عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ، قَالَ: دَفَعَ إِلَيَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دِينَارًا لِأَشْتَرِيَ لَهُ شَاةً، فَاشْتَرَيْتُ لَهُ شَاتَيْنِ، فَبِعْتُ إِحْدَاهُمَا بِدِينَارٍ، وَجِئْتُ بِالشَّاةِ وَالدِّينَارِ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَذَكَرَ لَهُ مَا كَانَ مِنْ أَمْرِهِ، فَقَالَ لَهُ: " بَارَكَ اللَّهُ لَكَ فِي صَفْقَةِ يَمِينِكَ ". فَكَانَ يَخْرُجُ بَعْدَ ذَلِكَ إِلَى كُنَاسَةِ الْكُوفَةِ، فَيَرْبَحُ الرِّبْحَ الْعَظِيمَ فَكَانَ مِنْ أَكْثَرِ أَهْلِ الْكُوفَةِ مَالًا. حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ سَعِيدٍ الدَّارِمِيُّ، حَدَّثَنَا حَبَّانُ، حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا الزُّبَيْرُ بْنُ خِرِّيتٍ فَذَكَرَ نَحْوَهُ، عَنْ أَبِي لَبِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى

---

[1] ـ البخاري كتاب كفارات الأيمان ٨ (٦٧١٤). سنن النسائي كتاب الطلاق ٣٠ (٣٤٢٩) وايضا برقم: ١١٥٤، وما يأتي برقم: ٢١٢٣ و٢١٢٥) (تحفة الأشراف: ١٥٩٩٢)

هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالُوا بِهِ: وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَلَمْ يَأْخُذْ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ بِهَذَا الْحَدِيثِ مِنْهُمْ: الشَّافِعِيُّ، وَسَعِيدُ بْنُ زَيْدٍ أَخُو حَمَّادِ بْنِ زَيْدٍ، وَأَبُو لَبِيدٍ اسْمُهُ لِمَازَةُ بْنُ زَبَّارٍ.[1]

**ترجمه** : دعروه بارقي بيان دي فرمائي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دچيلي اخستلو دپاره ماته يو دينار راكړو نو ما په هغه دينار دوه چيلي واخستل او بيا مي په دوئ كي يو چيلي په يو دينار خرخ كړو نو يو چيلي او يو دينار مي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته راوړل او راغلم او تمامه معامله مي ورته بيان كړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل الله تعالي دي ستا دلاس په سودا كي بركت واچوي، بيا مي ددينه پس عروه دكوفي كناسي ته تلو او ډيره زياته ګټه به يي كيدله چنانچه دده نه په كوفه كي دټولو نه زيات مالدار سړي جوړ شو. مؤلف داحمد بن سعيد دارمي په سند دزبير بن خريت نه هم ددي هم معني روايت نقل كړي دي.

امام ترمذي وائي بعضي اهل علمو دي حديث طرف ته ميلان كړي دي او هم ددي خبري قائل شوي دي او همدا دامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي ليكن بعضي اهل علمو دا حديث نه دي اختيار كړي چي يو په هغوئ كي امام شافعي او سعيد بن زيد او حماد بن زيد دي . اود ابو لبيد نوم لمازه بن زبار دی.

### دعروه بارقي رضي الله عنه حالات:

نوم عروه دپلار نوم جهد د اسدي دقبيله بارق سره يي تعلق دی كومه چي په يمن كي وه عمر رضي الله عنه عروه دكوفي قاضي مقرر كړی وو دده شمير په كوفيانو كي شوی دی او دده روايات هم اكثر داهل كوفه نه موندلی شي.

ابن مديني وائي دبعضي خلقو قول دی چي عروه او ابو جهد ديو كس نومونه دي خو دا بالكل غلط قول دی ځكه چي عروه خوي دی او جهد دده پلاره دی دده دمروياتو شمير ۱۳ دی چي يو په بخاري كي دی او دوه په مسلم كي (فتح الباري).

***************

## ۳۵ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُكَاتَبِ إِذَا كَانَ عِنْدَهُ مَا يُؤَدِّي

**دهغه مكاتب بيان دچا سره چي دومره مال وي چي دي وربا ندي حق دكتابت اداء كولي شي**

---

[1] ـ البخاري كتاب المناقب ۲۸ (۳۶۴۲) . سنن ابي داود كتاب البيوع ۲۸ (۳۳۸۴) . سنن ابن ماجه كتاب الأحكام ۷ (۲۴۰۲) . (تحفه الأشراف: ۹۸۹۸)

١٢٥٩ـ حَدَّثَنَا هَارُونُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْبَزَّازُ، حَدَّثَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَصَابَ الْمُكَاتَبُ حَدًّا، أَوْ مِيرَاثًا وَرِثَ بِحِسَابِ مَا عَتَقَ مِنْهُ"، وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يُؤَدِّي الْمُكَاتَبُ بِحِصَّةِ مَا أَدَّى دِيَةَ حُرٍّ وَمَا بَقِيَ دِيَةَ عَبْدٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ. وَهَكَذَا رَوَى يَحْيَى بْنُ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. وَرَوَى خَالِدٌ الْحَذَّاءُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنْ عَلِيٍّ قَوْلَهُ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، وَقَالَ أَكْثَرُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. الْمُكَاتَبُ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ دِرْهَمٌ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. (1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چې مكاتب غلام د ديت يا ميراث مستحق شي نو هم دومره حصه به ورته ملاويږي څومره چې دي ازاد شوي وي او بيا يې اوفرمائيل مكاتب چې څومره زر دكتابت اداء كړي دي دهم دومره ازادئ موافق به ورته ديت اخستلي شي او چې كوم وربان‌دي باقي وي دهغې مطابق به دغلام دطرفه ديت وركولي شي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او ددي په شان روايت يحیٰ بن كثير دعكرمه نه او عكرمه دابن عباس نه او ابن عباس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي، او په دي باب كي دام سلمه رضي الله عنها نه هم حديث مروي دي ليكن خالد الحذاء هم دعكرمه نه روايت نقل كړي دي مګر دهغه مطابق عكرمه دعلي رضي الله عنه قول نقل كړي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي حديث عمل دي او داكثرو صحابه كرامو او اهل علمو قول دي چې كله په مكاتب باندي يو درهم هم باقي وي تر هغې به دي غلام شميرلي شي دسفيان ثوري، شافعي، احمد او اسحاق رحمهم الله هم دا قول دي.

*****************

١٢٦٠ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَارِثِ بْنُ سَعِيدٍ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي أُنَيْسَةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَخْطُبُ يَقُولُ: "مَنْ كَاتَبَ

---

1 ـ ابي داود كتاب الديات ٢٢ (٤٥٨١) . سنن النسائي كتاب القسامة ٢٨. ٣٩ (٤٨١٢-٤٨١٦) . (تحفة الأشراف : ٥٩٩٣) . و مسند احمد (١/٢٢٢، ٢٢٦، ٢٦٣)

عَبْدَهُ عَلَى مِائَةِ أُوقِيَّةٍ فَأَدَّاهَا إِلَّا عَشْرَ أَوَاقٍ، أَوْ قَالَ عَشَرَةَ دَرَاهِمَ، ثُمَّ عَجَزَ فَهُوَ رَقِيقٌ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، أَنَّ الْمُكَاتَبَ عَبْدٌ مَا بَقِيَ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنْ كِتَابَتِهِ، وَقَدْ رَوَى الْحَجَّاجُ بْنُ أَرْطَاةَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ نَحْوَهُ. (1)

**ترجمه**: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه دخطبي په دوران كي اوريدلي دي څوك چي دخپل غلام سره په سل اوقيو (دولس سوه درهمه) باندي مكاتبت اوكړي او هغه دلس اوقيو نه علاوه باقي ټول حق دكتابت اداء كړي وي او بيا دبقايه د اداء كولو نه عاجز شي نو دده غلامي به برحال وي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، حجاج بن ارطاة هم دعمرو بن شعيب نه ددي هم معني روايت نقل كړي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي داكثرو په دي باندي عمل دي چي څوپوري په مكاتب باندي څه حصه دزرو باقي وي ترهغي به دي غلام وي.

*****************

١٢٦١ـ حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، قَالَ: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ نَبْهَانَ مَوْلَى أُمِّ سَلَمَةَ، عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذَا كَانَ عِنْدَ مُكَاتَبِ إِحْدَاكُنَّ مَا يُؤَدِّي، فَلْتَحْتَجِبْ مِنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ عَلَى التَّوَرُّعِ، وَقَالُوا: لَا يُعْتَقُ الْمُكَاتَبُ، وَإِنْ كَانَ عِنْدَهُ مَا يُؤَدِّي حَتَّى يُؤَدِّيَ. (2)

**ترجمه**: دام سلمه رضي الله عنها بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په تاسو كي دچا مكاتب غلام سره دومره پيسي وي چي زر دكتابت ورباندي اداء كولي شي نو دهغه نه ددوئ دپاره پرده كول پكار دي، امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او داهل علمو په دي حديث دتقوي او احتياط په بنياد په دي باندي عمل دي دوئ وائي مكاتب غلام چي څو پوري زر دكتابت اداء كړي نه وي نه ازاديږي اګر چي دده سره زر دكتابت د اداء كولو دپاره موجود وي.

*****************

---

1 ــ ابی داود کتاب العتق ا (۳۹۲۶) ، ۳۹۲۷ سنن ابن ماجه کتاب العتق ۳ (۲۵۱۹) (تحفة الأشراف : ۸۸۱۴)

2 ــ ابی داود کتاب العتق ا (۳۹۲۸) . ابن ماجه کتاب العتق ۳ (۲۵۲۰) . (تحفة الأشراف : ۱۸۲۲۱)

## ٣٦_ بَاب مَا جَاءَ إِذَا أَفْلَسَ لِلرَّجُلِ غَرِيمٌ فَيَجِدُ عِنْدَهُ مَتَاعَهُ

**كه دچا قرضداري مفلس شي او خپل مال ورسره بيامومي نو ددي څه حكم دي**

١٢٦٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ حَزْمٍ، عَنْ عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ الْحَارِثِ بْنِ هِشَامٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: "أَيُّمَا امْرِئٍ أَفْلَسَ، وَوَجَدَ رَجُلٌ سِلْعَتَهُ عِنْدَهُ بِعَيْنِهَا فَهُوَ أَوْلَى بِهَا مِنْ غَيْرِهِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ سَمُرَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: هُوَ أُسْوَةُ الْغُرَمَاءِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَهْلِ الْكُوفَةِ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو قرضداري چي مفلس شي او قرض وركونكي ورسره خپل مال بعينه بيامومي نو دي ددي سامان دنورو قرضدارو په نسبت زيات مستحق دي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دسمره او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او همدا دامام شافعي، احمد، او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي ، مگر بعضي اهل علم وائي ددي مال مالك به هم دنورو قرضدارو پشان وي او دا داهل كوفه قول دي.

***************

## ٣٧_ بَاب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ لِلْمُسْلِمِ أَنْ يَدْفَعَ إِلَى الذِّمِّيِّ الْخَمْرَ يَبِيعُهَا لَهُ

**يو مسلمان لره ذمي ته دخرڅ دپاره شراب وركول منع دي**

١٢٦٣_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، أَخْبَرَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ مُجَالِدٍ، عَنْ أَبِي الْوَدَّاكِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: كَانَ عِنْدَنَا خَمْرٌ لِيَتِيمٍ، فَلَمَّا نَزَلَتِ الْمَائِدَةُ، سَأَلْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْهُ، وَقُلْتُ: إِنَّهُ لِيَتِيمٍ. فَقَالَ: "أَهْرِيقُوهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي سَعِيدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ مِنْ غَيْرِ وَجْهٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

[1] _ البخاري كتاب الاستقراض ١٢ (٢٤٠٢). صحيح مسلم كتاب المساقاة ٥ (البيوع ٢٦). (١٥٥٩). سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٦ (٣٥١٩). سنن النسائي كتاب البيوع ٩٥ (٤٦٨٠): سنن ابن ماجه كتاب الأحكام ٢٦ (٢٣٥٨). (تحفة الأشراف: ١٤٨٦١). وط كتاب البيوع ٤٢ (٨٨). ومسند احمد (٢/٢٢٨). ٢٥٨، ٤١٠، ٤٦٨، ٤٨٤، ٥٠٨)

نَحْوُ هَذَا، وقَالَ بِهَذَا بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: وَكَرِهُوا أَنْ تُتَّخَذَ الْخَمْرُ خَلًّا، وَإِنَّمَا كُرِهَ مِنْ ذَلِكَ وَاللَّهُ أَعْلَمُ، أَنْ يَكُونَ الْمُسْلِمُ فِي بَيْتِهِ خَمْرٌ، حَتَّى يَصِيرَ خَلًّا، وَرَخَّصَ بَعْضُهُمْ فِي خَلِّ الْخَمْرِ، إِذَا وُجِدَ قَدْ صَارَ خَلًّا أَبُو الْوَدَّاكِ اسْمُهُ: جَبْرُ بْنُ نَوْفٍ. (1)

**ترجمه**: دابوسعيد خدري رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي زمونږ سره ديو يتيم شراب پراته وو کله چي دسورة مائدي ايت دشرابو دحرمت باره کي نازل شو نو ما درسول الله صلي الله عليه وسلم نه په دي باره کي تپوس اوکړو او عرض مي اوکړو چي دا ديو يتيم دي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا واړوئ، امام ترمذي وائي دابوسعيد خدري حديث حسن صحيح دي او دا حديث په نورو سندونو هم دنبي کريم صلي الله عليه وسلم نه ددي په هم معني مفهوم مروي دي، او په دي باب کي دانس رضي الله عنه نه هم روايت وارد دي او بعضي اهل علم هم ددي قائل دي او دوئ دشرابو نه سرکي جوړول مکروه ګڼي او په دي وجه دا مکروه ګرځولي شوي دي چي دمسلمان په کور کي شراب پراته وي تردي پوري چي سرکه ورنه جوړه شي، او بعضي اهل علمو دشرابو نه دسرکي جوړولو اجازت ورکړي دي مګر دا اجازت هغه وخت کي دي کله چي ددينه پخپله سرکه جوړه شي.

**تشريح**: په دي مسئله کي دفقهاؤ اختلاف دي چي دشرابو نه سرکه جوړول جائز دي او کنه دي؟ په دي کي دوه مذاهب دي.

(۱) داحنافو په نزد دشرابو نه سرکه جوړول جائز دي.

(۲) او دامام شافعي رحمه الله په نزد دشرابو نه سرکه جوړول جائز نه دي ددي مدلل تحقيق دعلم فقه په مطولاتو کي موندلي شئ.

***************

## ۳۸_ باب

### دکاروبار متعلق يو بل باب

۱۲۶۴_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا طَلْقُ بْنُ غَنَّامٍ، عَنْ شَرِيكٍ، وَقَيْسٌ، عَنْ أَبِي حَصِينٍ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَدِّ الأَمَانَةَ إِلَى مَنِ ائْتَمَنَكَ وَلَا تَخُنْ مَنْ خَانَكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ إِلَى هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَالُوا: إِذَا كَانَ لِلرَّجُلِ عَلَى آخَرَ شَيْءٌ فَذَهَبَ بِهِ، فَوَقَعَ لَهُ عِنْدَهُ شَيْءٌ، فَلَيْسَ لَهُ أَنْ

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ۳۹۹۱)

يَحْبِسَ عَنْهُ بِقَدْرِ مَا ذَهَبَ لَهُ عَلَيْهِ، وَرَخَّصَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وَقَالَ: إِنْ كَانَ لَهُ عَلَيْهِ دَرَاهِمُ، فَوَقَعَ لَهُ عِنْدَهُ دَنَانِيرُ فَلَيْسَ لَهُ، أَنْ يَحْبِسَ بِمَكَانِ دَرَاهِمِهِ إِلَّا أَنْ يَقَعَ عِنْدَهُ لَهُ دَرَاهِمُ فَلَهُ حِينَئِذٍ، أَنْ يَحْبِسَ مِنْ دَرَاهِمِهِ بِقَدْرِ مَا لَهُ عَلَيْهِ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي تاسو سره امانت کيږدي نو هغه ته خپل امانت واپس کړئ او څوك چي تاسو سره خيانت اوکړي نو تاسو ورسره خيانت مه کوئ

امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي، او بعضي اهل علمو دي طرف ته ذهاب کړي دي چي کله ديو سړي په چا باندي څه شي قرض وي او دي دي لره دخان سره ويسي او بيا ددي تلونکي کوم څيز دده لاس ته راشي نو دده دپاره جائز نه دي چي ددينه دومره دخان سره حصار کړي څومره چي ورنه هغه وړي وي، په تابعينو کي بعضي اهل علمو ددي اجازت ورکړي دي او دا دسفيان ثوري قول هم دي سفيان ثوري وائي که دده په ذمه دراهم وي په طور د امانت او بيا ده ته دده دينار راشي نو دده دپاره جائز نه دي چي دخپلو دراهمو په بدل کي دده دينارحصار کړي البته کله چي ده ته دراهم راشي نو هغه وخت کي به دده دپاره درست وي چي دهغه د دراهمو نه دومره حصاز کړي څومره چي دهغه په ذمه قرض دي.

**لغات**: خان: خان خونا وخيانة دنصر نه په معني د خيانت کولو په امانت کښي.

**تشريح** : د خيانت په مذمت کي نصوص شرعيه په کثرت سره وارد دي، الله تعالي تبارك وتعالي په خپل کتاب کي فرمائيلي دي:

وَقَالَ تَعَالَى: ﴿يَعْلَمُ خَائِنَةَ الْأَعْيُنِ وَمَا تُخْفِي الصُّدُورُ﴾ [غافر: ١٩].

يعني خبردار دى هغه په خيانت کونکي سترګي باندي.

په دي باره کي دمفسرينو څلور اقوال دي:اولنى قول ابن عباس رضي الله عنهما دى چي مطلب دايت دادى چي په کوم ځاي کي څوك تيريږي او په چاچي يي نظر اولګي نو فورا دي خپل نظر اوګرځوي ، دريم قول دمجاهد دى چي په ايت کي هغه ځاي ته کتل مراد دي کوم چي شريعت منع کړي دي ، دريم قول دضحاك دى چي هغه ځايونو ته کتل مراد دي کوم چي الله تعالي نه خوښوي ، څلورم قول دسدي دى دهغه په نزد په ايت کي ديو خل نه علاوه دوباره کتل مراد دي "وماتخفي الصدور" کوم چي په زړونو کي پټ وي ددينه مراد هغه وسوسي دي کومي چي په زړونو کي راځي نو الله تعالي قدرت دادى چي هغه دوسوسو نه هم خبر دى چي ددي سړي په زړه کي څه تيريږي.

---

1 ـ ابي داود کتاب البيوع ٨١ (٣٥٣٥) . (تحفة الأشراف : ١٤٨٣٦) . وسنن الدارمي کتاب البيوع ٥٧ (٢٦٣٩)

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دمنافق دري نښي دي : اول چي خبره کوي دروغ وائي :دويم دا چي وعده وکړي خلاف يی کوي: دريم داچي امانت ورسره کيخودی شي خيانت پکي کوي.

أخرجه: البخاري كتاب الايمان باب علامات المنافق ١٥/١ ( ٣٣ ) . ومسلم كتاب الايمان باب خصال المنافق ٥٦/١ ( ٥٩ ) ( ١٠٧ ) و( ١٠٩ ) واحمد والنسائي وابن حبان وابن منده في الايمان وابو عوانه والبيهقي٢٨٨/٥٦..

منافق هغه چاته وئيلي شي څوك چي په ژبه داسلام اظهار کوي ليکن په زړه کي يي كفر پټ پروت وي ، نفاق په گناه کي دكفر نه سخت دي، همدا وجه ده چي الله په قران کي ددوئ دپاره سخته سزا بيان کړي ده.

ان المنافقين في الدرك الاسفل من النار، دلته دعهد نبوي منافقين مراد دي چي رسول الله ته يي دوحي په ذريعه خبر ورکړي شوي وو.

په دي خبره دعلماؤ اتفاق دي چي اعتقادي نفاق درسول الله په دور کي ختم شوي دي ليکن عملي نفاق په مسلمانانو کي اوس هم موندلي شي داد كفر نه په درجه کي کم دي، ليكن خان ورنه ساتل ضروري دي.

سوال : په پورتني حديث کي دمنافقانو دري عادات بيان شوي دي اوپه بعضو دي څلور دي لكه اربع من كن فيه.

جواب: دري او څلور کيدل قيد اتفاقي دي ، دبعضو قول دي اول رسول الله دري بيان کړي وو بيا يي څلور بيان کړل.

*****************

## ٣٩ـ بَاب مَا جَاءَ فِي أَنَّ الْعَارِيَةَ مُؤَدَّاةٌ

### په سوال دغوښتلي شوي څيز دواپس کولو بيان

١٢٦٥ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَعَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عَيَّاشٍ، عَنْ شُرَحْبِيلَ بْنِ مُسْلِمٍ الْخَوْلَانِيِّ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي الْخُطْبَةِ عَامَ حَجَّةِ الْوَدَاعِ: " الْعَارِيَةُ مُؤَدَّاةٌ وَالزَّعِيمُ غَارِمٌ، وَالدَّيْنُ مَقْضِيٌّ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَاب، عَنْ سَمُرَةَ،

وَصَفْوَانَ بْنِ أُمَيَّةَ، وَأَنَسٍ. قَالَ: وَحَدِيثُ أَبِي أُمَامَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيْضًا مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي ما د نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دحجة الوداع په خطبه كي واوريدل فرمائيل يي په سوال غوښتلي شوي څيز به واپس كولي شي او ضمانت كونكي به تاوان وركوي او قرض به واجب الاداء وي.

امام ترمذي وائي دابوامامه حديث حسن غريب دي او دابوامامه په واسطه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په نورو سندونو هم دا روايت مروي دي. په دي باب كي دسمره صفوان بن اميه. او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي

*****************

١٢٦٦_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " عَلَى الْيَدِ مَا أَخَذَتْ حَتَّى تُؤَدِّيَ ". قَالَ قَتَادَةُ: ثُمَّ نَسِيَ الْحَسَنُ، فَقَالَ: " فَهُوَ أَمِينُكَ لَا ضَمَانَ عَلَيْهِ، يَعْنِي الْعَارِيَةَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ ذَهَبَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، إِلَى هَذَا وَقَالُوا: يَضْمَنُ صَاحِبُ الْعَارِيَةِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ: لَيْسَ عَلَى صَاحِبِ الْعَارِيَةِ ضَمَانٌ، إِلَّا أَنْ يُخَالِفَ، وَهُوَ قَوْلُ: الثَّوْرِيِّ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ، وَبِهِ يَقُولُ إِسْحَاق. (2)

**ترجمه** : دسمره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي هر يو شي چي لاس اخستلي څو پوري چي دا اداء شوي نه وي ترهغي به دده په ذمه باقي وي، قتاده وائي بيا دحسن بصري نه دا حديث هير شو او داسي به يي وئيل چاچي عاريت اخستلي وي هغه ستا امين دي او په هغه باندي تاوان نشته يعني په عاريت دغوښتلي شوي څيز دتباه كيدو په صورت كي تاوان نشته.

---

1 _ ابن ماجه كتاب الصدقات ٥ (٢٣٩٨). (تحفة الأشراف: ٤٨٨٣)

2 _ ابي داود كتاب البيوع ٩٠ (٣٥٦١). سنن ابن ماجه كتاب الصدقات ٥ (٢٤٠٠). (تحفة الأشراف: ٤٥٨٤). و مسند احمد (٥/١٢، ١٣). وسنن الدارمي كتاب البيوع ٥٦ (٢٦٣٨)

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضي په دي باندي عمل کول اختيار کړي دي چي په عاريت اخستونکي ضامن دي او همدا دامام شافعي او امام احمد قول دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي دبعضو قول دي چي په عاريت اخستونکي تاوان نشته مګر دا چي هغوئ دسامان والا مخالفت اوکړي دسفيان ثوري او اهل کوفه هم دا قول دي او اسحاق بن راهويه هم ددي قائل دي.

*****************

## ٤٠_ باب مَا جَاءَ فِي الِاحْتِكَارِ

### ديو څيز دذخيره کولو بيان

١٢٦٧_ حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ هَارُونَ، أَخْبَرَنَا مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، عَنْ مَعْمَرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ نَضْلَةَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "لَا يَحْتَكِرُ إِلَّا خَاطِئٌ"، فَقُلْتُ لِسَعِيدٍ: يَا أَبَا مُحَمَّدٍ، إِنَّكَ تَحْتَكِرُ، قَالَ: وَمَعْمَرٌ، قَدْ كَانَ يَحْتَكِرُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَإِنَّمَا رُوِيَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، أَنَّهُ كَانَ يَحْتَكِرُ الزَّيْتَ وَالْحِنْطَةَ وَنَحْوَ هَذَا. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَأَبِي أُمَامَةَ، وَابْنِ عُمَرَ. وَحَدِيثُ مَعْمَرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا احْتِكَارَ الطَّعَامِ، وَرَخَّصَ بَعْضُهُمْ فِي الِاحْتِكَارِ فِي غَيْرِ الطَّعَامِ، وقَالَ ابْنُ الْمُبَارَكِ: لَا بَأْسَ بِالِاحْتِكَارِ فِي الْقُطْنِ، وَالسِّخْتِيَانِ وَنَحْوِ ذَلِكَ.[1]

**ترجمه** : دمعمرو بن عبدالله بن نضله رضي الله عنه بيان دي چي درسول الله صلي الله عليه وسلم نه مي اوريدلي دي ذخيره اندوزي صرف ګنهګار انسان کوي دمحمد بن ابراهيم قول دي ما سعيد بن المسيب ته اووئيل اي ابو محمد ته خو ذخيره اندوزي کوي ؟ هغه اووئيل معمرو هم ذخيره اندوزي کوله.

امام ترمذي وائي دمعمرو حديث حسن صحيح دي، دسعيد بن مسيب نه مروي دي چي هغه به په تيلو او غنمو او دي قسم نورو څيزونو کي ذخيره اندوزي کوله، په دي باب کي دعمر، علي، ابوامامه، او ابن عمر رضي الله عنهم نه احاديث مروي دي ، او په همدي داهل علمو عمل دي او دوئ په خوراکي څيزونو کي ذخيره اندوزي کول ناجائز ګڼړلي دي، بعضي اهل

---

[1] _ مسلم كتاب المساقاة ٢٦ (البيوع ٤٧) . (١٦٠٥) . سنن ابي داود كتاب البيوع ٤٩ (٣٤٤٧) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ٦ (٢١٥٤) . (تحفة الأشراف : ١١٤٨١) . و مسند احمد (٦/٤٠٠) وسنن الدارمي/البيوع ١٢ (٢٥٨٥)

علمو دخوراك دڅیزونو نه علاوه په نورو څیزونو کي دذخیره اندوزي کولو اجازت ورکړي دي، ابن مبارک وائي مالوچ او دچیلۍ رنګ شوي څرمن او دا قسم نورو څیزونو کي که ذخیره اندوزي اوشي نو څه قباحت نشته.

**تشریح**: دعمر رضي الله عنه نه روایت دی چي ما د رسول الله صلي الله علیه وسلم نه اوریدلي دي فرمائیل یي که تاسو په الله تعالي توکل کولی څنګه چي دتوکل حق دی نو تاسو ته به یی هم داسي روزي درکولی لکه چي مرغانو ته یی ورکوي چي سحر اوږي دجالي نه اولوزي او ماښام ورته واپس ماړه راځي (ترمذي روایت کړی دی او حدیث حسن یی ورته وئیلی دی).

مطلب یی دادی چي مرغان د ورځي په شروع کي تش ججوري دجالي نه روان شي او ماښام ورته ډکی ججوري ماړه واپس شي (یعني مارغان ځانته خوراکه ذخیره کوي نه، او هره ورځ الله تعالي رزق ورکوي او وږي نه پاتي کیږي).

ددي حدیث مفهوم دادی چي سعي اوکوشش اوکسب او عمل په حقیقت کي درزق سبب نه دی بلکه رزق ورکونکی الله تعالي دی ددي حدیث دا مطلب نه دی چي انسان دي دخپل رزق ګټلو دپاره حرکت اوعمل کول پریږدي ځکه چي دتوکل او اعتماد تعلق دزړه سره دی کوم چي داعضاء دظاهري حرکت او عمل سره منافي نه دی په همدي وجه امام غزالي وائي که دچا داګمان وي چي توکل نوم دی دکسب او عمل پریخودو او دلاسو اوخپو اودرولو او دشل ګوډ دناستي په شان کیناستلو نو که دچا دا خیال وي نو خیال یي غلط دی.

دامام قشیري قول دی چي دتوکل اصل مقام زړه دی اودمعاش دحصول دپاره معقول او مناسب طریقه باندي کوشش کول په الله تعالي باندي داعتماد کولو سره منافي نه دي لکه چي الله تعالي فرمائیلي دي "وکاین من دابة لاتحمل رزقها الله یرزقها وایاکم" ملاعلي قاري یوه واقعه بیان کړي ده چي الله تعالي څنګه پرورش کوي تاسو اوګورئ کله چي د ښاروبچي دانډي نه بهر کیږي نو بالکل سپین وي چي موریي کله اووینې نو بد ورته ښکاره شي او پخپل ځاي یي پریږدي او ورنه روانه شي بیا دینه پس الله تعالي مچان او میږي دي بچي ته راولیږي چي دابچي یي اوخوري اوبیادا هم تور شي ددینه پس یي چي کله خپله مور اوګوري نو واپس ورته راشي او پرورش یي شروع کړي.

ام المؤمنین عائشه صدیقه رضي الله عنها فرمائي چي هغوي یوه چیلۍ ذبح کړه دهغې متعلق رسول الله صلي الله علیه وسلم تپوس اوکړو چي دهغې نه څه غوښه باقي شته؟ هغې جواب ورکړو چي یو مخکنی اولي پاتی شوی دی، رسول الله صلي الله علیه وسلم ارشاد اوفرمائیلو چي ددغې اولي نه علاوه ټوله باقي ده دا حدیث امام ترمذي روایت کړی دی او حدیث حسن صحیح یی ورته وئیلی دی، مطلب دادی چي دیو اولي نه علاوه ټوله غوښه

کومه چي صدقه کړی شوه هغه مونږ دپاره په اخرت کي باقي ده.
دحديث مطلب دادی څه چي دالله دپاره خرڅ شول هغه باقي دي او په همدي به په اخرت کي همیشه ثواب ملاویږي او په دي حديث کي دقران کريم دي ايت کريمه "ماعندكم ينفد وماعندالله باق" الايه. ته اشاره ده. يعني څه چي تاسو سره دي دابه ختم شي اود الله سره چي څه دي دا به هميشه وي.
فقيه ابو الليث سمرقندي ليکلي دي چي سهل بن تستري به دالله په لاز کي ډيرمال خرچ کولو دده پلار او رونړو عبدالله بن مبارك ته دده نه شکايت اوکړو چي دی خو هر څه ختموي فقير به شي عبدالله بن مبارك چي کله دسهل سره خبري اوکړي نو هغه ورته اووئيل که چري دمديني کوم اوسيدونکی په "رستاق" (په فارس کي ديو ښار نوم دی) کي زمکه واخلي او هلته منتقل کيدل اوغواړي نو ايا په مدينه کي به کوم څيز پريږدي هغه اووئيل نه نو ده اووئيل بس همداخبره ده (چي زه اخرت ته تلونکی يم او هلته خپل مال منتقل کول غواړم).

***************

## ٤١_ بَاب مَا جَاءَ فِي بَيْعِ الْمُحَفَّلاتِ

### دداسي څاروي دخرڅولو بيان دکوم په غلانزکي چي پۍ حصار کړي شوي وي

١٢٦٨_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو الْأَحْوَصِ، عَنْ سِمَاكٍ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تَسْتَقْبِلُوا السُّوقَ، وَلَا تُحَفِّلُوا، وَلَا يُنَفِّقْ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. وَحَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا بَيْعَ الْمُحَفَّلَةِ وَهِيَ الْمُصَرَّاةُ، لَا يَحْلُبُهَا صَاحِبُهَا أَيَّامًا، أَوْ نَحْوَ ذَلِكَ لِيَجْتَمِعَ اللَّبَنُ فِي ضَرْعِهَا، فَيَغْتَرَّ بِهَا الْمُشْتَرِي وَهَذَا ضَرْبٌ مِنَ الْخَدِيعَةِ، وَالْغَرَرِ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بازار ته درارسيدو نه مخکي دراتلونکي قافلي استقبال مه کوئ او دڅاروو په غلانزو کي پۍ مه حصاروئ (چي خريدار وربانديي دهوکه شي) او په دروغه خريدار جوړيدو په شکل کي خلقو دپاره ددوئ سامانونه مه خرڅوئ. امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب کي دابن مسعود او ابوهريره رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي او په همدي داهل علمو عمل دي دوئ دداسي څاروي خرڅول جائز نه ګڼري دکوم په غلانز

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٦١١٦)

كي چي پې حصار كړي شوي دي او محفله هغه ځاروي ته ونيلي شي دكوم په غلانز كي چي پې حصار كړي شوي دي او مالك يو څو ورځي نه وي لوشلي تردي چي غلانز يي ډكه شي او خريدار ورباندي دهوكه شي دا دفريب او دهوكي يو شكل دي.

*****************

## ٤٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي الْيَمِينِ الْفَاجِرَةِ يُقْتَطَعُ بِهَا مَالُ الْمُسْلِمِ

### د دروغو دقسم په ذريعه ديو مسلمان دمال خوړلو بيان

١٢٦٩_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ حَلَفَ عَلَى يَمِينٍ وَهُوَ فِيهَا فَاجِرٌ لِيَقْتَطِعَ بِهَا مَالَ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَقِيَ اللَّهَ وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ". فَقَالَ الأَشْعَثُ بْنُ قَيْسٍ: فِيَّ وَاللَّهِ لَقَدْ كَانَ ذَلِكَ كَانَ بَيْنِي وَبَيْنَ رَجُلٍ مِنَ الْيَهُودِ أَرْضٌ فَجَحَدَنِي، فَقَدَّمْتُهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لِي: رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَلَكَ بَيِّنَةٌ؟". قُلْتُ: لاَ، فَقَالَ لِلْيَهُودِيِّ: "احْلِفْ". فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِذًا يَحْلِفَ، فَيَذْهَبَ بِمَالِي، فَأَنْزَلَ اللَّهُ تَعَالَى: إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلاً (آل عمران: ٧٧) إِلَى آخِرِ الآيَةِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَفِي الْبَاب، عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ، وَأَبِي مُوسَى، وَأَبِي أُمَامَةَ بْنِ ثَعْلَبَةَ الأَنْصَارِيِّ، وَعِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، وَحَدِيثُ ابْنِ مَسْعُودٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي په دروغه قسم اوخوړلو تردي چي دقسم په ذريعه دكوم مسلمان مال اوخوري دي به دالله تعالي سره په داسي حال كي مخامخ كيږي چي هغه به ورنه ناراضه وي، اشعث بن قيس رضي الله عنه وائي په الله قسم رسول الله زما باره كي دا حديث بيان كړي وو زما او ديهودي په مينځ كي زمكه شريكه وه او هغه زما دحصي نه انكار اوكړو نو ما ده لره نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته راوستلو رسول الله زما نه تپوس اوكړو ايا تاسره كوم گواه شته ما عرض اوكړو نشته رسول الله صلي الله عليه وسلم يهودي ته اوفرمائيل ته قسم اوخوره ما عرض اوكړو اي دالله رسوله ده ته خو قسم خوړل څه گران نه دي قسم به اوخوري او زما مال

---

1 _ البخاري/الشرب والمساقاة ٣ (٢٣٥٦). والخصومات ٣ (٢٤١٦). والرهن ٦ (٢٥١٥). والشهادات ١٩ (٢٦٦٦). و ٢٠ (٢٦٦٩)، و ٢٣ (٢٦٧٣)، و ٢٥ (٢٦٧٦). وتفسير آل عمران ٣ (٤٥٤٩). والايمان والنذور ١١ (٦٦٥٩)، و ١٧ (٦٦٧٦). والأحكام ٣٠ (٧١٨٣). والتوحيد ٢٤ (٧٤٤٥). صحيح مسلم كتاب الإيمان ٦١ (٢٢٠). سنن ابي داود كتاب الأيمان والنذور ٢ (٣٢٤٣). سنن ابن ماجه كتاب الأحكام ٨ (٢٣٢٣). (تحفة الأشراف: ١٥٨ و ٩٢٤٢). و مسند احمد (١/٣٧٧)

به هضم کړي نو دي وخت کي الله تعالي دا ايت کريمه نازل کړو إِنَّ الَّذِينَ يَشْتَرُونَ بِعَهْدِ اللَّهِ وَأَيْمَانِهِمْ ثَمَنًا قَلِيلًا او يقينا هغه کسان ځوك چي دالله تعالي په وعدو باندي او په قسمونو باندي ددنيا لږي پيسي اخلي (ال عمران ۷۷) او په دي باب کي دوائل بن حجر ، ابو موسي، ابوامامه بن ثعلبه او عمران بن حصين رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

**لغات:** حلف: حلف ، حلفا وحلفا دضرب نه په معني دقسم کولو دي په الله باندي، او دا لفظ عموما په جديد لغت کي دمعاهدي کولو دپاره هم استعماليږي.

: اليمين جمع ايمان راځي په معني دقسم سره دفتح او کرم او سمع نه مستعمل دي معني يي بابرکته کيدل دي.

**تشريح** : "من حلف علي" يعني که يو سړی قسم اوخوري اوبيا ورته ددينه بل کار بهتر ښکاره شي نو هغه بهتر کار دي اوکړي. په دي خبره دفقهاء اتفاق دی چي داطاعت قسم پوره کول پکار دي او دمعصيت قسم پوره کول جائز نه دي لکه چي په يو روايت کي راغلي دي "فراي غيرها خيرا منها فليکفر عن يمينه وليفعل".

ليکن دفقهاؤ په دي کي اختلاف دی چي دمعصيت نذر به پوره کولی شي او که نه او په دي کي کفاره شته او که نشته ، امام مالك او امام شافعي وايي چي کفاره نشته ليکن امام ابو حنيفه وائي دي معصيت ته به کتلی شي دابه يا معصيت لعينها وي يابه لغيرها وي که لعينها وي مثلا قتل ، زنا وغيره نو ددي پوره کول هم جائز نه دي او نه ددي کفاره ورکول ضروري دي، خو که لغيرها وي مثلا داختر په ورځ ياپه ايام تشريق کي روژي اونيولي نو په دي صورت کي به ددي نذر پوره کول جائز نه وي ليکن کفاره ديمين به ورباندي راځي.

دابن مسعو درضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ځوك چي دبل مسلمان په مال باندی ناحقه قسم اوخوري قيامت کي به الله تعالي ته مخامخ کيږي په داسي حالت کي چي الله تعالي به ورته سخت غصه وي، بيا رسول الله صلي الله عليه وسلم ددی په تائيد کي مونږ ته دا ايت مبارك تلاوت کړو ځوك چي الله تعالي په اقرار او قسمونو باندی لږ مال واخلي په اخرت کي دهغوئ هيڅ حصه نشته تر اخره (ابوداؤد ، ترمذي).

عبدالله بن عمرو بن عاص رضي الله عنه بيان کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا خبری دګناه کبيره په طور بيان کړی (۱) الله تعالي سره شريك جوړول (۲) دمور پلار نافرماني کول (۳) خان وژل يا بل ځوك په ناحقه وژل (۴) په دروغه قسم خوړل (بخاري) دی قسم ته بالاراده او دپوهی سره چي دا دروغ دي يمين غموس وائي چي ددی قسم ګناه دومره زياته ده چي انسان پکي ډوبيږي.

اليمين جمع ايمان راځي په معني دقسم سره دفتح او کرم او سمع نه مستعمل دي معني يي

بابر کته کیدل دي.

## دقسم دري اقسام

قسم په دري قسمه دی اول یمین لغوه، دویم یمین منعقد، دریم یمین غموس، یمین لغوه دامام ابو حنیفه په نزد په ماضي کي په کوم کار باندي خلاف واقع قسم خوړل دي چي زه رشتیا وایم په دي کي نه کفاره شته او نه گناه، امام شافعي وائي دیمین لغوه نه مراد هغه قسم دی کوم چي بغیر دقصد نه دخولي نه اوځي او یمین منعقد په مستقبل کي دکوم کار کولو یا نه کولو دپاره قسم خوړل دي نو په دي صورت کي به په اتفاق سره کفاره لازمیږي او یمین غموس دماضي په کوم خلاف واقع کار باندي په قصد سره قسم خوړل دي دغموس معني غوپه ورکول دي او دلته دا قسم کونکی هم په گناه کي غوپه خوري دامام شافعي په نزد په دي قسم کي هم کفاره ده او دامام ابو حنیفه په نزد په یمین غموس کي کفاره نه وي. (مدارج السالکین)

دزید بن ثابت ضحاك انصاري رضي الله عنه نه روایت دی په بیعت رضوان کي شریك وو چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چاچي اسلام نه غیر بل مذهب باندی په دروغه قسم اوخوړو نو هغه هغه شان شو څنګه چي یی وئیلي دي (مثلا یو سړي اووئیل هندو به یم که دا کارمی کړی وي) او دا قسم یی قصدا په دروغه خوړلی وي (یعني هغه کار یی کړی وي او بیا هم قسم خوري چي نه می دی کړی نو دی هم دغه شان شو څنګه چي یی وئیلي دي او چاچي خودکشي اوکړه خپل ځان یی په څه شي قتل کړو نو دقیامت په ورځ به هم په هغه شي عذاب ورکولی شي او دکوم څیز چي څوك مالك نه وي دهغی نذر نه صحیح کیږي او په مسلمان لعنت وئیل دهغه دقتل په شان دي (یعني دقتل په شان غټه گناه ده) (متفق علیه).

"من حلف علي یمین بملة غیرالاسلام کاذبا متعمدا" یعني څوك چي په قصد داسلام نه علاوه په کوم بل دین باندي په دروغه قسم اوخوري نو هغه داسي دی، مثال یي داسي دی که څوك قسم اوخوري که ما فلانی کار اوکړو نو زه به یهودي یا نصراني یم یا دا چي مسلمان به نه یم یا داچي دپیغمبر نه به بیزار یم.

نو ظاهري مفهوم دحدیث خو دادي په داسي قسم کولو سره یي ارتکاب دحرام وکړو او په قسم ماتولو سره یهودي یا نصراني شو ، علماء وایي دا بیان په طور دتنبیه دي ، ددي مثال داسي لکه من ترك الصلاة فقد کفر، پداسي قسم سره کافر کیږي خو نه لیکن داسي قسم خوړل حرام دي.

## په داسي قسم خوړولو کي کفاره شته اوکنه

دداسي قسم خوړلو په صورت کي دامام ابو حنیفه په نزد کفاره لازمیږي او دامام مالك او امام

شافعي په نزد كفاره نه لازميږي التبه سخت ګنهګار به ضروري وي.
اوكه دي قسم وكړي چي فلاني كه صحت مند شو نو فلاني فلاني غلام كه ما واخستلو نو هغه دي ازاد وي نو كه دهغه دصحت مندئ نه پس ده دا غلام واخستلو نو ازاديږي. 3/37

*****************

## ٤٣_ بَابُ مَا جَاءَ إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ

١٢٧٠_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَوْنِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ، فَالْقَوْلُ قَوْلُ الْبَائِعِ، وَالْمُبْتَاعُ بِالْخِيَارِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ مُرْسَلٌ عَوْنُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ لَمْ يُدْرِكْ ابْنَ مَسْعُودٍ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَذَا الْحَدِيثُ أَيْضًا، وَهُوَ مُرْسَلٌ أَيْضًا. قَالَ أَبُو عِيسَى: قَالَ إِسْحَاقُ بْنُ مَنْصُورٍ، قُلْتُ لِأَحْمَدَ: إِذَا اخْتَلَفَ الْبَيِّعَانِ، وَلَمْ تَكُنْ بَيِّنَةٌ، قَالَ: الْقَوْلُ مَا قَالَ رَبُّ السِّلْعَةِ، أَوْ يَتَرَادَّانِ. قَالَ إِسْحَاقُ: كَمَا قَالَ، وَكُلُّ مَنْ كَانَ الْقَوْلُ قَوْلَهُ فَعَلَيْهِ الْيَمِينُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَكَذَا رُوِيَ عَنْ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنَ التَّابِعِينَ مِنْهُمْ: شُرَيْحٌ وَغَيْرُهُ نَحْوُ هَذَا. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي په بائع او مشتري كي اختلاف پيداشي نو دبائع خبره به معتبره وي او مشتري ته به اختيار وي.

امام ترمذي وائي داحديث مرسل دي او دابن مسعود سره دعون بن عبدالله ملاقات نه دي شوي، او دقاسم بن عبدالرحمن نه هم دا حديث مروي دي هغه دابن مسعود نه نقل كړي دي او ابن مسعود دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي مګر دا روايت هم مرسل دي، اسحاق بن منصور وائي ما دامام احمد نه تپوس اوكړو چي كله په بائع او مشتري كي اختلاف پيدا شي او كوم ګواه موجود نه وي نو دچا خبره به منلي كيږي؟ هغوئ اووئيل خبره به هغه معتبر وي كومه چي دمال مالك كړي وي او يا خو به دوئ دواړه خپل خپل څيز واپس واخلي يعني بائع به خپل سامان واپس واخلي او مشتري به خپل قيمت واپس واخلي اسحاق بن راهويه هم هغه خبره كړي ده كومه چي امام احمد كړي ده خو خبره كه دهر چا اومنلي شي هغه

[1] _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٩٥٣١) وانظر أيضا: سنن ابي داود كتاب البيوع ٧٤ (٣٥١١) . سنن النسائي كتاب البيوع ٨٢ (٤٦٥٢) . سنن ابن ماجه كتاب التجارات ١٩ (٢١٨٦) . مسند احمد (١/٤٦٦)

ته به قسم ضرور ورکولي شي، امام ترمذي وائي په تابعينو کي دبعضي اهل علمو نه هم داسي مروي دي چي يو په هغوئ کي قاضي شريح هم دي.

*****************

## ٤٤_ باب مَا جَاءَ فِي بَيْعِ فَضْلِ الْمَاءِ

### دپالتو اوبو دخرڅولو بيان

١٢٧١_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا دَاوُدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْعَطَّارُ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنْ إِيَاسِ بْنِ عَبْدٍ الْمُزَنِيِّ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمَاءِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَبُهَيْسَةَ، عَنْ أَبِيهَا، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَعَائِشَةَ، وَأَنَسٍ، وَعَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ إِيَاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، أَنَّهُمْ كَرِهُوا بَيْعَ الْمَاءِ، وَهُوَ قَوْلُ: ابْنِ الْمُبَارَكِ، وَالشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي بَيْعِ الْمَاءِ مِنْهُمْ: الْحَسَنُ الْبَصْرِيُّ. (1)

**ترجمه**: داياس بن عبد مزني رضي الله عنه بيان دي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم داوبو خرڅولو نه منع فرمائيلي ده، امام ترمذي وائي داياس حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر، او د بهيسه دپلار او ابوهريره، انس، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي، داکثرو اهل علمو هم په دي باندي عمل دي او دوئ داوبو خرڅول ناجائز ګنړلي دي، او همدا د ابن مبارک، شافعي، احمد، او اسحاق قول هم دي مګر بعضي اهل علمو داوبو خرڅولو اجازت ورکړي دي چي يو په دوئ کي حسن بصري هم شامل دي.

### د اياس بن عبدالله بن ابو ذباب رضي الله عنه حالات:

نوم اياس قبيله دوس دپلار نوم عبدالله خلقو مزنيه قبيلي ته منسوب کړی دی مګر داکثريت په نزد دوس قبيلي ته يي نسبت راجح دی دمکي اوسيدونکی صحابي دی ابن منده او ابو نعيم اختلاف کړی دی چي دی صحابي دی اوکه نه دی دده نه صرف يو روايت منقول دی.

*****************

1 _ سنن ابي داود كتاب البيوع ٦٣ (٣٤٧٨). سنن النسائي كتاب البيوع ٨٨ (٤٦٦٦). سنن ابن ماجه كتاب الرهون ١٨ (الأحكام ٧٩ (٢٤٧٦). (تحفة الأشراف: ١٧٤٨). و مسند احمد (٣/٤١٧). وسنن الدارمي كتاب البيوع ٦٩ (٢٦٥٤)

١٢٧٢ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يُمْنَعُ فَضْلُ الْمَاءِ لِيُمْنَعَ بِهِ الْكَلَأُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْمِنْهَالِ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُطْعِمٍ كُوفِيٌّ، وَهُوَ الَّذِي رَوَى عَنْهُ حَبِيبُ بْنُ أَبِي ثَابِتٍ، وَأَبُو الْمِنْهَالِ سَيَّارُ بْنُ سَلَامَةَ بَصْرِيٌّ، صَاحِبُ أَبِي بَرْزَةَ الأَسْلَمِيِّ. [1]

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي د ضرورت نه زياتي اوبه دي دچانه منع نکړي شي څکه چي په دي وجه ګيا بنديږي.
امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٤٥ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ عَسْبِ الْفَحْلِ

### د نر ځاروي ښځه ځاروي ته په پريخودو با ندي داجرت اخستلو دکراهت بيان

١٢٧٣ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، وَأَبُو عَمَّارٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيل بْنُ عُلَيَّةَ، قَالَ: أَخْبَرَنَا عَلِيُّ بْنُ الْحَكَمِ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَأَنَسٍ، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُهُمْ فِي قَبُولِ الْكَرَامَةِ عَلَى ذَلِكَ. [2]

**ترجمه**: دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم د نر ځاروي مالونو ته په پريخودلو داجرت اخستلو نه منع فرمائيلي ده، امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابوهريره، انس، او ابوسعيد خدري رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي.او بعضي علماؤ ددي كار اجازت وركړي دي ، او دجمهورو په نزد داكراهت تحريمي دي.

*****************

[1] ـ صحيح البخاري كتاب الشرب والمساقاة ٢ (٢٣٥٣) . صحيح مسلم كتاب البيوع ٢٩ (المساقاة ٨) (١٥٦٦) . سنن ابي داود كتاب البيوع ٦٢ (٣٤٧٣) . سنن ابن ماجه كتاب الأحكام ١٩ (٢٤٧٨) . (تحفة الأشراف : ١٣٩٨) . وط/الأقضية ٢٥ (٢٩) ومسند احمد (٢/٢٤٤، ٢٧٣، ٣٠٩، ٣٨٢، ٣٩٤، ٥٠٠)

[2] ـ البخاري كتاب الإجارة ٢١ (٢٢٨٤) . سنن ابي داود كتاب البيوع ٤٢ (٣٤٢٩) . سنن النسائي كتاب البيوع ٩٤ (٤٦٧٥) . (تحفة الأشراف : ٨٢٣٣) . ومسند احمد (٢/٤)

١٢٧٤ـ حَدَّثَنَا عَبْدَةُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الْخُزَاعِيُّ الْبَصْرِيُّ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ آدَمَ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حُمَيْدٍ الرُّؤَاسِيِّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِبْرَاهِيمَ التَّيْمِيِّ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَجُلًا مِنْ كِلَابٍ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ عَسْبِ الْفَحْلِ "فَنَهَاهُ". فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، إِنَّا نُطْرِقُ الْفَحْلَ، فَنُكْرَمُ، "فَرَخَّصَ لَهُ فِي الْكَرَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ إِلَّا مِنْ حَدِيثِ إِبْرَاهِيمَ بْنِ حُمَيْدٍ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. [1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي دبني كلاب قبيلي يو كس دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دنر ښاروي مادي ته په پريخودلو داجرت اخستلو باره كي تپوس اوكړو نورسول الله صلي الله عليه وسلم ددينه منع اوفرمائيله، سوال كونكي بيا عرض اوكړو اي دالله رسوله مونږ چي نران ښاروي ښاروو ته پريږدو نو مونږ ورنه غواړو نه مونږ ته بخشش راكولي كيږي ددي څه حكم دي؟ نو رسول الله هغه ته په طور دبخشش اخستلو اجازت وركړو، امام ترمذي وائي دا حديث حسن غريب دي او دا مونږ ته صرف دابراهيم بن حميد په سند رارسيدلي دي كوم چي هغه دهشام بن عروه نه نقل كړي دي.

*****************

## ٤٦ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي ثَمَنِ الْكَلْبِ

### دسپي دقيمت بيان

١٢٧٥ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ رَافِعٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ، عَنْ يَحْيَى بْنِ أَبِي كَثِيرٍ، عَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ قَارِظٍ، عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "كَسْبُ الْحَجَّامِ خَبِيثٌ، وَمَهْرُ الْبَغِيِّ خَبِيثٌ، وَثَمَنُ الْكَلْبِ خَبِيثٌ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَعَلِيٍّ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَأَبِي مَسْعُودٍ، وَجَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَعَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ رَافِعٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، كَرِهُوا ثَمَنَ الْكَلْبِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي ثَمَنِ كَلْبِ الصَّيْدِ. [2]

---

[1] ـ النسائي كتاب البيوع ٩٣ (٤٦٧٦). (تحفة الأشراف: ١٣٥٠)

[2] ـ مسلم/المساقاة ٩ (البيوع ٣٠). (١٥٦٨). سنن ابي داود/البيوع ٣٩ (٣٤٢١). سنن النسائي/الذبائح ١٥ (٤٢٩٩). تحفة الأشراف: ٣٥٥٥). و مسند احمد (٣/٤٦٣، ٤٦٥). و ٤/١٤١)

**ترجمه** : درافع بن خديج رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دښکر لګونکي ګټه پليته ده او دزناکاري ښځي اجرت پليت دي او دسپي قيمت پليت دي.
امام ترمذي وائي درافع رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي، او په دي باب کي دعمر، علي، ابن مسعود، ابومسعود، جابر، ابوهريره، ابن عباس، ابن عمر، او عبدالله بن جعفر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داکثرو اهل علمو په دي باندي عمل هم دي او دوئ دسپي دقيمت خوړل ناجائز ګڼړلي دي همدا دامام شافعي او امام احمد بن حنبل او اسحاق بن راهويه رحمهم الله قول هم دي او بعضي اهل علمو دښکاري سپي دقيمت اجازت ورکړي دي.
**لغات** : الثمن: معني دمبيعي مالي بدل ، قيمت، الثمانة او الثمين قيمتي څيز.
البغي معني ظلم، خيانت، ګناه، جنايت، ډير باران.
**تشريح** : په ښځو امدن حاصلولو باندي اود نجوميانو په اجرت باندي اود سپو په ساتلو باندي په دي حديث کي بحث شوي دي:
**مهر البغي** : ديته ويلي شي چي زناکاره ښځه په زنا باندي اجرت واخلي پدي دتمامو علماؤ اتفاق دي چي داقسم اجرت حرام قطعي دي.
بعضي علماؤ دحديث مذکوره ظاهر ته په کتو سره دهر قسم سپي قيمت او خريدو فروخت حرام ګرځولي دي ، مګر امام ابوحنيفه او امام محمد او بعضي نورو علماؤ دا حديث په دي حمل کړي دي چي ددينه غير معلم اوغير ښکاري سپي مراد دي، او که چا په سپي محنت وکړو اوښکار يي ورته وخودلو.
يا ددي حديث تعلق دهغه وخت سره دي کله چي رسول الله دسپو دوژلو حکم کړي وو او بيا وروسته ددي حکم منسوخ شو

### فرشتي داسي کورته نه ورځي چي سپي يا تصوير پکي وي

دابوطلحه رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي کوم کور کي چي تصوير ياسپی وي درحمت فرشتی نه ورننوزي (بخاري مسلم)
داسي کورونو ته فرشتي نه ورځي په کومو کي چي سپی يا تصوير موجود وي. دا حکم د هغه سپي دی دکوم چي ساتل حرام دي او دکومو سپو دساتلو چي اجازت شته هغه په دي کي داخل نه دي، مثلا ښکاري سپی يا دځاروو دحفاظت دپاره دداسي سپو ساتل دفرشتو دپاره رکاوټ نه جوړيږي.
او دتصوير نه مراد هغه تصوير دی دکوم ساتل او استعمالول چي حرام دي او که داسي تصوير وي چي بالکل وړوکی وي يا دغير ذي روح څيز تصوير وي نو دداسي تصوير موجودګي هم دفرشتو دپاره رکاوټ نه دی، ليکن بعضي علماء وائي چي دا حکم عام دی هر قسم سپي او

تصوير ته شامل دی برابره خبره ده چي په کورکي يي دساتلو اجازت وي او که نه.
دفرشتونه هغه فرشتي مراد دي کومي چي دانسانانو داعمالو ليکونکي او حفاظت کونکي نه وي څکه چي عمل ليکونکي فرشتي خو په هر حال کي دانسان سره موجودي دي.

## دسپي په وجه جبريل نه راتلل

دابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي جبرائيل عليه السلام رسول الله صلي الله عليه وسلم سره دراتلو وعده کړی وه بيايي راتلو کي دومره تاخير اوکړو چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ته انتظار مشکل شو بهر ته اووتو نو جبرائيل عليه السلام ورسره ملاقات اوکړو رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته دتاخير ګيله اوکړه نو هغه اووئيل مونږ داسی کور ته نه ورځو کوم کي چي سپي يا تصوير وي.
ابن عمر رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي دښکار يا فصل دحفاظت نه علاوه سپی اوساتلو هره ورځ به يي دنيکو دثواب نه دوه قيراطه اجر کميږي او په يو روايت يو قيراط راغلی دی.

## دقيراط تحقيق

قيراط يو وزن دی کوم چي يو دانګ شپږ رتۍ او دبعضو په نزد ديو دينار ۲/۴ حصه ده او دبعضو په قول ددينار لسمه حصي دنيمي برابر وي او يو دانګ دشپږ رتو برابر وي يا ديو درهم دشپږي حصي برابر وي او په بعضو روايتونو کي دقيراط وزن داحد دغر برابر خودلی شوی دی خلاصه داده چي دضرورت نه بغير سپي ساتلو په وجه انسان دخپلو نيکو عملونو ديوي ډيري لويي حصي نه محروميږي.

## په بعضي وجوهاتو سپي ساتل جائز دي

ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چاچي سپی اوساتلو دهغه دنيك عمل داجر نه به هره ورځ دوه قيراطه کميږي ليکن که دپټي يا څارو دحفاظت دپاره وي نو خير دی.
او دامام مسلم يو روايت په دی الفاظو دی چاچي سپی اوساتلو که دښکار سپی يا دپټي او يا دڅارو دحفاظت سپی نه وي نو دهغه داجر نه هره ورځ دوه قيراطه کميږي.
يو سوال څلور جوابونه
سوال: دسپي ساتلو په وجه په يو روايت کي ديو قيراط ثواب دکميدو ذکر دی او په بل روايت کي د دوه قيراطه نيکۍ کميدو ذکر دی په دواړو روايتونو کي تعارض دی.
جواب: بعضي علماء وائي بعضي سپي ډيرخطرناك په تکليف رسونکي وي نو دهغي په ساتلو سره دوه قيراطه ثواب کميږي او کوم سپي چي کم ضرر والا وي دهغوئ په ساتلو يو قيراط

ثواب كميږي.
دويم جواب: مقدس مقام مثلا مكه ، مدينه، وغيره ښارونو كي بغير دضرورته سپي ساتلو په وجه دوه قيراطه ثواب كميږي او ددينه په علاوه ښارونو كي يو قيراط ثواب كميږي.
دريم جواب: په ښار كي دوه قيراطه كميږي او په كلو كي يو قيراط كميږي.
څلورم: په ابتداء كي ديو قيراط وعيد وو ليكن كله چي خلقوسپي ساتل زيات كړل نو په زجر كي زيادت راغى او ددوه قيراطه ثواب كميدو حكم جاري شو اوس به په دوه قيراطه ثواب كميدو والاحديث باندي عمل وي.
دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي درحمت فرشتي داسى قافلى سره نه ملګري كيږي كومه كي چي سپى وي يا جرس وي.
"لاتصحب الملائكة" يعني فرشتي ملګرتيا نه كوي، ددينه هغه فرشتي مراد دي كومي چي داعمالو ليكونكو او حفاظت كونكو نه علاوه وي.
"جرس" يعني تلئ ددي په وجه هم فرشتي لري تختي ځكه چي دا د ناقوس سره مشابه دى كوم چي دغيرمسلمو علامه ده يا داچي ددي اواز په شريعت كي بد ګنړلى شوى دى، په يو روايت كي راځي چي يو هلك عائشه رضي الله عنها ته راغلو او داسي ځيز ورسره وو چي شرنګا يي كوله ام المومنين ورته اوفرمائيل داسي ځيز زما خواته مه راوړه كوم چي فرشتو لره لري شړونكى وي.

*****************

١٢٧٦_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ. ح وحَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْمَخْزُومِيُّ، وَغَيْرُ وَاحِدٍ، قَالُوا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ بْنُ عُيَيْنَةَ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ أَبِي بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: " نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَمَهْرِ الْبَغِيِّ وَحُلْوَانِ الْكَاهِنِ ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

**ترجمه** : دابومسعود انصاري رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي دقيمت اخستلو نه او دزناكاري ښخي دامدن نه او دكاهن دخوږو نه منع فرمائيلي ده، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

*****************

[1] _ حديث رقم ١١٣٣ (تحفة الأشراف : ١٠٠١٠)

## ٤٧_ باب مَا جَاءَ فِي كَسْبِ الْحَجَّامِ

### دښکر لګونکي دمزدورۍ اخستلو دعدم جواز بیان

١٢٧٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنِ ابْنِ شِهَابٍ، عَنِ ابْنِ مُحَيِّصَةَ أَخَا بَنِي حَارِثَةَ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ اسْتَأْذَنَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي إِجَارَةِ الْحَجَّامِ، فَنَهَاهُ عَنْهَا، فَلَمْ يَزَلْ يَسْأَلُهُ، وَيَسْتَأْذِنُهُ، حَتَّى قَالَ: " اعْلِفْهُ نَاضِحَكَ، وَأَطْعِمْهُ رَقِيقَكَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ رَافِعِ بْنِ خَدِيجٍ، وَأَبِي جُحَيْفَةَ، وَجَابِرٍ، وَالسَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ مُحَيِّصَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وقَالَ أَحْمَدُ: إِنْ سَأَلَنِي حَجَّامٌ نَهَيْتُهُ، وَآخُذُ بِهَذَا الْحَدِيثِ. (1)

**ترجمه** : دمحيصه رضي الله عنه بيان دي فرمائي چي ما دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه دښكر لګونكي داجرت اجازت طلب كړو نو هغوئ ددينه منع اوفرمائيله ليكن ما به ورنه بار بار تپوس كولو او اجازت به مي غوښتلو تردي پوري چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا دخپل اوښ په ګيا باندي خرچ كړه او يايي پخپل غلام باندي اوخوروه.
امام ترمذي وائي دمحيصه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي درافع بن خديج، جحيفه، جابر، او سائب بن يزيد رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي، امام احمد وائي كه چري زما نه كوم ښكر لګونكي مزدوري اوغواړي نو زه يي ورته نه وركوم او په دليل كي به ورته همدا حديث پيش كوم.

*****************

**حلوان الكاهن**، يعني دكاهن شيريني، كاهنانو ته چي به كوم خلق راتلل او هغئ به ورته راتلونكي خبرونه بيانول نو خلقو به ورته دشيرينئ په نوم اجرت وركولو ، داهم حرام دي.

## ٤٨_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي كَسْبِ الْحَجَّامِ

### دښکر لګونکي دمزدورۍ اخستلو دجواز بیان

١٢٧٨_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنْ حُمَيْدٍ، قَالَ: سُئِلَ أَنَسٌ عَنْ كَسْبِ الْحَجَّامِ، فَقَالَ أَنَسٌ: " احْتَجَمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَحَجَمَهُ أَبُو طَيْبَةَ، فَأَمَرَ لَهُ بِصَاعَيْنِ مِنْ طَعَامٍ، وَكَلَّمَ أَهْلَهُ، فَوَضَعُوا عَنْهُ مِنْ خَرَاجِهِ ". وَقَالَ: إِنَّ أَفْضَلَ مَا تَدَاوَيْتُمْ بِهِ الْحِجَامَةَ، أَوْ إِنَّ

---

1 _ حديث رقم ١١٣٣ (تحفة الأشراف : ١١٠١٠)

مِنْ أَمْثَلِ دَوَائِكُمُ الْحِجَامَةَ، قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عَلِيٍّ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَنَسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، فِي كَسْبِ الْحَجَّامِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ. (1)

**ترجمه** : دحميد بيان دي فرمائي چي دانس رضي الله عنه نه مي دښكر لګونكي دمزدورئ باره كي تپوس اوكړو نو انس رضي الله عنه اوونيل رسول الله صلي الله عليه وسلم ښكر لګولي وو او ښكر لګونكي ابوطيبه وو او رسول الله هغه ته د دوه صاع دغلي وركولو حكم اوكړو او دده دمالكانو سره يي خبره اوكړه نو هغوئ دابوطيبه په خراج كي كمي اوكړو او رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل په كومو څيزونو چي تاسو خپل علاج كوئ په هغوئ كي ښكر دتولو نه افضل دي، او كه داسي يي اوفرمائيل ستاسو په بهترينو دواګانو كي ښكر لګول دي.

امام ترمذي وائي دانس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دعلي، ابن عباس، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضو دښكر لګونكي داجرت په جواز قول كړي دي او همدا دامام شافعي قول هم دي.

****************

## ٤٩ــ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ ثَمَنِ الْكَلْبِ وَالسِّنَّوْرِ

### دسپي او دپيشو دقيمت دكراهت بيان

١٢٧٩ــ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، وَعَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، قَالَا: أَنْبَأَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ، وَالسِّنَّوْرِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ فِي إِسْنَادِهِ اضْطِرَابٌ، وَلَا يَصِحُّ فِي ثَمَنِ السِّنَّوْرِ. وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ بَعْضِ أَصْحَابِهِ، عَنْ جَابِرٍ وَاضْطَرَبُوا عَلَى الأَعْمَشِ فِي رِوَايَةِ هَذَا الْحَدِيثِ، وَقَدْ كَرِهَ قَوْمٌ مِنْ أَهْلِ الْعِلْمِ ثَمَنَ الْهِرِّ، وَرَخَّصَ فِيهِ بَعْضُهُمْ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَرَوَى ابْنُ فُضَيْلٍ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ أَبِي حَازِمٍ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ. (2)

---

1 ــ مسلم/المساقاة ١١ (البيوع ٣٢) (١٥٧٧)، (تحفة الأشراف : ٥٨٠)

2 ــ ابي داود/ البيوع ٦٣ (٣٤٧٩) (تحفة الأشراف : ٢٣٠٩) و انظر أيضا ما عند صحيح مسلم/المساقاة ٩ (١٥٦٩). وسنن النسائي/الذبائح ٦١ (٤٣٠٠)، وسنن ابن ماجه/التجارات ٩ (٢١٦١)، و مسند احمد (٣/٣٣٩)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي او د پيشو دقيمت اخستلو نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي ددي حديث په سند كي اضطراب دي دپيشو دقيمت باره كي دا صحيح نه دي، داحديث داعمش نه مروي دي او هغه دبعضي اصحابو نه نقل كړي دي او هغه دجابر رضي الله عنه نه دوئ داعمش نه ددي حديث په نقل كولو كي په اضطراب كي واقع شوي دي، او ابن فضل ددي سند نه علاوه په بل سند هم داعمش نه او هغه دابوحازم نه او هغه دابوهريره نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي په اهل علمو كي يو جماعت دپيشو قيمت ناجائز ګنړلي دي او بعضو ددي اجازت وركړي دي اوهمدادامام احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي.

****************

١٢٨٠ـ حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ مُوسَى، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ، أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ زَيْدٍ الصَّنْعَانِيُّ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: "نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَكْلِ الْهِرِّ وَثَمَنِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَعُمَرُ بْنُ زَيْدٍ لَا نَعْرِفُ كَبِيرَ أَحَدٍ رَوَى عَنْهُ غَيْرَ عَبْدِ الرَّزَّاقِ. ([1])

**ترجمه** : دجابررضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم دپيشو او ددي دقيمت خوړلو نه منع فرمائيلي ده، امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او مونږ ته دعبدالرزق نه علاوه بل څوك لوي محدث نه دي معلوم چاچي دا روايت دعمرو بن زيد نه نقل كړي دي.

****************

## ٥٠ـ باب

## دسپي دقيمت متعلق يو بل باب

١٢٨١ـ أَخْبَرَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، أَخْبَرَنَا وَكِيعٌ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي الْمُهَزِّمِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى عَنْ ثَمَنِ الْكَلْبِ إِلَّا كَلْبَ الصَّيْدِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ لَا يَصِحُّ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَأَبُو الْمُهَزِّمِ اسْمُهُ يَزِيدُ بْنُ سُفْيَانَ، وَتَكَلَّمَ فِيهِ شُعْبَةُ بْنُ الْحَجَّاجِ وَضَعَّفَهُ، وَقَدْ رُوِيَ عَنْ جَابِرٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَحْوُ هَذَا وَلَا يَصِحُّ إِسْنَادُهُ أَيْضًا. ([2])

---

1 ـ ابى داود/ البيوع ٦٣ (٣٤٨٠)، سنن ابن ماجه/ الصيد ٢٠ (٣٢٥٠)، (تحفة الأشراف: ٢٨٩٣)، و مسند احمد (٣/٢٩٧)

2 ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ١٤٨٣٤)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي دقيمت اخستلو نه منع فرمائيلي ده مگر علاوه دښکاري سپي نه .

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند صحيح نه دي، او د ابو المهزم نوم يزيد بن سفيان دي او په ده باندي شعبه بن حجاج كلام كړي دي او ضعيف يي گنړلي دي، او دجابر نه ددي يو هم معني روايت مروي دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم نه يي نقل كړي دي مگر ددي سند هم درست نه دي (الصحيحه رقم ۲۹۷۱).

****************

## ٥١_ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الْمُغَنِّيَاتِ

### دسندري ويونكي داجرت دحرمت بيان

١٢٨٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، أَخْبَرَنَا بَكْرُ بْنُ مُضَرَ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ زَحْرٍ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ، عَنِ الْقَاسِمِ، عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " لَا تَبِيعُوا الْقَيْنَاتِ، وَلَا تَشْتَرُوهُنَّ، وَلَا تُعَلِّمُوهُنَّ، وَلَا خَيْرَ فِي تِجَارَةٍ فِيهِنَّ، وَثَمَنُهُنَّ حَرَامٌ ". فِي مِثْلِ هَذَا أُنْزِلَتْ هَذِهِ الْآيَةُ: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ (لقمان : ٦) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ. قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي أُمَامَةَ إِنَّمَا نَعْرِفُهُ مِثْلَ هَذَا مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي عَلِيِّ بْنِ يَزِيدَ وَضَعَّفَهُ وَهُوَ شَامِيٌّ. (1)

**ترجمه** : دابوامامه رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي سندري ويونكي وينځي مه خرڅوئ او مه يي اخلئ او نه به ورته سندري زده كوئ ددوئ په تجارت كي خير او بركت نشته او ددي قيمت حرام دي او هم دداسي ښيزونو باره كي دا ايت كريمه "ومن الناس من يشتري لهو الحديث ليضل عن سبيل الله" (لقمان : ٦) نازل شوي دي .

**تشريح** : قاضي ثناء الله پاني پتي پخپل تفسير كي ددي ايت د لاندي ددي مسئلي يو شاندار او مدلل تحقيق كړى دى چي د باب سره دمناسبت په وجه يي نقل كوو:

"لهوالحديث" يعني بي بنياده خبري او قصي او غير معتبر داستانونه او خندونكي لغوه بيانات كوم چي دنيكو خبرو نه منع كول كوي ، كه چري لهوالحديث كي دحديث نه مراد بدي خبري وي نو اضافت به بياني وي او كه عامي خبري مراد وي نو اضافت به تبعيضي وي.

1 _ ابن ماجه/التجارات ١١ (٢١٦٨) . (تحفة الأشراف : ٤٨٩٨)

ابن جرير دعوفي په سندسره دابن عباس بیان نقل کړي دي چي ددي ایت نزول دیو قریشي په حق کي شوي دي چاچي یوه مغنیه (سندرغاړي) وینځه اخستلي وه.
بغوي دابوسلمه نه روایت بیان کړي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي سندرو ویونکو ښځو ته تعلیم ورکول جائز نه دي او ددوئ قیمت حرام دي (یعني خرڅول یي ناجائز دي) او د همداسي کس په باره کي وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، نازل شوي دي څوک چي دګاني دپاره اواز پورته کړي نو الله تعالي وربانديدوه شیطانان مسلط کړي یو په یوه اوږه او بل په بله اوږه او دهغه وخته پوري یي په لتو وهي چي ترڅوپوري خاموش شوي نه وي.
ترمذي وغیره دابوامامه رضي الله عنه بیان نقل کړي دي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي چي سندري ویونکي وینځي مه خرڅوئ او مه یي اخلئ ددوئ په تجارت کي هیڅ خیر نشته او ددوئ قیمت حرام دي او دهمداسي کس په باره کي وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ، نازل شوي دي.
بغوي دمقاتل او کلبي بیان نقل کړي دي چي ددي ایت نزول دنضر بن حارث بن کلده په حق کي شوي دي نضر به تجارت کولو او ایران ته به تلو او هلته به یي دعجمیانو نه افساني اخستلي او قریشو ته به یي بیانولي او وئیل به یي محمد (صلي الله علیه وسلم) تاسو ته دعاد اوثمود قصي بیانوي او زه درته داسفندیار او رستم قصي بیانوم او دایران دشاهانو حکایتونه درته کوم او خلقوبه دده خبري په خوند خوند اوریدلي او قران اوریدل به یي پریخودل تردي چي پدي باره کي دا ایت نازل شو.
بیهقي په شعب الایمان کي دابن عباس رضي الله عنهما په سند سره همدا روایت په همدي مضمون نقل کړي دي.
دمجاهد بیان دي چي دلهوالحدیث نه مراد ګاني ویونکي سړي او ښځي دي ددي صورت په بنا به دلهو نه مخکي مضاف محذوف وي یعني بعضي خلق قران پریږدي اوموسیقي اوریدل خوښوي.
دمکحول قول دي څوک چي دګاني بجاني په غرض کومه وینځه واخلي او دي پدي کار باندي دمرګه پوري قائم وي نو زه دده جنازه نه کوم ځکه چي الله تعالي فرمائیلي دي وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِيْ لَهْوَ الْحَدِيْثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيْلِ اللهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ.
دابن مسعود او ابن عباس حسن عکرمه او سعید بن جبیر رضي الله عنهم په نزد د لهو الحدیث نه مراد ګاني اوریدل دي او همددي متعلق دا ایت نازل شوي دي، دابو الصهباء

بكري بيان دي چي دابن مسعود رضي الله عنه نه مي ددي ايت متعلق تپوس اوكړو ابن مسعود دري پيري اوفرمائيل زما دي په هغه ذات قسم وي دچانه علاوه چي بل معبود نشته چي دا «لهو الحديث» غني ده .

دابن جريج په نزد دلهوالحديث نه مراد تمبل، ډول ، باجه او طبله وغيره دي .

زه وايم مورد دنزول اګر چي خاص دي غني اوريدل وي او كه عجمي قصي اوريدل وي ليكن الفاظ عام دي او عموم قابل داعتبار دي په همدي وجه قتاده وئيلي دي چي پدي ايت كي هر لهو لعب مراد دي او دضحاك په نزد شرك مراد دي .

**مسئله**: په اتفاق دفقهاؤ هر قسم ډول ، باجه ، تبله وغيره برابره خبره ده چي بغير دتار وي او كه دتار سره وي غرول حرام دي .

دابوهريره رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دسپي دقيمت او دډول باجو دګټي نه منع فرمائيلي ده «رواه البغوي».

دابو مالك اشعري بيان دي پخپله مي اوريدلي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل بعضي كسان به شراب څكي او په دوئ به څه نور نومونه ايږدي ، ددوئ په وړاندي به باجي غږيږي او سندرغاړي به ددوئ په وړاندي ګاني وائي او الله تعالي به دوئ لره په زمكه كي ډوب كړي او بعضي به شادوګان او بعضي خنزيران اوګرځوي «رواه ابن ماجه» ابن حبان دا روايت صحيح ګڼرلي دي، ددي اصل په بخاري كي موجود دي ، دعلي رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل زما امت چي كله پنځلس كارونه شروع كړي نو په دوئ به عذاب رانازليږي عرض اوكړي شو اي دالله رسوله هغه كوم كوم كارونه دي نو ويي فرمائيل.

(١) كله چي مال دغنيمت دولت اوګڼرلي شي .

(٢) كله چي امانت غنيمت اوګڼرلي شي.

(٣) كله چي ذكات تاوان او تيكس وګڼرلي شي.

(۴) كله چي خاوند دخپلي ښځي فرمانبردار جوړشي.

(۵) او دخپلي مور نافرماني شروع كړي.

(٦) او د دوست سره ښه سلوك كوي.

(٧) او په پلار باندي ظلم كوي.

(٨) اوكله چي په جماتونو كي تيز اوازونه شروع شي

(٩) كله چي په ټولنه كي رذيل سړي دقوم مشر جوړ شي.

(١٠) او درذيل سړي عزت پدي وجه شروع شي چي دده دشر نه حفاظت حاصل شي.

(١١) او شراب څكل شروع شي.

(۱۲) او ریشمي جامي اغوستل شروع شي.
(۱۳) او ډګانو والاو دساتلو انتظام شروع شي.
(۱۴) او دډول باجو استعمال شروع شي.
(۱۵) او وروستني خلق په تيرو شوو خلقو لعنت ونيل شروع کړي
(۱۲) په داسي وخت کي خلقو لره پکار دي چي دتوند او ګرم باد دراتلو او په زمکه کي دډوبيدو انتظار اوکړي (رواه الترمذي وقال غريب).

**مسئله**: فقهاؤ ددي ايت او نورو احاديثو په وجه دګانو اوريدل حرام کړي دي ، دصوفيانو قول دي څوك چي دالله په ياد کي مشغول وي نو دالله تعالي په ذکر سره ده ته اطمينان حاصليږي خو چي بل طرف ته التفات نه وي او مجلس داغيارو نه خالي وي او دمونځ وخت هم نه وي او دګاني والا محل شهوت هم نه وي دداسي کس دپاره نه داچي فقط سماع جائز ده بلکه مستحب ده .

من جمله دهغه احاديثو نه دکومو نه چي دغنا جواز بلکه د دف (چمبه) وهلو اجازت اباحت معلوميږي يو خو هغه حديث دي دکوم رويت چي ربيع بنت معويذ بن عفراء کړي دي، دربيع بيان دي چي زما دواده په ورځ رسول الله صلي الله عليه وسلم راغي او زما خواته داسي کيناستو لکه ته چي زما خواته نزدي ناست يي او بعضي ماشومانو جينکو چمبه وهله او دهغه خلقو مرثيه يي کوله کوم چي دبدر په ورځ وژلي شوي وو يوي جينۍ داسي مصرع اوونيله "وفينا نبي يعلم ما في غد" يعني په مونږ کي يوداسي نبي دي چي په سبا راتلونکو خبرو پوهيږي، رسول الله صلي الله عليه وسلم دي ماشومي ته اوونيل دا پريږده مخکي چي دي ونيل هغه شان وايه (رواه البخاري).

دابن ماجه په روايت کي دومره اضافه ده چي رسول الله اوفرمائيل داسي مه وايه دسبا کيدونکو کارونو متعلق دالله تعالي نه علاوه بل هيڅوك نه پوهيږي.

دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ددي نکاح اعلان به کوئ او په مسجد کي به يي کوئ او پدي باندي چمبه اووهئ (رواه الترمذي فقال هذا حديث غريب).

دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها بيان دي چي زما سره يوه انصاريه جينۍ وه ما دچا سره دهغي نکاح اوکړه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اي عائشي څه غني به مو کړي وه ځکه چي دانصاريانو دا قبيله مالداره کيدل خوښوي (رواه ابن حبان في الصحيح).

دابن عباس رضي الله عنهما بيان دي چي عائشه رضي الله عنها دخپلي کومي رشته داري جينۍ نکاح ديو انصاري سره اوکړه رسول الله صلي الله عليه وسلم چي دننه داخل شو نو ويي

فرمائيل ايا جينئ مو رخصت كړي ده ؟ حاضرينو په جواب كي اووئيل هو نو ويي فرمائيل ايا تاسو ورسره څوك ګاني ويونكي ليږلي دي ؟ عائشه رضي الله عنها اووئيل نه ، نو ويي فرمائيل انصار خو مالداره كيدل خوښوي، كه چرې تاسو ددې مصرعي دپاره اتيناكم اتيناكم فحيانا وحياكم وئيلو دپاره مو څوك ليږلي وی (نو بهتره به وه) او مونږ به هم درته درغلي وي ، يعني الله تعالي دي په مونږ كي هم بركت واچوي او په تاسو كي هم (رواه ابن ماجه).

دعامر بن سعد رضي الله عنه نه روايت دي فرمائي چي زه په يو واده كي شريك شوم او هلته قرظ بن كعب او ابو مسعود انصاري هم موجود وو او جينكو سندري وئيلي ما عرض اوكړو اي درسول الله ملګرو او اي دبدر مجاهدينو ستاسوپه وړاندي دا څه كيږي نو هغوئ دواړو راته په جواب كي اووئيل كه ستا خوښوي نو كينه او زمونږ سره يي ته هم واوره او كه تلل غواړي نو زه او مونږ ته يقينا په ودونو كي دلهو اجازت راكړي شوي دي.

دعائشه رضي الله عنها بيان دي چي ماته ابوبكر رضي الله عنه پداسي وخت كي راغي چي دحج زمانه وه او زما سره دوه جينكئ ناستي وي چي دف يي وهلو او رسول الله صلي الله عليه وسلم پداسي حالت كي پروت وو چي په مخ يي كپړه غوړيدلي وه نو ابوبكر رضي الله عنه جينكئ ديكه كړي رسول الله صلي الله عليه وسلم دكپړي نه مخ ښكاره كړو او ويي فرمائيل اي ابوبكر دوئ پريږده ځكه چي دا داختر ورځ ده (رواه البخاري).

دابن ماجه په روايت كي ورسره دومره اضافه ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دهر يو قوم دپاره يو اختر وي او زمونږ دا اختر دي.

دعمرو بن شعيب دنيكه نه روايت دي چي يوي زنانه عرض اوكړو اي دالله رسوله ما داسي نذر منلي وو چي كله تا الله تعالي راولي نو پدي خوشحالئ كي به ستا په سر باندي دف وهم رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل نذر دي پوره كړه (رواه ابو داود).

دا منلي شوي خبره ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي دالله تعالي دنافرمانئ نذر پوره كول پكار نه دي (نو كه چرې دف وهل ګناه وي نو رسول الله به هيڅ كله ددې اجازت نه وو وركړي ، رواه مسلم).

دا هم په يو روايت كي راغلي دي چي كله رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغي او دبني نجار قبيلي په محله كي يي قيام اوكړو نو دبني نجار قبيلي جينكو دا شعرونه وئيل:

نحن جوار من بنى نجار * يا حبذا محمدا من جار

(رواه ابن ماجة عن انس)

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع * وجب الشكر علينا ما دعى لله داع

ایها المبعوث فینا * جئت بالأمر المطاع

امام احمد دانس رضي الله عنه نه روايت بيان كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم كله مديني ته راغي نو دده دراتلو په خوشحالئ كي حبشيانو دوړو وړو نيزو ويشتلو لوبه كوله.
دمحمد بن حاطب جمحي بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په ګانو او نكاح كي په چمبه وهلو كي دحلت او حرمت متعلق امتياز دي (رواه احمد والترمذي وابن ماجه والنسائي).
دپورتني تقرير نه معلومه شوه چي ګاني وئيل او اوريدل هغه حرام كار دي كوم چي ګناه ته دعوت وركوي او دالله دياد نه خلق غافل كوي او كه داسي نه وي نو بيا حلال دي مګر دا جدا خبره ده چي رسول الله صلي الله عليه وسلم يا صحابه كرامو اوريدل او دقربت الهي دحصول ذريعه ګرځول ثابت نه دي نو پدي وجه دنقش بنديه اكابرين ګاني نه اوري ليكن ترديد يي هم نه كوي.

******************

## ٥٢_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْفَرْقِ بَيْنَ الأَخَوَيْنِ أَوْ بَيْنَ الْوَالِدَةِ وَوَلَدِهَا فِي الْبَيْعِ

**دغلامانو په خرڅولو كي په دوه رونړو كي يا موراو بچو كي تفريق كول حرام دي**

١٢٨٣_ حَدَّثَنَا عُمَرُ بْنُ حَفْصٍ الشَّيْبَانِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ وَهْبٍ، قَالَ: أَخْبَرَنِي حُيَيُّ بْنُ عَبْدِ اللهِ، عَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمَنِ الْحُبُلِيِّ، عَنْ أَبِي أَيُّوبَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: "مَنْ فَرَّقَ بَيْنَ الْوَالِدَةِ وَوَلَدِهَا، فَرَّقَ اللهُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَحِبَّتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ. [1]

**ترجمه** : د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه روايت دى چي رسول الله به فرمائيل چاچي جدايي راوستله په مينځ د مور او د بچي دهغي كي نو الله تعالي به دده او دده ددوستانو مينځ كي جدايي راولي د قيامت په ورځ.
امام ترمذي وايي دا حديث حسن غريب دى.

******************

١٢٨٤_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ قَزَعَةَ، أَخْبَرَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، عَنْ حَمَّادِ بْنِ سَلَمَةَ، عَنِ الْحَجَّاجِ، عَنِ الْحَكَمِ، عَنْ مَيْمُونِ بْنِ أَبِي شَبِيبٍ، عَنْ عَلِيٍّ، قَالَ: وَهَبَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ

[1] _ تفرد به المؤلف وأعاده في السير ١٧(١٥٦٦) . (تحفة الأشراف : ٣٤٦٨) . وانظر مسند احمد (٥/٤١٣، ٤١٤)

وَسَلَّمَ غُلَامَيْنِ أَخَوَيْنِ، فَبِعْتُ أَحَدَهُمَا، فَقَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "يَا عَلِيُّ، مَا فَعَلَ غُلَامُكَ؟" فَأَخْبَرْتُهُ، فَقَالَ: "رُدَّهُ رُدَّهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ كَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، التَّفْرِيقَ بَيْنَ السَّبْيِ فِي الْبَيْعِ، وَيُكْرَهُ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ الْوَالِدَةِ وَوَلَدِهَا وَبَيْنَ الإِخْوَةِ وَالأَخَوَاتِ فِي الْبيعِ، وَرَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي التَّفْرِيقِ بَيْنَ الْمُوَلَّدَاتِ الَّذِينَ وُلِدُوا فِي أَرْضِ الإِسْلَامِ، وَالْقَوْلُ الأَوَّلُ أَصَحُّ. وَرُوِيَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ النَّخَعِيِّ أَنَّهُ فَرَّقَ بَيْنَ وَالِدَةٍ وَوَلَدِهَا فِي الْبَيْعِ، فَقِيلَ لَهُ: فِي ذَلِكَ، فَقَالَ: إِنِّي قَدِ اسْتَأْذَنْتُهَا بِذَلِكَ، فَرَضِيَتْ. ([1])

**ترجمه** : دعلي رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم ماته دوه غلامان راکړل کوم چي پخپل مينځ کي رونړه وو نو ما په دوئ کي يو خرڅ کړو بيا رانه رسول الله صلي الله عليه وسلم تپوس اوکړو اي علي دغلامانو دي څه حال دي ما عرض اوکړو چي ما خو په دوئ کي يو خرڅ کړي دي راته يي اوفرمائيل راواپس يي کړه .

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي په صحابه کرامو او اهل علمو کي بعضي علماء دخرڅولو په وخت کي دقيديانو مينځ کي جدائي راوستل ناجائز ګڼړي او بعضي اهل علمو دهغه هلکانو مينځ کي جدائي واقع کول جائز ګڼړلي دي کوم چي په دارلاسلام کي پيدا شوي دي ليکن اولني قول زيات صحيح دي، دابراهيم نخعي نه مروي دي چي هغه دخرڅولو وخت کي دمور او خوي مينځ کي تفريق کړي وو چنانچه کله په هغه دا اعتراض اوکړي شو نو ويي وئيل ما دهغه دمور نه اجازت اوغوښتلو نو هغه په دي باندي راضي شوه.

*******************

## ٥٣_ باب مَا جَاءَ فِيمَنْ يَشْتَرِي الْعَبْدَ وَيَسْتَغِلُّهُ ثُمَّ يَجِدُ بِهِ عَيْبًا

**حکم دهغه چاچي يو غلام واخلي او مزدوري وربا ندي اوکړي او بيا پکي څه عيب بيامومي**

١٢٨٥_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا عُثْمَانُ بْنُ عُمَرَ، وَأَبُو عَامِرٍ الْعَقَدِيُّ، عَنِ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ، عَنْ مَخْلَدِ بْنِ خُفَافٍ، عَنْ عُرْوَةَ، عَنْ عَائِشَةَ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْخَرَاجَ

---

[1] _ ابن ماجه/التجارات ٣٦ (٢٢٤٩)، (تحفة الأشراف: ١٠٢٨٥)، و مسند احمد (١/١٠٢)

بِالضَّمَانِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ مِنْ غَيْرِ هَذَا الْوَجْهِ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. (1)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فيصله کړي وه چي دفائدي مستحق کيدل دضامن کيدو په بنياد دي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي او ددي سند نه علاوه په نورو سندونو هم مروي دي او داهل علمو عمل هم په دي باندي دي

*****************

١٢٨٦ـ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، أَخْبَرَنَا عُمَرُ بْنُ عَلِيٍّ الْمُقَدَّمِيُّ، عَنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَائِشَةَ، " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَضَى أَنَّ الْخَرَاجَ بِالضَّمَانِ ". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَقَدْ رَوَى مُسْلِمُ بْنُ خَالِدٍ الزَّنْجِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عن هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، وَرَوَاهُ جَرِيرٌ، عَنْ هِشَامٍ أَيْضًا. وَحَدِيثُ جَرِيرٍ يُقَالُ: تَدْلِيسٌ دَلَّسَ فِيهِ جَرِيرٌ لَمْ يَسْمَعْهُ مِنْ هِشَامِ بْنِ عُرْوَةَ، وَتَفْسِيرُ الْخَرَاجِ بِالضَّمَانِ، هُوَ الرَّجُلُ يَشْتَرِي الْعَبْدَ، فَيَسْتَغِلُّهُ ثُمَّ يَجِدُ بِهِ عَيْبًا، فَيَرُدُّهُ عَلَى الْبَائِعِ، فَالْغَلَّةُ لِلْمُشْتَرِي لِأَنَّ الْعَبْدَ لَوْ هَلَكَ هَلَكَ مِنْ مَالِ الْمُشْتَرِي، وَنَحْوُ هَذَا مِنَ الْمَسَائِلِ يَكُونُ فِيهِ الْخَرَاجُ بِالضَّمَانِ. (2)

**ترجمه** : دام المؤمنين عائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دا فيصله کړي وه چي دفائدي مستحق کيدل دضامن کيدو په بنياد دي..

امام ترمذي وائي داحديث دهشام بن عروه په سند حسن صحيح غريب دي، او ما د امام بخاري نه دا حديث دعمرو بن عدي په سند غريب حاصل کړي دي ما ورنه تپوس اوکړو ستا په نظر کي په دي کي تدليس دي؟ هغه اوونيل نه، مسلم بن خالد زنجي داحديث دهشام بن عروه نه نقل کړي دي او جرير هم دا د هشام نه نقل کړي دي، او وئيلي شوي دي چي دجرير په حديث کي تدليس دي چي جرير پکي تدليس کړي دي جرير دا حديث دهشام بن عروه نه نه دي اوريدلي او د "الخراج بالضمان" تفسير دادي چي يو کس غلام واخلي او مزدوري ورباندي اوکړي او بيا په دي کي څه عيب بيامومي او چي دچا نه يي اخستي وي هغه ته يي واپس کړي

---

1 _ ابي داود/ البيوع ٧٣ (٣٥٠٨) . سنن النسائي/البيوع ١٥ (٤٤٩٥) . سنن ابن ماجه/ التجارات ٤٣ (٢٢٤٢ و ٢٢٤٣) . التحفة: ١٦٧٥٥) . و مسند احمد (٦/٤٩، ٢٠٨، ٢٣٧)

2 _ انظر ماقبله (تحفة الأشراف: ١٦٧٢٦)

نو دغلام چي كومه مزدوري او فائده ده دا به داخستونكي حق جوړيږي او دا خكه كه چري غلام دده رسيدلي وي نو دمشتري مال هلاكيدو دا او ددي پشان نورو مسائلو كي دفائدي استحقاق دضامن كيدو په وجه باندي وي.

*****************

## ٥٤_ باب مَا جَاءَ فِي الرُّخْصَةِ فِي أَكْلِ الثَّمَرَةِ لِلْمَارِّ بِهَا

**دلاروي دپاره په لاره كي دكجورو دونو نه دميوي خوړلو داجازت بيان**

١٢٨٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ أَبِي الشَّوَارِبِ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سُلَيْمٍ، عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَنْ دَخَلَ حَائِطًا فَلْيَأْكُلْ، وَلَا يَتَّخِذْ خُبْنَةً". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، وَعَبَّادِ بْنِ شُرَحْبِيلَ، وَرَافِعِ بْنِ عَمْرٍو، وَعُمَيْرٍ مَوْلَى آبِي اللَّحْمِ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ غَرِيبٌ، لَا نَعْرِفُهُ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ، إِلَّا مِنْ حَدِيثِ يَحْيَى بْنِ سَلِيمٍ، وَقَدْ رَخَّصَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ لِابْنِ السَّبِيلِ فِي أَكْلِ الثِّمَارِ، وَكَرِهَهُ بَعْضُهُمْ إِلَّا بِالثَّمَنِ.[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي كوم باغ ته داخل شي نو ميوه دي اوخوري او دخان سره دي په پنډوكي كي نه اوړي.

امام ترمذي وائي دابن عمر حديث غريب دي اوداحديث صرف مونږ ته ديحي بن سليم په سند رارسيدلي دي، او په دي باب كي دعبدالله بن عمرو، عباد بن شرحبيل ، رافع بن عمرو، عمير مولي ابي اللحم او ابو هريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي بعضي اهل علمو دلاروي دپاره دميوي خوړلو اجازت وركړي دي او بعضو ناجائز ګنړلي دي مګر دا چي كله ده قيمت اداء كړي وي.

*****************

١٢٨٨_ حَدَّثَنَا أَبُو عَمَّارٍ الْحُسَيْنُ بْنُ حُرَيْثٍ الْخُزَاعِيُّ، حَدَّثَنَا الْفَضْلُ بْنُ مُوسَى، عَنْ صَالِحِ بْنِ أَبِي جُبَيْرٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ رَافِعِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: كُنْتُ أَرْمِي نَخْلَ الْأَنْصَارِ، فَأَخَذُونِي، فَذَهَبُوا بِي إِلَى النَّبِيِّ

---

[1] _ سنن ابن ماجه/التجارات ٦٧ (٢٣٠١) ، (تحفة الأشراف : ٨٢٢٢)

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: "يَا رَافِعُ، لِمَ تَرْمِي نَخْلَهُمْ"، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، الْجُوعُ، قَالَ: "لَا تَرْمِ، وَكُلْ مَا وَقَعَ أَشْبَعَكَ اللهُ وَأَرْوَاكَ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ.(1)

**ترجمه** : رافع بن عمرو رضي الله عنه بيان دي ما به دانصارو دكجورو ونې په كانړو ويشتلې نو هغوئ زه اونيولم او نبي كريم صلي الله عليه وسلم ته يي راوستلم رسول الله رانه تپوس اوكړو اي رافع ته دكجورو ونې په كانړو باندې ولې اولې؟ ما عرض اوكړو اي دالله رسوله دسختې ولږې په وجه راته يي اوفرمائيل په كانړو يي مه وله او كومې چې ورنه لاندې پخپله راپريوځي هغه خوره تا به تندرست او موړ كړي.

امام ترمذي وائي داحديث حسن غريب دي.

****************

١٢٨٩_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنِ ابْنِ عَجْلَانَ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ عَنِ الثَّمَرِ الْمُعَلَّقِ، فَقَالَ: "مَنْ أَصَابَ مِنْهُ مِنْ ذِي حَاجَةٍ غَيْرَ مُتَّخِذٍ خُبْنَةً فَلَا شَيْءَ عَلَيْهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ.(2)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمرو رضي الله عنهما بيان دي چې دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه په ونو كې دزوړندو ميوو باره كې تپوس اوكړې شو نو ويې فرمائيل كوم ضرورت مند چې دډينه دضرورت مطابق حاصلې كړي او په كپړه كې جمع كونكې نه وي نو په دې باندې هيڅ مؤاخذه نشته.

امام ترمذي وائي دا حديث حسن دي

****************

## ٥٥_ بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الثُّنْيَا

### په بيعه كې داستثناء كولو دمما نعت بيان

١٢٩٠_ حَدَّثَنَا زِيَادُ بْنُ أَيُّوبَ الْبَغْدَادِيُّ، أَخْبَرَنَا عَبَّادُ بْنُ الْعَوَّامِ، قَالَ: أَخْبَرَنِي سُفْيَانُ بْنُ حُسَيْنٍ، عَنْ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ

---

1 _ ابي داود/ الجهاد ٩٣ (٢٦٢٢) ، ابن ماجه/التجارات ٦٧ (٢٢٩٩) . (تحفة الأشراف : ٣٥٩٥)

2 _ ابي داود/ اللقطة ح رقم ١٠ (١٧١٠) و الحدود ١٢ (٤٣٩٠) ، سنن النسائي/قطع السارق ١١ (٤٩٦١) . (تحفة الأشراف : ٨٧٩٨)

الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ، وَالْمُخَابَرَةِ، وَالثُّنْيَا إِلَّا أَنْ تُعْلَمَ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ مِنْ حَدِيثِ يُونُسَ بْنِ عُبَيْدٍ، عَنْ عَطَاءٍ، عَنْ جَابِرٍ. (1)

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دمحاقلي، مزابني، او مخابري او په بيعه کي دبعضي څيزونو دمستثني کولو نه منع فرمائيلي ده مګر هغه وخت کي جائز دي چي استثناء کړي شوي څيز معلوم وي.

امام ترمذي وائي دا حديث په دي سند په روايت د يونس بن عبيد کوم چي هغه دعطاء نه او عطاء دجابر نه نقل کړي دي حسن صحيح غريب دي.

****************

## ٥٦ـ بَاب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ بَيْعِ الطَّعَامِ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ

### دقبضي کولو نه مخکي دغلي خرڅول ناجائز دي

١٢٩١ـ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ، عَنْ طَاوُسٍ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنِ ابْتَاعَ طَعَامًا فَلَا يَبِعْهُ حَتَّى يَسْتَوْفِيَهُ ". قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ: وَأَحْسِبُ كُلَّ شَيْءٍ مِثْلَهُ. قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ جَابِرٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَكْثَرِ أَهْلِ الْعِلْمِ، كَرِهُوا بَيْعَ الطَّعَامِ، حَتَّى يَقْبِضَهُ الْمُشْتَرِي، وَقَدْ رَخَّصَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِيمَنِ ابْتَاعَ شَيْئًا مِمَّا لَا يُكَالُ وَلَا يُوزَنُ مِمَّا لَا يُؤْكَلُ، وَلَا يُشْرَبُ، أَنْ يَبِيعَهُ قَبْلَ أَنْ يَسْتَوْفِيَهُ، وَإِنَّمَا التَّشْدِيدُ عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الطَّعَامِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاق. (2)

---

1 ـ البخاري/الشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٨١)، صحيح مسلم/البيوع ١٦ (١٥٣٦)، سنن ابي داود/البيوع ٣٤ (٣٤٠٥)، سنن النسائي/الأيمان (والمزارعة) ٣٥ (٣٩١٠)، والبيوع ٧٤ (٤٦٣٧)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٤ (٢٢٦٦)، (تحفة الأشراف: ٢٤٩٥)، و مسند احمد (٣/٣١٣، ٣٥٦، ٣٦٠، ٣٦٤، ٣٩١، ٣٩٢)

2 ـ البخاري/البيوع ٥٤ (٢١٣٢)، صحيح مسلم/البيوع ٨ (١٥٢٥)، سنن ابي داود/ البيوع ٦٧ (٣٤٩٦)، سنن النسائي/البيوع ٥٥ (٤٦٠٤)، سنن ابن ماجه/التجارات ٣٧ (٢٢٢٧)، (تحفة الأشراف: ٥٧٣٦)، و مسند احمد (١/٢١٥، ٢٢١، ٢٥١، ٢٧٠، ٢٨٥، ٣٥٦، ٣٦٨، ٣٦٩)

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چي غله واخلي دا دي هغه وخته پوري نه خرڅوي څو پوري چي دده په قبضه کي راغلي نه وي، دابن عباس بيان دي زه هر يو شي دغلي پشان گڼرم.
امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دجابر، ابن عمر، او ابوهريره رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داکثرو اهل علمو عمل هم په دي باندي دي هغوئ هغه وخته پوري دغلي خرڅولو ته ناجائز وائي څو پوري چي خريدارقبض کړي نه وي او بعضي خلقو دقبضه کولو نه مخکي ددي دخرڅولو اجازت ورکړي دي ، څوك چي داسي څيز واخلي کوم چي مکيلي او موزوني نه وي او نه دخوړلو څکلو څيز وي داهل علمو په نزد تشديد صرف په طعام کي دي. د امام احمد او اسحاق هم دا قول دي.

*****************

## ٥_ باب مَا جَاءَ فِي النَّهْيِ عَنِ الْبَيْعِ عَلَى بَيْعِ أَخِيهِ

**دخپل يو مسلمان وروړ په بيعه با ندي بيعه کول منع دي**

١٢٩٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا يَبِعْ بَعْضُكُمْ عَلَى بَيْعِ بَعْضٍ، وَلَا يَخْطُبْ بَعْضُكُمْ عَلَى خِطْبَةِ بَعْضٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَسَمُرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عُمَرَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَقَدْ رُوِيَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَسُومُ الرَّجُلُ عَلَى سَوْمِ أَخِيهِ". وَمَعْنَى الْبَيْعِ فِي هَذَا الْحَدِيثِ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ هُوَ السَّوْمُ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عمررضي الله عنهمانه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي په تاسو كي دي هيڅوك دچا په بيعه بيعه نه كوي او نه دي څوك كومي ښځي ته دبل چا دپيغام دپاسه دنكاح پيغام وركوي.
امام ترمذي وائي دابن عمر حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دابوهريره او سمره رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه مروي دي چي

---

[1] _ البخاري/النكاح ٤٥ (٥١٤٢). صحيح مسلم/النكاح ٦ (١٤١٢). والبيوع ١٤١٢). سنن ابي داود/ النكاح ١٨ (٢٠٨١). سنن النسائي/النكاح ٢٠ (٣٢٤٠). و٢١ (٣٢٤٥). والبيوع ٢٠ (٤٥٠٧). سنن ابن ماجه/النكاح ١٠ (١٨٦٧). (تحفة الأشراف: ٨٢٨٣). و مسند احمد (٢/١٢٢، ١٢٤، ١٢٦، ١٣٠، ١٤٢، ١٥٣). سنن الدارمي/النكاح ٧ (٢٢٢٢). والبيوع ٣٣ (٢٦٠٩)

فرمائیل یي هیڅوك دي دخپل ورور په ریټ دپاسه ریټ نه ورکوي ، او دبعضي اهل علمو په نزد په دي حدیث کي دبیعي نه مراد ریټ ورکول دي.

**تشریح** : مسلم هم د عقبه بن عامر رضي الله عنه نه روایت نقل کړی دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم فرمائیلي دي : "یو کس به دبل کس په سودا سودا نه کوي"

أخرجه : مسلم کتاب النکاح باب تحریم الخطبة علي خطبة اخیه ١٣٩/٤ (١٤١٤) (٥٦) .

ددي حدیث مطلب دادی کله چي دوه کسانو مینځ کي سودا روانه وي نو د دریم کس دپاره جائز نه دي چي هغه هم ددي څیز داخستلو خبره شروع کړي او داسي اووائي چي زه دا څیز په دومره اخلم ده لره پکار دي چي انتظار اوکړي که چري ددوئ په مینځ کي معامله اونه شوه نو بیا دی معامله کولی شي.

ددي وجه داده چي دداسي کار په وجه په خلقو کي بغض او عداوت پیدا کیږي او محبت او اسلامي اخوت ددي په سبب ختمیږي او په حدیث کي خو راغلي دي چي یو مومن دبل مومن ورور دی.

****************

## ٥٨ـ باب مَا جَاءَ فِي بَيْعِ الْخَمْرِ وَالنَّهْيِ عَنْ ذَلِكَ

### دشرابو دخرڅولو دمما نعت بیان

١٢٩٣ـ حَدَّثَنَا حُمَيْدُ بْنُ مَسْعَدَةَ، حَدَّثَنَا الْمُعْتَمِرُ بْنُ سُلَيْمَانَ، قَالَ: سَمِعْتُ لَيْثًا يُحَدِّثُ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أَبِي طَلْحَةَ، أَنَّهُ قَالَ: يَا نَبِيَّ اللَّهِ، إِنِّي اشْتَرَيْتُ خَمْرًا لِأَيْتَامٍ فِي حِجْرِي، قَالَ: " أَهْرِقْ الْخَمْرَ، وَاكْسِرِ الدِّنَانَ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَعَائِشَةَ، وَأَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي طَلْحَةَ رَوَى الثَّوْرِيُّ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ أَنَسٍ، أَنَّ أَبَا طَلْحَةَ كَانَ عِنْدَهُ، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ اللَّيْثِ. [1]

**ترجمه** : دابوطلحه رضي الله عنه نه مروي دي فرمائي چي ما عرض اوړو اي دالله رسوله ما دخپلو یتیمانو دپاره شراب اخستلي وو څوك چي زما په پرورش کي دي (نو ددي څه حکم دي) رسول الله صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل شراب واړوه او منګي یي مات کړه.

امام ترمذي وائي دابوطلحه داحدیث ثوري په سند دسدي عن یحی بن عباد عن انس سره نقل کړي دي چي ابوطلحه درسول الله سره وو او دا روایت دلیث درروایت نه زیات صحیح دي، او

[1] ـ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ٣٧٧٣)

په دي باب کي دجابر، ابوسعيد، ابن مسعود، ابن عمر، او انس رضي الله عنهم نه هم احاديث وارد دي.

**دابو طلحه زيد بن سهل حالات:**

نوم زيد کنيه ابو طلحه دبني نجار قبيلي عمرو بن مالك خاندان سره يي تعلق دی دپلار نوم يي سهل بن اسود وو او دمور نوم يي عباده وه دجاهليت په زمانه کي دعامو عربو پشان بت پرست او شرابي وو تقريبا دشلو کالو په عمر کي په اسلام کي داخل شو او دمسلمانيدو واقعه يي داسي ده چي مصلين ته يي دنکاح پيغام ورکړو نو هغي ورباندي دمسلمانيدو شرط اولګولو ددي اثر دا وو چي دده په زړه کي داسلام حقيقت داخل شو او مسلمان شو کارکردګي يي داسي ده چي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره هميشه په غزواتوکي شريك شوی دی او په هر يو جنګ کي يي ښه بهادري خودلي ده دا هغه صحابي دی چاچي درسول الله صلي الله عليه وسلم دپاره قبر کنستلی وو درسول الله سره يي دومره محبت وو چي دهغه دوفات کيدو نه پس يي دهغه دناستي ځاي خالي ليدل برداشت کولی نشول نوپه دي وجه شام ته لاړو او بيابه دپريشانيدو نه پس واپس دقبر زيارت ته راتلودعمر رضي الله عنه دامارت په زمانه کي هغه دمسائلو دحل دپاره دشپږ کسانو انتخاب کړی وو چي يو په هغوئ کي ابو طلحه هم وو، دده دوفات کيدو په کال کي اختلاف دی بعضو ۳۱او بعضو ۳۲هجري خودلي ده او بعضو ۵۱هجري خودلي دی، کوم چي صحت ته زيات نژدي دی دمروياتو شمير يي ۹۲ دی دده مزيد حالات تهذيب التهذيب الاصابه او تذکرة الحفاظ او بخاري کتاب المغازي وغيره کي کتلی شئ.

****************

## ٥٩_ بَابُ النَّهْيِ أَنْ يُتَّخَذَ الْخَمْرُ خَلاًّ

**دشرابو نه دسرکي جوړولو دمما نعت بيان**

**١٢٩٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ السُّدِّيِّ، عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبَّادٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَيُتَّخَذُ الْخَمْرُ خَلًّا؟ قَالَ: "لَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.** (1)

---

1 _ مسلم/الأشربة ٢ (١٩٨٣)، سنن ابی داود/الأشربة ٣ (٣٦٧٥)، (تحفة الأشراف: ١٦٦٨)، وسنن الدارمی/الأشربة ١٧

(٢١٦١)

**ترجمه** : دانس بن مالك رضي الله عنه نه مروي دي دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه تپوس اوكړي شو چي دشرابو نه سركه جوړيدي شي او كنه؟ نو ويې فرمائيل دشرابو نه سركه نشي جوړيدي. امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

**تشريح** : په دي مسئله كي دفقهاؤ اختلاف دي چي دشرابو نه سركه جوړول جائز دي او كنه دي؟ په دي كي دوه مذاهب دي.

(۱) داحنافو په نزد دشرابو نه سركه جوړول جائز دي.

(۲) او دامام شافعي رحمه الله په نزد دشرابو نه سركه جوړول جائز نه دي ددي مدلل تحقيق دعلم فقه په مطولاتو كي موندلي شئ.

*****************

١٢٩٥ـ حَدَّثَنَا عَبْدُ اللهِ بْنُ مُنِيرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ أَبَا عَاصِمٍ، عَنْ شَبِيبِ بْنِ بِشْرٍ، عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: " لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْخَمْرِ عَشْرَةً عَاصِرَهَا، وَمُعْتَصِرَهَا، وَشَارِبَهَا، وَحَامِلَهَا، وَالْمَحْمُولَةُ إِلَيْهِ، وَسَاقِيَهَا، وَبَائِعَهَا، وَآكِلَ ثَمَنِهَا، وَالْمُشْتَرِي لَهَا، وَالْمُشْتَرَاةُ لَهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ مِنْ حَدِيثِ أَنَسٍ، وَقَدْ رُوِيَ نَحْوُ هَذَا، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. [1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دشرابو په وجه په لسو كسانو لعنت وئيلي دي ددي په زبيخونكي او نچوړونكي باندي، ددي په څكونكي باندي، او ددي په وړونكي باندي، او ددي په غوښتونكي باندي، او دچا دپاره چي دا اوړلي شي، او ددي په څكونكي باندي، او ددي په خرڅونكي باندي، او ددي دقيمت په خوړونكي باندي او ددي په اخستونكي باندي او په هغه چا باندي دچا دپاره چي دا اخستلي شي (په دي ټولو كسانو رسول الله لعنت وئيلي دي). امام ترمذي وائي دانس رضي الله عنه روايت غريب دي او ددي حديث پشان عبدالله بن عباس، ابن مسعود، او ابن عمر رضي الله عنهم نه هم روايات مروي دي كوم چي دوئ دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي.

*****************

## ٦٠ـ بَاب مَا جَاءَ فِي احْتِلاَبِ الْمَوَاشِي بِغَيْرِ إِذْنِ الأَرْبَابِ

### دمالك داجازت نه بغير دچا د څاروي لوشلو بيان

[1] ـ ابن ماجه/الأشربة ٦ (٣٣٨١) . (تحفة الأشراف : ٩٠٠)

١٢٩٦_ حَدَّثَنَا أَبُو سَلَمَةَ يَحْيَى بْنُ خَلَفٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الأَعْلَى، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنِ الحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا أَتَى أَحَدُكُمْ عَلَى مَاشِيَةٍ فَإِنْ كَانَ فِيهَا صَاحِبُهَا فَلْيَسْتَأْذِنْهُ، فَإِنْ أَذِنَ لَهُ فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ، وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهَا أَحَدٌ فَلْيُصَوِّتْ ثَلَاثًا، فَإِنْ أَجَابَهُ أَحَدٌ فَلْيَسْتَأْذِنْهُ، فَإِنْ لَمْ يُجِبْهُ أَحَدٌ فَلْيَحْتَلِبْ وَلْيَشْرَبْ وَلَا يَحْمِلْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ عُمَرَ، وَأَبِي سَعِيدٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سَمُرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، وَبِهِ يَقُولُ أَحْمَدُ، وَإِسْحَاق. قَالَ أَبُو عِيسَى ١٢: وَقَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، سَمَاعُ الْحَسَنِ مِنْ سَمُرَةَ صَحِيحٌ، وَقَدْ تَكَلَّمَ بَعْضُ أَهْلِ الْحَدِيثِ فِي رِوَايَةِ الْحَسَنِ، عَنْ سَمُرَةَ، وَقَالُوا: إِنَّمَا يُحَدِّثُ عَنْ صَحِيفَةِ سَمُرَةَ. (١)

**ترجمه** : دسمره بن جندب رضي الله عنه نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چه په تاسو كي څوك يوي رمي ته دپيۍ څكلو دپاره راشي نو كه په دي كي ددوئ مالك موجود وي نو دهغه نه دي اجازت اوغواړي كه اجازت اوكړي اودي څكي او كه مالك يي موجود نه وي نو دري پيري دي اواز اوكړي نو كه څوك اواز وركړي دهغه نه دي اجازت اوغواړي او كه جواب ورنه ملاؤ نشي نو پيۍ دي اوڅكي خو دځان سره دي نه اوړي.
امام ترمذي وائي دسمره حديث حسن غريب دي په دي باب كي دعمر فاروق او ابوسعيد خدري رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي امام احمد بن حنبل او اسحاق هم ددي قائل دي علي بن مديني وائي دسمره نه دحسن سماع ثابت نه ده بعضي محدثينو دحسن په روايت كوم چه هغه دسمره نه نقل كړي دي كلام كړي دي، دوئ وائي چه حسن به دسمره دصحيفي نه احاديث بيانول.

****************

## ٦١_ بَابُ مَا جَاءَ فِي بَيْعِ جُلُودِ الْمَيْتَةِ وَالأَصْنَامِ

### دمردار څاروو دڅرمنو او بتانو دخرڅولو بيان

١٢٩٧_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا اللَّيْثُ، عَنْ يَزِيدَ بْنِ أَبِي حَبِيبٍ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَامَ الْفَتْحِ وَهُوَ بِمَكَّةَ، يَقُولُ: "إِنَّ اللهَ وَرَسُولَهُ حَرَّمَ بَيْعَ الْخَمْرِ، وَالْمَيْتَةِ، وَالْخِنْزِيرِ، وَالأَصْنَامِ". فَقِيلَ: يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَأَيْتَ شُحُومَ

---

[1] _ سنن ابي داود/ الجهاد ٩٣ (٢٦١٩). (تحفة الأشراف: ٤٥٩١)

الْمَيْتَةِ؟ فَإِنَّهُ يُطْلَى بِهَا السُّفُنُ، وَيُدْهَنُ بِهَا الْجُلُودُ، وَيَسْتَصْبِحُ بِهَا النَّاسُ. قَالَ: "لَا، هُوَ حَرَامٌ". ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِنْدَ ذَلِكَ: "قَاتَلَ اللَّهُ الْيَهُودَ، إِنَّ اللَّهَ حَرَّمَ عَلَيْهِمُ الشُّحُومَ، فَأَجْمَلُوهُ، ثُمَّ بَاعُوهُ، فَأَكَلُوا ثَمَنَهُ". قَالَ: وَفِي الْبَاب، عَنْ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ جَابِرٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. [1]

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنه بيان دي چه هغوئ دفتحي مكه په كال په مكه كي دننه درسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي الله او دهغه رسول د شرابو او مرداري او خنزير او بتانو خرڅول حرام كړي دي، عرض اوكړي شو اي دالله رسوله دمرداري دچربي باره كي تپوس كول غواړم كومه چه په كشتو باندي مرېلي شي او په چمړو باندي لګولي شي او خلق ورنه چراغونه لګوي رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل هرګزنه دا جائز نه دي او دا حرام دي او بيا يي په همدي وخت كي اوفرمائيل يهود دي الله تباه كړي الله تعالي ورباندي وازګه حرامه كړي وه نو هغوئ به خوټكوله او بيا به يي خرڅوله او بيا به يي خوړله.

امام ترمذي وائي دجابر رضي الله عنه حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي دعمر او ابن عباس رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او داهل علمو هم په دي باندي عمل دي.

**تشريح** : ميتة هغه ذي روح ته وئيلي شي كوم چي بغير دحلالولو مړ شي.

امام شافعي او احمد او څلورو واړو اصحاب سنن دعبدالله بن حكيم نه روايت كړي دي فرمائي چي مونږ ته درسول الله خط په دي مضمون سره راغي : خبردار دمردار غير مدبوغ څرمني اوپلو نه فائده مه اخلئ ليكن ابوداود ورسره دا اضافه كړي ده چي دا واقعه درسول كريم صلي الله عليه وسلم دوفات نه يوه مياشت مخكي وه اوداامام احمد په روايت كي يوه يادوه مياشتي مخكي ذكر ده ، دجابر رضي الله عنه نه مروي دي چي رسول الله فرمائيلي دي چي دمرداري دهيڅ جزء نه فائده مه اخلئ ددي حديث روايت اوبوبكر شافعي كړي دي او وئيلي يي دي چي ددي سند حسن دي.

ابوداود نسائي اوحاكم داسامه رضي الله عنه نه روايت كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دځناورو دڅرمنو داستعمال نه منع فرمائيلي ده، ليكن حاكم دومره اضافه كړي ده چي دځناورودڅرمنو نه دفرش جوړولو نه ئي منع فرمائيلي ده، اود معاويه رضي الله عنه نه روايت

---

[1] _ البخارى/البيوع ۱۱۲ (۲۲۳٦)، والمغازي ۵۱ (۴۲۹٦)، وتفسير سورة الأنعام ٦ (۴٦۳۳)، صحيح مسلم/المساقاة ۱۳ (۱۵۸۱)، سنن ابي داود/ البيوع ٦٦ (۳۴۸٦)، سنن النسائي/الفرع والعتيرة ۸ (۴۲٦۴)، والبيوع ۹۳ (۴٦۷۳)، سنن ابن ماجه/التجارات ۱۱ (۲۱٦۷)، (تحفة الأشراف: ۲۴۹۴)، ومسند احمد (۳/۳۲۴)، ۳۲٦، ۳۷۰)

دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم د نمار(يو درنده ځناور) په څرمن باندي دسوريدونه منع فرمائيلي ده.
امام احمد اونسائي د مقداد بن معديكرب نه روايت كړي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دريخمو او سرو زرو او د نمار(يو درنده ځناور) په څرمن باندي دډډي وهلونه منع فرمائيلي ده، اود ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: چي په كومه كپړه كي د نمار څرمن وي فرشتي دهغي نه لري اوسيږي . ليكن پدي كي دعلماؤ اختلاف دي چي ايا دمرداري دڅرمن نه پس درنګ كولو فائده اخستلي شي اوكه نه، دامام ابوحنيفه او شافعي مسلك دادي چي درنګ كولو نه پس څرمن پاكيږي اوبيا ورنه نفع اخستل جائز كيږي اوبيعه ئي هم جائز كيږي، ليكن امام احمد اومالك ددي دعدم جواز قائل دي.
زمونږ دپاره دليل دا احاديث دي دابن عباس نه روايت دي چي رسول الله يوځل په يوه مړه چيلئ باندي تيريدو نووئي فرمائيل چي ددي دڅرمن نه مو فائده ولي نده اخستلي خلقو عرض وكړو چي اي دالله رسوله داخو مرداره ده نو وئي فرمائيل چي خوراك ئي حرام دي خو څرمن ئي ايايه اوبو اوپه رنګ كولو سره نه پاكيده ؟ اوپه بعضي رواياتو كي ذكر دي چي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي ددي غوښه خوړل حرام دي اودجلد په باره كي ئي اجازت دي.
همدارنګي دابن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي فرمائي چي درسول الله نه مي اوريدلي دي چي فرمائيل ئي هره يوه څرمن چي رنګ كړي شي نوهغه پاكه شي ، اوددي مضمون مطابق نور احاديث هم مروي دي ، همدارنګي دعائشه رضي الله عنها نه مروي دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: هره يوه څرمن چي رنګ كړي شي نوفائده ورنه اخلئ، دسودة رضي الله عنها نه مروي دي فرمائي چي زمونږ يوه چيلئ مړه شوه نو مونږ ئي څرمن رنګ كړه ، اود مالكيانو اوحنابله وو دليل هغه حديث دي په كوم كي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي: چي دمرداري دهيڅ يوجزء نه فائده اخستل جائز ندي، اوداهم وائي چي درسول الله اخري قول همدا دي ځكه چي دعبدالله بن حكيم په حديث كي صراحت دي چي مونږ ته داسي قسم خط درسول كريم صلي الله عليه وسلم دطرف نه دهغه دوفات نه يوه يادوه مياشتي مخكي ملاو شوچي دمرداري دكچي څرمني اوپلونه فائده مه اخلئ زمونږ دطرف نه مالكيانو اوحنابلوو ته داجواب دي چي دعبدالله بن حكيم دحديث سند اومتن مضطرب دي نوپدي وجه مونږ چي كوم صحيح احاديث پيش كړي دي دادهغوي مزاحم نشي جوړيدي ، اودويمه خبره داده چي دعبدالله بن حكيم دحديث په سند كي اهاب لفظ مروي دي او اهاب كچي څرمن ته وئيلي شي دكچي څرمني نه خو زمونږ په نزد هم فائده حاصلول ممنوع دي كه

څوك داخبره اوکړي چې دعبدالله بن حکيم حديث په اوسط د طبراني کې اوداابن عدي په نزد باندې په دې مضمون سره نقل دي چې مونږ دجهينه علاقې په زمکه کې وو چې درسول کريم صلی الله عليه وسلم تحرير مونږ ته راغې اوپه هغې کې دا مضمون وو چې ماتاسوته دمردارې دڅرمنې په باره کې اجازت درکړې وو ليکن اوس درته ليکم چې دمردارې دڅرمنې اوپلونه فائده مه اخلئ نوددينه څوصريح عدم جواز معلوميږي اوهمدارنګې داهم معلوميږي چې اخري قول درسول کريم صلی الله عليه وسلم همدا وو نوددې جواب دادې چې ددې روايت په سند کې فزاله بن مفضل راوي دې اودده متعلق ابوحاتم رازي وئيلي دي چې دې ددې اهل نه دې چې اهل علم ورنه حديث اوليکي.

دمردارې دوړئ ، هډوکو، پلو، ښکرو، نه دفائدې اخستلو په باره کې داهل علمو اختلاف دې، امام ابوحنيفه رحمة الله عليه فرمائې چې دا تمام څيزونه پاک دي ددې بيع اوانتفاع دواړه جائز دي، امام شافعي فرمائې چې ناپاک دي او امام احمد اومالك وړئ پاکه ګڼړې او باقي څيزونه ناپاك ګڼړې دامام شافعي اواحمد اومالك درې واړوديپاره دليل دادې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دمردارې دهيڅ يو جزء نه فائده اخستل حلال نه دي . او امام شافعي دوړئ دنجاست دپاره دابن عمر رضي الله عنهما دحديث نه استدلال کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دمردارې نوکان او وړئ او وينه دفن کړئ داټول مرداردي داحنافو دطرف نه دوئ درې واړوته جواب دادې چې ددې دويم حديث په سند باندې مونږ کلام کوو ځکه چې په دې کې يو راوي دې عبدالله بن عزيز اودهغه متعلق ابوحاکم رازي وئيلي دي چې دهغه احاديث منکر وي اوزما په نزد باندې دصدق په صفت موصوف نه دې علي بن حصين فرمائې چې عبدالله بن عزيز هيڅ نه دې نوپه دې وجه مونږ دهغه نه ددروغو احاديث نه قبلوو اوس پاتې شو مخکنې حديث نوددې په سند باندې هم کلام دې اوقطع نظر ددينه داديوصحيح حديث سره معارض هم دې اوهغه حديث دعبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دې چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمائيلي دي چې دمردارې صرف خوړل حرام دي چنانچه بتمامه داحديث مونږ مخکې نقل کړې دې اوددې اولني حديث چې څومره سندونه دي منکر دي نوپدې وجه قابل داعتماد نه دې ، زمونږ دپاره دليل يوبل حديث دې اومضمون يې دادې چې ابن عباس فرمائې چې رسول الله صرف دمردارې دغوښې دخوړلونه منع فرمائيلي ده نوددې په څرمن او وړئ کې څه نقصان دې ليکن ددې روايت سند هم مخدوش دې ځکه چې په دې کې عبدالجبارراوي دې اوهغه ضعيف دې اګر چې ابن حبان په ثقاتوکې شميرلې دې، اوهمدارنګې دابن عباس نه مروي دې چې مادرسول الله نه اوريدلي دي چې فرمائيل يې دمردارې هغه حصه حرام ده کومه چې خوړلې شي باقي دې جلد وړئ ويښته غاښونه او هډوکي شو نوددينه په فائدې اخستلو کې څه نقصان دې، ليکن ددې سند

هم داعتراض نه خالي نه دي ځکه چي ددي په سند کي ابوبکر هذلي راوي دي اوهغه متروك دي ، غندر دهغه متعلق كذاب لفظ استعمال كړي دي اويحيي بن معين او علي وئيلي دي چي ابوبکر هذلي ليس بشئ دي، اودثوبان نه روايت دي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دفاطمي دپاره دپلو يوهار او دوه بنګړي چي دهاتي دغاښونونه جوړ وو واخستو ددي سند هم کمزوري دي ځکه چي په دي کي حميد او سليمان دي اوهغه دواړه مجهول دي اوس زمونږه استدلال دلاتديني اثارونه دي کوم چي بخاري تعليقا نقل کړي دي، زهري، دمرداري دهډوکو يادهاتي دغاښونو وغيره په باره کي وئيلي دي چي ما سلف علماء ليدلي دي چي دهاتي دغاښونونه يي بنګړي جوړول او دهغي په پيالوکي به يي تيل لګول اوپه دي کي به يي څه حرج نه ګڼړلو زه وايم چي دزهري سلف ياخوصحابه کرام دي يالوي تابعين دي نوېدي تقديرسره دا فعل دصحابو يادتابعينوشو نوبياددي په جواز کي څه کلام پاتي شو ، حماد بن سلمه وائي چي دمرداري دوزرونه په فائده اخستلو کي څه حرج نشته ، ابن سيرين اوابراهيم هم وئيلي دي چي دهاتي په غاښونو باندي په تجارت کولو کي څه بدوالي نشته، والله اعلم.

ابوداود ، ترمذي او نسائي په دي باب کي دابومليح رضي الله عنه په واسطه دده د پلار نه روايت نقل کوي چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دځنګلي ځناورو دڅرمنی داستعمالولو نه منعه کړی ده (يعني په فرش غوړول ورباندي کيناستل، او په زين اچول ورباندي سوريدل، وغيره استعمال نه منعه کړی ده (ځکه چي په دی په کيناستو سره زړه کي دتکبر او لوئي راتلو احتمال پيدا کيږي).

دلته مراد هغه څرمن ده کومه چي په دباغت نه پاکيږي ددي په ويښتو کي نجاست پروت وي ځکه ددي استعمال جائز نه دی بعضي علماء وائي چي د درندګانو څرمني فضول خرچي ده او دمتکبرينو داستعمال څيز دی رسول الله ددينه ځکه منع فرمائيلي ده.

د څرمن د استعمال دحلت او حرمت باره کي احکام په کتاب الطهارت کي مفصل تير شوي دي ، هلته يي کتلي شئ.

*****************

## ٦٢_ بَاب مَا جَاءَ فِي الرُّجُوعِ فِي الْهِبَةِ

**په بخشش دورکړي څيزپه واپس اخستلو باندي دوعيد بيان**

١٢٩٨ـ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ عَبْدَةَ الضَّبِّيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ عِكْرِمَةَ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السُّوءِ الْعَائِدُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَعُودُ فِي قَيْئِهِ".[1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي بد مثال زمونږ دپاره مناسب نه دي او خپله هديه واپس اخستونکي دهغه سپي پشان دي کوم چه قي اوکړي او واپس يي ښتي.

**تشريح** : مروي دي چي عمر رضي الله عنه چاته يو اس دالله په لاره کي ورکړو او بيا يي اوليدل چي دغه اس خرخيږي نو ددي اخستل يي اوغوښتل نبي کريم صلي الله عليه وسلم ورته اوفرمائيل خپله صدقه واپس مه اخله.(رواه الترمذي)

عن ابن عباس رضي الله عنهما : أَنَّ رسول الله ﷺ ، قَالَ : ((الَّذِي يَعُودُ فِي هِبَتِهِ كَالْكَلْبِ يَرْجِعُ فِي قَيْئِهِ)) . متفق عَلَيْهِ .

دابن عباس رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوک چي بخښلی شي واپس اخلي داسی دی لکه سپی چي خپل قی بياڅټي.

أخرجه : البخاري كتاب الهبة ٣/٢١٥ (٢٦٢١) و(٢٦٢٢) . ومسلم كتاب البيوع باب تحريم الرجوع في الصدقة والهبة ٥/٦٣ (١٦٢٢) (٥) و(٨) واحمد وابوداود والترمذي والنسائي وابن ماجه وعبد الرزاق والحميدي وابن حبان والبيهقي٦/١٨٠ .

او يو روايت په دی الفاظو دی مثال دهغه چاچي خپل خيرات کړی شي واپس کوي داسی دی لکه سپی چي قی اوکړي، بيا ورته رااوګرځي او ويی خوري او په يو روايت کي بخښلی شي واپس کوونکی داسی دی لکه خپل قی چي بيا اوخوري (مطلب د دری واړو يو دی).

ورکړي صدقه واپس اخستل دابن ملك په نزد حرامه ده ليکن دجمهورو علماؤ په نزد مکروه ده په حديث کي ددي مثال داسي راغلی دی لکه سپی چي خپله قی واپس څټي په دي جمله کي دصدقي ورکولو قباحت بيان شوی دی چي مثال يي داسي دی لکه دسپي پشان او دده د صدقي مثال دسپي دقی پشان دی ددينه انسانان سخته کرکه کوي علامه طيبي وائي ددينه زيات نه زيات کراهت تنزيهي ثابتيدی شي تحريمي نشي ثابتيدی.(التعليق الصبيح، عمدة

---

[1] ـ البخارى/الهبة ٣٠ (٢٦٢٢) . والحيل ١٣ (٦٩٧٥) . سنن النسائى/الهبة ٣ (٣٧٢٨، ٣٧٢٩) . (تحفة الأشراف : ٥٩٩٢) . و مسند احمد (١/٢١٧) وانظر الحديث الآتي. ماياتي برقم: ٢١٣١ و ٢١٣٢ وانظر أيضا: صحيح البخارى/الهبة ١٣ (٢٥٨٩) . صحيح مسلم/الهبات ٢ (١٦٢٢) . و النسائى/الهبة ٢ (٣٧٢١٣٧٢٢) . و٣ (٣٧٢٣، ٣٧٢٤، ٣٧٢٥٣٧٢٠، ٣٧٢٠) . و٤ (٣٧٢١٣٧٢٣)

القاري)

عن عمر بن الخطاب ﷺ قال: حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ اللهِ فَأَضَاعَهُ الَّذِي كَانَ عِنْدَهُ، فَأَرَدْتُ أَن أَشْتَرِيَهُ، وَظَنَنْتُ أَنَّهُ يَبِيعُهُ بِرُخْصٍ، فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ، فَقَالَ: ((لاَ تَشْتَرِهِ وَلاَ تَعُدْ فِي صَدَقَتِكَ وإِنْ أَعْطَاكَهُ بِدِرْهَمٍ؛ فَإِنَّ العَائِدَ فِي صَدَقَتِهِ كَالعَائِدِ فِي قَيْئِهِ)). متفق عَلَيْهِ.

قوله: ((حَمَلْتُ عَلَى فَرَسٍ فِي سَبِيلِ الله)) مَعنَاهُ: تَصَدَّقْتُ بِهِ عَلَى بَعْضِ المُجَاهِدِينَ.

عمر بن الخطاب رضي الله عنه نه روايت دی چي ما يو سړي ته جهاد دپاره يو اس خيراتي ورکړی وو، نو دهغه نه خراب شو څما دا خيال وو چي دی به يی اوس ارزانه خرڅوي نو زه به يی تری په بيا واخلم، رسول الله صلي الله عليه وسلم نه مې تپوس اوکړو نو هغوئ راته اوفرمائيل که په يو درهم يی دربانديٰ خرڅوي هم يی مه اخله خپله صدقه واپس اخستل داسي دي لکه خپل قی بيا خوړل.

حملت علي فرس في سبيل الله: يعني ما دا کوم مجاهد ته دجهاد دپاره ورکړو په طور دصدقي.

"لاتعد في صدقتك" يعني خپله صدقه واپس مه اخله مطلب دادی چي خپله ورکړي صدقه په قيمت واپس اخستل جائز نه دي او بعضي علماؤ حرام ګنړلي دي مګر اکثر علماء وائي چي مکروه تنزيهي دي مکروه په دي وجه دي کيدی شي چي په چا يي احسان کړی وي دهغه نه يي په ارزان قيمت واخلي، نو داسي کس به دصدقي په واپس غوښتونکي کي شميرلي شي چي په واپس کولو يي په شريعت کي ډير وعيدونه راغلي دي.

****************

١٢٩٩ـ قَالَ: وَفِي البَاب، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّهُ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً، فَيَرْجِعَ فِيهَا إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ". حَدَّثَنَا بِذَلِكَ مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا ابْنُ أَبِي عَدِيٍّ، عَنْ حُسَيْنٍ الْمُعَلِّمِ، عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، أَنَّهُ سَمِعَ طَاوُسًا يُحَدِّثُ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَابْنِ عَبَّاسٍ يَرْفَعَانِ الْحَدِيثَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهَذَا الْحَدِيثِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا الْحَدِيثِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، قَالُوا: مَنْ وَهَبَ هِبَةً لِذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ، فَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا، وَمَنْ وَهَبَ هِبَةً لِغَيْرِ ذِي رَحِمٍ مَحْرَمٍ، فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ فِيهَا، مَا لَمْ يُثَبْ مِنْهَا، وَهُوَ قَوْلُ الثَّوْرِيِّ، وقَالَ الشَّافِعِيُّ: لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً فَيَرْجِعَ فِيهَا، إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ.

3/39 وَاحْتَجَّ الشَّافِعِيُّ بِحَدِيثِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "لَا يَحِلُّ لِأَحَدٍ أَنْ يُعْطِيَ عَطِيَّةً، فَيَرْجِعَ فِيهَا إِلَّا الْوَالِدَ فِيمَا يُعْطِي وَلَدَهُ".(1)

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر او ابن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي نبي كريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دهيچا دپاره جائز نه دي چه چاته وركړي هديه واپس اوغواړي مګر علاوه دپلار نه چه كومه يي خپل ځوي ته وركړي وي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي دوئ وائي ځوك چه كوم محرم ته څه ځيز په طور دهديه وركړي نو د وركونكي سره ددي دواپس اخستلو اختيار نشته او ځوك چه كوم غير محرم ته كوم ځيز په طور دهديه وركړي نو دده دپاره ددي واپس اخستل جائز دي خو دا هغه وخت كي جائز دي كله چه ددي بدله نه وي وركړي شوي همدا دسفيان ثوري قول دي، او امام شافعي وائي دهيچادپاره جائز نه دي چه ځوك چاته هديه وركړي او بيا يي ورنه واپس واخلي مګر علاوه دپلار نه چه خپل ځوي ته يي وركړي وي امام شافعي دعبدالله بن عمر دهغه حديث نه استدلال كړي دي كوم چه هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه نقل كړي دي چه فرمائيل يي دهيچا دپاره جائز نه دي چه چاته وركړي هديه واپس اوغواړي مګر علاوه دپلار نه چه كومه يي خپل ځوي ته وركړي وي.

****************

## ٦٣ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَرَايَا وَالرُّخْصَةِ فِي ذَلِكَ

### دعاريت والا بيعي دجواز بيان

١٣٠٠ـ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا عَبْدَةُ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاقَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ، إِلَّا أَنَّهُ قَدْ أَذِنَ لِأَهْلِ الْعَرَايَا، أَنْ يَبِيعُوهَا بِمِثْلِ خَرْصِهَا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ هَكَذَا رَوَى مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ هَذَا الْحَدِيثَ، وَرَوَى أَيُّوبُ، وَعُبَيْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ، وَمَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "نَهَى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ"،

---

1 ـ ابي داود/ البيوع ٨٣ (٣٥٣٩). النسائي/الهبة ٢ (٣٧٢٠). و ٣ (٣٧٣٣). ابن ماجه/الهبات ١ (٢٣٧٧). (تحفة الأشراف: ٥٧٤٣ و ٤٠٩٧). و مسند احمد (٢٧/٢، ٧٨) (ويأتي برقم ٢١٣٢)

وَبِهَذَا الإِسْنَادِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَنَّهُ رَخَّصَ فِي الْعَرَايَا"، وَهَذَا أَصَحُّ مِنْ حَدِيثِ مُحَمَّدِ بْنِ إِسْحَاق. [1]

**ترجمه** : دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي چه نبي كريم صلي الله عليه وسلم د محاقلي او مزابني نه منع فرمائيلي ده مګر عرايا والاته يي داندازي لګولو نه پس په هم دومره كجورو دخرڅولو اجازت وركړي دي .

امام ترمذي وائي دزيد بن ثابت حديث محمد بن اسحاق په همدي مضمون نقل كړي دي او ايوب، عبدالله بن عمر، او مالك بن انس، دنافع نه او نافع دابن عمر نه نقل كړي دي چه نبي كريم صلي الله عليه وسلم دمحاقلي او مزابني نه منع فرمائيلي ده، په دي باب كي دابوهريره او جابر رضي الله عنهما نه هم روايات وارد دي او په همدي سند ابن عمر دزيد بن ثابت نه او هغه دنبي كريم صلي الله عليه وسلم نه روايت نقل كړي دي چه رسول الله دبيعه عرايا اجازت وركړي دي او داحديث دمحمد بن اسحاق دحديث نه زيات صحيح دي.

**بيع مزابنه او محاقله**

بيع مزابنه داده چه د كهجورې په ونه كي لګيدلې كهجورې،د شوكيدلو كهجورو په عوض په دې طريقه خرڅې كړى چه شوكيدلې كهجورې ئې پيمانه كړلې،يا ئې وزن كړلې اويه ونه كي چه كومې كهجورې لګيدلې دى،د هغې اندازه اوكړى.

مثلا دا اندازه ئې اوكړله چه په ونه كي لګيدلې كهجورې پنځه منه دى،نود عاقد آخر نه ددې عوض پنځه منه شوكيدلې وزن كړى اوواخلي.

اوبيع محاقله داده چه په وګو( بمبلو) كي غنم خرڅ كړى،د وګو( يعنى بمبلو) نه د وتلى شوى صفا غنمو په عوض كښې، په دې طريقه چه په وګو كي د غنمو اندازه اوكړى اوصفا غنم په وزن يا پيمانه سره واخلى،مثلاً دا اندازه ئې اوكړله چه په وګوكي پنځه منه غنم دى،نود عاقد آخرنه ئې ددې عوض پنځه منه غنم وزن كړل اووائې خستل، كه چرې بيع مزابنه اوبيع محاقله ناجائز ده.

---

[1] ـ البخارى/البيوع ٧٥ (٢١٧٢، ٢١٧٣) ، و٨٢ (٢١٨٣) ، و ٨٣ (٢١٩٢) . والشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٨٠) . مسلم البيوع ١٤ (١٥٣٩) . سنن ابى داود/ البيوع ٢٠ (٣٣٦٢) . سنن النسائى/البيوع ٣٢ (٤٥٣٦، ٤٥٤٠) . و ٣٤ (٤٥٤٣، ٤٥٤٤) . ابن ماجه/التجارات٥٥ (٢٢٦٨، ٢٢٦٩) . (تحفة الأشراف : ٣٧٢٣) . وط/البيوع ٩ (١٣) . و مسند احمد (١٨١/٥، ١٨٢، ١٨٨، ١٩٢) ويأتي برقم ١٣٠٢

او امام شافعي رحمه الله د پنځه وسقو نه په کم کي مزابنه اومحاقله جائز ګرځولې ده اود پنځه وسقو نه په زياتي کي ئې ناجائز ګرځولې ده اوپه پنځه وسقو کي دوه اقواله دی،يود جواز اودويم د عدم جواز ،(عنايه).

عرايا د عرية جمع ده اوامام شافعي رحمه الله د عريه تفسير دا کړې دي چه د پنځه وسقو نه کم په ونه کي لګيدلې چهوارې په اټکل سره د شوکيدلو چوارو په عوض خرڅې کړی يعنی په ونه کي د لګيدلو چوارو اندازه اوکړی چه دا د پنځه وسقو نه په دومره کم دی نو ددې په عوض شوکيدلې چوارې ددې په اندازه په وزن يا پيمانه سره ورکړی،نودا عريه ده،په دې حديث کي رسول اکرمﷺ د بيع مزابنه نه منع فرمائيلې ده اود عرايا اجازت ئې ورکړې دې.

## دزيد بن ثابت رضي الله عنه حالات

نوم زيد کنيه ابوسعيد ، ابوخارجه ، ابوعبدالرحمان لقب مقري ، فرضي، کاتب الوحي ، حبرالامر.

په خزرج قبيله کي دبنو نجار سره تعلق لري او دشپږو کالو عمر کي يې پلار وفات شوی و او ديولسو کالو په عمر کي دمصعب بن عمير په لاس مسلمان شوی وو کله چي رسول الله صلي الله عليه وسلم مديني ته راغی نو دی داولسو سورتونو حافظ وو دده عمر په ديارلسو کالو کي روان وو چي دبدرغزوه راغله دده دا خواهش وو چي دی هم پکي شرکت اوکړي مګر دعمر دکموالي په وجه واپس کړی شو او په غزوه خندق کي درسول الله صلي الله عليه وسلم سره يوځاي وو.

په جنګ يمامه کي هم شريك شوی وو او په دې جنګ کي په يو غشي هم لګيدلی وو ليکن جسم ته يې څه نقصان نه وو رسيدلی ، رسول الله صلي الله عليه وسلم دوحي دليکلو کار دډيرو صحابه کرامو نه اخستلی وو په دوئ کي زيد بن ثابت رضي الله عنه هم شامل وو.

زيد يو عقلمند او انتهائي زکي انسان وو دهجرت په پنځم کال رسول پاك صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ماته دخلقو خطونه راځي چي په عبراني ژبه کي دي په يهوديانو مي اعتبار نشته نو په دي وجه زيد صرف په پنځلسو ورځو کي عبراني او سرياني ژبي زده کړي (مسند احمد).

زيد دفقه امام وو ګويا کي زيد دخلفاء راشده او معاويه رضي الله عنه په زمانه کي مفتي اعظم وو (اعلام المقعيم).

دهجرت په ۴۵کال د ۵۵يا ۵۲کالو په عمر کي وفات شو دده دوفات کيدو په مناسبت ابوهريره رضي الله عنه اوفرمائيل نن دعلم يوه خزانه ختمه شوه دده دمروياتو شمير ۹۲دی پنځه په دي کي متفق عليه دي.

*****************

١٣٠١_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا زَيْدُ بْنُ حُبَابٍ، عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنْ أَبِي سُفْيَانَ مَوْلَى ابْنِ أَبِي أَحْمَدَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ". أَوْ كَذَا. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دپنځه وسقو نه په کم مال کي دبيعه عرايا اجازت ورکړي دي او که ددي پشان يي بل څه اوفرمائيل دراوي شك دي چه دحديث الفاظ همدا وو او که ددي پشان نور الفاظ وو، امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي.

*****************

حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، عَنْ مَالِكٍ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ حُصَيْنٍ نَحْوَهُ، وَرُوِيَ هَذَا الْحَدِيثُ، عَنْ مَالِكٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْخَصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا فِي خَمْسَةِ أَوْسُقٍ، أَوْ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ". (2)

**ترجمه** : .دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دپنځه وسقو نه په کم کي دعرايا خرڅولو اجازت ورکړي دي او يا يي ددي مناسب نور الفاظ اوفرمائيل دراوي شك دي چه دحديث الفاظ همدادي او که ددي پشان نور الفاظ وو امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي.

*****************

١٣٠٢_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ زَيْدٍ، عَنْ أَيُّوبَ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، "أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْخَصَ فِي بَيْعِ الْعَرَايَا بِخَرْصِهَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَحَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَيْهِ عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْهُمْ: الشَّافِعِيُّ، وَأَحْمَدُ، وَإِسْحَاق، وَقَالُوا: إِنَّ الْعَرَايَا مُسْتَثْنَاةٌ مِنْ جُمْلَةِ نَهْيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِذْ نَهَى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ، وَاحْتَجُّوا"، بِحَدِيثِ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، وَحَدِيثِ أَبِي هُرَيْرَةَ، وَقَالُوا لَهُ: أَنْ يَشْتَرِيَ مَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ، وَمَعْنَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ. أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ

---

1 _ البخاري/البيوع ٨٣ (٢١٩٠) . والشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٨٢) . صحيح مسلم/البيوع ١٤ (١٥٤١) . سنن ابي داود/ البيوع ٢١ (٣٣٦٤) . سنن النسائي/البيوع ٣٥ (٤٥٤٥) . (تحفة الأشراف : ١٤٩٤٣) . و مسند احمد (٢/٢٣٧)

2 _ البخاري/البيوع ٨٣ (٢١٩٠) . والشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٨٢) . صحيح مسلم/البيوع ١٤ (١٥٤١) . سنن ابي داود/ البيوع ٢١ (٣٣٦٤) . سنن النسائي/البيوع ٣٥ (٤٥٤٥) . (تحفة الأشراف : ١٤٩٤٣) . و مسند احمد (٢/٢٣٧)

عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرَادَ التَّوْسِعَةَ عَلَيْهِمْ فِي هَذَا لِأَنَّهُمْ شَكَوْا إِلَيْهِ، وَقَالُوا: لَا نَجِدُ مَا نَشْتَرِي مِنَ الثَّمَرِ، إِلَّا بِالتَّمْرِ، فَرَخَّصَ لَهُمْ فِيمَا دُونَ خَمْسَةِ أَوْسُقٍ، أَنْ يَشْتَرُوهَا، فَيَأْكُلُوهَا رُطَبًا. (1)

**ترجمه** : دزيد بن ثابت رضي الله عنه بيان دي چه رسول الله صلي الله عليه وسم داندازي لګولو نه پس دعرايا دخرڅولو اجازت ورکړي دي

امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي او دبعضي اهل علمو په همدي باندي عمل دي په کومو کي چه امام شافعي اواحمد او اسحاق هم شامل دي دوئ وائي نبي کريم صلي الله عليه وسلم چه من جمله دکومو څيزونو نه منع فرمائيلي ده عرايا دهغي نه مستثني ده ځکه چه رسول الله دمحاقلي او مزابني نه منع فرمائيلي ده او دوئ دزيد بن ثابت او ابوهريره دحديث نه استدلال کړي دي او ددوئ په قول دپنځه وسقو نه کم اخستل جائز دي ، دبعضي اهل علمو په نزد ددي مفهوم دادي چه دنبي کريم صلي الله عليه وسلم پيش نظر په دي سلسله کي توسيع او ګنجائش ورکول دي ځکه چه عرايا والا رسول الله ته شکايت اوکړو او عرض يي اوکړو چه داوچو کجورو نه علاوه کوم بل څيز مونږ ته ميسر نه دي چه مونږ ورباندي تازه کجوري واخستلي شو نو رسول الله دوئ ته دپنځه وسقو نه په کمو اخستلو کي اجازت ورکړو تردي چه هغوئ تازه کجوري حاصلي کړي شي

****************

## ٦٤_ بَاب مِنْهُ

### دبيع عرايا متعلق يوبل باب

١٣٠٣_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْحُلْوَانِيُّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا أَبُو أُسَامَةَ، عَنِ الْوَلِيدِ بْنِ كَثِيرٍ، حَدَّثَنَا بُشَيْرُ بْنُ يَسَارٍ مَوْلَى بَنِي حَارِثَةَ، أَنَّ رَافِعَ بْنَ خَدِيجٍ، وَسَهْلَ بْنَ أَبِي حَثْمَةَ حَدَّثَاهُ، "أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنْ بَيْعِ الْمُزَابَنَةِ الثَّمَرِ بِالتَّمْرِ، إِلَّا لِأَصْحَابِ الْعَرَايَا، فَإِنَّهُ قَدْ أَذِنَ

---

1 _ البخاری/البیوع ۷۵ (۲۱۷۳، ۲۱۷۳) ، و۸۲ (۲۱۸۳) ، و ۸۳ (۲۱۹۲) ، والشرب والمساقاۃ ۱۷ (۲۳۸۰) ، مسلم/البیوع ۱۴ (۱۵۳۹) ، سنن ابی داود/ البیوع ۲۰ (۳۳۶۲) ، سنن النسائی/البیوع ۳۲ (۴۵۳۶، ۴۵۴۰) ، و ۳۴ (۴۵۴۳، ۴۵۴۴) ، ابن ماجہ/التجارات ۵۵ (۲۲۶۸، ۲۲۶۹) ، (تحفۃ الأشراف : ۳۴۲۳) ، وط/البیوع ۹ (۱۴) ، و مسند احمد (۵/۱۸۱، ۱۸۲، ۱۸۸، ۱۹۲) ویأتي برقم ۱۳۰۲

لَهُمْ، وَعَنْ بَيْعِ الْعِنَبِ بِالزَّبِيبِ، وَعَنْ كُلِّ ثَمَرٍ بِخَرْصِهِ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. [1]

**ترجمه** : د رافع بن خديج او سهل بن ابي حثمه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم دبيع مزابنه نه منع فرمائيلي ده چي كهجوري په كهجورو وركول دي مگر عرايا والاته يي اجازت وركړى اود وچو انگورو د خرخولونه په تازه انگورو او اټكل سره دهري ميوي د خرخولو نه يي منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وايي دا حديث په همدي سند حسن صحيح غريب دى.

**سهل بن ابو حثمه انصاري رضي الله عنه حالات:**

نوم سهيل كنيه ابو محمد يا ابو يحيي دپلار نوم ابو حثمه عبدالله بن ساعده چه د هجرت په دريم كال پيداشوى وو اول په مدينه كي اوسيدو بيا كوفي ته منتقل شو درسول الله صلي الله عليه وسلم دوفات په وخت كي دده عمر اته كاله وو.

وفات: دمصعب بن زبير په زمانه كي په مدينه كي وفات شوى دى او دمروياتو شمير يي ۲۵دى چه بخاري او مسلم وربانديي اتفاق كړى دى.

*****************

## ٦٥_ باب مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ النَّجْشِ فِي الْبُيُوعِ

### دبيع نجش دحرمت بيان

١٣٠٤_ حَدَّثَنَا قُتَيْبَةُ، وَأَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، قَالَا: حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ الزُّهْرِيِّ، عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ قُتَيْبَةُ: يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "لَا تَنَاجَشُوا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَأَنَسٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ كَرِهُوا النَّجْشَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: وَالنَّجْشُ أَنْ يَأْتِيَ الرَّجُلُ الَّذِي يَفْصِلُ السِّلْعَةَ إِلَى صَاحِبِ السِّلْعَةِ، فَيَسْتَامُ بِأَكْثَرَ مِمَّا تَسْوَى وَذَلِكَ عِنْدَمَا يَحْضُرُهُ الْمُشْتَرِي، يُرِيدُ أَنْ يَغْتَرَّ الْمُشْتَرِي بِهِ، وَلَيْسَ مِنْ رَأْيِهِ الشِّرَاءُ، إِنَّمَا يُرِيدُ أَنْ

---

[1] _ البخارى/البيوع ٨٢ (٢١٩١) . والشرب والمساقاة ١٧ (٢٣٨٣) . صحيح مسلم/البيوع ١٤ (١٥٤٠) . سنن ابى داود/ البيوع ٢٠ (٣٣٦٣) . سنن النسائى/البيوع ٣٥ (٤٥٤٦) . (تحفة الأشراف: ٣٥٥٢و٤٦٤٦) و مسند احمد (٤/٢)

يَخْدَعَ الْمُشْتَرِيَ بِمَا يَسْتَامُ، وَهَذَا ضَرْبٌ مِنَ الْخَدِيعَةِ. قَالَ الشَّافِعِيُّ: وَإِنْ نَجَشَ رَجُلٌ فَالنَّاجِشُ آثِمٌ فِيمَا يَصْنَعُ. وَالْبَيْعُ جَائِزٌ لِأَنَّ الْبَائِعَ غَيْرُ النَّاجِشِ.[1]

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي نجش مه كوئ.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي ، او په دي باب كي دابن عمر او انس رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي او دبعضي اهل علمو عمل هم په دي باندي دي ددوئ په نزد نجش ناجائز دي نجش ديته وائي چه يو داسي څوك چه په ښه څيز او بد كي فرق كولي شي سامان والاته راشي او داصل قيمت زيات قيمت اولګوي او دا په داسي وخت كي وي كله چه خريدار دده سره موجود وي او مقصد صرف دا وي چه خريدار په دي باندي دهوكه شي او په حقيقت كي دده داخستلو نيت نه وي بلكه صرف دا غواړي چه دده دقيمت لګولو په وجه خريدار دهوكه شي دا هم د دهوكي يو قسم دي، امام شافعي وائي كه څوك نجش كوي نو دي به ددي خپل فعل په وجه ګنهګار وي او بيعه به يي جائز وي ځكه چه خرڅونكي خو نجش نه كوي.

**تشريح** : امام نووي د تناجش داسي تشريح كړي ده:

((النَّجْشُ)) : أَنْ يزيدَ فِي ثَمَنِ سلْعَة يُنَادَى عَلَيْهَا فِي السُّوقِ وَنَحْوه ، وَلاَ رَغْبَةَ لَهُ فِي شرَائهَا بَلْ يَقْصدُ أَنْ يَغُرَّ غَيْرَهُ ، وهَذَا حَرَامٌ .

يعني، نجش دی ته وائي چي په نيلام كي دڅيز قيمت اوخيژوي او خپله يی ورته دا نيستو نيت نه وي، غرض يی دبل دوكه كول وي او دا كار حرام دی، تدابر، تدابر دی ته وائي چي بنده نه مخ واړولی شي او تعلقات ورسره پريښودی شي لكه شاته غورځولی څيز.

ولا تناجشوا ، يعني په خريد او فروخت كي به بولي نه زياتوئ په داسي شان سره چي بائع يو كس پيدا كړي چي دخلقو په وړاندي قيمت زيات كړي ددي دپاره چي خلق په ګران قيمت ددي اخستلو ته مجبوره شي او هغه په اصل كي دوكه وركوي ددي دپاره چي قيمت زيات شي.

*****************

---

[1] ـ : صحيح البخارى/البيوع ٥٨ (٢١٤٠) . و ٦٤ (٢١٥٠) . و ٧٠ (٢١٦٠) . والشروط ٨ (٢٧٢٣) . صحيح مسلم/النكاح ٦ (١٤١٣/٥٢) . سنن ابي داود/ البيوع ٤٦ (٣٤٣٨) . سنن النسائى/البيوع ١٦ (٤٥١٠) . سنن ابن ماجه/التجارات ١٣ (٢١٧٤) . (تحفة الأشراف : ١٣١٢٣) . و موطا امام مالك/البيوع ٤٥ (٩٦) . و مسند احمد (٢/٢٣٨، ٢٧٤، ٤٨٧) . وانظر ما تقدم بأرقام: ١١٣٤، ١١٩٠، ١٢٢٢)

## ٦٦_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الرُّجْحَانِ فِي الْوَزْنِ

### د دروند تول کولو بیان

١٣٠٥_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ سِمَاكِ بْنِ حَرْبٍ، عَنْ سُوَيْدِ بْنِ قَيْسٍ، قَالَ: جَلَبْتُ أَنَا وَمَخْرَفَةُ الْعَبْدِيُّ بَزًّا مِنْ هَجَرَ، فَجَاءَنَا النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَاوَمَنَا بِسَرَاوِيلَ وَعِنْدِي وَزَّانٌ يَزِنُ بِالأَجْرِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "لِلْوَزَّانِ زِنْ وَأَرْجِحْ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ، وَأَبِي هُرَيْرَةَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ سُوَيْدٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَهْلُ الْعِلْمِ يَسْتَحِبُّونَ الرُّجْحَانَ فِي الْوَزْنِ، وَرَوَى شُعْبَةُ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ سِمَاكٍ، فَقَالَ: عَنْ أَبِي صَفْوَانَ وَذَكَرَ الْحَدِيثَ. [1]

**ترجمه** : دسوید بن قیس رضي الله عنه بیان دي فرمائي چه ما او مخرمه عبدي دهجر مقام نه یوه کپړه راوړه او نبي کریم صلي الله علیه وسلم مونږ ته تشریف راوړو او مونږ سره یي دیو پرتوګ قیمت اوکړو او زما سره یو تول والا انسان هم وو چه په مزدورئ به یي تول کولو نونبي کریم صلي الله علیه وسلم تول والا ته اوفرمائیل دروند تول کوه. امام ترمذي وائي دسوید حدیث حسن صحیح دي او دروند تول داهل علمو په نزد مستحب دي، او په دي باب کي دجابر او ابوهریره رضي الله عنهما نه هم احادیث مروي دي او شعبه هم دا حدیث دسماك نه نقل کړي دي لیکن هغه دسوید بن قیس په ځاي عن ابي صفوان وئیلي دي او بیا یي وړاندي دمخکني حدیث پشان حدیث ذکر کړو.

**تشریح** : جابررضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم څمانه یو اوښ واخستو دهغی قیمت یی راته په تول راکړو (دهغی په قیمت کي یی راته کجوري یا اوربشی په تول راکړی او تول یی دروند اوکړو) اودحق نه یی څه زیات راکړو.

مستحب دادي چي کله څوك څه شی اخلي نو ورکونکی دي دروند تول اوکړي او اخستونکي ته هم دا حکم دی چي دی دي هم څه اضافي څیز ورکړي ددي عمل په وجه پخپل مینځ کي محبت زیاتیږي په پورتني حدیث کي درسول الله هم دا عمل خودلی شوی دی چي کله یي اوښ واخستو نو دمقرر قیمت نه یي زیات رقم ورکړو.

په بل روایت کي راځي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یو قیراط زیاتي ورکړی وو دبعضي

---

1_ ابي داود/ البیوع ٧ (٣٣٣٦) . سنن النسائي/البیوع ٥٣ (٤٥٩٦) . سنن ابن ماجه/ التجارات ٣٤ (٢٢٢٠) . واللباس ١٢ (٣٥٧٩) (تحفة الأشراف : ٤٨١٠) . و مسند احمد ٣٥٢/٤) . وسنن الدارمی/البیوع ٤٧ (٢٦٢٧)

محدثينو قول دی په پورتني ايت کي يوي واقعي ته اشاره ده واقعه داسي وه چي دجابر رضي الله عنه اوښ په يو سفر کي نه تلو رسول الله صلي الله عليه وسلم چي روان کړو نو هغه منډه کړل نو بيايي اوفرمائيل دا په ماباندي خرڅ کړه نو هغوئ ورباندي خرڅ کړو او مديني ته درسيدو پوري اجازت يي ورنه اوغوښتو او په مدينه کي يي ورکړو او ورسره يي هغه اوښ هم ورکړو (بخاري او مسلم).

"زن وارجح" تول کوه او دروند تول کوه، ددينه معلوميږي چي اخستونکي لره پکار دي چي دمقرر قيمت نه لږ زيات ورکړي ځکه چي دا مستحب دي او په دي کي احسان دی او ددي په وجه په معاشره کي ښه اثر مرتب کيږي او پخپل مينځ کي محبت هم زياتيږي.

**دابوصفوان سويد بن قيس رضي الله عنه حالات:**

نوم سويد دپلار نوم قيس کنيه ابن صفوان په اخري زمانه کي کوفي ته منتقل شوی وو او څلور احاديث ورنه منقول دي.

****************

## ٦٧_ باب مَا جَاءَ فِي إِنْظَارِ الْمُعْسِرِ وَالرِّفْقِ بِهِ

**تنګدست قرضداري ته مهلت ورکول او د قرض په غوښتلو کي د نرمئ کولو بيان**

١٣٠٦_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّازِيُّ، عَنْ دَاوُدَ بْنِ قَيْسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "مَنْ أَنْظَرَ مُعْسِرًا، أَوْ وَضَعَ لَهُ أَظَلَّهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تَحْتَ ظِلِّ عَرْشِهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي الْيَسَرِ، وَأَبِي قَتَادَةَ، وَحُذَيْفَةَ، وَابْنِ مَسْعُودٍ، وَعُبَادَةَ، وَجَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

**ترجمه**: دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي څوك چه يو تنګدست مقروض ته مهلت ورکړي او يا ورته څه قرضه معاف کړي نو الله تعالي به ده ته دقيامت په ورځ دخپل عرش دسوري لاندي ځاي ورکړي او دا به داسي ورځ وي چه دعرش دسوري نه علاوه به بل چرته سوري نه وي.

---

1 _ تفرد به المؤلف وانظر مسند احمد (٢/٣٥٩). (تحفة الأشراف: ١٢٢٢٤)

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث په دي سند حسن صحيح غريب دي او په دي باب کي دابويسر (کعب بن عمرو) ابوقتاده، حذيفه، ابن مسعود، عباده، او جابر رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

****************

١٣٠٧_ حَدَّثَنَا هَنَّادٌ، حَدَّثَنَا أَبُو مُعَاوِيَةَ، عَنِ الأَعْمَشِ، عَنْ شَقِيقٍ، عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "حُوسِبَ رَجُلٌ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، فَلَمْ يُوجَدْ لَهُ مِنَ الْخَيْرِ شَيْءٌ، إِلَّا أَنَّهُ كَانَ رَجُلًا مُوسِرًا، وَكَانَ يُخَالِطُ النَّاسَ، وَكَانَ يَأْمُرُ غِلْمَانَهُ، أَنْ يَتَجَاوَزُوا عَنِ الْمُعْسِرِ، فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: نَحْنُ أَحَقُّ بِذَلِكَ مِنْهُ تَجَاوَزُوا عَنْهُ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَأَبُو الْيَسَرِ كَعْبُ بْنُ عَمْرٍو.[1]

**ترجمه** : دابومسعود رضي الله عنه نه روايت دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ستاسو نه په مخکي تيرشوو امتونو کي ديو کس سره محاسبه اوکړي شوه نو هيڅ نيکي ورسره نه وه علاوه ددينه چه دا يو مالدار انسان دي او دخلقو سره به يي لين دين کولو او خپلو خادمانو ته به يي حکم کولو چه د قرض غوښتلو وخت کي دتنګدسته خلقو سره نرمي کوئ او نادارو ته معافي کوئ نو الله تعالي فرشتو ته اوفرمائيل مونږ خو دده نه زيات ددي کار حقدار يو تاسو هم ده لره معاف کړئ.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

**تشريح : دقيامت په ورځ نجات مقروض ته په مهلت ورکولو کي دي**

ابوقتاده رضي الله عنه نه روايت دی چي مادرسول الله صلي الله عليه وسلم نه اوريدلي دي، رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيل څوک چي په دی خوشحال وي چي الله تعالي يی دقيامت دسختيو نه خلاص کړي نو تنګ دست ته دی مهلت ورکړي يادی ورته څه قرض معاف کړي.

أخرجه: مسلم كتاب البيوع باب فضل انظار المعسر والبيهقي.

"فليتنفس عن معسر" يعني تنګدست ته مهلت ورکړي يعني دقرض په ادا کولو کي دي ورته مزيد مهلت ورکړي ، بعضي خلقو دا مطلب بيان کړی دی چي دتنګدست نه دي تکليف لري کړي يعني دخپل طرفه دي ورته پيسي ورکړي چي هغه ورباندي خپله قرضه ادا کړي او ددي په بدل کي به الله تعالي دقيامت په ورځ دده نه پريشاني لري کړي.

---

[1] _ مسلم/المساقاة٢ (البيوع ٢٧)، (١٥٦١)، (تحفة الأشراف: ٩٩٩٢)، ومسند احمد (٣/١٢٠)

## تنګدست سره د نرمۍ کولو په وجه الله معاف کول کوي

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي چي يوسړی وو خلقو ته به يی قرض ورکولو اوخپل کارنده ته يي وئيلي وو چي تنګدست قرضداري ته دپيسو اخستو پسي ورشي نو ورسره نرمي کوه څه مهلت ورکړه شايد چي الله تعالي مونږ سره نرمي وکړي (ګناهونه زاته معاف کړي) بياچي مرګ نه پس الله تعالي سره مخامخ شو الله تعالي ورته ګناهونه معاف کړل.

أخرجه : البخاري كتاب البيوع باب من انظر المعسر ومسلم كتاب البيوع باب فضل انظار المعسر واحمد والنسائي وابن حبان وابن ابي شيبه والبيهقي

په دري مقاماتو کي د فرض او واجب نه دمستحب اجر زيات دی.

فتجاوز عنه: تنګ دست ته به معافي کوئ علماء وائي په هر ځاي کي دنفلي اعمالو نه دفرض اعمالو فضيلت زيات وي ليکن دري مقامات داسي دي چرته چي دنفل اوسنت ثواب دفرض نه زيات دی.

(۱) په دوئ کي يو دادی چي تنګ دست مفلس ته معافي اوکړي دا مستحب حکم دی او مهلت ورکول فرض دي نو دلته دمستحب ثواب يعني بالکل معاف کولو اجر دفرض نه زيات دی.

(۲) په سلام کي مخکي کيدل دسلام جواب ورکول واجب دي دلته هم دسنت ثواب دواجب نه زيات دی.

(۳) دوخت نه مخکي اودس کول مستحب دي ليکن چي کله مونځ شروع کولی شي نو فرض دي دلته هم دمستحب ثواب دفرض نه زيات دی.

## تنګدست ته دمعافۍ کولو په وجه الله هم معافي کوي

دابومسعود بدري رضي الله عنه نه روايت دی چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي تاسو نه دوړاندينو کسانو نه ديو کس سره حساب کتاب اوکړی شو، نودهغه په عملنامه کي څه نيکي نه وه سواددی نه چي ده به خلقو سره تجارت کولو اوپه خپله باندی مالدارو، نوخپلو نوکرانو ته به يی وئيل چي تنګدست خلق معاف کوئ، صرف داکار يی وو په دی باندی الله تعالي اوفرمائيل چي زه ددی زيات حقداريم، فرشتو ته يی حکم اوکړو چي دی معاف کړئ.

أخرجه : مسلم كتاب البيوع باب فضل انظار المعسر واحمد والترمذي وابن حبان والحاكم في المستدرك والبيهقي.

"رجلا ممن كان قبلكم" يعني ستاسو نه مخکي په مخکنو خلقو کي يو سړی تير شوی دی چي الله تعالي ورته صرف په دي وجه مغفرت کړی وو چي تنګدسته خلقو ته به يي معافياني

كولي په دي كي ديته ترغيب دى كه څوك دالله تعالي نه معافي غوښتل غواړي نو هغه لره پكار دي چي دخلقو سره داسي معامله اوكړي.
علماء وائي دا واقعه اګر چي په پخوانو امتونو كي ديو كس ده ليكن ددي دا مثالي كردار درسول الله هم خوښ شوى دى او خپل امت ته يي ددي ترغيب وركړى دى. دا عمل الله تعالي ته ډير محبوب دي چي دقيامت په ورځ دچا په وجه يو كس ته مغفرت اوشي.

## الله دبنده نه زيات معافي كونكي دي

دحذيفه رضي الله عنه نه روايت دى چي دالله بندګانو نه يو بنده چي الله تعالي مال وركړى وو ، دالله تعالي په دربار كي حاضر كړى شوى وو، نو الله تعالي ورنه تپوس اوكړو تاپه دنيا كي څه كړي دي اوپه دى ورځ به څوك خبره پټولى نشي، هغه عرض اوكړو يا الله تا مال راكړى وو ، ماورباندى تجارت كولو ، اونرمي ځما عادت وو ، مالدارو سره به مي نرمي كوله اوتنګدست ته به مي مهلت وركولو، الله تعالي اوفرمائيل زه ددى نرمۍ كولو تانه زيات حقداريم ، فرشتوته يي اوفرمائيل ځما ددى بنده سره نرمي اوكړئ دا حديث شريف چي يي واوريدو نو عقبه رضي الله عنه او مسعود انصاري رضي الله عنه دواړو اووئيل مونږ هم دغه شان درسول الله صلي الله عليه وسلم دخولى مباركى نه اوريدلي دي.

أخرجه : مسلم كتاب البيوع باب فضل انظار المعسر واحمد وابن ماجه.

په دي روايت كي هم تنګدست ته دمعافۍ كولو ترغيب دى ځكه چي جزاء دجنس دعمل نه وي كومه معامله چي ده دنيا كي كوله هم هغه معامله به ورسره الله تعالي دقيامت په ورځ اوكړي.

## تنګدست ته دمهلت وركولو په وجه دالله دعرش په سوري كي ځاي ملاويږي

ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي، چاچي تنګدست ته مهلت وركړو يايي ورته څه قرض معاف كړو الله تعالي به دقيامت په ورځ سورى وركړي دخپل دعرش دسوري لاندي په دغه ورځ به دده دعرش دسورى نه بل سورى نه وي.

أخرجه : الترمذي ابواب البيوع باب ماجاء في فضل انظار المعسر والرفق به واحمد.

په دي روايت كي هم تنګدست ته دمعافۍ كولو ترغيب دى چي خلق به دقيامت په ورځ په خولو كي ډوب وي او نمر به انتهائي رانږدي شوى وي او په دغه ورځ به دعرش دسوري نه علاوه بل سورى نه وي او داسي كس به الله تعالي خپل عرش دسوري دلاندي كينوي ليكن نن سبا زمونږ په عرف كي معامله برعكس ده او هغه دادى چي مالدارو خلقو ته مهلت وركولى شي ليكن غريبانانو ته مهلت وركول څوك نه خوښوي او دا ګمان كوي كه غريب سړي ته مهلت وركړى شي نو بيابلكل قرضه نشي ادا كولى.

## رسول الله دمقرر قيمت نه زيات وركړو

جابررضي الله عنه نه روایت دی چي رسول الله صلي الله علیه وسلم څمانه یو اوښ واخستو دهغی قیمت یی راته په تول راکړو (دهغی په قیمت کي یی راته کجوري یا اوربشی په تول راکړی او تول یی دروند اوکړو) اودحق نه یی څه زیات راکړو.

أخرجه: البخاري كتاب البيوع باب شراء الدواب والحمير ومسلم كتاب البيوع باب من استلف شيئا فقضي خيرا منه.

مستحب دادي چي کله څوك څه شی اخلي نو ورکونکی دي دروند تول اوکړي او اخستونکي ته هم دا حکم دی چي دی دي هم څه اضافي څیز ورکړي ددي عمل په وجه پخپل مینځ کي محبت زیاتیږي په پورتني حدیث کي درسول الله هم دا عمل خودلی شوی دی چي کله یي اوښ واخستو نو دمقرر قیمت نه یي زیات رقم ورکړو.

په بل روایت کي راځي چي رسول الله صلي الله علیه وسلم یو قیراط زیاتي ورکړی وو دبعضي محدثینو قول دی په پورتني ایت کي یوي واقعي ته اشاره ده واقعه داسي وه چي دجابر رضي الله عنه اوښ په یو سفر کي نه تلو رسول الله صلي الله علیه وسلم چي روان کړو نو هغه منډه کړل نو بیایي اوفرمائیل دا په مابانديي خرڅ کړه نو هغوئ وربانديي خرڅ کړو او مدیني ته درسیدو پوري اجازت یي ورنه اوغوښتو او په مدینه کي یي ورکړو او ورسره یي هغه اوښ هم ورکړو (بخاري او مسلم).

****************

## ٦٨ ـ بَاب مَا جَاءَ فِي مَطْلِ الْغَنِيِّ أَنَّهُ ظُلْمٌ

### دمالدار انسان دقرض په اداء کولو کي لم لیټ کول ظلم دي

١٣٠٨ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مَهْدِيٍّ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ، وَإِذَا أُتْبِعَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ، فَلْيَتْبَعْ ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، وَالشَّرِيدِ بْنِ سُوَيْدٍ الثَّقَفِيِّ. [1]

---

[1] ـ البخاري/الحوالة ٢ (٢٢٨٨) ، والاستقراض ١٢ (٢٤٠٠) ، صحيح مسلم/المساقاة ٧ (البيوع ٢٨) (١٥٦٤) ، سنن ابي داود/ البيوع ١٠ (٣٣٤٥) ، سنن النسائي/البيوع ١٠٠ (٤٦٩٢) ، و ١٠١ (٤٦٩٥) ، سنن ابن ماجه/الصدقات ٨ (الأحكام ٣٨) (٢٤٠٣) ، (تحفة الأشراف : ١٣٦٦٢) ، وط/البيوع ٤٠ (٨٤) ، ومسند احمد (٢/٢٤٥ ، ٢٥٤ ، ٢٦٠ ، ٣١٥ ، ٣٧٧ ، ٣٨٠ ، ٤٦٣ ، ٤٦٥) ، سنن الدارمي/البيوع ٤٨ (٢٦٢٨)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مالدار انسان دقرض په اداء کولو کي لم ليټ اوتاخير کول ظلم دي او کله چه په تاسو کي څوك يو مالدار انسان ته اوسپارلي شي نو پکار ده چه ده ته دا سپارل قبول کړي.

امام ترمذي وائي په دي باب کي دابن عمر او شريد بن سويد ثقفي رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي.

**لغات** : ظلم: ظلم او اظلم معني تياره کيدل ظلم دضرب نه معني دچا حق کمول.

**تشريح** : "مطل الغني ظلم" يعني دمالدار لم او ليټ کول (په ادائيګۍ کي تاخير کول) ظلم دي، مطلب دادی که چا کوم شی واخستو او دهغي قيمت يي ادا نکړو او حال دادی چه ادا کولی يي شي او ددي باوجود نن سبا کوي نو داسي کس ظالم دي او دکبيره ګناه مرتکب دی بلکه دده ددي عمل په وجه به دده ګواهي هم قبوله نه وي او که په چا باندي قرض وي او هغه خپله قرضه ادا کولی نشي او کوم مالدار ته اووائي چه ته زما قرضه ادا کړه او مالدار يي اومني نو قرض غوښتونکی به دهغه چانه پيسي وصول کوي چاته چه ددي ادا کول سپارلی شوي دي.

***************

١٣٠٩ـ حَدَّثَنَا إِبْرَاهِيمُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ الْهَرَوِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا هُشَيْمٌ. قَالَ: حَدَّثَنَا يُونُسُ بْنُ عُبَيْدٍ، عَنْ نَافِعٍ، عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "مَطْلُ الْغَنِيِّ ظُلْمٌ. وَإِذَا أُحِلْتَ عَلَى مَلِيءٍ، فَاتْبَعْهُ، وَلَا تَبِعْ بَيْعَتَيْنِ فِي بَيْعَةٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ وَمَعْنَاهُ: إِذَا أُحِيلَ أَحَدُكُمْ عَلَى مَلِيٍّ فَلْيَتْبَعْ. فَقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا أُحِيلَ الرَّجُلُ عَلَى مَلِيءٍ، فَاحْتَالَهُ، فَقَدْ بَرِئَ الْمُحِيلُ وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَرْجِعَ عَلَى الْمُحِيلِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ. وقَالَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ: إِذَا تَوِيَ مَالُ هَذَا بِإِفْلَاسِ الْمُحَالِ عَلَيْهِ فَلَهُ أَنْ يَرْجِعَ عَلَى الْأَوَّلِ، وَاحْتَجُّوا بِقَوْلِ عُثْمَانَ وَغَيْرِهِ، حِينَ قَالُوا: لَيْسَ عَلَى مَالِ مُسْلِمٍ تَوًى، قَالَ إِسْحَاقُ: مَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ لَيْسَ عَلَى مَالِ مُسْلِمٍ تَوِيَ هَذَا إِذَا أُحِيلَ الرَّجُلُ عَلَى آخَرَ، وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ مَلِيٌّ فَإِذَا هُوَ مُعْدِمٌ، فَلَيْسَ عَلَى مَالِ مُسْلِمٍ تَوًى. ([1])

**ترجمه** : دعبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي نبي کريم صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي ديو مالدار انسان دقرض په اداء کولو کي تاخير کول او بهاني جوړول ظلم دي

[1] ـ ابن ماجه/الصدقات ٨ (الأحكام ٤٨) ، (٢٤٠٣) ، (تحفة الأشراف : ٨٥٣٥) ، و مسند احمد (٧١/٢)

او کله چه تاسو کوم مالدار ته سپارلي کيږئ نو دا قبول کړئ او په يوه بيعه کي دوه بيعي مه کوئ

امام ترمذي وائي چه دابوهريره حديث حسن صحيح دي. او ددي مطلب دادي کله چه په تاسو کي څوك دقرض په اداء کولو کي کوم مالدار انسان ته اوسپارلي شي نو دي لره قبلول پکار دي بعضي اهل علم وائي کله چه يو سړي کوم مالدار انسان ته اوسپارلي شي او دي حواله قبول کړي نو حواله کونکي بري کيږي او دقرض غوښتونکي دپاره مناسب نه دي چه بيا حواله کونکي ته رجوع اوکړي. همدا دامام شافعي او احمد او اسحاق بن راهويه قول هم دي. بعضي اهل علم وائي محتال عليه کوم سړي چه سپارلي شوي دي دمفلس کيدو په وجه که دده دمال ددوبيدو خطره وي نو دقرض غوښتونکي دپاره به جائز وي چه هغه اولني طرف ته واپس شي دي علماؤ په دي خبره دعثمان رضي الله عنه دقول نه استدلال کړي دي چه دمسلمان مال نه ضايع کيږي ، اسحاق بن راهويه وائي ددي حديث مطلب دادي کله چه کوم قرض غوښتونکي چاته حواله کړي شي او ده لره مالدار ګڼړي ليکن په حقيقت کي هغه غريب وي نو په داسي صورت کي دمسلمان مال نه ضايع کيږي (يعني داصل قرضداري نه خپل مال طلب کولي شي).

*****************

## ٦٩_ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُلَامَسَةِ وَالْمُنَابَذَةِ

### دبيع ملامسه او منابذه دمما نعت بيان

١٣١٠_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، وَمَحْمُودُ بْنُ غَيْلَانَ، قَالَا: حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ سُفْيَانَ، عَنْ أَبِي الزِّنَادِ، عَنِ الأَعْرَجِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: "نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ بَيْعِ الْمُنَابَذَةِ، وَالْمُلَامَسَةِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، وَابْنِ عُمَرَ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. وَمَعْنَى هَذَا الْحَدِيثِ أَنْ يَقُولَ: إِذَا نَبَذْتُ إِلَيْكَ الشَّيْءَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ بَيْنِي وَبَيْنَكَ، وَالْمُلَامَسَةُ أَنْ يَقُولَ: إِذَا لَمَسْتَ الشَّيْءَ فَقَدْ وَجَبَ الْبَيْعُ، وَإِنْ كَانَ لَا يَرَى مِنْهُ شَيْئًا مِثْلَ مَا يَكُونُ فِي الْجِرَابِ أَوْ غَيْرِ ذَلِكَ، وَإِنَّمَا كَانَ هَذَا مِنْ بُيُوعِ أَهْلِ الْجَاهِلِيَّةِ، فَنَهَى عَنْ ذَلِكَ.[1]

---

[1] _ البخاري/الصلاة ١٠ (٣٦٨) . ومواقيت الصلاة ٣٠ (٥٨٤) . والبيوع ٦٣ (٢١٤٦) . واللباس ٢٠ (٥٨١٩) . و٢١ (٥٨٢١) . صحيح مسلم/البيوع ١ (١٥١١) . سنن النسائي/البيوع ٢٢ (٣٥١٣) . و٢٦ (٣٥١٧ و ٣٥٢١) . سنن ابن ماجه/التجارات ١٢

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عيه وسلم دبيع منابذه او بيع ملامسه نه منع فرمائيلي ده.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب كي د ابوسعيد خدري، او عبدالله بن عمر رضي الله عنهما نه هم احاديث مروي دي ددي حديث مطلب دادي كله چه يو كس اووائي كله چه تاته زه دا څيز دروغورځوم نو زما او ستا مينځ كي به بيع واجب شي (دا دمنابذي صورت دي) او ملامسه ديته وائي چه كله يو كس اووائي كله چه زه دي څيز ته لاس وروړم نو بيع به واجب شي اګر كه دا سامان بالكل نوي وي مثلا په يو بوجئ كي پروت وي ، دا دواړه بيوعات دجاهليت دزماني دمروجو بيوعاتو نه دي لهذا رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي دواړو نه منع اوفرمائيله.

**تشريح** : بيع ملامست اوبيع منابذه ناجائز ده،بيع بالقاءالحجر داده چه د يوجنس څوڅيزونه موجود وي اوبائع او مشترى دواړه د بيع په سلسله كي ګفتګو كوى،مثلاً يوڅو تانونه ئې ايخودلي وى، بائع د سامان ذكر اوكړلو اود ثمن ذكر ئې اوكړلو،مشترى په يو تان باندې كانړې اوغورزولو نو كوم تان به چه په كانړى اولګيدلو،د هغې بيع به پوره كيدله كه ددې مالك به راضى وو، او كه چري ناراض وو اومشترى ته به هم د رجوع كولو اختيار نه وو.

بيع ملامست داده چه دوه سړى د څه سامان په باره كي نرخ اوكړى نو مشترى دغه سامان ته لاس يوسى،نودغه سامان به د مشترى كيدلو كه ددې مالك به راضى وو، او كه چري ناراض وو.

اوبيع منابذه داده كه دوه سړو به دڅه سامان په باره كي نرخ كولو اوما لك به د بيع لازم كولو دپاره دغه سامان مشترى طرف ته غورزولو،نودا بيع به لازم كيدله،دې نه پس به مشترى ته د واپس كولو اختيار نه وو كه مشترى به رضامند وو اوكه راضى به نه وو،بهرحال د جاهليت په زمانه كي درې واړه قسمه د بيع رائج وو.

****************

## ٧٠_ بَابُ مَا جَاءَ فِي السَّلَفِ فِي الطَّعَامِ وَالتَّمْرِ

**په غلي او كجورو كي دسلف (دقيمت مخكي اداء كولو) بيان**

---

(٢١٦٩) . (تحفة الأشراف: ١٣٦٦١) . وط/البيوع ٣٥ (٧٦) . واللباس ٨ (١٧) . و مسند احمد (٢/٢٤٩، ٣١٩، ٣٦٢) . ٤٧٦، ٤٨٠ . ٤٩١) . ٥٢١، ٤٩٦ . ٥٢٩)

3/40

١٣١١_ حَدَّثَنَا أَحْمَدُ بْنُ مَنِيعٍ، حَدَّثَنَا سُفْيَانُ، عَنِ ابْنِ أَبِي نَجِيحٍ، عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ كَثِيرٍ، عَنْ أَبِي الْمِنْهَالِ، عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَدِمَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَدِينَةَ، وَهُمْ يُسْلِفُونَ فِي الثَّمَرِ، فَقَالَ: "مَنْ أَسْلَفَ، فَلْيُسْلِفْ فِي كَيْلٍ مَعْلُومٍ، وَوَزْنٍ مَعْلُومٍ إِلَى أَجَلٍ مَعْلُومٍ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ أَبِي أَوْفَى، وَعَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبْزَى. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ ابْنِ عَبَّاسٍ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ. أَجَازُوا السَّلَفَ فِي الطَّعَامِ، وَالثِّيَابِ وَغَيْرِ ذَلِكَ، مِمَّا يُعْرَفُ حَدُّهُ، وَصِفَتُهُ، وَاخْتَلَفُوا فِي السَّلَمِ فِي الْحَيَوَانِ، فَرَأَى بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، السَّلَمَ فِي الْحَيَوَانِ جَائِزًا، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَكَرِهَ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَغَيْرِهِمْ، السَّلَمَ فِي الْحَيَوَانِ، وَهُوَ قَوْلُ: سُفْيَانَ، وَأَهْلِ الْكُوفَةِ. أَبُو الْمِنْهَالِ اسْمُهُ عَبْدُ الرَّحْمَنِ بْنُ مُطْعِمٍ. [1]

**ترجمه** : دعبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم چه مديني ته تشريف راوړو نو دمديني خلقو په ميوو كي سلف كولو يعني قيمت به يي مخكي اداء كولو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل څوك چه سلف كوي نو په معين ناپ تول او په معينه موده كي دي سلف اوكړي.

امام ترمذي وائي دابن عباس حديث حسن صحيح دي، او په دي باب كي دابن ابي اوفي او عبدالرحمن بن ابزي رضي الله عنهما نه هم روايات مروي دي په صحابه كرامو او اهل علمو كي دبعضو په دي باندي عمل دي دوئ وائي دكپړي او دكومو څيزونو حد او صفت چه معلوم وي ددي داخستلو دپاره مخكي قيمت وركول جائز دي او دڅاروي اخستلو دپاره په مخكي قيمت وركولو كي اختلاف دي، بعضي اهل علم دڅاروي اخستلو دپاره مخكي قيمت وركول جائز ګنړي اوهمدا دامام شافعي او امام احمد او اسحاق قول هم دي مګر په صحابه كرامو او اهل علمو كي بعضي كسان دڅاروي اخستلو دپاره مخكي قيمت وركول مكروه ګنړي سفيان ثوري او اهل كوفه هم په دي باندي قول كړي دي.

---

[1] _ البخاري/السلم ١ (٢٢٣٩)، و ٢ (٢٢٤٠)، و ٧ (٢٢٥٣)، صحيح مسلم/المساقاة ٢٥ (١٦٠٤)، سنن ابي داود/ البيوع ٥٧ (٣٤٦٣)، سنن النسائي/البيوع ٦٣ (٤٦٢٠)، سنن ابن ماجه/التجارات ٥٩ (٢٢٨٠)، (تحفة الأشراف : ٥٨٢٠)، و مسند احمد (٢١٧/١، ٢٢٢، ٢٨٢، ٣٥٨)

**تشريح** : كه چري يوكس غلام په دې شرط باندې خرڅ كړلو چه دا غلام به يوه مياشت زما خدمت كوى، يا ئې كور په دې شرط باندې خرڅ كړلو چه بائع به يوه مياشت په دې كې اوسيږى، يا ئې په دې شرط باندې خرڅ كړلو چه بائع ته يو درهم قرض وركړى، يا ئې په دې شرط باندې خرڅ كړلو چه مشترى بائع ته څه هديه وركړى، په دې ټولو صورتونوكې بيع فاسد ده.

****************

## ٧١_ بَاب مَا جَاءَ فِي أَرْضِ الْمُشْتَرَكِ يُرِيدُ بَعْضُهُمْ بَيْعَ نَصِيبِهِ

### دهغه مشتركې زمكې بيان دكومې په حصه داروكې چه يو حصه دار خپله حصه خرڅول غواړي

١٣١٢_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ خَشْرَمٍ، حَدَّثَنَا عِيسَى بْنُ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدٍ، عَنْ قَتَادَةَ، عَنْ سُلَيْمَانَ الْيَشْكُرِيِّ، عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، أَنَّ نَبِيَّ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ كَانَ لَهُ شَرِيكٌ فِي حَائِطٍ، فَلَا يَبِيعُ نَصِيبَهُ مِنْ ذَلِكَ، حَتَّى يَعْرِضَهُ عَلَى شَرِيكِهِ ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ إِسْنَادُهُ لَيْسَ بِمُتَّصِلٍ، سَمِعْت مُحَمَّدًا يَقُولُ: سُلَيْمَانُ الْيَشْكُرِيُّ، يُقَالُ: إِنَّهُ مَاتَ فِي حَيَاةِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: وَلَمْ يَسْمَعْ مِنْهُ قَتَادَةُ، وَلَا أَبُو بِشْرٍ، قَالَ مُحَمَّدٌ: وَلَا نَعْرِفُ لِأَحَدٍ مِنْهُمْ سَمَاعًا مِنْ سُلَيْمَانَ الْيَشْكُرِيِّ، إِلَّا أَنْ يَكُونَ عَمْرُو بْنُ دِينَارٍ، فَلَعَلَّهُ سَمِعَ مِنْهُ فِي حَيَاةِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: وَإِنَّمَا يُحَدِّثُ قَتَادَةُ، عَنْ صَحِيفَةِ سُلَيْمَانَ الْيَشْكُرِيِّ، وَكَانَ لَهُ كِتَابٌ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ، حَدَّثَنَا أَبُو بَكْرٍ الْعَطَّارُ عَبْدُ الْقُدُّوسِ قَالَ: قَالَ عَلِيُّ بْنُ الْمَدِينِيِّ، قَالَ يَحْيَى بْنُ سَعِيدٍ: قَالَ سُلَيْمَانُ التَّيْمِيُّ: ذَهَبُوا بِصَحِيفَةِ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ إِلَى الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ فَأَخَذَهَا، أَوْ قَالَ: فَرَوَاهَا، وَذَهَبُوا بِهَا إِلَى قَتَادَةَ، فَرَوَاهَا، وَأَتَوْنِي بِهَا، فَلَمْ أَرْوِهَا، يَقُولُ: رَدَدْتُهَا. [1]

**ترجمه** : دجابر بن عبدالله رضي الله عنهما بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي دچا په باغ كې چه ديوكس سره بل څوك حصه دار وي نو دي خپله حصه دهغه وخته پورې نشي خرڅولي چه څو پورې يې دا حصه خپل شريك ته پيش كړې نه وي.

---

1 _ تفرد به مؤلف. وانظر مسند احمد (٣/٣٥٧) (صحيح لغيره) و صحيح مسلم/ المساقاة ٢٨ (البيوع ٣٩) . (١٦٠٨) . سنن ابي داود/ البيوع ٧٥ (٣٥١٣) . سنن النسائي/البيوع ٨٠ (٤٦٥٠) . و ١٠٧ (٤٧٠٣، ٤٧٠٥) . (تحفة الأشراف : ٢٢٤٢) . و مسند احمد (٣/٣١٢، ٣١٦، ٣٩٧) . وسنن الدارمى/البيوع ٨٣

امام ترمذي وائي ددي حديث سند متصل نه دي مادامام بخاري نه اوريدلي دي دسليمان يشكري باره كي وئيلي كيږي دسليمان يشكري دجابر بن عبدالله رضي الله عنه په زندګئ كي وفات شوي دي راوي وائي چه دده نه دقتاده او ابوبشر سماع ثابت نه ده امام بخاري وائي په دي دواړو كي ديو كس سماع هم دسليمان يشكري نه ثابت نه ده مګر دعمرو بن دينار ثابت ده پس كيدي شي چه دهغه نه يي اوريدلي وي دجابر بن عبدالله په زندګئ كي امام بخاري وائي قتاده به ورته دسليمان يشكري دصحيفي نه احاديث بيانول او دده سره يو كتاب وو چه د جابر بن عبدالله احاديث يي پكي ليكلي وو.سليمان تيمي وائي خلقو دجابر بن عبدالله كتاب حسن بصري ته اوخودلو نو هغه دا واخستلو او يايي ورنه روايت اوكړو او چه قتاده ته خلقو اوخودلو نو هغه ورنه هم روايت اوكړو او چه ماته يي اوخودلو نو ما ورنه روايت اونكړو او رد مي كړ.

*****************

## ٧٢ـ بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمُخَابَرَةِ وَالْمُعَاوَمَةِ

### دمخابره او معاومه بيع بيان

١٣١٣ـ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ الثَّقَفِيُّ، حَدَّثَنَا أَيُّوبُ، عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ، عَنْ جَابِرٍ، "أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الْمُحَاقَلَةِ، وَالْمُزَابَنَةِ، وَالْمُخَابَرَةِ، وَالْمُعَاوَمَةِ، وَرَخَّصَ فِي الْعَرَايَا". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دجابر رضي الله عنه نه مروي دي چه نبي كريم صلي الله عليه وسلم دبيع محاقله، مزابنه، مخابره، او معاومه نه منع فرمائيلي ده او دعرايا اجازت يي وركړي دي ، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

**تشريح** :په مذكوره باب كي د يو څو بيوعاتو ممانعت مذكور دي:

(١) محاقله : ددي تعريف تير شوي دى.

(٢) مزابنه : ددي تعريف تير شوي دى.

(٣) مخابره : ددي تعريف تير شوي دى.

---

[1] ــ مسلم/البيوع ١٦ (١٥٣٦/٨٥) . سنن ابي داود/ البيوع ٣٣ (٣٤٠٤) . سنن النسائي/الأيمان والمزارعة ٣٥ (٣٩١٠) . والبيوع ٧٤ (٤٦٣٧) . سنن ابن ماجه/التجارات ٥٣ (٢٢٦٦) . (تحفة الأشراف : ٢٦٦٦) . و مسند احمد (٣/٣١٣، ٣٥٦، ٣٦٠، ٣٦٤، ٣٩١، ٣٩٢) وانظر ماتقدم برقم ١٢٩٠. وما عند صحيح البخاري/البيوع ٨٣ (٢٣٨١)

(۴) معاومه : مطلب دادي چي د يو باغ ميوه د يو كال نه د زياتي مودي دپاره خرڅه كړي ديته بيع السنين هم وايي داناجائز ده ځكه چي په دي مبيعه معدوم ده اود معدوم اشياؤ بيع ممنوع او جائز نه وي.

## ٧٣_ بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّسْعِيرِ

### داشياؤ دقيمتونو مقررولو بيان

١٣١٤_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا الْحَجَّاجُ بْنُ مِنْهَالٍ، حَدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ سَلَمَةَ، عَنْ قَتَادَةَ، وَثَابِتٌ، وَحُمَيْدٌ، عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: غَلَا السِّعْرُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ، سَعِّرْ لَنَا، فَقَالَ: "إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمُسَعِّرُ الْقَابِضُ الْبَاسِطُ الرَّزَّاقُ، وَإِنِّي لَأَرْجُو أَنْ أَلْقَى رَبِّي، وَلَيْسَ أَحَدٌ مِنْكُمْ، يَطْلُبُنِي بِمَظْلِمَةٍ فِي دَمٍ، وَلَا مَالٍ". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ.[1]

**ترجمه** : دانس رضي الله عنه بيان دي چه يو ځل درسول الله صلي الله عليه وسلم په زمانه كي دغلي وغيره څيزونو نرخ زيات شو خلقو عرض اوكړو اي دالله رسوله تاسو زمونږ دپاره نرخ مقرر كړئ رسول الله اوفرمائيل نرخ مقررونكي خو الله تعالي دي او هم هغه درزق معامله كي تنګي راوستونكي او فراخي راوستونكي دي او الله تعالي بهتر روزي رسونكي دي زه غواړم چه دخپل رب سره په داسي حال كي مخامخ شم چه په تاسو كي هيچا دجان او مال په سلسله كي دظلم دبدلي مطالبه كونكي نه يم.

امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

*****************

## ٧٤_ بَابُ مَا جَاءَ فِي كَرَاهِيَةِ الْغِشِّ فِي الْبُيُوعِ

### په كاروبار او تجارت كي ددهوكي كولو دحرمت بيان

١٣١٥_ حَدَّثَنَا عَلِيُّ بْنُ حُجْرٍ، أَخْبَرَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ جَعْفَرٍ، عَنِ الْعَلَاءِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّ عَلَى صُبْرَةٍ مِنْ طَعَامٍ، فَأَدْخَلَ يَدَهُ فِيهَا، فَنَالَتْ أَصَابِعُهُ بَلَلًا، فَقَالَ: "يَا صَاحِبَ الطَّعَامِ مَا هَذَا"، قَالَ: أَصَابَتْهُ السَّمَاءُ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ: "أَفَلَا جَعَلْتَهُ فَوْقَ الطَّعَامِ حَتَّى يَرَاهُ النَّاسُ"، ثُمَّ قَالَ: "مَنْ غَشَّ فَلَيْسَ مِنَّا". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنِ ابْنِ

---

[1] _ ابي داود/ البيوع ٥١ (٣٤٥١) ، سنن ابن ماجه/التجارات ٢٧ (٢٢٠٠) . (تحفة الأشراف : ٣١٨ و ٦١٣ و ١١٥٨) . و مسند احمد (٣/٢٨٦)

عُمَرَ، وَأَبِي الْحَمْرَاءِ، وَابْنِ عَبَّاسٍ، وَبُرَيْدَةَ، وَأَبِي بُرْدَةَ بْنِ نِيَارٍ، وَحُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ أَهْلِ الْعِلْمِ. كَرِهُوا الْغِشَّ وَقَالُوا: الْغِشُّ حَرَامٌ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چه رسول الله صلي الله عليه وسلم دغلي يو ډيري سره تيريدو لاس يي پکي ننويستو، په ګوتو مبارکو يی لوندوالی اولګيدو، رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل ای دغلی خاوند دا څه دي يعني دننه غله ولي لونده ده هغه عرض اوکړو يا رسول الله! دا باران وهلی ده رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل دا لونده غله دی دپاسه ولی نه اچوله چه خلقو ليدلی چاچه مونږ سره دهوکه اوکړه هغه زمونږ نه نه دی.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او په دي باب کي دابن عمر، ابوحمراء، ابن عباس، بريده، ابوبرده بن دينار او حذيفه بن اليمان رضي الله عنهم نه هم احاديث مروي دي او په همدي داهل علمو عمل دي او هغوئ دهوکي دړکي نه خوښوي او حرام يي ګڼړي.

**تشريح** : "من غش فليس منا" يعني څوك چه مونږ ته دوکه راکوي هغه زمونږ نه نه دی د دوکي ورکولو يو څو صورتونه کيدی شي، اول لکه په سودا کي چه عيب وي او ددي د ظاهر کولو نه بغير خرڅه کړی شي ، دويم په غوره مال کي ردي مال ګډ کړی شي او په ښه قيمت خرڅ کړی شي، دريم په سودا کي کوم داسي څيز ګډ کړی شي چه دسودا وزن ورباندي زيات شي په دي حديث کي دا هم معلومه شوه چه دحاکمانو دپاره پکار دي چه دبازار نګراني پري نږدي او ملاوټ کونکو ته سزا ورکړي.

يعني دادمسلمانانو طريقه نه ده يعني دا ددوئ سره هم دردي نه ده بلکه دشمني ده په دي کي په دي خبره تنبيه ده چه مسلمانان به دهر قسم دوکي نه څان ساتي.

* * * * * * * * * * * * * * * *

## ٧٥ـ باب مَا جَاءَ فِي اسْتِقْرَاضِ الْبَعِيرِ أَوِ الشَّيْءِ مِنَ الْحَيَوَانِ أَوِ السِّنِّ

### اوښ يا کوم بل څاروي په قرض اخستلو بيان

1 ـ البخاری/الإيمان ٤٣ (١٠٢)، سنن ابي داود/ البيوع ٥٢ (٣٤٥٢)، سنن ابن ماجه/ التجارات ٣٦ (٢٢٢٤). (تحفة الأشراف: ١٣٩٧٩)، و مسند احمد (٢/٢٤٢)

١٣١٦_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا وَكِيعٌ، عَنْ عَلِيِّ بْنِ صَالِحٍ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: اسْتَقْرَضَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سِنًّا، فَأَعْطَاهُ سِنًّا خَيْرًا مِنْ سِنِّهِ، وَقَالَ: " خِيَارُكُمْ أَحَاسِنُكُمْ قَضَاءً ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ، وَقَدْ رَوَاهُ شُعْبَةُ، وَسُفْيَانُ، عَنْ سَلَمَةَ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، لَمْ يَرَوْا بِاسْتِقْرَاضِ السِّنِّ بَأْسًا مِنَ الْإِبِلِ، وَهُوَ قَوْلُ: الشَّافِعِيِّ، وَأَحْمَدَ، وَإِسْحَاق، وَكَرِهَ بَعْضُهُمْ ذَلِكَ. (1)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم يو خوان اوبش په قرض واخستلو او بيا يي دهغه اوبش په قرض كي دهغه نه بهتر وركړو او ويي فرمائيل په تاسو كي بهتر هغه څوك دي څوك چه په قرض اداء كولو كي بهتر وي.

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن صحيح دي او دا شعبه او سفيان هم دسلمه نه نقل كړي دي، او په دي باب كي دابورافع رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي او دبعضي اهل علمو هم په دي باندي عمل دي هغوئ دهر عمر والااوبش په قرضو اخستل مكروه نه ګڼړي او بعضي اهل علمو هم داكار مكروه ګڼړلي دي.

*****************

١٣١٧_ حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ الْمُثَنَّى، حَدَّثَنَا وَهْبُ بْنُ جَرِيرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ، عَنْ أَبِي سَلَمَةَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَجُلًا تَقَاضَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَغْلَظَ لَهُ فَهَمَّ بِهِ أَصْحَابُهُ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " دَعُوهُ فَإِنَّ لِصَاحِبِ الْحَقِّ مَقَالًا "، ثُمَّ قَالَ: " اشْتَرُوا لَهُ بَعِيرًا، فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ، فَطَلَبُوهُ فَلَمْ يَجِدُوا إِلَّا سِنًّا أَفْضَلَ مِنْ سِنِّهِ "، فَقَالَ: " اشْتَرُوهُ، فَأَعْطُوهُ إِيَّاهُ، فَإِنَّ خَيْرَكُمْ أَحْسَنُكُمْ قَضَاءً ". (2)

---

1 _ البخاري/الوكالة ٥ (٢٣٠٥)، و٦ (٢٣٠٦)، والاستقراض ٤ (٢٣٩٠)، و٦ (٢٣٩٢)، و٧ (٢٣٩٣)، والهبة ٢٣ (٢٦٠٦)، و٢٥ (٢٦٠٩)، صحيح مسلم/المساقاة ٢٢ (البيوع ٤٣) (١٦٠١)، سنن النسائي/ البيوع ٦٣ (٤٦٢٢)، و١٠٣ (٤٦٩٤)، سنن ابن ماجه/الصدقات ١٦ (الأحكام ٥٦)، (٢٤٢٢)، (تحفة الأشراف: ١٤٩٦٣)، و مسند احمد (٢/٢٤٣، ٣٩٣، ٤١٦، ٤٣١، ٤٥٦، ٤٧٦، ٥٠٩)

2 _ البخاري/الوكالة ٥ (٢٣٠٥)، و٦ (٢٣٠٦)، والاستقراض ٤ (٢٣٩٠)، و٦ (٢٣٩٢)، و٧ (٢٣٩٣)، والهبة ٢٣ (٢٦٠٦)، و٢٥ (٢٦٠٩)، صحيح مسلم/المساقاة ٢٢ (البيوع ٤٣) (١٦٠١)، سنن النسائي/البيوع ٦٣ (٤٦٢٢)، و١٠٣ (٤٦٩٤)، سنن ابن

**ترجمه** : ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی چه يو سړی راغلو رسول الله صلي الله عليه وسلم باندی يی څه قرض وو، هغه يی غوښتو نوغوښتوکي يی سختي اوکړه درسول الله صلي الله عليه وسلم اصحابو ورته دسزا ورکولو اراده اوکړه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل پريدئ صاحب حق ته دخبرو کولو حق دی بيايی اوفرمائيل دده اوښ بچي چه څنګه وو، دهغی عمر هغه شان بچي ورکړئ اصحابو عرض اوکړو هغه شان بچی موجود نشته دهغی نه اعلي شته دی رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اعلي ورکړئ ځکه چه په تاسو کي بهتر هغه سړی دی چه قرض په بهتره طريقه ادا کړي.

**تشريح** : کوم کس چه نبي کريم صلي الله عليه وسلم ته راغلی وو دا کس زيد بن شعبه کناني وو څوک چه بيا وروسته مسلمان شوی دی.

"فأغلظ له" يعني سخته رؤيه يي اختيار کړه او رسول الله برداشت کړه خو دا برداشت کول داعلي اخلاقو يو نمونه ده چه دانبياؤ خاصه وي.

" لصاحب الحق مقالا" يعني دحق مالك دخبرو کولو حق لري، علماء وائي چه دحق نه مراد قرض دی يعني څوک چه دچا قرضداری وي او دده دقرض په ادا کولو کي تاخير اوشي نو قرض غوښتونکي ته دا اختيار حاصل دی چه په سختئ سره تقاضا اوکړي او دخفګان اظهار اوکړي ده ته دا حق دهغه وخته پوري حاصل دی ترڅو چه يي خپل قرضداری حاکم ته پيش کړی نه وي.

"فأن خيرکم احسنکم قضاء" يعني په تاسو کي بهتر هغه څوک دی څوک چه ښائسته ادا يګي کوي ددينه معلومه شوه که مقروض دمقرر وخت نه مخکي قرضه ادا کړي نو بهتره ده او که دمال مالك دطرف نه دزياتي مطالبه وي نو دا به سود وي چه اخستل يي حرام دي او ورکول يي هم حرام دي.

****************

حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ بَشَّارٍ، حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ جَعْفَرٍ، حَدَّثَنَا شُعْبَةُ، عَنْ سَلَمَةَ بْنِ كُهَيْلٍ نَحْوَهُ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. [1]

---

ماجه/الصدقات ١٦ (الأحكام ٥٦) . (٢٣٢٢) . (مقتصراً على قوله المرفوع) (تحفة الأشراف : ١٤٩٦٣) . و مسند احمد (٥٠٩،٤٧٦،٤٥٦،٤٣١،٤١٦،٣٩٣،٢/٢٤٣).

[1] ــ البخاري/الوكالة ٥ (٢٣٠٥) ، و٦ (٢٣٠٦) ، والاستقراض ٤ (٢٣٩٠) ، و ٦ (٢٣٩٢) ، و ٧ (٢٣٩٣) ، والهبة ٢٣ (٢٦٠٦) ، و ٢٥ (٢٦٠٩) ، صحيح مسلم/المساقاة ٢٢ (البيوع ٤٣) (١٦٠١) . سنن النسائي/البيوع ٦٤ (٤٦٢٢) ، و١٠٣ (٤٦٩٤) . سنن ابن

**ترجمه** : دسلمه بن كهيل نه هم دماقبل هم معني روايت مروي دي او امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

***************

١٣١٨_ حَدَّثَنَا عَبْدُ بْنُ حُمَيْدٍ، حَدَّثَنَا رَوْحُ بْنُ عُبَادَةَ، حَدَّثَنَا مَالِكُ بْنُ أَنَسٍ، عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ، عَنْ عَطَاءِ بْنِ يَسَارٍ، عَنْ أَبِي رَافِعٍ مَوْلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: اسْتَسْلَفَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَكْرًا، فَجَاءَتْهُ إِبِلٌ مِنَ الصَّدَقَةِ، قَالَ أَبُو رَافِعٍ: "فَأَمَرَنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ أَقْضِيَ الرَّجُلَ بَكْرَهُ". فَقُلْتُ: لَا أَجِدُ فِي الْإِبِلِ إِلَّا جَمَلًا خِيَارًا رَبَاعِيًا، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَعْطِهِ إِيَّاهُ فَإِنَّ خِيَارَ النَّاسِ أَحْسَنُهُمْ قَضَاءً". قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ. (1)

**ترجمه** : دابورافع بيان دي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم يوځوان اوښ واخستلو بيا چه ورته كله دصدقي اوښان راغلل نو ماته يي حكم اوكړو چه زه دهغه كس اوښ اداء كړم ما ورته عرض اوكړو اي دالله رسوله ما ديو څلورو غاښو والا ښكلي اوښ نه علاوه كوم بل اوښ اونه موندلو رسول الله اوفرمائيل همدا ورته وركړه ځكه چه په تاسو كي بهتر هغه څوك دي چه په قرض اداء كولو كي دهر چانه بهتر وي ، امام ترمذي وائي داحديث حسن صحيح دي.

***************

١٣١٩_ حَدَّثَنَا أَبُو كُرَيْبٍ، حَدَّثَنَا إِسْحَاقُ بْنُ سُلَيْمَانَ الرَّازِيُّ، عَنْ مُغِيرَةَ بْنِ مُسْلِمٍ، عَنْ يُونُسَ، عَنِ الْحَسَنِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ سَمْحَ الْبَيْعِ، سَمْحَ الشِّرَاءِ، سَمْحَ الْقَضَاءِ". قَالَ: وَفِي الْبَابِ، عَنْ جَابِرٍ. قَالَ أَبُو عِيسَى: هَذَا حَدِيثٌ غَرِيبٌ، وَقَدْ رَوَى بَعْضُهُمْ هَذَا الْحَدِيثَ، عَنْ يُونُسَ، عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ. (2)

---

ماجه/الصدقات ١٦ (الأحكام ٥٦) . (٢٣٢٢) . (تحفة الأشراف : ١٢٩٦٣) . و مسند احمد (٢/٣٧٤، ٢٩٣، ٣١٦، ٤٣١) . ٤٥٦، ٤٧٦، ٥٠٩)

1 _ مسلم/المساقاة ٢٢ (البيوع ٤٣) (١٦٠٠) . سنن ابي داود/ البيوع ١١ (٣٣٤٦) . سنن النسائي/ البيوع ٦٤ (٤٦٢١) . سنن ابن ماجه/التجارات ٦٢ (٢٢٨٥) . (تحفة الأشراف : ١٢٠٢٥) . وط/ البيوع ٤٣ (٨٩) . و مسند احمد (٦/٣٩٠) . وسنن الدارمي/البيوع ٣١ (٢٥٠٧)

2 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف : ١٢٢٣٦)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه مروي دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي په اخستلو خرڅولو او دقرض په غوښتلو كي اساني كول خوښوي. امام ترمذي وائي داحديث غريب دي او بعضي راويانو داحديث په سند د يونس عن سعيد المقبري عن ابي هريره سره نقل كړي دي او په دي باب كي دجابر رضي الله عنه نه هم روايت مروي دي.

******************

١٣٢٠_ حَدَّثَنَا عَبَّاسٌ الدُّورِيُّ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْوَهَّابِ بْنُ عَطَاءٍ، أَخْبَرَنَا إِسْرَائِيلُ، عَنْ زَيْدِ بْنِ عَطَاءِ بْنِ السَّائِبِ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ الْمُنْكَدِرِ، عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "غَفَرَ اللَّهُ لِرَجُلٍ، كَانَ قَبْلَكُمْ، كَانَ سَهْلًا إِذَا بَاعَ سَهْلًا، إِذَا اشْتَرَى سَهْلًا، إِذَا اقْتَضَى". قَالَ: هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ مِنْ هَذَا الْوَجْهِ. (1)

**ترجمه** : دجابررضي الله عنه بيان دي رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي الله تعالي يوكس ته مغفرت اوكړو كوم چه ستاسو نه مخكي تير شوي دي او په هغه كي دا خصوصيت وو چه په اخستلو كي به يي نرمي كوله او په خرڅولو كي به يي نرمي كوله او دقرض په غوښتلو كي به يي نرمي كوله، امام ترمذي وائي داحديث په دي سند صحيح حسن غريب دي.

******************

## ٧٦_ بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْبَيْعِ، فِي الْمَسْجِدِ

### په مسجد كي داخستلو خرڅولو دمما نعت بيان

١٣٢١_ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ بْنُ عَلِيٍّ الْخَلَّالُ، حَدَّثَنَا عَارِمٌ، حَدَّثَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ مُحَمَّدٍ، أَخْبَرَنَا يَزِيدُ بْنُ خُصَيْفَةَ، عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ ثَوْبَانَ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: "إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ، أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ، فَقُولُوا: لَا أَرْبَحَ اللَّهُ تِجَارَتَكَ، وَإِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَنْشُدُ فِيهِ ضَالَّةً، فَقُولُوا: لَا رَدَّ اللَّهُ عَلَيْكَ". قَالَ أَبُو عِيسَى: حَدِيثُ أَبِي هُرَيْرَةَ حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ، وَالْعَمَلُ عَلَى هَذَا عِنْدَ بَعْضِ أَهْلِ الْعِلْمِ، كَرِهُوا الْبَيْعَ، وَالشِّرَاءَ فِي الْمَسْجِدِ، وَهُوَ قَوْلُ: أَحْمَدَ، وَإِسْحَاقَ، وَقَدْ رَخَّصَ فِيهِ بَعْضُ أَهْلِ الْعِلْمِ فِي الْبَيْعِ وَالشِّرَاءِ فِي الْمَسْجِدِ. (2)

---

1 _ تفرد به المؤلف (تحفة الأشراف: ٣٠١٨) وهو عند صحيح البخاري/البيوع ١٦ (٢٠٧٦). وق في التجارات ٢٨ (٢٢٠٣). بسياق آخر و مسند احمد (٣/٣٤٠)

2 _ النسائي/عمل اليوم والليلة ٦٨ (١٧٦). (تحفة الأشراف: ١٤٥٩١)

**ترجمه** : دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دى چه رسول الله صلي الله عليه وسلم فرمائيلي دي كله چي تاسو څوك په مسجد كي اخستل خرڅول كوي ورته اووائي خدايي پاك دى درته په دي منافع درنكړي ، او كله چي تاسو څوك په مسجد كي د ورك څيز دپاره اعلان كوي ورته اووائي خدايي پاك دى درته واپس درنه كړي كه چه جماتونه دى كار دپاره نه دي جوړ (جماتونه خو دالله دذكر اوعبادت دپاره جوړدي).

امام ترمذي وائي دابوهريره حديث حسن غريب دي او دبعضي اهل علمو په دي باندي عمل دي او هغوئ په مسجد كي اخستل خرڅول ناجائز ګڼړي، امام احمد او اسحاق بن راهويه هم په دي باندي قول كړي دي، او بعضي اهل علمو په مسجد كي داخستلو خرڅولو اجازت وركړي دي.

**تشريح** : صاحب دسبل السلام ليكلي دي والحديث دليل علي تحريم السوال عن ضالة الحيوان، دپورتني حديث نه معلوميږي چه ورك شوى څيز په مسجد كي لټول يا ددي دپاره اعلان كول مكروه تحريمي دي.

مولانا محمد يوسف بنوري وائي واما انشاد الضألة فلها صورتان احدهما هي اقبح واشنع بأن يضل شئ خارج المسجد ثم ينشد في المسجد لاجتماع الناس فيه والثانية ان يضل في المسجد نفسه فينشده فيه وهذ يجوز اذا كان من غير لغط وشغب الخ.

يعني د ورك شوي څيز دوه صورتونه دي په دي دواړو كي زيات قبيح او مذموم صورت هغه دى چه يو شى دمسجد نه بهر ورك شوى وي او دخلقو دراټوليدو په وجه په مسجد كي دهغي دپاره اعلان اوكړى شي دويم صورت دادى چه څيز په مسجد كي دننه ورك شوى وي او بيا ددي دلټول دپاره اعلان په مسجد كي وكړى شي دا دويم صورت به جائز وي خو په دي شرط چه كله د مسجد احترام خيال اوساتي او شور او غوغا جوړه نكړي.

لا ردها الله عليك: الله دي درته پيدا نكړي علماء وائي چه اوريدونكي به دا جمله په تيزه وائي ددي دپاره چه دى ورتلى شي او دده دپاره عبرت اوګرځي او دخپل نامناسبه كار سزا اومومي او بيا چرته داسي حركت كولو جرئت اونكړي.

دمسجد ډير اداب دي يو يو ادب يي دمسجد سره محبت كول دي لكه چه په يو روايت كي راغلي دي.

ابوهريره رضي الله عنه روايت كوي چه رسول الله صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل اوه كسان داسي دي چه الله تالي به ورته دخپل رحمت سورى وركړي په كومه ورځ چه به دهغه درحمت دسوري نه سوا بل سورى نه وي.

(١) عادل او انصاف دار بادشاه.

(۲) هغه ځوان چه په ځوانئ کي دالله تعالي عبادت اوکړي.
(۳) هغه سړی چه زړه یی جومات سره تړلی وي.
(۴) هغه دوه کسان چه صرف دالله تعالي درضا دپاره خپل مینځ کي محبت کوي، هم په دی یی یوځایی کیدل وي او هم په دی یی جدائي وي.
(۵) هغه سری چه یوه مالداره او ښائسته ښځه ورته دګناه دعوت ورکړي او دی په جواب کي اووائي چه زه دالله تعالي نه ویریږم.
(۶) هغه کس چه دومره پټه صدقه ورکړي چه ګس لاس ته دا پنګه اونه لګي چه ښي لاس څه خرچ کړل.
(۷) هغه کس چه تنهایئ کي الله تعالي یاد کړي او دسترګو نه یی اوښکي اوبهیږي.

****************

## ویلیه کتاب الاحکام ان شاء الله تعالي

****************

الحَمْدُ للهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِي لَوْلاَ أَنْ هَدَانَا اللهُ . اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَي مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ ، وَعَلَي آلِ مُحَمَّدٍ وَأزوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ ، كما صَلَّيْتَ عَلَي إبْرَاهِيمَ وعلي آلِ إبْراهِيمَ ، وَبَارِكْ عَلَي مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ .